كشف الباري
عما في
صحيح البخاري
تصنیف

# کشف الباری

عما فی

# صحیح البخاری

## کتاب الجہاد والسِّیر (دوم)

**تالیف** ← صدر وفاق المدارس مولانا سلیم اللہ خان مدظلہ العالی
شیخ الحدیث جامعہ فاروقیہ کراچی

**ترتیب وتحقیق** ← مولانا حبیب حسین صاحب

**ترجمہ** ← مولانا شاہ فیصل فاضل وفاق المدارس، امداد العلوم

**خصوصیات**

**جلد ۷**

① د احادیثو تخریج
② د تعلیقات بخاری تخریج کول
③ د اسماء الرجال مختصر تعارف
④ د گرانو لغاتو لغوی صرفی او نحوی حل
⑤ ماقبل باب سره د ربط په باره کښې پوره تحقیق
⑥ د شرحې د هرې خبرې په حاشیه کښې حواله ورکول
⑦ د ترجمة الباب مقصد په بیانولو کښې پوره تحقیق
⑧ د مختلفو مذاهبو تحقیقی بیان او بیا د مذهب حنفی ترجیح
⑨ د حدیث اطراف بیانول چه په بخاری کښې د احدیث په کوم کوم خائې کښې دې

**خورونکی** فیصل کتب خانه محله جنگی پیښور
موبائل:- ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

دکتاب نوم: کشف الباری عما فی صحیح البخاری

جلد: کتاب الجهاد والسیر (دوم)

شارح: صدر وفاق المدارس شیخ الحدیث مولانا سلیم الله خان مدظله العالی

ترتیب وتحقیق: مولانا حبیب حسین صاحب

پښتو مترجم: مولانا شاه فیصل فاضل امداد العلوم و وفاق المدارس
ایم اے اسلامیات وعربي پېښور یونیورسټي



د ملاویدو پتې د فیصل کتب خانه پېښور نه علاوه

- رشیدیه کتب خانه اکوړه خټک
- علمیه کتب خانه اکوړه خټک ۰۹۲۳۶۳۰۵۹۴
- مکتبه رشیدیه کوئټه ۰۸۱۲۶۶۲۲۶۳
- مکتبه عثمانیه کانسی روډ کوئټه ۰۳۰۱۳۷۳۷۰۳۰
- مکتبه یوسفیه کانسی روډ کوئټه ۰۳۲۱۰۸۲۸۹۳۰
- راشد کتب خانه چمن ۰۳۰۰۳۸۹۶۳۵۳
- مکتبه عمریه تاج میر روډ چمن بلوچستان
- مکتبه علوم اسلامیه تاج میر روډ چمن بلوچستان ۰۳۳۳۷۹۵۸۶۹۶
- مکتبه حقانیه چمن ۰۳۳۳۷۷۵۲۲۱۹
- صداقت کتب خانه قندهار افغانستان ۰۷۸۷۷۴۲۳۲۱
- مکتبۀ رحمانیه قندهار افغانستان ۰۷۹۷۷۳۵۲۸۱
- مکتبه عبدالحي قندهار افغانستان ۰۷۰۰۸۲٤۳۳٤
- اسدالله کتب خانه قندهار افغانستان ۰۷۰۷٤۷۷٦۲۷
- مکتبۀ غفاریه قندهار افغانستان ۰۷۰۰۳٤۱۷٤۹
- مکتبۀ رشیدیه قندهار افغانستان ۰۷۷۲۲۱۰۷۰۹
- مکتبۀ حبیبیه قندهار افغانستان ۰۷۹۹٤٤۷٤۱۳
- مکتبۀ القدس قندهار افغانستان ۰۷۰۷۹٤۸۵۵۹
- قدرت کتب خانه کابل افغانستان ۰۷۹۹۲۱۹۲۰۳
- عبدالمجید کتب خانه جلال آباد ۰۷۰۸۱۹۷۷۴۹
- شاهین کتب خانه خوست افغانستان
- بلال کتب خانه خوست افغانستان
- اسلامی کتب خانه خوست افغانستان ۰۷۹۹۳۱۰۲۴۷

# فهرست مضامين

| شميره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|

## باب ۱۰۱ : دعا النبي ﷺ إلى الاسلام والنبوة، وأن لايتخذ بعضهم بعضاً أرباباً من دون الله

## باب ۱۱۰: عزم الامام على الناس فيما يطيقون

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|



## باب-۱۱۸ ما قیل فی لواء النبی صلی الله علیه وسلم

## باب-۱۱۹: الاجير

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|



## باب- ۱۲۰: قول النبی ﷺ (نصرت بالرعب مسيرة شهر)



## باب- ۱۲۱: حمل الزاد فی الغزو

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|



## باب-۱۲۸: التكبير عند الحرب



## باب-۱۲۹- مَا يُكْرَهُ مِنْ رَفْعِ الصَّوْتِ فِي التَّكْبِيرِ



## باب-۱۳۰- التَّسْبِيحِ إِذَا هَبَطَ وَادِيًا

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|



## باب ۱۳۱: التكبير إذا علا شرفًا

| شمیره | مضمون | صفحه |
| --- | --- | --- |

## باب ۱۳۶: الجهاد باذن الابوین



## باب ۱۳۷: ماقیل فی الجرس ونحوه فی أعناق الابل

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|



## باب ۱۳۸: من اکتتب فی جیش فخرجت امرأته حاجة، وکان له عذر، هل یؤذن له



## باب ۱۳۹: الجاسوس

## باب ۱۴۵: قتل الصبيان فى الحرب

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|



## باب ۱۴۲ قتل النساء في الحرب



## باب ۱۴۷ لا یعذب بعذاب الله

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|

| شمیره | مضمون | صفحه |
| --- | --- | --- |

| شمیرہ | مضمون | صفحہ |
| --- | --- | --- |

## باب ۱۷۰: دواءالجرح باحراق الحصیر، وغسل المرأة عن أبیها الدم عن وجهه وحمل الماء فی الترس



## باب ۱۷۱: ما یکره من التنازع والاختلاف فی الحرب، وعقوبة من عصی إمامه

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|



## باب ۱۲۸: فكاك الاسير

| صفحه | مضمون | شميره |
|---|---|---|



## باب ١٢٩ فداء المشركين

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|

## باب ۱۷۲ جوائز الوفد هل يستشفع إلى أهل الذمة ومعاملتهم

## باب ١٧٧ كتابة الامام الناس

## باب ۱۷۸ إن الله یؤید الدین بالرجل الفاجر

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|



## باب ۱۸۴ من تكلم بالفارسية والرطانة

| شمیرہ | مضمون | صفحہ |
| --- | --- | --- |

## باب ۱۹۰ لاهجرة بعد الفتح



## باب - ۱۹۱ إذا اضطر الرجل إلى النظر في شعور أهل الذمة والمؤمنات اذا عصين الله وتجريدهن

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|



## باب ۱۹۴ الصلاة إذا قدم من سفر

## باب - ۱۹۵ الطعام عند القدوم

| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## باب ۹۸: هل یرشد المسلم اهل الکتاب او یعلمهم الکتاب

حدیث نمبر ۲۷۷۸ [(۱)] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ أَخْبَرَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا ابْنُ أَخِي ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَمِّهِ قَالَ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبَّاسٍ - رضی الله عنهما - أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلی الله علیه وسلم - كَتَبَ إِلَى قَيْصَرَ وَقَالَ «فَإِنْ تَوَلَّيْتَ فَإِنَّ عَلَيْكَ إِثْمَ الأَرِيسِيِّينَ». [ر: ۷]

**باب سابق سره مناسبت:-** په سابقه باب کښې د کافرانو د پاره د بد دعا ذکرو و دلته د خیر دعا یعنی د اسلام طرف ته رهنمائی او د قرآن د تعلیم چه د رشداو هدایت اصل او منبع ده د دې ذکر دې

**د ترجمة الباب مقصد:** د ترجمه دوه اجزا دی ① ارشاد المسلم اهل الکتاب ② تعلیم القرآن لاهل الکتاب امام بخاری رحمه الله دلته خودل غواړی چه آیا مسلمان د اهل کتاب د حق طرف ته لارخودنه کولی شی که نه؟ او هغوی ته د قرآن کریم تعلیم ورکولې شی که نه؟ د ړومبی جز باره کښې ابن بطال رحمه الله فرمائی چه د اهل کتاب رهنمائی او هغوی ته د دین تعلیم ورکول په مسلمانانو حاکمانو باندې واجب دی او دا د هغوی په ذمه وارئی کښې شامل دی. [(۲)]

**کافرانو ته د قران د تعلیم ورکولو حکم:-** البته په دویم جز کښې اختلاف دې. د امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله په نیز که کافر حربی وی که ذمی، هغه ته د قرآن، فقه او عام علوم و خودلو کښې هیڅ حرج نشته ممکن دی چه هغه د دې علم په برکت سره د اسلام طرف ته راغب شی [(۳)] امام مالک رحمه الله مطلقًا ناجائز گرځولې دی. د امام شافعی رحمه الله نه دواړه شان اقوال نقل دی [(۴)] امام احمد رحمه الله د اسلم قبلولو په شرط باندې جائز گرځوی. د هغوی په نیز که د اسلام قبلولو امید نه وی نو بیا کافرانو ته د قرآن تعلیم ورکول جائز نه دی. [(۵)]

**د احنافو دلائل** - امام طحاوی رحمه الله د احنافو د طرف نه مختلف دلائل ورکړی دی:

① هرقل ته چه کوم خط مبارک لیګلې شوې وو په هغې کښې د قرآن کریم پوره یو آیت موجود دې چه یقینًا د قرآن پاك تعلیم دې بلکه هغه په یو قسم باندې په زده کولو سره مجبور کړې شو چه هغه دې د قرآن په آیت باندې د پوهیدلو کوشش اوکړی ځکه چه رومیان د عربی نه واقف نه وو آیت باندې بغیر د ترجمې نه شو پوهیدلې په معنی د پوهیدلو د پاره په قرآن پوهیدل او

---

(۱) قدمر تخريجه فی بدء الوحی. انظر کشف الباری: ۱/۳۷۷.

(۲) شرح ابن بطال: ۱۱۲/۵. وعمدة القاری: ۲۰۷/۱۴.

(۳) رد المحتار ۱/۷۱.

(۴) ایضًا.

(۵) المغنی لابن قدامة ۷۸۹/۹.

زده کول ضروری دی (۱)

② دَ الله تعالی فرمان ﴿ وَإِنْ أَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ اسْتَجَارَكَ فَأَجِرْهُ حَتَّىٰ يَسْمَعَ كَلَامَ اللَّهِ ثُمَّ أَبْلِغْهُ مَأْمَنَهُ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْلَمُونَ ﴾ (۲)

وقال ابن أبي نجيح عن مجاهد في تفسير هذه الاية قال: إنسان يأتيك يسمع ما تقول وما أنزل عليك فهو آمن حتى يأتيك فتسمعه كلام الله.... إلى آخر ما قال (۳) یعنی که یومشرك تانه پناه او امان اوغواړی نو تاسو هغوی ته پناه ورکړئ دی دپاره چه هغوی دَالله تعالی کلام واوری نو داهم دَقرآن تعلیم دی

③ حضرت اسامه بن زید رضي الله عنهما په روایت په کوم کښې چه نبی کریم ﷺ دَ مشرکانو او یهودیانو په مجلس تیریدو اوهغوی ته دَ قرآن اورولوذکردی دَ روایت الفاظ دادی مر النبی صلی الله تعالی علیه وسلم علی عبدالله أبي قبل أن يسلم، وفي المجلس أخلاط من المسلمين والمشركين واليهود، فقرأ عليهم القرآن. (۴) رسول الله اکرم ﷺ دَعبدالله بن ابی په خوا تیریدو کله چه هغه اسلام نه وو راوړلې په مجلس کښې مسلمانان مشرکان او یهودیان مختلف خلق شریك وو رسول الله ﷺ دَ دغه ټولو په وړاندې دَ قرآن کریم تلاوت اوفرمائیلو

④ حمادبن سلمة، حبیب المعلم نه نقل کوی چه مادَحضرت حسن بصری رحمه الله نه معلومه کړه چه آیا زه ذمیانوته قرآن لوستلې شم؟ هغوی اوفرمائیل ولې هغوی تورات او انجیل نه لولی؟ هغه هم دَالله تعالی کتابونه دی. (۵)

**دَ مالکیه دلائل:-** ① دَهغوی اولنې دلیل دَ قرآن کریم دا آیت دی ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هَٰذَا ۚ وَإِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةً فَسَوْفَ يُغْنِيكُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ إِن شَاءَ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴾ (۶) یعنی مشرکان خوهم نجس دی.

② دَمالکیه استدلال دَدې احادیثونه هم دې په کوم کښې چه قرآن کریم سره دَ کافرانو دَ ملکونوطرف ته دَ سفرکولونه نهی اوممانعت واردشوې دې چه چرته قرآن مجید دَکافرانو په لاس اونه لګی. ښکاره خبره ده چه په دې کښې دَ بې حرمتئ اندېښنه ده چنانچه په مسلم شریف کښې دَحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما یوروایت دې "نهى رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم أن يسافر بالقرآن إلى أرض العدو" (۷)

---

۱) فتح الباری ۱۰۷/۲، عمدة القاری: ۱٤/۷، شرح ابن بطال: ۱۳/۵.

۲) سورة النور: ۶.

۳) تفسیر ابن کثیر: ۳۳۷/۲.

۴) عمدة القاری: ۲۰۷/۱٤. وشرح ابن بطال: ۱۱۳/۵.

۵) شرح ابن بطال: ۱۱۳/۵.

۶) سورة التوبة: ۲۸.

۷) صحيح مسلم كتاب الامارة. باب النهى أن يسافر بالمصحف إلى أرض الكفار إذا خيف... بايديهم (رقم الحديث ٤٨٤)

رسول الله ﷺ د دښمن ملك ته قرآن مجيد اوړلوسره سفر كولونه منع فرمائيلي ده

دغه شان د صحيح مسلم يو بل روايت كښي دا اضافه ده " مخافة أن يناله العدو" يعني قرآن خان سره په سفركښي د اوړلو ممانعت وجه داده چه چرته قرآن د دښمن په لاس اونه لګي البته بعض مالكيه په كومو كښي چه علامه أبي ښكاره دي دعوت اسلام دپاره دوعظ په توګه د يو دوو آيتونو د جواز قائل دي [۱]

**د حافظ ابن حجر رحمه الله محاكمه** - حافظ صاحب فرمائي چه صفاسترد خبره داده چه په دې مسئله كښي تفصيل دې د كوم سړي باره كښي چه دا اميدوي چه هغه به اسلام قبول كړي يا دهغه نه كم نه كم د نقصان خطره نه وي نوداسې سړي ته دقرآن پاك تعليم وركولو كښي هيڅ حرج نشته خوداسې سړې د كوم باره كښي چه داخبره معلومه شوې وي چه د قرآن زده كولو دهغه دپاره فائده مندنه دي او چه داسې سړې قرآن زده كړي نو دين به پيغوروتو او بداخلاقو نښه جوړ كړي نوداسې سړي ته د قرآن تعليم وركول جائز نه دي [۲]

**دامام بخاري رحمه الله خيال** - امام بخاري رحمه الله ددې خبرې طرف ته مائل دې چه كافرانوته لاړ خودلي شي او هغوى ته د قرآن تعليم هم وركولي شي سروركونين ﷺ چه قيصرروم ته كوم خط وراليكلي وو په هغې كښي دا دواړه خبرې مخې ته وې

**د حديث باب ترجمة الباب سره مطابقت** - نبي كريم ﷺ چه قيصرروم ته كوم خط ليكلي وو په هغې كښي د قرآن كريم يوپوره آيت هم موجود وو

﴿قُلْ يَاأَهْلَ الْكِتٰبِ تَعَالَوْا إِلٰى كَلِمَةٍ سَوَآءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهٖ شَيْئًا وَّلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللهِ ۚ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُوْلُوا اشْهَدُوْا بِأَنَّا مُسْلِمُوْنَ﴾ [۳]

د ترجمه دوه جزونه دی رومبی جزسره مناسبت خو "فان توليت" نه معلوميږي څكه چه په دې جمله كښي دننه د هدايت او حق لارې طرف ته ښودنه كيږي "أسلم تسلم يؤتك الله أجرك مرتين" كښي ترغيب دې "فان توليت" كښي زجر او "فان عليك إثم اليريسيين" كښي وعيد دې دويم جز نه انطباق نامه مبارك ليكل ماخوذدى [۴] اوداخو معلومه شوې ده چه په دې كښي د قرآن كريم آيت مذكوره موجود وو نودا يقيناهم د قرآن تعليم دې

**تنبيه** - ددې روايت تشريح وړاندې په تفصيل تيره شوې ده. [۵]

## باب ۹۹: الدعاء للمشركين بالهدى ليتألفهم

احديث نمبر ۲۷۷۹ [۶] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ حَدَّثَنَا أَبُو الزِّنَادِ أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ قَالَ

---

[۱] إكمال إكمال المعلم: ۵/۲۱۶.

[۲] فتح الباری: ۶/۱۰۷.

[۳] سورة آل عمران: ۶۴.

[۴] عمدة القاری: ۱۴/۲۰۷.

[۵] كشف الباری: ۱/ ۵۵۶.

[۶] اخرجه البخاری فی كتاب المغازی: ۲/ ۶۳۰. باب قصة دوس والطفيل بن...[بقيه حاشيه برصفحه آئنده

قَالَ أَبُوهُرَيْرَةَ -رضي الله عنه قَدِمَ طُفَيْلُ بْنُ عَمْرٍو الدَّوْسِيِّ وَأَصْحَابُهُ عَلَى النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللّهِ، إِنَّ دَوْسًا عَصَتْ وَأَبَتْ، فَادْعُ اللّهَ عَلَيْهَا. فَقِيلَ هَلَكَتْ دَوْسٌ. قَالَ «اللّهُمَّ اهْدِ دَوْسًا وَائْتِ بِهِمْ». [۴۱۳۱، ۶۰۳۴]

**ماقبل سره ربط**:- د سابقه باب نه وړاندې باب ذکرشو "باب الدعاء على المشركين بالهزيمة والزلزلة" او دلته "باب الدعاء للمشركين بالهدى ليتالفهم" لکه چه دلته مناسبت کښې تضاددې په ماقبل کښې د مشرکانو دپاره بددعا ذکرشوه او اوس دلته هغوی دپاره دهدايت ذکر کيږي.

**د ترجمة الباب مقصد**: امام بخاری رحمه الله ددې باب په قايم کولوسره دابنودل غواړي چه د مشرکانودپاره د هدايت دعاکول جائزدي کله چه دهغوی ... د اسلام د قبلولوتوقع وی (۱)

دلته داخبره د ذکرقابل ده چه بعض وخت رسول الله ﷺ مشرکانوته بددعا فرمائيلې او بعض وخت ئې د هغوی دپاره دهدايت دعافرمائيلې ده داد حالاتو د بدلون اوتغيرنتيجه ده کله چه به د مشرکانو په طاقت کښې زياتوالې کيدو نودهغوی د طرف نه به مسلمانانوته تکليفونه او سزاګانې رسولوسلسله اوږديده او مسلمانان به دهغوی د شرنه غيرمحفوظ کيدل نو نبی کريم ﷺ به مشرکانوته بددعا فرمائيله لکه څنګه چه نبی کريم ﷺ د قريشودسردارانودپاره بددعا فرمائيلې وه د کومې په نتيجه کښې چه دهغوی اکثر کسان په غزوه بدر کښې قتل کړې شو.

اوکله چه به نبی کريم ﷺ د کافرانود شر نه اطمينان اوتسلی محسوس کوله اودا اسلام طرف ته به ئې د هغوی توجه ته کتل نودهغوی دهدايت دپاره به ئې دعافرمائيله ځکه چه نبی کريم ﷺ ته دخلقو مسلمان کيدو اود هغوی د ايمان راوړلوزيات شوق وو په بددعاکولوکښې به نبی کريم ﷺ د تندئی نه کارنه اخستلو بلکه ډيره حده پورې به ئې احتياط فرمائيلو (۲)

لړشان ګورئی چه حضرت طفيل رضی الله عنه د بددعادرخواست کوی اورسول الله ﷺ د هغوی دپاره د هدايت او خيردعا فرمائی يقيناً داد حضورپاك د عظيم اخلاقويود کارنمه وه اود سرور کائنات فخرموجودات حضرت محمدمصطفی ﷺ د رحمة للعالمين کيدو يوه لويه نښه وه (۳)

**د حديث باب مختصرتشريح**:- حضرت طفيل بن عمرودوسی رضی الله عنه د هجرت نه وړاندې مکه ته راغلې وو اسلام ئې قبول کړې وو بياهغه خپلې قبيلې ته د تبليغ دپاره واپس لاړو خود هغوی والد صاحب او حضرت ابوهريره رضی الله عنه نه بغيرچاهم اسلام قبول نه کړو (۴) نوهغه واپس راغلو او نبی کريم ﷺ ته د قبيله دوس دنافرمانئی او سرکشئی شکايت اوکړو اوعرض ئې اوکړو چه

---

...بقيه ازحاشيه ګذشته] عمرو الدوسی (رقم ۴۳۹۲). وفی کتاب الدعوات: ۲/۹۴۶. باب الدعاء للمشركين (رقم الحديث:۶۳۹۷).ومسلم: ۲۱۶ز۲ فی فضائل الصحابه. باب من فضائل غفاروجهينة. (رقم الحديث: ۲۵۲۴)

(۱) فتح الباری: ۶/۱۰۸. وعمدة القاری: ۱۴/۲۰۷.

(۲) فتح الباری: ۶/۱۰۸. وعمدة القاری: ۱۴/۱۰۷. والقسطلانی: ۵/۱۱۰. وشرح ابن بطال: ۵/۱۱۴.

(۳) شرح الکرمانی: ۱۲/۱۸۴. والقسطلانی: ۵/۱۱۰.

(۴) الاصابة: ۴/۲۱۰-۲۰۲.

د رسول الله تاسو د قبيلي دوس دپاره بد دعا اوكړئ نو حاضرينو اوويئيل دوس دي برباد شي بعض رواياتو كښې دي چه حضرت طفيل ﷺ په قبيله دوس كښې سود او زنا غوندې خبيث وبا او اخلاقي بيمارو خوريدو شكايت اوكړو (١) ليكن رحمة للعالمين ﷺ دعا كولو سره اوفرمائيل اې الله دوس ته هدايت اوكړې او هغوى مونږ له راولې.

**حضرت طفيل** ﷺ - ابن اسحاق په مغازى كښې صالح بن كيسان په طريق باندې نقل كړى دى چه نبى كريم ﷺ هغوى د قبيله دوس بت "ذوالكفين" ماتولو په مهم باندې روان كړې وو هغوى د غه بت په اور باندې اوسوزولو اوايره ئې كړو هغه وخت دوى دا اشعار لوستل:

ياذالكفين لسنامن عبادكا ميلادنا أكبرمن ميلادكا وقد حشوتُ السارفي فؤادكا (٢)

يعنى اې ذوالكفين مونږ ستا بنديګان نه يو زمونږ د تخليق مقصد ستا د تخليق د مقصد نه اوچت اوغوره دې اوما ستا زړه د اور نه ډك كړې دې.

د حضرت طفيل بن عمرو ﷺ لقب "ذوالنور" وو ددې تفصيل وړاندې كتاب المغازى كښې راروان دې (٣)

**ترجمة الباب سره مطابقت:** - د رسول الله ﷺ دعائيه كلمات "اللهم اهد دوساوائت بهم" سره د ترجمة الباب انطباق بالكل واضح دې. (٤) يعنى نبى كريم ﷺ د قبيله دوس د زړه ساتنې د خاطره هغوى ته د هدايت دعا اوفرمائيله.

## باب ١٠٠: دعوة اليهود والنصارى، وعلى ما يقاتلون عليه، وما كتب النبى ﷺ إلى كسرى وقيصر، والدعوة قبل القتال

[حديث نمبر ٢٧٨٠] (٥) حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْجَعْدِ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسًا - رضى الله عنه - يَقُولُ لَمَّا أَرَادَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - أَنْ يَكْتُبَ إِلَى الرُّومِ، قِيلَ لَهُ إِنَّهُمْ لاَ يَقْرَءُونَ كِتَابًا إِلاَّ أَنْ يَكُونَ مَخْتُومًا . فَاتَّخَذَ خَاتَمًا مِنْ فِضَّةٍ، فَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى بَيَاضِهِ فِي يَدِهِ، وَنَقَشَ فِيهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ. [ر: ٦٥]

**د ترجمة الباب مقصد:** - امام بخارى رحمه الله چه دلته كومه ترجمه قايم كړې ده د هغې څلور اجزا دى

① **دعوة اليهود والنصارى:** يعنى اهل كتاب ته دعوة وركول پكار دى كه نه؟

② **على مايقاتلون عليه:** يعنى په كوم بنياد باندې به هغوى سره جنګ كولې شى چه هغوى د توحيد منكر نه دې؟

③ **وماكتب الرسول صلى الله تعالى عليه وسلم إلى كسرىٰ وقيصر** يعنى دغه دواړو ته د ليكلې

---

١) عمدة القارى: ٢٠٨/١٤.
٢) السيرة النبوية لابن هشام: ٣٨٥/١، والاصابة: ٢٢٥/٢.
٣) كشف البارى كتاب المغازى ص: ٦١٣ – ٦١٤.
٤) عمدة القارى: ٢٠٨/١٤، وفتح البارى: ١٠٨/٦.
٥) قدمر تخريجه فى كتاب العلم، انظر كشف البارى: ١٧٦/٣.

شوى خطونو مضمون څه وو؟

④ الدعوة قبل القتال يعنى د جنګ نه وړاندې د دعوت وركولو څه حكم دې؟[1]

**كافرانوته د جهادنه وړاندې دَاسلام دعوت دې وركړې شى كه نه؟** - په دې مسئله كښې اختلاف دې او درې مذاهب دى ① دعوت وركول مطلقًا واجب نه دى دحافظ ابن حجر رحمه الله داقول امام شافعى رحمه الله طرف ته منسوب كړې دې[2] حالانكه علامه نووى رحمه الله دامذهب د چاطرف ته د منسوب كولونه بغيرډير ضعيف يا باطل ګرځولې دې[3]

②دعوت مطلقًا واجب دې اوترهغه وخته پورې كافرانوسره جنګ جائزنه دې تركومې چه هغوى ته دَاسلام دعوت ورنه كړې شى كه هغوى ته دې نه وړاندې دَاسلام دعوت رسيدلې وى اوكه نه وى رسيدلې.[4]

البته چه كوم يهود نصارىٰ اوغيرمسلم خلق دارالاسلام سره نيزدې اوسيږى دهغوى دپاره داحكم نه دې بلكه بغيرد څه پيشګى اطلاع نه په هغوى حمله كولې شى ځكه چه هغوى په ګاوندكښې اوسيږى اود اسلام باره كښې معلومات لرى. اودهغوى په زړونوكښې د مسلمانانوخلاف دنفرت اوعداوت أور لګيدلې دې اوهغوى يوشان په مسلمانانوحملې كوى او شرخوره وى داسې خلق د غفلت په حالت كښې راګيرول پكاردى

خوهغه خلق چه د دارالاسلام نه لرې دى هغوى ته به دعوت وركولې شى اودهغوى د شكونواو شبهاتو د لرې كولو كوشش به كولې شى. بياهم كه هغوى نه منى نو هغوى سره به جنګ كولې شى. داد مالكيه مذهب دې.[5]

③كه يوقوم ته د جنګ نه وړاندې دَاسلام دعوت نه وى رسيدلې نويه داسې صورت كښې دعوت واجب دې اوبغيرددعوت نه هغوى سره جنګ كول ناجائزدى. اوكه چرې دغه قوم ته دعوت رسيدلې وى نو په داسې صورت كښې د جنګ نه وړاندې دعوت وركول مستحب دى هم دغه راجح اود جمهورائمه مذهب دې.

وهذاقول الحسن البصرى والنخعى وربيعة والليث وأبى حنيفة والثورى والشافعى وأحمد وإسحاق وأبى ثور.[6]

**د مالكيه دلائل:- ړومبې دليل:** ابن المنذر، عمر بن عبدالعزيز رحمه الله باره كښې نقل كوى فرمائى

[1] ) عمدة القارى: ٢٠٨/١٤، وإرشاد السارى: ١١٠/٥.

[2] ) فتح البارى: ٤٧٨/٧.

[3] ) شرح النووى على صحيح مسلم: ٨١/٢، كتاب الجهاد، باب جواز الاغارة على الكفار الذين بلغتهم دعوة الاسلام من غير تقدم إعلام بالاغارة.

[4] ) المدونة الكبرى: ٣/٢، وفيه "قلت: أكان مالك يرى أن يُدعوا قبل القتال ولايرى الدعوة قدبلغتهم قال: نعم"

[5] ) المدونة: ٢/٢.

[6] ) الهداية: ٢/ ٥٥٨ – ٥٥٩، كتاب الجهاد، وشرح النووى على صحيح مسلم: ٨١/٢، كتاب الجهاد: باب جواز الاغارة على الكفار الذين بلغتهم دعوة الاسلام من غيرتقدم أعلام بالاغارة والمغنى: ١٧٢/٩، مسالة (٧٤٣٦)، وشرح ابن بطال: ١١٧/٥، والشامى: ٢٤٣/٣.

چه هغوی به دَ لښکر امراء، ته دَ جنګ نه وړاندې دَ دعوت ورکولو حکم ورکولو [1]
**دویم دلیل** حضرت علی رضی الله عنه به تر هغه وخته پورې حمله نه کوله ترکومې چه به هغوی دښمن ته دَ ږي خل دَ اسلام دعوت نه ورکولو [2]
**دریم دلیل** حدیث باب کوم چه دَ سهل بن سعد رضی الله عنه نه روایت دې دَدې الفاظ په واضحه توګه دَ جنګ نه وړاندې دعوت ورکول مطلقا واجب کیدو باندې دلالت کوی خکه چه دَخیبر یهودیانو ته دَ اسلام دعوت وړاندې رسیدلې وو خوددې باوجود نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل "على رسلك! حتى تنزل بساحتهم، ثم ادعهم إلى الاسلام....." صبر اوکړئی تردې چه تاسو دَ مشرکانو په علاقه کښې داخل شئی بیا هغوی ته دَاسلام دعوت ورکړئی.
**دَ جمهورو دلائل - رومبی دلیل**: دَابورافع ابن ابی الحقیق اوکعب بن اشرف قتل کوم چه په دهوکه سره اوکړې شو [3]
**دویم دلیل**: - نبی کریم صلی الله علیه وسلم په بنی المطلق باندې ناخاپی حمله کړې وه په کوم وخت چه دَهغوی څاروو اوبه څکلې هغه خلقو دَ حضورپاك دَ دغه ناخاپی حمله طاقت رانوړلې شو اوهغوی ماتې اوخوړلو حضورپاك جنګ کونکی قتل کړل اوکوم چه ژوندی پاتې شوهغوی قید کړل [4]
**دریم دلیل**: - دَسنن ابی داؤد روایت دې چه حضورپاك صلی الله علیه وسلم حضرت اسامه بن زید رضی الله عنه ته حکم ورکړو چه "أبنى" [5] باندې دَ سحر په وخت حمله اوکړه او کلی ئی اوسوزولو [6]
**څلورم دلیل** - صعب بن جثامة رضی الله عنه روایت کښې دی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه دَحمله کولو په نتیجه کښې هلاك کیدونکو ماشومانو اوښځو باره کښې معلومه کړه نو حضورپاك اوفرمائیل "هم منهم" یعنی دَهغوی په دې وخت دَ وژلو هیڅ حرج نشته هغه هم دَمشرکانو په حکم کښې دی [7]
داخبره بالکل واضحه ده چه حمله ناخاپی او په بې خبرئی کښې کولې شی هغه وخت دعوت ورکړې کیدې شی اونه هغوی خبردار کولې شی ګنې حمله به بې مقصده پاتې شی.
دَدې ټولو روایتونو نه داخبره ثابته شوې ده چه کوم قوم ته دعوت رسیدلې وی هغوی ته دَ جنګ نه وړاندې دعوت ورکول واجب یا ضروری نه دی. ترکومې چه دَدې احادیثو تعلق دې په کوم کښې چه دَدعوت ورکولو ذکر دې نو دَهغې محمل دَجمهورو په نیز دادې چه چرې یو داسې

---

[1] ) المدونة الكبرى: ٣/٢ وشرح ابن بطال: ١١٧/٥.
[2] ) المدونة الكبرى: ٣/٢.
[3] ) صحيح بخارى: ٥٧٧-٢/٥٧٦. كتاب المغازى. باب قتل كعب بن الاشرف. (رقم: ٤٠٣٧) وباب قتل أبى رافع عبدالله بن أبى الحقيق. رقم: ٤٠٤ – ٤٠٣٨.
[4] ) صحيح البخارى: ٥٩٣/٢، كتاب المغازى باب غزوة بنى المصطلق من خزاعة رقم: ٤٠٣٨ – ٤٠٣٩.
[5] ) أبنى: بضم الهمزة وسكون الموحدة وبعدها نون وآخرها ألف مقصورة. موضع من بلاد فلسطين بين عسقلان والرملة و "يبنى" أيضا كما فى الحديث الاتى بعده. (رقم: ٢٦١٧)
[6] ) أبوداؤد. كتاب الجهاد. باب فى الحرق فى بلاد العدو (رقم: ٢٦١٦)
[7] ) البخارى: ١/٤٢٣. كتاب الجهاد. باب أهل الدار يبيتون فيصاب الولدان والذرارى: (رقم: ٣٠١٢).

قوم سره جنګ کولې شي نو دوباره هغوی ته دعوت ورکول مستحب دی (۱)
**پواشکال اوذهغې جواب**:- دلته دااشکال پیداکیږی چه د حدیث صعب بن جثامة نه په بې خبرئی کښې د حملې کولوجواز معلومیږی خو د حضرت انس رضی الله عنه په حدیث باب کښې ترسحره پورې انتظار کولو او بیا د اذان په آواز باندې د فیصلې کولوذکردې یعنی چه نبی کریم ﷺ به په یوه علاقه کښې د اذان اواز اوریدلو یا د اسلام څه ظاهری علامت به نې لیدلو نوحمله به نې نه کوله ګنی حمله به نې کوله لکه چه په حدیث صعب بن جثامة نه ثابتیږی چه د غفلت په حالت کښې حمله کول مباح ګرځولې شي خو د حضرت انس رضی الله عنه حدیث ددې برعکس دې
**جواب**:- په دې دواړو احادیثو کښې هیڅ تعارض نشته ځکه چه د صعب رضی الله عنه حدیث تعلق هغه خلقوسره دې کوموته چه اول دعوت رسیدلې دې په داسې خلقو باندې په غفلت کښې حمله کولې شي. او د حضرت انس رضی الله عنه تعلق داسې خلقو سره دې کوموته چه تردغه وخته پورې دعوت نه وی رسیدلې یا د هغوی حالاتو نه مسلمانان پوره واقفیت نه وی (۲)
**د موجوده وخت د کافرانو حکم**:- د دې تفصیل نه معلومه شوه چه زمونږ د زمانې کافرانوته د اسلام دعوت ورکول مستحب دی واجب نه دی. د دعوت نه بغیرهم هغوی سره جنګ کولې شي ځکه چه هغوی د اسلام د صداقت اوپیغام نه ښه خبردی چنانچه امام شافعی رحمه الله فرمائی. لاأعلم أحدًا من المشركين لم تبلغهم الدعوة اليوم (۳) د امام احمد رحمه الله نه هم دغه قول نقل دې (۴)
د احنافو هم دغه مذهب دې ځکه چه دعوت اسلام هرطرف ته خورشوې دې او د نن صباجدید دور کښې چه ذرائع ابلاغ ښه ترقی کړې ده. داخبره لرې معلومیږی چه یوقوم یا کس ته د اسلام دعوت نه وی رسیدلې. خو داهم کیدې شي چه د دنیا په یوګوټ کښې داسې قومونه آباد وی کوموته چه تردغه وخته دعوت نه وی رسیدلې په داسې صورت کښې هغوی ته دعوت ورکول واجب دی. په تاتارخانیه کښې دی چه داسې قومونه کوموته چه دعوت رسیدلې دې خوهغوی ته دا نه ده معلومه چه مسلمانان جزئیه هم قبلوی په داسې صورت کښې هغوی سره ترهغه وخته پورې جنګ جائزنه دې ترکومې چه هغوی ته د جزئیې باره کښې خبرنه کړې شي. (۵) والله اعلم وأتم وأحكم
**د لفظ قیصر معنی**:- قیصر په رومی ژبه کښې هغې ته وئیلې شي د چاخیټه چه پرې کړې شوې وی. د هرقل مور د حمل په حالت کښې وفات شوې وه نو د هرقل د مورخیټه شلولوسره راویستې وو. هغه به په دې کارفخرکولو چه هغه د شرمګاه په لارنه دې راغلې (۶)

---

[۱] ) المغني: ۱۷۲/۹، مسالة (۷۴۳۶) وشرح ابن بطال: ۱۱۸/۵.
[۲] ) شرح ابن بطال: ۱۲۰/۵-۱۱۹.
[۳] ) شرح ابن بطال: ۱۱۷/۵.
[۴] ) المغني: ۱۷۲/۹، مسالة: ۷۴۳۶.
[۵] ) البحرالرائق: ۷۵/۵، وفتح القدير: ۱۹۶/۵، وردالمحتار: ۲۴۴/۳، والفتاوى التتغارخانية: ۲۲۷/۵-۲۲۶، كتاب السير، الفصل الثاني في بيان شرائط جواز قتال الكفرة.
[۶] ) عمدة القاري: ۲۰۸/۱۴، وأرشادالساري: ۱۱۰/۵.

**په خطونو باندې دَمهرلګولوحیثیت:** قرآن کریم کښې دَ حضرت سلیمان علیه السلام نوم مبارک ته کتاب کریم ونیلې شوې دې حافظ سیوطی رحمه الله درمنثور (١) اوامام طبری رحمه الله په خپل تفسیر کښې دَدې معنی مهر لګولې شوې کړې ده (٢) بل دَ نبی کریم ﷺ نه یوروایت نقل دې "کرامة الکتاب ختمه" یعنی دَخط عزت خودَهغې مهردې.(٣) داحدیث په کتاب العلم کښې په تفصیل سره تیرشوې دې (٤)

**دَ حدیث ترجمة الباب سره مطابقت:**-علامه عینی رحمه الله فرمائی دَ ترجمة الباب څلوراجزادی اول جز سره مطابقت دادې چه رسول الله ﷺ په خط کښې هرقل ته دَاسلام دعوت ورکړې وو هغه نصرانی وو. یهود هم په دې حکم کښې داخل دی ځکه چه هغوی هم اهل کتاب وو معلومه شوه چه اهل کتاب ته به هم دَ اسلام دعوت ورکولې شی (٥)

دویم جزسره داسې انطباق دې دَ هغه والا نامه مقصد چرته چه په واضح توګه هرقل او رومیانوته دعوت اسلام پیش کول دی بل طرف ته دَدې نه دامطلب هم وتلې شی که چرې تاسو دا دعوت قبلولوسره اسلام قبول نه کړئی نوتاسو سره به جنګ کولې شی. دَدې خبرې تصریح په وړاندې باب کښې دَحضرت علی رضی الله عنه په روایت کښې راځی دَدې نه معلومه شوه چه اسلام نه قبلولو په بنیادباندې به هغوی سره جنګ کولې شی.

دریم جز نه مطابقت بالکل واضح دې چه حضورپاك په دعوت اسلام باندې مشتمل مضمون نامه مبارك کښې اولیکل. او څلورم جز سره مطابقت داسې دې چه نبی کریم ﷺ رومیانوته دَ توحید او نبوت محمدی (علی صاحبها الصلوات والتسلیمات)دَ تصدیق کولودعوت ورکړو دادعوت دَ جنګ نه وړاندې دې ځکه چه دې نه وړاندې دَمسلمانانو اورومیانو په مینځ کښې هیڅ جنګ نه وو شوې. (٦)

[حدیث نمبر ٢٧٨١] (٧) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي عُقَيْلٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبَّاسٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - بَعَثَ بِكِتَابِهِ إِلَى كِسْرَى، فَأَمَرَهُ أَنْ يَدْفَعَهُ إِلَى عَظِيمِ الْبَحْرَيْنِ، يَدْفَعُهُ عَظِيمُ الْبَحْرَيْنِ إِلَى كِسْرَى، فَلَمَّا قَرَأَهُ كِسْرَى خَرَّقَهُ، فَحَسِبْتُ أَنَّ سَعِيدَ بْنَ الْمُسَيَّبِ قَالَ فَدَعَا عَلَيْهِمُ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم - أَنْ يُمَزَّقُوا كُلَّ مُمَزَّقٍ. [ر: ٦٤]

---

١) درمنثور: ١٠٦/٥.
٢) تفسیر الطبری، النمل ص: ٩٥. بل اوګورئی: شرح ابن بطال: ١١٥/٥.
٣) الجامع الصغیر: ٨٩/٢ وشرحه فیض القدیر: ٥٥٠/٤.
٤) کشف الباری: ٣/١٧١ – ١٧٥.
٥) عمدة القاری: ٢٠٩/١٤.
٦) عمدة القاری ٢٠٩/١٤.
٧) قدمر تخریجه فی کتاب العلم اوګورئی کشف الباری: ١٧١/٣.

دَ بددعاکولووجه - کسری دَ رسول الله ﷺ خط مبارك شلولې وو داد نبوت دَ شان توهين دې لهذا نبی کريم ﷺ بددعا اوکړه چه الله تعالی رب العزت دې دده سلطنت ټکړې ټکړې کړې واضحه دې وی چه دين پورې توقې کول اودې توهين کول کفردې اودين په معاملاتوکښې بې ځايه مداخلت اوګستاخی کونکې سياستاً قتل کولې هم شی الله تعالی دغه کبيره ګناه کفر ګرځولوسره فرمائيلی دی ﴿ وَلَئِن سَأَلْتَهُمْ لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلْعَبُ ۚ قُلْ أَبِاللَّهِ وَآيَاتِهِ وَرَسُولِهِ كُنتُمْ تَسْتَهْزِئُونَ ۝ لَا تَعْتَذِرُوا قَدْ كَفَرْتُم بَعْدَ إِيمَانِكُمْ ﴾ يعنی که چرې ته ددوی نه تپوس اوکړې نودوی به زراوواني چه مونږ خوهسې ګپ شپ او زړه خوشحالولو تاسو دهغوی ته اووايئ آيا تاسو دَ الله تعالی آياتونو اودهغه رسول ﷺ سره توقې کولې؟ عذر مه بنايئ بيشکه تاسو خلقو دَ کفر ارتکاب کړې دې دَخپل ايمان نه پس.

معلومه شوه چه دَخط شلول او دَدين توهين او شان رسالت کښې ګستاخی وه دَ کوم په وجه چه کسری دَ بددعا موجب شو.[1]

**تنبيه:**-دلته په نوروآياتونوکښې په ځائی دَ "خرقه" "مزقه" واردشوې دې[2] دَ دواړو معنی ذره ذره کول شلول ده.[3] يعنی داسې قوم هيڅ کله کامياب کيدې نه شی چه دَ حکومت واك اختيار ئې ښځوته حواله کړې وی.[4]

**دَ روايت ترجمة الباب سره مطابقت:**- په دې روايت کښې راغلی دی "بعث بکتابه الی کسریٰ" مطابقت هم په دې جمله کښې دننه دې.[5] دَ دې حديث متعلق نورتفصيل کتاب العلم لاندې تيرشوې دې.[6]

## باب ۱۰۱: دعا النبی ﷺ إلی الاسلام والنبوة، وأن لا يتخذ بعضهم بعضاً أرباباً من دون الله

وَقَوْلِهِ تَعَالَى ﴿مَا كَانَ لِبَشَرٍ أَنْ يُؤْتِيَهُ اللَّهُ﴾ إِلَى آخِرِ الآيَةِ. [آل عمران ۷۹]

**دَترجمة الباب مقصد:**- په دې باب کښې امام بخاری رحمه الله دَتيرشوو ابوابو کوم چه دعوت سره متعلق وو دَهغې نور وضاحت کولوسره خودل غواړی چه نبی کريم ﷺ دعوت اسلام سره سره دَنبوت اقرار او دَ شرك نه دَ خلاصی عوت هم ورکولو داخوښکاره خبرده چه يهود اونصاری سره دَدې چه اهل کتاب دی حضرت عزير عليه السلام او حضرت عيسی عليه السلام ته دَخدائی درجه

---

[1]) شرح ابن بطال: ۱۱۵/۵.

[2]) البخاري، كتاب العلم، باب مايذكر فى المناولة وكتاب أهل العلم بالعلم إلى البلدان. (رقم: ٦٤) وكتاب المغازي، باب كتاب النبى صلى الله عليه وسلم إلى كسرىٰ وقيصر رقم (٤٤٢٤). كتاب أخبار الاحاد. باب ماكان يبعث النبى صلى الله عليه وسلم من الامروالرسل واحداً بعد واحد. رقم (٧٢٦٤).

[3]) تقدم تخريجه. كشف البارى. كتاب العلم ص: ١٧٥.

[4]) حواله بالا. بل اوګورئی عمدة القاری: ۲۱۰/۱٤.

[5]) پورتنئی حواله.

[6]) كشف البارى. كتاب العلم ص ١٧٦.

ورکوله دَ الله تعالی ارشاد دی ﴿ وَقَالَتِ الْيَهُودُ عُزَيْرُ ابْنُ اللَّهِ وَقَالَتِ النَّصٰرَى الْمَسِيحُ ابْنُ اللَّهِ ﴾ [١] یعنی یهودوونیل چه عزیر علیه السلام دَ الله تعالی خوئی دی او نصاریٰ وئیل حضرت مسیح علیه السلام دَ الله تعالی خوی دی حالانکه دادواړه بشردی او بشرد خدائی اهل نه دی
امام بخاری رحمه الله دَدې باب لاندې هغه روایات نقل کړی دی په کوم کښې چه اهل روم چه نصرانی وو او اهل خیبرچه یهود وو دوی ته دَ توحید، نبوت محمدی ﷺ او دَ شرک نه دَخلاصی دعوت ورکولوذکردی.
**دَ ایت دَ ذکر کولومقصد** - دَدې آیت مبارک دلته ذکرکولومقصد په هغه خلقو باندې ردکول دی چه خلقوته دَالله تعالی دَ عبادت په ځائی دَ خپل عبادت دعوت ورکوی لکه چه دَ اهل کتابودَ طورطریقې ذکرکولوسره الله تعالی ارشاد فرمائیلې ﴿ كُونُوا عِبَادًا لِّي مِن دُونِ اللَّهِ ﴾ [٢] یعنی ته الله تعالی پریږده زما بنده جوړشه. او بل ارشاد دې ﴿ يٰعِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ ءَأَنتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلٰهَيْنِ مِن دُونِ اللَّهِ ﴾ [٣] یعنی اې عیسیٰ علیه السلام بن مریم آیاتادې خلقوته وئیلی ووچه تاسو ما او زما مور معبودان جوړکړئی دَالله تعالی نه بغیر؟ او بل ارشاد دې ﴿ اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ ﴾ [٤] هغوی خپل عالمان او پیران خپل رب جوړکړل دَالله تعالی نه سوا. یعنی یو داسې سړې چه الله تعالی ورته کتاب حکمت او نبوت ورعطا کړې دې هغه سړه دا مناسب نه دی چه هغه دې خلق دَ الله تعالی دَ عبادت طرف ته دَ متوجه کولو په ځائی دَخپل ذات طرف ته متوجه کړی.
نوچه کله یورسول یا نبی دَپاره داخبره نشه نه ده چه هغوی دَالله تعالی مقرب ترین او خوښ بندیګان دی نودَ نورو دَپاره که هغه ولی وی یا عالم وی څنګه به نه وی. دَ غیرالله عبادت کول به په طریقه اولی ناجائز وی لیکن اهل کتاب دَ خپلو علماؤ او راهبانو دَ الله تعالی په شان عبادت کولو لکه چه دَالله تعالی ارشاد مبارک دې ﴿ اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ ۚ وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا إِلٰهًا وَاحِدًا ۖ لَّا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴾ [٥] یعنی هغوی خپل عالمان او خپل پیران دَالله تعالی نه سوا خپل رب جوړکړل او مسیح ابن مریم هم حالانکه هغوی ته صرف ددې خبرې حکم ورکړې وو چه هغوی دې هم دَ یوخدائی بندګی کوی.

[حدیث نمبر ٢٧٨٢] [٦] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ حَمْزَةَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ صَالِحِ بْنِ كَيْسَانَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ - رضی الله عنهما - أَنَّهُ أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - كَتَبَ إِلَى قَيْصَرَ يَدْعُوهُ إِلَى

---

[١] ) التوبه: ٣٠.
[٢] ) آل عمران: ٧٩.
[٣] ) المائدة: ١١٦.
[٤] ) التوبة: ٣١.
[٥] ) ایضاً.
[٦] ) أخرج البخاری طرقه فی کتاب الجهاد، باب هل یرشد المسلم أهل الکتاب أو یعلمهم الکتاب؟ (رقم ٢٥٣٦)

الإسلام، وبعث بكتابه إليه مع دحية الكلبي، وأمره رسول الله - صلى الله عليه وسلم - أن يدفعه إلى عظيم بصرى ليدفعه إلى قيصر، وكان قيصر لما كشف الله عنه جنود فارس مشى من حمص إلى إيلياء، شكرا لما أبلاه الله، فلما جاء قيصر كتاب رسول الله - صلى الله عليه وسلم - قال حين قرأه التمسوا لي ها هنا أحدا من قومه لأسألهم عن رسول الله - صلى الله عليه وسلم -

قال ابن عباس فأخبرني أبو سفيان أنه كان بالشام في رجال من قريش، قدموا تجارا في المدة التي كانت بين رسول الله - صلى الله عليه وسلم - وبين كفار قريش، قال أبو سفيان فوجدنا رسول قيصر ببعض الشام فانطلق بي وبأصحابي حتى قدمنا إيلياء، فأدخلنا عليه، فإذا هو جالس في مجلس ملكه وعليه التاج، وإذا حوله عظماء الروم فقال لترجمانه سلهم أيهم أقرب نسبا إلى هذا الرجل الذي يزعم أنه نبي قال أبو سفيان فقلت أنا أقربهم نسبا. قال ما قرابة ما بينك وبينه فقلت هو ابن عمي، وليس في الركب يومئذ أحد من بني عبد مناف غيري. فقال قيصر أدنوه. وأمر بأصحابي فجعلوا خلف ظهري عند كتفي، ثم قال لترجمانه قل لأصحابه إني سائل هذا الرجل عن الذي يزعم أنه نبي، فإن كذب فكذبوه. قال أبو سفيان والله لولا الحياء يومئذ من أن يأثر أصحابي عني الكذب لكذبته حين سألني عنه، ولكني استحييت أن يأثروا الكذب عني فصدقته، ثم قال لترجمانه قل له كيف نسب هذا الرجل فيكم قلت هو فينا ذو نسب. قال فهل قال هذا القول أحد منكم قبله قلت لا. فقال كنتم تتهمونه على الكذب قبل أن يقول ما قال قلت لا. قال فهل كان من آبائه من ملك قلت لا. قال فأشراف الناس يتبعونه أم ضعفاؤهم قلت بل ضعفاؤهم. قال فيزيدون أو ينقصون قلت بل يزيدون. قال فهل يرتد أحد سخطة لدينه بعد أن يدخل فيه قلت لا. قال فهل يغدر قلت لا، ونحن الآن منه في مدة، نحن نخاف أن يغدر. قال أبو سفيان ولم يمكني كلمة أدخل فيها شيئا أنتقصه به لا أخاف أن تؤثر عني غيرها. قال فهل قاتلتموه أو قاتلكم قلت نعم. قال فكيف كانت حربه وحربكم قلت كانت دولا وسجالا، يدال علينا المرة وندال عليه الأخرى. قال فماذا يأمركم قال يأمرنا أن نعبد الله وحده لا نشرك به شيئا، وينهانا عما كان يعبد آباؤنا، ويأمرنا بالصلاة والصدقة والعفاف والوفاء بالعهد وأداء الأمانة. فقال لترجمانه حين قلت ذلك له قل له إني سألتك عن نسبه فيكم، فزعمت أنه ذو نسب، وكذلك الرسل تبعث في نسب قومها، وسألتك هل قال أحد منكم هذا القول قبله فزعمت أن لا، فقلت لو كان أحد منكم قال هذا القول قبله قلت رجل يأتم بقول قد قيل قبله. وسألتك هل كنتم تتهمونه بالكذب قبل أن يقول ما قال فزعمت أن لا، فعرفت أنه لم

يَكُنْ لِيَدَعَ الْكَذِبَ عَلَى النَّاسِ وَيَكْذِبَ عَلَى اللَّهِ، وَسَأَلْتُكَ هَلْ كَانَ مِنْ آبَائِهِ مِنْ مَلِكٍ فَزَعَمْتَ أَنْ لاَ، فَقُلْتُ لَوْ كَانَ مِنْ آبَائِهِ مَلِكٌ قُلْتُ يَطْلُبُ مُلْكَ آبَائِهِ. وَسَأَلْتُكَ أَشْرَافُ النَّاسِ يَتَّبِعُونَهُ أَمْ ضُعَفَاؤُهُمْ فَزَعَمْتَ أَنَّ ضُعَفَاءَهُمْ اتَّبَعُوهُ، وَهُمْ أَتْبَاعُ الرُّسُلِ، وَسَأَلْتُكَ هَلْ يَزِيدُونَ أَوْ يَنْقُصُونَ فَزَعَمْتَ أَنَّهُمْ يَزِيدُونَ، وَكَذَلِكَ الإِيمَانُ حَتَّى يَتِمَّ، وَسَأَلْتُكَ هَلْ يَرْتَدُّ أَحَدٌ سَخْطَةً لِدِينِهِ بَعْدَ أَنْ يَدْخُلَ فِيهِ فَزَعَمْتَ أَنْ لاَ، فَكَذَلِكَ الإِيمَانُ حِينَ تَخْلِطُ بَشَاشَتُهُ الْقُلُوبَ لاَ يَسْخَطُهُ أَحَدٌ، وَسَأَلْتُكَ هَلْ يَغْدِرُ فَزَعَمْتَ أَنْ لاَ، وَكَذَلِكَ الرُّسُلُ لاَ يَغْدِرُونَ. وَسَأَلْتُكَ هَلْ قَاتَلْتُمُوهُ وَقَاتَلَكُمْ فَزَعَمْتَ أَنْ قَدْ فَعَلَ، وَأَنَّ حَرْبَكُمْ وَحَرْبَهُ تَكُونُ دُوَلاً، وَيُدَالُ عَلَيْكُمُ الْمَرَّةَ وَتُدَالُونَ عَلَيْهِ الأُخْرَى، وَكَذَلِكَ الرُّسُلُ تُبْتَلَى، وَتَكُونُ لَهَا الْعَاقِبَةُ، وَسَأَلْتُكَ بِمَاذَا يَأْمُرُكُمْ فَزَعَمْتَ أَنَّهُ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تَعْبُدُوا اللَّهَ وَلاَ تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا، وَيَنْهَاكُمْ عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ آبَاؤُكُمْ، وَيَأْمُرُكُمْ بِالصَّلاَةِ وَالصِّدْقِ وَالْعَفَافِ وَالْوَفَاءِ بِالْعَهْدِ، وَأَدَاءِ الأَمَانَةِ، قَالَ وَهَذِهِ صِفَةُ النَّبِيِّ، قَدْ كُنْتُ أَعْلَمُ أَنَّهُ خَارِجٌ، وَلَكِنْ لَمْ أَظُنَّ أَنَّهُ مِنْكُمْ، وَإِنْ يَكُ مَا قُلْتَ حَقًّا، فَيُوشِكُ أَنْ يَمْلِكَ مَوْضِعَ قَدَمَيَّ هَاتَيْنِ، وَلَوْ أَرْجُو أَنْ أَخْلُصَ إِلَيْهِ لَتَجَشَّمْتُ لُقِيَّهُ، وَلَوْ كُنْتُ عِنْدَهُ لَغَسَلْتُ قَدَمَيْهِ. قَالَ أَبُو سُفْيَانَ ثُمَّ دَعَا بِكِتَابِ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَقُرِئَ فَإِذَا فِيهِ «بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ مِنْ مُحَمَّدٍ عَبْدِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ، إِلَى هِرَقْلَ عَظِيمِ الرُّومِ، سَلاَمٌ عَلَى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدَى، أَمَّا بَعْدُ فَإِنِّي أَدْعُوكَ بِدِعَايَةِ الإِسْلاَمِ، أَسْلِمْ تَسْلَمْ، وَأَسْلِمْ يُؤْتِكَ اللَّهُ أَجْرَكَ مَرَّتَيْنِ، فَإِنْ تَوَلَّيْتَ فَعَلَيْكَ إِثْمُ الأَرِيسِيِّينَ وَ( يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَنْ لاَ نَعْبُدَ إِلاَّ اللَّهَ وَلاَ نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلاَ يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُولُوا اشْهَدُوا بِأَنَّا مُسْلِمُونَ ). قَالَ أَبُو سُفْيَانَ فَلَمَّا أَنْ قَضَى مَقَالَتَهُ، عَلَتْ أَصْوَاتُ الَّذِينَ حَوْلَهُ مِنْ عُظَمَاءِ الرُّومِ، وَكَثُرَ لَغَطُهُمْ، فَلاَ أَدْرِي مَاذَا قَالُوا، وَأُمِرَ بِنَا فَأُخْرِجْنَا، فَلَمَّا أَنْ خَرَجْتُ مَعَ أَصْحَابِي وَخَلَوْتُ بِهِمْ قُلْتُ لَهُمْ لَقَدْ أَمِرَ أَمْرُ ابْنِ أَبِي كَبْشَةَ، هَذَا مَلِكُ بَنِي الأَصْفَرِ يَخَافُهُ، قَالَ أَبُوسُفْيَانَ وَاللَّهِ مَا زِلْتُ ذَلِيلاً مُسْتَيْقِنًا بِأَنَّ أَمْرَهُ سَيَظْهَرُ، حَتَّى أَدْخَلَ اللَّهُ قَلْبِي الإِسْلاَمَ وَأَنَا كَارِهٌ.ا ر ۱۷]

د دې حدیث تخریج او تشریح په تفصیل سره تیره شوې ده[۱] خو یو څو خبرې بیا هم د ذکر قابل دی:

① دا روایت په بدء الوحی کښې تیر شوې دې هرقل یو لس سوالونه کړی دی او په ترتیب سره حضرت ابوسفیان رضی الله عنه د هغې یو لس واړو سوالونو جوابونه ورکړې دی بیا هرقل په ترتیب سره په دغه جوابونو باندې تبصره کړې ده خو د بدء الوحی په ترتیب کښې څه اختلال واقع شوې دې البته د کتاب الجهاد ترتیب اولی دې[۲]

---

[۱]) کشف الباري: ۱/ ۴۵۷ – ۴۷۷.

[۲]) کشف الباري: ۱/ ۵۱۵.

② **لما أبلاه الله**:- أبليته، أبليه، أبلاء دَ باب افعال نه دى نودَدې معنى دَخير كيږى اوبلوته بلاء دَ باب نصر نه معنى شر كيږى قال الله تعالى ﴿ وَنَبْلُوكُم بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً ﴾ (۱) "من أبلي فذكر فقد شكر" (۲) يعنى چاته چه يونعمت وركړې شو اوهغه الله تعالى يادكړو نوهغه شكراداكړو او په حديث كعب بن مالك كښې دى "ماعلمت أحدا أبلاه الله أحسن مما أبلانى" (۳) يعنىٓ زه يومسلمان نه پيژنم (دَ رښتياؤدَ وجه) چه الله تعالى ورته دومره وركړې وى څومره ئى چه ماته راكړى دى. او ابتلاء په خيراوشر دواړو معنوكښې استعماليږى دَدې اصل معنى امتحان او ازميښت دې اوس دَ دې عبارت مطلب داشو چه كله الله تعالى قيصر ته په ايرانيانو باندې فتح وركړه نوهغه دَ شكرانې په توګه "حمص" دَشام نه "ايلياء" بيت المقدس ته تلې وو (۴)

③ **ببعض الشام**:- دې نه مراد مشهوربنار غزة دې (۵) چه اوس په فلسطين كښې واقع دې

④ **فتكون لها العاقبة**:- په صحيح بخارى كښې بعض طرق سره په څائى دَ لها لهم راغلې دې (۶) په دواړو صورتونو كښې ضمير الرسل طرف ته راجع دې

**ترجمة الباب سره مطابقت**:- دَحديث شريف ترجمة الباب سره مطابقت بالكل واضح دې چه دَ حديث په الفاظوسره په پوهه كښې راځى. (۷) يعنى دَ رسول الله ﷺ دَ خط الفاظ دى "من محمد عبدالله ورسوله" دا دَ نبوت دَ طرف نه دعوت دې بياوړاندې دى " فانى أدعوك بدعاية الاسلام" دادَ اسلام دعوت دې والله أعلم وعلمه أتم وأحكم

[حديث نمبر ۲۷۸۳] (۸) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِي حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي حَازِمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ- رضى الله عنه- سَمِعَ النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ يَوْمَ

---

(۱) الانبياء:۳۵.

(۲) أبوداؤد: ۳۰۷/۱. كتاب الادبباب شكرالمعروف. رقم (۴۸۱۴)وفيه "فذكره".

(۳) البخارى:۳۸۶/۱. كتاب الوصايا، باب إذا تصدق أو وقف بعض ماله أو دوابه. فهوجائز. رقم (۲۷۵۷) والابلاء بمعنى الاحسان والانعام كما فى قوله تعالى ﴿ وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ رَمَى وَلِيُبْلِيَ الْمُؤْمِنِينَ مِنْهُ بَلَاءً حَسَنًا ﴾ الانفال: ۱۷.

(۴) النهاية لابن الثير: ۱۵۵/۱. عمدة القارى: ۲۱۳/۱۴.

(۵) عمدة القارى: ۲۱۳/۱۴.

(۶) انظرصحيح البخارى:۳۹۳/۱ كتاب الجهاد باب قول الله تعالى ﴿قُلْ هَلْ تَرَبَّصُونَ بِنَا إِلَّا إِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ﴾ رقم (۲۸۰۴) والحرب سجال و كتاب التفسيرباب: ﴿قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ﴾ :۶۵۳/۲. (رقم:۴۵۵۳).

(۷) عمدة القارى:۲۱۲/۱.

(۸) أخرجه البخارى:۴۲۲/۱. فى كتاب الجهاد. باب فضل من أسلم على يديه رجل رقم(۳۰۰۹). وفى: ۵۶۵/۱ . كتاب فضائل أصحاب النبى صلى الله تعالى عليه وسلم. باب مناقب على بن أبى طالب رضى الله عنه رقم (۳۷۰۱) وفى المغازى: ۶۰۳/۲. باب غزوة خيبر. رقم (۴۲۰۹/۴۲۱۰) ومسلم: ۲۷۸/۲. كتاب المناقب. باب ماجاء فى مناقب على رضى الله عنه. رقم (۳۷۲۴).

خَيْبَرَ «لَأُعْطِيَنَّ الرَّايَةَ رَجُلاً يَفْتَحُ اللَّهُ عَلَى يَدَيْهِ». فَقَامُوا يَرْجُونَ لِذَلِكَ أَيُّهُمْ يُعْطَى، فَغَدَوْا وَكُلُّهُمْ يَرْجُو أَنْ يُعْطَى فَقَالَ «أَيْنَ عَلِيٌّ». فَقِيلَ يَشْتَكِي عَيْنَيْهِ، فَأَمَرَ فَدُعِيَ لَهُ، فَبَصَقَ فِي عَيْنَيْهِ، فَبَرَأَ مَكَانَهُ حَتَّى كَأَنَّهُ لَمْ يَكُنْ بِهِ شَيْءٌ فَقَالَ نُقَاتِلُهُمْ حَتَّى يَكُونُوا مِثْلَنَا. فَقَالَ «عَلَى رِسْلِكَ حَتَّى تَنْزِلَ بِسَاحَتِهِمْ، ثُمَّ ادْعُهُمْ إِلَى الإِسْلاَمِ، وَأَخْبِرْهُمْ بِمَا يَجِبُ عَلَيْهِمْ، فَوَاللَّهِ لأَنْ يُهْدَى بِكَ رَجُلٌ وَاحِدٌ خَيْرٌ لَكَ مِنْ حُمُرِ النَّعَمِ». [۲۸۴۷، ۳۴۹۸، ۳۹۷۳]

رسول الله ﷺ د خيبر په ورځ اوفرمائيل په خدائي چه زه به صبا جهنډا داسې يوكس ته حواله كوم د چا په لاس به الله تعالى فتح وركوى. ټول صحابه كرام ﷺ د دې نيك بختنى د حاصلولو دپاره په انتظاروو چه سحرشو نو رسول الله ﷺ د حضرت على ﷺ تپوس اوكړو نوورته اووئيلې شو چه هغوى د سترګو خوږيدو بيمارى ده هغه ئې راوغوښتلو اوهغوى په سترګو كښې ئې خپل لعاب مبارك اولګولې نوهغه تكليف داسې ختم شو لكه هډو وو نه

حضرت على ﷺ عرض اوكړو چه مونږ به د هغوى سره ترهغه وخته پورې جنګيږو تركومې پورې چه هغوى زمونږ په شان نه شى يعنى مسلمانان شى. حضورپاك اوفرمائيل لږ شان حصار شه كله چه ته دهغوى په علاقه كښې وركوز شې نوهغوى ته د اسلام دعوت وركړه او هغوى ته دهغوى د ذمه واروباره كښې اوښايه. والله كه يوسړى ته هم ستا د وجې نه هدايت ملاؤشو نودا ستادپاره د ډيرو سرو اوښانونه بهتردى

**فائده:-** د حضرت على ﷺ سترګې خوږيدې د حضورپاك لعاب يعنى توكانړې لګيدوسره تيك شوې دا د نبى كريم ﷺ معجزه ده

**يشتكي عينيه** يوبل روايت كښې "وكان به رمد" الفاظ واردشوى دى په دې كښې د سترګو خوږيدو تصريح ده.(۱)

**حمرالنعم:** سره اوښان چه په عربو كښې ورته بهترين او ښكلې خيال كولې شى. (۲)

**على رسلك:** رسل بكسرالراء وسكون السين. نرمئى اوتوقف ته وئيلى شى دلته محاورةً استعمال شوې دې يعنى لږ شان حصارشه په مزه او په عزت سره (۳)

**ترجمة الباب سره مطابقت:-** دلته ترجمة الباب سره مطابقت په دې جمله كښې دې. ثم ادعهم إلى الاسلام(۴) چونكه دلته د يهودو دپاره داسلام د دعوت ذكردې اوښكاره خبره ده چه داسلام په دعوت كښې اقرار د نبوت ذكركول لازمى وى.

[حديث نمبر ۲۷۸۴/ ۲۷۸۵] (۵) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ عَمْرٍو حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ عَنْ حُمَيْدٍ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسًا -رضى الله عنه- يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله

---

۱) صحيح بخارى :۲۲۵/۱، كتاب فضائل أصحاب النبى، باب مناقب على بن أبى طالب رقم (۳۷۰۲).
۲) القسطلانى: ۱۱۴/۵.
۳) مختار الصحاح للرازى: على رسلک بالكسرأى اتندفيه كما يقال على هينتک.
۴) عمدة القارى: ۲۱۳/۱۴.
۵) قدمر تخريجه فى كتاب الصلوة، باب مايذكر فى الفخذ، رقم (۳۷۱).

عليه وسلم - إِذَا غَزَا قَوْمًا لَمْ يُغِرْ حَتَّى يُصْبِحَ، فَإِنْ سَمِعَ أَذَانًا أَمْسَكَ، وَإِنْ لَمْ يَسْمَعْ أَذَانًا أَغَارَ بَعْدَ مَا يُصْبِحُ، فَنَزَلْنَا خَيْبَرَ لَيْلاً.
رسول الله ﷺ چه به کله چرته غزوه ته تشریف اوړلو نو تر سحر کیدو پورې به نی حمله نه کوله د سحر په وخت کښې چه به نې د اذان آواز اوریدو نو منع کیدو به گنې حمله به نې کوله
حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - كَانَ إِذَا غَزَا بِنَا.
امام بخاری رحمه الله دلته حدیث انس رضی الله عنه په دویمه طریقه ذکرکوی [1] دلته په روایت کښې اختصار دې مکمل روایت كتاب الصلوة، باب مايحقن بالاذان من الدماء کښې تیرشوې دې [2]
[حدیث نمبر ۲۷۸۵] [3] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسٍ - رضى الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - خَرَجَ إِلَى خَيْبَرَ فَجَاءَهَا لَيْلاً، وَكَانَ إِذَا جَاءَ قَوْمًا بِلَيْلٍ لاَ يُغِيرُ عَلَيْهِمْ حَتَّى يُصْبِحَ، فَلَمَّا أَصْبَحَ، خَرَجَتْ يَهُودُ بِمَسَاحِيهِمْ وَمَكَاتِلِهِمْ، فَلَمَّا رَأَوْهُ قَالُوا مُحَمَّدٌ وَاللَّهِ، مُحَمَّدٌ وَالْخَمِيسُ.
فَقَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «اللَّهُ أَكْبَرُ، خَرِبَتْ خَيْبَرُ، إِنَّا إِذَا نَزَلْنَا بِسَاحَةِ قَوْمٍ فَسَاءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِينَ». [ر: ۳۶۴]

دا د حدیث انس دریم طریق دې. لم يغر د باب افعال نه اغارة معنی حمله کول
بمساحيهم: مَسَاحى، د مسحاة جمع ده کودالې ته وائي. سحوت الطين عن وجه الارض وسحيته معنی د زمکې نه خاوره راویستل. مَكَاتِلُ د مِكْتَلٌ جمع ده توکرئی ته ونیلې شی [4]
**د رسول الله ﷺ د توقف اوانتظارسبب:** - د حضوریاك د انتظارکولومقصد حقیقت حال معلومول وو چه دې قوم ته د اسلام دعوت رسیدلې دې که نه؟ نبی کریم ﷺ به ترسحرپورې انتظارکولو دې د پاره چه د اذان یا بل شعاراسلام نه د هغوی د صحیح حالت علم اوشی [5]
یواشکال اود هغې جواب: - بیا دلته حتی یصبح الفاظ دی اودې نه د سحر طلوع کیدل مراد دی په دې باندې اشکال کیږی چه د صحیح بخاری روایت کښې خیبر ته د راتلووخت د سحرد طلوع کیدو وخت خودلې شی او د صحیح مسلم روایت کوم چه حماد بن سلمة عن ثابت عن انس په طریق سره نقل شوې دې. په هغې کښې فاتيناهم حين بزغت الشمس [6]

[1] ) عمدة القارى: ۲۱۴/۱۴.
[2] ) صحيح البخارى: ۸۶/۱ (رقم ۶۱۰)
[3] ) قدمر تخريجه فى كتاب الصلوة. باب مايذكر فى الفخذ. رقم (۳۷۱).
[4] ) عمدة القارى: ۲۱۵/۱۴. وفتح البارى: ۱۱۲/۶.
[5] ) عمدة القارى: ۲۱۴/۱۴.
[6] ) صحيح مسلم: ۱۱۱/۲. كتاب الجهاد باب غزوة خيبر.

يعني د نمر د راختو وخت وو
په حقيقت کښې په دواړو روايتونوکښې هيڅ تعارض نشته ځکه چه حبيب پاك ﷺ لښکرسره د ښار په مضافات کښې داخل شوې نوهغه د سحرد طلوع کيدو وخت وو. هلته کښې حضور پاك غلس يعني، په تياره کښې د سحر مونځ اداکړو او بياوړاندې روان شو. کوم وخت چه لښکر آبادئ ته داخل شو نود نمر د راختو وخت وو. دغه وخت حضورپاك د خيبر په کوڅو کښې اس اوزغلولو (١)
**الله أكبر، خربت خيبر:** - دلته دې څوك هم دا شك نه کوی چه دامقفی عبارت حضورپاك څنګه اوفرمائيلو داخويه عام توګه د شعرخصوصيت وی او په قرآن کريم کښې ارشاد دې ﴿ وَمَا عَلَّمْنٰهُ الشِّعْرَ وَمَا يَنْۢبَغِيْ لَهٗ ﴾ دا اشکال په دې وجه صحيح نه دې چه داعبارت شعر نه دې بلکه يومقفی عبارت دې اوکه چرته شعرياموزون عبارت د نبی کريم ﷺ بلاتکلف صادرشوې نوبيا هم په هغې کښې د اشکال څه خبره نشته (٢)
دلته يواشکال کيدې شی چه په خيبرباندې خولاتردغه وخته قبضه نه وه شوې نونبی کريم ﷺ خربت د ماضی صيغه ولې استعمال کړه؟
د دې دوه جوابونه دی: ① کيدې شی چه الله تعالی د حضورپاك غالب کيدل اود خيبرتباه کيدلوخبر نبی کريم ﷺ ته د اول نه ورکړې وی اود هغوی دا پيشنګوئی هم د دغه قبيل نه وی ② داخبره هم ممکن ده چه دا خبره ئې د ښه فال په توګه فرمائيلې وی رسول الله د يهوديانو په لاسونوکښې کدالې رمبی او ماتولو آلات وغيره کتلو سره ارشاد اوفرمائيلو. بل دا خبره هم په خيال کښې ساتل پکاردی چه دا د عربو عام عادت دې چه د کومې واقعې راتلل په مستقبل کښې يقينی وی هغه د ماضی په صيغه سره بيانوی. (٣) لکه څنګه چه په قرآن کريم کښې د قيامت واقعات د ماضی په صيغوسره بيانولې شی. (٤)
**قاعده فقهيه:** - حکم د ظاهرمطابق لګولې شی. ددې حديث نه دا فقهی قاعده هم مستنبط کيږی چه حکم په ظاهر باندې لګولې شی. رسول الله ﷺ صرف د آذان په اوريدو باندې د جنګ نه بنديدو او اذان خوصرف يوظاهری علامت دې. معلومه نه ده چه هغوی په حقيقت کښې مسلمانان شوی دی که د ځان بچ کولودپاره اذان کوی (٥)
**حديث باب سره د ترجمة الباب مطابقت:** - ددې حديث ترجمة الباب سره مطابقت ډير واضحه دې البته علامه عينی رحمه الله فرمائی چه ددې مطابقت "إن سمعه أذاناأمسك" نه په پوهه کښې ...ی ځکه چه ترجمه د اسلام د دعوت ده او په اذان سره د هغوی په اسلام دلالت کيږی (٦)

---

(١) عمدة القاري: ٢١٥/١٤ وفتح الباري: ١١٢/٦.
(٢) ايضاً.
(٣) عمدة القاري: ٢١٥/١٤.
(٤) كقوله تعالى ﴿ أَتٰى أَمْرُ اللّٰهِ فَلَا تَسْتَعْجِلُوْهُ ﴾
(٥) فتح الباري: ١١٢/٦، وعمدة القاري: ٢١٥/١٤.
(٦) عمدة القاري: ٢١٤/١٤.

حضرت گنګوهی رحمه الله فرمائی چه ترجمه سره مطابقت هم په دې جمله "فان سمعه أذاناأمسك" سره دې بنکاره خبره ده چه اذان هم د دعوت یوصورت دې دا یوه بله خبره ده چه داعی پخپله دعوی نه دې چاسره چه جنګ کول مقصود دې لهذا فی الجمله دا روایت دلته په ذکر کولو کښې هیڅ قباحت نشته (۱) خود شیخ الحدیث حضرت مولانا زکریا رحمه الله داخیال دې چه د دې روایت دلته ذکر کول د تکلف نه خالی نه دی (۲)

[حدیث نمبر ۲۷۸۶] (۳) حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِي حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ - رضي الله عنه - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ. فَمَنْ قَالَ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ، فَقَدْ عَصَمَ مِنِّي نَفْسَهُ وَمَالَهُ، إِلاَّ بِحَقِّهِ، وَحِسَابُهُ عَلَى اللَّهِ» رَوَاهُ عُمَرُ وَابْنُ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم [۲۵، ۱۳۳۵]

داحدیث په مختصرطرق سره مروی دې په دې کښې بعض طرق کښې اضافه ده او بعض کښې اختصار دلته د حضرت ابوهریره رضي الله عنه په روایت کښې صرف د توحید اقرار د ځان اومال د حفاظت د پاره کافی ګرځولې شوې دې خو په صحیح مسلم کښې هم د حضرت ابوهریره رضي الله عنه په روایت کښې توحید سره سره د رسالت اقرار هم د ځان اومال د حفاظت شرائطو کښې شامل دې. د روایت الفاظ دا دی: حتی یشهدوا أن لا إله إلا الله وأن محمد رسول الله. (۴)

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما روایت په کتاب الایمان کښې تیرشوې دې په هغې کښې د اقامت صلوة او ایتاء الزکوة اضافه ده. د روایت په الفاظو کښې أمرت أن أقاتل الناس حتی یقولوا لاإله إلاالله وأن محمدًا رسول الله ویقیموا الصلوة ویؤتوا الزکوة، فإذا فعلوا ذلك عصموا منی دماء هم وأموالهم إلا بحق الاسلام، وحسابهم علی الله. (۵) یعنی ماته حکم راکړې شوې دې چه خلقوسره جنګ اوکړم ترهغه وخته پورې چه د دې خبرې ګواهی ورکړی چه د الله تعالی نه علاوه بل څوك معبود نشته او محمد صلى الله عليه وسلم د الله تعالی رسول دې. مونځ قایم کړی اوزکوة اداکړی کله چه دا دریواړه کارونه اوکړی نوزما نه به خپل ځان اومال محفوظ کړی مګرد اسلام په حق سره اود هغې حساب به په الله تعالی باندې وی

---

(۱) لامع الداری: ۲٤۸/۷.

(۲) حاشیة لامع الداری: ۲٤۹/۷.

(۳) أخرجه البخاری: ۱۸۷/۱. فی کتاب الزکوة. باب وجوب الزکوة. (رقم: ۱۳۹۹) و (۱۰۲۳/۲) فی کتاب استتابة المرتدین. باب قتل من أبی قبول الفرائض. رقم: ٦۹۲٤. ومسلم ۳۷/۱ فی کتاب الایمان. باب الامر بقتال الناس حتی یقولوا: لاإله إلاالله محمدرسول الله رقم: ۲۱. والترمذی: ۸۸/۲. فی کتاب الایمان الباب الاول رقم: ۲٦۰۰. والنسائی: ۳۳۵/۱ فی کتاب الزکوة. باب مانع الزکوة رقم: ۲٤٤۵ وفی إبی داؤد: ۳۵۵/۱ کتاب الجها[د] [با]ب علی مایقاتل المشرکین رقم: ۲٦٤۰.

(٤) صحیح مسلم ۳۷/۱ کتاب الایمان باب الامر بقتال الناس.... رقم: ۲۱.

(۵) [بخ]اری: ۵/۱ کتاب الایمان باب فان تابوا وأقاموا الصلوة وآتوا الزکوة فخلوا سبیلهم: رقم ۷۵.

دغه شان دحضرت انس رضی الله عنه په روایت کښې استقبال قبله او اکل ذبیحه اضافه ده د روایت الفاظ دادی أمرت أن أقاتل الناس حتی یقولوا لاإله إلاالله، فاذا قالوها وصلوا صلاتنا واستقبلوا قبلتنا وأکلوا ذبیحتنا، فقد حرمت علینادماؤهم وأموالهم إلا بحقها، وحسابهم علی الله (١) یعنی ماته حکم راکړې شوې دې چه زه خلقوسره جنګ اوکړم ترهغه وخته پورې چه ددې خبرې ګواهی ورکړی چه الله تعالی نه سوا څوك معبودنشته کله چه دا اووائی اوزمونږ په شان مونځونه قایم کړی زمونږ قبلې طرف ته (مانځه کښې) مخ اوګرځوی اوزمونږ ذبح کړې شوې څاروی اوخوری نو په مونږ باندې دهغوی ځان اومال حرام شو مګر د څه حق په بدله کښې (یعنی دوینې قصاص) اودهغې حساب په الله تعالی باندې دې

د دې تفصیل نه معلومه شوه چه د روایت په الفاظوکښې کافی فرق دې په دې مختلفو الفاظو کښې تطبیق ورکول سره علامه طبری رحمه الله دا توجیح پیش کړې ده چه په کومو روایتونو کښې صرف د توحیداقرارذکرکړې دې دهغې تعلق بت پرست اومنکرین توحیدسره دې د کوم باره کښې چه دالله تعالی ارشاد دې ﴿ إِنَّهُمْ كَانُوٓا۟ إِذَا قِيلَ لَهُمْ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ يَسْتَكْبِرُونَ ﴾ (٢) او په کومو روایتونوکښې د رسالت تصدیق اضافه ده دهغې ذکر حضورپاك هغه وخت فرمائیلې وو کوم وخت چه اهل کتاب سره جنګ کیدلو ځکه چه هغوی د توحید قائل وو خو د حبیب پاك صلی الله علیه وسلم د نبوت په کلی توګه یا جزئی توګه منکر وو نوترکومې چه اهل کتاب د رسول الله صلی الله علیه وسلم د نبوت تصدیق اونه کړی او حضورپاك نبی اونه منی هغوی سره به جنګ کیږی او هغوی به محقون الدم والمال نه شی تصورکولې (٣)

او په کوموروایتونوکښې چه د زیاتی عباداتو او معاملاتو اضافه ده په هغې کښې ددې خبرې طرف ته اشاره کړې ده چه کوم سړې مسلمان وی دتوحید او نبوت اعتراف کوی او طاعات په ځائی نه راوړی هغه سره هم جنګ کولې شی تردې چه هغه په شریعت باندې عمل کونکې شی (٤) یا داسې ونیلې شی چه په دې روایت کښې د توحید سره سره اهم اسلامی شعائر مونځ د قبله طرف ته مخ کول او ذبح ذبیحه ذکر دې او مطلب دادې چه د توحید او نبوت سره د اسلامی شعائر هم ضروری دی اوکه څوك دا شعائر په ځائی نه راوړی نوهغوی سره جنګ کیدې شی

**قوله**: أمرت أن أقاتل الناس: نبی که امرت په صیغه د مجهول اووائی نودې مطلب دا وی چه الله تعالی ماته حکم راکړې دې اوکه چرې دامقوله د صحابی وی نودې مفهوم به دا وی چه نبی ما ته حکم راکړې دې (٥) الناس دا د عام او ارادة الخاص د قبیل نه

---

(١) صحیح البخاری: ٥٦/١ کتاب الصلوة باب فضل استقبال القبلة رقم: ٣٩١-٩٣.

(٢) الصافات: ٣٥.

(٣) عمدة القاری: ٢١٥/١٤. فتح الباری: ١١٢/٦. وشرح ابن بطال: ١٢٢/٥.

(٤) فتح الباری: ١١٢/٦.

(٥) عمدة القاری: ٢١٥/١٤.

دي ددي نه مراد عام خلق نه دی بلکه دې نه مراد دعرب ومشرکان دی.د چانه چه جزئیه نه شی قبلولی اهل کتاب ترې مراد نه دی دد دې تائید د سنن نسائی د دې روایت نه کیږی د کوم الفاظ چه دادی أمرت أن أقاتل المشركين [1] لکه چه الناس الف لام عهد خارجی دې داستغراق نه دې.

**قوله: حتى يقولوا لا إله إلا الله**:- دا تسمیه الکل باسم الجزء د قبیل نه دد دې نه مراد مکمل دین دې خکه چه لا إله إلا الله د دین اسلام عنوان دې لکه چه څوك اووائی ما یس لوستلې داعنوان دې مراد پوره سورت دې. [2]

**قوله: إلا بحقه**:- د اسلام حقونه درې دی ① هغه قتل کوم چه موجب قصاص وی ② زنا بعد الاحصان ③ ارتداد یعنی د اسلام قبلولونه پس بیا د کفر طرف ته واپس گرځیدل. که څوك په دې کښې چرته د یوهم رعایت نه کوی نو د هغوی ځان اومال به غیر محفوظ تصور کولې شی. [3]

**قوله: وحسابه على الله**:- یعنی که یو سړی د کلمې ونیلو سره په زړه کښې نفاق پټ ساتی نو د هغه د دې عمل مونږ ذمه وارنه یو مونږ خو به هم په ظاهر باندې حکم لګوو د زړه په حال خو الله تعالی خبر دې د هغې حساب هم د هغه په حواله دې د مخلصین د پاره ثواب او د منافقین د پاره عذاب به مقرروی. گناهګارانوته به سزا ورکولې شی یا د الله تعالی د رضا لاندې به معاف کولې شی. [4] د دې حدیث تفصیلی تشریح په کتاب الایمان کښې تیره شوې ده. [5]

د حدیث باب ترجمة الباب سره مطابقت:- د حدیث شریف مطابقت ترجمة الباب سره دا سې دې چه دلته ذکر دی چه ترهغه وخته پورې به ورسره جنګ کولې شی ترکومې چه دا خلق لا إله إلا الله اونه وائی لکه چه دوی ته د لا إله إلا الله دعوت ورکولې شی د نه قبلولو په صورت کښې به دې سره جنګ کیږی والله اعلم.

**قوله: رواه عمر وابن عمر رضی الله عنهما عن النبی صلی الله تعالی علیه وسلم** حضرت امام بخاری رحمه الله د حضرت عمر رضی الله عنه دا روایت کتاب الزکوة کښې موصولاً ذکرکړې دې [6] دغه شان د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما روایت هم کتاب الایمان کښې موصولاً نقل کړې دې. [7]

## باب ۱۰۲: من أراد غزوة فوری بغيرها، ومن أحب الخروج يوم الخميس

**د ترجمة الباب مقصد**:- دلته د ترجمة الباب دوه جزونه دی ① من أراد غزوة فوری بغيرها

---

[1] ) ارشادالساری: ۱۱۵/۵.
[2] ) شرح الکرمانی: ۱۹۳/۲.
[3] ) عمدة القاری: ۲۱۵/۱۴.
[4] ) عمدة القاری: ۲۱۵/۱۴.
[5] ) کشف الباری: ۳۳۱/۲، ۳۵۱.
[6] ) کتاب الزکوة باب وجوب الزکوة ۱۸۸/۱ رقم: ۱۳۹۹.
[7] ) صحیح البخاری: ۵/۱ کتاب الایمان باب فان تابوا وأقاموا الصلوة... رقم: ۲۵.

② ومن أحب الخروج يوم الخميس
رسول اکرم ﷺ که به دَ مشرق طرف ته سفرکولونودَمغرب حالات به نی معلومول او چه دَمغرب طرف ته چه به نی تشریف اوړلو نودَمشرق احوال به نی معلومول دې ته توریه ونیلې شی (۱)
غرض به په کښې دا وو چه دښمن ته دَ رسول الله ﷺ دَارادې او عزم پته اونه لګی اوهغوی دَ دفاع دپاره خپل تیارې مکمل نه کړی لیکن داځه قانون نه ووچه همیشه به نی داسې کول لکه چه دَ غزوه تبوك په موقع باندې اوشو حضورپاك دَ جنګ دپوره تیاری حکم ورکړو ځکه چه سفر اوږد اوسخت وو اوحضورپاك دَخلقو نه صحیح صورت حال نه پټول غوښتل
امام بخاری رحمه الله دلته داخودل غواړی که دَ توریه نه کاروا خستې شی نوهیڅ بدیت نشته اودا دروغ نه دی اوکه دا حالاتو او ظروف دا تقاضاوی چه صفا صفا ورته اوخودلې شی نوبیاهم ځه حرج نشته ددې هم ګنجائش شته. (۲)
ددې نه پس دویم جزدې ددې مقصد داخودل دی چه دَ جمعرات په ورځ سفرکول ډیر خوښ کړې شوې دې خوضروری نه دې (۳) دَ کوم تائیدچه دَطبرانی دَ یوضعیف حدیث نه هم کیږی دَ کوم الفاظ چه دادی: بورك لامتی فی بکورها یوم الخمیس (۴) لیکن علامه عینی رحمه الله فرمائی دَ جمعرات په ورځ دَ سفرحکمت په یوضعیف حدیث سره ثابتولو ضرورت نشته ځکه چه په حدیث باب کښې تصریح هم وارد شوې چه نبی کریم ﷺ به دَ جمعرات په ورځ سفرخوښولو اودَ رسول الله ﷺ خوښوالې دَ یوحکمت نه خالی کیدې نه شی. (۵)
نودَ جمعرات یعنی زیارت په ورځ سفرکول دَخیراوبرکت سبب دې اودَ جمعرات په ورځ سفرکول زیات مناسب دی ځکه چه دَ رسول الله ﷺ ژوندزمونږ دپاره نمونه اودلارې مشال دې (۶) دَ رسول الله ﷺ بعض سفرونه دَ هفتې په ورځ هم شوی دی کیدې شی چه حضورپاك په دغه ورځ باندې سفرکول هم خوښ کړی وی لکه چه بعض روایاتوکښې دی بارك الله لامتی فی سبتها وخمیسها (۷) یعنی الله تعالی زما دَامت دپاره دَ هفتې اوزیارت دواړو ورځوکښې برکت

---

۱) التورية ويسمى الابهام أيضًا وهوأن يطلق لفظ له معنيان: قريب وبعيد، ويراد به البعيد یعنی چه دَ دوو معنووالا ځه لفظ اوونیلې شی چه په هغې کښې یوه معنی قریب وی اوبله بعید اوچه بعیدمعنی مرادوی نودا توریه ده لکه الرحمن علی العرش (سورة طه) استواء معنی نیزدې نیغ اودریدل او بعید معنی دَ غالب راتلو ده. اوهم دغه په آیت کښې مراد دې دَنور تفصیل دپاره اوګورئی تلخيص المفتاح مع شرحه مختصر المعانی ص: ٤٦٥ وانظرشرح الخطابی ١٤١١/٢.
۲) عمدة القاری: ٢١٦/١٤، وشرح ابن بطال: ١٢٣/٥، وفيض الباری: ٤٣٨/٣.
۳) فتح الباری:١١٣/٦، وارشاد الساری:١١٦/٥.
۴) فتح الباری: ١٤٠٩/٦ قديمی.
۵) عمدة القاری: ٢١٦/١٤
۶) شرح ابن بطال: ١٢٣/٥.
۷) عمدة القاری: ٣٠١/١٤ داراكتب العلمية بيروت.

واچوي خو د امام بخاري رحمه الله په نيز هم د يوم الخميس روايت ثابت دې په دې وجه هغوى هم دا روايت ذكر كړې دې (١)

[حديث نمبر ٢٧٨٧ - ٢٧٩٠] (٢) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ كَعْبٍ - رضى الله عنه - وَكَانَ قَائِدَ كَعْبٍ مِنْ بَنِيهِ قَالَ سَمِعْتُ كَعْبَ بْنَ مَالِكٍ حِينَ تَخَلَّفَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - . وَلَمْ يَكُنْ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يُرِيدُ غَزْوَةً إِلاَّ وَرَّى بِغَيْرِهَا .

[٢٧٨٨] وَحَدَّثَنِي أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا يُونُسُ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ سَمِعْتُ كَعْبَ بْنَ مَالِكٍ - رضى الله عنه - يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَلَّمَا يُرِيدُ غَزْوَةً يَغْزُوهَا إِلاَّ وَرَّى بِغَيْرِهَا ، حَتَّى كَانَتْ غَزْوَةُ تَبُوكَ ، فَغَزَاهَا رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فِي حَرٍّ شَدِيدٍ ، وَاسْتَقْبَلَ سَفَرًا بَعِيدًا وَمَفَازًا ، وَاسْتَقْبَلَ غَزْوَ عَدُوٍّ كَثِيرٍ ، فَجَلَّى لِلْمُسْلِمِينَ أَمْرَهُمْ ، لِيَتَأَهَّبُوا أُهْبَةَ عَدُوِّهِمْ ، وَأَخْبَرَهُمْ بِوَجْهِهِ الَّذِي يُرِيدُ .

[٢٧٨٩] وَعَنْ يُونُسَ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ كَعْبَ بْنَ مَالِكٍ - رضى الله عنه - كَانَ يَقُولُ لَقَلَّمَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَخْرُجُ إِذَا خَرَجَ فِي سَفَرٍ إِلاَّ يَوْمَ الْخَمِيسِ .

[٢٧٩٠] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا هِشَامٌ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ أَبِيهِ - رضى الله عنه - أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - خَرَجَ يَوْمَ الْخَمِيسِ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ ، وَكَانَ يُحِبُّ أَنْ يَخْرُجَ يَوْمَ الْخَمِيسِ . [ر: ٢٦٠٦]

**فَوَرَّي**: ددې اصل وَرْیٌ دې کوم څیزچه شاته کیخودې شی اوکه چرې خبره صفاصفا بیان نه کړې شی بوداسې ده لکه چه شاته دې کیخودې وی اهل لغت دا وراء یعنی مهموز لولی او محدثین بغیرد همزه په آسانتیی سره وری لولی

**مفازا**: د دې معنی ده د کامیابئی خانی اودا د صحرا دپاره استعمالیږی کوم چه د هلاکت او بربادئی خانی دې دا تفاول یعنی نیك فالنی دپاره استعمالیږی چه هغه خطرناك صحرا د کامیابئی او سلامتی خانی ثابت شی لکه لدیغ یعنی د مارتك وهلې ته سلیم وئیلې شی (٣)

---

(١) عمدة القارى: ١٤/٢١٦

(٢) مر تخريج احاديث الباب فى كتاب الوصايا باب ذا تصدق او وقف بعض ماله او بعض رقيقه او ...... فهوجاز. رقم الحديث: ٢٧٥٧.

(٣) شرح ابن بطال: ٥/١٢٧. وعمدة القارى: ١٤/٢١٧.

او د ابن الاعرابی رائې داده چه دا فوز د تفويزنه ماخوذدې د کوم معنی چه هلاکت دې دا د قبيل اضدادنه دې معنی کامیابی اوخلاصي دې هم دغه شان د دې معنی د هلاکت هم ده [1] د صحرا نه مراد د مدينې منورې او شام په مينځمې فاصله کښې پرېوتونکې صحرا دې [2]

لقلّما يعنى ډېر زيات کم لام د تاکيد دپاره دې لکه قل رجل يفعل كذا الازيد يعنى ډېر کم خو لږ داسې کوى مګر زيد يعنى د رسول الله ﷺ اکثر سفرونه هم د جمعرات په ورځ وو

**قوله** فجلى للمسلمين أمرهم ليتاهبوا أهبة عدوهم فاهب للحرب يعنى نبى كريم ﷺ په مسلمانانو باندې د سفرطرف ښکاره کړودې دپاره چه صحابه کرام ﷺ د دښمن دمقابله د پاره تيارشى.

من بنيه د حضرت كعب بن مالك ﷺ درې خامن ووعبدالله عبيدالله او عبدالرحمن په آخر کښې چه کله د کعب ﷺ نظر په تلوشو نو دهغوى خوئى عبدالله به د هغوى رهنمائى کوله

## باب ۱۰۳: الخروج بعد الظهر

**د ترجمة الباب مقصد** - امام بخارى ﷺ دلته د خروج بعد الظهر ذکر کړې دې په دې کښې د صخرغامدى ﷺ د روايت طرف ته اشاره کول مقصود دى په کوم کښې چه د سحروخت ډېرد برکت ګرځولې شوې دې د هغې الفاظ دادى اللهم بارك لامتى فى بكورها حضرت صخر ﷺ فرمائى چه حضورپاك ﷺ چه به کله لښکر ليګلو نود ورځې په شروع کښې به نى ليګلو راوى وائى چه حضرت صخر ﷺ يوسوداګرسړې دې هغه به سحروختى خپل کاروزکار شروع کولو د کوم چه دانتيجه وه چه هغه دومره مالدارشوې وو چه هغه نه پوهيدلو چه خپل مال کوم خائى او چرته کيږدى.

بعض حفاظو د دې روايت طرق راجمع کړو نومعلومه شوه چه داروايت د شلو صحابه کرامو ﷺ نه نقل دى [3] امام احمد او اصحاب سنن د دې حديث تخريج کړې دې [4] او ابن حبان ﷺ د دې تصحيح کړې ده. [5]

د دې روايت نه معلوميدله چه د ورځې په شروع کښې سفرکول ډېرمناسب او بهتردى او په

---

[1] الصحاح للجوزى مادة فوز.

[2] شرح الكرمانى:۱۲/۱۹۳.

[3] فتح البارى ۶/۱۱۴.

[4] أبوداؤد:۱/۳۵۱، كتاب للجهاد باب فى الابتكار فى السفر رقم:۲۶۰۶، والترمذى:۱/۲۲۰ كتاب البيوع باب فى التكبير فى التجارة رقم:۱۲۱۲، وابن ماجةو كتاب التجارات، باب مايرجى من البركة فى البكور رقم:۲۲۴۶، وسنن الدارمى:۲/۲۸۳، كتاب السير، باب بارك لامتى بكورها، رقم: ۲۴۳۵، وأحمد: ۳/۴۱۶، ۴۳۲، و ۴/۳۸۴، ۳۹، ۳۹۱.

[5] انظر الحسان بترتيب صحيح ابن حبان: ۸/۱۲۲ – ۱۲۳، ذكر مايستحب للمرء أن يكون إنشاء الحرب وابتداء الامور فى الاسباب بالغدوات تبركا بدعاء المصطفى صلى الله تعالى عليه وسلم فيه رقم: ۴۷۳۵.

نورو وختونو کښې سفر کول مناسب نه دی امام بخاری رحمه الله دلته خودل غواړی چه وختونه ټول یوشان وی او یو وخت منحوس او سپیره نه وی اونه بې برکته وی د سحروخت ته د برکت وخت فرمانیلو سره دا لازم نه راځی چه نوروختونه د برکت نه خالی دی خود سحروخت د چستنی وی او په دې وخت سړې تکړه او تازه وی هغه وخت چه کوم کارکولې شی هغه بهتراو ښه وی اودغه وخت خلق دخپل خپل کارونو شروع کوی په دې وجه نبی کریم ﷺ په خاص توګه ددغه وخت دپاره د برکت دعا فرمائیلې ده دې د پاره چه د رسول الله ﷺ د دعابرکت ټولوته حاصل شی

رسول ﷺ چه کله د حج سفرکړې دې نو دماسپښین مونځ ئې په مدینه منوره کښې کړې دې او بیا هغه روان شوې دې او د مازیګرمونځ ئې ذوالحلیفه کښې اداکړې دې ددې دپاره چه اول سفرپه نهار کښې نوبیاهم ډیره ښه خبره ده اوچه د ورځې په آخره کښې وی نوهغه هم ټیک دی (۱)

[حدیث نمبر ۲۷۹۱] (۲) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ أَبِي قِلَابَةَ عَنْ أَنَسٍ - رضی الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - صَلَّى بِالْمَدِينَةِ الظُّهْرَ أَرْبَعًا ، وَالْعَصْرَ بِذِي الْحُلَيْفَةِ رَكْعَتَيْنِ ، وَسَمِعْتُهُمْ يَصْرُخُونَ بِهِمَا جَمِيعًا . [ر: ۱۰۳۹]

يصرخون: بفتح الراء وضمها يعنی په زوره زوره ئې لبيك لبيك وئيل بهما: أي بالحج والعمرة (۳)

**ترجمة الباب سره مطابقت:-** د حدیث ترجمة الباب سره مطابقت واضح دې په روایت کښې راغلی دی چه رسول الله ﷺ څلور رکعته دماسپښین مونځ په مدینه منوره کښې اوکړو او په ذوالحلیفه کښې د مازیګرمونځ په قصرسره اوکړو ښکاره خبره ده چه دماسپښین مونځ ئې په مدینه منوره کښې کړې دې نوسفرخوهم د ماسپښین نه پس شروع شوې دې (۴)

## باب ۱۰۴: الخروج آخر الشهر

**د ترجمة الباب مقصد:-** دامام بخاری رحمه الله مقصد دلته دجهالیت تردید کوی د اهل جهالیت به په اصل کښې داخیال کیدلو چه که چرې د میاشت په آخره کښې سړې په سفرروانیږی نود میاشتې ختمیدل نیزدې وی په دې وجه به هغوی د دې نه بدفالی اخستله چه څنګه د میاشت په آخره کښې عمرکمیږی دغه شان به زمونږ کارونه هم په تاوان کښې وی اوزمونږ مقصدبه فوت شی او زمونږ به په دغه مدعی کښې کامیابی حاصله نه شی خو رسول الله ﷺ خود دغه خرابو رسوماتو او غلطو عقیدودختمولودپاره راغلې وو په دې وجه نبی کریم ﷺ د حج د سفر دپاره د میاشت په آخره کښې روان شو (۵)

علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه دامام صاحب مقصد دلته د دغه خلقو تردید دې کوم چه د

---

(۱) شرح ابن بطال: ۱۲۴/۵.

(۲) مر تخريج فی کتاب تقصير الصلوة باب يقصر إذا خرج من موضعه رقم: ۱۰۸۹.

(۳) عمدة القاری: ۲۱۸/۱۴.

(۴) ایضًا.

(۵) شرح ابن بطال: ۱۲۵/۵ وفتح الباری: ۱۱۴/۶ وعمدة القاری: ۲۱۸/۱۴.

نجومیانو د کرښو مطابق د میاشت په آخر کښې سفرسپیره او ناخوښه ګڼړلو [۱] حضرت علامه انورشاه کشمیری رحمه الله فرمائی دامام صاحب مقصددلته د دې روایت د ضعف طرف ته اشاره کول دی په کوم کښې چه د میاشت آخره منحوس یعنی سپیره ګرځولې شوې دی [۲]
نور بعض خلقو د في يوم مستمر تفسير دمیاشتې آخری چارشنبې سره کړې دې [۳]
نو امام صاحب تنبیه اوفرمائیله چه دابې کاره خبرې دی ځکه چه نبی کریم ﷺ د میاشت په آخره کښې سفرکړې دې. [۴]

احدیث نمبر ۲۷۹۲] وَقَالَ كُرَيْبٌ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رضى الله عنهما - انْطَلَقَ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - مِنَ الْمَدِينَةِ لِخَمْسٍ بَقِينَ مِنْ ذِي الْقَعْدَةِ، وَقَدِمَ مَكَّةَ لأَرْبَعِ لَيَالٍ خَلَوْنَ مِنْ ذِي الْحِجَّةِ. [ر ۱۴۷۰]

دلته روایت معلق دې امام بخاری رحمه الله دا په کتاب الحج کښې موصولاً ذکرکړې دی [۵]
**یواشکال اودهغې جواب**. - په روایت کښې دی چه کوم وخت نبی کریم ﷺ په سفرباندې اووتلو هغه وخت د ذیقعده پنځه ورځې پاتې وې. پنځه ویشتم تاریخ باندې د مدینې نه اووتلو او د ذی الحجه په څلورم تاریخ مکې ته اورسیدو
اوس دلته یواشکال پیداکیږی که چرې رسول الله ﷺ د حج د سفردپاره د هفتې په ورځ وتلو نو د ذیقعده څلور ورځې باقی پاتې کیدلې ځکه چه د ذی الحجه رومبې تاریخ د جمعرات په ورځ وو اووقوف عرفه د جمعه په ورځ وه اوکه د سفرشروع د جمعرات په ورځ شوې وی نو د ذیقعده شپږ ورځې باقی پاتې کیدې. د سفرد شروع د پاره د جمعه ورځ خو قطعاً نه جوړیږی ځکه چه دحضرت انس رضی الله عنه روایت اوس تیرشوې دې صلى الظهربالمدينة أربعًا اوښکاره خبره ده چه د ماسپښین مونځ د جمعه په ورځ نه اداکیږی نو لخمس بقين څنګه صحيح کیدې شی؟
ددې جواب دادې چه د سفرشروع ئی هم د هفتې په ورځ کړې ده لیکن د ذیقعده میاشت د دیرشو په ځائی د یوکم دیرش وه نوراوی په دې خیال سره چه میاشت به مکمل شی ځکه چه هم دغه اصل دې نولخمس بقين ئی اووئیل [۶] حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه د اکثر علماؤ دغه جواب دې اویوجواب داهم ورکولې شی چه یوم الخروج یعنی د هفتې ورځ د سفرپه ورځو کښې اوشمیرلې شی نوبیا هم معنی ټیک کیدې شی سره ددې چه په وتلوتلوکښې غرمه

---

[۱] ) شرح الکرمانی:۱۲/۱۹۴، وعمدة القاری: ۲۱۸/۱۴.
[۲] ) انظر: کنزالعمال: ۱۱/۲ رقم:۲۹۳۱.
[۳] ) الدرالمنثور:۳۱۵/۶ وفیه: وأخرج وكيع عن الغرر وابن مردويه والخطيب بسندضعيف عن ابن عباس قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم آخر أربعاء فى الشهريوم نحس مستمر وانظرالالى المصنوعة للسيوطى:۴۴۱/۱ وتنزيه الشريعة: ۵۵/۲.
[۴] ) فیض الباری:۴۳۸/۳.
[۵] ) البخاری:۲۰۹/۱کتاب الحج باب مايلبس المحرم من الثياب والاردية والازر. رقم: ۱۵۴۵.
[۶] ) شرح الکرمانی:۱۹۴/۱۲ – ۱۹۵ وفتح الباری: ۱۱۴/۶.

شوي وه اوتیري خو نی یقینا د وراندې نه شوي وو لکه چه کوم وخت هغوی تیاري اوکړو نو ده هغتي په شپه هغوی د سفر په ورخو کښي شمیر کړه نو دا پنځه ورځي شوي

**فائده** حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه لخمس بقین او لاربع لیال خلون دا د تاریخ لیکلو فصیح طریقه ده چه د میاشت اول نصف د یوي ورځي د تاریخ بیانولو پاره لفظ خلا او آخري نصف د پاره د تاریخ ذکرکولو د پاره لفظ بقي استعمال کړي شي [1]، مثلاً چه میاشت د دیرشو ورځوی نو د شروع پنځلس ورځي اول نصف او آخري پنځلس ورځو ته نصف آخر وئیلي شي که د نصف اول تاریخ بیانولو د پاره اووئیلي شي چه زید د شوال بندي سفر اوکړو نو دي

فصیح عربی تعبیر به وی سافر زید لخمس خلون من شوال خو سافر زید فی الخامس من شوال به غیر فصیح تعبیروی که د زید سفر د نصف آخر ۲۵ تاریخ کښي شوي وی نو ددي فصیح تعبیر به وی سافر زید لخمس بقین من شوال خو فی الخامس والعشرین به غیر فصیح تعبیروی

خلون، بقین دا دواړه د جمع مؤنث صیغي دی خلا یخلوا وخلاء د باب نصر نه الیوم ورځ تیره شوي ده او بقی، یبقی بقاء د باب سمع نه الیوم ورځ باقی ده

[حدیث نمبر ۲۷۹۳] [3] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ عَنْ عَمْرَةَ بِنْتِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّهَا سَمِعَتْ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - تَقُولُ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - لِخَمْسِ لَيَالٍ بَقِينَ مِنْ ذِى الْقَعْدَةِ، وَلاَ نُرَى إِلاَّ الْحَجَّ، فَلَمَّا دَنَوْنَا مِنْ مَكَّةَ أَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - مَنْ لَمْ يَكُنْ مَعَهُ هَدْىٌ إِذَا طَافَ بِالْبَيْتِ وَسَعَى بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ أَنْ يَحِلَّ . قَالَتْ عَائِشَةُ فَدُخِلَ عَلَيْنَا يَوْمَ النَّحْرِ بِلَحْمِ بَقَرٍ فَقُلْتُ مَا هَذَا فَقَالَ نَحَرَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - عَنْ أَزْوَاجِهِ . قَالَ يَحْيَى فَذَكَرْتُ هَذَا الْحَدِيثَ لِلْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ فَقَالَ أَتَتْكَ وَاللَّهِ بِالْحَدِيثِ عَلَى وَجْهِهِ .[ر ۲۹۰]

ذیقعده بفتح القاف وکسرها. کیناستونکي میاشت ځکه چه عربوبه په دي میاشت کښي جنګ پریخودو او کیناستل به [4]

لاتری إلا الحج صیغه مجهول أی لانظن یعنی زمونږ د حج نه بغیر هیڅ اراده نه وه

فدخل علینا یوم النحر بلحم بقر یعنی د قربانئی په ورځ زمونږ د غوا غوښه راوړلي شوه [5]

قال یحیی: فذکرت.....: یعنی یحیی بن سعید انصاری د کوم ذکر چه د حدیث په سند کښي شوي دي هغه قاسم بن محمد بن ابی بکر صدیق رضی الله عنهم ته دا حدیث واورولو نو هغوی

[1]) فتح الباری: ۱۱۵/۶.

[2]) فتح الباری: ۱۱٤/۶.

[3]) مر تخریج فی کتاب الحیض باب الامر بالنفساء إذا أنفس. رقم: ۲۹٤.

[4]) إرشاد الساری: ۱۷/۵.

[5]) عمدة القاری: ۲۱۸/۱٤.

اوونیل چه په خدائي چه عمره بنت عبدالرحمن تاته بالکل صحیح حدیث خودلې دی[1] والله اعلم

**ترجمة الباب سره مطابقت** -مطابقت په دې جمله کښې دنه دې خرجنا مع رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم لخمس لیال بقین من ذي القعدة پنځه ویشتم تاریخ د میاشت آخر دې او په دې تاریخ باندې حضورپاك ﷺ د حج د سفرد پاره اووتلو[2]

## باب ۱۰۵: الخروج في رمضان

**د ترجمة الباب مقصد** - امام بخاری رحمه الله دلته د رمضان په میاشت کښې د سفرجواز بیانوی اودې سره په هغه خلقو باندې رد کول هم مقصد دې چه د رمضان په میاشت کښې سفرمکروه گنړی[3] په اصل کښې دا شبه کیدې شوه چه د رمضان میاشت خود عبادت میاشت ده په دې کښې په عبادت کښې مشغول کیدل ډیر مناسب دی چرته په دې کښې به سفرکول خو ناخوښه نه وی نو امام بخاری رحمه الله اوخودل چه حضورپاك په رمضان کښې پخپله سفرکړې دې او د مکې د فتح واقعه هم په رمضان کښې راغلې ده په دې وجه به په رمضان سفرکول ناخوښه نه شی گرځولې

[حدیث نمبر ۲۷۹۴][4] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِاللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَدَّثَنِي الزُّهْرِيُّ عَنْ عُبَيْدِاللَّهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رضي الله عنهما- قَالَ خَرَجَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- فِي رَمَضَانَ، فَصَامَ حَتَّى بَلَغَ الْكَدِيدَ أَفْطَرَ. قَالَ سُفْيَانُ قَالَ الزُّهْرِيُّ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُاللَّهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. وَسَاقَ الْحَدِيثَ. [ر ۱۸۴۲]

الكديد:- په وزن د رغیف چه د یوچینې نوم دې چه د مکې نه د دوو فرلانګو په فاصله باندې د قدید او عسفان په مینځ کښې واقع ده[5]

**قوله: قال سفيان: قال الزهري....:**- د دې تعلیق دلته ذکرکولو مقصد دا دې چه د مذکوره حدیث په سندکښې سفیان بن عیینه رحمه الله فرمائی حدثني الزهري عن عبيدالله یعنی سفیان دا روایت د امام زهری رحمه الله نه په تحدیث سره نقل کړې دې او امام زهری رحمه الله د حضرت عبیدالله نه عنعنة سره نقل کړې دې اوس دلته سفیان فرمائی قال الزهري أخبرني عبيدالله یعنی دلته تحدیث دې نه چه عنعنه او امام زهری رحمه الله دغه مذکوره روایت د عبیدالله نه عنعنه سره نقل کولو اودلته ئی په اخبار سره نقل کوی[6]

د مستملی په روایت کښې دلته دا اضافه هم ده: قال أبوعبدالله: هذا قول الزهري: وإنما يؤخذ بالآخر

---

[1] عمدة القاری: ۲۱۹/۱٤.

[2] عمدة القاری: ۲۱۸/۱٤.

[3] عمدة القاری: ۲۱۹/۱٤ وفتح الباری: ۲۱۵/۶

[4] انظر صحیح البخاری: ۲۶۱/۱ کتاب الصیام باب إذا عام أیاما من رمضان ثم سافر. رقم: ۱۹٤٤.

[5] ارشادالساری: ۱۱۸/۵.

[6] عمدة القاری: ۲۱۹/۱٤.

من فعل رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم (۱)

**دَدې عبارت ذكركولومقصد** - داتعليق دلته دَ ذكركولوضرورت خكه پيښ شو چه دَ دې حديث راوى سفيان بن عيينه ته داتامل پيښ شوې وو چه دادَ چاقول دې؟

چنانچه دَ صحيح مسلم په روايت كښې دى **قال سفيان: لاأدرى من قول من هو؟ يعنى: وانما يؤخذ بالاخرمن قول رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم.** چه دَ چامقوله دَه نو امام بخارى اوخودل چه دادَ امام زهرى رحمه الله قول دې هم دغه روايت وړاندې په كتاب المغازى كښې راخى امام بخارى رحمه الله هلته هم تصريح كړې ده. **قال الزهرى: وانما يؤخذ من امر رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم الاخرفالاخر.** (۲)

**يووهم اودَهغې ازاله:-** علامه كرمانى رحمه الله ته په دغه عبارت باندې پوهيدوكښې وهم شوې دې هغه دا فرمائى چه دَ ابن شهاب زهرى رحمه الله مذهب دادې چه كه په رمضان كښې سفرشروع شى نو افطار مباح نه دې خكه چه داسړې شاهدشهررمضان دې اوكوم سړې چه شاهدشهررمضان شى دَهغه دَپاره ﴿ فَمَنْ شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ ﴾ (۳) دَ قاعدې لاندې رژوه ساتل ضرورى كيږى امام بخارى رحمه الله دَ امام زهرى رحمه الله په دې نقطه نظرباندې رد كوى چه **وانما يؤخذ.....الخ.** يعنى دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم آخرى عمل دَ ماقبل دَ احكامودپاره ناسخ كيږى نو په سفركښې به افطار مباح شى لكه خنگه چه نبى كريم صلى الله عليه وسلم په دې سفركښې روژه افطاركړې وه (۴)

خو چه علامه كرمانى رحمه الله چه كوم مطلب دَدې عبارت بيان كړې دې هغه غلط دې عجيبه خبره دادة چه علامه عينى رحمه الله علامه قسطلانى رحمه الله او شيخ الاسلام زكريا انصارى رحمه الله هم دَهغه اتباع كړې ده. (۵)

دَدې عبارت صحيح مطلب هم هغه دې كوم چه اول ليكلې شوې دې چه دَ سفيان شك وو چه **وانما يؤخذ بالاخرمن فعل رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم.** دَ چاقول دې نوامام بخارى رحمه الله اوخودل چه دا دَ زهرى رحمه الله قول دې. (۶) لكه چه حافظ ابن حجر رحمه الله په خپل كتاب الصوم كښې دَ دې تصريح كړې ده. (۷)

## باب ۱۰۶: التوديع

**دَ ترجمة الباب مقصد:-** امام بخارى رحمه الله دلته داخودل غواړى چه دَسفرپه وخت ميلمانه يا هم

---

۱) ارشادلسارى:۵/۲۱۸.
۲) صحيح بخارى: ۲/۶۱۳ كتاب المغازى باب غزوة الفتح فى رمضان رقم:۴۲۸۶.
۳) سورة البقرة: ۱۸۵.
۴) شرح الكرمانى:۱۲/۱۹۵- ۱۹۶.
۵) عمدة القارى للعينى: ۱۴/۲۱۹ وإرشاد السارى للقسطلانى: ۵/۱۱۸.
۶) حاشيه لامع الدارى: ۷/۲۵۳.
۷) فتح البارى: ۴/۱۸۱.

خپل يوسرې رخصت کولو دپاره چه کوم اهتمام کولې شی داصحيح دی او په سنت کښې د دې اصل موجود دې [١]

احديث نمبر ٢٧٩٥ [٢] وَقَالَ ابْنُ وَهْبٍ أَخْبَرَنِي عَمْرٌو عَنْ بُكَيْرٍ عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضي الله عنه - أَنَّهُ قَالَ بَعَثَنَا رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فِي بَعْثٍ، وَقَالَ لَنَا «إِنْ لَقِيتُمْ فُلاَنًا وَفُلاَنًا» - لِرَجُلَيْنِ مِنْ قُرَيْشٍ سَمَّاهُمَا - فَحَرِّقُوهُمَا بِالنَّارِ. قَالَ ثُمَّ أَتَيْنَاهُ نُوَدِّعُهُ حِينَ أَرَدْنَا الْخُرُوجَ فَقَالَ «إِنِّي كُنْتُ أَمَرْتُكُمْ أَنْ تُحَرِّقُوا فُلاَنًا وَفُلاَنًا بِالنَّارِ، وَإِنَّ النَّارَ لاَ يُعَذِّبُ بِهَا إِلاَّ اللَّهُ، فَإِنْ أَخَذْتُمُوهُمَا فَاقْتُلُوهُمَا». [٢٨٥٣]

دلته داروايت معلق دې خووړاندې امام بخاری رحمه الله يوباب قايم کړې دې باب لايعذب بعذاب الله ولې هلته نی په دويم طريق سره هم دا روايت موصولاً ذکرکړې دی [٣] البته اسماعيلی په مستخرج کښې او امام نسائی په کتاب السير کښې هم دَ ابن وهب په طريق سره روايت موصولاً ذکر کړې دې. [٤]

حضرت ابوهريره رضی الله عنه فرمائی رسول الله صلی الله عليه وسلم مونږ يولښکرسره روان کړو حکم ئی ورکړو چه که فلانکې اوفلانکې قريشی تاسو ته ملاؤشی (اودواړو نومونه نی هم واخستل) نوهغه دواړه په اورکښې اوسوزوئی. بيافرمائی چه مونږ کله دَ سفردپاره اراده اوکړه نودَ رخصت اخستلو دپاره دحضورپاك په خدمت کښې حاضرشو نونبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل چه ماتاسو ته دَ فلانکی اوفلانکی په اورکښې دَ سوزولو حکم درکړې وو اوس داسې مه کوئی ځکه چه په اور سره عذاب ورکول سوا دَالله تعالی نه بل چاله ښه نه ښائی. او که هغه دواړو ستاسو په قبضه کښې راغلل نو قتل ئی کړئی.

**دَ واقعه تفصيلات**:- ابوالعاص بن الربيع چه دَحضرت خديجه رضی الله عنها خورئی وو نبی کريم صلی الله عليه وسلم دَ ام المؤمنين په درخواست باندې دَخپلې لوربی بی حضرت زينب رضی الله عنها نکاح ابوالعاص رضی الله عنه سره کړې وه. روستوچه کله الله تعالی سرورکائنات صلی الله عليه وسلم الله تعالی دَ نبوت په منصب باندې فائزکړو نو قريشو په حضورپاك باندې دَ دباؤ اچولودپاره دَحضورپاك لونړوته طلاق ورکړو ابوالعاص دَ قريشو په سخت اصرارباندې دَحضرت زينب رضی الله عنها نه خان ډډې ته کړو اودَ سعيدبن العاص لورسره نی نکاح اوکړه. [٥]

ابوالعاص په جنګ بدرکښې ګرفتارشو نوحضرت زينب رضی الله عنها تردغه وخته پورې په مکه کښې وه هغې دَ فديه په توګه دَ قيدی دَ خلاصولودپاره خپل کالی اوليګل هم په دَغه کالوکښې

[١] ) عمدة القاری: ٢١٩/١٤.
[٢] ) اخرجه البخاری: ٤٢٣/١ كتاب الجهاد والسير. باب لا يعذب بعذاب الله. رقم: ٣٠١٦. والترمذی: ٢٨٦/١ كتاب السير باب الاخراق بالنار. رقم: ١٥٧١. والدارمی: ٢٩٣/٢. وأحمد: ٢٠/٣٠٧.٣٣٨.٤٥٣.
[٣] ) فتح الباری: ١١٥/٦. وصحيح البخاری رقم: ٣٠١٦.
[٤] ) هدی الساری: ص: ٤٧ وتغليق التعليق: ٥٥٠/٣.
[٥] ) سيرة ابن هشام: ٢٥٤/٢. دارالكتاب العربی بيروت.

يو هار هم وو چه حضرت ام المؤمنين حضرت خديجه رضی الله عنها خپلي لور ته د ابوالعاص سره د نکاح په وخت ورکړې وو دې منظر کتلو سره د نبی کريم ﷺ زړه راډك شو
نبی کريم ﷺ صحابه کرامو رضی الله عنهم ته اوفرمائيل که چرې تاسو غواړئ نو خپل قيدی پرېږدئ خلاص ئې کړئ او د امال هم واپس کړئ، دا درخواست وو حکم نه وو، نو صحابه کرامو عرض اوکړو چه په سر سترګو مونږ خو ستاسو غلامان يو نو ابوالعاص ئې خلاص کړو او مال ئې هم واپس کړو
د ابوالعاس ګرفتارکونکې اوبغيرفديه خلاصونکی صحابی نوم خراش بن الصمه رضی الله عنه دې (۱)
او بعض حضرات وائی چه هغه عبدالله بن جبير رضی الله عنه وو (۲) نبی کريم ﷺ ته ابوالعاص دا باور ورکړې وو چه هغه به حضرت زينب رضی الله عنها مدينې ته راليږی رسول الله ﷺ د حضرت زينب رضی الله عنها په حفاظت سره د راوستلو دپاره حضرت زيد بن حارثه رضی الله عنه او يو انصاری صحابی مکې ته ليږلي وو
ابوالعاص مکې ته په رسيدو سره د خپل رور کنانه بن ربيع په ذريعه د حضرت زينب رضی الله عنها مدينې ته د رسولو بندوبست کړې وو قريش خبر شو نو هغوی وريسې شو او په وادی ذی طوی کښې ئې د حضرت زينب اوښه راحصاره کړه هبار بن الاسود او نافع بن عبدقيس په کجاوه کښې ناسته حضرت زينب رضی الله عنها اوويروله هبار په خپله نيزه باندې کجاوې ته ديکه ورکړه نو حضرت زينب رضی الله عنها په يو کاڼرې باندې راپريوتله په کوم سره چه د هغې حمل ساقط شو (۳)
نبی کريم ﷺ ته چه کله د دې دردناك واقعه خبر اوشو نو حضور پاك هغه لښکر اوليګلو د کوم ذکرچه په روايت کښې دې د لښکر مشر حضرت حمزه بن عمرو اسلمی رضی الله عنه وو خو هبار بن الاسود او نافع بن عبدقيس دواړه بچ اووتل هبار بن الاسود روستو بيا مسلمان شوې وو کله چه هغه مسلمان شو اومدينې ته راغلو نو صحابه کرامو به په هغه باندې طنزکولو خو نبی کريم ﷺ صحابه کرام د داسې سلوك کولو نه منع کړل (۴) هبار رضی الله عنه د حضرت اميرمعاويه رضی الله عنه د دورخلافت پورې ژوندې وو (۵)

**نافع بن عبدقيس**:- حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ماته په صحابه کرامو کښې د دوی ذکرچرته ملاؤ نه شو کيدې شی د هغه اسلام نه وی قبول کړې (۶) په مسندبزار کښې د دوی نوم خالدبن عبدقيس راغلې دې دا تصحيف دې (۷)

**د ابوالعاص بن ربيع رضی الله عنه د اسلام واقعه**:- حضرت ابوالعاص رضی الله عنه به تجارت کولو د فتح مکه نه

---

(۱) سيرة ابن هشام:۲/۶۵۱.
(۲) سيرة ابن هشام:۲/۶۵۱.
(۳) د نور تفصيل دپاره اوګورئ سيرة ابن هشام:۲/۶۵۱- ۶۵۹.
(۴) عمدة القاری:۱۴/۲۲۰.
(۵) فتح الباری:۶/۱۵۰.
(۶) فتح الباری:۶/۱۵۰.
(۷) فتح الباری:۶/۱۵۰.

يوځو میاشتې وړاندې هغه د شام نه د تجارت مال راخستې واپس راروان وو چه مسلمانانو هغه ګرفتار کړو. د هغه نه ئې مال اوسامان هم واخستو. ابوالعاص رضي الله عنه د شپې په تیاره کښې د حضرت زینب رضي الله عنها په کور کښې داخل شو هغه د حضرت زینب نه امان اوغوښتلو نو حضرت زینب رضي الله عنها امان ورکړو.

سحر چه کله نبی کریم ﷺ د سحر مونځ ورکولو نو د حضرت زینب رضي الله عنها آواز راغلو چه ا ابوالعاص ته امان ورکړې دې د سلام ګرځولو نه پس نبی پاک ﷺ د دغه آواز متعلق تپوس اوکړو نو صحابه کرامو تصدیق اوکړو چه مونږ هم دغه آواز اوریدلې دې نبی اکرم ﷺ اوفرمائیل چه په مسلمانانو کښې د یوادنی سړی پناه هم معتبره ده بیا حضور پاك خپلې لور کره تشریف راوړو اوونی فرمائیل لورې د ده اکرام اوکړه خو یاد ساته دې ستا د پاره حلال نه دې.

دې نه پس نبی کریم ﷺ هغه لښکر ته پیغام اولیګلو چه د ابوالعاص مال او اسباب ئې خپله قبضه کښې اخستې وو چه د دې سړی ماسره کومه رشته ده تاسو ټولو ته معلومه ده کوم مال چه تاسو د ده نه اخستې دې که تاسو هغه واپس کړئې نو زما داخوښه ده اوکه غواړئې نو تاسو ئې خپل ځان سره ساتلې هم شئې ځکه چه دا مال الله تعالی تاسو ته درکړې دې تاسو د دې ډیر حقدار یئې.

ځانونه قربانی کونکو صحابه کرامو عرض اوکړو چه مونږ دا مال واپس کوو هغوی د ستن برابر څیز هم ځان سره پرینخودو. حضرت ابوالعاص رضي الله عنه دې مال سره مکې ته واپس لاړو او هغه حقدارانو ته خپل حقونه ورکړل او امانتونه ئې مالکانو ته حواله کړل بیا هغه قریشو ته مخاطب شو وئې ویل اې قریشو ستاسو څه څیزخو ماسره پاتې نه دې؟ هغوی اووئیل نه. الله تعالی دې تا ته بهترینه بدله درکړی ته یو وفادار او ایماندار سړې ئې.

دې اوریدو سره ابوالعاص رضي الله عنه د شهادت کلمه اووئیله او مسلمان شو بیا هغه اووئیل چه هم په مدینه کښې به مسلمان شوې ووم خو ماسره داویره وه چه هسې نه تاسو دا اووایئې چه ابوالعاص رضي الله عنه زمونږ مال قبضه کړو. اوس زه ستاسو د امانتونو نه فارغ شوم. د دې نه پس هغه مدینې ته لاړو. دلته د هغوی د ژوند ملګرې حضرت زینب رضي الله عنها هغه ته په نوې نکاح سره واپس کړې شوه.

**د روایاتو په الفاظو کښې تعارض او د هغې حل:** - د ابوداؤد په روایت کښې فلانا فلانا دوو ځلو په ځائې یو ځل فلانا راغلې دې د روایت الفاظ دادی **إن وجدتم فلانا فاحرقوه بالنار، فوليت فناداني، فرجعت إليه فقال: إن وجدتم فلانا فاقتلوه ولاتحرقوه، فإنه لايعذب بالنار إلا رب النار.** (١)

که چرې فلانکې (مشرك) ملاؤ شی نو هغه په اورکښې اوسوزوئې (راوی وائی) کله چه ما شاکره لاړم نو رسول الله ﷺ آواز راکړو زه واپس شوم حضور پاك اوفرمائیل که ته فلانکې سړې اووینې نو هغه قتل کړه البته په اورکښې مه سیزه ځکه چه د اور عذاب هم هغه ذات ورکوی ځوك چه د دې خالق دې.

---

(١) سنن أبي داؤد: ٢/٦ كتاب الجهاد باب كراهية تحريق العدوابالنار. رقم: ٢٦٧٣.

علامه عینی رحمه الله تطبیق ورکولوسره فرمائی چه دفلانکی یوځل ذکرکولومقصد صرف هبار بن اسود ذکرکول دی ځکه چه اصل خو هم هم هغه وو باقی نافع عبدقیس خود هغوی تابع وو [۱]

**ترجمة الباب سره مطابقت:-** د حدیث ترجمة الباب سره مطابقت په دې جمله کښې دې ثم أتيناه نودّعه دلته په حدیث کښې د مقیم نه د مسافر رخصت اخستلو ذکر دې. نو د مقیم مسافر رخصت کول خو په طریقه اولی ثابتیږی بلکه دغه دویم صورت ډیر وقوع پذیر دې [۲]

**فائده:-** په دې حدیث سره داهم ثابتیږی چه مسافرله په سفرباندې تللو په وخت د ځپل ښار مشران صلحاء او علماء سره ملاقات کول پکاردی. بل د اکابر د پاره هم مناسب دی چه هغوی خپل متعلقینوته په سفرد تللو وخت کښې رخصت کړی [۳]

## باب ۱۰۷: السمع والطعة للامام

**د ترجمة الباب مقصد:-** امام بخاری رحمه الله د دې باب قایم کولوسره د امیر د اطاعت وجوب بیانول غواړی. د هغه وخته پورې د امیر اطاعت واجب دې ترکومې چه هغه د ګناه او غیرشرعی امورو حکم ورنه کړی [۴]

[حدیث نمبر ۲۷۹۶] [۵] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنِي نَافِعٌ عَنِ ابْنِ عُمَرَ -رضی الله عنهما- عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم-. وَحَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ صَبَّاحٍ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ زَكَرِيَّاءَ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ -رضی الله عنهما- عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «السَّمْعُ وَالطَّاعَةُ حَقٌّ، مَا لَمْ يُؤْمَرْ بِالْمَعْصِيَةِ، فَإِذَا أُمِرَ بِمَعْصِيَةٍ فَلاَ سَمْعَ وَلاَ طَاعَةَ». [۶۷۲۵]

داحدیث په دوو طرق سره دلته نقل کړې شوې دې. البته الفاظ په دې باب کښې دویم طریق دی. وړاندې کتاب الاحکام کښې اول یعنی د مسدد د طریق الفاظ داسې دی: السمع والطاعة على المرء المسلم فيما أحب وكره مالم يؤمر بمعصية، فاذا أمر بمعصية فلا سمع ولا طاعة [۶]

---

[۱] عمدة القاری: ۲۲۰/۱۴.
[۲] عمدة القاری ۱۱۹/۱۴، فتح الباری: ۱۱۵/۶.
[۳] عمدة القاری: ۲۲۱/۱۴.
[۴] عمدة القاری: ۲۲۱/۱۴.
[۵] اخرجه البخاری: ۱۰۵۷/۲ فی کتاب الاحکام باب السمع والطاعة للامام مالم تکن معصیة، رقم: ۷۱۴۴، ومسلم: ۴۷۶۳/۲ کتاب الامارة باب وجوب طاعة الامراء فی غیرمعصیة وتحریمها فی المعصیة وأبوداؤد: ۳۵۹/۱، کتاب الجهاد باب فی الطاعة رقم: ۲۶۲۶، والترمذی: ۳۰۰/۱، أبواب الجهاد باب ماجاء فی لاطاعة لمخلوق فی معصیة الخالق رقم: ۱۷۰۷، والنسائی: ۱۸۴/۲، کتاب البیعة، باب جزاء من أمر بمعصیة فاطاع رقم: ۴۲۱۱، ابن ماجه، کتاب الجهاد باب لاطاعة فی معصیة الله رقم: ۲۷۶۴.
[۶] اخرجه البخاری: ۱۰۵۷/۲ فی کتاب الاحکام باب السمع والطاعة للامام مالم تکن معصیة، رقم: ۷۱۴۴.

**قوله السمع والطاعة حق** : یعني د امیر خبره اوریدل او د هغه د احکامو تعمیل کول دا په مامورینو او ماتحتانو باندې واجب دی په دې شرط چه هغه د ګناه د حکم ورنه کړی او که هغه ئې د ناجائز امورو حکم ورکړی نو لا طاعة لمخلوق فی معصیة الخالق مطابق د داسې امیر طاعت جائز نه دې نو هر یو داسې کار په کوم کښې چه د مخلوق په تابعدارئي سره د خالق نافرمانی لازم راځي په شریعت کښې د هغې ګنجائش نشته [1]

د حضرت علي رضي الله عنه روایت په کتاب المغازی کښې راروان دې چه نبی کریم ﷺ د یو انصاری صحابی عبدالله بن حذافه سهمی رضي الله عنه د یو لښکر مشر جوړ ولو سره اولیګلو په یو موقع هغه غصه شو او هغه لرګی راجمع کولو سره د اور لګولو حکم ورکړو چه کله اور سور شو نو هغه اوونیل تاسو ته نبی کریم ﷺ زما د اطاعت حکم نه وو درکړی؟ ورداننګي دې اور ته صحابه کرامو د اطاعت د جذبه نه مغلوب کیدو سره په اور کښې ورداننګل خو یو بل ئې رانیولو سره ئې وئیل چه مونږ خو هم د اور نه د بچ کیدو د پاره هم د نبی کریم ﷺ اطاعت کړې دې او اسلام مو قبول کړې دې هم په دې کشمکش کښې کښې د اور او امیر صاحب غصه سړه شوه کله چه دا خبره نبی کریم ﷺ ته معلومه شوه نو هغوی اوفرمائيل که هغوی اور ته ورداننګلي وې نو تر قیامته پورې به نه وو راوتلی اطاعت خو د نیکئي په کارونو کښې وی [2]

علامه ابن بطال رحمه الله فرمائي چه خوارج د دې حدیث نه استدلال کولو سره وائي چه د ظالم حکمرانانو خلاف بغاوت کول واجب دی د جمهور امت موقف دا دې چه صرف د ظلم په وجه د بغاوت اجازت نه شي ورکولې او که چرې هغه د شرعی احکامو نفاذ هم کوی او د هغه حکومت هم مستحکم وی نو داسې حکمرانانو وجود خو کم نه کم د خان مال او عزت د تحفظ ضامن خو دی که د هغوی خلاف خلق راپاسی نو هرطرف ته به بدامنی خوره شي او ګړبړه پیداشي نو داسې حکمرانانو خلاف بغاوت کول جائزنه دی چه ظلم خو هم کوی ولې د دینی امورو لکه مونځ وغیره هم اهتمام کوی او دین پورې تو قې مسخرې نه کوی نو په داسې حالت کښې د هغوی خلاف بغاوت کونکو سره ملګرتیا کول جائزنه دی

د صحیح مسلم روایت دې چه د نبی کریم ﷺ ارشاد دې ستاسو بهترین حکمرانان هغه دی چاسره چه تاسو محبت کوئی او هغوی تاسوسره محبت کوی تاسو د هغوی د پاره دعا کوئی او هغوی ستاسو د پاره دعا کوئی او ستاسو بدترین حکمرانان هغه دی چانه چه تاسو نفرت کوئی او هغوی تاسو نه نفرت کوی تاسو په هغوی باندې لعنت کوئی او هغوی په تاسو باندې لعنت کوی

تپوس اوکړې شي ایا مونږ هغوی سره جنګ اونه کړو؟ نبی کریم ﷺ دوه ځل اوفرمائيل نه ترکومې چه هغوی په تاسو کښې مونځونه قایم کوی نه ترکومې چه هغوی په تاسو کښې

---

[1] ) عمدة القاری: ۱۴/۲۲۱.

[2] ) صحیح البخاری: ۲/۶۲۲ کتاب المغازی باب سریة عبدالله بن حذافة السهمی رضی الله عنه. وعلقمة بن مجزز المدلجی ویقال: ویقال: إنها سریة الانصاری رقم: ۴۳۴۰.

مونځونه قايم كوى دهغوى د ګناهونونه تاسو ضرور نفرت كوئى خودهغوى اطاعت مه پريږدئى [۱]
ليكن كه چرې حكمرانان دَ ظلم سره سره مونځ هم نه قائموى اودَ شريعت په ښكاره توهين هم كوى اويا حاكم مرتد شوې وى نو په داسې صورتونوكښې دَ حكمرانانو خلاف بغاوت كول اوهغوى معزول كول واجب دى اودا دَ مسلمانانو ذمه وارى ده [۲]

**ايا په ملكى قانون كښې دَامام اطاعت واجب دې؟**:- دَ شريعت داقاعده ده چه طاعة الامام فيما ليس بمعصية واجبة يعنى دَ امام اطاعت په هغه كارونوكښې واجب دې چه ګناه نه وى البته چه كوم ملكى قوانين دَ شريعت سره متصادم وى په هغې كښې دَ امام اطاعت جائزنه دې كه امام عادل وى كه ظالم [۳]

چنانچه دَ ټريفك قوانين او نور انتظامى اموروكښې په ملكې قوانينوباندې عمل كول ضرورى دى ځكه چه دَ دغه قوانينوتعلق ادارت اوانتظام سره وى په دې وجه دې حكام دَ شريعت په دائره كښې اوسيدوسره دَ نظم وغيره دَخلاف ورزئى په نتيجه كښې كومې جرمانې چالانانونه او سزاګانې مقرركوى په هغې كښې دَ حكام تابعدارى كول واجب دى [۴]

واضحه دې وى چه دَ جديد دور شايديوه مسئله داسې وى دَ كوم بنيادى قواعد او اصول چه فقهاؤ نه واضحه كړې. شرعى اصول مخې ته كولوسره دَ اسلامى ملك قوانين داسې جوړول پكاردى چه مسلمانانوته دَخپل خالق په جوړ كړې شوى قانون باندې عمل كولو موقع ملاؤشى په دويم صورت كښې داسې حكمرانان چه دَ خدائى قانون په مقابله كښې دَ خپلو جوړوشوو قوانينو اوچتوالې غواړى دَهغوى اطاعت جائزنه دې بلكه هغوى دې معزول او برطرف كړې شى اودَ حكمرانئى واګې دې دَداسې كسانو په لاس كښې وركړى چه دَ قرآن اوسنت قانون په ملك كښې رائج كړى. دَالله تعالى ارشاد دې ﴿ وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ﴾ [۵] بل ځائې ارشاد دې ﴿ وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ﴾ [۶] او بيائې دَ يوآيت نه پس اوفرمائيل ﴿ وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ﴾ [۷]

دَ دې آيات كريمه نه معلوميږى چه دَالله تعالى دَ احكامو مطابق آئين سازى كول ضرورى دى اوچه كوم حاكم قاضى يا اميردَ وخت دَ الله تعالى نازل كړې شوى شريعت مطابق دَ عناد او سركشئى دَ وجې نه فيصله نه كوى دَ قرآن په رڼړاكښې درجه په درجه كافر ظالم او فاسق دې.

---

[۱] ) صحيح مسلم: ۱۲۹/۲ كتاب الامامت باب خيار الائمة وشرارهم. ۴۸۰۴ – ۴۸۰۶.
[۲] ) شرح ابن بطال: ۱۲۷، ۵/۱۲۶ . دَنورتفصيل دَپاره اوګورئى الدرالمختار مع شرحه ردالمختار:۳/ ۳۴۰.
[۳] ) الدرالمختار مع شرحه ردالمختار:۳/ ۳۴۰.
[۴] ) دَ ټريفك دَ قوانينودَپاره اوګورئى بحوث فى قضايا فقهية معاصرة ص:۲۷۶ – ۳۱۰ للاستاذ تقى العثمانى.
[۵] ) المائدة: ۴۴.
[۶] ) ايضاً: ۴۵.
[۷] ) ايضاً:۴۷.

[۱] چنانچه كافرانو ظالمانو او فاسقانو ته د زمانې اقتدار په خوشحالئى سره څنګه حواله كولې شى اودهغوى داطاعت جواز به څنګه ثابتيدې شى؟

**ترجمة الباب سره مطابق** - د حديث شريف ترجمة الباب سره مطابقت بالكل واضح دې يعنى باب قايم كړې شوې دې باب السمع والطاعة للامام اود حديث الفاظ دى السمع والطاعة حق [۲]

## باب ۱۰۸: يقاتل من وراء الامام ويتقي به

**د ترجمة الباب مقصد** - امام المسلمين د يوډال حيثيت لرى هغه د خپلې رعايا د دښمن نه حفاظت كوې اودين ساتنه كوى اود نظرياتى سرحدونو ساتنه كوى. دهغه په دفاع كښې به جنګ كولې شى اود دښمن د شرفساد او ظلم نه د بچ كيدو د پاره به د امام پناه اخستلې شى ځكه چه كه دامام عادل په تائيداو حما يت كښې جنګ نه شى كولې نو فتنې به راخوريږى اوهرطرف ته به بدامنى خوريږى اوهرطرف ته به فساد وى. د فتنونه دبچ كيدو دپاره دامام په حمايت كښې جنګيدل ضرورى دى. [۳]

<u>ورائه</u> - لفظ وراء د اضدادنه دې ددې معنى وړاندې او روستو دواړه راځى. په قرآن كريم كښې دى ﴿وَكَانَ وَرَآءَهُم مَّلِكٌ﴾ [۴] أى أمامهم. كه داد وړاندې په معنى كښې واخستې شى نود! معنى به وى چه د جهاد په وخت امام نه دى وړاندې كول پكار بلكه مجاهدينوله وړاندې جنګ پكاردې. [۵] اوكه د دې معنى روستو واخستې شى نومطلب به داوى چه دامام په ماتحتئى كښې جنګ كول پكاردې. يعنى چه څنګه امام منصوبه او ترتيب جوړكړى اوچه څنګه هغه حكم وركړى هغه طريقه د جنګ په ډيره مناسب بهتر بلكه ضرورى وى. [۶]

[حديث نمبر ۲۷۹۷] [۷] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ حَدَّثَنَا أَبُو الزِّنَادِ أَنَّ الأَعْرَجَ حَدَّثَهُ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه - أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ «نَحْنُ الآخِرُونَ السَّابِقُونَ». وَبِهَذَا الإِسْنَادِ «مَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ، وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ عَصَى اللَّهَ، وَمَنْ يُطِعِ الأَمِيرَ فَقَدْ أَطَاعَنِي، وَمَنْ يَعْصِ الأَمِيرَ فَقَدْ عَصَانِي، وَإِنَّمَا الإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيُتَّقَى بِهِ، فَإِنْ أَمَرَ بِتَقْوَى اللَّهِ وَعَدَلَ، فَإِنَّ لَهُ بِذَلِكَ أَجْرًا، وَإِنْ قَالَ بِغَيْرِهِ، فَإِنَّ عَلَيْهِ مِنْهُ». [۲۷۱۸، وانظر ۲۳۲]

---

[۱] ) معارف القرآن ج ۲ ص ۴۴۳ – ۴۵۲ و ج ۳ ص ۱۵۴ – ۱۶۵.
[۲] ) عمدة القارى: ۲۲۱/۱۴.
[۳] ) عمدة القارى: ۲۲۱/۱۴.
[۴] ) سورة الكهف: ۷۹.
[۵] ) ارشادالسارى: ۱۱۹/۵.
[۶] ) فيض البارى: ۴۴۰/۳ وحاشية السندى على البخارى: ۴۴۲/۱.
[۷] ) قدمر فى كتاب الوضوء باب البول فى الماء الدائم رقم: ۲۳۸.

**قوله** نحن الآخرون السابقون:- دَدې حديث شريف سره متعلق مباحث كتاب الوضوء باب البول في الماء الدائم لاندې تيرشوى دى

من أطاعني فقد أطاع الله، ومن عصاني فقد عصى الله، ومن يطع الأمير فقد أطاعني (١)

په روايت كښې دى چه رسول الله ﷺ فرمائيلى چاچه زما اطاعت اوكړو هغه دَالله تعالى اطاعت اوكړو چاچه زما نافرمانى اوكړه هغه دَالله تعالى نافرمانى اوكړه اوڅوك چه دَ امير اطاعت كوى هغه لكه چه هم زما اطاعت كوى اوڅوك چه دَ اميرنافرمانى كوى لكه چه زما نافرمانى كوى اميرخود يوډال په شان وى دَهغوى دَ دفاع دَ پاره جنګيږى اوهم دَاميرپه ذريعه دَ (دښمن دَ شرنه)بچ كيږى كه هغه دَ پرهيزګارئى حكم اوكړى او انصاف اوكړى نوهغه ته به دَ دې په بدله كښې نيكى ملاويږى اوكه دَانصاف اوتقوىٰ په ځائى دَ نورو خبروحكم وركوى نو په هغه باندې به دَهغې نقصان وى.

علامه خطابى رحمه الله فرمائى چه دَعربودَ قبائلوسرداران دَ امارت دَ نظام نه خبرنه وو هغوى دَخپلو قبيلودَ سردرانونه علاوه دَ چاخبره نه منله بيادَ اسلام راتلونه پس چه كله په هغوى باندې اميران مقرركړې شو نودَهغوى زړه دَ دوى نه مورشو اوبعض خلقو دَ اميرانو تابعدارى او دَهغوى دَخبرې منلونه انكاراوكړو رسول الله ﷺ دَهغوى دَ پوهه كولودَپاره هغوى ته اوفرمائيل چه دَاميراطاعت زما اطاعت دې اودَ هغوى نافرمانى هم زما نافرمانى ده مقصد داوو چه دَ عربوقبائل دَ نبى كريم ﷺ دَمقرركړې شوو حاكمانو اطاعت او حكم منل اوكړى اوبغاوت اوسركشى اونه كړى.

دې نه معلومه شوه چه دَ امراء اطاعت په دې وجه كولې شى چه هغوى دَ رسول الله ﷺ اطاعت كوى نو په دوى كښې چه څوك دَ رسول الله ﷺ دَ شريعت مطابق حكم نه وركوى اودَ حضورپاك اطاعت نه كوى نودَهغوى اطاعت واجب نه دې.(٢)

**قوله** من أطاعني فقد أطاع الله:- داجمله دَالله تعالى دَ ﴿ مَنْ يُطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ﴾(٣) تفسير دې. رسول الله ﷺ خپل اطاعت دَ الله تعالى اطاعت ګرځوى ځكه چه حضورپاك خو مبلغ دې حكم خوهم دَالله تعالى دې.(٤)

**قوله** إنما الإمام جنة:- جُنَّةٌ: (په ضمه دَجيم او تشديددَ نون) ډال ته وئيلې شى (٥) يعنى امام دَ مسلمانانودَپاره ډال حيثيت لرى لكه څنګه چه په ډال سره جنګ كونكى خپل حفاظت

---

(١) الحديث اخرجه البخارى ايضًا: ١٠٥٧/١ فى كتاب الاحكام باب قول الله تعالى: ﴿أَطِيْعُوا اللّٰهَ وَأَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ﴾ رقم:٧١٣٧.

(٢) أعلام الحديث للخطابى:٢/١٤٢٠ – ١٤٢١.

(٣) سورة النساء: ٨٠.

(٤) إرشاد السارى:١١٩/٥.

(٥) ايضًا.

کوی هم داسې مسلمان هم دامام په ذريعه د دښمنانو اوبدخواهانود شرونو اوسازشونو نه خپل حفاظت کوی اودهغه په لمن کښې پناه اخلی (١)

حضرت گنگوهی رحمه الله فرمائی ډال سره تشبيه امام سره په يوخانی جنگيدلو کښې ده که وړاندې وی اوکه روستو لکه څنگه چه جنگ کونکې د ډال نه شاته وی دغه شان مجاهدهم د امام شاته وی (٢)

**دَ يوفقيهی قاعدې استنباط** داحنافومذهب دې چه که چادَ حاکم حکم اومنلواويوکارئی اوکړو بيا هغه ته معلومه شوه چه داکارخودَ شريعت خلاف وو نومرتکب به معذورگڼړلې شی اوګناه به دَ حکم ورکونکی کيږی علامه خطابی رحمه الله فرمائی إنما الامام جنة دَ احنافودَقاعدې دپاره دَ دليل په توګه پيش کولې شی (٣) يعنی دَ امام دَ ډال کيدو دَ وجې به هغه دَ دغه ګناه دَ شرنه محفوظ شی ځکه چه حکم خو هم امام ورکړې وو او دويم خو په اطاعت کولوباندې مجبوروو

**ويتقی به** - دادَ مجهول صيغه ده دَدې تکرې يوه معنی خوداده کومه چه علامه کرمانی رحمه الله ذکرکړې ده چه دَامام په ذريعه دَ دښمن دَ شرفساد اوظلم نه بچ کيدې شی ځکه چه هم هغه دَ مسلمانانو دَ دين ساتنه کوی (٤) يوه بله معنی علامه ابن بطال رحمه الله بيان کړې فرمائی **قوله يتقی به أی: يرجع إليه في الرأی والفعل وغيرذلک مما لايجب أن يقضی فيه إلا برأی الامام وحکمه، ويتقی به الخطائی الدين والعمل من الشبهات وغيرها.** (٥) يعنی چه کوم کاردَ امير دَ رائې اوحکم نه بغيرنه دی کيدل پکار په هغې کښې دې دَاميردَ رائې طرف ته رجوع اوکړې شی بل دَ دين په معاملاتوکښې دَ غلطئی او شک شبه نه دَ بچ کيدو دپاره هم دَ اميرپناه اخستلې شی

**فان قال بغيره** - يعنی که چرې حاکم دَ دې (تقوی) نه علاوه دَ بل څه خبرې حکم دِرکړی دَ قال أمر معنی کښې استعماليږی بعض حضرات **قال** ته بمعنی **فعل** هم وائی خو بهتردادی چه **قال** دلته په معنی **أمر** وی ځکه چه دَدې نه وړاندې **أمر** لفظ استعمال شوې دې لکه چه دَ روايت الفاظ دی **فان أمربتقوی الله وعدل......** (٦) علام خطابی رحمه الله فرمائی دَ قال معنی دلته دَ فيصله کولوده لکه چه وئيلې شي چه دا دَ القيل نه مشتق دې دَ قبيله حميرپه لغتی ژبه کښې قيل داسې بادشاه ته وئيلې شی دکوم حکم چه منلې شی (٧)

---

١) عمدة القاری: ٢٢٢/١٤.

٢) لامع الدراری: ٢٥٤/٧.

٣) أعلام الحديث للخطابی: ١٤٢٠/٢ — ١٤٢١.

٤) شرح الکرمانی: ١٩٧/١٢.

٥) شرح ابن بطال: ١٢٨/٥.

٦) فتح الباری: ١١٦/٦. وعمدة القاری: ٢٢٢/١٤.

٧) أعلام الحديث للخطابی: ١٤٢١/٢والنهاية فی غريب الحديث: ١٢٢/٤ وقال أو عبيدة: الاقيال ملوک باليمن دو الملک الاعظم وأحدهم قيل انظرلسان العرب: ق/و/ل.

**فإن علیه منه** - دلته وزر محذوف دې مکمل عبارت داسې دې فان علیه منه وزرا څنګه چه د سنن په روایت کښې دي (۱) اوس د عبارت مطلب داشو د چرې حاکم د غیر شرعي امورو حکم ورکړی نو دهغې ګناه او نقصان به هم په هغه وي لیکن ظاهره ده چه دحکم تعمیل کونکی به هم د وبال نه نه شي بچ کیدې (۲)

**یوسبق ورکونکې واقعه** - کله چه عمربن هبیره، دیزیدبن عبدالملك دطرف نه دعراق عامل مقرر کړو نوهغه د بصره او کوفه فقهاؤ خپل خانی ته د راتللو دعوت ورکړو په دې فقهاؤ کښې امام شعبي رحمه الله اوحضرت حسن بصري رحمه الله هم وو عمربن هبیره اوونیل امیرالمؤمنین یزیدبن عبدالملك ماته د بعض غیرشرعي کارونوحکم راکوی آیا زما د پره دهغې پوره کول جائزدي؟ امام شعبي رحمه الله اوفرمائیل ته خو مامور یې ته هم هغه شان کوه څنګه چه تاته حکم کولې شي ګناه خو د حکم ورکونکی باندې ده کله چه امام شعبي رحمه الله خپله خبره مکمل کړه نو حضرت حسن بصري رحمه الله اوفرمائیل: **أتق الله یاعمر! فكأنت بملك قد أتاك فاستنزلك، فاخرجك من سعة قصرك إلی ضیق قبرك أن الله ینجیك من یزید وان یزید لا ینجیك من الله، فایاك أن تعرض لله بالمعاصي، فانه لا طاعة لمخلوق في معصیة الخالق.** (۳) یعنی اې عمر! د الله تعالی اوویریږه لکه چه د مرګ فرښته راغلې ده هغه به تاستا د محل د وسعت نه راؤباسي اود قبرتنګ خانی ته به دې اورسوی یقیناً الله تعالی تا د یزیدنه بچ کولې شي خویزید تا د الله رب العزت نه نشي بچ کولې خبردار! په ګناهونو سره د الله تعالی مقابله مه کوه څکه چه د مخلقو اطاعت کولوسره د خالق نافرمانی کول جائزنه دی

**ترجمة الباب سره مطابقت**:-حدیث شریف سره د ترجمة الباب مطابقت وإنما الامام جنة یقاتل من ورائه ویتقی به کښې دي. (۴)

**دعلامه بن منیر رحمه الله رائې اودحافظ ابن حجر رحمه الله رد**.- ابن منیر رحمه الله فرمائي د ترجمة الباب نحن الآخرون السابقون سره مطابقت داسې دې چه یقاتل من ورائه معنی من أمامه ده یعنی وراء، د أمام په معنی کښې مستعمل دې څکه چه فوج په ظاهره د امام نه وړاندې جنګیږی په حقیقت کښې هغوی د امام شاته وی. هم دغه شان نبی آخرزمان ﷺ د زمانې په اعتبارسره د تولونه په آخره کښې تشریف راوړې دې خود انبیاء متقدمین علیهم السلام نه دا عهد اخستې شوې وو که چرې دوی ته د نبی کریم ﷺ زمانه ملاؤشی نوهغوی به پرې ایمان راوړی او دهغوی امداد به کوی نوچه کله حضرت عیسی علیه السلام دوباره تشریف راوړی نو دهغه حیثیت به د یوامتی وی لکه چه انبیاء سابقین علیهم السلام چه په ظاهره د نبی پاك ﷺ نه وړاندې

---

۱) النسائي:۲/۱۸٤ کتاب البیعة باب مایجب للامام وما یجب علیه.

۲) عمدة القاري: ۱٤/۲۲۲.

۳) أعلام الحدیث للخطابي: ۲/ ۱٤۱۷ - ۱٤۱۶.

۴) عمدة القاري: ۱٤/۲۲۲.

مبعوث شوی دی خو په حقیقت کښې هغه ټول د نبی کریم ﷺ تابع دی سره ددې چه حضور پاك ﷺ په ظاهره آخری نبی دې ولې د وړاندینو امام دې (۱)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه دا تکلف دې ځکه چه نحن الآخرون السابقون د حدیث باب ټکړه نه ده بلکه دا جمله د دې سند شعب عن أبي ازناد عن الاعرج عن أبي هريرة د پاره د علامت راوړلې شوې دې او بهذا الاسناد وئیلو سره حدیث بیانولې شی اودَ دې التزام وجه داده چه راوی داسې حدیث نقل کړې دې دَامام بخاری رحمه الله دا عادت دې لکه څنګه چه دَامام مسلم رحمه الله عادت دادې چه هغه معمر عن همام بن منبه عن أبي هريرة والا سندسره نقل کیدونکې هرحدیث په شروع کښې فرمائی. فذكر أحاديث منها وقال رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم كيت وكيت.....(۲) والله اعلم بالصواب

## باب ۱۰۹: البيعة في الحرب أن لايفروا، وقال بعضهم على الموت

لقول الله تعالى: ﴿لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ﴾

**د ترجمة الباب مقصد**: علامه ابن المنیر رحمه الله فرمائی چه په دې باب سره امام بخاری رحمه الله داخودل غواړی چه په جهاد کښې کوم بیعت وی هغه بیعت علی عدم الفرار یعنی د تختیدو ثابت قدم اوسیدو وی. لکه چه امام صاحب دلته آیت ذکر کړې دې ﴿لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ﴾ وړاندې دی ﴿فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنْزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ﴾ او سکینه په حالت د جنګ کښې سکون او اطمینان ته وئیلې شی. نودا آیت په دې خبره باندې دلالت کوی چه بیعت کولووخت کښې به د صحابه کرامو رضی الله عنهم په زړونو کښې د عدم فرار نیت او ثابت قدمی وو نه چه مرګ. (۳)

دَحافظ ابن حجر رحمه الله وینا ده چه دا بیعت علي الموت دې. دَدې دلیل دادې چه امام صاحب دَ آیت کومه ټکړه نقل کړې ده په دې کښې دَ مطلق بیعت ذکرشوې دې په وړاندینې روایت کښې په دې باندې تفصیل راځی. حضرت سلمه بن الاکوع رضی الله عنه (چه دَ بیعت رضوان دَ شرکاؤ نه دې) پخپله فرمائی چه دابیعت علی الموت دې.(۴) خوواضحه دې وی چه دا یولفظ اختلاف دې په معنوی اعتبارسره بیعت علی عدم الفرار او بیعت علی الموت کښې هیڅ فرق نشته ځکه چه کوم سړې په دې خبره باندې بیعت کوی چه هغه به په جنګ کښې نه تختی نودَهغه مخې ته هم دغه وی چه هغه به ترمرګه پورې جنګیږی اودَ وینې دَ آخری څاڅکی پورې به هغه خپله وعده پوره کوی. اوداخبره خو بالکل واضحه ده چه دَ بیعت علی الموت مطلب هیڅ کله دانه دې چه هغه دې خامخا په دغه جنګ کښې مړشی بلکه دې نه مقصد هم هغه

---

(۱) المتواری ص: ۱۵۷ – ۱۵۹.

(۲) فتح الباری: ۱۱۶/۶.

(۳) المتواری ص: ۱۶۱.

(۴) فتح الباری: ۱۱۸/۶.

ثابت قدمی ده (۱) هم د دې وجه حضرت نافع فرمائي بل بايعهم على الصبر ځکه چه د صبر معنی ده کلك او سبدل او دا مطلب مرګ او نه تختیدو دواړو ته جامع دې (۲).

الشجرة دا د څه څيز ونه وه؟ يو قول خو دا دې چه دا د کيکر ونه وه دويم قول دا دې چه د بيرې ونه وه (۳)

احدیث نمبر ۲۷۹۸ (۴) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا جُوَيْرِيَةُ عَنْ نَافِعٍ قَالَ قَالَ ابْنُ عُمَرَ-رضی الله عنهما- رَجَعْنَا مِنَ الْعَامِ الْمُقْبِلِ فَمَا اجْتَمَعَ مِنَّا اثْنَانِ عَلَى الشَّجَرَةِ الَّتِي بَايَعْنَا تَحْتَهَا، كَانَتْ رَحْمَةً مِنَ اللَّهِ. فَسَأَلْتُ نَافِعًا عَلَى أَيِّ شَيْءٍ بَايَعَهُمْ عَلَى الْمَوْتِ قَالَ لاَ، بَايَعَهُمْ عَلَى الصَّبْرِ.

حضرت ابن عمر رضی الله عنه فرمائی چه مونږه بل کال د بيعت رضوان ځائی ته راغلو نو دا سې دوه کسان ملاؤ نه شو چه هغه ونې نی پيژندلې وه د کومې لاندې چه مونږ بيعت کړې وو او دا د ونې پټيدل د الله تعالى رحمت ثابت شو ځکه خلق به په دغه شرکښې راګيرېدي. راوی يعنی جويريه وائی چه ما د نافع نه تپوس اوکړو چه په کوم څيز باندې حضور ﷺ د هغوی نه بيعت اخستې وو آيا هغه په مرګ باندې بيعت وو؟ نو نافع وئيل نه بلکه حضور ﷺ د هغوی نه په استقامت او ثابت قدمئی باندې بيعت اخستې وو

**قوله: فما اجتمع منا اثنان على الشجرة** - يعنی دا سې دوه کسان به نه ملاويدل چه هغه ونه ئی متعين کړې وه. اوس دلته دا سوال پيدا کيږی چه هغه ونه چرته لاړه؟ علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه يو قول خو دا دې چه ونه هم هلته وه خو د صحابه کرامو رضی الله عنهم د پاره د هغه ونې پيژندګلو کول ګران شوې وو دويم قول دا دې چه هغه سيلاب بهيولې وه

**قوله: كانت رحمة من الله** - د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما د دې جمله دوه مطلبونه بيان کړې شوې دی ① د هغه ونې پټيدل د الله تعالى يو رحمت وو علامه نووی رحمه الله فرمائی چه د دغه ونې په وجه د خلقو په فتنه کښې د اخته کيدو انديښنه وه ځکه چه د دغه ونې لاندې خير. د الله رضا او سکينه په صحابه کرامو رضی الله عنهم باندې نازل شوې که دغه ونه متعين کيدله نو کلی وال او جاهلان خلق به د دې په تعظيم کښې اخته کيدل او دا دې نه هم نور زيات به نی د نفع او نقصان مالك ګڼړلو سره به د دغه ونې عبادت کولې شو نو دا د الله تعالى رحمت دې چه دا ونه ئی پټه کړه (۵)

② دويم مطلب د دغه جمله دا دې چه دا ونه د الله تعالى د رحمت د نزول مقام او د الله تعالى د

(۱) فتح الباری: ۱۱۸/۶، وعمدة القاری: ۲۲۳/۱۴.
(۲) فتح الباری: ۱۱۸/۶ وشرح ابن بطال: ۱۳۰/۵.
(۳) إرشاد الساری: ۱۲۰/۵ وعمدة القاری: ۲۲۳/۱۴.
(۴) تفرد به البخاری.
(۵) حاشية صحيح مسلم: ۱۲۹/۲ كتاب الجهاد باب استحباب مايعة اللجيش عند إرادة القتال الخ. ص ۱۳۰.

رضا د حاصلولو خانی وو (۱)

**فسألت** -ما تپوس اوکړو د پښتنې والاجویریه بن اسماء ده چه دا روایت د نافع نه نقل کوی **علی الموت؟** - آیا بیعت په مرګ شوې وو؟ په اصل کښې دلته همزه د استفهام مقدر دې عبارت داسې دې أعلی الموت؟ یا داسې أبایعهم علی الموت؟ (۲)

**د یواشکال جواب** - دلته اسماعیلی دااشکال کړې دې چه لا،بل بایعهم علی الصبر مسندنه دې یعنې داد حضرت ابن عمر رضی الله عنهما قول نه دې بلکه د حضرت نافع رحمه الله قول دې حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه دا قول هم مسند دې ځکه چه حضرت نافع رحمه الله دا خبره یقیناً د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما نه اوریدلې وی. نوځکه خوهغه جواب ورکولوسره د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما حواله ورکولوضرورت نه دې محسوس کړې. (۳)

**ترجمة الباب سره مطابقت:-** د دې حدیث شریف ترجمة الباب سره مطابقت بل بایعهم علی الصبر نه مستنبط دې ځکه چه بیعت علی الصبر مطلب هم دغه دې چه بیعت د جنګ نه نه تختیدل او کلك پاتې کیدو باندې اخستې شوې دې (۴)

[حدیث نمبر ۲۷۹۹](۵) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ يَحْيَى عَنْ عَبَّادِ بْنِ تَمِيمٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَيْدٍ-رضی الله عنه- قَالَ لَمَّا كَانَ زَمَنَ الْحَرَّةِ أَتَاهُ آتٍ فَقَالَ لَهُ إِنَّ ابْنَ حَنْظَلَةَ يُبَايِعُ النَّاسَ عَلَى الْمَوْتِ. فَقَالَ لاَ أُبَايِعُ عَلَى هَذَا أَحَدًا بَعْدَ رَسُولِ اللَّهِ-صلی الله علیه وسلم-.[۳۹۳۴]

حضرت عبدالله بن زید رضی الله عنه فرمائی چه د واقعه حره په زمانه کښې یوسړې هغوی له راغلو وئیل عبدالله بن حنظله د خلقو نه په مرګ باندې بیعت اخلی. نوعبدالله بن زید اوفرمائیل د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پس به زه د چاپه لاس په مرګ باندې بیعت اونه کړم.

**قوله** لماکان زمن الحرة:- حرة: بفتح الحاء المهملة وتشدید الراء داسې کانړیزې زمکې ته وائی د کومې کانړی چه په لیدوسره سوزیدلې معلومیږی. د حرة جمع حرات، احرون حرار او حرون ده. داسې زمکې د عربو په ملك کښې ډیر زیاتې دی د مدینې د اطرافونه ترشام پورې د حرار یواوږده سلسله ده. علامه یاقوت حموی د دې تفصیل په خپل کتاب کښې ذکرکړې دې. (۶)

---

۱) شرح الکرمانی:۱۲ یا ۱۹۸/۲، وفتح الباری: ۱۱۸/۶.
۲) عمدة القاری: ۲۲۳/۱٤ والقسطلانی: ۱۲۰/۵.
۳) فتح الباری:۱۱۸/۶.
۴) عمدة القاری: ۲۲۳/۱٤.
۵) أخرجه البخاری فی کتاب المغازی باب غزوة الهدسة رقم:٤۱۶۷ومسلم فی کتاب الامارة، باب استحباب مبایعة الامام لجیش عند إرادة القتال وبیان بیعة الوضو تحت الشجرة. رقم:٤۸۲٤.
۶) معجم البلدان: ۲ؤ۲٤۵ — ۲۵۰.

دلته چه د کوم حره ذکر کیږی هغې ته حرة واقم ونیلې شی (١)

**د واقعه حرة تفصیلات** - دلته چه په روایت کښې د کومې واقعې طرف ته اشاره کولې شی دهغې تعلق ۶۳ هجری سره دې کله چه دحضرت معاویه رضی الله عنه انتقال اوشو اود یزیدبن معاویه د پاره بیعت اخستې شو نودمدینې والا یووفد د یزید ملاقات دپاره لاړو هغوی په یزید کښې بعض نامناسب خبرې اولیدلې اومدینې ته په واپس راتلوباندې نې دیزید اطاعت نه انکار اوکړو اوحضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنهما په لاس باندې اهل مدینه بیعت اوکړو

د دې خبرې چه کله یزیدته خبر اوشو نوهغه د مسلم بن عقبه په مشرنی کښې دمدینې طرف ته روان کړو مسلم د حد نه د ډیر ظلم د وجه نه به خلقو مسرف بن عقبه په نوم باندې یادولو هغه په حره واقم کښې ډیره واچوله چه د مدینې مشرقی طرف ته واقع دې بل طرف ته حضرت عبدالله بن حنظله رضی الله عنهما میدان ته راغلوخود ریاست اوحکومت په وړاندې هغوی کلك نه شو اوهغه دخپلو اوود خامنوسره شهید شو

دمسلم بن عقبه لښکریانو ښه د قتل او تباهئی بازار ګرم کړو او ډیره بربادی نې اوکړه تقریبًا اوولس سوه انصار اودیار لس سوه قریش اوعام خلق او ماشومانو اوښځونه علاوه لس زره کسان قتل کړل مدینه منوره ئې تباه اوبرباد کړه مال اواسباب ئې لوټ کړو د پاکو اوآزادو ښځو بې عزتی ئې اوکړه اته سوو ښځویه دې زیاتی سره حمل شو هغه ماشومان چه کوم ددې حمل نه پیداشو په اولادالحرة سره به یادیدل (٢)

**حضرت عبدالله بن حنظله** رضی الله عنهما - داحضرت حنظله غسیل الملائکه خوئی دې د خپل پلار د شهادت نه نهه میاشتې پس هغه پیداشو دهغه دمور نوم جمیله بنت عبدالله بن ابی بن سلول وو حضرت عبدالله رضی الله عنه حضورپاك په اوښه باندې طواف کولوسره لیدلې دې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات په وخت دهغه عمر اوود کاله وو هغه د حضورپاك صلی الله علیه وسلم نه صرف یوروایت نقل کړې دې د کوم الفاظ چه دادی. إن رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم أمربالوضوْ لكل صلوة طاهرا أو غيرطاهر. (٣) مطلب دا چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دهرمونځ د پاره د اودس حکم ورکړې شوې ووکه هغه وخت به حضورپاك په اودس کښې وواوکه بې اودس به وو.

بل هغوی دحضرت عبدالله بن سلام، حضرت عمر او کعب احبار رضی الله عنهم نه احادیث روایت کړی دی. دهغوی نه روایت کونکوکښې صالح بن حسان مدنی، ضمضم بن جوش هفانی عباس بن سهل بن سعدساعدی، عبدالله بن أبی ملیکه، عبدالله بن یزیدخطمی انصاری و قیس بن سعد بن عبادة انصاری او اسماء بنت زید بن الخطاب رحمهم الله په خاص توګه د ذکرقابل دی.

حضرت عبدالله به دحره په واقعه کښې د انصارقائدوو اوقریشو عبدالله بن مطیع بن اسود په لاس باندې بیعت کړې وو. حضرت عبدالله د حره په ورخ ډیر په بهادرئی او خوانمردئی سره جنګ کړې وو او تر آخره پورې جنګیدلو اوخپل خامن به ئې وړاندې لیګل تردې چه اوود واړه

---

(١) معجم البلدان: ٢/٢٤٩.

(٢) رجع للتفصيل: معجم البلدان: ٢/٢٤٩وعمدة القاري: ١٤/٢٢٤.

(٣) سنن أبي داؤد:١/٨ كتاب الطهارة باب السواك رقم:٤٨.

خامن نی په دغه معرکه کښې شهیدان شو دهغوی اکثر ملګری شهیدان شوې وو کله چه د
مسلم بن عقبه فوج په مدینه کښې داخل شو هغوی هم هغه شان جهنډا نیولې وه هغه وخت
دهغوی نه چاپیره پنځه کسان هم نه وو هغوی چه کله دا ددردنه ډکه نظاره اولیدله نو خپله
زغره نې کوزه کړه میدان ته نې ورا ودانګل او تردې چه شهید شو

مروان د هغوی رضی الله عنه په نعش باندې تیریدو دهغوی د شهادت ګوته هغه وخت هم پورته اوچته
وه په دې کتو سره مروان اوونیل په خدائی چه تادا ګوته دمرګ نه پس هم اوچته کړې وی نو د
حیرانتیاخبره نه ده تاخو په ژوند کښې هم مونږ ته دغه ګوته اوچته کړې ده یعنی په مونږ دې
تنقید کړې دې

په طبقات کښې ابن سعد رحمه الله نقل کړی دی چه هغوی په خوب کښې اولیدلې شو هغوی
دیرزیات ښکلې اوښائسته لیدلې شو دهغوی علم یعنی جهنډا هغوی سره وه خوب لیدونکی
سړی معلومه کړه اې عبدالرحمن! آیا ته وژلې شوې نه وې؟ هغوی اوفرمائیل ولې نه زما خپل
رب سره ملاقات شوې زما رب زه جنت ته داخل کړم اوس زه چه د جنت په باغونو کښې څه
غواړم اوچرته تلل غواړم کولې شم ما تپوس اوکړو چه ستادهغه ملګرو څه اوشو؟ هغوی
اوفرمائیل هغه هم ماسره دی زما جهنډې سره چاره چه دهغوی غوټې هم تراوسه پورې نه دی
کولاؤ شوې (۱)

**د ابن حنظله په تعیین کښې دکرمانی رحمه الله وهم:-** علامه کرمانی رحمه الله ته د ابن حنظله په تعیین
کښې دوه وهمونه مخې ته شوی دی ① یوخودا چه هغوی اوفرمائیل چه ابن حنظله هغه سړې
دې چه د یزیدبن معاویه د طرف نه بیعت اخستلوباندې ماموروو

② یادا ابن حنظله نه مراد هم پخپله یزیددې لکه چه دا نسبت د یزیدنیکه حضرت ابوسفیان
رضی الله عنه طرف ته دې ځکه چه دهغوی کنیت ابوحنظله هم وو نوتقدیری عبارت به داسې شی ابن
أبی‌حنظلة یعنی أبی د تخفیف په توګه حذف شوې دې یادا نسبت د یزید تره حنظله بن ابی سفیان
طرف ته دې چونکه دحنظل معنی د اندرائن چه ډیر سخت تره وه میوه ده په دې وجه د
یزیدد پاره د ابن حنظله نسبت دهغه د تریخوالی اود ډیرظلم د وجه نه استعمالیدلو (۲)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی دا دواړه احتمالات غلط دی رومبې احتمال خوځکه چه ټولو
مورخینو د یزیدپه بیعت اخستلوباندې ماموسړی نوم مسلم بن عقبه لیکلې دې څوك چه به
خلقو د خپل ظلم اوستم د وجې نه مسرف یادولو اوحضرت عبدالله بن حنظله رضی الله عنه دانصارو
امیروو لکه چه عبدالله بن مطیع د قریشو اومهاجرینو امیروو اودا دواړه په دغه معرکه کښې
شهیدان شوی وو اوس راخو دویم احتمال ته چه دی ه- پخپله هم یزید مراد دی
دا احتمال ځکه غلط دې چه هم په بخاری کتاب المغازی کښې هم دغه روایت راځی د کوم
الفاظ چه دادی لما کانیوم الحرة والناس یبایعون لعبدالله بن حنظلة، فقال ابن یزید علی ما یبایع ابن

---

(۱) د دې تفصیلی حالاتود پاره اوګورئی تهذیب الکمال: ۴۳۶/۱۴ وسیر أعلام النبلاء: ۳۲۱/۳ و طبقات
ابن سعد: ۶۵/۵ والتاریخ الکبیر للبخاری: ۶۷/۵ رقم الترجمة: ۱۶۸.

(۲) شرح الکرمانی: ۱۹۹/۱۲.

حنظلة الناس (۱)

د دي تفصیل نه معلومه شو ده چه د ابن حنظله نه مراد دحضرت حنظله رضی الله عنه خوئی هم عبدالله وو چه په واقعه حره کښي د انصارو مشری کولو سره د شهادت مرتبه ته رسیدلي وو (۲)

**قوله** لاأبايع على هذا أحدا بعد رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم - د حضرت عبدالله بن زید د دې قول نه معلومیږی چه هغوی د رسول الله ﷺ په لاس مبارك باندې د مرگ بیعت کړې وو خو د دې خبرې صراحت هغوی نه دې کړې په دې وجه امام بخاری رحمه الله د روایت نه پس زر دحضرت سلمه رضی الله عنه روایت نقل کړې دې په کوم کښي چه د بیعت علی الموت تصریح ده (۳)

**بیعت علی الموت نه د انکاروجوهات** - علامه ابن بطال رحمه الله فرمائی چه د عبدالله بن زید د بیعت نه کولووجه داوه چه هغه به د فتنو په وخت کښي په کورکښي ناست وو او د یوې ډلې تائید اوحمایت نه کول ئی مناسب گڼړل لکه چه په حدیث کښي راغلی ستکون فتن القاعد فیها خیر من القائم (۴) یعني ډیر زر فتنې شروع شوې په کوم کښي چه ناست سړې به د ولاړ نه بهتروی او د بعض سلف هم دغه مذهب دې (۵)

علامه ابن المنیر رحمه الله فرمائی چه په هر مسلمان باندې لازم وه چه خپل خان قربان کړی او د نبی کریم ﷺ حفاظت اوکړی او د صحابه کرامو رضی الله عنهم دپاره داضروری وه چه رسول الله ﷺ پریخودوسره د میدان نه اونه تختی. بلکه تر آخری وخته پورې دې جنگیږی نو دا د حضورپاك خصوصیت وو د بل چا احکم نه وو چه خپل خان ورکړنی او د هغوی حفاظت اوکړنی په دې وجه حضرت عبدالله بن زید په مرگ باندې د بیعت کولو نه انکار اوکړو (۶)

**ترجمة الباب سره مطابقت**:- د دې حدیث شریف مطابقت ترجمة الباب سره د دویم جز وقال بعضهم علی الموت سره دې څکه چه د حضرت عبدالله بن زید رضی الله عنه قول چه د رسول الله ﷺ نه پس د بل چا په لاس باندې د مرگ بیعت نه کوم نه داخبره معلومیږی چه هغوی د سرورکائنات ﷺ په لاس باندې د مرگ بیعت کړې وو (۷)

---

(۱) صحیح بخاری: ۵۹۹/۲ کتاب المغازی باب غزوة الحدیبیة رقم:۴۱۶۷.
(۲) فتح الباری: ۱۱۸/۶ وعمدة القاری: ۲۲۴/۱۴.
(۳) فتح الباری: ۱۱۸/۶ وعمدة القاری: ۲۲۴/۱۴.
(۴) صحیح البخاری: ۱۰۴۸/۷ کتاب الفتن باب تکون فتنة القاعد فیها خیر من القائم: رقم: ۷۰۸۱ — ۷۰۸۲.
(۵) شرح ابن بطال: ۱۳۲/۵.
(۶) فتح الباری: ۱۱۹/۶.
(۷) عمدة القاری: ۲۲۴/۱۴.

احدیث نمبر ۲۸۰۰[۱] حَدَّثَنَا الْمَكِّي بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ أَبِي عُبَيْدٍ عَنْ سَلَمَةَ - رضی الله عنه - قَالَ بَايَعْتُ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - ثُمَّ عَدَلْتُ إِلَى ظِلِّ الشَّجَرَةِ، فَلَمَّا خَفَّ النَّاسُ قَالَ «يَا ابْنَ الأَكْوَعِ، أَلاَ تُبَايِعُ». قَالَ قُلْتُ قَدْ بَايَعْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ «وَأَيْضًا». فَبَايَعْتُهُ الثَّانِيَةَ. فَقُلْتُ لَهُ يَا أَبَا مُسْلِمٍ، عَلَى أَيِّ شَيْءٍ كُنْتُمْ تُبَايِعُونَ يَوْمَئِذٍ قَالَ عَلَى الْمَوْتِ.[۶۷۸۲، ۶۷۸۰، ۳۹۳۶]

حضرت سلمه بن اکوع رضی الله عنه فرمائی چه ماذ رسول الله ﷺ په لاس مبارك باندې بیعت اوکړو بیازه د یوې ونې لاندې لاړم کیناستم کله چه د خلقو ګڼړه خوره شوه نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل اې د اکوع خویه آیا ته بیعت نه کوې؟ ما اووئیل چه حضرت ما خو اوکړو حضور پاك اوفرمائیل یو خل بیا نو ما دوباره بیعت اوکړو. راوی یزید بن ابی عبید وائی چه ما اووئیل اې ابومسلم ،دحضرت سلمه رضی الله عنه کنیت دې، تاسو حضراتو به د څه څیز بیعت کولو؟حضرت سلمه رضی الله عنه اوفرمائیل مونږ خلقو به د مرګ بیعت کولو.

**یولسم ثلاثی حدیث:-** ثلاثی حدیث مطلب داوی چه د راوی او نبی کریم ﷺ په مینځ کښې صرف درې واسطې وی[۲] لکه چه د سند نه واضح دی.

**دحضرت سلمه رضی الله عنه نه د دوو ځلو بیعت اخستلو وجه:-** علامه ابن بطال رحمه الله فرمائی چه د بیعت د تکرار مقصد د بیعت تاکید او پوخوالې دې ځکه چه حضرت سلمه رضی الله عنه په بهادرئی مال دارئی او ثابت قدمئی کښې یو امتیازی حیثیت لرلو په دې وجه دهغه نه په دویم ځل بیعت واخستلې شو[۳] حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه حضرت سلمه رضی الله عنه یولوئی جانباز او مجاهد وو. سوربه هم جنګیدو او پیاده به هم جنګیدو لکه چه هغه د مجاهدینو قائم مقام وو نو حضور پاك ﷺ دهغه نه په دویم ځل بیعت واخستلو.[۴]

مولانا رشید احمد ګنګوهی فرمائی د حضرت سلمه رضی الله عنه نه دوه ځل بیعت اخستلو کښې حکمت دا دې چه د بهادرانو او جانبازانو بیعت کښې شدت اهتمام د دښمنانو د پاره د ویرې او دهمکئی سبب وی ځکه چه بهادر سړې کله د دې خبرې عهد اوکړی چه هغه به ترمرګه پورې جنګیږی نو هغه د ازمیښتونو پرواه نه کوی بلکه په میدان کښې کلك ولاړ وی او خپل ځان په داؤ لګوی ښکاره خبره ده چه د داسې بهادر سړی د ثابت قدمئی او نه ویریدو سره به د دښمن کافی نقصان کیږی.[۵]

---

[۱]) أخرجه البخاری ایضًا فی صحیحه :۵۹۹/۲ فی کتاب المغازی باب غزوة الحدیبیه: رقم:۴۱۶۹وفی الاحکام ۷/۱۰۶۹ –۱۹۷۰فی کتاب الامارة باب استحباب مبایعة الامام الجیش عند إرادة القتال رقم: ۱۸۶. والترمذی فی جامه: ۲۸۸/۱ فی السیر باب ماجاء فی بیعة النبی صلی الله علیه وسلم: رقم: ۱۹۵۲.

[۲]) راجع للتفصیل. کشف الباری :۲۵/۱.

[۳]) شرح ابن بطال: ۱۳۰/۵.

[۴]) فتح الباری:۱۱۹/۶.

[۵]) لامع الدراری: ۲۵۶/۷.

شیخ الحدیث مولانا زکریا رحمه الله مختلف اقوال نقل کولونه پس فرمائی چه د حضرت گنگوهی رحمه الله دا توجیه ډیره بهتره ده (۱)

احدیث نمبر ۲۸۰۱](۲) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ حُمَيْدٍ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسًا - رضی الله عنه - يَقُولُ كَانَتِ الأَنْصَارُ يَوْمَ الْخَنْدَقِ تَقُولُ:

نَحْنُ الَّذِينَ بَايَعُوا مُحَمَّدَا عَلَى الْجِهَادِ مَا حَيِينَا أَبَدَا

فَأَجَابَهُمُ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ:

اللَّهُمَّ لاَ عَيْشَ إِلاَّ عَيْشُ الآخِرَهْ فَأَكْرِمِ الأَنْصَارَ وَالْمُهَاجِرَهْ

کتاب الجهاد باب حضر الخندق لاندې داحدیث اول تیرشوې دې

**دحدیث ترجمة البابسره مطابقت** - ددې حدیث شریف ترجمة الباب سره مطابقت د صحابه کرامو رضی الله عنهم قول علی الجهاد ماحیینا ابدا نه ماخوذ دې ځکه چه ترژونده پورې د جهاد کولوهم دغه معنی ده چه هغه به د جنګ نه هیڅ کله نه تختی (۳)

احدیث نمبر ۲۸۰۲](۴) حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ سَمِعَ مُحَمَّدَ بْنَ فُضَيْلٍ عَنْ عَاصِمٍ عَنْ أَبِي عُثْمَانَ عَنْ مُجَاشِعٍ - رضى الله عنه - قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - أَنَا وَأَخِي فَقُلْتُ بَايِعْنَا عَلَى الْهِجْرَةِ. فَقَالَ «مَضَتِ الْهِجْرَةُ لأَهْلِهَا». فَقُلْتُ عَلاَمَ تُبَايِعُنَا قَالَ «عَلَى الإِسْلاَمِ وَالْجِهَادِ».[۲۹۱۳، ۴۰۵۴، ۴۰۵۵]

**مجاشع بن مسعود رضی الله عنه** - دامجاشع بن مسعود بن ثعلبه بن وهب اسلمی رضی الله عنه دې د دوی نسب د مضربن نزار په واسطه جناب رسول کریم صلی الله علیه وسلم سره ملاویږی. دهغه د رور نوم مجالد بن مسعود رضی الله عنه دې د دوی د موربی بی نوم ملیکة بنت سفیان دې هغه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه دوه احادیث نقل کړی دی. امام بخاری مسلم ابوداؤد اوترمذی رحمهم الله د ده روایات نقل کړی دی. د دوی نه روایت کونکی ابوساسان حصین بن منذر رقاشی، عبدالملک بن عمیر، کلیب بن شهاب جزمی، رافع بن خدیج رضی الله عنه وراره یحیی بن اسحاق او ابوعثمان نهدی رحمهم الله وغیره دی (۵)

---

۱) حاشیة اللامع: ۲۵۶/۷.

۲) قدمر تخریجه فی کتاب الجهاد باب التحریض علی القتال وقول الله عزوجل: ﴿حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ﴾ (الانفال:۶۵) رقم: ۲۸۳٤.

۳) عمدة القاری: ۲۲۵/۱٤.

٤) أخرجه البخاری فی کتاب الجهاد باب لا هجرة بعد الفتح، رقم: ۳۰۷۸ وفی کتاب المغازی باب بلاترجمة بعد باب مقام النبی صلی الله تعالی علیه وسلم بمکة زمن الفتح رقم:٤۳۰۵ – ٤۳۰۸ ومسلم فی کتاب الامارة باب المبایعة بعد فتح مکة علی الاسلام والجهاد والخیر وبیان معنی لاهجرة بعدالفتح رقم: ۱۸۶۳ ومسنداحمد ٤۶۸/۳ – ٤۶۹.

۵) تهذیب الکمال فی اسماء الرجال: ۲۱٤/۲۷.

**د حضرت مجاشع رضي الله عنه اسن** - علامه کرماني رحمه الله ليکي دي چه حضرت مجاشع رضي الله عنه به د اسونو په مقابله کښې شرکت کولو يوځل دهغه اس پنځوس زره دينار په انعام کښې حاصل کړل (۱)
حضرت مجاشع رضي الله عنه په واقعه جمل کښې شهيد شوې (۲)

**د حديث تشريح** - حضرت مجاشع رضي الله عنه فرمائي چه زه د خپل رور سره د رسول الله صلى الله عليه وسلم دربارته حاضرشوم اوعرض مې اوکړو يارسول الله صلى الله عليه وسلم زمونږ نه په هجرت کولوباندې بيعت واخله نوحضوروپاك اوفرمائيل هجرت خو مهاجرينو سره ختم شو نوماعرض اوکړو نوبيابه تاسو زمونږ نه د څه څيز بيعت اخلئ؟ نبي کريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل په اسلام او جهاد باندې بيعت.

**واخې** - دحضرت مجاشع رضي الله عنه د رور نوم مجالد رضي الله عنه او ابومعبد کنيت دې (۳) د فتح مکه نه پس مسلمان شوې (۴) هغوي د نبي کريم صلى الله عليه وسلم نه صرف يو روايت نقل کړې دې چه ابوعثمان نهدي رحمه الله دهغوي نه نقل کوي.(۵)

عمرو بن علي فرمائي چه ماته دهغه د يومستقل روايت علم نشته البته کوم روايت چه دهغوي نه مروي دې هغه په اصل کښې دخپل رور مجاشع رضي الله عنه د روايت تصديق دې (۶)
دابوعثمان نهدي رحمه الله مطابق حضرت مجالد رضي الله عنه د حضرت مجاشع رضي الله عنه نه په عمرکښې زيات وويعني مشروو (۷)

**د قصو وئيلومذمت** - حافظ ابن حجر رحمه الله دحضرت حسن بصري رحمه الله په حواله سره دهغوي يوه واقعه نقل کوي چه کله بصره کښې اسود بن ذريع د قصوکولو شروع اوکړه نو يوه هنګامه راوچته شوه حضرت مجالد بن مسعود يوځل د قصوکولومجلس ته تشريف راوړو نوخلقو د احترام د وجه نه هغوي ته ځائې ورکړو بيا حضرت مجالد رضي الله عنه دغه خلقو ته مخاطب شو ونې فرمائيل په خدائې زه دلته تاسو له تاسو سره کيناستودپاره نه يم راغلې ليکن زه ګورم چه تاسو خلقو يوداسې کارشروع کړې دې کوم چه مسلمانان ناخوښه کوي زه تاسو ته تنبيه درکوم د داسې کارونو نه بچ شئې کوم چه مسلمانان ناخوښه کوي اونفرت ترې کوي (۸) ابن حبان رحمه الله فرمائي چه هغوي ۳۶ هجري واقعه جمل کښې شهيدشوې (۹) خوحافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي په واقعه جمل کښې شهيد کيدونکې دهغه رور حضرت مجاشع رضي الله عنه دې او

---

۱) شرح الکرمانيک ۱۷/۲۰۰.
۲) تقريب التهذيب ص: ۵۲۰.
۳) تهذيب الکمال: ۲۷/۲۲۷.
٤) عمدة القاري: ۱٤/۲۲۵.
۵) خلاصه خزرجي ص: ۳۶۹.
۶) تهذيب التهذيب: ۱۰ ٤۱-٤۰.
۷) تهذيب التهذيب: ۱۰/٤۱.
۸) الاصابة: ۳/۳۶۳.
۹) الثقات لابن حبان: ۵/٤٤۸.

مح ند رحمه الله تر ۲۰ هجری پورې ژوندي وو (۱)

عَلاَمَ - دا په اصل کښې علی ما؟ وو ما استفهامیه اوما خبریه ،موصوله تامه وغیره کښې فرق واضح کولو دپاره دلته تخفیف کولوسره علام فیم إلام ونیلي شی، اوقاعده داده چه کله ما استفهامیه مجرور وی نو په هغې کښې تخفیف ضروری دی لکه ﴿عَمَّ يَتَسَآءَلُونَ﴾ (۲).

**ترجمة الباب سره مطابقت** - د حدیث شریف ترجمة الباب سره مطابقت د حضورپاك ﷺ قول والجهاد کښې دې په دې وجه دصحابه کرامو رضي الله عنهم د جهاد بیعت هم د دې مقصد دپاره شوې وو چه هغوی به د میدان نه تیخته نه کوی بلکه ترمرګه به جنګیږی (۳) والله اعلم وعلمه اتم واحکم

## باب ۱۱۰: عزم الامام علی الناس فیما یطیقون

**دَ ترجمة الباب مقصد** - امام بخاری رحمه الله په دې باب بیانولو سره دابیانول غواړی چه دامام اطاعت په اندازه دَ طاقت واجب دې. امام له پکاردی چه هغه خپلو ماتحتانوته دَ حکم ورکولو په وخت دَدې خبرې خیال اوساتی چه دَخلقو دپاره هغه حکم قابل عمل هم وی اودهغوی دَ طاقت نه بهرهم نه وی. (۴)

[حدیث نمبر ۲۸۰۳] حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ أَبِي وَائِلٍ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ - رضی الله عنه - لَقَدْ أَتَانِي الْيَوْمَ رَجُلٌ فَسَأَلَنِي عَنْ أَمْرٍ مَا دَرَيْتُ مَا أَرُدُّ عَلَيْهِ، فَقَالَ أَرَأَيْتَ رَجُلاً مُؤْدِيًا نَشِيطًا، يَخْرُجُ مَعَ أُمَرَائِنَا فِي الْمَغَازِي، فَيَعْزِمُ عَلَيْنَا فِي أَشْيَاءَ لاَ نُحْصِيهَا. فَقُلْتُ لَهُ وَاللَّهِ مَا أَدْرِي مَا أَقُولُ لَكَ إِلاَّ أَنَّا كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ - صلی الله علیه وسلم - فَعَسَى أَنْ لاَ يَعْزِمَ عَلَيْنَا فِي أَمْرٍ إِلاَّ مَرَّةً حَتَّى نَفْعَلَهُ، وَإِنَّ أَحَدَكُمْ لَنْ يَزَالَ بِخَيْرٍ مَا اتَّقَى اللَّهَ، وَإِذَا شَكَّ فِي نَفْسِهِ شَيْءٌ سَأَلَ رَجُلاً فَشَفَاهُ مِنْهُ، وَأَوْشَكَ أَنْ لاَ تَجِدُوهُ، وَالَّذِي لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ مَا أَذْكُرُ مَا غَبَرَ مِنَ الدُّنْيَا إِلاَّ كَالثَّغْبِ شُرِبَ صَفْوُهُ وَبَقِيَ كَدَرُهُ.

## رجال الحدیث

① **عثمان بن ابی شیبه** - داعثمان بن محمدبن قاضی ابوشیبة ابراهیم بن عثمان عبسی کوفی رحمه الله دی

② **جریر** - داجریر بن عبدالحمید بن قرط ضبی رازی رحمه الله دی.

③ **منصور** - دامنصور بن معتمر ابوعتاب سلمی کوفی رحمه الله دی دَ دې دریواړو حضراتو

---

(۱) تهذیب التهذیب: ۴۱/۱۰ وتقریب التهذیب ص:۵۲۰.
(۲) عمدة القاری: ۲۲۵/۱۴.
(۳) عمدة القاری: ۲۲۵/۱۴.
(۴) عمدة القاری: ۲۲۵/۱۴.

حالات كتاب العلم باب من جعل لاهل العلم ايا ما معلومة لاندې تيرشوى دى.[1]

④ ابووائل - دا ابووائل شقيق بن سلمه اسدى كوفى رحمه الله دې دَ دوى حالات كتاب الايمان باب خوف المؤمن من أن يحبط عمله وهو لا يشعر لاندې تيرشوى دى.[2]

⑤ عبدالله بن مسعود رضي الله عنه - دامشهور صحابى حضرت عبدالله بن مسعود هذلى دې دَ دوى تذكره كتاب الايمان باب ظلم دون ظلم لاندې تيره شوې ده.[3]

**دَ حديث مفهوم** - حضرت عبدالله رضي الله عنه فرمائى چه نن ماله يوسړې راغلو هغه زمانه دَ يوخيزې تپوس اوکړو ماته نه ده معلومه چه زه هغه ته څه جواب ورکړم؟ هغه اووئيل چه که يوتکړه او مسلح سړې دغه امراؤ سره په جنګونو کښې اوخى اوهغوى ده ته دَ داسې کارونوحکم ورکوى چه هغه ئې نه شى کولې نوتاسو ماته اووايئى چه په دغه سړى باندې دَ داسې احکامو پوره کول ضرورى دى؟ نوما هغه ته اووئيل په الله قسم چه ماته نه ده معلومه چه زه تاته څه جواب درکړم. مونږ خو به نبى کريم صلى الله عليه وسلم سره وو ډيرکم به حضورپاك مونږ ته دَ يوخيز حکم راکولو چرته کله به ئې فرمائيل نوهغه به ئې هم يوځل فرمائيل اومونږ به زر هغه پوره کړو يادساتئى په تاسو خلقو کښې به ترهغه وخته پورې خير وى ترکوم وخته پورې چه تاسو دَ الله تعالى نه ويريږئى. اوکله چه ستاسو په زړه کښې دَ يوخيزباره کښې شك پيداشى (چه کول پکاردى که نه) نوچرته دَداسې سړى نه تپوس اوکړئى چه ستاسو تسلى اوشى. اوهغه وخت هم راتلونکې دې چه څوك داسې سړې هم (چه صحيح صحيح مسئلې اوښائى)به تاسو ته نه ملاويږى. دهغه ذات قسم دَ چانه بغيرچه بل معبود نشته څومره دنياچه باقى پاتې ده هغه دَ وادئ دهغه اوبوپه شان ده دَ کومې ښه اوصفا حصه خو څکلې شوې ده اوخيرنې اوبه پاتې دى.

علامه مهلب رحمه الله فرمائى چه داحديث دَ امام او هغه مقررکړې شوى کسانو په اطاعت باندې دلالت کوى اودَ هغې اهميت بيانوى. دلته دَ سائل داپښتنه کول چه آيا چرته څه داسې صورت راوتلې شى په کوم کښې چه ګنجائش وى چه هغه دې امير اطاعت نه کوى اودَ امراء داحالت وى چه هغوى دې خپل ماتحتان تکليف مالايطاق باندې مجبور کړى. اودَحضرت ابن مسعود رضي الله عنه په فتوىٰ ورکولو کښې احتياط کول دَدې خبرې دليل دې چه دَامام اطاعت ډيراهم دې

**په ناجائزکارونوکښې دَ امام دَ اطاعت حکم** - په داسې حالاتوکښې چه کله مامور دَ حکم په ځائى راوړلوباندې قادرنه وى نودَدې څه حکم دې؟ دا رسول الله صلى الله عليه وسلم بيان کړې دې په کتاب المغازى کښې حديث راروان دې په کوم کښې چه عبدالله بن حذافه انصارى رضي الله عنه خپلو مامورينوته په اور کښې دَ ورداننګلو حکم ورکړې وو.[4]

کله چه داحضرات واپس حضورپاك له راغلل اوهغوى واقعه واؤريده نو په دې باندې ئې نکير

---

[1] ) كشف البارى: ٣/٢٢٩ - ٢٣٤.

[2] ) كشف البارى: ٢/٥٥٩.

[3] ) كشف البارى: ٢/٢٥٧.

[4] ) صحيح البخارى ٢/٢٧٢ كتاب المغازى باب سرية عبدالله بن حذافة السهمى رقم الحديث: ٤٣٤٠.

فرمانیلو سره اوفرمائیل لودخلتموها ماخرجتم منها أبدا أنما الطاعة فی المعروف یعنی که چرې تاسو ورته وردانگلي وې نوکله به هم د دې نه راوتلي نه وئي اطاعت خو صرف په نیکو کارونوکښې دې بل دالله تعالی ارشاد ﴿ لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ﴾ (۱) هم په دې باره کښې واضح دې انسان خو صرف د هغه خبرو مکلف دې د کوموچه هغه طاقت لری (۲)

**د حضرت عبدالله د توقف وجه** -حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه په جواب ورکولوکښې د اشارې نه کار اخستي دې لکه څنګه چه هغوی فرمائي مونږ ته خو به رسول الله ﷺ کله کله د حکم راکولوضرورت محسوس کولو نومونږ به زر د حکم تعمیل کولواو سستی به مونه کوله ددې خبرې نه اشاره ملاویږی چه دامیراطاعت کول پکاردی خو په صورت مسؤله کښې څه کول پکاردی؟ ددې صراحت نه ملاویږی آخر ابن مسعود رضی الله عنه په صراحت سره ولې جواب ورنه کړو؟

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی کله چه امیر یولښکر د جهاد یا بل څه اهم مهم دپاره تشکیل کوی نوهغه لښکروالا د دې مهم دپاره متعین کیږی اوهغه ذمه واری د هغوی دپاره د فرض عین په شان درجه اختیاره وی. اوس که په سپاهیانو کښې یوسړې داګیله کوی چه امیر مونږ هسې بې ځایه د احکاماتو پوره کولوباندې مجبوره وی نود مفتي دپاره یود لار اختیارول مشکل کیږی که مفتی د وجوب طاعت فتوی ورکوی نود زماني د فساد د وجه نه مسئله جوړیږی څکه چه اکثرحکمرانان هم ظالمان وی اوکه د عدم وجوب طاعت فتوی نی ورکړه نوداهم د فتنه سبب دې د چا زړه چه نه غواړی د مشکل مهماتونه پاتې کیدو دپاره به زر بهانه کوی چه زه دا نه شم برداشت کولي اودا زما د طاقت نه بهردې او په تکلیف مالایطاق کښې دامیراطاعت واجب نه دې د غه شان به ډیرزیات معاملات د خواهشاتوتابع کیدو سره هم د غه شان پاتې شي په دې وجه حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه په جواب ورکولوکښې توقف نه کار واخستلو اود خاص صورت مسؤله د جواب ورکولوپه ځائی عمومی جواب ورکړو که د امیرحکم د تقوی موافق وو نو اطاعت ضروری دې (۳)

**یو فقهی قاعده**:- دې حدیث شریف نه یو فقیهی قاعده هم مستنبط کیږی هغه دا چه که د یوې مسئلې مختلف اړخونو او د یو اړخ ترجیح ورکول مشکل وی نومفتی له پکاردی چه هغه په دغه مسئله کښې توقف اختیارکړی لکه څنګه چه دلته عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه توقف نه کار اخستي دې (۴)

**د حدیث د بعض اړخونوتشریح** أتاني اليوم رجلٌ داسړې څوك وو؟ د دې تعین اونه کړې شو.

**ما دريت ما أراد عليه** - زما په خیال کښې نه راځی چه زه ده ته څه جواب ورکړم؟

---

۱) سورة البقرة:۲۸۶.

۲) شرح ابن بطال:۵/ ۱۳۲ — ۱۳۳.

۳) فتح الباري: ۵/ ۱۲۰ ملخصًا وأرشاد الساري: ۵/ ۱۲۲.

۴) فتح الباري: ۵/ ۱۲۰ ملخصًا وأرشاد الساري: ۵/ ۱۲۲.

دری: درایة ودریة پیژندل پوهیدل دَ باب رمی ونیل شی لاأدری زه نه پوهیږم ماأرد علیه:۔ داموصوله دي پوره جمله محل نصب کښې مفعول به واقع کیږی درېت دَ فعل دپاره دي [۱]

رجلامؤدیا أی ذاأداةللحرب یعنی مسلح وو علامه کرمانی رحمه الله قویا متمکنا یعنی طاقت ور او په دښمن باندې قابوبیاموندونکې بیان کړې دي [۲] ږومبې مطلب زیات واضحه دې اودویم تفسیر باللازم دې څوك چه په وسله باندې پوره وی هغه به طاقتور او قابو بیاموندونکې هم وی [۳] دا مهموز دې دَ دې همزه حذف کول ناجائزدی ځکه چه بیا به مودیا نه التباس لازم راځی دَ کوم معنی چه هلاك کیدونکې ده [۴]

یخرج مع أمرائنا ۔ یعنی هغه په جنګونوکښې زمونږ حاکمانو سره اوځی علامه کرمانی رحمه الله فرمانی دَ قیاس تقاضا خودادهٔ چه یخرج مع أمرائه وی ځکه چه دې نه وړاندې فعل رجلا ذکردې نو أمرائه ضمیر رجلا طرف ته به راجع وی خو دلته دَالتفات نه کاراخستې شوې دې دَ رجلا معنی أحدنا دې یا رجلا صفت محذوف دې تقدیرعبارت داسې دې رجلا منا یخرج منا أمرائنا [۵] حافظ ابن حجر رحمه الله فرمانی چه بعض روایاتوکښې یخرج مع أمرئنا واردشوې دې په دې صورت کښې التفات عن الغائب الی المتکلم به وی [۶]

دَالتفات مطلب ۔ درې صیغې دی متکلم مخاطب او غائب اوس خبرې کونکې دَ دریواړو صیغونه یوه تعبیرکولو سره دَ دویمې صیغې طرف ته خلاف ظاهر دَخپلې خبرې رخ تاؤکړی نودې ته به التفات وئیلې شی لکه دَالله تعالی اراشاد ﴿ وَمَا لِیَ لَآ اَعْبُدُ الَّذِیْ فَطَرَنِیْ وَاِلَیْهِ تُرْجَعُوْنَ﴾ [۷] نودلته دَ ماقبل په مناسبت سره والیه أرجع کیدل پکاردی خو خلاف ظاهر صیغه متکلم نه صیغه دَ خطاب طرف ته التفات کړې شوې دې التفات دَعلم بدیع یوقسم دې دَ کوم مقصد چه اوریدونکې بیداروَل دی او په هغه کښې نشاط پیداکول وی ځکه چه هم په یوه طریقه سره خبره کولوسره اوریدونکې ستړې کیږی [۸]

لانحصیها ۔ دَ دې جملې دوه مطلبونه بیان کړې شوی دی ① لانطیقها یعنی مونږ دَدې طاقت

---

[۱] عمدة القاری: ۲۲۶/۱٤ وفتح الباری: ۱۱۹/۶.
[۲] شرح الکرمانی ۲۰۰/۱۲.
[۳] فتح الباری: ۱۱۹/۶.
[۴] فتح الباری: ۱۱۹/۶.
[۵] شرح الکرمانی ۲۲۰/۱۲.
[۶] فتح الباری: ۶/۱۱۹.
[۷] سورة یس: ۲۲.
[۸] مختصر المعانی بحث الالتفات ص: ۱۵٤ قدیمی.

او قدرت نه لرو دَدي معنى تائيد فرمان الهى ﴿ عَلِمَ أَنْ لَنْ تُحْصُوهُ ﴾ [1] سره هم كيږى
② دويمه معنى دا بيان كړې شوې ده چه مونږ داتعين نه شوكولې چه په داسې كارونوكښې دحكمرانانو خبره منل نيكى ده كه بدى په دې كښې ثواب دې كه گناه؟
**د دواړو مطلبونو توجيه** حافظ ابن حجر رحمه الله فرمانى چه دواړه مطلب د امام بخارى رحمه الله ترجمة الباب سره مطابق دې د كوم الفاظ چه دادى **فيمايطيقون** چنانچه لاتحصيها معنى لاتطيقها شوه او دويم مطلب دحضرت ابن مسعود رضي الله عنه قول **إذا شك فى نفسه شئ سال رجلا فشفاه منه** موافق دې يعنى دا دتقوى نښه ده چه كومه خبره زړه ته نه لگى او شك پيداكوى نو په هغه خبره باندې ترهغه وخته پورې عمل مه كوه تركومې چه د يوعالم نه په تپوس كولوسره تسلى اونه كړى [2]
**إذاشك فى نفسه شئ** - دَ شك په معنى كښې دلته دوه احتماله دى ① **شك** په معنى دَ حق دلزم اينختل ليكيدل دَ يوڅيز بل څيز سره كيدل [3]
②شك يعنى شبه پيداكيدل دَدې احتمال په صورت كښې په عبارت كښې قلب يعنى تقديم اوتاخيرشوې دې اصل عبارت داسې دې **إذا شك نفسه فى شئ**.يعنى كه دهغه زړه په څه خبره كښې شك شبه محسوس كړى..... [4]
**فشفاه منه** -دا جزاء شرط دې يعنى كه په زړه كښې دَ يوې خبرې باره كښې شك پيداشى چه داكاركول پكاردى كه نه؟ نوهغه له پكاردى چه دَ يوعالم نه تپوس اوكړى چه دَده شك او تردد لرې كولوسره دې مطمئن كړى [5]
داد اضدادنه دې الزمان الغابر يعنى هغه زمانه چه تيره شوې يا هغه زمانه كومه چه باقى ده په دواړو معنوكښې استعماليږى [6] په دې عبارت كښې د دواړو معنواحتمال دې يعنى ابن مسعود رضي الله عنه دَ زمانه ماضى تشبيه ثغب سره وركوى يا دَ باقى زمانې تشبيه بيانوى علامه ابن جوزى رحمه الله دَماضى معنى راجح گرځولې ده خكه چه دې نه وړاندې ماأذكرراغلى دې دَ كوم معنى چه ماته نه ياديږى كومه زمانه چه تيره شوې ده مگر دَ دې مثال داسې دې لكه هغه اوبه چه د كومې صفا حصه ځكلې شوې ده او خيرنه حصه ئى پاتې ده [7] لكه چه دَ تيرې شوې زمانې تشبيه ئى صفا اوبوسره وركړې ده اودموجوده زمانې تشبيه ئى گنده اوخيرنواوبوسره وركړې ده.

---

[1] ) سورة المزملک ۲۰.
[2] ) فتح البارى:۱۱۹/۶.
[3] ) لسان العرب ۴۵۲/۱۰ فصل الشين المعجمة.
[4] ) عمدة القارى: ۲۲۶/۱۴
[5] ) عمدة القارى: ۲۲۶/۱۴
[6] ) شرح الكرمانى ۲۰۱/۱۲.
[7] ) عمدة القارى:۱۴/۲۲۷

کالثغب:- بفتح الثاء المثلثة وسکون الغین المعجمة ویجوز فتحها یعنی غین فتح سره لوستل هم جائزدی ددې جمع ثغاب په وزن د کتاب او اثغاب په وزن د اصحاب راځی اوچه غین مفتوح وی نوددې جمع ثغبان وثغبان بکسرالثاء وضمها دواړه شان راځی ثغب هغه تالاب ته وانی چه د غریه لمن یعنی سوری کښې وی اونمر هلته نه لګی او په دغه وجه باندې دهغې اوبه صفا یخې او ښکلې وی.[1]

**قوله: ذهب صفوه وبقي کدره:-** یعنی حضرت ابن مسعود رضی الله عنه د باقی پاتې دنیاژوندله دغه تالاب سره تشبیه ورکړې ده د کوم صفا اوبه چه ختمې شوی دی اوګنده اوبه ئې باقی پاتې شوی دی

**د غورقابل خبره:-** اوس دلته داخبره د غور قابله ده که دحضرت عبدالله اندازه دخپل وخت باره کښې داسې وه چه دهغه انتقال دحضرت عثمان رضی الله عنه د شهادت او عظیم فتنو واقع کیدو نه وړاندې شوې دې نوزمونږ ددې زمانو اوحالاتو باره کښې به دهغوی څه اندازه وه اودهغوی به څه رائې وه ؟[2] بل ابن مسعود رضی الله عنه په دې حدیث کښې دعلماء حق قلت اودخلقو د طریقې نه په کوم چه هغوی رسول الله ﷺ پریخودې ووداِنحراف شکوه کوی[3] الله تعالی دې مونږ سره دخپل عافیت اودخپل خصوصی فضل اوکرم معامله اوکړی آمین

**ترجمة الباب سره مطابقت:-** دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ددې اثر ترجمة الباب سره مطابقت ددې جملې نه ماخوذ دې فیعزم علینا فی أشیاء لانحصیها[4] اوشاته مونږ بیان کړې دې چه د لانحصیها مطلب دلته لانطیقها دې لکه څنګه چه په ترجمة الباب کښې هم فیما لایطیقون استعمال شوې دې والله اعلم بالصواب

## باب ۱۱۱: کان النبی ﷺ إذا لم یقاتل أول النهار أخر القتال حتی تزول الشمس

**د ترجمة الباب مقصد:-** امام بخاری رحمه الله دلته دابیان کول غواړی چه که حضور اکرم ﷺ به د ورځ په شروع کښې د جنګ نه شروع کولو نو رسول الله ﷺ به جنګ روستو کولو. بیا د آفتاب د زوال نه پس به حضورپاك جنګ کولو دې نه معلومه شوه چه دواړه اوقات ټیك دی د موقع مناسبت سره چه څنګه هم وی که اول نهاروی، بیا په اول نهارکښې د صبح صادق د طلوع کیدو وخت ډیر اولی او غوره دې ځکه چه دادشمن دغفلت وخت وی اودغه وخت د یخو یخو هواګانو وی. اوکه دڅه عارض د وجې نه د سحروخت د جنګ شروع اونه کړې شی نود

---

[1] ) مصباح اللغات ص:۹۳وعمدة القاری: ۱٤/۲۲۷.
[2] ) عمدة القاری: ۱٤/۲۲۷ وفتح الباری:۶/۱۲۰.
[3] ) شرح ابن بطال: ۵/۱۳۳.
[4] ) عمدة القاری ۱٤/۲۲۶.

زوال نه پس شروع کېدل پکاردی بهرحال په دې معامله کښې وسعت دې په دواړو وختونو کښې چه کوم مناسب وی په هغې کښې جنګ شروع کولې شی

**دَ افتاب دَ زوال پورې دَ جنګ روسته کولوحکمتونه** ① چونکه اکثرهواګانې دَ زوال دَنمر نه پس چلیږی نوجنګ کونکی ډیرسترپوالې نه محسوس کوی اونه هغوی له زیات مشقت کول وی خکه چه هغه وخت دَوسلې اودمیدان دَ ګرموالی نه هغوی بچ وی اوبدنی چست او سپک وی اوداقسم صورت حال په جنګ کښې ډیره فائده ورکوی (۱)

② علامه مهلب رحمه الله فرمائی په اصل کښې دَ رسول الله ﷺ داعمل دَحضورپاك دَ قول تفسیردې په کوم کښې چه حضورپاك خپل امتیازی صفات بیان کړی دی ارشاد نبوی ﷺ دې نصرت بالصباء وأهلك عاد بالدبور (۲) یعنی دَ بادصبا په ذریعه زما امدادفرمائیلې دې اودَ عاد قوم دَبورد وجه نه تباه شو

نبی کریم ﷺ دَ نیك فالئی په توګه په دې اوقاتوکښې جنګ شروع کول خوښول دې دَپاره چه دَ حدیث مطابق دَهواګانو په ذریعه دَ هغوی امدادوی او دښمن ته ماتې وی (۳) ددې خبرې تائید دَحضرت نعمان بن مقرن مزنی رضی الله عنه روایت سره هم کیږی دَ کوم الفاظ چه دادی فقال النعمان: ربما أشهدك مثلها مع النبی صلی الله علیه وسلم فلم یندمك ولم یخزك، ولکنی شهدت القتال مع رسول الله صلی الله علیه وسلم، کان إذا لم یقاتل فی أول النهار انتظر حتی تهب الارواح وتحضر الصلوات (۴)

یعنی نعمان اووئیل الله تعالی تاسو له په داسې جنګونوکښې دَ رسول الله ﷺ سره دَ شرکت توفیق درکړې دې کوم چه نه تاسو شرمنده کړئی اونه ذلیل زه رسول الله ﷺ سره په جنګ کښې شریك ووم (طریقه داود) که حضورپاك به سحر وختی دَ جنګ شروع اونه کړه نو (دَنمر دَزوال پورې) انتظارکولو تردې چه هواګانې چلیږی او مونځونو (ماسپښین اومازیګر) وخت به راؤرسیدو.

ددې حدیث نه معلومیږی چه نبی کریم ﷺ به دَ مونځونودَوختونو هم انتظارکولو اوښکاره خبره ده چه دَمونځونو وختونه غوره وختونه دی په کوموکښې چه دعاګانې قبلیږی چه خلق مونځونه کوی نودَ لښکردَ فتح دَپاره به دعاګانې هم کوی.

[حدیث نمبر ۲۸۰۴] (۵) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ عَمْرٍو حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ عَنْ سَالِمٍ أَبِي النَّضْرِ مَوْلَى عُمَرَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ وَكَانَ كَاتِبًا لَهُ

---

۱) عمدة القاری ۱۴/۲۲۶.

۲) صحیح البخاری:۱/۱۴۱ أبواب الاستسقاء باب قول النبی صلی الله تعالی علیه وسلم: نصرت بالصبا رقم الحدیث: ۱۰۳۵.

۳) شرح ابن بطال: ۵/۱۳۴.

۴) صحیح البخاری: ۱/۴۴۶ کتاب الجزیة والموادعة باب الجزیة والموادعة أهل الذمة والحرب رقم:۳۱۶.

۵) قد مر تخریجه فی کتاب الجهاد باب الجنة تحت بارقة السیوف رقم:۲۸۱۸.

قَالَ كَتَبَ إِلَيْهِ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ أَبِي أَوْفَى - رضي الله عنهما - فَقَرَأْتُهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صلى الله عليه وسلم - فِي بَعْضِ أَيَّامِهِ الَّتِي لَقِيَ فِيهَا انْتَظَرَ حَتَّى مَالَتِ الشَّمْسُ. ثُمَّ قَامَ فِي النَّاسِ قَالَ «أَيُّهَا النَّاسُ، لاَ تَتَمَنَّوْا لِقَاءَ الْعَدُوِّ، وَسَلُوا اللّٰهَ الْعَافِيَةَ، فَإِذَا لَقِيتُمُوهُمْ فَاصْبِرُوا، وَاعْلَمُوا أَنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ ظِلاَلِ السُّيُوفِ، ثُمَّ قَالَ اللّٰهُمَّ مُنْزِلَ الْكِتَابِ وَمُجْرِيَ السَّحَابِ وَهَازِمَ الأَحْزَابِ، اهْزِمْهُمْ وَانْصُرْنَا عَلَيْهِمْ». [ر: ۲۶۶۳]

## رجال الحديث

① عبدالله بن محمد - دا ابوجعفربن محمدبن عبدالله بن جعفربن یمان بن اخنس جعفی بخاری مسندی دې. ددوی حالات کتاب الایمان باب امور الایمان کښې تیرشوی دی (۱)

② معاویه بن عمرو - داابوعمرو معاویه بن عمرو بن مهلب ازدی کوفی رحمه الله دې د دې تذکره تیره شوې ده. (۲)

③ ابواسحاق - دا ابواسحاق ابراهیم بن محمدبن حارث بن اسماء بن خارجه فزاری رحمه الله دې د ده تذکره تیره شوې ده (۳)

④ موسی بن عقبه - داموسی بن عقبه اسدی مدنی رحمه الله دې د ده تذکره تیره شوې ده (۴)

⑤ سالم - دا ابوالنصرسالم مدنی تیمی رحمه الله دې د ده تذکره تیره شوې ده (۵)

⑥ عبدالله بن ابی اوفی رضی الله عنه - دا صحابی رسول حضرت عبدالله بن ابی اوفی علقمه اسلمي رضی الله عنه دې د دوی حالات وړاندې تیرشوی دی. (۶)

ددې روایت سره متعلق تفصیلی بحثونه باب الجنة تحت بارقة السیوف او باب الدعاء علی المشرکین بالهزیمة والزلزلة لاندې تیرشوی دی

**د حدیث ترجمة الباب سره مطابقت:** ددې حدیث شریف ترجمة الباب سره مطابقت په دې جمله کښې دې انتظرحتی مالت الشمس یعنی حضورپاک ﷺ به د زوال شمس انتظار فرمائیلو (۷) واضحه دې وی چه دلته په حدیث کښې إذالم یقاتل أول النهار تصریح نه ده څکه چه دا د ترجمة الباب یوه حصه ده. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله په دې جمله

---

(۱) کشف الباری: ۶۵۷/۱.
(۲) صحیح بخاری کتاب الاذان باب إقبال الامام علی الناس عند تسویة الصفوف رقم: ۷۱۹.
(۳) صحیح البخاری کتاب الجمعة باب القائلة بعد الجمعة رقم: ۹٤.
(۴) صحیح البخاری کتاب الوضو باب إسباغ الوضوء رقم: ۱۳۹.
(۵) صحیح البخاری کتاب الوضوء.
(۶) کتاب الوضوء باب من لم یرالوضوء إلا من المخرجین من القبل والدبر.
(۷) عمدة القاری: ۲۲۷/۱٤.

سره دَ کتاب الجزیه والارواایت طرف ته اشاره کوی کوم چه دَحضرت نعمان بن مقرن نه مروی دي دَ کوم الفاظ چه دادی. کان اذالم یقاتل اول النهار انتظرحتی تهب الازواح وتحضر الصلوات[۱]

## باب-۱۱۲ باب استئذان الرجل الامام

**دَ ترجمة الباب مقصد** - امام بخاری رحمه الله دَدې باب قایمولوسره داخودل غواړی که یوسړې دَ ضرورت دَ لاندې یادَڅه مجبورئی په وجه دَامام نه اجازت واخلی او په جنګ کښې شریك نه شی یا دَ شرکت کولونه پس زر دَخپل کوروالاته واپس کیدل غواړی نو په دې کښې څه حرج نشته.[۲]

لِقَوْلِهِ (إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَإِذَا كَانُوا مَعَهُ عَلَى أَمْرٍ جَامِعٍ لَمْ يَذْهَبُوا حَتَّى يَسْتَأْذِنُوهُ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَأْذِنُونَكَ) إِلَى آخِرِ الْآيَةِ. النور ۶۲.

وړاندې دی ﴿ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ۚ فَإِذَا اسْتَأْذَنُوكَ لِبَعْضِ شَأْنِهِمْ فَأْذَن لِّمَن شِئْتَ مِنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمُ اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾[۳]

**دَ ایت مطلب:** - ایمان والاخوهغه دی چه په الله تعالی باندې یقین دې اودَهغه په رسول باندې واجب کیږی هغوی سره خو په یواجتماعی کارکښې څی خونه ترکومې چه دَهغوی نه اجازت وانخلی. کوم خلق چه تاسونه اجازت اخلی هم دغه خودی چه منونکی دی الله تعالی اودَهغه رسول بیا چه کله اجازت اوغواړی تاسونه دَخپل څه کارنوورکړه اجازت په هغوی کښې چاته چه غواړې. اودَهغوی دَپاره معافی غواړه دَالله تعالی نه الله تعالی بخښونکې اومېرېان دې

**دَ نزول سبب:** -امام مقاتل رحمه الله فرمائی چه دا آیت دَحضرت عمر رضی الله عنه باره کښې نازل شوې دې کوم وخت چه دَ غزوه تبوك نه دَ واپسئ دَپاره هغوی اجازت اغوښتلو نو نبی کریم ﷺ هغوی ته اجازت ورکولو سره اوفرمائیل انطلق. فوالله ماانت بمنافق یعنی زه په خدائی ته منافق نه یئی مقصد منافقانوته اورول وو.

اوحضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه حضرت عمر رضی الله عنه دَ نبی کریم ﷺ دَ عمرې اجازت غوښتلې وو اجازت ورکولو سره نبی کریم ﷺ اوفرمائیل یااباحفص، لاتنسنا فی صالح دعائك یعنی اې ابوحفص په خپلو نیکو دعاګانو کښې مونږ مه هیره وه.[۴]

**دَ امرجامع مطلب:** -دَامرجامع نه مراد هغه کاردې په کوم کښې چه حاکم ته دَ خلقوراجمع کولوضرورت وی که هغه چرته دَ عمومی فائدې معامله وی یا بل څه دینی مسئله وی یا دَ دښمن دَ مقابله دَپاره یا ویرولودَپاره دَخلقو راجمع کول وی دا ټول صورتونه دَامرجامع معنی

---

[۱] ) فتح الباری:۶/۱۲۰ والروایة فی صحیح البخاری فی کتاب الجزیة. باب الجزیه والموادعة مع اهل الذمة والحرب. رقم:۳۱۶۰.

[۲] ) عمدة القاری:۱۴/۲۲۸.

[۳] ) سورة النور:۶۲.

[۴] ) تفسیر القرطبی:۱۲/۳۲۱.

کښې شامل دی اوددې اجتماع ضرورت ولې دې؟ ځکه چه دالله تعالی په فرمان کښې رسول الله ﷺ ته خطاب دې ﴿ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ ﴾ [۱] یعنی په معاملاتو کښې خلقو سره مشوره کوه نوچه څۀ داسې معامله به پیښه شود د کومې نفع اونقصان چه ټولو خلقو سره متعلق وی نو ټول خلق د مشورې دپاره راجمع کول پکاردی اود چا دمشورې دمجلس نه بغیرد څه عذر نه پاسیدل مناسب نه دی بل په اجازت غوښتلوسره تتلوکښې څه بدګمانی هم نه پیداکیږی. امام مکحول رحمه الله او علامه زهری رحمه الله فرمائی جمعه د امرجامع نه ده. [۲] نور جنګ هم امرجامع دې اوهرهغه کارچه د خلقوپه شریکه د کولووی. [۳]

علامه مهلب رحمه الله فرمائي چه دا آیت په دې باره کښې د قاعدې اوقانون حیثیت لری چه کله حاکم خلق دمسلمانانو دمعاملاتو د مشورې او د دښمن د دفاع دپاره جمع کړی نویوکس دې هم د حاکم د اجازت نه بغیرنه ځی ځکه چه دالله تعالی فرمان دې ﴿ فَإِذَا اسْتَأْذَنُوكَ لِبَعْضِ شَأْنِهِمْ فَأْذَنْ لِمَنْ شِئْتَ مِنْهُمْ ﴾ [۴]

ددې آیت نه معلومه شوه چه حاکم اجازت ورکولویا منع کولواختیارلری. هغه د اجازت غوښتونکی په معامله کښې سوچ کولوسره خوبه یا اجازت ورکوی یابه ئې منع کوی هغه ته د دواړو صورتونو اختیاردې. ځکه چه که خلق داسې په خپله مرضئی پریخودې شی نوخلقو به حضورپاك پریخودې وې اوتللې به وو دکوم په وجه به چه په امت کښې کمزوری پیداکیده مجمع به خوریده او دښمن ته به موقع ملاویدله نوهغوی به په مسلمانانوباندې حمله کوله او مسلمانانوته به ئې زیات نقصان رسولو. [۵]

[حدیث ۲۸۰۵] [۶] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ أَخْبَرَنَا جَرِيرٌ عَنِ الْمُغِيرَةِ عَنِ الشَّعْبِىِّ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ - رضى الله عنهما - قَالَ غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ فَتَلاَحَقَ بِى النَّبِىُّ - صلى الله عليه وسلم - وَأَنَا عَلَى نَاضِحٍ لَنَا قَدْ أَعْيَا فَلاَ يَكَادُ يَسِيرُ فَقَالَ لِى « مَا لِبَعِيرِكَ ». قَالَ قُلْتُ عَيِىَ . قَالَ فَتَخَلَّفَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَزَجَرَهُ وَدَعَا لَهُ، فَمَا زَالَ بَيْنَ يَدَىِ الإِبِلِ قُدَّامَهَا يَسِيرُ. فَقَالَ لِى « كَيْفَ تَرَى بَعِيرَكَ ». قَالَ قُلْتُ بِخَيْرٍ قَدْ أَصَابَتْهُ بَرَكَتُكَ . قَالَ « أَفَتَبِيعُنِيهِ ». قَالَ فَاسْتَحْيَيْتُ، وَلَمْ يَكُنْ لَنَا نَاضِحٌ غَيْرُهُ، قَالَ فَقُلْتُ نَعَمْ. قَالَ « فَبِعْنِيهِ ». فَبِعْتُهُ إِيَّاهُ عَلَى أَنَّ لِى فَقَارَ ظَهْرِهِ حَتَّى أَبْلُغَ الْمَدِينَةَ. قَالَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّى عَرُوسٌ ، فَاسْتَأْذَنْتُهُ فَأَذِنَ لِى ، فَتَقَدَّمْتُ النَّاسَ إِلَى الْمَدِينَةِ حَتَّى

---

[۱] ) سورة آل عمران: ۱۵۹.
[۲] ) تفسیرالقرطبی:۳۲۱/۱۲.
[۳] ) تفسیرالطبری: ۱۹/۱۳۳.
[۴] ) سورة النور:۶۲.
[۵] ) شرح ابن بطال:۱۳۵/۵.
[۶] ) قوله: عن جابر.... قدمر تخرجه فی کتاب الصلوة باب الصلوة اذا قام من سفر، رقم:۱۸۰۱.

أَتَيْتُ الْمَدِينَةَ، فَلَقِيَنِي خَالِي فَسَأَلَنِي عَنِ الْبَعِيرِ، فَأَخْبَرْتُهُ بِمَا صَنَعْتُ فِيهِ فَلاَمَنِي، قَالَ وَقَدْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ لِي حِينَ اسْتَأْذَنْتُهُ «هَلْ تَزَوَّجْتَ بِكْرًا أَمْ ثَيِّبًا». فَقُلْتُ تَزَوَّجْتُ ثَيِّبًا. فَقَالَ «هَلاَّ تَزَوَّجْتَ بِكْرًا تُلاَعِبُهَا وَتُلاَعِبُكَ». قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ تُوُفِّيَ وَالِدِي - أَوِ اسْتُشْهِدَ - وَلِي أَخَوَاتٌ صِغَارٌ، فَكَرِهْتُ أَنْ أَتَزَوَّجَ مِثْلَهُنَّ، فَلاَ تُؤَدِّبُهُنَّ، وَلاَ تَقُومُ عَلَيْهِنَّ، فَتَزَوَّجْتُ ثَيِّبًا لِتَقُومَ عَلَيْهِنَّ وَتُؤَدِّبَهُنَّ. قَالَ فَلَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - الْمَدِينَةَ غَدَوْتُ عَلَيْهِ بِالْبَعِيرِ، فَأَعْطَانِي ثَمَنَهُ، وَرَدَّهُ عَلَيَّ. قَالَ الْمُغِيرَةُ هَذَا فِي قَضَائِنَا حَسَنٌ لاَ نَرَى بِهِ بَأْسًا. [ر: ۴۳۲]

## رجال الحدیث

① **اسحاق بن ابراهیم:-** دا اسحاق بن ابراهیم بن مخلد حنظلی مروزی رحمه الله دي د ابن راهویه په نوم سره مشهور دي. د دوی تذکره د کتاب العلم لاندې تیره شوې ده. [۱]

② **جریر:-** دا جریر بن عبدالحمید قرط ضبی رازی رحمه الله دي. د دوی حالات هم کتاب العلم لاندې تیر شوی دی. [۲]

③ **مغیره:-** دا مغیره بن مقسم ابو هشام ضبی کوفی رحمه الله دي د دوی تذکره کتاب الایمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده لاندې تیره شوې ده. [۳]

⑤ **جابر بن عبدالله:-** دا جلیل القدر صحابی حضرت جابر بن عبدالله رضي الله عنهما دي د دوی تفصیلی حالات شاته تیر شوی دی. [۴]

**د حدیث د الفاظو تشریح:-** ناضح:- هغه اوښ چه د اوبو راوړلو او اړولو د پاره استعمالیږی. [۵]

فقار ظهره:- د فاء زیر سره شاته د ملا مهرو ته وئیلې شي مطلب دادې چه حضرت جابر رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه په دغه خرڅ کړې شوی اوښ باندې د مدینې پورې د سفر کولو اجازت او غوښتلو. [۶]

عَیِیَ:- د ابوذر او کشمیهنی په نسخه کښې اعیي دې [۷] د دواړه معنی ستړیوالې ناچاقی او عاجزی ده مطلب دا چه هغه اوښ د تګ نه عاجز وو او ستړې شوې وو. [۸]

---

[۱]) کشف الباری: کتاب العلم: ۳۷/۳.
[۲]) کشف الباری کتاب العلم باب من جعل العلم ایاما معلومة: ۲۳/۳.
[۳]) کشف الباری: ۶۷۹/۱.
[۴]) کتاب الوضوء باب صب النبی صلی الله علیه وسلم الوضوء علی المغمی علیه.
[۵]) مختار الصحاح مادة: نضح.
[۶]) عمدة القاری: ۲۲۹/۱۴.
[۷]) ارشاد الساری: ۱۲۴/۵.
[۸]) عمدة القاری: ۲۲۹/۱۴.

عروس -واده کړې دا لفظ دَ ښځې اوسړی دواړو دَپاره استعمالیږی لکه رجل عروس وامراة عروس. البته دَمذکر جمع عرس ده اود مؤنث جمع عرائس ده (۱)

فلامني - یعنی زما ماما زه په اوښ خرڅولو باندې ملامته کړم. خکه حضرت جابر رضي الله عنه سره هم دغه یو اوښ وو. دَدې توجیه تاویل دَحضرت جابر رضي الله عنه دَ قول نه هم کیږی. فاستحبت. ولم تکن لنا ناضح غیره (۲) دَحضرت جابربن عبدالله رضي الله عنه دوه ماماګان وو ① ثعلبه بن عنمه بن عدی ② عمرو بن عنمه رضي الله عنهما ملامت کونکې ثعلبه وو (۳)

**دَحدیث نه مستنبط شوې فائدې**:-علامه مهلب رحمه الله فرمائی چه دَدې حدیث نه معلومیږی که دَ یوسړی نوې نوې واده شوې وی اویا دَغه زړه په کوراوبچو پورې اینختې وی نودَغه دَپاره زر واپس کیدودَپاره اجازت اخستلو کښې څه حرج نشته. (۴)

**یوه نحوی مسئله**:-علامه ابن مالك رحمه الله فرمائی لکه چه دَهمزه استفهام نه پس ام متصلة راوړل جائزدی هم دغه شان دَهل نه پس هم ام متصله راوړل جائزدی هغه دَ الفاظ حدیث هل تزوجت بکرا ام ثیبا نه استدلال او استشهادکوی خکه چه دَواده باره کښې خوهغوی ته معلومه وه لیکن حضورپاك ﷺ دَ باکره یا ثیبه دَتعین باره کښې معلومات کول. اوهم دغه مقصد دَ همزه استفهام نه پس دَام راوړلوی کوم ته چه ام متصله وئیلې شی.
چنانچه دَهل نه پس هم ام متصله راوړل تیك دی خکه چه دَحدیث رسول ﷺ نه هم په کلام عرب کښې استشهاد کولې شی. خودادابن مالك رحمه الله تفرددې جمهوریه دې رائې کښې دَهغوی مخالف دی. دَهغوی موقف د ادې چه دا ام منقطعة هم کیدې شی متصلة کیدل څه ضروری نه دی اوکله چه په یوه مسئله کښې دَتاویل ګنجائش وی نودَ جمهورو مذهب پریخودوسره تفرداختیارول مناسب نه دی. اوس به تقدیر عبارت داسې شی **هل تزوجت بکرا ام اتزوجت ثیبا**. لکه چه دلته دَام نه پس دوباره استفهام دې نوثیبا فعل محذوف تزوجت مفعول به دې. نواوس به هره جمله مستقل وی او ام منقطعه به وی. (۵)

**قوله**: قال المغیرة: هذا فی قضائنا حسن، لانری به باسا:-داعبارت مذکوره سندسره موصول دې. دامغیره بن مقسم کوفی دې. دکوفې اهم فقهاؤ کښې دَهغوی شمیر کیدلې شو. (۶)

**دَ عبارت مقصد**:- دَدې عبارت نه دَحضرت مغیره رحمه الله مراد دادې چه په بیع کښې داسې معلوم

---

۱) مختار الصحاح مادة ع ر س.
۲) ارشاد الساری: ۱۲٤/۵.
۳) راجع للتفصیل ارشاد الساری: ۱۲٤/۵.
٤) شرح ابن بطال: ۱۳۵/۵.
۵) عمدة القاری: ۲۲۹/۱٤ وفتح الباری: ۱۲۲/۶.
۶) فتح الباری: ۱۲۲/۶.

شرط لګول چه د جګړې سبب نه وی او په هغې کښې دهوکه نه وی نو صحیح دې او په دې کښې هیڅ بدی نشته لکه چه حضرت جابر رضی الله عنه چه اوښ خرڅولو دپاره دمدینې پورې د سفر کولو شرط لګولې وو او رسول الله صلی الله علیه وسلم دا قبول کړې هم وو (۱)
د دې حدیث نفصیلی تشریح او مسئله اشتراط في البیع تحقیق کتاب الشروط کښې تیره شوې ده (۲)

## باب-۱۱۳ من غزا وهو حدیث عهد بعرسه

فیه جابر، عن النبی صلی الله علیه وسلم [ر ۲۸۰۵]

**د ترجمة الباب مقصد** امام بخاری رحمه الله یو حکم بیانولو غواړی د کوم چه دوه صورتونه کیدې شی

① یو صورت خو دادې چه د یوسړی رخصتی کیدونکې ده او هغه جهاد ته تلل غواړی که هغه د دغه رخصتنی دپاره حصارشی او څلور ورځې خپلې بی بی سره پاتې شی او بیا جهاد ته لاړشی نو د هغه په نفس کښې به یو ه تسلی وی او که هغه رخصتی پریږدی لاړشی نو طبیعت به نی ګډوډ او خفه وی په دې وجه د رخصتنی نه پس چه واده نیزدې وی جهاد ته نه دی تلل پکار مناسب هم دغه دی خو که لاړشی نو بیا هم څه بدیت نشته

② دویم صورت دادې چه د یوسړی نوې نوې واده شوې دې او هغه خپلې بی بی سره یو څو ورځې تیرې کړی دی او د نور اوسیدو خواهش نی دې خود جهاد د اهمیت په وړاندې هغه خپله نوې ناوې ښځه پریږدی او جهاد ته لاړشی نودا ډیر ښه دی (۳) د حضرت جابر رضی الله عنه هم نوې واده شوې وو او هغه لږ وخت په کور کښې تیرولونه پس نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره جهاد ته تللې وو

**بعرسه**:- دا په دوه قسمه لوستلې شوې دې ① په ضمه د عین یعنی چه د واده زمانه نیزدې وی او رخصتی کیدونکې وی ② په کسره د عین سره یعنی چه ښځې سره نی څه وخت تیر کړې وی. د کشمیهنی په نسخه کښې بعرس بغیرد اضافت نه راغلې دې دې نه وړاندې د احتمال تائید کیږی یعنی چه د رخصتنی زمانه نیزدې وی (۴)

**قوله**: فیه جابر عن النبی صلی الله تعالی علیه وسلم:- دې نه مراد د حضرت جابر مذکوره روایت دې چه اوس په وړاندینئی خبره کښې تیرشو په روایت کښې دی یارسول الله، انی عروس (۵)

**ترجمة الباب سره مطابقت**:- د حدیث شریف ترجمة الباب سره مطابقت باب سابق روایت په دې جمله کښې دې. یارسول الله اني عروس نوره توصیح کتاب النکاح په روایت (۶) سره

---

۱) عمدة القاری: ۲۲۹/۱۴ وفتح الباری: ۱۲۲/۶.
۲) صحیح البخاری کتاب الشروط. باب اذا اشترط البائع ظهر الدابة الی مکان مسمی جاز رقم: ۲۷۱۸.
۳) فتح الباری: ۱۲۲/۶ وعمدة القاری: ۲۲۹/۱۴.
۴) حواله بالا.
۵) تغلیق التعلیق: ۴۵۰/۳ وفتح الباری: ۱۲۲/۶.
۶) صحیح البخاری کتاب النکاح باب تزویج الشباب رقم: ۵۰۷۹.

کیږی دکوم الفاظ چه دادی: فقال مایعجلك؟ قلت: کنت حدیث عهدبعرس. (۱) یعنی رسول اکرم ﷺ فرمائیلی جابر په تا دومره تادی ولې ده؟ ما وئیل زما نوې واده شوې دې

## باب- ۱۱۴ من اختار الغزوبعد البناء.

**دَ ترجمة الباب مقصد**: - ددې باب مقصد داخودل دی که یوسړې جهاد ته تلل غواړی نوهغه له پکاردی چه خپل زړه پوره دَ جهاددپاره فارغ کړی بیا پوره تندئی او تازګئی سره دې دَخپل کارطرف ته توجه اوکړی اوهم په هغې کښې دې اخته شی که دَ چا نوې نوې واده شوې وی نوهغه دې یوڅو ورځې خپلې ښځې سره تیرې کړی اوبیادې دَ جهاد سفراوکړی ځکه چه کله دَ چانکاح کیږی نودهغه زړه خپلې بی بی سره لګیدلې وی خو که بی بی سره څه وخت تیر کړی او لاړشی نو ذهنی ګډوډوالې به هم نه وی او غم به ئی هم سپك شی. ددې مثال داسې دې لکه چه دَ مانځه وخت کښې خوراك مخې ته وی اواولګه هم ښه لګیدلې وی نواول خوراك کول مناسب دی ګنی که مونځ کول دې شروع کړه نو ټول مونځ کښې به دې دَخوراك په خیالونو کښې تیرشی او خشوع به حاصله نه وی. (۲)

فِيهِ أَبُوهُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- ﷺ[ر: ۲۹۵۶]

په دې عبارت سره امام بخاری رحمه الله کتاب الخمس کښې راتلونکی روایت طرف ته اشاره فرمائی. دَکوم الفاظ چه دادی: غزا نبی من الانبیاء، فقال لقومه لایتبعنی رجل ملك بضع امرأة، وهو یرید أن یبنی بها ولما یبن بها. (۳) یعنی یونبی علیه السلام چه کله جنګ له تللو نوهغوی دااعلان کړې وو چه دَ چانوې واده شوې وی اوهغه دَ واده شپه نه وی تیره کړې اودهغه زړه غواړی چه هغه دې یوڅو ورځې خپلې بی بی سره تیرې کړی نوداسې سړې دې مونږ سره نه ځی

**ترجمة الباب سره دحدیث مناسبت باندې اشکال اودهغې جواب**: - **رومبې خبره**: علامه داؤدی رحمه الله ته دلته یواشکال مخې ته شوې دې هغه فرمائی په حدیث کښې خواختیار بناء بالزوجة قبل الغزو ذکردې او ترجمة قایم کړې شوه دَ اختار الغزووقبل البناء. نو په حدیث او ترجمة الباب کښې انطباق نشته دې

حافظ ابن حجر رحمه الله ددې اعتراض دوه جوابونه ورکړی دی: ① یوجواب دادې چه دَ دې اعتراض منشاء په ترجمة الباب کښې تحریف دې کوم چه دَعلامه داؤدی په نسخه کښې موجوددې ځکه چه ترجمة الباب من اختار الغزو بعد البناء اودَ علامه داؤدی په نسخه کښې باب من اختار الغزووقبل البناء چه محرف دې ② دویم جواب تسلیمی دې یعنی که چرته دَعلامه

---

(۱) فتح الباری:۶/۱۲۲.

(۲) فتح الباری:۶/۱۲۲.

(۳) صحیح البخاری کتاب فرض الخمس باب قول النبی صلی الله علیه وسلم أحلت لکم الغنائم. رقم: ۳۱۲۴ وکذا فی کتاب النکاح. باب من أجب البناء بعدالغزو رقم:۵۱۵۷.

داوَدی اعتراض صحیح او گڼلې شی نودا به وئیلې شی چه دلته استفهام مقدردې نوتقدیر د عبارت به داسې شی. ماحکم من اختار الغزو وقبل البناء؟ آیا دَمذکوره حدیث شریف مطابق دَ نکاح نه پس دَ رخصتی نه وړاندې جهادته تلل جائزدی که ناجائز؟

اوس په وړاندینی باب کښې تیرشو چه په دې کښې هیڅ مضائقه نشته په دواړو صورتونو کښې جائزدی البته مناسب دادی چه رخصتی کولوسره یوځو ورځې تیرې کړی دې دَپاره چه په جهادکښې دَ زړه په شوق او تسلسل سره جهاد او شی دَ حدیث باب هم دغه محمل او مطلب دې چه افضل اواولی صورت هم دغه دې چه رخصتی دې اوکړی بیادې ځی (۱)

**دَ روایت نه ذکرکولووجه** - علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه دلته امام بخاری رحمه الله **فیه أبوهریرة** فرمائیلوسره دَ روایت طرف ته اشاره خواوکړه لیکن روایت ئې ذکرنه کړو ځکه چه کیدې شی دا روایت دَهغه په شرائطوپوره نه وی (۲)

واضحه دې وی چه دَعلامه کرمانی رحمه الله داخبره ټیك نه ده ځکه چه دا روایت موصولاً وړاندې کتاب الخمس کښې راځی اودخبره فیصله شوې ده که چرې داروایت دَهغه دَ شرط برابرنه دې نوهغه به دا روایت په خپل صحیح کښې نه نقل کولو ځکه چه دَ شرائطورعایت په پوره کتاب کښې ضروری وی. صحیح جواب دادې چه دَ امام صاحب غالب عادت هم دغه دې که چرته دَ یوحدیث سند په دواړو ځایونوکښې مشترك وی نواکثردَتکرارنه دَ بچ کیدلوکوشش کوی اودَ اختصاریا اشاره نه کاراخلی چرته یوځائی کښې ئې ذکرکوی (۳)

دلته دَدې خبرې وضاحت مناسب معلومیږی چه دِا سوال اوجواب په تیرباب کښې هم کیدل پکاروو ځکه چه روایت خو هلته هم نه دې ذکرشوې دَدې جواب دادې چه په دواړو ابوابو کښې یوواضح فرق دې هغه دا چه په تیرشوی باب کښې دَروایت طرف ته اشاره کیدنه اوپه دې باب کښې دَراتلونکی روایت طرف ته اشاره کیږی. والله اعلم بالصواب

**دَ حدیث شریف ترجمة الباب سره مطابقت** - دَحدیث ترجمة الباب سره مطابقت بالکل واضحه دې په روایت کښې دی **لایتبعنی رجل ملك بضع امرأة، وهویرید أن یبنی بها ولما یبن بها** ددې مقصد داخودلدی چه په غزوه کښې بناء نه پس تلل پکاردی

**تنبیه**:- دَ دې حدیث شریف نوروضاحت وړاندې کتاب الخمس **باب قول النبی صلی الله علیه تعالی علیه وسلم: أحلت لکم الغنائم** لاندې راځی

## باب-۱۱۵ مبادرة الامام عند الفزع

**دَ ترجمة الباب مقصد**:- دَدې ترجمة الباب مقصد دابیانول دی چه دویرې په حالت کښې ډیر په تیزئی سره تلل اودَ حالاتوجائزه اخستل به دَامام دَپاره مناسب وی اودحالاتونه ځان خبرول به

---

۱) فتح الباری: ۶/۱۲۲ وعمدة القاری: ۱۴/۲۲۹.

۲) شرح الکرمانی: ۱۲/۲۰۴.

۳) فتح الباری: ۶/۱۲۳.

ډیر ضروری وی دې د پاره چه د خطراتو د مقابلې د پاره د وخت نه وړاندې منصوبه بندی اوکړې شی. (۱)

[حدیث ۲۸۰۶] (۲) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ شُعْبَةَ حَدَّثَنِي قَتَادَةُ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ- رضی الله عنه- قَالَ كَانَ بِالْمَدِينَةِ فَزَعٌ، فَرَكِبَ رَسُولُ اللَّهِ- صلی الله علیه وسلم- فَرَسًا لِأَبِي طَلْحَةَ، فَقَالَ «مَا رَأَيْنَا مِنْ شَيْءٍ، وَإِنْ وَجَدْنَاهُ لَبَحْرًا». [ر: ۲۴۸۴]

## رجال الحدیث

① **مسدد**: دا مسدد بن مسرهد اسدی دې. د ده تذکره تیره شوې ده. (۳)

② **یحیی**: - دا یحیی بن سعید القطان دې. د دوی حالات وړاندې تیره شوې دی. (۴)

③ **شعبه**- دا امیرالمؤمنین فی الحدیث شعبه بن حجاج عتکی ازدی دې. د دوی حالات وړاندې تیره شوې دی (۵)

④ **قتاده**: دا قتاده بن دعامه قتاده سدوسی بصری دې. د دوی حالات وړاندې تیره شوې دی. (۶)

⑤ **انس** رضی الله عنه: - دا حضرت انس بن مالك خزرجی انصاری رضی الله عنه دې. د دوی حالات باب من الایمان أن یحب لاخیه مایحب لنفسه. لاندې تیرشوی دی. (۷)

داحدیث ډیرځلې تیرشوې دې دلته به د بعض امورو ذکروی فزع: - د فزع اصل معنی ویره ده اودلته لازم معنی مراد ده یعنی امداد اونصرت کله چه څوك اوویریږی اود دهشت حادثه اوشی. (۸)

فرس لابی طلحة: د هغه اس نوم مندوب وو لکه چه په روایت کښې د دې تصریح راغلې ده یقال له: المدوب (۹) او ابوطلحه د حضرت انس رضی الله عنه میرنې پلاردې د ده نوم زید بن سهل انصاری دې. (۱۰)

وإن وجدناه لبحرا: دا أن مخففه دې او بحر کښې لام د تاکید د پاره دې. (۱۱)

---

(۱) عمدة القاری: ۱۴/۲۲۹.
(۲) قدم تخرجه فی کتاب الهبة باب استعار من الناس الفرس.
(۳) کشف الباری: ۲/۲.
(۴) کشف الباری: ۲/۲.
(۵) کشف الباری: ۱/۶۷۸.
(۶) کشف الباری: ۲/۳.
(۷) پورتنی حواله ص: ٤.
(۸) النهایة لابن الاثیر: ۳/٤٤٣.
(۹) صحیح البخاری کتاب الهبة باب من استعار من الناس الفرق: رقم: ۲۶۲۷.
(۱۰) عمدة القاری: ۱۴/۲۳۰.
(۱۱) عمدة القاری: ۱۴/۲۳۰.

**ترجمة الباب سره مطابقت**:- دحديث شريف ترجمة الباب سره مطابقت د حديث دمعنى نه ماخوذ دې چه کوم وخت ويره او دهشت محسوس شى نوامام الانبياء حضرت محمدمصطفى ﷺ به زر د حالاتوجائزه اخستلودپاره بهرراوتلو او حضورپاک ﷺ د مبادرت او سبقت نه کار اخستلو (۱)

## باب-۱۱۶ السرعة والركض فى الفزع

**د ترجمة الباب مقصد**:- ددې ترجمة الباب مقصد د وړاندينى سره يوشان دې البته په دې ترجمه کښې ددې خبرې وضاحت کيږى چه امام له د سورلئى بندوبست کولوسره زر نه زر اس له يونده ورکول يا ګاډې تيزولو سره د حادثه ځائى رسيدل او د حالاتوتجزيه کولوسره مناسب اقدامات کول پکار دى (۲)

[حديث ۲۸۰۷] (۳) حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ سَهْلٍ حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا جَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ - رضى الله عنه - قَالَ فَزِعَ النَّاسُ فَرَكِبَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَرَسًا لأَبِى طَلْحَةَ بَطِيئًا، ثُمَّ خَرَجَ يَرْكُضُ وَحْدَهُ، فَرَكِبَ النَّاسُ يَرْكُضُونَ خَلْفَهُ، فَقَالَ «لَمْ تُرَاعُوا، إِنَّهُ لَبَحْرٌ». فَمَا سُبِقَ بَعْدَ ذَلِكَ الْيَوْمِ. [ر: ۲۴۸۴]

## رجال الحديث

① **فضل بن سهل**: داحافظ فضل بن سهل الاعرج ابوالعباس بغدادى رحمه الله دې. د دوى حالات وړاندې تيرشوى دى. (۴)

② **حسين بن محمدالمعلم**:- داحسين بن محمدبهرام تميمى دې. د دوى تذکره هم په کتاب الجهاد کښې شاته تيره شوې ده. (۵)

③ **جريربن حازم**:- دا ابوالنضر جرير بن حازم بن زيد بصرى رحمه الله دې د دوى تذکره وړاندې تيره شوې ده. (۶)

④ **محمد بن سيرين**:- دامشهورتابعى تعبيررؤيا امام شيخ الاسلام ابوبکرمحمدبن سيرين انصارى بصرى دې. د دوى تفصيلى حالات کتاب الايمان باب اتباع الجنائزمن الايمان لاندې تيرشوى دى. (۷)

---

(۱) عمدة القارى: ۱۴/۲۳۰.
(۲) عمدة القارى: ۱۴/۲۳۰.
(۳) قدمرتخرجه فى كتاب الهبة باب من استعار من الناس الفرس رقم: ۲۶۲۷.
(۴) كتاب الاذان باب إذا لم يتم الامام وأتم من خلفه رقم: ۶۹۴.
(۵) كتاب الجهاد والسيرباب من أتاه سهم غرب فقتله. رقم: ۲۸۰۹.
(۶) كتاب الصلوة باب الخوخة والممر فى المسجد. رقم: ۴۶۶.
(۷) كشف البارى: ۲/۵۲۴.

⑤**انس بن مالک** - حضرت انس خادم رسول انصاری رضی الله عنه حالات کتاب الایمان کښې تیرشوی دی [1]

یرکض وحده - یعنی رسول الله ﷺ مبارك به ځان له په ځان له په اس باندې سوریدومره پونده ورکوله او تللوبه دَ رکض رکضا معنی ده منده وهل په خپه وهل [2] لکه چه په قرآن کریم کښې دی ﴿ اُرْكُضْ بِرِجْلِكَ ﴾ [3] رکض الفرس: اس له پونده ورکول

لم تراعو - لم دلته دَ ناهیة په معنی کښې دې یعنی ته مه ویریږه.

**ترجمة الباب سره مطابقت**:- ترجمة الباب سره دَ حدیث مطابقت ثم خرج یرکض وحده کښې دی چه حضوراکرم زر اس له پونده ورکړه اویه تیزئی سره دَ ویرې ځائی ته لاړو اودتندئی داحال وو چه تن تنها روان شو. صحابه کرام رضی الله عنهم روستو رسول الله ﷺ پسې لاړل

## باب الخروج فی الفزع وحده

**ترجمة الباب مقصد**:- په دې باب کښې دابیانولې شی چه ضرورت پیښ شی نو امام اوحاکم به ځان له په ځان له هم دَ دهشت اوویرې په حالاتوکښې بهرراځی اودحالاتواوواقعاتو تپوس پښتنه به کوی لکه چه امام الانبیاء ﷺ فرمائیلی

**دَ باب لاندې حدیث نه ذکرکولووجه**:- امام بخاری رحمه الله دَدې باب لاندې یوروایت یا اثرنه دی نقل کړې. ددې علامه کرمانی رحمه الله مختلف توجیهات بیان کړی دی. ① کیدې شی چه هغه ته دَخپل شرط مطابق څه روایت نه وی ملاؤشوې. ② یاکیدې شی چه ترجمه ئې قایم کولوسره یوحدیث ذکرکول غوښتل لیکن موقع نه وی ملاؤشوی. ③ یائی دَ ماقبل حدیث کافی ګڼړلی وی ځکه چه دَهغې الفاظ ثم خرج یرکض وحده نه دَ ترجمة الباب اثبات واضح دی [4]

حافظ ابن حجر رحمه الله دویمه توجیه راجح ګرځولې ده. [5] بل علامه قسطلانی رحمه الله دَ حافظ صاحب متابعت کولوسره فرمائی چه کیدې شی امام بخاری رحمه الله دَ حضرت انس رضی الله عنه څه بل طرق دلته ذکرکول غوښتل خو موقع نه وی ملاؤشوې. [6]

**دَ حدیث نه مستنبط فوائد**:- علامه ابن بطال رحمه الله فرمائی چه دَدې احادیثو حاصل دادې چه امام دې بغیردَ څه وجې هسې خپل ځان په خطراتوکښې نه اچوی بلکه خپل ځان دې قیمتی اوګڼړی ځکه چه هم دهغه په وجه خودَ حکومت نظام موجود دې اومسلمانان دَ یوې جهنډې لاندې راجمع دی اودا ده چه حاکم ډیر طاقتور او دَ بې پرواه طبیعت مالك وی لکه چه نبی

[1] ) کشف الباری:۲/٤.
[2] ) النهایة: ۲/۲۵۹.
[3] ) سورة ص:٤۲.
[4] ) شرح الکرمانی:۱۲/۲۰۵.
[5] ) فتح الباری:۶/۱۲۳.
[6] ) إرشاد الساری:۵/۱۲۶.

کریم ﷺ به یقینی پو هیدلو چه الله تعالی به دهغوی حفاظت او تائید فرمائی او دُ خپل نصرت او امداد نه به نی نه محروم کوی [۱] نو دا سې بهادر نه ویریدونکی او مردمیدان د پاره په داسې خطراتو کښې خان له په خان له ورداننگلو کښې هیڅ حرج نشته دې دپاره چه نورخلق هم دامام په اتباع کښې دُ خپلو خانونو بازی اولګوی [۲] خو هرسړې دُ نبی کریم ﷺ په شان دمردانه صفتو څنګه حامل کیدې شی په دې وجه امیرله پکاردی چه هغه دې خپل خان په خطراتو کښې نه اچوی ځکه چه په دې سره امیرته نقصان کیدې شی دکوم په وجه چه دامت دُ کیدو کیدو خدشه او اندیښنه ده

## ۱۱۷ :باب- الجعائل والحملان فی السبیل

وَقَالَ مُجَاهِدٌ قُلْتُ لِابْنِ عُمَرَ الْغَزْوُ. قَالَ إِنِّي أُحِبُّ أَنْ أُعِينَكَ بِطَائِفَةٍ مِنْ مَالِي. قُلْتُ أَوْسَعَ اللَّهُ عَلَيَّ . قَالَ إِنَّ غِنَاكَ لَكَ ، وَإِنِّي أُحِبُّ أَنْ يَكُونَ مِنْ مَالِي فِي هَذَا الْوَجْهِ.[ر: ۴۰۵۶]

**دُ جعائل اوحملان معنی** - جعائل: دا جعیلة یا جعالة (بالحرکات الثلث) جمع ده جعل په فتح دُ جیم مصدر او په ضمه سره اسم دې. ونیلي شی وذلك جَعلا وجُعلا یعنی ماستادُ څه خبرې یا کار دا امزدوی درکړې ده اوشرعاً هغه مال ته ونیلي شی چه مجاهدته دالله تعالی په لارکښې دُ لارې دتوښې په توګه ورکولې شی دې دپاره چه هغه خپل کار په ښه طریقه سره سرته اورسولې شی. [۳] حملان: دامصدردې. دُ حمل په شان لکه چه دُ یحمل دوه مصادر دی الحمل والحملان [۴] السبیل دې نه مراد جهاد دې

**دُ ترجمة الباب مقصد**:- علامه ابن بطال رحمه الله فرمائی دامام بخاری رحمه الله مقصد دلته دا بیانول دی که یوسړې خپل مال دالله تعالی په لارکښې تطوعاً دُ ثواب په نیت خرچ کول غواړی لکه چه حضرت ابن عمر رضی الله عنهما کړی. چاسره چه مال نه وی اوهغه دُ نورو آلاتو او اسبابو جهاد په ذریعه دمجاهدامداد کول غواړی لکه چه حضرت عمر رضی الله عنه اس ورکولوسره مجاهدله سورلی ورکړه نودا یوډیرښه عمل دې اوقابل تقلیدنمونه ده. اوداهغه جعل نه دې کوم چه مختلف فیه دې [۵]

خو حافظ ابن حجر رحمه الله دُ ترجمة الباب یوبل مقصد بیانوی. دُهغوی خیال دې چه امام صاحب دلته په اصل کښې دُ یواختلاف طرف ته اشاره کول غواړی. ددې تفصیل دادې چه غازی کوم دُلارې توښه او خرچ اخلی آیا هغه دُ دې سفر دُ خرچ جهاد دُ وجه نه مستحق دې تردې چه هغه دُ

[۱] ) کما فی قوله تعالی: ﴿وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ﴾ (سورة المائدة:۶۷).
[۲] ) شرح ابن بطال:۵/۱۳۶.
[۳] ) المغرب:۱/۱۴۸ (جعل) وعمدة القاری: ۱۴/۲۳۰.
[۴] ) النهایه: ۱/۴۴۲ (رحمن).
[۵] ) شرح ابن بطال: ۵/۱۳۷.

جهاد نه بغیربل چرته دغه مال نه شی خرچ کولې یاهغه ددغه مال مالك کیږی چرته چه نی زړه غواړی خرچ کولې شی.([1])

په نورو لفظونوکښې مونږ داسې وئیلې شو چه مجاهدته کومې پیسې دَ لاړې دَتوښې دَپاره ورکولې شی دا په صورت دَ اباحت دی یا په صورت دَ تملیك؟ دَ دې مسئلې تفصیل وړاندې باب إذاحمل على فرس فرآهاتباع لاندې راخی.

**دَ مسئله جعل تفصیل:-** دَ جعل دوه صورتونه دی. ① چه یوسړې پخپله جهادته نه ځی خودَتلونکی مجاهدسره تعاون کوی هغه ته دَ سفرخرچه ورکوی او سورلی ورته ورکوی نوداعمل اوصورت ښکلی کاردی. ② په تشکیل کښې خوئی نوم راغلې دې خوهغه خپل ځان پټوی اوبل څوك دَخپل ځان په ځائی لیګی اودَخپل طرف نه مزدوری او سورلی هم ورکوی نو په دې مسئله کښې اختلاف دې.

**دَمالکیه مذهب:-** دَ مالکیه په نیزکه چرته رضاکاروی نوهغه جهاد دَ بل چا په بدله کښې جعل یعنی مزدوری اخستلو سره کوی نودامکروه دی اوکه چرې تنخواه دار وی اوهغه دَخپل ځان په ځائی بل چاته جعل ورکړی وئی لیګی نو په دې هیڅ قباحت نشته. خکه چه مقصد خودَ سرحداتو ساتنه او حفاظت کول دی اوهغه په دغه صورت کښې هم پوره کیږی. دَامام مالك رحمه الله دلیل تعامل اهل مدینه دې.([2])

**دَ احنافو مذهب:-** که په بیت المال کښې دَ مجاهدینودَپاره دَ لاړې دَتوښې ګنجائش وی نودَ خلقونه جعل اخستل مکروه دی په دې وجه دَبیت المال مقصد ناڅاپی آفات او په مسلمانانو باندې پریوتونکی مشکلاتو بندوبست کول دی او مجاهدین دا عظیم مقصد په ډیر ښه شان سره پوره کوی په دې وجه هغوی ددې ډیر حقداردی. خوکه چرې په بیت المال کښې ګنجائش نه وی نومسلمانانوله پکاردی چه هغوی دې مجاهدینوته دَ لاړې توښه او سورلی ورکړی واضحه دې وی چه دا تعاون یوشکل دې نه چه دَ بدلې دې.([3])

**دَ شافعیه مذهب:-** امام شافعی رحمه الله دَ جهاددَپاره جعل اخستل بالکل ناجائزګرخولی دی البته دَحاکم وخت نه که مجاهدجعل اخلی نودَدې ګنجائش شته په دې وجه چه هغه حاکم سره تعاون کوی. دَامام شافعی رحمه الله دلیل دادې چه جهاد فرض کفایه دې څوك چه کوی هغه خپله ذمه واری پوره کوی نودَبل چانه به هغه ددې مزدوری اومعاوضه اخستلو مستحق نه وی. بل دَحضرت ابن عمر رضی الله عنهما روایت دې **كان القاعد يمنحالغازى، فاما أن يبيع الرجل غزوه، فلا أدرى ماهو؟**([4]) قاعدبه غازی ته هدیه ورکوله خوبیاهم که یوسړې خپله غزوه دَ نه شریك کیدو په وجه خرڅوی نودَدې حکم ماته معلومات نشته

---

[1] ) فتح البارى:۶/ ۱۲٤.

[2] ) شرح صحيح البخارى لابن بطال:۵/۱۳۷ والمدونة الكبرى:۲/ ٤۲.

[3] ) ردالمختار:۳/ ۲٤۳.

[4] ) شرح ابن بطال:۵/ ۱۳۷.

**قوله وقال مجاهد: قلت لابن عمر: الغزو** - الغزو دلته منصوبه ده تقدیرعبارت دادی أرید الغزو حافظ ابن حجر رحمه الله یوبل احتمال هم ذکرکړې دې یعنی دا **منصوب علی الاغراء** دې.(۱) اوتقدیرعبارت دادې علیك الغزو (۲)

علامه عینی رحمه الله فرمائی چه دا احتمال غلط دې په دې سره په معنی کښې فساد راځی ځکه چه مجاهد رحمه الله پخپله دخپل خان باره کښې اطلاع ورکوی چه زه جهاد کول غواړم نه چه هغه ابن عمر رضی الله عنهما ته ترغیب ورکوی چه هغه دې جهاد ته لاړشی ددې تائیدد حضرت ابن عمر رضی الله عنهما په دې قول سره کیږی **إنی أحب أن أعینك بطائفة من مالی**. یعنی ستاسو امدادکول غواړم دخپل مال په ذریعه سره (۳) او اغراء خوبل ته ترغیب ورکولوته وائی د کشمیهنی په نسخه کښې انغزو بالنون استفهام سره راغلې دې (۴)

**قوله إن غناك لك، وإنی أحب أن یکون من مالی فی هذا الوجه** - مطلب دا چه که مالدار دې خودخپل خان دپاره دې. زما داخواهش دې چه زما څه مال په جهادکښې خرچ شی دحضرت ابن عمر رضی الله عنهما داقول په دې خبره باندې دلالت کوی که یوسړې د ثواب په نیت سره یومجاهدسره مالی امدادکوی یا سورلی ورکوی نو په دې کښې هیڅ حرج نشته (۵) اودا په هغه جعل اومزدورنی کښې نه راځی کوم چه مختلف فیه دی

**دمذکوره تعلیق تخریج:-** دااثر دلته تعلیقاً نقل شوې دې اوامام بخاری رحمه الله ددې اثر معنی کتاب المغازی باب غزوة الفتح کښې موصولاً نقل کړې دې.(۶)

**وَقَالَ عُمَرُ إِنَّ نَاسًا يَأْخُذُونَ مِنْ هَذَا الْمَالِ لِيُجَاهِدُوا، ثُمَّ لاَ يُجَاهِدُونَ، فَمَنْ فَعَلَهُ فَنَحْنُ أَحَقُّ بِمَالِهِ، حَتَّى نَأْخُذَ مِنْهُ مَا أَخَذَ.**

دا تعلیق ابن ابی شیبه رحمه الله په مصنف (۷) اوامام بخاری رحمه الله التاریخ الکبیرکښې موصولاً ذکرکړې دې.(۸) حافظ رحمه الله فرمائی وهواسناد صحیح (۹)

**دحضرت عمر رضی الله عنه د اثرنه مستنبط فوائد:-** ① ړومبئی فائده خودا ده که یوسړی د بیت المال نه

---

۱) الاغراء: هوتنبیه المخاطب علی أمر محبوب لیفعله. مثل: الزکاة الزکاة وانظر للبسط موسوعة النحو والصرف: مادة: الاغراء، ص: ۱۲۱ وجمع الجوامع للسیوطی، ص: ۱۷۰.

۲) فتح الباری: ۶/ ۱۲٤.

۳) عمدة القاری: ۱٤/ ۲۳۱.

٤) عمدة القاری: ۱٤/ ۲۳۱.

۵) عمدة القاری: ۱٤/ ۲۳۱.

۶) فتح الباری: ۶/ ۱۵٤ قدیمی.

۷) المصنف ۶/ ٤۵۱ کتاب السیر باب ماقالو فی الرجل یاخذ المال للجهاد ولایخرج رقم: ۳۲۸۱۶.

۸) التاریخ الکبیر: ۶/ ۳۶٤ ترجمة رقم: ۲۶۵۱ وتغلیق التعلیق: ۳/ ۳۵۲.

۹) فتح الباری: ۶/ ۱۱٤.

دَڅه کار دپاره پیسې واخستې اوهغه دغه کار نه پوره کوی نوپه هغه باندې لازم دی چه دَ بیت المال پیسې واپس کړی

② دویمه فائده داده چه یوسړې دَبیت المال نه دَڅه ذمه دارئ تنخواه اخلی اوهغه دَ دغه ذمه دارئ دَ اداکولو هډو قابل نه دې نودده نه به هغه تنخواه اخستې شی اوهغه به دَ دغه مال مستحق نه وی [1]

**یوه بله شبه اودهغې ازاله:-** علامه ابن المنیر رحمه الله فرمائي په دې خبره سره داشك نه دی کیدل پکار چه دَ بیت المال دَمال اصل حکم خو دَمسلمانانودپاره اباحت دې نودا په مذکوره دواړو صورتونوکښې اخستې شوې مال دَواپس کولوڅه مطلب؟ ددې جواب دادې چه دَ بیت المال نه دَ مال دَحصول دوه صورتونه دی: ① یوخوداد چه هغه مسلمان دې اوهم په دې حیثیت سره مطالبه کوی. نودَ ضابطه مطابق به هغه ته خپله حصه خامخا ملاویږی. ② دویم صورت دادې چه هغه دَ یوکاردکولواجرت اخلی نو په دې صورت کښې هغه کار یا ذمه واری پوره کول ضروری دی گنی هغه به دَ بیت المال دَ مال مستحق نه وی [2]

**وَقَالَ طَاوُسٌ وَمُجَاهِدٌ إِذَا دُفِعَ إِلَيْكَ شَيْءٌ تَخْرُجُ بِهِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَاصْنَعْ بِهِ مَا شِئْتَ، وَضَعْهُ عِنْدَ أَهْلِكَ.**

یعنی حضرت طاؤس رحمه الله او مجاهد رحمه الله فرمائی که تاسو ته دَ جهاددپاره څه څیزدرکړې شی نوهغې سره چه څه غواړئی کوئی (تردې چه) خپل کوروالاسره ئی هم کیخودې شې.

حضرت طاؤس رحمه الله اوحضرت مجاهد رحمه الله قول په دې باندې دلالت کوی چه هغوی دَجهاددپاره څه اخستل نه ناخوښه کوی. نوکه یومجاهدته مال ورکړې شی نوهغه په ضروریااو متعلقات جهادکښې څنگه چه غواړی خرچ کولې شی که دَ کور والاپه خرڅ خوراك باندې خرچ کوی ځکه چه دهغوی دَ ضرورتونوخیال ساتل هم دَ مجاهد دَ جهاد سره متعلق دی دې دپاره چه دَخپل بال بچ دَ طرف نه مطمئن وی. [3]

حضرت سعیدبن مسیب، امام لیث اوامام ابوسفیان ثوری رحمهم الله هم دغه مذهب دې [4]

دَحضرت ابن عمر رضی الله عنهما یواثر موطا امام مالك کښې نقل کړې شوی دی **إذا بلغت وادی القری، فشانك به** یعنی چه کله وادی قری ته اورسئی (که جنگ وی اوکه نه وی) په دغه مال کښې چه څنگه تصرف کول غواړئی اوکړئی. [5] دې نه معلومه شوه چه کوم مال مجاهد ته ورکولې شی که هغه دَ جنگ میدان پورې لاړشی نوکه جنگ شوې وی اوکه نه وی شوې په دواړو صورتونوکښې هغه مال دَمجاهددې هغه په دې کښې هرقسم تصرف کولې شی.

---

[1] ) عمدة القاری: ٢٣١/١٤ نقلا عن ابن المنیر.

[2] ) المتواری لابن المنیر. ص: ١۶٢.

[3] ) عمدة القاری: ١٣١/١٤.

[4] ) فتح الباری: ١٢٥/٤.

[5] ) المؤطاللامام مالک.

خود حضرت ابن عباس او حضرت زبیر رضی الله عنهما قول د حضرت طاؤس رحمه الله او حضرت مجاهد رحمه الله خلاف نقل دی. حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی أنفقها فی الکراع والسلاح یعنی مال د سورلئی او وسلې په مدکښې خرچ کړئی او د حضرت ابن زبیر رضی الله عنهما قول دی أنفقها فی سبیل الله بل امام ابرهیم نخعی رحمه الله فرمائیل چه خلقو به جهاد کښې د مال اخستلو په ځائی ورکول ډیر خوښول (۱)
د دې مسئلې په اعتبار د مذاهبو تفصیل او جزئیات باب إذا حمل علی فرس، فرآها تباع لاندې راځی.

احدیث ۲۸۰۸ (۲) حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ سَمِعْتُ مَالِكَ بْنَ أَنَسٍ سَأَلَ زَيْدَ بْنَ أَسْلَمَ، فَقَالَ زَيْدٌ سَمِعْتُ أَبِي يَقُولُ قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ - رضى الله عنه - حَمَلْتُ عَلَى فَرَسٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، فَرَأَيْتُهُ يُبَاعُ، فَسَأَلْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - آشْتَرِيهِ فَقَالَ «لاَ تَشْتَرِهِ، وَلاَ تَعُدْ فِي صَدَقَتِكَ». [ر: ۱۴۱۹]

## رجال الحدیث

① **الحمیدی**: دا ابوبکر عبدالله بن زبیر حمیدی رحمه الله دې. د دوی حالات روستو تیر شوی دی (۳)

② **سفیان**: دا سفیان بن عیینه بن میمون ابو محمد کوفی رحمه الله دې. د دوی تذکره تیره شوې ده (۴)

③ **مالک**: دا مشهور امام مالک بن انس بن مالک مدنی رحمه الله دې. د دوی تذکره هم تیره شوې ده. (۵)

④ **زید بن اسلم**: - دا ابواسامه زید بن اسلم قرشی مدنی رحمه الله دې د دوی تذکره په کتاب الایمان کښې تیره شوې ده (۶)

⑤ **اسلم** رحمه الله - دا د حضرت عمر رضی الله عنه خادم خاص او مولی اسلم عدوی مخضرمی رحمه الله دې. (۷)

⑥ **عمر بن خطاب** رضی الله عنه - دا حضرت امیر المؤمنین عمر بن الخطاب رضی الله عنه دې د دوی حالات بدء الوحی کښې راغلی دی. (۸)

**د حدیث شریف ترجمة الباب سره مطابقت**: - د دې حدیث ترجمة الباب سره مطابقت دا سې دې چه حضرت عمر رضی الله عنه کوم اس هغه مجاهد ته ورکړې وو هغه د حملان قبیل نه وو او هغه وقف نه وو ځکه که هغه اس د وقف وې نو هغه خرڅول به جائز نه وو د دې خبرې تائید د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې فرمان نه کیږی: لاتعد فی صدقتك. دا قول په دې خبره دلالت کوی چه هغه اس حملان یعنی د

(۱) شرح ابن بطال: ۱۳۸/۵.
(۲) تقدم تخریجه فی کتاب الزکوة باب هل یشتری صدقته؟ رقم: ۱۴۹۰.
(۳) کشف الباری: ۲۳۷/۱.
(۴) کشف الباری: ۲۳۸/۱.
(۵) کشف الباری: ۲۹۰/۱.
(۶) کشف الباری: ۲۰۳/۲.
(۷) تقدم تخریجه فی کتاب الزکوة باب هل یشتری صدقته؟ رقم: ۱۴۹۰.
(۸) کشف الباری: ۲۳۹/۱.

صدقه په تو که ورکړې شوې وو هغه وقف یا سرکاری اس نه وو [۱]

[حدیث ۲۸۰۹] [۲] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ حَمَلَ عَلَى فَرَسٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، فَوَجَدَهُ يُبَاعُ، فَأَرَادَ أَنْ يَبْتَاعَهُ، فَسَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ « لاَ تَبْتَعْهُ ، وَلاَ تَعُدْ فِي صَدَقَتِكَ». [ر: ۱۴۱۸]

## رجال الحديث

① **اسماعیل**:- دا ابوعبدالله اسماعیل بن ابی اویس مدنی دې. دَ امام مالک رحمه الله خوریي دې دَدوی حالات کتاب الایمان کښې تیرشوی دی. [۳]

② **مالک**:- دا امام دارالهجرة حضرت مالک بن انس رحمه الله دې. [۴]

③ **نافع**:-دا ابوسهیل حضرت نافع بن مالک مدنی رحمه الله دې په کتاب الایمان کښې دَدوی تذکره تیره شوې ده. [۵]

④ **عبدالله بن عمر**:- دادَحضرت عمر رضی الله عنه خوئی عبدالله رضی الله عنه دې. دَدوی حالات شاته تیرشوی دی. [۶]

⑤ **عمربن الخطاب**:- دا امیرالمؤمنین حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه دې. [۷]

په رومبی روایت او دې روایت کښې صرف دَ رواة معمولی شان فرق دې. **یباع**:- دا په ترکیب کښې وجد دَپاره مفعول ثانی واقع کیږی. **أن یبتاعه، لاتبتعه**: دَ باب افتعال نه دَدې معنی دَ لفظ شراء راخی. [۸]

[حدیث ۲۸۱۰] [۹] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ الأَنْصَارِيِّ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو صَالِحٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ - رضي الله عنه - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «لَوْلاَ أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي مَا تَخَلَّفْتُ عَنْ سَرِيَّةٍ، وَلَكِنْ لاَ أَجِدُ حَمُولَةً، وَلاَ أَجِدُ مَا

---

[۱] ) شرح ابن بطال: ۱۳۸/۵ وعمدة القاری: ۲۳۲/۱٤.
[۲] ) تقدم تخریجه فی کتاب الزکوة باب هل یشتری صدقته؟ رقم: ۱٤۹۰.
[۳] ) کشف الباری: ۱۱۳/۲ .
[٤] ) کشف الباری: ۲۹۰/۱.
[٥] ) کشف الباری: ۲۷۱/۲.
[٦] ) کشف الباری: ٦۳۷/۱.
[۷] ) کشف الباری: ۲۳۹ /۱.
[۸] ) عمدة القاری: ۲۳۲/۱٤.
[۹] ) تقدم تخریجه فی کشف الباری: ۳۰٥/۲.

أَحْمِلُهُمْ عَلَيْهِ، وَيَشُقُّ عَلَيَّ أَنْ يَتَخَلَّفُوا عَنِّي، وَلَوَدِدْتُ أَنِّي قَاتَلْتُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَقُتِلْتُ، ثُمَّ أُحْيِيتُ ثُمَّ قُتِلْتُ، ثُمَّ أُحْيِيتُ». [ر: ۲۶۴۴]

**قوله**: ولكن لا أجد حمولة ولا أجد ما أحملهم عليه: علامه رشيد احمد گنگوهی رحمه الله فرمانی چه ددې دواړو جملو جدا جدا مراد متعین کول ضرور دی دې د پاره چه تکرار لازم رانه شی هغوی دوه احتمالات ذکر کړی دی ① یوخودا چه رومبۍ جمله لااحد حموله نه هغه سورلی مراد ده چه په ذاتی ملکیت کښې وی نومطلب به دا شی زما سره خپله هیڅ زیاتی ذاتی سورلی نشته گنی هم مجاهدته به مې ورکوله دویمه جمله ما احملهم نه هغه سورلی مراد ده چه ملکیت اوسبب مثلاً په عاریت وغیره کښې حاصله کړې شی په عاریت کښې مې هم څه سورلی نه ده اخستې گنی هم هغه به مې ورکوله.

② دویم احتمال دادې چه د رومبۍ جملې نه مراد نفس حموله یعنی د سورلئی حصول دې دویمې جمله نه مراد هغه وسائل دی په کوم سره چه سورلی اخستې شی لکه سره زر روپئی پیسې وغیره یعنی نه سورلی موجود ده اونه نی وسائل شته (١)

**نکته**: هم دغه روایت کتاب الایمان اوائل کښې هم راغلی دی په کوم کښې چه د شهادت دا خواهش په قتلت باندې ختمیږی او دلته په دې روایت کښې احییت باندې ختمیږی علامه کرمانی رحمه الله دلته د یونکته طرف ته اشاره فرمائیلې ده د کوم حاصل چه دادې چه دکوم روایت په آخره کښې اقتل وارد شوې دې په دې کښې د اصل حقیقی سعادت اونیک بختئی سبق ذکر کړې شوې دې حقیقتاً د سعاد حاصلیدو ذریعه شهادت دې او په کوم روایت کښې چه احیا یا احییت لفظ وارد شوې دی په هغې کښې د واقع او حقیقت ذکر دې چه د دنیا د ژوند اومرګ نه پس په آخره کښې راتلونکې څیز هم حیات دې چه الله تعالی به تول په آخره کښې راژوندی کوی اوهغه ژوندون ابدی دې اوس حاصل دادې چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم بار بار د شهادت او د بیا ژوندون حاصلولو تمنااوکړه لکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم داخواهش کولو چه ماته شهادت ملاؤشی بیا ژوند ملاؤشی اودوباره بیا شهادت ملاؤشی اوبیا ژوند حاصل شی تردې چه په آخرت کښې کوم حیات ماته حاصل وی هغه دې دشهادت نه پس حاصل وی والله اعلم (٢)

## باب - ۱۱۸ ما قیل فی لواء النبی صلی الله علیه وسلم

**د ترجمة الباب مقصد**: دلته امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې د لواء ذکر کړې دې خو په مذکوره روایاتو کښې لواء او رایه دواړو ذکر راغلې دې غالباً امام صاحب لواء، رایه او عَلَم کښې فرق نه کوی او لغوی حضرات هم دا کلمات مترادفات شمیری حافظ ابن حجر رحمه الله لیکی اللواء: بکسر اللام والمد هی الرایة ویسمی أیضاً العلم (٣)

---

(١) لامع الدراری: ۷/ ۲۶۰.

(٢) شرح الکرمانی: ۱۲/ ۲۰۷.

(٣) فتح الباری: ۶/ ۱۲۶.

امام ترمذی رحمہ اللہ لواء او رایة کښې د فرق قائل دې هغه د هریو د پاره جدا جدا باب قایم کړې دې باب الاوية ترجمه قایم کولوسره هغوی د حضرت جابر رضی اللہ عنہ روایت نقل کړې دې أن رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم دخل مکة ولواءه أبیض (۱)

او بیا باب فی الرایات ترجمه قایم کولوسره د حضرت براء رضی اللہ عنہ حدیث ذکرکړې دې أن رایة رسول الله صلی الله علیه وسلم کانت سوداء مربعة من نمرة. (۲)

او په حدیث ابن عباس رضی اللہ عنہما سره ئې نور فرق واضحه کړو کانت رایته سوداء ولواءه ابیض (۳)

قاضی ابوبکرابن العربی وائی چه لواء هغه جهنډې ته وائی چه په نیزه باندې اوتړلې شي اوراغونډه کړې شي او رایه هغه جهنډې ته وائی چه اوتړلې شي اوچته کړې شي اوهغه په هواکښې خوزیږی (۴) بعض خلق وائی چه رایه غټې جهنډې ته وائی او لواء وړې جهنډې ته وائی بعض حضرات وائی چه رایه هغه ده چه سپه سالارسره وی اولواء هغه ده چه فوجی دستوسره وی اوبعضو د دې عکس وئیلې دې (۵)

بهرحال که دواړه جدا اومنلې شي نوونیلې به شي چه سره د دې چه جدا جدا دی خو دواړه هم جهنډې دی اودواړه د علامت او شعاریه توګه استعمالیږی او د غټې وړې فرق کیدې شي او د استعمال د مواقع په اعتبارسره فرق هم کیدې شي (۶) په دې وجه امام بخاری رحمہ اللہ د لواء ترجمه کولوسره که رایه او لواء دواړه روایتونه ذکرکړی نو په دې کښې هیڅ مضائقه نشته

[حدیث ۲۸۱۱] (۷) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ قَالَ حَدَّثَنِي اللَّيْثُ قَالَ أَخْبَرَنِي عُقَيْلٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي ثَعْلَبَةُ بْنُ أَبِي مَالِكٍ الْقُرَظِيُّ أَنَّ قَيْسَ بْنَ سَعْدٍ الْأَنْصَارِيَّ -رضی الله عنه- وَكَانَ صَاحِبَ لِوَاءِ رَسُولِ اللَّهِ -صلی الله علیه وسلم- أَرَادَ الْحَجَّ فَرَجَّلَ.

## رجال الحدیث

① **سعیدبن ابی مریم**:- سعیدبن حکم بن محمد ابومحمدابن ابی مریم مصری رحمہ اللہ دې د هغوی حالات کتاب العلم کښې تیرشوی دی. (۸)

② **لیس بن سعد**:- لیث بن سعد رحمہ اللہ دې د ده حالات شاته تیرشوی دی. (۹)

---

(۱) الجامع للترمذی: ۱/۲۹۷ أبواب الجهاد باب ماجاء فی الالویة رقم: ۱۶۷۹.
(۲) الجامع للترمذی: ۱/۲۹۷ أبواب الجهاد باب ماجاء فی الرایات رقم: ۱۶۸۰.
(۳) ایضارقم: ۱۶۸۱.
(۴) فتح الباری: ۶/۱۲۶.
(۵) فتح الباری: ۶/۱۲۶.
(۶) عمدة القاری: ۱٤/۲۳۲.
(۷) أخرجه الاسماعیلی نقلا عن فتح الباری: ۶/۱۲۷ وعمدة القاری: ۱٤/۱۳۳.
(۸) کتاب العلم: ٤ باب من سمع شیئا فراجع حتی یعرفه.
(۹) کشف الباری: ۱/۳۲٤.

④**عقیل** - دا قعیل بن خالدبن عقیل رحمه الله دي په کتاب العلم کښې د دوی حالات راغلی دی (۱)
④**ابن شهاب** - دامشهور محدث ابن شهاب زهری رحمه الله دي د دوی حالات تیرشوی دی (۲)
⑤ **ثعلبة بن ابی مالک قرظی** - د دوی حالات په کتاب الجهاد کښې تیرشوی دی (۳)
⑥**قیس بن سعدبن عبادة** - داصحابی رسول حضرت قیس بن سعد رضی الله عنه دي د دوی حالات کتاب الجنائز کښې تیر شوی دی (۴)
**د حدیث مقصد** - دا روایت دلته د ذکرکولو مقصد صرف داجمله ذکرکول دی چه حضرت قیس بن سعد انصاری رضی الله عنه د رسول کریم صلی الله علیه وسلم علم بردار او جهنډا نیوونکې به وو اودلته د لواء ذکر راغلې دي

ان قیس بن سعد..... -دا اسم ان دي او اراد الحج فرجل جمله خبرد ان ده. او وکان صاحب لواء جمله معترضه ده (۵) مکمل روایت داسې دي فرجل احد شقی راسه فقام غلام له فقلد هدیه فنظرقیس فاذا هدیه قد قلد، فاهل بالحج ولم یرجلشق راسه الاخر (۶) یعنی قیس د خپل سرد یوې حصې کمنزه اوکړه د هغه یوغلام وو اود هدی یعنی قربانی قلاده اوتړلې شوه کله چه قیس رضی الله عنه اولیدلو چه د هغه هدی یعنی د قربانئی څاروې قلاده تړلې شوې دې نوزر نې د حج تلبیه اووئیله اود خپل سر د دویمې حصې کمنزه ئی اونه کړه.
امام بخاری رحمه الله په دې مقام د حضرت قیس بن سعد رضی الله عنه پوره اثر نقل کولو په ځائی په لږه شانحصه باندې اکتفاکړې ده. د دې وجه داده چه دا اثر په صحابی باندې موقوف دې او امام بخاری په عام توګه باندې خپل کتاب کښې مرفوع احادیث راوړی البته دلته کان صاحب لواء النبي صلى الله تعالى عليه وسلم دې حصې ته به مرفوع وئیلې شی ځکه چه د لواء هم د حضوراکرم صلی الله علیه وسلم د طرف نه به وی. (۷)
**د روایت ترجمة الباب سره مناسبت**:- د دې اثر ترجمة الباب سره مطابقت بالکل واضحه دې ځکه چه دلته د لواء ذکر په صراحت سره موجود دې. (۸)

---

(۱) کشف الباری:۳/.
(۲) کشف الباری:۱/۳۲۶.
(۳) باب حمل النساء القرب الی الناس فی الغزو.
(۴) باب من قام لجنازة یهودی.
(۵) عمدة القاری: ۱۴/۲۳۳.
(۶) ارشادالساری:۵/۱۲۸.
(۷) شرح القسطلانی:۵/۱۲۸.
(۸) عمدة القاری: ۱۴/۲۳۳.

[حدیث ۲۸۱۲] [1] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي عُبَيْدٍ عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الأَكْوَعِ - رضي الله عنه - قَالَ كَانَ عَلِيٌّ - رضي الله عنه - تَخَلَّفَ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فِي خَيْبَرَ، وَكَانَ بِهِ رَمَدٌ، فَقَالَ أَنَا أَتَخَلَّفُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَخَرَجَ عَلِيٌّ فَلَحِقَ بِالنَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم -، فَلَمَّا كَانَ مَسَاءُ اللَّيْلَةِ الَّتِي فَتَحَهَا فِي صَبَاحِهَا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «لأُعْطِيَنَّ الرَّايَةَ - أَوْ قَالَ لَيَأْخُذَنَّ - غَدًا رَجُلٌ يُحِبُّهُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ - أَوْ قَالَ يُحِبُّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ - يَفْتَحُ اللَّهُ عَلَيْهِ». فَإِذَا نَحْنُ بِعَلِيٍّ، وَمَا نَرْجُوهُ، فَقَالُوا هَذَا عَلِيٌّ، فَأَعْطَاهُ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم -، فَفَتَحَ اللَّهُ عَلَيْهِ. [۳۹۷۲، ۳۴۹۹]

## رجال الحدیث

① **قتیبه:-** دا قتیبه بن سعید رحمه الله دې. کتاب الایمان کښې د دوی تذکره تیره شوې ده. [2]

② **حاتم بن اسماعیل:-** دا حاتم بن اسماعیل کوفی مدنی رحمه الله دې د دوی تذکره اول تیره شوې ده. [3]

③ **یزیدبن ابی عبید:-** د دوی حالات کتاب العلم کښې تیرشوی دی. [4]

④ **سلمه بن اکوع:-** دا معروف صحابی رسول حضرت سلمه بن اکوع رضی الله عنه دې د دوی حالات هم کتاب العلم کښې وړاندې تیرشوی دی. [5]

⑤ **علی بن ابی طالب:-** دا امیرالمؤمنین حضرت علی رضی الله عنه دې د دوی حالات هم په کتاب العلم کښې په تفصیل سره تیرشوی دی. [6] د دې حدیث تشریح کتاب الجهاد کښې باب دعاء النبي عليه السلام الاسلام والنبوة کښې تیره شوې ده. [7]

**ترجمة الباب سره مطابقت:-** د دې روایت ترجمة الباب سره مطابقت لاعطين الراية.... نه مستفاد دې. [8] دې نه دا هم معلومیږی چه امام بخاری رحمه الله راية او لواء کښې فرق نه کوی لکه چه واضحه ده چه امام صاحب خو باب په لواء عنوان سره قایم کړې دې خو روایت نې د راية والا

---

[1] الحديث أخرجه البخاري في كتاب فضائل اصحه باب النبي صلى الله عليه وسلم ومسلم في باب من فضائل علي ابي طالب رضي الله عنه رقم: ۶۲۲۴.

[2] كشف الباري: ۱۸۹/۲.

[3] كتاب الوضوء باب بلاترجمه قبل باب من مضمض واستنشق من غرفة واحدة.

[4] كشف الباري: ۱۸۲/۴.

[5] كشف الباري: ۱۸۳/۴.

[6] كشف الباري: ۱۴۹/۴.

[7] رقم الحديث: ۲۹۴۲.

[8] عمدة القاري: ۲۳۳/۱۴ والقسطلاني: ۱۲۸/۵.

نقل كړې دې لکه چه هغه د امام ترمذی رحمه الله په شان په دواړو کښې امتیاز اوفرق نه کوی هم دغه خبره به د راتلونکی روایت باره کښې کولې شی بل هم دغه روایت مسنداحمد کښې دحضرت بریده رضی الله عنه په واسطه سره نقل دې دکوم الفاظ چه دادی یا دافع الواء الی رجل یحبه الله ورسوله (۱) دا روایت هم په دې دلالت کوی چه لواء او رایة دواړو کښې هیڅ فرق نشته (۲)

**فائده** - امام طبری رحمه الله فرمائی چه د حضرت علی رضی الله عنه ددې روایت نه دافائده حاصلیږی چه امام له پکاردی چه د لښکر امیر داسې سړې جوړکړی چه دهغه د طاقت قوت بصیرت هوښیارتوب او پوهه باندې اعتماد کولې شی (۳)

احدیث ۲۸۱۳ (۴) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ نَافِعِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ سَمِعْتُ الْعَبَّاسَ يَقُولُ لِلزُّبَيْرِ رضى الله عنهما هَا هُنَا أَمَرَكَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- أَنْ تَرْكُزَ الرَّايَةَ. [۴۰۳۰]

## رجال الحديث

① **محمدبن علاء** دا محمدبن علاء ابوکریب همدانی کوفی رحمه الله دې ددوی حالات کتاب العلم کښې تیرشوی دی (۵)

② **ابواسامة**:- دا ابواسامه حماد بن اسامه بن زید قرشی کوفی رحمه الله دې دده تذکره تیره شوې ده (۶)

③ **هشام بن عروه**:-دا دعروه بن زبیربن عوام رحمه الله خوئی دې

④ **عن ابیه** - داحضرت عروه بن زبیر رحمه الله دې ددې دواړو حضراتو ذکربه بدء الوحی کښې تیرشوې دې (۷)

⑤ **نافع بن جبیر**:- دانافع بن جبیر مطعم رحمه الله دې دده تذکره به کتاب الوضوء کښې تیره شوې ده (۸)

**د حدیث مفهوم**:- حضرت نافع رحمه الله فرمائی چه ما دحضرت عباس بن عبدالمطلب دحضرت زبیربن عوام رضی الله عنه نه په مقام حجون کښې پښتنه کونکې واورېدو چه آیا هم دغه شغه خائی دې چرته چه رسول الله صلی الله علیه وسلم تاته د جهنډې خښولوحکم درکړې وو؟ نوحضرت زبیر رضی الله عنه اوفرمائیل

---

(۱) فتح الباری: ۱۵۷/۶ قدیمی.
(۲) فتح الباری: ۱۲۷/۶.
(۳) ایضاً.
(۴) أخرجه البخاری فی کتاب المغازی باب ابن رکزالنبی صلى الله عليه وسلم الراية يوم الفتح.
(۵) کشف الباری:۳۵۷/۳.
(۶) کشف الباری:۴۱۴/۳.
(۷) کشف الباری:۱۱/۱.
(۸) باب الرجل یوضئ صاحبه رقم:۱۸۲.

اوچي كتاب المغازى كښې دا روايت په تفصيل سره راروان دې [1]

**فائده** - علامه مهلب رحمه الله فرمائى چه حديث زبير رضي الله عنه په دې خبره دلالت كوى چه جهنډا د امام دحكم او اجازت نه بغيرنه شي خښولې ځكه چه دغه جهنډا د امام اودهغه دحكم نشاندهي كوى نوپه داسې اهم معامله كښې به د امام د اجازت او دهغه د حكم نه بغير جنهډا لګول مناسب نه وى

د دې خبرې دليل چه جهنډا خښولوكښې هم د امام د اجازت ضرورت شته هغه حديث دې په كوم كښې غزوه موته كښې حضرت جعفر بن ابى طالب او عبدالله بن رواحه رضي الله عنهما د شهادت نه پس جهنډا زيد بن حارثه رضي الله عنه نيولې وه او هغه شهيدشو او بيا حضرت خالدبن وليد رضي الله عنه بغير د اجازت اوحكم نه جهنډا اونيوله الله تعالى دهغوى په لاس باندې مسلمانانوته فتح وركړه

**اخذالراية زيد فاصيب ثم اخذها خالد من غير امرة ففتح له** [2] نودا روايت په دې خبره دنص صريح درجه لرى چه دعلم او جهنډې نيولوذمه وارى پخپله د امام ده اوهغه ته مكمل اختيار دې چه هغه جنهډا چاله غوارى وركړى اودعلم بردارئى چاله چه غوارى اجازت وركولې شى [3]

## باب-١١٩: الاجير

**دَ ترجمة الباب مقصد**:- دې باب قايمولوسره امام بخارى رحمه الله يوحكم خودل غوارى چه اجير في الغزو ته به مال غنيمت نه حصه ملاويږى كه نه؟ [4]

دَ اجيرفي الغزو دوه حالتونه دى: ① ياخو به اجيرفي الخدمت وى ② يابه اجيرللقتال وى

① **دَ اجيرفي الخدمت حكم**:- اجير خدمت هغه كس وى چه دَ يومجاهدذاتى خدمت دپاره يادهغه دَ اس وغيره دَ خيال ساتلودپاره ورسره شوې وى. دا په اتفاق سره جائزدې خو دَمال غنيمت نه به هغه ته حصه ملاويږى كه نه؟ په دې اختلاف دې دَ احنافوپه نيز به دده ته سهم نه ملاويږى صرف اجرت به ملاويږى ځكه چه هغه دَ جنګ په اراده سره نه دې تلې. اوكه هغه خدمت پريخودواوپه جنګ كښې شامل شو نوهغه به هم دَ لښكرنه شميرلې شى اوهغه ته به هم سهم غنيمت ملاويږى. دې نه علاوه په بل صورت كښې به هغه هيڅ كله مستحق نه وى ځكه چه دهغه په جنګ كښې شركت نه كولوسره داخبره واضحه شوه چه هغه دَ جنګ په اراده سره نه دې راغلې [5]

امام مالك رحمه الله [6] ابن المنذر ، ليث بن سعد ، سفيان ثورى رحمهم الله نه دَ حنفيه موافق قول

---

[1] ) كشف البارى:ص ٥٠٨ كتاب المغازى.

[2] ) كشف البارى. ص:٤٨١ كتاب المغازى باب غزوة مؤته من ارض الشام.

[3] ) شرح ابن بطال: ١٤١/٥.

[4] ) عمدة القارى: ٢٣٤/١٤.

[5] ) بدائع الصنائع:١٢٦/٧ كتاب السيرمطلب فى بيان من يتنفع بالغنائم.

[6] ) المدونة الكبرى:٢٣/٢بتب سهما النساء والتجار والعبيد.

نقل دي [۱] اود امام احمد رحمه الله نه دوه اقوال نقل دي يوروايت د احنافو موافق دې خودويم روايت مطابق اجيرخدمت ته به سهم غنيمت مطلقًا نه ملاويږی دامام اوزاعی او اسحاق رحمهم الله هم دغه مذهب دې چه په ذاتی خدمت باندې مقرراجيرته به دغنيمت نه حصه نه ملاويږی [۲]

**د اجيرقتال حکم**:- دحنفيه په نيز اجيرقتال ته به په مال غنيمت کښې حصه ملاويږی مزدوری به نه ملاويږی امام محمدرحمه الله په سيرکبيرکښې ليکلی دی که يوسړې دبل سړی په بدله کښې جنګ دپاره لاړشی نوهغه ته به مزدوری نه ملاويږی ځکه چه داد طاعات نه دی دکوم اجرچه به الله تعالی ورکوی اوکوم سړې چه په طاعات باندې عمل کوی هغه دالله تعالی په دربارکښې نيزديکت حاصلوی اودخپلې نفع اوفائدې دپاره عمل کوی نودهغه مزدوری به په بل انسان باندې څنګه وی؟

دغه شان د مال غنيمت حاصليدو په صورت کښې دې سړی ته به حصه ملاويږی چه په جنګ کښې شريك شوې وی نه چه دهغه سړی کوم چه دې په مزدورئی او اجرت باندې جنګ له راوستې دې [۳] د احنافو دليل دحضرت عمر رضي الله عنه روايت الغنيمة لمن شهدالوقعة دکوم حاصل چه دادې که يوسړې په ميدان جنګ کښې موجود وی او په جنګ کښې هم شريك شوې وی نوهغه ته به په مال غنيمت کښې حصه ملاويږی [۴]

د شوافع هم دغه مذهب دې د کوم تفصيل چه دادې که مسلمان آزاد بالغ د جنګ په صفونو کښې موجود وو نوهغه ته به سهم غنيمت ملاويږی ځکه چه په هغه باندې جهادفرض دې دکوم د اجرت چه استحقاق نه وی او که هغه غلام وی يانابالغ وی يا کافروی نودمزدورئی اواجرت استحقاق به ئی وی. [۵]

**په نقل مذهب کښې د حافظ ابن حجر رحمه الله تسامح**:- دلته د حافظ صاحب د احنافو مذهب نقل کولوکښې تسامح شوې دې. داحنافو مذهب په دې مسئله کښې د شوافع موافق دې [۶] د مالکيه او حنابله موقف دادې چه اجيرللقتال ته به صرف دهغه اجرت ملاويږی. ددې حضراتو استدلال حديث باب نه دې په کوم کښې چه حضرت يعلی بن امير رضي الله عنه يوسړې په درې ديناره د اجير جوړولوذکر موجوددې اودا چه هغه سړی ته ئی هم درې ديناره ورکړل [۷]

حنفيه داسې روايات په کوم کښې چه داجرت ورکولوذکر دې هغې ته اجيرللخدمة باندې

---

[۱] ) المغنی:۹/ ٤٤الفصل رقم: ۷۶۰۰ کتاب الجهاد حکم ملوا استاجر الامير قوما يغزون مع المسلين وحکم الاجير للخدمة.

[۲] ) پورتنئی حواله .

[۳] ) السير الکبير:۲/۱۶۶ نقلا عن اعلاءالسنن:۱۲/۲۲۳.

[۴] ) راجع للتفصيل: اعلاء السنن:۱۲/۱۳۸، ۲۲۵.

[۵] ) فتح الباری: ۶/۱۲۵.

[۶] ) اعلاء السنن:۱۲/۲۲۳.

[۷] ) المغنی: ۹/ ۲٤٤ مساله رقم:۷۵۹۹حکم ماله استاجر الا مام قوما يغزون مع المسلمين.

محسوب کوی قال الحسن وابن سیرین: يقسم للاجير من المغنم.
**د تعليق تخريج** - دا تعليق په مصنف عبدالرزاق کښې او مصنف ابن ابى شيبه کښې موصولاً ذکر کړې شوې دې. (۲) واخذ عطية بن قيس فرسا على النصف، فبلغ سهم الفرس اربعمائة دينار، فاخذ مائتين واعطى صاحبه مائتين

**عطيه بن قيس** - دا جليل القدر تابعى او مجاهد عطيه بن قيس کلاعى يا کلابى ابويحيى الحمصى دمشقى دې دنبى کريم ﷺ په زمانه ۷ هجرى کښې پيدا شوې هغه علوم قرآن د ام درداء رضی الله عنها نه حاصل کړل ام درداء رضی الله عنها د قرآن عالمه وه هغې د قرآن تعليم دخپل خاوند ابودرداء رضی الله عنه نه حاصل کړې وو عطيه بن قيس د اميرمعاويه رضی الله عنه په زمانه کښې د اسلامى فوج قارى وو هغه به خلقو ته قرآن خودلو او خلقو به هغه سره دخپلو ليکلوشوو قرآنى نسخو تصحيح کوله هغوى به تلاوت کولو اوخلقو به اصلاح کوله هغه د قسطنطنيه په جهاد کښې هم شرکت کړې چرته چه دحضرت ابوايوب انصارى رضی الله عنه انتقال اوشو او هم هلته دفن شو
سعيدبن عبدالعزيزوائى چه دعطيه رحمه الله په مجلس کښې به د دنيا دخبرو هيڅ ذکر نه وو اونه به مونږ ددې اميدلرلو چه د دنياوى خبرو تذکره دهغوى په محفل کښې اوچيرلي شى هغوى د حضرت ابى بن کعب عبدالله بن عمرو ابن عمر نعمان بن بشير معاويه بن سفيان نورو صحابه کرامو رضی الله عنهم نه حديث روايت کړې دې دهغوى نه روايت کونکو کښې دهغوى خاص سعدابوبکر بن ابى مريم عبدالله بن علاء بن زبير عبدالرحمن بن يزيد بن جابروغيره دى د حضرت عطيه وفات يوسل څلورکاله په عمرکښې ۱۰۴ هجرى کښې شوې يوقول د ۱۲۱ هجرى هم نقل دې (۳)
**د عطيه رحمه الله د اثرمفهوم** - حضرت عطيه رحمه الله يواس د جهاد دپاره په اجرت باندې اخستې وو فيصله داشوې وه چه مال غنيمت کښې به نيمه حصه داس اجرت وى هغوى ته څلور سوه دينار ملاؤشو دوه سوه دينارئى خپل خان سره کړل او دوه سوه ئى داس والاته ورکړل اوس د عطيه بن قيس ددې عمل په حکم کښې د فقهاؤ اختلاف دې ائمه ثلاثه دې قسم اجاره ته ناجائزوائى ځکه چه دا اجاره مجهوله ده اوداځکه چه دغنيمت مال حاصلول څه يقينى او فيصله شوې خبره نه ده
البته امام اوزاعى رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله دا جائزګرځوى (۴) که چرې داسې اجاره اوکړې شى نو صاحب فرس ته به مثل اجرت ملاويږى اوغنيمت به ټول په ټوله د مجاهدوى

---

(۱) انظر اعلاء السنن: ۱۲/ ۲۲۴.
(۲) مصنف عبدالرزاق ۵/ ۲۲۹ کتاب الجهاد باب هل يسهم للاجير رقم: ۹۴۵۶ وتغليق التعلقى ۳/ ۴۵۱.
(۳) راجع: تهذيب الكمال: ۲۰/ ۱۵۳ وسير اعلام النبلاء ۵/ ۳۲۴.
(۴) فتح البارى: ۶/ ۱۲۵ وشرح ابن بطال: ۵/ ۱۴۰.

احدیث ۲۸۱۴ [۱]: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ عَنْ عَطَاءٍ عَنْ صَفْوَانَ بْنِ يَعْلَى عَنْ أَبِيهِ - رضى الله عنه - قَالَ غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ - صلى الله عليه وسلم - غَزْوَةَ تَبُوكَ، فَحَمَلْتُ عَلَى بَكْرٍ، فَهُوَ أَوْثَقُ أَعْمَالِي فِي نَفْسِي، فَاسْتَأْجَرْتُ أَجِيرًا، فَقَاتَلَ رَجُلًا، فَعَضَّ أَحَدُهُمَا الآخَرَ فَانْتَزَعَ يَدَهُ مِنْ فِيهِ، وَنَزَعَ ثَنِيَّتَهُ، فَأَتَى النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - فَأَهْدَرَهَا فَقَالَ «أَيَدْفَعُ يَدَهُ إِلَيْكَ فَتَقْضَمُهَا كَمَا يَقْضَمُ الْفَحْلُ».

## رجال الحدیث

① **عبدالله بن محمد** - داابوجعفر عبدالله بن محمد بن جعفی بخاری مسندی دې د دوی حالات شاته تیرشوی دی [۲]

② **سفیان** - دامشهورمحدث ابومحمدسفیان بن عیینه بن میمون کوفی رحمه الله دې د تفصیلی حالات کتاب العلم کښې راغلی دی [۳]

③ **ابن جریج** - داعبدالملک بن عبدالعزیزابن جریج رحمه الله دی کتاب الحیض کښې ددوی حالات تیرشوی دی [۴]

④ **عطاء** - دا عطاء بن ابی رباح قرشی ابومحمدجندی یمانی رحمه الله دې ددوی حالات کتاب العلم کښې راغلی دی [۵]

⑤ **صفوان بن یعلی** - دا صفوان بن یعلی بن امیه یمیمی رحمه الله دې

⑥ **یعلی بن امیه** - حضرت یعلی بن امیه صحابی رسول ﷺ دې د صفوان پلاردې رضی الله عنه ددې دواړو حالات کتاب الحج کښې تیرشوی دی [۶]

علامه مهلب رحمه الله فرمائی چه په حدیث یعلی کښې دَدې خبرې ثبوت خونشته چه نبی کریم ﷺ اجیرته سهم ورکړې وی لیکن امام بخاری رحمه الله داحدیث د سهم اجیردپاره په توګه ددلیل پیش کړې دې خکه چه دحدیث نه دامعلومیږی چه د جهاددپاره آزادسړې اجیرجوړولې شي او الله تعالی جل شانه آزادو مسلمانانوته خطاب کولوسره فرمائیلی دی ﴿ وَاعْلَمُوٓا اَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ فَاَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهٗ ﴾ [۷] اجیرهم په دغه خطاب اوحکم کښې داخل دې نوده ته به هم د یو مجاهد په شان دمال غنیمت نه حصه ملاویږی اجرت به ورته نه ملاویږی [۸]

---

[۱]) مر أخرجه

[۲]) کشف الباری:۱/۶۵۷.

[۳]) کشف الباری:۱/۲۳۸.

[۴]) کتاب الحیض باب غسل الحائض رأس زوجها وترجیله.

[۵]) کتاب العلم باب عظة الامام النساء وتعلیمهن.

[۶]) کتاب الحج باب غسل الخلوق ثلاث مرات من الثیاب.

[۷]) الانفال:۴۱.

[۸]) شرح ابن بطال:۵/۱۳۹.

واضحه دې وی چه دلته د اجیرنه مراد اجیرقتال دې اجیرخدمت چه د چادخدمت دپاره میدان جنګ ته راغلې وی او په جنګ کښې شریك شوې نه وی هغه ته به د مال غنیمت نه حصه نه ملاویږی اجرت به ورته ملاویږی د حنفیه چه کوم مشهورمذهب په کتابونوکښې ذکردې چه لایسهم للاجیر ددې هم دغه مطلب دې علی الاطلاق سهم د اجیرنفی مقصودنه ده ددې مسئلې تفصیل د امام محمد رحمه الله کتاب السیرالکبیر په حواله سره بیان شوې دې [۱]

**د حدیث دبعض الفاظوتشریح:-** داحدیث وړاندې تیرشوې دې البته د یوڅو الفاظومطلب دلته بیانولې شی بکر ځوان اوښ ته وائی او اوښې ته بکره وائی

أوثق أعمالي :- زما په عمل کښې دتولونه زیات قابل اعتماد عمل دغزوه تبوك شرکت دې دحموی نسخه کښې أوفق أحمالي دې یعنی هغه اوښ د سوزلئی او بوج وغیره اچولو په اعتبارسره زما په اوښانوکښې د ټولونه زیات مناسب وو اود مستملی په نسخه کښې أوثق أجمالي راغلې دې یعنی قابل اعتمادلوښ. أجمال دجمل جمع ده. علامه برماوی رحمه الله روميي قول صحيح ګرځولې دې ([۲])

فقاتل رجلا - ددې قاتل مصداق پخپله حضرت یعلی رضی الله عنه دې یعنی هغه خپل اجیرسره په جنګ شو ([۳])

فتقضمها قضم. قضما: یوڅیزباندې شخوندوهل. یعنی آیا هغه هم خپل لاس ستا په خله کښې واچوی بیاته هغه باندې چکونه اولګوه لکه چه اوښ شخوندوهی

**دحدیث باب ترجمة الباب سره مطابقت:-** د حدیث شریف ترجمة الباب سره مطابقت فاستاجرت أجیرا کښې دې. والله اعلم وعلمه اتم واحکم

## باب- ۱۲۰ قول النبی صلی الله علیه وسلم (نصرت بالرعب مسیرة شهر)

**وقوله جل وعز: سنلقی فی قلوب الذین کفروا الرعب بما أشرکوا بالله/آل عمران: ۱۵۱**

**قاله جابر، عن النبی صلی الله علیه وسلم** [ر: ۳۲۸]

**د ترجمة الباب مقصد:-** د ترجمة الباب مقصد خوبالکل ښکاره دې چه دلته نبی کریم صلی الله علیه وسلم دمنجمله خصائص نه رعب اودبدبې خصوصیت ذکرکولې شی چه د دښمنانو زړونه ترلرې لرې پورې درسول الله صلی الله علیه وسلم د ویرې نه لړزیدل او درزیدل

علامه مهلب رحمه الله فرمائی چه مونږ د دغه خصوصی رعب پخپله مشاهده کړې ده ابومحمد اصیلی بیان کوی چه مونږ د ابن ابی عامرپه قیادت کښې برشلونه ([۴]) فتح کړو بیا مونږ ته

---

[۱] ) راجع للتفصیل إعلاء السنن: ۱۲/ ۲۲۳ — ۲۲٤ باب لایسهم للاجیر......یقاتلا.

[۲] ) شرح القسطلانی: ۵/ ۱۲۷.

[۳] ) صحیح مسلم کتاب القسامة والمحاربین باب الصائل علی نفس الانسان وعضوه رقم: ۱۶۷۳.

[۴] ) معجم البلدان: ۱/ ۳۸٤.

باوثوق ذرائع سره معلومه شود چه کله اهل قسطنطنیه ته زمونږ په برشلونه د فتح خبر اوشو نوهغوی د ښار دروازې بندې کړې او نورو علاقوته منتقل شو او برشلونه او قسطنطنیه کښې د دوو میاشتو مسافت وو (۱)

**په روایاتوکښې تعارض اودهغې حل**: په طبرانی کښې دحضرت ابوامامه رضی الله عنه په روایت کښې **شهرا أو شهرین** (۲) الفاظ دی بل هم په طبرانی کښې دحضرت صائب بن یزید رضی الله عنه په روایت کښې **شهرا أمامی وشهراخلفی** (۳) نقل دی په ظاهره په حدیث باب او دغه دواړو روایتونوکښې تعارض دې لیکن په حقیقت کښې داسې نه ده ځکه چه مقصد لریوالې اومسافت بیانول دی اودا چه د دنیا په ټولو اطرافوکښې زما رعب قایم شی لکه چه حدیث صائب بن یزید الفاظ **أمامی وخلفی** په دې دلیل دې که هغه د شهرمسافت وی اوکه د شهرین (۴) معلومه شوه چه د شهر قید احترازی نه دی

**نکته**:- دحضرت جابر رضی الله عنه په روایت کښې مسیرة شهر ونیلوکښې نکته دا په هغه زمانه کښې چه کوم لوئی طاقتونه او غټ ملکونه وو د مدینې نه دهغې مسافت د میاشت یا دې نه کم جوړیدلو لکه مصر شام عراق یمن وغیره (۵) هم دغه خلق ووچه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بعثت نه ویریدل د حضرت ابوسفیان مقوله وراندې راځی **إنه یخافه ملك بنی الاصفر**.

**وقول الله عزوجل: ﴿سَنُلْقِي فِي قُلُوبِ الَّذِينَ كَفَرُوا الرُّعْبَ بِمَا أَشْرَكُوا بِاللَّهِ﴾** (۶) دا آیت امام بخاری رحمه الله د روایت دتائید دپاره پیش کړې دې دآیت حاصل دادې چه دکافرانو په زړونوکښې کوم خوف او اضطراب کیفیت د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د بعثت نه پس پیداشوې دې هغه د شرک د وجې نه دی او په دې کښې هیڅ شك نشته چه شرك د بزدلئی او ایمان اوعقیده توحید د قوت سبب دی (۷)

**یوفقهی مسئله**:- اوس دلته په دې مسئله باندې خان پوهه کول پکاردی چه کوم مال په جهاد کښې بغیرد جنګ نه حاصلیږی هغه فئ یادیږی چونکه دنبی کریم صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې چه به کوم مال د دښمن تسلیم کیدو سره حاصلیدلو هغه به د حضورپاك د رعب د وجه نه حاصلیدلو په دې وجه به نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته په هغه مال کښې مکمل اختیاروو چه چرته غواړی استعمال دې کړی (۸)

---

(۱) شرح ابن بطال: ۱۴۲/۵.
(۲) مجمع الزوائد: ۲۵۹/۸.
(۳) مجمع الزوائد: ۲۵۶/۸.
(۴) فتح الباری: ۱۲۷/۶.
(۵) فتح الباری: ۱۲۸/۶.
(۶) (آل عمران: ۱۵۱).
(۷) عمدة القاری: ۲۳۵/۱۴.
(۸) عمدة القاری: ۲۳۵/۱۴.

**قوله** قاله جابر عن النبی صلی الله تعالی علیه وسلم - دا تعلیق امام بخاری ﷫ د یزید الفقیر ﷫ په واسطه سره کتاب الطهارة او کتاب الصلة او کتاب الخمس کښې موصولاً نقل کړې دې [۱]

احدیث ۲۸۱۵ [۲] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضي الله عنه - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ « بُعِثْتُ بِجَوَامِعِ الْكَلِمِ ، وَنُصِرْتُ بِالرُّعْبِ ، فَبَيْنَا أَنَا نَائِمٌ أُتِيتُ بِمَفَاتِيحِ خَزَائِنِ الأَرْضِ ، فَوُضِعَتْ فِي يَدِي » . قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ وَقَدْ ذَهَبَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَأَنْتُمْ تَنْتَثِلُونَهَا .[۶۵۹۷، ۶۶۱۱، ۶۸۴۵]

## رجال الحديث

① **یحیی بن بکیر** - دا ابوزکریا یحیی بن کبیر قرشی سخروی مصری ﷫ دې
② **لیث بن سعد** - دا ابوالحارث لیث بن سعد بن عبدالرحمن فهمی ﷫ د
③ **عقیل** - دا عقیل بن خالد بن عقیل ﷫ دې.
④ **ابن شهاب** - دا ابوبکر محمد بن مسلم بن عبیدالله بن شهاب زهری ﷫ دې دَدې څلورو واړو حضراتو تذکره بدء الوحی کښې راغلې ده [۳]
⑤ **سعید بن مسیب** - دا سعید بن مسیب بن حزن ﷫ دې دَدوی تذکره کتاب الایمان کښې تیره شوې ده [۴]
⑥ **ابوهریره** - دا سیدالمحدثین حضرت ابوهریره ﷺ دې دَ دوی تفصیلی حالات شانه تیرشوی دی [۵] جوامع الکلم: دا اضافة الصفة الی الموصوف دَ قبیل نه دې یعنی الکلم الجوامع دې علامه خطابی ﷫ فرمانی معناه: أیجاز الکلام فی إشباع للمعانی، یقول الکلمة القلیلة الحروف، فتنتظم الکثیر من المعنی، وتتضمن أنواعا من الاحکام. یعنی مختصر او جامع خبرې دکوم الفاظ چه کم وی او مطالب او فوائدنی زیات وی ښکاره کړې شی [۶]

---

[۱] تغلیق التعلیق:۳/۴۵۲.

[۲] أخرجه البخاری فی کتاب التعبیر باب رؤیا اللیل رقم:۶۹۹۸ وباب المفاتیح فی الید رقم: ۹۰۱۳ وکتاب الاعتصام بالکتاب ولسنة باب قول النبی صلی الله تعالی علیه وسلم: بعثت به جوامع الکلم رقم:۷۳۷۳ ومسلم فی کتاب المساجد ومواضع الصولة رقم:۱۷۵۷ ولترمذی فی کتاب السیر باب ماجاء فی الغنیمة رقم:۱۵۵۳ والنسائی فی کتاب الجهاد باب وجوب الجهاد رقم:۳۰۸۹.

[۳] کشف الباری:۱/۲۲۳ – ۲۲۶ بل عقیل دَ حالات دَپاره اوګورنی کشف الباری:۳/۳۹۳.

[۴] کشف الباری:۲/۱۵۹.

[۵] کشف الباری:۱/۶۶۹.

[۶] أعلام الحدیث للخطابی:۲/۱۴۲۲.

**دجوامع الکلم مصداق**:- ابن شهاب زهری ابن التین اواکثرمحدثین ددې په مصداق کښې د عموم قائل دی په کوم کښې چه قرآن اوحدیث دواړه شامل دی یعنی څنګه چه د قرآن کریم مختصرمختصر آیاتونه په خپل خان کښې ډیرې زیاتې معناګانې لرې بالکل هم دغه شان د احادیث نبوی یوه لویه ذخیره د جوامع الکلام مصداق جوړیدې شي [۱] البته علامه مهلب رحمه الله ددې مصداق صرف هم قرآن کریم ګرځولې دې څکه چه د قرآن کریم د یویوآیت مختلف معانې اوتویلات وی اوهغه د قول بارتعالی ﴿ مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتٰبِ مِنْ شَيْءٍ ﴾ [۲] نه استدلال کوی چه په قرآن کریم کښې هیڅ څیززیاتې نه دې بیان شوې داددې خبرې دلیل دې چه جوامع الکلم مصداق هم قرآن دې بل د قرآن کریم صرف یوآیت ﴿ خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجٰهِلِيْنَ ﴾ [۳] کښې دومره جامعیت دې چه د دنیا اوآخرت دټولو امورودپاره کافی دی [۴] خود قرآن کریم په دې صفاتوسره دا لازم نه راځی چه احادیث نبویه ته جوامع الکلم ونیل غلط دی یا نامناسب دی. دحدیث نبوی څومره مثالونه داسې دی چه دهغې الفاظ ډیرمختصر اومعانی لکه د سمندر په شان [۵]

چنانچه علامه قسطلانی رحمه الله فرمائی وهذا شامل للقرآن والسنة فقد کان رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم یتکلم بالمعانی اکثیره في الالفاظ القلیلة [۶]

<u>ونصرت بالرعب</u>:- د نبی کریم ﷺ خصوصیت صرف رعب اودبدبه نه وه بلکه د رعب سره سره په دښمنانو باندې غلبه اوفتح هم مراددې کنی صرف رعب داصرف د نبی کریم ﷺ خصوصیت نه دې څکه چه ویره خودعامو بادشاهانو هم ترلږې لرې پورې دخلقو په زړونوکښې وی [۷]

<u>فبينا أنا نائم</u>:- دراصل بین دې په آخیره کښې الف اشباع دې داد جمله طرف ته مضافات وی [۸] یعنی په دغه وخت زه اوده ووم.

**قوله**: <u>أوتيت بمفاتيح خزائن الارض فوضعت في يدی</u>:

**دخزائن نه څه مراددې؟**:-د خزائن الارض دمراد په تعیین کښې دوه اقواله ذکرکړې شوی دی ① دې نه مرادکسری او قیصر اود مفتوح قومونو خزانې دی چه د عربویه شان فقیراو تنګدست قوم ته د رسول الله ﷺ د وجې نه ملاؤشوې اوهغوی ته داسې داسې خزانې

---

[۱]) عمدة القاری:۱٤/۲۳۵.
[۲]) الانعام:۳۷.
[۳]) الاعراف: ۱۹۹.
[٤]) شرح ابن بطال.
[۵]) دلائل النبوة للبیهقی روایة عقبة بن عامر الجهنی رضي الله عنه.
[٦]) إرشاد الساری:۵/۱۲۹.
[۷]) شرح الکرمانی:۱۳/٤.
[۸]) عمدة القاری:۱٤/۲۳.

ملاؤشوي چه ستركي ورته كولاؤ پاتي شوي ترديې چه د كسرى اوقيصر د تاج اوتخت پورې الله رب العزت د مسلمانانو په قدمونو كښې راوچول (۱)

۲ اوداهم ممكن دى چه دې نه مراد د زمكې معدنيات سره زر سپين زر او اوسپنې وغيره وى اوداصرف په معدنياتو كښې منحصرنه دى بلكه د رزق اوخوراكونو ټولې ذرائع دې نه مراد كيدې شي نوچه څومره وسائل ښكارى داټول د نبى كريم ﷺ د بركته وركړې كيدې شي ځكه چه د خزانو كنجيانې هم حضورپاك ﷺ ته وركړې شوې دى (۲)

**نكته**- علامه قسطلانى رحمه الله فرمائى دلته دالله تعالى اودهغه د حبيب ﷺ په مينځ كښې يومناسبت طرف ته اشاره ملاويږى اوهغه دا لكه چه د مفاتيح الغيب اختصاص الله تعالى دځپل ځان دپاره كړې دې (۳) هسې څو مفاتيح خزائن الارض اختصاص د ځپل حبيب ﷺ دپاره كړې دې (۴) **وقال حسان بن ثابت: وشق له من اسمه ليجله فذوالعرش محمود وهذا محمد** يعنى اوالله تعالى دهغوى د اكرام دپاره خپل نوم سره دهغه نوم مشتق كړې چنانچه دعرش والا محمود دې او تاسو محمد ﷺ ئى

**فوضعت في يدي** -دا د الله تعالى وعدې سره كنايه دد چه د حضورپاك ﷺ امت ته به داهرڅه وركولې شي اود الله تعالى رب العزت دغه وعده پوره شوه مسلمانانوته فتوحات حاصل شو اود خزانو انبارونه اولګيدل (۵) خودې سره مسلمانان د اول په شان جهاد سره شوق نه لرى الله تعالى دځپلې وعدې مطابق بلاد اسلاميه د هرقسم وسائلونه ډك كړل

**قال أبوهريرة رضى الله عنه: وقد ذهب رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم وأنتم تنتثلونها** يعنى نبى كريم ﷺ خوددې دنيا نه رخصت شو اوتاسوخلق دغه خزانې راوباسئى حالانكه پخپله نبى پاك ﷺ په دنياوى معاملوكښې دومره پرهيزګاره او بې پرواه وو چه هغوى دځپل ذات دپاره دې نه هيڅ هم وانخستل اوچه څه ورته ملاؤشوى هغه ئى تقسيم كړى

د حضرت مصعب بن عمير رضى الله عنه باره كښې هم دا مضمون تيرشوې دې چه هغه د دنيا نه په داسې حالت كښې رخصت شوې چه پوره كفن ئى هم نه وو يووړوكې غوندې څادروو چه سربه ئى پټولونوخپې به ئى ښكاره كيدې اوچه خپې به ئى پټولې نو سربه ئى ښكاره كيدو (۶)

راوى حديث حضرت حباب بن الارث رضى الله عنه فرمائى چه هغه خلق خو په داسې حال كښې د دنيانه رخصت شو اوس په مونږ كښې څه خلق هغه دى چه دهغوى ميوه دهغوى دپاره په دنياكښې پخه شوې دد اوهغوى دغه ميوې راغونډه وى (۷)

---

(۱) شرح ابن بطال:۱٤۲/۵ – ۱٤۳ وأعلام الحديث: ۱٤۲۲/۲.
(۲) أعلام الحديث للخطابي ۱٤۲۳/۲ وإرشادالسارى:۱۲۹/۵.
(۳) قال الله تعالى ﴿وَعِندَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ﴾
(۴) شرح القسطلانى:۱۲۹/۵.
(۵) إرشاد السارى:۵ ۱۲۹.
(۶) كتاب الجنائز باب إذالم يجد كفنا إلا مايوارى رأسه أوقدميه غطى رأسه.
(۷) شرح ابن بطلال:۱٤۳/۵.

تنتثلونها . نثل(ن،ض): نثلت البئرو انتثلتها د کوهی نه خاورد راویستل (١)

**ترجمة الباب سره مطابقت** دحدیث ترجمة الباب سره مطابقت نصرت بالرعب نه مستفاد دي.(٢)

[حدیث ۲۸۱۶](٣) حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ - رضي الله عنهما - أَخْبَرَهُ أَنَّ أَبَا سُفْيَانَ أَخْبَرَهُ أَنَّ هِرَقْلَ أَرْسَلَ إِلَيْهِ وَهُمْ بِإِيلِيَاءَ، ثُمَّ دَعَا بِكِتَابِ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم -، فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ قِرَاءَةِ الْكِتَابِ كَثُرَ عِنْدَهُ الصَّخَبُ، فَارْتَفَعَتِ الأَصْوَاتُ، وَأُخْرِجْنَا، فَقُلْتُ لأَصْحَابِي حِينَ أُخْرِجْنَا لَقَدْ أَمِرَ أَمْرُ ابْنِ أَبِي كَبْشَةَ، إِنَّهُ يَخَافُهُ مَلِكُ بَنِي الأَصْفَرِ. [ر: ۷]

په مذکوره سند سره ددې حدیث تفصیلي تشریح تیره شوې ده. (٤)

**ترجمة الباب سره مطابقت:** دلته ددې روایت د راوړلو مقصد دا ټکړه ده إنه یخافه ملك بني الاصفر یعني د رومیانو بادشاه قیصر هم د نبی کریم ﷺ د رعب او ویرې نه رچیدلو نو مطابقت داسې کیږی چه داتولې خبرې د قیصر حضرت ابوسفیان رضي الله عنه سره د شام په ملك کښې اوشوې اود شام اوحجاز په مینځ کښې د یوې میاشت یا دې نه زیات مسافت دي (٥) او قیصر دومره لرې ناست وو د ویرې د وجه نه ئی داسې وئیل فان کان ماتقول حقا . فسیملك موضع قدمي هاتین یعنی اې ابوسفیانه که چرې ستادا بیان رښتوني دې نوهغه نبی کریم ﷺ خو به ډیرزر زما په تخت باندې قبضه اوکړی. والله اعلم اتم واحکم

## باب - ۱۲۱ حمل الزاد فی الغزو

وَقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى: وَتَزَوَّدُوا فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَى. /البقرة: ۱۹۷

**د ترجمة الباب مقصد:** دامام بخاری رحمه الله مقصودددې ترجمة الباب نه یاخوداخودل دی چه جهاد ته د تلودپاره د توښې انتظام اوکړې شی نودا دتوکل منافی نه ده (٦) یاداخودل غواړی چه د توښې اهتمام کول پکاردی ځکه چه په دې سره د جهاد په قوت کښې زیاتوالې کیږی. (٧)

وقول الله تعالی: ﴿ وَتَزَوَّدُوا فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَى ﴾ :- حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائی چه یمن والا به کله حج کولودپاره راتلل نو توښه به ئی ځان سره نه راوړله اوخیربه ئی غوښتلو او وئیل به ئی چه مونږ متوکلین یو. نودا آیت نازل شو چه د سفرتوښه تیارکړئی او بهترین توښه خو

---

١) أعلام الحدیث: ١٤٧٣/٢.
٢) عمدة القاري: ٢٣٥/١٤.
٣) قدمر تخریجه البخاری فی بدءالوحی کشف الباری: ٤٧٧/١ بهذا الاسناد.
٤) کشف الباری: ٤٧٨/١.
٥) عمدة القاري: ٢٣٦/١٤.
٦) عمدة القاري: ٢٣٦/١٤.
٧) عمدة القاري: ٢٣٦/١٤.

پرهیزګاری ده (١)
نو بیا چه کله د دنیا د سفرد پاره توښه تیارولو حکم ورکړې شوې دې نوهم په دغه مناسبت سره د آخرت د سفرد پاره هم د توښې تیار ساتلو حکم ورکړې شوې دې او خودلې شوی دی چه بهترین توښه تقوی اوپرهیزګاری ده (٢)

[حدیث ۲۸۱۷] (٣) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ هِشَامٍ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبِي وَحَدَّثَتْنِي أَيْضًا فَاطِمَةُ عَنْ أَسْمَاءَ - رضى الله عنها - قَالَتْ صَنَعْتُ سُفْرَةَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فِي بَيْتِ أَبِي بَكْرٍ حِينَ أَرَادَ أَنْ يُهَاجِرَ إِلَى الْمَدِينَةِ، قَالَتْ فَلَمْ نَجِدْ لِسُفْرَتِهِ وَلاَ لِسِقَابِهِ مَا نَرْبِطُهُمَا بِهِ، فَقُلْتُ لأَبِي بَكْرٍ وَاللَّهِ مَا أَجِدُ شَيْئًا أَرْبِطُ بِهِ إِلاَّ نِطَاقِي. قَالَ فَشُقِّيهِ بِاثْنَيْنِ ، فَارْبِطِيهِ بِوَاحِدٍ السِّقَاءَ وَبِالآخَرِ السُّفْرَةَ . فَفَعَلْتُ ، فَلِذَلِكَ سُمِّيَتْ ذَاتَ النِّطَاقَيْنِ. [۵۰۷۳، ۳۶۹۵]

## رجال الحدیث

①**عبیدبن اسماعیل**:- د دوی اصل نوم عبدالله ابومحمدهباری قرشی کوفی رحمه الله دې د دوی تذکره کتاب الحیض کښې تیره شوې ده. (٤)

② **ابواسامه**:- داحمار بن اسامه بن زیدقرشی رحمه الله د. د دوی تذکره کتاب العلم کښې تیره شوې ده. (٥)

③ **هشام**:- داهشام بن عروه رحمه الله دې بدء الوحی کې د دوی حالات تیرشوی دی (٦)

④**ابی**:-دا د هشام والد حضرت عروه بن زبیربن عوام رحمه الله دې بدء الوحی کښې د دوی تذکره تیره شوې ده. (٧) فاطمة: دا د هشام بی بی فاطمه بنت المنذرده اواسماء: دا اسماء بنت ابی بکر صدیق رضی الله عنهما ده. د دې دواړو حالات کتاب العلم کښې تیرشوی دی (٨)

**دحدیث مفهوم**:- حضرت اسماء رضی الله عنها فرمائی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم کله د مدینې طرف ته هجرت کولوتشریف ئی اوړلو نوهغې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د سفرسامان تیارکړې وو د مشکیزې او دسترخوان تړلود پاره څه څیزنه ملاویدلو نوهغې خپل پلارحضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه ته

---

١) روح المعانی: ٢/٨٦.
٢) عمدة القاری: ١٤/٢٣٦.
٣) أخرجه البخاری فی کتاب مناقب الانصار باب هجرة النبی صلی الله تعالی علیه وسلم وأصحابه إلی المدینة رقم:٣٩٠٧ وکتاب اطعمة باب الخبز المرقق والاکل علی الخوان والسفرة رقم:٥٧٨٨.
٤) باب نقض المرأة سعرها عندغسل المحیض.
٥) کشف الباری:٣/٢٥٨.
٦) کشف الباری:١/٢٩١.
٧) کشف الباری:١/٢٩١.
٨) کشف الباری:٣/٤٢١، ٤٢٢.

اوونیل بغیرزماد کمربندنه بل داسې څه څیز پاتې نه شوچه داسامان پرې اوتړلې شی نوهغوی اوفرمائیل کمربند دوه ټکړې کړه یوې سره مشکیزه او بلې سره دسترخوان اوتړه هغې هم داسې اوکړل حضرت اسماء رضی الله عنها ته د دې خدمت د وجه نه ذات النطاقین اوونیلې شو

سفرة په ضمه دسین مسافرچه کوم خوراك خپل خان سره په سفرکښې اوړی بیا مطلقًا د دسترخوان دپاره استعمالیدو ددې جمع سُفَرٌ دہ

سقاء په کسره د سین مشکیزې ته ونیلې شی ددې جمع أسقیة ده او سقایة بتاء التانیث د اوبوڅکلوپیاله ته وانی

نطاق په کسره دنون کمربند اوپیټنی ته ونیلې شی داد کپړې یوه ټکړه وی کومه چه ښځې په ملاتړی اوددې پورتنئی حصه په لاندینئی حصه اولاندینئی حصه نی ترزمکې پورې زوړند وی د کور کاروزګارکولووخت کښې دا راکاړی چه خپې په زمکه باندې اونه نخلی ددې جمع نُطُق (بضم النون والطاء) ده [1]

**حضرت اسماء رضی الله عنها ته ذات النطاقین وئیلووجه**:- اوس سوال داپیداکیږی چه حضرت اسماء رضی الله عنها ته د دوو کمربندوالاولې وئیلې شوې ده؟ په دې کښې د محدثینو مختلف اقوال دی

① یوه وجه خو پخپله حدیث باب کښې ذکرده چه هغې خپل کمربند په دووټکړو کښې تقسیم کولوسره جناب نبی کریم صلی الله علیه وسلم د سفرسامان تړلې وو اوهم دغه قول راجح معلومیږی [2]

② دویمه وجه دابیان کړې شوه چه دهغوی عادت وو چه هغې به دوه کمربند تړل او په دې کښې دهغې د فعت اوپاکدامنئی طرف ته اشاره معلومیږی [3]

③ دریمه وجه داده چه د حضرت اسماء رضی الله عنها دوه کمربندوو یوبه نې تړلو او دویم کښې نبی کریم صلی الله علیه وسلم اود حضرت ابوبکر رضی الله عنه دپاره خوراك اوړلو کوم وخت چه هغوی دواړه په غارثورکښې پټ شوی وو [4]

**فقه الحدیث**:- علامه مهلب رحمه الله فرمائی چه ددې حدیث شریف نه معلومیږی چه د لرې په سفرونوتللووخت کښې د لارې توښه څان سره اخستل پکاردی اودا بوج نه دی ګنړل پکار. څکه چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم چه په مخلوق خداکښې د ټولو زیات ښه او د الله تعالی اود هغه په بندګانو کښې د ټولونه زیات عزت والا اود قیامت په ورځ به شفیع الامم وی هغوی به ددې خبرونه بې پرواه کیدل نه نوداد نن صبا اوچوجاهلانو صوفیانو څه ټکانه ده چه د لارې توښه خان سره اوړل د توکل نه خلاف ګنړی اودخلقو نه سوالونه کوی غواړی [5]

---

[1] ) عمدة القاری: ۲۳۷/۱٤.

[2] ) إرشاد الساری: ۱۳/۵.

[3] ) لامع الدراری: ۲۶۲/۷.

[4] ) حاشیه لامع الدراری: ۷/ ۷۲۶۱ – ۲۶٤. وانظر کتاب المغازی فی کشف الباری. ص: ۹۲۰.

[5] ) شرح ابن بطال: ۱٤٤/۵.

**ترجمة الباب سره مطابقت** - دلته دااشکال پیداکیږی چه په حدیث کښې خو حمل الزاد فی الغزو ذکرنشته ځکه چه دلته خود سفرهجرت د لارې د توښه ذکرکیږی نوترجمة الباب سره به نی څنګه مطابقت وی؟
علامه کرمانی رحمه الله فرمانی چه په سفرهجرت باندې سفرغزوه قیاس کړې شوې دې یعنی چه څنګه په سفرهجرت کښې د لارې د توښه ضرورت وی اوحضورپاك به ددې اهتمام کولو هم هغه شان به د جهاد په سفرکښې هم کیدل (۱)
احدیث ۲۸۱۸] (۲) حَدَّثَنَا عَلِی بْنُ عَبْدِاللَّهِ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو قَالَ أَخْبَرَنِى عَطَاءٌ سَمِعَ جَابِرَبْنَ عَبْدِاللَّهِ-رضی الله عنهما- قَالَ كُنَّا نَتَزَوَّدُ لُحُومَ الأَضَاحِى عَلَى عَهْدِالنَّبِى- صلى الله عليه وسلم- إِلَى الْمَدِينَةِ. أطرافه [ر: ۱۶۳۲]

## رجال الحديث

① **علی بن عبدالله**:- دا ابوالحسن علی ابن المدینی رحمه الله دې کتاب العلم کښې دَدوی تفصیلی حالات تیرشوی دی. (۳)
② سفیان: داابومحمدبن عیینه کوفي رحمه الله دې بدء الوحی کښې دَدوی تذکره تیره شوې ده (۴)
③ **عمرو**: داابومحمدعمروبن دینارمکی رحمه الله دې کتاب العلم کښې دَدوی ذکرتیرشوې دې (۵)
④ **عطاء**:- دا عطاءبن ابی رباح یمانی رحمه الله دې کتاب العلم کښې دَدوی ذکرتیرشوې دې (۶)
⑤ **جابربن عبدالله**:- دامشهورصحابی حضرت جابر رضی الله عنه دَ دوی تذکره کتاب الوضوء کښې تیره شوې ده. (۷)

**دَ حدیث نه مستنبط فوائد**:- دَدې حدیث شریف نه یوڅو فائدې مستنبط کیږی ① یوخودا چه سفرکه دَهرقسم نه وی دَ سفرسامان ځان سره اوړل مشروع دی اودَتوکل په نوم باندې دَ لارې توښه نه اخستل لکه چه دَ خشك اوجاهلانو صوفیانو طریقه ده غلطه خبره ده.
② بل دا چه دَ قربانئ غوښه ځان سره په سفرکښې اوړلوکښې هیڅ خرابی نشته.په حدیث شریف کښې دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به په شروع کښې درې ورځې پس دَ قربانئی غوښه خوړلونه منع فرمائیله بیانبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل کلواوتزودوااوادخروا یعنی خورئی او سفرکښې ځان

---

(۱) شرح الکرمانی:۱۳/۵.
(۲) قوله جابربن عبدالله مرتخری فی کتاب الحج باب ماياكل من البدن ومايتصدق رقم:۱۷۱۹.
(۳) کشف الباری:۳/۲۵۶.
(۴) کشف الباری:۱/۲۳۸.
(۵) کشف الباری: ٤/۳۰۹.
(۶) باب عزظة الامام النساء وتعليمهن.
(۷) کتاب الوضوء باب صب النبی صلی الله تعالی علیه وسلم الوضوء علی المغمی علیه.

سره اوړنی او محفوظ کونی (۱)

③: قربانئی غوښه ټول خلق خوړلې شی که هغه قربانی کونکې مالدار ولې نه وی اوچه کله په سفر کښې ځان سره اوړلې شی نوډې نه خوړل هم ثابتیږی (۲)

**ترجمة الباب سره مطابقت** - دډې حدیث ترجمة الباب سره مطابقت کنا نتزود لحوم الاضحاحی کښې دې په مطابقت کښې کوم اشکال پیداکیږی دهغې جواب د روستونی حدیث لاندې تیرشوې دې (۳)

حدیث ۲۸۱۹ (۴) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ قَالَ سَمِعْتُ يَحْيَى قَالَ أَخْبَرَنِي بُشَيْرُ بْنُ يَسَارٍ أَنَّ سُوَيْدَ بْنَ النُّعْمَانِ - رضى الله عنه - أَخْبَرَهُ أَنَّهُ خَرَجَ مَعَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - عَامَ خَيْبَرَ، حَتَّى إِذَا كَانُوا بِالصَّهْبَاءِ - وَهْيَ مِنْ خَيْبَرَ وَهْىَ أَدْنَى خَيْبَرَ - فَصَلَّوُا الْعَصْرَ، فَدَعَا النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - بِالأَطْعِمَةِ، فَلَمْ يُؤْتَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - إِلاَّ بِسَوِيقٍ، فَلُكْنَا فَأَكَلْنَا وَشَرِبْنَا، ثُمَّ قَامَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - فَمَضْمَضَ وَمَضْمَضْنَا، وَصَلَّيْنَا. [ر ۲۰۶]

## رجال الحدیث

① **محمدبن المثنی**:- داابوموسی محمدبن مثنی بصری عنزی رحمه الله دې دَدوی تذکره په کتاب الایمان کښې تیره شوې ده. (۵)

② **عبدالوهاب**:- داابومحمد عبدالوهاب بن عبدالمجید ثقفی رحمه الله دې شاته دَدوی حالات تیرشوی دی. (۶)

③ **یحیی**:- دایحیی بن سعید مدنی رحمه الله دې کتاب الایمان کښې دَ دوی تذکره تیره شوې ده. (۷)

④ **بشیربن یسارژسویدبن نعمان**:- اول الذکرابوکیسان انصاری رحمه الله دې اودویم حضرت سویدبن نعمان انصاری رضی الله عنه دې دَدواړو حضراتو تذکره تیره شوې ده (۸)

فلکنا:- لاك يلوك لوكاً السويق: ستوان صفاکول او په اوبو کښې ورګډول اوڅکل

---

۱) صحیح مسلم کتاب الاضاحی باب بیان ماکان من النبی عن أکل لحوم الاضاحی بعد ثلاث فی أول الاسلام وبیان نسخه وإباحته إلی متی شاء رقم:٥١٠٤.

۲) عمدة القاری:۱٤/۲۳۷.

۳) عمدة القاری:۱٤/۲۳۷.

٤) قدمر تخریجه فی کتاب الوضوء باب من مضمض من السویق ولم یتوضا.

۵) کشف الباری:۲/۲۵.

۶) کشف الباری: ۲/۲۶.

۷) کشف الباری:۲/۳۲۱.

۸) کتاب الضوء باب من مضمض من السویق ولم یتوضا.

**ترجمة الباب سره مطابقت** دحديث شريف ترجمة الباب سره مطابقت په دوو خايونو كښې دي ① فدعا النبى صلى الله تعالى عليه وسلم بالاطعمة ② فلم يؤت النبى صلى الله تعالى عليه وسلم إلا بسويق دادواړه جملې په دې خبره باندې دلالت كوى چه نبى كريم ﷺ اوصحابه كرامو ﷺ به په جهاد كښې د لارې توښه ځان سره اوړله دخوراك مختلف څيزونه به وو دلته د ستوانو ذكردې (۱)

احديث ۲۸۲۰] (۲) حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ مَرْحُومٍ حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي عُبَيْدٍ عَنْ سَلَمَةَ - رضى الله عنه قَالَ خَفَّتْ أَزْوَادُ النَّاسِ وَأَمْلَقُوا، فَأَتَوُا النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - فِي نَحْرِ إِبِلِهِمْ، فَأَذِنَ لَهُمْ، فَلَقِيَهُمْ عُمَرُ فَأَخْبَرُوهُ فَقَالَ مَا بَقَاؤُكُمْ بَعْدَ إِبِلِكُمْ فَدَخَلَ عُمَرُ عَلَى النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا بَقَاؤُهُمْ بَعْدَ إِبِلِهِمْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «نَادِ فِي النَّاسِ يَأْتُونَ بِفَضْلِ أَزْوَادِهِمْ». فَدَعَا وَبَرَّكَ عَلَيْهِ، ثُمَّ دَعَاهُمْ بِأَوْعِيَتِهِمْ، فَاحْتَثَى النَّاسُ حَتَّى فَرَغُوا، ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ، وَأَنِّي رَسُولُ اللَّهِ». [ر ۲۳۵۲]

## رجال الحديث

داحديث بعينه هم په دې سندسره شاته تيرشوې دې د رجال د مفصل حالاتودپاره حواله جات هم هلته اوكورئى (۳)

**د حديث مفهوم:** حضرات صحابه كرامو ﷺ د په جنګ دخوراك مشكلات راپيښ شو نوهغوى حضورپاك ﷺ ته د يوڅو اوښانود ذبح كولو درخواست اوكړو چه منظوركړې شو حضرت عمر فاروق ﷺ ته ددې خبرې خبراوشونو د نبى كريم ﷺ په خدمت كښې حاضرشو اوعرض ئې اوكړو يارسول الله! چه اوښان ذبح كولې شى نوددوى ګذاره به څنګه كيږى؟ رسول كريم ﷺ د حضرت عمر ﷺ مشوره قبوله كړه او وئې فرمائيل خلقواعلان اوكړئى چاسره چه څه باقې پاتې وى هغه دې راوړى رادې شى. كوم څه چه راجمع شو رسول الله ﷺ په هغې باندې د بركت دعااوفرمائيله بياخلقو ته د خپلو خپلو لوښوراوړلو حكم اوشو او هغوى به موټې ډكولواو لوښى به ئى ترې ډكول تردې چه هغوى فارغ شو رچونكه دا يوه معجزه وه څكه، نبى كريم ﷺ اوفرمائيل أشهدأن لا إله إلا الله وأنى رسول الله

**د حديث د بعض الفاظو تحقيق** - خفت أزوادالناس وأملقوا يعنى خلقو سره د خوراك كمې شو اوهغوى محتاج شو دلته حافظ ابن حجر رحمه الله علامه عينى رحمه الله علامه زركشى رحمه الله علامه برماوى رحمه الله ددې مطلب دااخستې دې چه د لارې توښه بالكل ختمه شوې وه خود

---

(۱) عمدة القارى: ۲۳۷/۱۴.

(۲) مرتخريجه فى كتاب الشركة باب الشركة فى الطعام والنهد والعروض رقم: ۲۴۷۴.

(۳) مرتخريجه فى كتاب الشركة باب الشركة فى الطعام والنهد والعروض رقم: ۲۴۷۴.

صاحب مصابیح وینا ده چه حقیقت دانه دي لکه چه خفت نه معلومیږی چه خوراك کم شوي وبالکل ختم شوي نه وو او واقعتا هم داسې وه خکه چه کوم خوراك باقي پاتي شوي وو هغه صحابه کرامو ﷺ د حضورپاك ﷺ په وړاندې راجمع کړو په کوم چه رسول الله ﷺ د برکت دعا اوونیله (۱)

**مابقاءکم بعد إبلکم** - یعنی د اوښانو ذبح کولونه پس به ستاسو گذاره څنگه کیږی؟

**دحدیث نه مستنبط فوائد** - ① دحضرت عمر ﷺ ددې قول نه دا فائده مستنبط کیږی چه نائب وزیرله پکاردی چه هغه دې خپل امیرته صحیح او صائب مشوره ورکړی که امیردهغه نه په دغه معامله کښې مشوره غواړی اوکه نه خکه چه د هغه منصب دهغه نه دخیرخواهئ تقاضاکوی اوهغه ته دمداخلت اختیار ورکوی

② دویمه خبره دامعلومیږی چه دمسافردپاره اهم ترین څیز دهغه سورلی ده خصوصا کرد حجاز په گرم او شکلنه علاقه کښې چرته چه سورلی نه وی نو په ظاهره هم مرگ دهغه مقدردې دهغه خائی په صحراکانوکښې پیدل تگ څه آسان کارنه دې (۲) په دې وجه د سورلئی د حفاظت اهتمام او خیال ساتل پکاردی

③دلته دحضرت عمر ﷺ منقبت اوفضیلت ښکاره کیږی چه دهغه د نبی کریم ﷺ د دعاد قبلیدو یقین وو (۳)

④ په دې قول سره دحضرت عمر ﷺ دمسلمانانودپاره د شفقت اوهمدردئی د جزبې ښه اندازه کیږی (۴)

**قوله** :**نادفي الناس یأتون** -حافظ ابن حجر ﷺ د یاتون نه وړاندې فهم مقدرمنی (۵) په دې صورت کښې جمله مستانفه ده اوعلامه عینی ﷺ په دې ردکوی اودا حال گرځوی د الناس نه (۶) په دې صورت کښې به دا هم یوه جمله شی

علامه مهلب ﷺ فرمائی چه ددې حدیث نه بعض فقهاؤ دااستنباط کړي دي که چرې قحط اود خوراك کمې پیداشی نود حاکم دپاره جائزدی چه د ضرورت نه چاسره زیاتی خوراك وی هغه دې په غله خرڅولوباندې مجبورکړی خکه چه دعام انسانانو بهتری هم په دې کښې ده البته امام مالك ﷺ ددې اجازت نه ورکوی چه یوکس چه هغه د یوڅیزمالك وی دهغې په خرڅولوباندې مجبورکړی (۷)

---

(۱) إرشاد الساری:۱۳۱/۵.
(۲) شرح ابن بطال: ۱٤٥/۵.
(۳) شرح ابن بطال: ۱٤٥/۵.
(٤) عمدة القاری:۲۳۸/۱٤.
(۵) فتح الباری:۱۳۰/۶.
(۶) عمدة القاری: ۲۳۸/۱٤.
(۷) شرح ابن بطال:٤٤/۵.

فاحتثی الناس خلقوډك ډك موتی واخستل یعنی هغه جمع کړې شوې خوراك دَنبی کریم ﷺ د دعاپه برکت دومره زیات شوې ووچه خلقو ډك ډك موتی یوړل داد نبی کریم ﷺ معجزه وه لړ شان خوراك د ټولو خلقودپاره کافی شو (۱)

**قوله**: ثم قال رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم: أشهد أن ...... - دَ نبی کریم ﷺ دمعجزې ښکاره کیدونه پس زر شهادتین لوستل ددې خبرې دلیل دې چه په معجزاتوسره دَ رسالت تائید کیږی (۲)

**فائده**: - ددې حدیث شریف نه دَ نبی کریم ﷺ ښکلې اخلاق ډیرښه واضحه کیږی چه هغوی علیه السلام به دَخپلو ملګرو دَضرورتونوخیال ساتلو تردې چه کله هغوی دَاوښانو دَ ذبح کولو درخواست اوکړو نودَهغوی دَ ضرورتونوخیال کولو سره ئی دا درخواست هم قبول کړو اوبیا چه حضورپاك دَحضرت عمر په مشوره کښې دَمسلمانانو بهتری اوکتله نو زر ئی دَهغه مشوره قبوله کړه (۳)

**ترجمة الباب سره مطابقت**: - دَحدیث شریف ترجمة الباب سره مطابقت خفت ازوادالناس او بفضل ازوادهم کښې دې (۴) والله اعلم وعلمه اتم واحکم

## باب-۱۲۲ حمل الزاد علی الرقاب

**دَ ترجمة الباب مقصد**: - امام بخاری رحمه الله ښائی چه چاسره سورلی نه وی نوهغه له خپل سامان په اوږه اوچتول پکاردی (۵)

حضرت شیخ الحدیث زکریا رحمه الله فرمائی دَامام صاحب مقصد داخودل دی چه مسافرله زیات سامان اوړل نه دی پکار بس چه دومره سامان وی چه کله ضرورت پیښ شی چه سرې پخپله هم هغه اوچت کړې شی (۶)

[حدیث ۲۸۲۱] (۷) حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ الْفَضْلِ أَخْبَرَنَا عَبْدَةُ عَنْ هِشَامٍ عَنْ وَهْبِ بْنِ كَيْسَانَ عَنْ جَابِرٍ-رضي الله عنه- قَالَ خَرَجْنَا وَنَحْنُ ثَلاَثُمِائَةٍ نَحْمِلُ زَادَنَا عَلَى رِقَابِنَا، فَفَنِيَ زَادُنَا، حَتَّى كَانَ الرَّجُلُ مِنَّا يَأْكُلُ فِي كُلِّ يَوْمٍ تَمْرَةً. قَالَ رَجُلٌ يَا أَبَا عَبْدِ اللَّهِ، وَأَيْنَ كَانَتِ التَّمْرَةُ تَقَعُ مِنَ الرَّجُلِ قَالَ لَقَدْ وَجَدْنَا فَقْدَهَا حِينَ فَقَدْنَاهَا، حَتَّى أَتَيْنَا الْبَحْرَ فَإِذَا حُوتٌ قَدْ قَذَفَهُ الْبَحْرُ، فَأَكَلْنَا مِنْهَا ثَمَانِيَةَ عَشَرَ يَوْمًا مَا أَحْبَبْنَا. [ر: ۲۳۵۱]

---

(۱) إرشاد الساری:۱۳۱/۵.

(۲) إرشاد الساری:۱۲۱/۵ وعمدة القاری: ۲۳۸/۱۴.

(۳) إرشاد الساری:۱۲۱/۵ وعمدة القاری: ۲۳۸/۱۴.

(۴) إرشاد الساری:۱۲۱/۵ وعمدة القاری: ۲۳۸/۱۴.

(۵) فتح الباری:۱۳/۶.

(۶) الابواب والتراجم للشیخ زکریا ص:۱۰.

(۷) مرتخریجه فی کتاب الشرکة باب الشرکة فی الطعام والنهد والعروض الخ رقم: ۲۴۷۴.

## رجال الحدیث

① **صدقه بن الفضل** - دا ابوالفضل صدقة بن فضل مروزی رحمه الله دې د دوی تذکره کتاب الصلوة کښې تیره شوې ده [1]

② **عبده** - دا عبده بن سلیمان کلابی کوفی رحمه الله دې د دوی حالات کتاب الایمان کښې تیرشوی دی [2]

③ **هشام** - دا ابوالمنذریا ابوعبدالله هشام بن عروه رحمه الله دې بدء الوحی کښې د دوی تذکره تیره شوې ده [3]

④ **وهب بن کیسان** - داابوالزبیراسدی رحمه الله دې کتاب البیوع کښې د دوی حالات تیرشوی دی [4]

**جابربن عبدالله** - مشهورصحابی حضرت جابر رضی الله عنه دې د دوی تذکره تیره شوې ده [5]

**دَحدیث دَ بعض الفاظوتشریح** - قال رجل: د دې نه مراد راوی حدیث وهب بن کیسان دې چه دَ حضرت جابر رضی الله عنه نه ئې سوال کړې وو [6]

**قوله** : وأين كانت التمرة تقع من الرجل؟: - یعنی دکهجورې په یوه دانه باندې به دَ یوسړی څه اوشی؟

**قوله** : لقدوجدنافقدهاحين فقدنا - یعنی دَ دغه یوې کهجورې نه ملاویدو پریشانی دغه وخت محسوس کړه چه کله د دې ملاویدل هم بندشو وجدنا: وجد یجد وجداً وموجدة: پریشانه کیدل خفه کیدل. داحدیث غزوه سیف البحرسره متعلق دې دکوم تفصیل چه کتاب المغازی کښې راروان دې. [7]

**ترجمة الباب سره مطابقت**: - دَحدیث مبارك ترجمة الباب سره مطابقت بالکل واضحه دې کوم چه په دې جمله کښې دې ونحن ثلاث ماة نحمل زادناعلی رقابنا مونږ درې سوه کسان وو او دَ لارې توښه موپه خپلو اوږوباندې اوچته کړې وه. [8]

**فائده**: - د دې دواړو ابوابونه داهم معلومیږی چه امیرلښکر مجاهدین په سختئی او تکلیفونو برداشت کولو باندې مجبورکولې شی اودَ اولګې او دَلارې دَتوښې دَنشت والی باوجود

---

[1] ) باب الصلوة فی مواضع الابل.

[2] ) کشف الباری:۲/۹٤.

[3] ) کشف الباری:۱/۲۹۱.

[4] ) باب الشراء الدواب والحمیر باب من لم یرالوضوء الامن المخرجین من القبل والذکروالدبر.

[5] ) کتاب الوضوء باب صب النبی صلی الله علیه وسلم الوضوء علی المغمی علیه.

[6] ) کتاب المغازی باب غزة سیف البحر رقم:٤٣٦۰.

[7] ) کتاب المغازی باب غزة سیف البحر رقم ٤٣٦۰.

[8] ) عمدة القاری: ۱٤/۲۳۸.

هغوی په میدان نه پریخودو باندې پابند کولې شی (۱)
**تنبیه** - دلته د ترجمة الباب د اثبات دپاره علامه مهلب رحمه الله فرمائی صحابه کرامو د لارې توښه خپل خان سره اخستې وه خوچه کله هغه ختمه شوه نوهغوی د کهجورې په یوه یوه دانه باندې په گذاره کولوباندې مجبورشو بیا چه کله کهجورې هم ختمې شوې نو خبره په اولګه راغله سره ددې چه الله تعالی جل شانه په دې باندې قادردې چه د کانړو نه مالوچ او غرونه میوې راپیداکړی خوداسې هیڅ یوه خبره خلاف عادت مخې ته رانغله ددې نه دا سبق ملاویږی چه د لارې د توښې انتظام کول پکاردی او د کرامتونو انتظار نه دی کول پکار (۲)

## باب- ۱۲۳ ارداف المرأة خلف أخيها

**ربط او مناسبت** - چونکه په جهاد کښې په عام توګه باندې هم سفرکیږی په دې وجه امام بخاری رحمه الله وړاندې بابونو کښې د سفرمسائل بیانوی
**د ترجمة الباب مقصد**:- حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهی رحمه الله فرمائی چه خور رور پسې په سورلئی شاته کینول داسې معامله ده چه ددې ضرورت په سفرکښې پیښیږی خصوصاً په جهاد کښې د مشقت نه ډک سفرونوکښې په کوم کښې چه هرطرف ته خطرې او مشکلات وی داسې ضرورتونه ډیر پیښیدې شی په دې وجه امام بخاری رحمه الله ددې صورت جواز دلته بیان کړو که خور رور پسې شاته په سورلئی کینولې شی نو په دې کښې هیڅ بدی نشته (۳) البته احتیاط کول پکاردی.
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی امام بخاری رحمه الله ددې خائی نه بیان کول غواړی چه د ښځو جهاد حج دې لکه چه د حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها په روایت کښې چه راغلی دی جهاد کن الحج (۴)
امام بخاری رحمه الله هم په کتاب الجهاد کښې دا روایت نقل کړې دې (۵) خو ظاهره ده چه د حضرت ګنګوهی رحمه الله توجیهه ډیره جامع ده ځکه چه دې سره د ترجمة الباب مقصد او د کتاب الجهاد نه ددې روایتونو مناسبت هم واضحه کیږی خو د حافظ رحمه الله توجیهه کتاب الجهاد سره مناسبت خو په ذهن کښې راځی لیکن د ترجمة الباب مقصد دې نه واضح کیږی نه

[حدیث ۲۸۲۲- ۲۸۲۳] (۶) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ الأَسْوَدِ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - أَنَّهَا قَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ، يَرْجِعُ أَصْحَابُكَ بِأَجْرِ حَجٍّ وَعُمْرَةٍ، وَلَمْ أَزِدْ عَلَى الْحَجِّ. فَقَالَ لَهَا «اذْهَبِي وَلْيُرْدِفْكِ عَبْدُ الرَّحْمَنِ». فَأَمَرَ

---

(۱) شرح ابن بطال: ۱۴۵/۵.
(۲) حواله بالا ص:۱۴۶.
(۳) لامع الدراری:۲۶۵/۷.
(۴) فتح الباری: ۱۳۱/۲.
(۵) وفی حاشية الامع افاده الشيخ مقدس سره أجود مما قاله الحافظ:۲۶۵/۷.
(۶) قوله عن عائشة....مر تخريج فی كتاب الحيض باب الامربالنفساء إذاتنفس رقم: ۲۹۴.

عَبْدَ الرَّحْمٰنِ أَنْ يُعْمِرَهَا مِنَ التَّنْعِيمِ، فَانْتَظَرَهَا رَسُولُ اللّٰهِ - صلى الله عليه وسلم - بِأَعْلَى مَكَّةَ حَتَّى جَاءَتْ.

## رجال الحديث

①**ابوحفص عمرو بن علی**- داعمرو بن علی بن بحرباهلی رحمه الله دي دَدوی حالات کتاب الوضوء کښې تیرشوی دی (١)

② **ابوعاصم**:- دده نوم ضحاك بن مخلدبني ضحاك بن مسلم شيبانی رحمه الله دي کتاب العلم کښې دَدوی تذکره شوې ده. (٢)

③**عثمان بن اسود**:-عثمان بن اسود جمحی رحمه الله حالات تیرشوی دی. (٣)

④ **ابن ابی ملیکه**:- داابوبکر عبدالله بن عبیدالله بن ملیکه زهیر رحمه الله دي کتاب الایمان کښې دَدوی تذکره تیره شوې ده. (٤)

⑤**عائشه**:-دا سیده ام المؤمنین حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها ده. بدء الوحی کښې دَدې تذکره تیره شوې ده (٥)

**ترجمة الباب سره مطابقت**:- دَحدیث شریف ترجمة الباب سره مطابقت په دې جمله کښې دې إذهبي وليردفك عبدالرحمن کوم چه بالکل واضح دی. (٦)

احدیث ۲۸۲۳](٧) حَدَّثَنِي عَبْدُ اللّٰهِ حَدَّثَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ أَوْسٍ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ - رضى الله عنهما - قَالَ أَمَرَنِي النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - أَنْ أُرْدِفَ عَائِشَةَ وَأُعْمِرَهَا مِنَ التَّنْعِيمِ. [ر: ۱۶۹۲]

## رجال الحديث

①**عبدالله**:- دا عبدالله بن محمدابوجعفرمسندی رحمه الله دي کتاب الایمان کښې دَدوی تذکره تیره شوې ده (٨)

②**ابن عیینه**:-دا ابومحمدسفیان بن عیینه دې. بدء الوحی کښې دَ دوی تذکره تیره شوې ده.(٩)

---

(١) باب الرجل يوضئ صاحبه.

(٢) كتاب العلم: ١٢٢/٣.

(٣) كتاب الشركة باب الشتراک فی الذهب والفضة وما يكون فيه الصرف.

(٤) كشف الباری:٢٤٨/٢.

(٥) كشف الباری:٢٩١/١.

(٦) عمدة القاری:٢٣٩/١٤.

(٧) .مر تخريج في كتاب العمرة باب عمرة النعيم.

(٨) كشف الباری: ٦٥٧/١.

(٩) كشف الباری:٢٣٨/١.

③عمروبن دينار - داعمروبن دينارجرمی رحمه الله دې کتاب العلم کښې دَدوی تذکره تیره شوې ده.[1]

④عمروبن اوس - داعمرو بن اوس سقفی رحمه الله دې کتاب التهجد کښې دَدوی حالات تیرشوی دی.[2]

⑤ عبدالرحمن بن ابی بکرصدیق:- داصحابی رسول حضرت عبدالرحمن بن ابی بکر صدیق رضی الله عنه دي دَدوی حالات تیرشوی دی.[3]

**ترجمة الباب سره مطابقت** - دَ حدیث شریف ترجمة الباب سره مطابقت امرني النبي صلی الله علیه تعالی علیه وسلم أن اردف عائشة واعمرهامن التنعیم نه واضح کیږی.[4] والله اعلم وعلمه اتم واحکم

**فقه الحدیث** - علامه مهلب رحمه الله فرمائی چه دَدې حدیث نه معلومیږی چه په یوه سورلئی (که هغه څاروې وی یا موټر یا موټرسائیکل وغیره وی) دوه کسان سوریدې شی اودَ سورلئی دَ طاقت اوبرداشت خیال ساتل پکاردی خاص په هغه وخت چه کله سورلی بې زبانه ځناورو‌ی اوبنځې په سورلئی باندې دَ سړو مخې ته نه دی کینول پکار که هغه محرم ولې نه وی. سنت هم دادی چه هغه دې شاته کینولې شی اوهم دغه ادب او دَ وقار تقاضاهم ده. لکه څنګه چه دَحضرت موسی علیه السلام دَحضرت شعیب علیه السلام لور هغوی ته لارخودنه کولوسره وړاندې وړاندې تلله او په هواسره دَهغې کپړې اوچتیدلې نو خپل شاته دَ تللو او په اشاره سره دَلارخودلوئی ورته اووئیل. حضرت شعیب علیه السلام لوربی بی په واپسئی کښې خپل پلارته اووئیل ﴿ اِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَاْجَرْتَ الْقَوِيُّ الْاَمِيْنُ ﴾[5] یعنی هغې خپل پلارته دَ موسی علیه السلام دَ طاقت پاکبازئی اوامانت باره کښې خبرورکړو.[6]

## باب-١٢٤ الارتداف في الغزووالحج

**دَ ترجمة الباب مقصد**:- مناسبت خو بیان شو چه دَ سفردَمسائلوپه جهادکښې ضرورت پیښیږی. روستونی باب کښې داخودلی وو چه خور رور پسې شاته په سورلئی کیناستل جائزدی اوس دابنائی چه په غزوه کښې روان وی که په حج کښې هلته هم دویم کس خپل ردیف جوړلوکښې څه حرج نشته.[7]

---

[1] ) کتاب العلم باب العلم والعظة بالليل.
[2] ) کتاب التهجدباب من نام عندالسحر.
[3] ) کتاب الحيض باب نقض المرأة شعرهاعندغسل المحيض.
[4] ) عمدة القاری: ٢٣٩/١٤.
[5] ) القصص: ٢٦.
[6] ) شرح ابن بطال: ١٤٧/٥.
[7] ) عمدة القاری: ٢٣٩/١٤.

احدیث ۲۸۲۴] [1] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ أَبِي قِلاَبَةَ عَنْ أَنَسٍ -رضی الله عنه- قَالَ كُنْتُ رَدِيفَ أَبِي طَلْحَةَ، وَإِنَّهُمْ لَيَصْرُخُونَ بِهِمَا جَمِيعًا الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ. [ر ۱۰۳۹]

## رجال الحديث

① **قتیبه**:- داقتیبه بن سعید ثقفی رحمه الله دي کتاب الایمان کښې دَدوی تذکره تیره شوې ده[2]

② **عبدالوهاب**:- دا ابومحمد عبدالوهاب ثقفی رحمه الله دي

③ **ایوب** -داابوبکرایوب سختیانی رحمه الله دې.

④ **ابوقلابة** -دا ابوقلابة عبدالله بن زید جرمی رحمه الله دې دَدې دریواړو حضراتو حالات کتاب الایمان کښې تیرشوی دی.[3]

⑤ **انس**:- داخادم رسول حضرت انس رضي الله عنه دي دَدوی تذکره هم کتاب الایمان کښې تیره شوې ده[4]

**قوله**: کنت ردیف أبي طلحة، وإنهم ليصرخون بهما جميعا: الحج والعمرة:-حضرت انس رضي الله عنه فرمائی چه دَحج په سفرکښې حضرت ابوطلحه رضي الله عنه صرف هم په یوخاروي باندې سوروو اوخلقو (تلبیه کښې)حج اوعمرې دواړو چغې وهلې دا واقعه دَ حج سفرسره متعلق ده خوجهادهم دَحج په شان عبادت دې په دې وجه دا روایت دَ جهاد په ابواب کښې ذکرکړې شو

**فقه الحدیث**:- ددې حدیث شریف نه یو څو فوائد مستنبط کیږی

① په حج او جهاد کښې یوبل سره تعاون کول پکاردی ② ارداف سنت دې اؤ سلف صالحین طریقه ده دې نه دَعاجزئی اظهارکیږی

**ترجمة الباب سره مطابقت**:-دَمذکوره حدیث ترجمة الباب سره مطابقت کنت ردیف أبي طلحة کښې دې. اودَ جهاد سفرئی دَ حج په سفرباندې قیاس کړې دې.[5]

## باب-۱۲۵ الردف علی الحمار

**دَ ترجمة الباب مقصد**:- خردَ اس په مقابله کښې یو وړوکې شان ځناور دې په دې وجه شك کیدې شو چه په دې باندې به دَ دوو کسانو کیناستل جائزنه وی نو امام بخاری رحمه الله اوخودل چه په دې کښې هیڅ حرج نشته

باقی دا شرط څو په هرځناورکښې دې چه هغه دَ سور بوج اوچتولې شی کنی ځناورته بې ځایه

---

[1] ) .مر تخریج فی کتاب تقصیر الصلوة باب یقصر إذا اخرج من موضعه: ۱۰۸۹.

[2] ) کشف الباری:۱۸۹/۲.

[3] ) کشف آلباری:۲۶/۲.

[4] ) کشف الباری:۴/۲.

[5] ) عمدة القاری:۲۳۹/۱۴.

تکلیف ورکول جائزنه دی چه د څومره سورلو بوج دغه ځناور اوچتولې شی په هغې باندې هم هغه هومره بوج اچول پکار دی که اوبښ وی که اس وی او که بل ځناور (۱)

احدیث ۲۸۲۵ [۲] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا أَبُو صَفْوَانَ عَنْ يُونُسَ بْنِ يَزِيدَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ - رضي الله عنهما - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - رَكِبَ عَلَى حِمَارٍ، عَلَى إِكَافٍ عَلَيْهِ قَطِيفَةٌ، وَأَرْدَفَ أُسَامَةَ وَرَاءَهُ. [۴۲۹۰، ۳۵۳۹، ۶۱۹۰، ۵۸۵۴، ۵۸۹۹]

## رجال الحدیث

① **قتیبه**: - دا قتیبه بن سعید ثقفی رحمه الله دې کتاب الایمان کښې ددوی تذکره تیره شوې ده (۳)

② **ابوصفوان**: - ددوی نوم عبدالله بن سعید رحمه الله دې کتاب الاذان کښې ددوی حالات تیرشوی دی (۴)

③ **یونس بن یزید**: - دا ابوالنجار ایلی رحمه الله دې بدء الوحی کښې تذکره راغلې ده (۵)

④ **ابن شهاب** - دا ابوبکر محمد بن سلم ابن شهاب زهری رحمه الله دې د دوی حالات بدء الوحی کښې تیر شوی دی (۶)

**تحقیق کلمات حدیث** - أكاف په کسره دهمزه او کاف بالواؤهم مستعمل دې ددې جمع أكُفْ او آكفة ده. دخرلمسی ته وئیلې شی.

قطیفة: ددې جمع قطائف ده مالوچی څادرته وائی یعنی نبی کریم ﷺ په خرباندې سورووا او په لمسی او کته باندې څادر خور شوې وو او حضرت اسامه رضی الله عنه حضورپاک پسې شاته ناست وو

**فقه الحدیث**: - ددې حدیث نه د نبی کریم ﷺ ډیر متواضع کیدل ثابتیږی رسول الله ﷺ به دخرغوندې څاروی باندې هم سورلی کوله او خپل ځان پسې به ئې شاته څوك کینولو کښې هم شرم نه محسوس کولو (۷)

---

[۱] ) لامع الدراری:۲۶۵/۷ وعمدة القاری: ۲۳۹/۱٤.

[۲] ) .الحدیث أخرجه البخاری فی کتاب التفسیر باب ولتسمعن من الذین أوتوا الکتاب رقم:٤٥٦٦ وکتاب المرضی باب عیادة المریض راکبا وماشیا وردفا علی الحمار رقم:٥٦٦٣ وکتاباللباس باب الارتداف علی الدابة: ٥٨٦٤ وکتاب الادب باب کنیة المشرک رقم: ٦٢٠٧ وکتاباالاستذان باب التسلیم فی مجلس فیه أخلاط من المسلمین والمشرکین رقم:٦٢٥٤ ومسلم کتاب الجهاد باب دعاء النبی صلی الله علیه وسلم وصبره علی أذی المنافقین.٤٦٥٩.

[۳] ) کشف الباری:۱۸۹/۲.

[۴] ) باب الانفتال والانصراف عن الیمین والشمال.

[۵] ) کشف الباری:٤٦٣/۱..

[۶] ) کشف الباری:۳۳۰/۱.

[۷] ) شرح ابن بطال: ١٤٨/٥.

علامه طبری رحمه الله فرمائی چه رسول الله ﷺ به دخپل لوئی شان اوعظمت باوجود خپل امت ته دتعلیم ورکولو دپاره داهرخه کول دي دپاره چه خلق دخرسورلی معیوب اونه گنړی اوخپل خان پسې شاته څوك سورول د ذلت سبب اونه گنړی لکه چه دکبرژنوخلقو طریقه اوعادت وی (١)
بل دا چه حضرت اسامه بن زید رضی الله عنهما د رسول الله ﷺ د محبت اوتعلق اندازه هم ددې واقعه نه دوړاندینی روایت نه ښه لګولې شی (٢)
دلته د روایت صرف هغه حصه ذکرکړې شوه دکومې چه ترجمة الباب سره تعلق دې تفصیلی واقعه وړاندې کتاب التفسیر کښې راروانه ده (٣)

**ترجمة الباب سره مطابقت** - دحدیث شریف ترجمة الباب سره مطابقت أن النبی صلی الله تعالی علیه وسلم رکب علی حمار.....وأردف أسامة وراء نه واضح دې.

احدیث ۲۸۲۶[(٤) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ قَالَ يُونُسُ أَخْبَرَنِي نَافِعٌ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ - رضی الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - أَقْبَلَ يَوْمَ الْفَتْحِ مِنْ أَعْلَى مَكَّةَ عَلَى رَاحِلَتِهِ، مُرْدِفًا أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ وَمَعَهُ بِلاَلٌ وَمَعَهُ عُثْمَانُ بْنُ طَلْحَةَ مِنَ الْحَجَبَةِ، حَتَّى أَنَاخَ فِي الْمَسْجِدِ، فَأَمَرَهُ أَنْ يَأْتِيَ بِمِفْتَاحِ الْبَيْتِ، فَفَتَحَ وَدَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَمَعَهُ أُسَامَةُ وَبِلاَلٌ وَعُثْمَانُ، فَمَكَثَ فِيهَا نَهَارًا طَوِيلاً ثُمَّ خَرَجَ، فَاسْتَبَقَ النَّاسُ، وَكَانَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ أَوَّلَ مَنْ دَخَلَ، فَوَجَدَ بِلاَلاً وَرَاءَ الْبَابِ قَائِمًا، فَسَأَلَهُ أَيْنَ صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَأَشَارَ لَهُ إِلَى الْمَكَانِ الَّذِي صَلَّى فِيهِ، قَالَ عَبْدُ اللَّهِ فَنَسِيتُ أَنْ أَسْأَلَهُ كَمْ صَلَّى مِنْ سَجْدَةٍ. [ر: ۳۸۸]

## رجال الحدیث

① **یحیی بن بکیر** - ددوی کنیت ابوزکریا دې. ② **لیث** - دا ابوالحارث لیث بن سعد فهمی رحمه الله دې ددې دواړو حالات بدء الوحی کښې تیرشوی دی. (٥)
③ **یونس** - دایونس بن یزیدایلی رحمه الله دې. ددوی حالات بدء الوحی کښې تیرشوی دی (٦)
④ **نافع** - دا ابوسهیل نافع بن مالك اصبحی رحمه الله دې ددوی حالات تیرشوی دی (٧)
⑤ **عبدالله** - دا عبدالله بن عمر رضی الله عنهما دې کتاب الایمان کښې نی تذکره تیره شوې ده. (٨)

---

١) شرح ابن بطال:۱٤٨/٥.
٢) عمدة القاری:١٤/٢٤٠.
٣) کشف الباری کتاب التفسیر ص: ١٢٦.
٤) قدمر تخریجه فی کتاب الصلوة باب قوله تعالی ﴿وَاتَّخِذُوا مِن مَّقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى﴾ رقم: ٣٩٧.
٥) کشف الباری:١/٣٢٣ – ٣٢٤.
٦) کشف الباری:١/٤٦٣.
٧) کشف الباری:٢/٢٧١.
٨) کشف الباری:١/٦٣٧.

**ترجمة الباب سره مطابقت** - دلته دمطابقت په سلسله کښې يو اشکال پيدا کيږي چه باب خو ردف علي الحمار قايم کړې اوپه مذکوره حديث کښې د نبي کريم ﷺ په اوښ باندې سوريدو ذکر دې اودا اشکاره خبره ده چه نبي کريم ﷺ د فتح مکه په ورځ په خربندې سوارې نه ده کړې [۱] علامه عيني رحمه الله فرمائي رتداف خو په دواړو صورتونو کښې هم يوشان دې او په خناور کښې فرق دې. په دې سره د حديث شريف د ترجمة الباب په انطباق باندې هيڅ اثر نه پريوځي [۲]

الحجبة دا د حاجب جمع ده ددې معنی ده دربان څوکيدار دلته ددې نه مراد د بيت الله شريف چابياني ساتونکې دې

**قوله**: قال عبدالله: فنسيت أن أساله كم صلى من سجدة - دلته خو حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما دافرمائي چه هغه داخبره هيره کړې ده چه حضور پاک ﷺ څو رکعته کړي وو. خو د کتاب الصلوة والاروايت [۳] کښې تصريح موجود ده چه نبي کريم ﷺ په خانه کعبه کښې دننه دوه رکعته کړي نو په دې دواړو روايتونو کښې په ظاهر تعارض ښکاري؟

ددې اشکالاتوجوابونه کتاب المغازي کښې مونږ په تفصيل سره بيان کړي دي [۴] دلته دهغې خلاصه بيانولې شي. ① يوجواب خودا ورکړې شوې چه صلى رکعتين والاروايت وهم دې خودا جواب ضعيف دې. ② حضرت ابن عمر رضي الله عنهما صراحتاً ددې خبرې پښتنه نه وه کړې بلکه حضرت بلال رضي الله عنه اشارة خودلې وه چه دوه رکعته ئې کړي. لکه چه ددې روايت د سياق نه معلوميږي کوم چه په کتاب الصلوة کښې ذکردې ③ صلى رکعتين په اقل متيقن باندې محمول دې. يعنى په يقيني توګه باندې کم نه کم مونځ هم دوه رکعته وي والله اعلم وعلمه اتم واحکم

## باب- ۱۲۶ من أخذ بالركاب ونحوه

**د ترجمة الباب مقصد**: دلته امام بخاري رحمه الله داخودل غواړي چه د سور رکاب نيول اوپه سوريدو کښې امداد کول دا يونيک او د فضيلت علم دې خاص کر په هغه وخت چه سوريدونکي د جهاد د پاره خپه په رکاب کښې وي نو ددې په فضيلت کښې نورهم زياتوالې کيږي [۵]

حضرت ابن عباس رضي الله عنهما يوځل دحضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه رکاب اونيولو نوهغه اونيل اې د نبي د تره خويه داسې مه کوه. ابن عباس رضي الله عنهما اوفرمانيل مونږ ته د خپلو علماؤ سره هم ددا سې سلوک کولوحکم راکړې شوې دې. دې اوريدو سره حضرت زيد رضي الله عنه د ابن عباس رضي الله عنهما لاس

---

[۱] ) فتح الباري: ۱۳۲/۶.
[۲] ) عمدة القاري: ۲٤۰/۱٤.
[۳] ) باب قوله تعالى ﴿وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى﴾
[٤] ) كشف الباري كتاب المغازي ص:۵۱۵.
[۵] ) شرح ابن بطال:٤۸/۵ وعمدة القاري:۲٤۰/۱٤.

اونيولو او بنكل ني كړو نو هغه اوونيل داسي مه كوه نو حضرت زيد ﷺ اوونيل مونږ ته د آل رسول ﷺ سره دداسي ميني كولو حكم راكړې شوې دې (۱)
او داخبره هم په ذهن كښې ساتل پكاردى چه په دې كښې د ركاب نيونكى تذليل كيږى نه د سوريدونكى دپاره دا د څه فخرخبره ده په سفركښې هم داسې كيږى او ددې ضرورت راځى چه څوك راكوز كړې شى او يا سوركړې شى

احديث ۲۸۲۷ (۲) حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ هَمَّامٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضي الله عنه - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - « كُلُّ سُلاَمَى مِنَ النَّاسِ عَلَيْهِ صَدَقَةٌ كُلَّ يَوْمٍ تَطْلُعُ فِيهِ الشَّمْسُ ، يَعْدِلُ بَيْنَ الاِثْنَيْنِ صَدَقَةٌ ، وَيُعِينُ الرَّجُلَ عَلَى دَابَّتِهِ، فَيَحْمِلُ عَلَيْهَا، أَوْيَرْفَعُ عَلَيْهَا مَتَاعَهُ صَدَقَةٌ، وَالْكَلِمَةُ الطَّيِّبَةُ صَدَقَةٌ، وَكُلُّ خَطْوَةٍ يَخْطُوهَا إِلَى الصَّلاَةِ صَدَقَةٌ، وَيُمِيطُ الأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ صَدَقَةٌ ». [ر: ۲۵۶۰]

## رجال الحديث

① **اسحاق:-** دا اسحاق بلانسبت ذكرشوې دې او **باب فضل من حمل متاع صاحبه في السفر** (۳) كښې دا روايت دَاسحاق بن نصر او **كتاب الصلح** (۴) كښې اسحق بن منصور نه مروى دې اوس دلته سوال دا پيداكيږى چه دلته دَابن نصر او ابن منصورنه كوم يو راوى مراددې او دا دواړه هم دَعبدلرزاق نه روايت كوى.
حافظ ابن حجر او علامه عينى ﷫ فرمائى چه دا ابويعقوب اسحاق بن منصور بن بهرام كوسج مروزى ﷫ دې. ځكه چه دَ ابوذر په نسخه كښې هم اسنحاق بن منصورراغلي دې او دويمه خبره داده چه كتاب الصلح والارروايت (كوم چه دَ ابن منصورنه مروى دې) او دَ روايت باب الفاظ بالكل يوشان دى. خو دَابن نصردَ روايت سياق څه قدرې مختلف دې كوم چه په كتاب الجهاد كښې تيرشوې دې. (۵) دَ اسحاق بن منصور تفصيلى حالات كتاب الايمان كښې راغلى دى. (۶)
② **عبدالرزاق:-** دا ابوبكر عبدالرزاق صنعانى ﷫ دې دَدوى حالات بدء الوحى لاندې تيرشوى دى. (۷)

---

(۱) شرح ابن بطال: ۴۸/۵ وعمدة القارى: ۲۴۰/۱۴.
(۲) مر تخريجه في كتاب الصلح باب فضل الاصلاح بين الناس والعدل بينهم: ۲۷۰۷.
(۳) كتاب الجهاد رقم الحديث : ۲۸۹۱.
(۴) انظرحاشية الثالثة.
(۵) فتح البارى: ۳۰۹/۵ و ۱۳۲/۶، وعمدة القارى: ۲۸۶/۱۳، ۱۴۱/۱۴.
(۶) كشف البارى: ۴۲۰/۲ - ۴۲۱.
(۷) كشف البارى: ۴۶۵/۱.

④ **معمر** دا ابوعروه معمر بن راشد بصرى رحمه الله دي بدء الوحى كښې د دوى تذكره تيره شوې ده [1]

④ **همام** داابوعقبه همام بن منبه رحمه الله دي د دوى حالات كتاب الايمان كښې تيرشوى دى

⑤ **ابوهريرة** -داحضرت ابوهريره رضي الله عنه دي د دوى حالات كتاب الايمان كښې تيرشوى دى [2]

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه په دې روايت كښې نبى كريم صلى الله عليه وسلم فرمانيلي دانسان د بدن په هرې جوړباندې نمر راختلو سره يوه صدقه واجب كيږى په دوو كسانوكښې انصاف كول صدقه ده. يوسړى له په سوريدوكښې امدادكول صديقه ده دهغه په سورلئى باندې دهغه سامان وغيره بار كول صدقه ده چاسره ښه خبره كول صدقه ده اوهرهغه قدم چه دمانځه دپاره اوچت شى صدقه ده اودلارې نه تكليف وركونكې څيز اخواكول صدقه ده

**د سلامى معنى** - ددې مفرد سلامية دې بعض حضرات وائى چه داجنس دې يعنى ددې واحدجمع برابردې اوددې جمع سلاميات دې په ړونكوهډوكوكښې هرجوړوالاهډوكې لكه د ګوتوهډوكى بيادذې اطلاق په هريوهډوكى او هډوكى په جوړباندې كيدلو

علامه ابوعبيد رحمه الله فرمائى چه سلامى هغه هډوكى ته وائى چه د اوښ د نوكې په غاړه باندې وى [3] بهرحال حاصل دادې چه دانسان په هرهډوكى باندې روزانه يوه صدقه لازم ده دالله تعالى ټول نعمتونه داسې دى چه دهغې شكراداكول دانسان دوس كارنه دې خودهډوكو په خاص توګه د ذكركولووجه داده چه دانسان حركت او سكون د خوزيدو راخوزيدو مدار اكثرهم په دغه هډوكودې [4]

په صحيح مسلم كښې دى سلامى دانسانى بدن جوړونوته وائى د كوم شميرچه درې سوه شپيته جوړيږى [5] امام قرطبى رحمه الله فرمائى ددې حديث د ظاهرنه معلوميږى چه دا صدقه اداكول واجب دى خودالله تعالى شان كريمى اوګوره په معمولى معمولى مستحب اعمالو سره هم دا ذمه وارى اداكيږى [6]

**عليه صدقة** -چونكه سلامى مؤنث دې په دې وجه اعتراض كيږى چه عليه په ځائى عنيها ذكركيدل پكاردى د صاحب الفيه ابن مالك رحمه الله وينا ده **كل** چه كله مضاف وى د يونكره طرف ته نود مضاف اليه اعتباركيږى لكه آيت ﴿ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ﴾ كښې **نفس** مضاف اليه اعتباردې نوددې دپاره **ذائقة** خبرمؤنث راوړلې شوځكه چه **نفس** هم مؤنث دې خودلته داسې نه دى بلكه دلته دمضاف **كل** اعتباركړې شوې دې اوددې طرف ته **عليه** ضميرمذكرراجع دې

[1] ) كشف البارى:٢/٤٢٨.
[2] ) كشف البارى:١/٦٥٩.
[3] ) النهاية: ٢/٩۶.
[4] ) فتح البارى:٢/١٣۶.
[5] ) صحيح مسلم:١/٢٣٥كتاب الزكوة باب بيان أن اسم الصنفة يقع على كل نوع من المعروف.
[6] ) عمدة القارى:١٣/٢٨٧.

قاعده خو هم دغه ده کومه چه ابن مالك رحمه الله ذکر کړې ده او ددې تقاضا هم دغه ده چه عليها وى ځکه چه سلامى مؤنث دې يا سلامى په ضمن کښې موجود معنى عظم يا مفصل طرف ته ضمير مذکر راجع دې [1]

**قوله** يعدل بين الاثنين صدقة - دلته ان مقدر دې بيا دا تاويل مصدر مبتدا جوړيږى ومثله وتسمع بالمعيدى خير من ان تراه [2]

**قوله** كل خطوة يخطوها إلى الصلوة - يعنى هرقدم کوم چه جمات او مانځه دپاره اوچتيږى هغه صدقه ده په دې کښې ددې خبرې ترغيب ورکولې شى چه څومره قدمونه زيات وى هم هغه هومره به اجرزيات وى بل په دې کښې ددې خبرې تنبيه هم ده چه جمات طرف ته تللوسره منډې يا تادى کول نه خبره نه ده بلکه وقار او تسلى په خيال کښې ساتل پکاردى [3]

**ترجمة الباب سره مطابقت** - دحديث شريف ترجمة الباب سره مطابقت ويعين الرجل على دابته فيحمل عليها نه مستنبط دې ځکه چه د سوريدونکى اعانت اوامداد عموماً په رکاب نيولوسره او سامان وغيره بارکولوسره کيږى. [4]

## باب-۱۲۷ كراهية السفر بالمصاحب إلى إرض العدو

**دَ نسخو اختلاف** - په ترجمة الباب کښې لفظ کراهية اضافه صرف دمستملى په نسخه کښې ده د کوم د وجې نه چه ابن بطال رحمه الله فرمائى وكذلك يروى دلته غلط دې ددې دپاره دې نه وړاندې څه څيزېه ماقبل کښې مذکورنه دې دکوم طرف ته چه دکذلك سره اشاره اوکړې شى ترتيب داکيدل پکاروو چه اول روايت مالك رحمه الله ئې ذکرکولو بيا د وكذلك سره دې طرف ته اشاره کوله. [5]

ليکن حافظ ابن حجر رحمه الله دهغوى داکرفت غلط ګرځولوسره وئيلى دى چه دا باب السفر... نه دې بلکه باب كراهية السفر... دې. لکه څنګه چه دمستملى په نسخه کښې دې د وكذلك.... مشار اليه هغه كراهية السفر دې کوم چه د محمدبن بسر په روايت کښې دې. كره رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم... [6]

**دَ ترجمة الباب مقصد** - امام بخارى رحمه الله دلته خودل غواړى چه د دښمن ملك ته تلوسره قرآن کريم خان سره اوړل مکروه دى که چرې حفاظت اونه کړې شى اوکه چرې حفاظت او تسلى وى

---

[1] ) فتح البارى: ۱۳۲/۱.
[2] ) عمدة القارى: ۲٤۱/۱٤.
[3] ) عمدة القارى: ۲٤۱/۱٤.
[4] ) شرح ابن بطال: ۱٤۸/۵.
[5] ) شرح ابن بطال: ۱٤۹/۵.
[6] ) فتح البارى: ۱۳۳/٦.

نو جائزدی. (۱)

**دَ دښمن زمکې اوملک ته مصحف اوړلو حکم** - په دې مسئله کښې دَعلماء کرامو درې اقوال دی ① مطلقا ناجائز دی دا دَامام مالك رحمه الله مذهب دې ② مطلقا جائزدی علامه ابن المنذروائی چه داد امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله مذهب دې (۲)③ چه دَ قرآن کريم دَاهانت خطره وی نو بيا خو ناجائزدی اوکه داسې څه خطره نه وی نو څه حرج نشته قرآن کريم ځان سره اوړلې شی دا دَامام شافعی امام احمد اکثراحنافو اوبعض مالکيه مذهب دې ځکه چه ددې حکم مدار په دې علت باندې دې مخالفة أن يناله العدو

نوچرته چه قرآن کريم ته دَ دښمن دَ لاس لګيدو يادَدې دَ بې عزتنی اندېښنه وی نوهلته مصاحف ځان سره اوړل نه دی پکار لکه چه چهاپه مار لښکروی چه اکثريه کم شمير کښې وی هلته داخطره ډيره موجود وی. امام نووی رحمه الله فرمائی هذا هوالصحيح وبه قال أبوحنيفة والبخاری وآخرون...(۳)

علامه شامی رحمه الله فرمائی چه هرهغه واجب احترام څيز دَ کوم سپکاوې اوبې ادبی کول چه حرام وی داسې څيزونه دکافرانو ملکونوته اوړل منع دي لکه قرآن فقه اوحديث کتابونه وغيره. حاصل دا چه امام مالك رحمه الله سفربالمصحف مطلقا ناجائزګرځوی ځکه چه په حديث کښې هيڅ داسې قيدنشته چه لښکر غټ وی که وړوکې بهرحال په غفلت کښې دَمصحف دَ دښمن په لاس دَلګيدو انديښنه خووی. (۴) او جمهور فقهاء دَدې جواز قائل دی چه کله لښکر غټ وی مامون وی ځکه چه مدار دَ دښمن په لاس دَ لګيدو ويره ده اوچه کله ويره نه وی نوجائزدې. (۵) دې نه معلومه شوه چه اختلاف دَ لوئی لښکر او وړو چهاپه مار ټولګودَپاره په اتفاق دَائمه مصحف ځان سره اوړل جائزنه دی. (۶)

**دَمالکيه استدلال** - مالکيه دَحديث باب نه استدلال کوی دکوم الفاظ چه دی. أن رسول الله صلی الله تعالی عليه وسلم نهی أن يسافر بالقرآن إلی أرض العدو په دې روايت کښې مطلقا ممانعت وارددې که لښکرغټ وی اوکه وړوکې (۷)

**دَ جمهورواستدلال** :- جمهورځوك چه دَ تفصيل قائل دی هغوی دَ صحيح مسلم دَ روايت نه استدلال کوی دکوم په يو طريق کښې مخافة أن يناله العدو او په دويم طريق کښې فانی لاآمن أن

---

۱) عمدة القاری: ۲۴۱/۱۴ لامع الدراری: ۲۶۵/۷.

۲) شرح النووی علی صحيح مسلم: ۱۳۲/۲. طبع قديمی کتب خانه.

۳) پورتنی حواله. نور اوګورئی أوجزالمسالک: ۲۱۸/۸، وإعلاء السنن: ۲۶/۱۲.

۴) المتقی نقلا عن أوجزالمسالک: ۲۱۸/۸.

۵) راجع للتفصيل أوجزالمسالک: ۲۱۸/۸.

۶) التمهيد لابن عبدالبر ۲۵۴/۱۵.

۷) التمهيد لابن عبدالبر ۲۵۴/۱۵.

ینالہ العدو اضافه ده اوښکاره خبره ده چه ویره په لویولښکرونوکښې نه وی بلکه وړو ټولګوکښې وی (۱) بل امام بخاری رحمه الله چه کوم متابعت ذکرکړې دې دهغې نه هم د جمهورو تائید کیږی ځکه چه د قرآن تعلیم دې خبرې ته مستلزم دې چه هغوی به ځان سره لیکلې شوې قرآن اوړلو ځکه چه ټول صحابه کرام خود قرآن کریم حافظان نه وو (۲)
علامه مهلب رحمه الله فرمائی چه دا نهی تحریمی نه ده بلکه نهی استحباب ده یعنی د قرآن کریم اکرام ددې خبرې تقاضاکوی چه ددې داسې خایونو او خلقو نه حفاظت اوکړې شی چرته چه د توهین او بې ادبئ خطره وی ځکه چه پخپله نبی کریم ﷺ قیصرروم ته کوم خط لیکلې وو په هغې کښې پوره یوآیت موجود وو اونبی کریم ﷺ به پوهیدلو چه داکافران ناپاك دی او هغوی به دالولی او دې ته به لاس لګوی نومعلومه شوه چه دا نهی مطلق نه ده اونه د محفوظ اومامون لښکروسره ددې څه تعلق دې (۳) علامه نووی رحمه الله په دې خبره باندې د فقهاؤ اجماع نقل کړې ده چه کافرانوته دَدعوت دمقصد دپاره داسې خطونه لیکلې شی په کوم کښې چه یویا د یونه زیات آیاتونه درج وی اود حضرت مصطفی سرورکائنات ﷺ هرقل او قیصرروم ته خط لیکل ددې دلیل دې (۴)

**دَ مخافة أن یناله العدو اضافه ثابته ده که نه؟** - مونږ اول ذکرکړې دې چه مداراختلاف هغه دامذکوره الصدر جمله ده اوس دلته دمالکیه دعوی داده چه دا اضافه ثابته نه ده بلکه دامدرج دې علامه ابن بطال مالکی رحمه الله فرمائی **ولم تصح هذه الزیادة عند مالك ولاعند البخاری إنما هی من قول مالك**.(۵) دَمالکیه دا دعوی صحیح نه ده ځکه چه صحیح مسلم (۶) سنن نسائی (۷) اوسنن ابن ماجه (۸) داروایت د لث عن نافع په طریق سره نقل کړې دې په هغې کښې دا اضافه موجود ده بل امام مسلم (۹) د ایوب په طریق سره هم دا روایت نقل کړې دې داد دې خبرې دلیل دې چه داروایت مرفوع دې مدرج نه دې او دې نه د جمهورو استدلال صحیح دې

**یواشکال اودهغې جواب**:-اوس دلته دا یواشکال پیداکیږی چه پخپله دامام مالك رحمه الله نه ابن وهب رحمه الله کوم روایت نقل کړې دې په هغې کښې خو خشیة أن یناله العدو د حدیث په توګه ذکرکړې دې لکه چه ابن عبدالبر رحمه الله په التمهید کښې دا ذکرکړې دې(۱۰) خو په موطاکښې دا

---

۱) الصحیح مسلم:۲/۱۳۱ قدیمی.
۲) شرح ابن بطال:۵/۱۵۰.
۳) شرح ابن بطال:۵/۱۵۰.
۴) شرح النووی علی صحیح مسلم:۲/۱۳۲ قدیمی.
۵) شرح ابن بطال:۵/۱۵۱.
۶) صحیح مسلم:۲/۱۳۱ کتاب الامارة باب النهی أن یسافربالمصحف إلی أرض الکفار إذاخیف وقوعه بادیهم
۷) سنن النسائی الکبری: ۵/۲۴۳.
۸) کتاب الجهادباب النهی أن یسافر بالقرآن إلی أرض العدو رقم:۲۷۸۹ – ۲۷۸۰.
۹) کتاب الامارة باب النهی أن یسافر بالمصحف إلی أرض الکفار إذا خیف وقوعه بایدیهم.
۱۰) التمهیدلابن عبدالبر: ۱۵/۲۵۳.

اضافه دَحدیث په توګه نه ده ذکر کړې بلکه دَامام مالك رحمه الله قول جوړلو سره نی ذکر کړې دې[۱] دغه شان په ابوداؤد کښې هم دې[۲]

حافظ ابن حجر رحمه الله دَدې جواب ورکولو سره فرمائی لعل مالکا کان یجزم به ثم صار یشك فی رفعه فجعله من تفسیرنفسه[۳] یعنی اول خو به امام صاحب شاید دامرفوع خیال کولو روستو دَهغوی په مرفوع کیدو باندې شك پیداشو نوهغه دا اضافه خپل قول جوړکړو پاتې شوه داخبره چه دا دَابن وهب رحمه الله تفرد دې نودَدې تفصیل مونږ پورته بیان کړې دې امام مسلم امام نسائی اوامام ابن ماجه رحمهم الله دَعن نافع په طریق سره دا اضافه مرفوعاً نقل کړې ده بل سنن ابن ماجه کښې عبدالرحمن بن مهدی عن مالك په طریق هم دا اضافه مرفوعاً نقل کړې ده[۴]
دَمحمدبن بشر کوم روایت طرف ته چه دلته اشاره کړې شوې ده په هغې کښې هم دا اضافه ثابته ده مسنداسحاق بن راهویه کښې دا روایت موصولاً ذکر کړې شوې دې دَکوم چه دادی کړه رسول الله صلی الله تعالیٰ علیه وسلم أن یسافر بالقرآن إلی أرض العدو، مخافة أن یناله العدو[۵] قوله: وکذلك یروی عن محمدبن بشر....[۶] قوله: وتابعه ابن اسحاق عن نافع عن ابن عمر......[۷]

**دَمتابعت تخریج:** - مسنداحمد کښې دَدې روایت تخریج یزید بن هارون عن ابن اسحاق په طریق سره کړې دې[۸]

**دَدې متابعت دَذکرکولومقصد:** - حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی دَدې متابعت ذکر کولو مقصد دَمحمد بن بشیر په روایت کښې وارد کراهیت سفربالمصحف تائید کول دی واضحه دې وی چه دا متابعت لفظی نه دې بلکه معنوی متابعت دې ځکه چه دَابن اسحاق په روایت کښې کړه لفظ نه دې راغلې بلکه نهی أن یسافربالمصحف إلی أرض العدو راغلې دې[۹] بل څه ځیزنه نهی ممانعت ، کراهت تقاضاکوی ځکه چه نهی دکراهت تنزیهی یا تحریمی نه خالی نه وی[۱۰]
علامه ابن بطال رحمه الله دَ متابعت مقصدداسې بیان کړې دې چه امام صاحب په اصل کښې داخودل غواړی چه مخافة أن یناله العدو چه کومه اضافه بعض حضراتو کړې ده هغه صحیح

---

۱) الموطا للامام مالک: ۲/۴٤٦ کتاب الجهاد باب النهی عن أن یسفار بالقرآن إلی أرض العدو بیروت.
۲) سنن أبی داؤد کتاب الجهاد باب فی المصحف یسافر به إلی أرض العدو: ۲٦۱۰.
۳) فتح الباری: ٦/۱۳٤.
٤) ابن ماجه کتاب الجهاد بابالنهی أن یسافر بالقرآن إلی أرض العدو: ۲۸۷۹.
٥) فتح الباری: ٦/۱۳۳.
٦) انظر لروایة فی المصدر السابق وتغلیق التعلیق: ۳/٤٥۳.
۷) انظر لروایة فی المصدر السابق وتغلیق التعلیق: ۳/٤٥۳.
۸) المسندللامام أحمد: ۲/۷٦.
۹) المسندللاحمد: ۲/۷٦..
۱۰) فتح الباری: ٦/۱۳۳.

نه ده بلکه چه دَمحمدابن اسحاق په روایت کښې دا اضافه موجودنه ده (۱) ددې مسئلې تفصیل ماقبل کښې مونږ بیان کړې دې
حاصل داچه حافظ رحمه الله دمتابعت مقصد کراهة السفر تائید کړنوی اوداخبره واضحه ده ځکه چه دَمحمد بن بشیرپه روایت کښې کړه... راغلې اودَ محمدبن اسحاق په روایت کښې نهی...
او په نهی کښې خوکراهت وی. اوابن بطال رحمه الله ددې متابعت مقصد ددې اضافه عدم صحت تائیدکړخولې دې خودمحمدبن بشیرپه روایت کښې داضافه موجود ده او دَمحمد ابن اسحاق په روایت کښې دا اضافه موجودنه ده.

**وقد سافر النبي صلى الله تعالى عليه وسلم وأصحابه في أرض العدو وهم يعلمون القرآن**

علامه مهلب رحمه الله فرمائی دَدې عبارت مقصد په دې باندې خبرداري کول دی چه نهی عمومی نه ده بلکه دَدې ممانعت تعلق دغه وړو لښکرو اوټولګوسره دې دکوموحفاظت چه غیریقینی وی اوکه لښکرلوئی وی نو په هغې کښې قرآن پاك ځان سره اوړلوکښې څه حرج نشته ځکه چه صحابه کرام رضی الله عنهم به دَدښمن په ملکونوکښې هم دَ قرآن په زده کړه او خودلوکښې مشغول وو اوښکاره خبره ده چه ټول خو به حافظ قرآن نه وو دَدې نه دَ امام بخاری رحمه الله میلان دَامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله قول طرف ته معلومیږی. (۲)
حافظ رحمه الله فرمائی چه دَدې عبارت مقصددادې چه دانهی دَ قرآن کریم متعلق ده حامل قرآن سره نه ده (۳) چنانچه قراء سبعین نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ جهاددپاره لیګلې وو اوهغوی دَ بئر معونه په مقام باندې دَ شهادت جام نوش کړو. نور هم دغه شان ډیرواقعات دی په کوم کښې چه دَقرآن پاك دَ حافظان جهادته تلل ثابت دی.

[حديث ۲۸۲۸] (۴) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ - رضى الله عنهما - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - نَهَى أَنْ يُسَافَرَ بِالْقُرْآنِ إِلَى أَرْضِ الْعَدُوِّ.

## رجال الحديث

① **عبدالله بن مسلمه**:- داابوعبدالرحمن عبدالله بن مسلمه بصری رحمه الله دې. دَدوی حالات کتاب الایمان کښې تیرشوی دی. (۵)

---

(۱) شرح ابن بطال: ۱٤۹/۵.
(۲) شرح ابن بطال: ۱۵۰/۵.
(۳) فتح الباري: ۱۳۳/٦.
(٤) الحديث أخرجه في كتاب الامارة باب النهي لمن يسافر بالمصحف إلى أرض الكفار إذا خيف وقوعه بايديهم رقم: ٤٠٤١ – ٢٩ وأبوداؤد في كتاب الجهاد باب في المصحف يسافر به إلى أرض العدو: ٢٦١٠ وابن ماجة في كتاب الجهاد باب النهي أن يسافر بالقرآن إلى أرض العدو: ٢٨٨٠- ٧٩.
(۵) کشف الباری: ۷۰/۷.

① **مالک** -دامشهور امام ابوعبدالله بن انس مدنی رحمه الله دې ددوی تفصیلی تذکره تیره شوې ده (١)

② **نافع** - دا ابوسهیل نافع بن مالک اصبحی رحمه الله دې ددوی حالات هم کتاب الایمان کښې تیرشوی دی (٢)

③ **عبدالله بن عمر** -دا صحابی رسول حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما دې ددوی حالات شته تیرشوی دی (٣)

**ترجمة الباب سره مطابقت** - دحدیث مبارك ترجمة الباب سره مطابقت واضح دې ځکه چه دلته دقرآن نه مصحف مراد دې نه چه نفس قرآن کوم چه دحافظانو په سینوکښې وی (٤) والله تعالی اعلم وعلمه اتم واحکم

## باب-١٢٨ التکبیر عند الحرب

**د ترجمة الباب مقصد**:- دلته داخودل غواړی چه په جنګ کښې تکبیرونیل مشروع او جائزدی (٥) دحضرت علی رضی الله عنه نه نقل دی چه کله به نی توره وهله نوتکبیربه نی ونیلو په لیلة الهریرکښې هغوی څلورنیم سوه تکبیرونه ونیلی. د لیلة الهریرنه مراد د جنګ صفین شپه ده. دمسلم په یوروایت کښې نبی کریم صلی الله علیه وسلم پیشنګوئی فرمائیلې ده چه تاسوخلق به ښارته حئ دهغې یوحصه به اوچه او یوه حصه په اوبوکښې ده. هلته لااله الاالله. الله اکبر وایئ نتیجه به ددې یوه حصه پریوځی (٦) دې نه مراد قسطنطنیه ده (٧) دغه شان دابن ماجه په روایت کښې راغلی دی القسطنطنية بالتسبيح والتكبير (٨)

[حدیث ٢٨٢٩] (٩) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ أَنَسٍ -رضى الله عنه- قَالَ صَبَّحَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- خَيْبَرَ وَقَدْ خَرَجُوا بِالْمَسَاحِي عَلَى أَعْنَاقِهِمْ، فَلَمَّا رَأَوْهُ قَالُوا هَذَا مُحَمَّدٌ وَالْخَمِيسُ، مُحَمَّدٌ وَالْخَمِيسُ. فَلَجَئُوا إِلَى الْحِصْنِ، فَرَفَعَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- يَدَيْهِ وَقَالَ «اللَّهُ أَكْبَرُ، خَرِبَتْ خَيْبَرُ، إِنَّا إِذَا نَزَلْنَا بِسَاحَةِ قَوْمٍ فَسَاءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِينَ». وَأَصَبْنَا حُمُرًا فَطَبَخْنَاهَا، فَنَادَى مُنَادِي النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- إِنَّ اللَّهَ

---

(١) كشف البارى:٢/٨٠.
(٢) كشف البارى:٢/٢٧١.
(٣) كشف البارى:١/٦٣٧.
(٤) عمدة القارى:١/٧٤٢.
(٥) عمدة القارى:١٤/٢٤٣.
(٦) صحيح مسلم :٢/٣٩٦
(٧) شرح النووى على مسلم: ٢/٣٩٦.كتاب الفتن باب فتح بلدة جانبها فى البر وجانبها فى لبحر رقم: ٧٣٣٣.
(٨) سنن ابن ماجة كتاب الفتن باب الملاحم : ٤٠٩٤.
(٩) امر تخريجه فى كتاب الصلوة باب مايذكر فى الفخذ رقم:٣٨١.

وَرَسُولَهُ يَنْهَيَانِكُمْ عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ، فَأُكْفِئَتِ الْقُدُورُ بِمَا فِيهَا . تَابَعَهُ عَلِي عَنْ سُفْيَانَ رَفَعَ النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- يَدَيْهِ.[ر ۳۶۴]

## رجال الحديث

① **عبدالله بن محمد** - داعبدالله بن محمد مسندی رحمه الله دي دَدوی حالات کتاب الایمان کښې تیرشوی دی (۱)

② **سفیان** دا سفیان بن عیینه رحمه الله دي . ددهٔ تذکره په بدء الوحی کښې شوې ده (۲).

③ **ایوب** دا ایوب سختیانی رحمه الله دي . ددهٔ تذکره په کتاب الایمان کښې تیره شوې ده (۳).

④ **محمد** دامحمدبن سیرین رحمه الله دي ددهٔ تذکره په کتاب الایمان کښې تیره شوې ده (٤)

⑤ **انس** : دا خادم رسول حضرت انس رضی الله عنه دي ، ددوی حالات هم په کتاب الایمان کښې تیر شوی دی (۵)

دا حدیث مبارک ډیرځل په ماقبل کښې تیرشوې دې، دې سره متعلقه مباحث په متعلقه ابوابو کښې کتلې شئ ، اود خر دغوښې حکم په کتاب الصیدوالذبائح کښې راروان دې ـ

**فائده** په جنګونو کښې تکبیر وئیل ددې امت خصوصیت دې .دې سره دالله تعالی دکبریائ اود عظمت اظهار کیږی (۶)

**دترجمة الباب سره مطابقت** : دحدیث شریف دترجمة الباب سره مطابقت دنبی کریم صلی الله علیه وسلم په دې قول کښې دې : ,, الله اکبر .خربت خیبر..(۷)

**قوله: تَابَعَهُ عَلِي عَنْ سُفْيَانَ رَفَعَ النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- يَدَيْهِ**

یعنی علی بن المدینی رحمه الله دعبدالله بن محمد مسندی متابعت کړې دې ـ دې متابعت لره امام بخاری رحمه الله په کتاب المناقب کښې موصولاذکر کړې دې (۸)

**متابعت لره دذکر کولو مقصد**: رفع النبی صلی الله تعالی علیه وسلم یدیه .، اضافه چونکه ددې روایت په دویم طریق کښې نشته (۹) دې وجې نه ئې ددې متابعت په ذریعه وضاحت اوکړوچې علی بن المدینی هم دا اضافه نقل کړې ده دکوم نه چې دروایت باب تائید کیږی ـ والله اعلم بالصواب

---

(۱) کشف الباری کتاب الایمان:۱/۶۵۷.

(۲) کشف الباری : (ج۱ص۲۳۸) ـ

(۳)کشف الباری : (ج۲ص ۲۶) ـ

(٤)کشف الباری : (ج۲ص ٤)ـ

(۵)کشف الباری : (ج۲ص ٤)ـ

(۶) شرح ابن بطال (ج۵ص ۱۵۱) ـ

(۷)عمدة القاری (ج ١٤ص۲٤۳)ـ

(۸) اوګورئ صحیح البخاری .کتاب المناقب .باب .رقم (۳۶٤۷) ـ

(۹) فیض الباری :ج۳ص٤٤۳)ـ

## ۱۲۹_ باب مَا يُكْرَهُ مِنْ رَفْعِ الصَّوْتِ فِي التَّكْبِيرِ.

**دترجمة الباب مقصد** امام بخاری رحمه الله دا فرمائی چې دجنګ دننه تکبیروائیل مشروع خودی لیکن ډیرې زیاتې چغې وهل اوضرورت نه زیات آواز اوچتول مکروه دی [1] ځکه چې ډیرو چغوسره دانسان په قوت کښې کمزوری پیداکیږی ـ
دعلامه انورشاه کشمیری رحمه الله رائې دا ده چې رفع الصوت بالتکبیر دکراهت ځې هغه دجهاد نه سوادې .دجهاد دننه که چرته رفع الصوت بالتکبیر اوشی نودې کښې څه خبره نشته [2]
شاه صاحب دروایت په ظاهرباندې اعتمادکړې دې لیکن دبخاری دترجمې اطلاق ئې نه دې ملحوظ ساتلې .دامام بخاری دترجمې داطلاق هم دا تقاضاکوی چې په جهاد کښې هم د ضرورت نه زیات آوازاوچتول بنه نه دی ـ

(۲۸۳۰) [3] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَاصِمٍ عَنْ أَبِي عُثْمَانَ عَنْ أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِيِّ -رضى الله عنه- قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-، فَكُنَّا إِذَا أَشْرَفْنَا عَلَى وَادٍ هَلَّلْنَا وَكَبَّرْنَا ارْتَفَعَتْ أَصْوَاتُنَا، فَقَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- «يَا أَيُّهَا النَّاسُ، ارْبَعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ، فَإِنَّكُمْ لاَ تَدْعُونَ أَصَمَّ وَلاَ غَائِبًا، إِنَّهُ مَعَكُمْ، إِنَّهُ سَمِيعٌ قَرِيبٌ، تَبَارَكَ اسْمُهُ وَتَعَالَى جَدُّهُ». [۳۹۶۸، ۶۰۲۱، ۶۰۴۶، ۶۲۳۶، ۶۹۵۲]

## تراجم رجال

① **محمد بن یوسف** : داابومحمدبن یوسف بیکندی رحمه الله دې .ددوی حالات تیرشوی دی [4]
**مسئله دذکربالجهر** ددې حدیث نه استدلال کولوسره بعضې علماء دجهری ذکرنه منع کوی [5]
دویم طرف ته کوم حضرات چې دجهری ذکر دجوازقائل دی نوهغوی ددې روایاتومختلف توجیه کوی ـ

---

[1] ) لامع الدراری :ج ۷ص۲۶۸)_
[2] ) فیض الباری (ج ۳ص۴۴۳) _
[3] ) الحدیث اخرجه البخاری فی کتاب المغازی.باب غزوة خیبر. (رقم :۴۲۰۲) وکتاب الدعاء .باب الدعاء اذاعلاعقبته (۶۳۸۴) وباب قول لاحول ولاقوة الابالله (۶۴۰۹) وکتاب القدر.باب لاحول ولاقوة الابالله (۶۶۱۰) . وکتاب التوحید .باب وکان الله سمیعا بصیرا (۸۶۷۳) .ومسلم فی کتاب الذکر.باب استحباب خفض الصوت بالذکرالا فی المواضع التی وردالشرع برفعه فیها کالتلبیة وغیرها (۶۸۶۲) . والترمذی فی کتاب الدعاء باب کون الذکرخیراعمالکم واذکاها عندملیککم ((۳۳۷۴) .وباب ماجاء فی فضل التسبیح والتکبیر والتهلیل والتحمید (۳۴۶۱) .وابوداود فی کتاب الوتر.باب فی الاستغفار (ج۲۶ص۱۵۲۷) _. وانسائی فی کتاب النعوت .باب السمیع القریب (۷۶۷۹) .وفی کتاب السیر.باب شده رفع الصوت بالتهلیل والتکبیر(۸۸۱۴). وابن ماجة فی کتاب الادب .باب ماجاء فی.. لاحول ولاقوة الابالله (۳۸۲۴)_
[4] ) کشف الباری :(۳ ج ۳ص۳۳۵) _
[5] ) ارشادالساری :(ج۵ ص ۱۳۵) _

① په حدیث کښې دچغوسورو اودشور جوړولو نه منع کړې شوې ده اوددې خبرې تائیدپه خپله دحدیث دالفاظونه کیږی .. اربعوا علی انفسکم.. یعنی دخپل ځان سره دنرمې معامله اوکړئ اوظاهرده چې ذکربالجهرکوم چې دمشایخوپه نیزرائج دې په هغې کښې نه چغې سورې وی اونه سختی وی[1]
حضرت مولانارشیداحمد گنگوهی رحمه الله فرمائی چې په دې حدیث کښې کوم ممانعت راغلې دې ددې تعلق ذکرسره نه دې ځکه چې دذکریوقسم هم ممنوع نه دې بلکه دلته دآواز اوچتولونه ځکه منع شوې ده چې هغه دښمنانوعلاقه وه. اودشورشغرپ سره به هغوی بیدار شوی وو
بس چرته چې دجهرنه د تکلیف اوداېذاء امکان وی نوهلته داجهرمکروه دې کني نه ـ نودا ممانعت دکوم امرخارج دوجې نه کیدې شی .ځکه چې د ذکرالهی یوقسم هم منهی عنه نه دې[2] اوداختلاف دا احوالو اواشخاصودوجې نه هم حکم بدلیدې شی ـ[3]
دمذکورالصدر توجیهاتونه داخبره بلکل واضحه کیږی چې هغه ذکردکوم کیفت چې د (قوالی او دهمال) پشان وی چې ښه شورشغرپ اودرز غوبل اود.. وجد ..په نوم باندې تیریونه وهل وی.نوداسې اموروسره دشریعت دلرې نه هم تعلق نشته دې.جائزاومشروع خولا پریګده ـ
حضرت علامه عبدالحی لکهنوی دذکربالجهرپه مسئله کښې .. سبحة الفکر فی الجهربالذکر.. نومې کتاب مرتب کړې دې په کوم کښې چې هغه دذکربالجهرجوازد اته څلویښ روایتونونه ثابت کړې دې[4]

**دبعضې الفاظ حدیث تشریح :**

**اشرفنا** : داشراف په معنی کښې دې :دپاس نه کتل یعنی چې کله مونږپه یوکندې ته راشو ..

**قوله : ارْتَفَعَتْ أَصْوَاتُنَا** : داجمله فعلیه حال واقع کیږی. دلته قد ..مقدر دې کما فی قوله تعالی (اوجاءکم حصرت صدورهم) ای قد حصرت .

**قوله : ارْبَعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ**:ربع (ف) ربعا : توقف کرنا ،انتظارکرنا . وانیلې کیږی .. ربع الرجال بالمکان .. سفرختمیدونه پس په یوځې کښې پړاؤ اچول ـ علامه خطابی رحمه الله فرمائی چې ددې جملې مطلب دې :شورمه کوئ آواز مه اوچتوئ ـ اوداېن قرقول ویناده چې دخپل ځان سره دنرمئ معامله کوئ اوسختی پریګدئ ـ[5]

**دترجمة الباب سره مطابقت** دحدیث شریف دترجمة الباب سره مطابقت دحدیث نه حاصل شده معنی نه مستنبط دې . ځکه چې جناب نبی کریم ﷺ دلته دفع صوت لره ناخوښه کړې ده

---

[1]) لامع الدراری :ج۷ص۲۶۸)ـ
[2]) الکوکب الدری :ج ٤ص۳٤۶) ـ
[3]) سباحة الفکر.ص:١٤. فی المجلد الثالث من مجموعة رسائل العلامة اللکنوی) ـ
[4]) مجموعة رسائل اللکنوی :ج۳ص٤۹۶ـ ٤۶۵. ادارة القرآن کراچی .
[5]) عمدة القاری :ج ١٤ص٢٤٥و اعلام الحدیث للخطابی(ج۲ص ١٤٢٤) ـ

## ۱۳۰_ باب التَّسْبِيحِ إِذَا هَبَطَ وَادِيًا.

**دترجمة الباب مقصد** دلته امام بخاری رحمه الله دا وائيل غواړی چې صحابه کرام (عنهم) به چې کله یوې وادی ته کوزېدل نوتسبیح به ئې لوستل دتسبیح معنی دتنزیه وی، مطلب دادې چې دښکته طرف ته کوزېدی نو داخیال ساتل پکار دی چې الله تعالی مقدس اومنزه دې . څنګه چې نشیب لره په فرازباندې اولوړه دجوړې په مقابله کښې کمه ګڼړلې شی .کوم چې عیب دې نوښکته کوزېدوکښې داخیال کول پکاردی چې الله تبارک وتعالی دهرقسمه ښکته والی اوهرقسمه عیب نه پاک دې ـ [۱]

[۲۸۳۱] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ حُصَيْنِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ -رضى الله عنهما- قَالَ كُنَّا إِذَا صَعِدْنَا كَبَّرْنَا، وَإِذَا نَزَلْنَا سَبَّحْنَا. [۲۸۳۲]

## تراجم رجال

① **محمدبن يوسف:** دا ابواحمد محمدبن یوسف بیکندی رحمه الله دې ،په کتاب العلم کښې ددوی تذکره تیره شوې ده [۲]

② **سفيان** دا سفیان بن عیینه رحمه الله . په بدء الوحی ، کښې ددوی تذکره تیره شوې ده [۳]

③ **حصين بن عبد الرحمن** دحصین بن عبدالرحمن رحمه الله تذکره تیره شوې ده ـ [۴]

④ **سالم بن ابى الجعد** دسالم بن ابی الجعد رحمه الله تذکره تیره شوې ده ـ [۵]

⑤ **جابربن عبدالله** دصحابی رسول حضرت جابربن عبدالله رضي الله عنه دې ددوی حالات مخکښې تیرشوی دی [۶]

**قوله: كُنَّا إِذَا صَعِدْنَا كَبَّرْنَا، وَإِذَا نَزَلْنَا سَبَّحْنَا:** ،،چې کله به مونږ پورته ختلونومونږبه الله اکبروائیل اوچې کله به مونږ ښکته کوزیدلونومونږبه سبحان الله وائیل ـ

دلته دآداب سفر نه یوادب بیان شوې دې چې پورته ختولو په وخت ,, الله اکبر اود کوزیدلو په وخت سبحان الله وائیل پکاردی ـ

**نکته:** علامه مهلب رحمه الله فرمائی چې په لوړغورونوباندې ختلوپه وخت کښې تکبیر ،دعظمت باری تعالی داظهارد پاره دې چې دټولونه بلند اوبالا اودټولونه ارفع اواعلی دالله رب العزت ذات دې ـ

---

[۱]) شرح ابن بطال :(ج۵ص۱۵۳) _ (۲۸۳۱) اخرجه البخارى فى كتاب الاتى :باب التكبيراذاعلامشرفا والنسائ فى الكبرى فى كتاب عمل اليوم والللية ،باب مايقول اذاانحدرمن ثنية (۱۰۳۷۵) _

[۲]) کشف البارى :ج۳ص۳۸۷)_

[۳]) کشف البارى :ج۳ص۳۳۸)_

[۴]) اوګورئ كتاب المواقيت الصلوة باب الاذان بعد ذهاب ا لوقت

[۵]) اوګورئ كتاب الوضوء باب التسمية على كل حال وعند الوقوع (رقم :۱٤۱)

[۶])كتاب الوضوء، باب من لم يرالوضوء الامن المخرجين ،من القبل والذكروالدبر_

ود وادېنوپه نوره جوړه کښې تسبیح دحضرت یونس علیه السلام دعمل نه مستنبط ده چې هغوی دکب په ګېډه کښې الله تعالی تسبیح بیان کړې ده، څنګه چې دالله جل شانه قول دې (فلولا انه کان من المسبحین ○ للبث فی بطنه الی یوم یبعثون) [1] بس دتسبیح په دولت الله جل شانه هغوی ته دکب دګیډې دتیرو نه نجات عطاء کړونوجناب نبی کریم ﷺ دحضرت یونس علیه السلام په اتباع کښې دوادېنو دننه تسبیحات لوستلو چې الله جل شانه دوی لره ددښمن دشرنه اوددغه ځې دشرنه په حفاظت سره اوساتي. [2]

**دترجمة الباب سره مطابقت** دحدیث شریف دترجمة الباب سره مطابقت په .. واذانزلنا سبحنا ..کښې دې .دنزول اودهبوط دواړومعنی دکوزیدو ده [3]

## باب ۱۳۱: التکبیر إذا علا شرفا

**دَ ترجمة الباب مقصد** - امام بخاری رحمه الله داخودل غواړي چه صحابه کرام رضی الله عنهم به دَ حج او غزواتوپه سفرکښې په اوچت ځائې ختل نوالله اکبر به ئې وئیل مطلب دا چه اوچتوالی ته دَ ختو په وخت دزمکې او آسمان هغه خالق نه دې هیرول پکار چه دَ ټولو اوچتو اولوړ والونه اوډټولو رفعتونونه اعلی دې

دَمجاهدینودَپاره ضروری دی چه دَ شورشرپه ځائې دَالله تعالی په ذکرکښې مشغول شی دَدې طریقه داده چه دَ اوچت ځائې دَ ختوپه وخت دَالله اکبرورد په ژبه باندې کوئې او دَ راکوزیدو په وخت سبحان الله وئیل [4]

[۲۸۳۲] [5] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ حُصَيْنٍ عَنْ سَالِمٍ عَنْ جَابِرٍ-رضی الله عنه- قَالَ كُنَّا إِذَا صَعِدْنَا كَبَّرْنَا، وَإِذَا تَصَوَّبْنَا سَبَّحْنَا. [ر: ۲۸۳۱]

## رجال الحدیث

① **محمد بن بشار**: - دامحمدبشار بن عثمان بصری رحمه الله دي. دَدوی تذکره تیره شوې ده [6]

② **ابن ابی عدی**: - دامحمدبن ابراهیم بن ابی عدی السلمی التیمی ابوعمرو بصری رحمه الله دي کتاب الغسل کښې دَدوی تذکره تیره شوې ده. [7]

③ **حصین**: - داحصین بن عمران رحمه الله دي ددوی تذکره شاته تیره شوې ده [8]

---

[1] ) الصافات: ج۱۴۳،۱۴۲)
[2] ) شرح ابن بطال ا(ج۵ص۱۳۵)
[3] ) عمدة القاری: ج ۱۴ص۱۴۵)
[4] ) عمدة القاری: ۲۴۵/۱۴ وشرح ابن بطال: ۱۵۳/۵.
[5] ) قدمر تخریجه فی الباب سابق ذکرالان.
[6] ) کشف الباری: ۲۵۸/۳.
[7] ) باب إذا جامع ثم عادومن دارعلی نسائه فی غسل واحب: ۲۶۷.
[8] ) کتاب مواقیت الصلوة باب الاذان بعد ذهاب الوقت: ۵۹۵.

③ **سالم** ذا سالم بن ابی الجعد رحمه الله دې ددوی تذکره تیره شوې ده [1]

⑤ **جابر** - دا صحابی رسول حضرت جابر بن عبدالله انصاری رضی الله عنه دې د دوی حالات تیرشوی دی [2]

**ترجمة الباب سره مطابقت** - ددې حدیث شریف ترجمة الباب سره مطابقت په دې جمله کښې دې کنا اذا صعدنا کبرنا یعنی چه کله به مونږ پورته ختلونو تکبیر به مو ونیلو [3]

[حدیث نمبر ۲۸۳۳] [4] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ صَالِحِ بْنِ كَيْسَانَ عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ - رضي الله عنهما - قَالَ كَانَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - إِذَا قَفَلَ مِنَ الْحَجِّ أَوِ الْعُمْرَةِ - وَلاَ أَعْلَمُهُ إِلاَّ قَالَ الْغَزْوِ - يَقُولُ كُلَّمَا أَوْفَى عَلَى ثَنِيَّةٍ أَوْ فَدْفَدٍ كَبَّرَ ثَلاَثًا ثُمَّ قَالَ «لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ، وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ سَاجِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ، صَدَقَ اللَّهُ وَعْدَهُ، وَنَصَرَ عَبْدَهُ، وَهَزَمَ الأَحْزَابَ وَحْدَهُ». قَالَ صَالِحٌ فَقُلْتُ لَهُ أَلَمْ يَقُلْ عَبْدُ اللَّهِ إِنْ شَاءَ اللَّهُ قَالَ لاَ. [ر: ۱۷۰۳]

## رجال الحدیث

① **عبدالله** - دا ابن یوسف دې یا ابن صالح دې یاابن رجاء العدانی دې په دې کښې اختلاف دې ابو علی جیلانی ړومبې قول معتمد گرځولې دې [5] ددوی تذکره بدء الوحی کښې تیره شوې ده [6]

② **عبدالعزیزبن ابی سلمه** - دا عبدالعزیزبن عبدالله بن ابی سلمه رحمه الله دې کتاب العلم کښې ددوی تذکره تیره شوې ده [7]

③ **صالح بن کیسان** - داابومحمد یاابوالحارث صالح بن کیسان دې ددوی تذکره کتاب الایمان لاندې ړواندې تیره شوې ده [8]

④ **سالم بن عبدالله** - دا د حضرت ابن عمر خونې دې ددوی تذکره هم کتاب الایمان کښې تیره شوې ده [9]

---

[1] ) كتاب الوضوء باب التسمية على كل حال وعند الوقاع: رقم:۱٤۱.
[2] ) كتاب الوضوء باب من لم يرالوضوء إلا من المخرجين من القبل والدبر. رقم:۱۷۶۵.
[3] ) عمدة القاری: ۱٤/۲٤۵.
[4] ) الحديث قدمر تخريجه فى الباب العمرة باب مايقول إذا رجع من الحج أو العمرة أوالغزو. رقم:۱۷۹۷.
[5] ) إرشاد الساری:۵/۱۳۶.
[6] ) کشف الباری:۱/۲۸۹.
[7] ) کشف الباری: ٤/۵۱۸.
[8] ) کشف الباری: ۲/۱۲۱.
[9] ) کشف الباری: ۲/۱۲۸.

⑤ **عبدالله بن عمر** - داحضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما دې ددوی حالات کتاب الایمان کښې تیرشوی دی (۱)

**دَ حدیث دَبعض الفاظوتشریح** - **قفل** په معنی رجع یعنی چه کله به حضورپاك دَ حج نه واپس کیدلو

**قوله** ولا أعلمه إلا قال الغزو - یعنی چه کله به ابن عمر رضی الله عنهما دا روایت ذکرکولونوحج اوعمرې سره به نې د غزوه ذکرضرور کولو

یقول: کلما أوفی - دَ یقول ضمیرحضرت ابن عمر رضی الله عنهما طرف ته اود أوفی ضمیر جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم طرف ته راجع دې أوفی معنی ده ختل مطلب دا چه حضرت ابن عمر رضی الله عنهما وائی چه کله به نبی کریم صلی الله علیه وسلم وادنی ته ورختلو نو دغه مذکوره دعابه نې لوستله

فَدْفَدْ - کانړیجنه سخته زمکه چه اوچته وی آیبون - دلته مبتدا محذوف ده تقدیرعبارت دې نحن آیبون آب یؤب اوبا معنی ده راګرخیدل، واپس کیدل یعنی مونږ خلق دَالله تعالی طرف ته راواپس کیدونکی یو لربنا دَدې متعلق پنځه احتماله دی ① ماقبل ساجدون سره متعلق دې ② مابعد حامدون سره متعلق دې ③ دې دواړوسره متعلق دې ④ دماقبل صفات اربعه سره متعلق دې ⑤ پنځوواړو صفتونوسره علی سبیل التنازع متعلق دې یعنی هریو سره متعلق دې لکه آیبون لربنا، تائبون لربنا (۲)

**قوله**: قال صالح: فقلت له: ألم يقل عبدالله إن شاء الله؟ قال: لا - صالح بن کیسان رحمه الله راوی وائی چه ما دَحضرت ابن عمر رضی الله عنهما خونی سالم ته اووئیل آیا ستا پلار عبدالله رضی الله عنه ان شاء الله نه دې وئیلې؟ نوسالم جواب اوکړو نه. یعنی هغوی وهزم الاحزاب وحده ان شاء الله نه دې وئیلې (۳)

**تنبیه**:- دَ ابوداؤد په روایت کښې دا اضافه هم نقل ده. **کان النبی صلی الله تعالی علیه وسلم وجیوشه إذا علوا الثنایا کبروا، وإذا هبطوا سبحوا، فوضعت الصلوة علی ذلك** (۴) دا اضافه مدرج ده مسندنه ده ځکه چه امام ابوداؤد رحمه الله دا روایت دَعبدالرزاق په طریق سره نقل کړې دې او امام عبدالرزاق دا په خپل کتاب کښې دَ ابن جریج قول ګرځولې دې (۵) لکه چه داقول دَابن جریج دَ مراسیل

---

۱) کشف الباری: ۱/۶۳۷.

۲) عمدة القاری: ۱۴/۲۴۶.

۳) عمدة القاری: ۱۴/۲۴۶.

۴) بذل المجهود: ۱۲/۱۰۰ وعون المعبود: ۷/۲۵۹ وسنن إبی داؤد کتاب الجهاد باب مایقول الرجل إذا سافر. رقم: ۲۵۹۹.

۵) مصنف عبدالرزاق: ۵/۱۶۰ رقم: ۹۲۴۵.

نه دي خوامام ابوداؤد رحمه الله دا موصولاً نقل كوى په دې باندې شراح ابوداؤد نه چاتنبيه كړې اونه شراح د بخارى شريف نه چا نيول كړى دى [1]

**ترجمة الباب سره مطابقت** - دحديث شريف ترجمة الباب سره مطابقت په دې جمله كښې دې كلما أوفى على ثنية أوفد فد كبرثلاث يعنى كله چه به نبى كريم ﷺ چرته د غريه څوكه ختلو نودرې ځل به نى تكبيرونيلو [2] والله اعلم وعلمه اتم واحكم

## باب ۱۳۲: يكتب للمسافر مثل ما كان يعمل فى الاقامة

**د ترجمة الباب مقصد** - امام بخارى رحمه الله دلته دا بيانوى چه كوم سړې په حالت اقامت كښې په كومو نفلى اعمالو باندې هميشه والې اوپابندى كوى اود هغه هم دغه نيت وى چه زه به هميشه دغه شان اعمال كوم نوكه چرې هغه سفرته ځى اود سفرد وجې نه هغه دغه اعمال نه شى اداكولې نوهغه ته به ثواب ملاويږى. دعمل منقطع كيدوسره ثواب نه منقطع كيږى خو په دې شرط چه سفرد ګناه په نيت سره نه وى. لكه چه څوك الله تعالي دې نه كړى د چاناحقه قتل كولودپاره په سفرځى نودا فضيلت به هغه ته حاصل نه وى [3]

احديث نمبر ۲۸۳۴] [4] حَدَّثَنَا مَطَرُ بْنُ الْفَضْلِ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ حَدَّثَنَا الْعَوَّامُ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ أَبُو إِسْمَاعِيلَ السَّكْسَكِيُّ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا بُرْدَةَ وَاصْطَحَبَ هُوَ وَيَزِيدُ بْنُ أَبِي كَبْشَةَ فِي سَفَرٍ، فَكَانَ يَزِيدُ يَصُومُ فِي السَّفَرِ فَقَالَ لَهُ أَبُو بُرْدَةَ سَمِعْتُ أَبَا مُوسَى مِرَارًا يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «إِذَا مَرِضَ الْعَبْدُ أَوْ سَافَرَ، كُتِبَ لَهُ مِثْلُ مَا كَانَ يَعْمَلُ مُقِيمًا صَحِيحًا».

## رجال الحديث

① **مطربن الفضل** - دامطربن فضل مروزى رحمه الله دې. ددوى حالات تيرشوى دى [5]

② **يزيدبن هارون** - دا يزيدبن هارون زادان السلمى ابوخالدواسطى رحمه الله دې د دوى تذكره تيره شوې ده [6]

③ **عوام** - دا ابوالحارث عوام بن حوشب شيبانى ربعى دې. د دوى حالات تيرشوى دى.

④ **ابراهيم** - داابوابراهيم بن عبدالرحمن بن اسماعيل سكسكى رحمه الله دې ددوى تذكره هم

---

[1] ) وقد تنبه له الحافظ ابن حجرفى تخريج الاذكارالنووية كما فى الفتوحات الربانية لابن علان:۵/۱٤۰.

[2] ) عمدة القارى:۱٤/۲٤۶.

[3] ) عمدة القارى:۱٤/۲٤۶.

[4] ) احديث اخرجه ابوداود فى كتاب الجنائز باب إذا كان الرجل يعمل عملا صالحا فشغله عنه مرض او سفر. رقم: ۳۰۹۱ وأحمد فى مسنده: رقم: ۳۶٤.

[5] ) كتاب الصلوة باب كراهية التعرى فى الصلوة رقم:۳٤۶.

[6] ) كتاب الوضوء باب التبرزفى البيوت رقم:۱٤۹.

وړاندې تيره شوې ده [١]

⑤ **ابوبرده ابوموسیٰ اشعری** رضي الله عنه - ددې دواړو حضراتو تذکره کتاب الایمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده کښې تیره شوې ده [٢]

⑥ **یزید بن ابی کبشه** - دا تابعی دې د دوی دپلارنوم یحویل یا جبریل بن یسار دې هغه دخپل پلار ابوکبشه، مروان بن الحکم او د یوصحابی نه روایت حدیث کړې دې امام حاکم رحمه الله د صحابی نوم شرجیل بن اوس نقل کړې دې [٣] ددوی نه روایت کونکی ابوبشرجعفربن ابی وحشیة حکم بن عتیبه علی بن الاقمر معاویة بن قرة مزنی او ابراهیم بن عبدالرحمن سکسکی رحمهم الله وغیره دی

په اموی دورحکومت کښې دې په مختلفواوچتوعهدوباندې پاتې دې دعراق ګورنر جوړشو اود سنده نه دخراج وصول کولوذمه واری هم هغوی پورد کړې د عبدالملك بن مروان په زمانه کښې د پولیس او مجاهدینو مشر جوړشو اهل شام به دهغوی ډیرعزت اودرناوې کولو ډیرکم روایت به ئی کول په صحیح بخاری کښې دهغوی تذکره صرف هم دغه راغلې ده چه هغه به په سفرکښې روژې ساتلې نوحضرت ابوبرده بن ابی موسیٰ اشعری دهغه نه دا حدیث اوریدلې دې

حافظ ابن حجر رحمه الله تقریب التهذیب [٤] کښې هغه مقبول او فتح الباری [٥] کښې ثقة ګرځولې ابن حبان رحمه الله هغه په کتاب الثقات کښې ذکرکړې دې. [٦] حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی وکان کبیرالشان رحمه الله [٧] د هجری کال په ړومبی صدئې آخره کښې د سلیمان بن عبدالملك په دور کښې په سنده کښې وفات شو [٨]

د ابراهیم سکسکی وینا ده چه ماد ابوبرده نه اوریدلی دی چه هغه اویزیدبن ابوکبشه په سفرکښې وو اویزیدبه په سفر کښې روژې ساتلې. نو ابوبرده اوونیل چه ما د خپل پلار حضرت ابوموسیٰ اشعری رضي الله عنه نه خوځل اوریدلی دی چه جناب نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی که یوسړې بیمارشی یا په سفرکښې اوخی نودهغه په اعمل نامه کښې هم هغه شان اعمال لیکلې کیږی لکه څنګه چه د هغه په اقامت او د صحت په حالت کښې عادت وو.

---

[١] ) د دواړو راویانود تذکره دپاره اوګورئی کتاب البیوع باب مایکره من الحلف فی البیع. رقم:٢٠٨٨.
[٢] ) کشف الباری:١/ ٦٩٠.
[٣] ) تهذیب التهذیب: ١١/ ٣٥٤.
[٤] ) تقریب التهذیب ص: ٦٠٤ رقم الترجمة: ٧٧٦٥.
[٥] ) فتح الباری:٦/ ١٣٦.
[٦] ) کتاب الثقات: ٥/ ٥٤٤.
[٧] ) سیرأعلام النبلاء: ٤/ ٤٤٣.
[٨] ) حواله بالا دنوروتفصیل دپاره اوګورئی تهذیب الکمال:٣٢/ ٢٢٨.

علامه مهلب رحمه الله فرمائی چه د قرآن کریم آیت ﴿ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ﴾ [1] کښې هم دغه مضمون راغلې دې که د صحت د خرابئ او د سفر د وجه نه يو سړي خپل معمولات پوره نه کړې شي نو هغه ته به اجر ملاويږي [2]
دلته د دې خبرې خيال ساتنې چه د دې حديث تعلق نوافل سره دې ځکه چه فرائض خو په دې دوارو صورتونو کښې نه ساقط کيږي بيمار که په قيام باندې قادر نه وي نو په ناسته به مونځ کوي او مسافر به قصر کوي په حديث شريف کښې راځي چه کوم سړې تهجد کوي او د تهجد په وخت د هغه سترګې ورغلې نو هغه ته به ثواب ملاويږي او دغه خوب د هغه د پاره صدقه ده د حديث الفاظ دادي مامن امرئ تكون له صلوة في الليل يغلبه عليها نوم أو وجع إلا كتب له أجر صلاته، وكان نومه صدقة عليه [3] بل د دې حديث نه دا هم معلومه شوه چه دا اجر او ثواب د دې سړي د پاره دې چه په صحت او اقامت کښې د يو نيك عمل عادت وي صرف بيماريدو يا په سفر تللو سره ځوك د دې فضيلت مستحق نه شي جوړيدې ځکه چه دغه مرض يا سفر د دې خپلو معمولاتو نه منع کړې نه دي چه د معمولاتو او نيکو اعمالو د هغه عادت نه وو نو د هغه د پاره به څه ليکلې شي؟ [4] د ابوداؤد په روايت کښې د دې تصريح موجود ده [5]

**قوله: كتب له مثل ما كان يعمل مقيما صحيحا** - دلته لف او نشر غير مرتب دې ځکه چه د حديث په شروع کښې لفظ **مرض** مقدم دې او سافر مؤخر دې او دلته د **مرض** مقابل صحيحا مؤخر دې او سافر مقابل مقدم دې. [6]

**ترجمة الباب سره مطابقت:-** د حديث شريف ترجمة الباب سره مطابقت د حديث نه بالکل واضح دې او کتاب الجهاد سره مناسبت دادې چه اکثر په جهاد کښې اسفار او امراض خو پيښيږي نو د دې وجه نه چه کوم نيك اعمال او معمولات پاتې کيږي په هغې باندې خفه کيدل نه دي پکار بلکه هغه ثواب جاري وي

## باب ۱۳۳: السير وحده

**د ترجمة الباب مقصد** - امام بخاري رحمه الله د خان له سفر کولو حکم بيانول غواړي چه دا عمل جائز دې که ناجائز؟ دلته دوه احاديث ذکر دي په يو کښې د حضرت زبير رضي الله عنه خان له د سفر کولو ذکر دې او په دويم روايت کښې خان له د سفر کولو نه منع کړې شوې ده په دې وجه امام بخاري رحمه الله ترجمة الباب مبهم پريښودې دې او څه واضحه حکم ئې نه دې لګولې [7]

---

[1] التين: ٦.
[2] شرح ابن بطال: ٥/ ١٥٤.
[3] عمدة القاري: ١٤/ ٣٥٣ دار الكتب العلمية بيروت.
[4] شرح ابن بطال: ١٥٤/ ٥ - ١٥٥.
[5] أبوداؤد كتاب الجنائز رقم: ٣٠٩١.
[6] فتح الباري: ٦/ ١٣٦.
[7] عمدة القاري: ١٤/ ٢٤٧.

**خان له د سفرکولو حکم** - مہلب رحمه الله فرمائی چه د شپې خان له سفرکولونه منع کولو کښې حکمت دادې چه د شپې وخت کښې د شیطانانو بهرخوریدوکښې تکلیف رسولو اودخلقو په زړونوکښې وسوسې اچولووخت وی په دې وجه جناب نبی کریم ﷺ د شپې ماشومان بهر ویستلونه منع فرمائیلې وو لیکن داحرام نه دی که څه عذرنه وی نو مکروه دی اوکه د سفرڅوك ملګرې وی نودا افضل اوبهتردی (١)

حدیث نمبر ۲۸۳۵ (٢) حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِي حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُنْكَدِرِ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ - رضي الله عنهما - يَقُولُ نَدَبَ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - النَّاسَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ ، فَانْتَدَبَ الزُّبَيْرُ ، ثُمَّ نَدَبَهُمْ فَانْتَدَبَ الزُّبَيْرُ ، ثُمَّ نَدَبَهُمْ فَانْتَدَبَ الزُّبَيْرُ ، قَالَ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - « إِنَّ لِكُلِّ نَبِي حَوَارِيًّا ، وَحَوَارِي الزُّبَيْرُ » . قَالَ سُفْيَانُ الْحَوَارِي النَّاصِرُ. [ر: ۲۶۹۱]

## رجال الحدیث

① **حمیدی**: داعبدالله بن زبیرحمیدی رحمه الله دې. دَدوی حالات بدء الوحی کښې تیرشوی دی (٣)

② **سفیان**- داسفیان بن عیینه رحمه الله دې دَ ده تذکره ماقبل کښې تیره شوې ده (٤)

③ **محمدبن المنکدر**:- دامحمدبن المنکدر رحمه الله دې دَدوی حالات شاته تیرشو (٥)

④ **جابربن عبدالله** رضی الله عنهما:- دا صحابی رسول حضرت جابربن عبدالله رضی الله عنهما دي دَدوی تذکره وړاندې تیره شوې ده (٦)

**ترجمة الباب سره دَحدیث په مناسبت باندې اشکال اودَهغې جواب**:- داحدیث دَدې باب لاندې ذکرکولوباندې امام اسماعیلی رحمه الله ته دا شبه شوې ده چه داحدیث دې باب سره مناسبت نه لری ځکه چه دلته د حضرت زبیر رضی الله عنه دَخان له سفرکولوهیڅ ذکرموجودنه دې کیدې شی چه څوك بل هم هغوی پسې شاشاته تلې وی. علامه ابن المنیر رحمه الله هم دَدې تائیدکړې دې حافظ ابن حجر رحمه الله دَدې شبه د ختمولودَپاره فرمائی چه دلته دَدې ذکر خو نشته لیکن هم دغه واقعه مناقب زبیر کښې راځی (٧) دکوم نه چه معلومیږی چه هغوی دا سفرخان له کړې وو هلته حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنهما فرمائی: ماځپل پلارڅو ځل بنوقریظه طرف ته په تلو راتلولیدلې دې. مادَهغوی نه تپوس اوکړو یاأبی رأیتك تختلف یعنی باباجانه تاسو باربار بنوقریظه طرف ته

---

١) شرح ابن بطال: ۱۵۵/۵.

٢) احدیث قد مر تخریجه ابوداود فی کتاب الجهاد باب فضل الطلیعة: ۲۸۴۶.

٣) کشف الباری: ۲۳۷/۱.

٤) کشف الباری: ۲۳۸/۱.

٥) کتاب الوضوء باب صب النبی صلی الله علیه وسلم وضوء علی المغمی علیه رقم: ۱۹۶.

٦) کتاب الوضوء باب من لم یرالوضوء إلا من المخرجین من القبل والدبر: ۱۷۶.

٧) کتاب فضائل أصحاب النبی صلی الله تعالی علیه وسلم باب مناقب الزبیربن العوام رضی الله عنه رقم: ۳۷۱۹.

خنې راځنې آخرڅه خبره ده؟ هغوی اووئیل جناب نبی کریم ﷺ مونږ ته فرمائیلی دی چه د بنوقریظه خبربه څوك راوړی؟ نوزه لاړم (۱)

نوزد سنن النسائی روایت خو بالکل واضحه اوبې کړده دې په کوم کښې چه وهب بن کیسان رحمه الله په دې الفاظوسره دغه واقعه ذکرکوی أشهدلسمعت جابربن عبدالله........ فلم یذهب أحد فذهب الزبیر (۲) لکه چه دتاکیددپاسه تاکید دې اودغه شان دزې خل اوشو اودریوارو خل هم حضرت زبیر رضی الله عنه لاړو په دومره صفاالفاظوسره داواقعه ذکرکولې شی بیاهم دا احتمال راویستل چه کیدې شی بل څوك هم دوی سره وی نودې ته به هم بې ځایه تکلف وئیلی شی

**قوله: قال سفیان: الحوازی الناصر** - دالفظ مفرددې اومنصرف دې اود حراء ظرف نه منصوب دې دا په کراسی یا جواری باندې نه دی قیاس کول پکار ځکه چه دا الفاظ جمع دی مفردنه دی (۳)

حدیث نمبر ۲۸۳۶ [(۴) حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا عَاصِمُ بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنِ ابْنِ عُمَرَ-رضي الله عنهما-عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم-.

حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا عَاصِمُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ أَبِيهِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ:

»لَوْ يَعْلَمُ النَّاسُ مَا فِي الْوَحْدَةِ مَا أَعْلَمُ مَا سَارَ رَاكِبٌ بِلَيْلٍ وَحْدَهُ.«

## رجال الحدیث

**رومبې سند:** ① **ابوالولید:**- داهشام بن عبدالملك رحمه الله دې ددوی حالات کتاب الایمان کښې تیرشوی دی (۵)

② **عاصم بن محمد:**- دا عاصم بن محمدبن عبدالله بن عمر رحمه الله دې کتاب الایمان کښې ددوی تذکره راغلې ده (۶)

③ **ابی** - داحضرت عاصم پلارمحمدبن زید رحمه الله دې کتاب الایمان کښې ددوی تذکره راغلې ده (۷)

---

(۱) فتح الباری:۱۳۸/۶ وعمدة القاری: ۲۳۷/۱٤.

(۲) سنن النسائی الکبری:۲٦٤/۵ کتاب السیر باب ذهاب الطلیعة وحده: رقم:۸۸٤۳/۳.

(۳) إرشادالساری:۱۳۷/۵.

(٤) اخرجه الترمذی فی کتاب الجهاد باب ماجاء فی کراهیة أن یسافر الرجل وحده: رقم: ٦٧٣ والنسائی فی الکبری:۵/ کتاب الجهاد باب النهی عن سیرالراکب وحده رقم: ۸۵۰.

(۵) کشف الباری:۳۸/۲.

(۶) باب عقدالازارعلی القفافی الصلوة رقم:۳۵۲.

(۷) کشف الباری: ۱۳۵/۲.

③ **ابن عمر** - داصحابی رسول حضرت عبدالله بن عمر بن الخطاب رضي الله عنهما دي ددوی حالات شاته تیرشوی دی [1]

**دویم سند** - ①**ابونعیم** - دافضل بن دکین رحمه الله دي ددوی حالات کتاب الایمان کښې تیرشوی دی [2] باقی رجال سند بعینه د پورتنی ړومبی سند مطابق دی دحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روایت دې چه نبی کریم صلى الله عليه وسلم فرمائیلی دی که خلقو د ځان له سفرکولونقصانات زما په شان پیژندل نوهیڅ یومسافربه د شپې یوازې سفرنه کولو

**قوله**: مـافي الوحدة مـا أعلم مـاسـار راكب - مافى الوحدة کښې ماء خو یا زائده ده او ظرف فى الوحدة محل نصب کښې ده یا ما مصدریه ده تقدیرعبارت داسې دې لويعلم الناس أى شىٔ فى الواحدة؟ اوداهم په محل نصب کښې دې [3] ما أعلم کښې ماموصوله ده اوجمله مفعول کیدوسره محل نصب کښې واقع ده ماسارراکباکښې ما نافیه ده اوجمله جزاء ده

**په دواړو روایتونوکښې تعارض اودهغې ازاله**:- په ړومبی روایت کښې د حضرت زبیر رضي الله عنه د ځان له سفرذکردې خو په دې روایت سره ددې ممانعت معلومیږی. بل الراكب شيطان والراكبان شيطانان والثلاث ركب [4] په دې روایت کښې د ځان له سفرکولونه صراحةً ممانعت واردشوې دې چنانچه په دواړو روایتونو کښې په ظاهره تعارض معلومیږی په دې کښې مختلف تطبیقات ورکړې شوی دی.

① د څه ضرورت یا مصلحت دخاطره ځان له سفرکول جائزدی اوممانعت د عامو حالاتو په اعتبار سره دې په جاسوس وغیره کښې ضرورت اوحکمت هم دغه دې چه هغه یوازې وی

② که چرته امن وی اود ځان له سفرکولوضرورت پیښ شی نوجائزدی. د ویرې په حالت کښې ناجائزدی [5]

③بعض حضرات وائی چه دممانعت تعلق اوږدوسفرونوسره دې په کوم کښې چه د مونځ قصرکیږی په مختصراوکم مسافت والاسفرونوکښې هیڅ بدیت نشته [6]

④ داممانعت نهی تادیبی دې نهی تحریمی نه دې. یعنی دآدابواومستحباتونه دې چه سړې دې ځان له سفرنه کوی ځکه چه په دې سره وحشت کیږی لکه څنګه چه رسول کریم صلى الله عليه وسلم د لوښی د مینځ نه خوراك کول. مشکیزه باندې خله کیخودوسره اوبه څکل او په ډاګه چهت باندې د شپې سملاستونه منع فرمائیلې ده اودې نه علاوه هم نور ډیرمثالونه دی د کوموتعلق

---

[1] ) كشف الباری: ۶۳۷/۱.
[2] ) كشف الباری: ۶۶۹/۲.
[3] ) إرشاد الساری:۱۳۸/۵.
[4] ) إرشاد الساری:۱۳۸/۵.
[5] ) إرشاد الساری:۱۳۸/۵.
[6] ) عمدة القاری:۱۴۲/۱۴.

چه آیا ابو سره دې د جواز او عدم جواز سره نه دې
په دې کښې د خلقو حالات او طبائع ته هم کتل وی چه یو سړې بزدل دې او د هر منظر نه ویریږی د هر سړی نه خوف خوری او په هر کش کړپ باندې توپ وهی نو ښکاره خبره ده چه د دامې سړی خان له سفر کول د خطرې نه خالي نه دی د بهادرو او تکړه خلقو حکم د دې نه بالکل مختلف دې (۱) هم په دې تناظر کښې د حضرت عمر رضی الله عنه دا قول دې که سړې خان له سفر کوی او هغه مړشی یا په هغه باندې څه اوشی نو زه به د چانه تپوس پوښتنه کولو د پاره ګرځم ؟
**د حدیث ترجمة الباب سره مطابقت** - د ړومبی روایت مطابقت په سلسله کښې موښ خودلی دی چه حضرت زبیر رضی الله عنه به په دې مبهم باندې خان له تشریف اوړلو د دویم روایت مطابقت په دې اعتبار سره دې چه ترجمه مبهم قائمه کړې شوه څه حتمی حکم نې د خان له سفر کولو د پاره کښې اونه لګولو چه جائزدی که ناجائز؟ نو په دې روایت کښې دا بیان کړې شو چه بغیر ضرورت نه خان له سفر نه دی کول پکار (۲)
**فائده** - د حضرت جابر رضی الله عنه د روایت نه معلومیږی چه امیر له څوك په خطرناك مهم باندې جبرا نه دی لیګل پکار سره د دې چه هغه ته اختیار حاصل دې بلکه د ترغیب او شوق په ذریعه سره د خلقو جذبات راؤچتول پکار دی چه کوم سړې په خپله خوشحالئی سره د دغه کار ذمه په خپل سر اخلی نو د خپل صلاحیتونو په خاطر هغه د اسې وی او هغه د بهتر کار کردګئی سبب جوړیږی د رسول الله ﷺ دا عمل یوه بهترینه نمونه ده کنی هغه ته اختیار دې چه هغه چاته هم حکم ورکړی چه اې فلانکی لاړ شه او خبر راوړه او د دې حکم نه د انکار د چا هیڅ مجال نه وو لقوله تعالی ﴿ اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ ﴾ (۳) یعنی چه کله هم نبی کریم ﷺ تاسو غواړی نو زر لبیك واینی. (۴) والله اعلم بالصواب

## باب ۱۳۴: السرعة في السير

**د ترجمة الباب مقصد**: - دلته دا فرمائی چه هسې خو په تسلئی او وقار سره تګ پکار دې اصل هم دغه دې خو کله کله د تیز تللو ضرورت هم پیښیږی نو د ضرورت په وخت په دې کښې هیڅ بدیت نشته دلته شراح رحمهم الله رجوع إلى الوطن قید لګولې دې په باب کښې ذکر شوو احادیثو نه هم دغه په ذهن کښې راځی چه د وطن طرف ته واپس کیدو کښې تندی پکار ده
لیکن ترجمة الباب مطلق دې په دې وجه د ضرورت په وخت تیز تګ جائز دې که د وطن طرف ته واپس کیدل وی او که د دښمن طرف ته تیزئی سره ورتګ وی یا بل څه موقع وی. بهرحال په تیز تګ کښې د ضرورت په وخت هیڅ بدی نشته

---

(۱) شرح ابن بطال: ۵/۵۵ – ۵۶.
(۲) عمدة القاري: ۱۴/۱۴۲.
(۳) الانفال: ۲۴.
(۴) شرح ابن بطال: ۵/۵۴.

قَالَ أَبُو حُمَيْدٍ قَالَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - «إِنِّي مُتَعَجِّلٌ إِلَى الْمَدِينَةِ، فَمَنْ أَرَادَ أَنْ يَتَعَجَّلَ مَعِي فَلْيُعَجِّلْ». [ر ۱۴۱۱]

ابوحمید یعنی ابوحمید دا عبدالرحمن ساعدی انصاری رضی الله عنه دي دَدوی تذکره په کتاب الصلوة کښې تیره شوې ده [1] نبی کریم ﷺ فرمانیلی دی زه دَ مدینې طرف ته زر ځم څوک چه ما سره زر تلل غواړی نوزر دې تیاری اوکړی

دا روایت مصنف رحمه الله کتاب الزکوة باب خرص التمر کښې موصولاً ذکرکړې دی [2]

حدیث نمبر ۲۸۳۷ [3] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ هِشَامٍ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبِي قَالَ سُئِلَ أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ - رضى الله عنهما - كَانَ يَحْيَى يَقُولُ وَأَنَا أَسْمَعُ فَسَقَطَ عَنِّي - عَنْ مَسِيرِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ، قَالَ فَكَانَ يَسِيرُ الْعَنَقَ، فَإِذَا وَجَدَ فَجْوَةً نَصَّ. وَالنَّصُّ فَوْقَ الْعَنَقِ. [ر ۱۵۸۳]

## رجال الحديث

① **محمدبن المثنی** - دادَ امام بخاری رحمه الله شیخ محمدبن مثنی رحمه الله دي دَدوی تذکره کتاب الایمان کښې تیره شوې ده [4]

② **یحیی** - دا یحیی بن سعید قطان رحمه الله دي دَ دوی تذکره هم کتاب الایمان کښې تیره شوې ده [5]

③ **هشام** - داهشام بن عروه رحمه الله دي دَدوی حالات بدء الوحی کښې تیرشوی دی [6]

④ **أبی** - داعروه بن زبیر رحمه الله دي. دَدوی حالات بدء الوحی کښې تیرشوی دی [7]

⑤ **اسامة بن زید**: داصحابی رسول حضرت اسمه بن زید رضی الله عنهما دي دَدوی تذکره تیره شوې ده [8]

**قوله** وكان يحيى يقول وأنا أسمع فسقط عني: - دادَ یحیی بن سعید القطان قول دي اوجمله معترضه ده. په دې کښې دَ امام بخاری رحمه الله شیخ محمدبن المثنی دا وضاحت فرمائی

---

[1] ) باب فضل استقبال القبلة: رقم:۳۹۱.

[2] ) تنبية: قد تسامح فی تخريج هذا التعليق محقق تغليق التعليق حيث أشارإلى أن المؤلف رحمه الله ذكره موصولاً فى كتاب العمرة فى باب من أسر ناقته إذا بلغ المدينة، رقم: ۱۸۰۲ وكتاب فضائل المدينة فى باب بلاترجمة بعد باب المدينة تنفى الخبث، رقم: ۱۸۸۶وقد خلط حميد وأبوحميد انظر حاشية تغليق التعليق: ۳۵٤/۳ والله اعلم بالصواب.

[3] ) قد مر تخريجه فى كتاب الحج باب السير إذا رجع من عرفة، رقم: ۱۶۶۶.

[4] ) كشف البارى:۲۵/۳.

[5] ) كشف البارى:۲/۲.

[6] ) كشف البارى:۲۹۱/۱.

[7] ) كشف البارى:۲۹۱/۱.

[8] ) كتاب الوضوء باب إسباغ الوضوء: رقم:۱۳۹.

چه زمونږ شیخ دا روایت دعروه نه تعلیقًا یا مسندًا نقل کولو اود حضرت عروه قول وأنا أسمع دهغه نه پاتې شوې وو نویحیی دهغې تصریح اوکړه د دې تائید د مسلم شریف د روایت نه هم کیږی د کوم الفاظ چه دادی سئل أسامة وأنا شاهد کیف کان مسیر النبی صلی الله تعالی علیه وسلم (۱)
بل هم د صحیح بخاری روایت کوم چه کتاب الحج کښې تیرشوې دې په هغې کښې دی سئل أسامة وأنا جالس.... (۲)
حاصل دادې چه کوم وخت رسول الله ﷺ دعرفه نه د واپسئی سره متعلق داخبره حضرت اسامه رضی الله عنه نه معلومولو نوهغه وخت حضرت عروه رحمه الله هم هلته تشریف ایخودې وو تقدیرعبارت داسې دې قال البخاری: قال ابن المثنی: کان یحیی یقول تعلیقًا عن عروة أو مسندًا إلیه. قال: سئل أسامة وأنا أسمع السؤال......

**قوله**: عن مسیر النبی صلی الله تعالی علیه وسلم - داعبارت د سئل متعلق دې یعنی دحضرت اسامه رضی الله عنه نه د مسیر نبی علیه السلام باره کښې پوښتنه اوکړه (۳)

**فجوة**: - خالی ځائی یاد دوو څیزونویه مینځ کښې کولاؤ ځائی. سورت کهف کښې دی ﴿ وَهُمْ فِي فَجْوَةٍ مِّنْهُ ﴾ (۴) یعنی په غارکښې دننه اصحاب کهف په ارت او کولاؤ ځائی کښې پراته دی

**النص فوق العنق**: - نص: ډیر په تیزئی سره سورلی شړل عنق په تیزئی سره تلل په دواړو کښې د رفتار فرق دې او نص عنق نه زیات تیز تللو ته وائی (۵) یعنی جناب نبی کریم ﷺ د عرفه نه په واپسئی باندې تیز روان وو او کله چه ارت ځائی ملاؤ شو نوحضورپاك به نور هم رفتار تیزولو.

**ترجمة الباب نه انطباق**: - دحدیث شریف ترجمة الباب سره مناسبت نص نه واضح دې دلته د نبی کریم ﷺ د تیز تلل اختیارولوذکردې (۶)

حدیث نمبر ۲۸۳۸] (۷) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ أَخْبَرَنِي زَيْدٌ - هُوَ ابْنُ أَسْلَمَ - عَنْ أَبِيهِ قَالَ كُنْتُ مَعَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ - رضي الله عنهما - بِطَرِيقِ مَكَّةَ، فَبَلَغَهُ عَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ أَبِي عُبَيْدٍ شِدَّةُ وَجَعٍ، فَأَسْرَعَ السَّيْرَ حَتَّى إِذَا كَانَ بَعْدَ غُرُوبِ الشَّفَقِ، ثُمَّ نَزَلَ

---

[۱]) صحیح مسلم: ۴۱۷/۱ کتاب الحج باب الافاضة من عرفات إلی المزدلفة.
[۲]) کتاب الحج باب السیر إذا دفع من عرفة رقم: ۱۶۶۶.
[۳]) عمدة القاری: ۲۴۹/۱۴.
[۴]) الکهف: ۱۷.
[۵]) النهایة: ۳۱۰/۳ و: ۶۴/۵.
[۶]) عمدة القاری: ۲۴۹/۱۴.
[۷]) قد مر تخریجه فی تقصیر الصلوة باب تصلی المغرب ثلاثا فی السفر رقم: ۱۰۹۱.

نَصَلِّي الْمَغْرِبَ وَالْعَتَمَةَ، يَجْمَعُ بَيْنَهُمَا، وَقَالَ إِنِّي رَأَيْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - إِذَا جَدَّ بِهِ السَّيْرُ أَخَّرَ الْمَغْرِبَ وَجَمَعَ بَيْنَهُمَا .[ر: ۱۰۴۱]

دا حديث بعينه هم په دې سند او متن سره كتاب العمرة كښې تيرشوي دې (۱)

**ترجمة الباب سره مطابقت** - دحديث شريف ترجمة الباب سره مناسبت إذا جدبه السير كښې دې يعنې چه كله رسول الله ﷺ ته دتيز تللو ضرورت پيښ شو نودمابنام مونځ ني روستوكړو او د ماسخوتن هغې سره نې يوځائې كړو (۲)

حديث نمبر [۲۸۳۹] (۳) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ سُمَيٍّ مَوْلَى أَبِي بَكْرٍ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضي الله عنه - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «السَّفَرُ قِطْعَةٌ مِنَ الْعَذَابِ، يَمْنَعُ أَحَدَكُمْ نَوْمَهُ وَطَعَامَهُ وَشَرَابَهُ، فَإِذَا قَضَى أَحَدُكُمْ نَهْمَتَهُ فَلْيُعَجِّلْ إِلَى أَهْلِهِ».[ر: ۱۷۱۰]

دا حديث بعينه هم په دې سند او متن سره كتاب العمرة كښې تيرشوي دې

**قوله** نومه وطعامه وشرابه:- دامنصوبه بنزع الخفض دہ تقديرعبارت دادې يمنع أحدكم من نومه...... يا مفعول ثانى دې د يمنع خكه چه منع هم د اعطى په شان د دوو مفعولو تقاضا كوى مطلب دا چه په سفركښې د خوراك څښاك سهولت خوحاصل وى ولې په مكمل توګه سكون او راحت سره نه وى لكه چه په كوركښې داقامت په وخت وى په دې وجه د زر نه زر خپل ضرورت پوره كولوسره خپل كورطرف ته راواپس كيدل پكاردى دې دپاره چه پخپله هم راحت حاصل كړى او بال بچ هم مطمئن شى

نهمته:- دنون زيرسره لوستلې شى ددې معنى دہ شوق اورغبت يعنى چه كله رغبت پوره شى اودسفرنه نى زړه مورشى نو زردې د خپل كورطرف ته د واپسئ سفرشروع كړى (۴)

**ترجمة الباب سره مناسبت**:- د حديث شريف ترجمة الباب سره مناسبت فليعجل إلى أهله نه ښكاره دې (۵)

**د احاديث باب نه مستنبط شوې فوائد**:- علامه مهلب رحمه الله فرمائى چه په رومبى او آخرى حديث كښې دوه فائدې دى ① د سفرد مشقت نه به زر خلاصې ملاؤشى ② اهل اوعيال او اهل مدينه ، خصوصاً دحضورپاك په زرواپسئ باندې به خوشحاله شى په دې وجه به نبى كريم ﷺ د وطن مدينې طرف ته د زر نه زر د واپس راتلو كوشش كولو اوددې به نى نورو ته هم ترغيب وركولو د دويم حديث نه دافائده حاصليږى كه دعرفه نه په تيزئ سره زر اووتلې نو

---

(۱) باب في المسافر إذا جدبه السير وتعجل إلى أهله رقم:۱۸۰۵.

(۲) عمدة القاري:۱۴/ ۴۹.

(۳) باب السفر سقطعة من العذاب رقم: ۱۸۰۴.

(۴) عمدة القاري:۱/ ۲۴۹ وفتح الباري:۱/ ۱۳۹.

(۵) عمدة القاري: ۱۴/ ۲۴۹.

مزدلفه ته په رسیدو به دعا اود الله تعالی سره د راز اونیاز دپاره وخت ډیر ملاؤشی خکه چه په مزدلفه کښې د دعا وخت ډیرکم وی اوهغه هم په کال کښې یوځل په دې شرط چه د حج سعادت هم درنصیب شی

په دریم حدیث کښې د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما د عمل نه دافوائدحاصلیږی ① د صفیه رضی الله عنها په ژوند کښې هغې سره ملاقات اوشی چه دخپل مینځ خبرې چه د ښځې خاوند په مینځ کښې راز وی هغه اوشی

② صفیه رضی الله عنها بیماره ود اوخاوندنې په سفروو زر رسیدو سره هغه خوشحالول مقصد وو په کوم سره چه په بیمارئی کښې د افاقه کیدو امکان وی

③ د دې نه د هغوی د تواضع او د تکبرنه د ویزاره کیدو هم اظهارکیږی ؟ (۱)

## باب ۱۳۵: إذاحمل علی فرس فرآها تباع

**د ترجمة الباب مقصد** - د علامه قسطلانی رحمه الله په نیزد ترجمة الباب مقصد دادې چه په جهادکښې د استعمال په غرض هبه کړې شوې اس باره کښې که صدقه کونکی ته معلومه شی چه داخرڅوی نوآیا صدقه کونکې پخپله دا اخستې شی؟ (۲) د دې جواب د باب لاندې ورکړې شوی حدیث کښې راغلې دې په دې وجه امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې د جواب تصریح نه ده کړې

لیکن حضرت شیخ الحدیث رحمه الله فرمائی چه علامه قسطلانی رحمه الله د کومې مسئلې طرف ته اشاره کړې ده هغه مختلف فیها ده او د صحیح بخاری کتاب الزکوة کښې باب هل یشتری صدقته لاندې تیرشوی دی په دې وجه که چرې ترجمة الباب رجوع فی الهبه په معنی باندې محمول کړې شی اوډیرد قرین قیاس هم دغه ده ، نومستبعدنه ده په دې صورت کښې به د ترجمة الباب مقصد داشی که چادالله تعالی په لارکښې د جهادپه غرض سره اس صدقه کړو روستوورته معلومه شوه چه هغه دا د ده د رضا نه خلاف خرڅوی نو په دې صورت کښې صدقه کونکی ته د خپلې هبه د رجوع کولو اختیارشته که نه؟ (۳)

حدیث نمبر ۲۸٤۰] (٤) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ - رضی الله عنهما أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ حَمَلَ عَلَى فَرَسٍ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَوَجَدَهُ يُبَاعُ، فَأَرَادَ

---

(۱) شرح ابن بطال: ۱۵۶/۵.

(۲) إرشاد الساری: ٤۷۳/۵.

(۳) قال المحدیث الکاندهلوی رحمه الله (الابواب والتراجم ص:۲۰۱) قلت والمسئلة التی أشار إلیها القسطلانی خلافیة تقدمت فی باب هل یشتری صدقته من کتاب الزکوة. ولایبعد عندی أن یحمل الترجمة علی معنی الرجوع ی الهبة. فالمعنی إذا تصدق رجل فرسا لیجاهد علیه فی سبیل الله ثم رأی المتصدق أنها تباع علی خلاف ما أراد من التصدق. فهل یرجع فی تلک الصدقة أم لا؟

(٤) مرتخریجه فی کتاب الزکوة. باب هل یشتری صدقته؟ ... رقم: ۱٤۹۰.

أَنْ يَبْتَاعَهُ ، فَسَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ « لاَ تَبْتَعْهُ ، وَلاَ تَعُدْ فِي صَدَقَتِكَ .[ر ۱۴۱۸]

## رجال الحديث

① **عبدالله بن يوسف**:- دا عبدالله بن يوسف تنيسى دمشقى رحمه الله دي دَدوى حالات بدء الوحى كنبي تيرشوى دى (۱)

② **مالک** - دا امام دارالهجرة ابوعبدالله مالك بن انس بن مالك اصبحى مدنى دي دَدوى حالات كتاب الايمان كنبي تيرشوى دى (۲)

③ **نافع** -دا ابوسهيل نافع بن مالك اصبحى تميمى دي دَدوى حالات هم دكتاب الايمان لاندي وړاندې تيرشوى دى (۳)

④ **عبدالله بن عمر** رضي الله عنهما:- دا مشهورصحابى رسول عبدالله بن عمر رضي الله عنهما دي دَ دوى حالات كتاب الايمان لاندې تير شوى دى (۴)

⑤ **عمربن الخطاب** رضي الله عنه:- دا حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه دي دَدوى حالات هم كتاب الايمان لاندې تيرشوى دى (۵)

أن عمربن الخطاب رضي الله عنه حمل على فرس له في سبيل الله، فوجده يباع، فاراد أن يبتاعه. حضرت عمر رضي الله عنه دَ الله تعالى په لاركنبي يواس دَ سورلئى دپاره وركړو بيا هغه دا خرڅول اوليدل نو داني غوښتل چه پخپله ئې واخلي

په طبقات ابن سعد كنبي دى چه دَدغه اس نوم ورد وو كوم چه تميم دارى رضي الله عنه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دَهديه په توګه وركړې وو روستو بيا حضورپاك حضرت عمر رضي الله عنه ته هديه كړو (۶)

حضرت عمر رضي الله عنه دا اس دوباره ولې اخستل غوښتل؟ دَدې دوه وجوهات دى ① يو دا چه هغه ښكلي ښائسته او تيزوو دَحضرت عمر رضي الله عنه په استعمال كنبي پاتې وو اوهغوى ته دَدَه خوبيانې معلومې وې په دې وجه ئې غوښتل دا دوباره واخلي دَ صحيح مسلم دَ روايت نه هم دغه معلوميږى چه حضرت عمر رضي الله عنه دَدې اس دَ ښكلي والى معترف وو دَ روايت الفاظ دى حملت على فرس عتيق في سبيل الله (۷) امام نووى رحمه الله وائى چه عتيق ښكلي مزيدار او تيزرفتار اس ته وئيلې شى (۸)

---

۱) كشف الباريک ۱/۲۸۹.
۲) كشف البارى:۲/۸۰.
۳) كشف البارى:۳/۲۷۱.
۴) كشف البارى:۱/۶۳۷.
۵) كشف البارى:۲/٤٧٤.
۶) طبقات ابن سعد:۱/٤٩۰.
۷) صحيح مسلم: ۲/ كتاب الهبات باب كراهية الانسان ماتصدق به ممن تصدق عليه.
۸) قال النووى رحمه الله: العتيق: الفرس النفيس الجواد السابق انظرشرح النووى على صحيح مسلم:۲/۳۶.

② دويمه وجه دا كيدې شي چه دا اس رسول الله ﷺ هغه ته هبه كړې وو دَ كوم ذات سره چه دحضرت عمر رضی الله عنه ډيره زياته مينه اوعقيدت وو ممكن ده چه ددغه عقيدت دَ وجه نه ئې دااخستلوسره دَ دوباره حاصلولوخواهش نې پيدا شوې وى. (والله اعلم)

**قوله**: فسأل رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم فقال: لاتبتعه ولاتعد في صدقتك:- حضرت عمر رضی الله عنه دَ رسول الله ﷺ نه تپوس اوكړو هغوى اوفرمائيل دامه اخله او په خپله صدقه كښې دوباره واپس كړه حضرت عمر رضی الله عنه هغه اس په بيع اخستلوسره حاصلول غوښتل بيا رسول الله ﷺ دا معامله عودفي الصدقة فرمائيلو سره حضرت عمر رضی الله عنه دَ بيع نه ولې منع كړو؟ دَدې جواب دادې چه هغه اس حضرت عمر رضی الله عنه هديه كړې وو كه هغه ده اخستې وې نومتصدق عليه به دَهغوى دَاحسان لاندې راتلودَوجه نه مروتاً قيمت كښې كمې كولو ښكاره خبره ده چه كله يوسړې چاته بغير قيمت نه هبه يا هديه كړې اوبيا هغه واهب يا متصدق هغه څيز موهوب له ياد متصدق عليه نه اخلى نوهغه موهوب له اومتصدق عليه په قيمت كښې كمې كوى. لهٰذا هغه سړې چه په قيمت كښې كمې كوى په دې اعتبارسره به حضرت عمر رضی الله عنه عودفى الصدقة كونكې كيدو. (١)

**ترجمة الباب سره مناسبت**:- حضرت شيخ الحديث رحمه الله چه دَترجمة الباب كومه توجيهه كړې ده دَهغې پيش نظر ترجمة الباب سره به دَ روايت تطبيق داسې كيږى چه حضرت عمر رضی الله عنه واهب اومتصدق وو دَهغوى دَ احسان لاندې دَ راتلودَ وجه نه موهوب له اومتصدق عليه به قيمت كښې كمې كوى نوحضرت عمر رضی الله عنه عودفى الصدقة مرتكب كيدو په دې وجه نبى كريم ﷺ هغه ته دَاس دَاخستلو اجازت ورنه كړو او وئې فرمائيل لاتبتعه ولاتعدفى صدقتك اودَ ترجمة الباب سره دَ دې مناسبت ښكاره دې.

**په فرس باندې متصدق عليه دَملكيت مسئله**:- كله چه صدقه كونكې دَ جهادپه نيت اس هديه كړى نو چه په چاباندې صدقه كړې دې هغه له په دې باندې دَ ذاتى مال په شان تصرف حاصل دې. اوهغه به دَ ده ملكيت وى يابه هغه اس وقف وى. دا په جهاد كښې دَاستعمالولونه پس به بيت المال ته واپس كول ضرورى وى؟ په دې كښې اختلاف دې

امام مالك رحمه الله په دې مسئله كښې دَمتصدق دَالفاظو اعتباركړې دې. هغه فرمائى كه متصدق دَ صدقه په وخت وهولك في سبيل الله اووئيل نودَ متصدق عليه ملكيت به په دغه اس باندې تام شى. او په دې باندې به هغه ته دَ ذاتى مال په شان دَ تصرف حق حاصل شى اوكه چرې متصدق دَ صدقه كولوپه وخت هو في سبيل الله اووئيل نوبيا به دَ دغه اس حيثيت دَ وقف وى (٢) لهٰذا په جهاد كښې دَاستعمال نه پس په متصدق عليه باندې دغه اس په بيت

---

(١) إرشادالسارى ٤٧٣/٦ قال القسطلانى: سمى الشراء عودًا فى الصدقة. لان العادة جرث بالمسامحة من البايع فى مثل ذلک للمشترى فاطنق على القدر الذى يسامح به رجوعًا.

(٢) شرح ابن بطال: ١٥٧/٥.

المال کښې حواله کول واجب وي
دَ متصدق په اول اودويم قول کښې فرق دې. په قول اول کښې دَمتصدق عليه دَ ملکيت تصريح ده په کوم چه هولك الفاظ دال دی. او په قول ثانی کښې على الطلاق هو فی سبيل الله سره دَوقف حيثيت مستفادکيږی لهذا دَامام مالك رحمه الله په نيزدواړو صورتونوکښې به دَ صدقه حيثيت جدا جدا وی په اول صورت کښې دَمتصدق عليه ملکيت او دويم صورت کښې وقف يا بيت المال حصه جوړيدو سره دَ مجاهدين اسلام عمومی ملکيت
امام اعظم رحمه الله او امام شافعی رحمه الله فرمائی چه هغه اس به دَ متصدق عليه ذاتی ملکيت جوړيږی او په دې به هغه ته هم هغه شان دَتصرف حق حاصل وی کوم چه په ذاتی اموالوباندې حاصل وی. (۱) په دې وجه په جهاد کښې دَ استعمال نه پس به هغه اس په بيت المال کښې جمع کول واجب نه وی
چنانچه حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه دَ رروايت الفاظ په ظاهره هم په دې باندې دلالت کوی چه حضرت عمر رضی الله عنه هغه اس دَ تمليك په توګه صدقه کړې وو. نودَ وقف شوې څيزبيع جائز نه ده په دې وجه که دغه اس وقف وې نو حضرت عمر رضی الله عنه به هغه هيڅ کله نه اخستلو. دباب په دويم روايت کښې العائدفی صدقته نه هم معلوميږی چه دا صدقه دَ تمليك وه که وقف وې نو هغوی العائدفی حبسه يا العائدفی وقفه فرمائيل. (۲) والله اعلم

حديث نمبر ۲۸۴۱] (۳) حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ -رضی الله عنه- يَقُولُ حَمَلْتُ عَلَى فَرَسٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَابْتَاعَهُ -أَوْ فَأَضَاعَهُ- الَّذِي كَانَ عِنْدَهُ، فَأَرَدْتُ أَنْ أَشْتَرِيَهُ، وَظَنَنْتُ أَنَّهُ بَائِعُهُ بِرُخْصٍ، فَسَأَلْتُ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ «لاَ تَشْتَرِهِ وَإِنْ بِدِرْهَمٍ، فَإِنَّ الْعَائِدَ فِي هِبَتِهِ كَالْكَلْبِ يَعُودُ فِي قَيْئِهِ». [ر: ۱۴۱۹]

## رجال الحديث

① **اسماعيل**:- دا ابوعبدالله بن ابی اويس اصجی مدنی رحمه الله دې دَ دوی تذکره کتاب الايمان کښې تيره شوې ده. (۴)
② **مالک**: دا امام مالك بن انس رحمه الله دې. دَ دوی تذکره هم کتاب الايمان کښې تيره شوې ده (۵)

---

(۱) شرح ابن ابطال:۵/۱۵۷.
(۲) فتح الباری:۳/۴۴۵ ويدل على أنه حمل تمليک قوله ولاتعد فی صدقتک ولوکان حبسا لعلله به. کتاب الزکوة باب هل يشتری صدقته؟
(۳) قد مرتخريجه فی کتاب الزکوة، باب هل يشتری صدقته؟ولاباس بان يشتری صدقة غيره، لان النبی صلی الله تعالی عليه وسلم إنما نهی المتصدق خاصة عن الشراء ولم ينه غيره، رقم:۱۴۹۰.
(۴) کشف الباری:۲/۱۱۳.
(۵) کشف الباری:۲/۸۰.

۳ **زيدبن اسلم** - داابواسامه يا ابوعبدالله زيدبن اسلم قرشي عدوى مدنى رحمه الله دې د دوى تذکره هم کتاب الايمان کښې تيره شوې ده (۱)

۴ **ابيه** - دې نه دَعمر بن الخطاب رضي الله عنه آزادکړې شوې غلام اسلم العدوى مرادې دَدوى تذکره کتاب الزکوة کښې تيره شوې ده (۲)

۵ **عمر بن الخطاب** رضي الله عنه - دادويم خليفه حضرت عمربن خطاب رضي الله عنه دې د دوى تذکره کتاب الايمان کښې تيره شوې ده (۳)

**سمعت عمربن الخطاب رضي الله عنه يقول: حملت على فرس في سبيل الله، فابتاعه أو فاضاعه الذى كان عنده، فاردت أن أشتريه** راوى وائى چه ماحضرت عمربن خطاب رضي الله عنه داسې فرمائيلوسره: وافرېدو چه ما فى سبيل الله دَ سورلئى دپاره يواس ورکړو،کوم سړى ته چه ئى ورکړې وو هغه خرخول غوښتل (يائى اوفرمائيل چه) هغه ئى ضايع کړو په دې وجه ما په بيع داخستلو اراده اوکړه ما اوونيل چه هغه به دا په ارزان قيمت باندې خرڅه وى

**فابتاعه مطلب** - دا دَ باعه په معنى کښې ده (۴) علامه عينى رحمه الله وائى که دا دَ باعه په معنى کښې وانخستې شوه نو ابتاعه به يوبې معنى لفظ شى په ظاهره هم دامعلوميږى چه ابتيع دلته دَ بيع په معنى کښې دې.(۵) دويم قول دادې چه دا دَ راوى تصحيف دې په اصل کښې دَ اباعه دې او عرضه للبيع په معنى کښې دې (۶)

علامه رشيداحمدګنګوهى رحمه الله دلته يوه منفردتوجيه کړې ده هغه فرمائى چه فبتعه دَ متکلم صيغه فابتاعه هم کيدې شى دکوم معنى چه ده اردت ابتياعه لکه چه دلته دَماضى يوه قريبى واقعه په صيغه دَ استقبال بيان کړې شوه (۷) دويمه خبره هغه دافرمائيلې چه که چرې فابتاعه دَماضى غائب صيغه وى نوبيا دا الالتفات من المتکلم الى الغائب دَ قبيل نه به وى (۸) چه په عربو کښې يوبليغ اسلوب دې مطلب دادې چه معنى به بيا هم دَمتکلم وى والله اعلم

**أوفاضاعه** - اومفيد شک دې (۹)

**دَضايع کولو څه مطلب دې؟** شراح حديث دَدې جملې په تشريح کښې درې اقوال نقل کړى دى

---

(۱) کشف البارى: ۲۰۳/۲.

(۲) كتاب الزكوة باب هل يشترى صدقته؟ ولاباس أن يشترى صدقة غيره. لان النبى صلى الله تعالى عليه وسلم إنما نهى المتصدق خاصة عن الشراء ولم ينه غيره. رقم: ۱۴۹۰.

(۳) کشف البارى: ۴۷۴/۲.

(۴) عمدة القارى: ۲۴۷/۱۴ وإرشاد السارى: ۱۳۹/۵.

(۵) عمدة القارى: ۲۴۷/۱۴ وإرشاد السارى: ۱۳۹/۵.

(۶) عمدة القارى: ۲۴۷/۱۴ وإرشاد السارى: ۱۳۹/۵.

(۷) لامع الدرارى: ۲۷۱/۷.

(۸) لامع الدرارى: ۲۷۱/۷.

(۹) فتح البارى: ۱۷۲/۶ وعمدة القارى ۳۴۷/۱۴.

① رومبی قول دادې چه هغه سړې به د اس خدمت او خیال کولو کښې کوتاهي کوله خوراك او کیابه نی هم ورته صحیح نه ورکوله [۱]
② بعض حضرات وائی چه د اس د قدراوقیمت نه ناخبره وو اوهغه نی په کم قیمت باندې خرڅولو [۲]
③ یوقول دادې چه حضرت عمر رضی الله عنه د کوم مقصد دپاره دغه اس هدیه کړې وو هغه د هغه د مقصد دپاره نه استعمالیدلو [۳]
رومبی قول راجح دې او ددې تائید د صحیح مسلم د روایت نه کیږی په کوم کښې چه دی: فوجده قد أضاعه وکان قلیل المال [۴] او د وکان قلیل المال د الفاظونه د ضیع علت معلوم شو چه د متصدق علیه د غربت د وجه نه به اس ته بنه کیانه ملاویدله یابه ورته په وخت نه شوه ورکولې د څه په نتیجه کښې چه هغه ناکاره شو

**قوله: وظننت أنه بائعه برخص** - حضرت عمر رضی الله عنه فرمائی چه زما خیال وو چه هغه به دا اس په ارزان قیمت باندې خرڅه وی رخص (د راء په ضمه او خ په سکون سره) د دې معنی ده ارزان کم قیمت او غلاء د دې ضد دې [۵]

**فسالت رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم فقال: لاتشتره وإن بدرهم فان العائد فی هبة کالکلب یعود فی قیئه.** ما د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو نوحضورپاك اوفرمائیل چه په یودرهم کښې نی هم مه اخله ځکه چه صدقه ورکول اوواپس اخستل د سپی په شان دی چه قې اوکړی اوواپس نی اوخښی علامه قسطلانی رحمه الله فرمائی چه لاتشتره کښې نهی تنزیهی ده او په مبالغه باندې محمول دی وإن بدرهم الفاظ هم مبالغتا استعمال شوی مطلب دادې چه که دومره ارزان نرخ باندې ملاؤشی نوبیاهم دا مه اخله [۶]
په روایت کښې د صدقه یا هبه متعلق دا تعلیم ورکړې شوې دې چه په دې کښې رجوع کول ډیر زیات ناخوښه او قبیح عمل ګرځولې شوې دې ددې مثال نی د سپی سره ورکړې دې چه قې اوکړی اوهغه بیا اوخښی مطلب دا چه په صدقه یا هبه کښې رجوع کول داسې ناخوښه عمل دې لکه چه سړې قې اوکړی او بیائی اوخښی علامه قسطلانی رحمه الله فرمائی چه دلته صدقه کښې رجوع کونکې سپی سره او صدقه او هبه قی سره او رجوع فی الصدقه د رجوع الکلب

---

[۱] شرح صحیح مسلم للنووی: ۳۶/۲ کتاب الهبات باب کراهة شراء الانسان ماتصدق به ممن تصدق علیه، فتح الباری:۴۴۵/۳ کتاب الزکوة باب هل یشتری صدقته؟
[۲] تکملة فتح الملهم:۵۱/۲.
[۳] تکملة فتح الملهم:۵۱/۲.
[۴] صحیح مسلم للنووی: ۳۶/۲ کتاب الهبات باب کراهة شراء الانسان ماتصدق به ممن تصدق علیه.
[۵] مجمع البحار:۳۱۰/۷.
[۶] إرشاد الساری:۱۳۹/۵.

لى تيئه سره تشبيه وركړې شوې ده خلاصه دا ده چه په دې تشبيه سره رجوع فى الصدقه قباحت بيانول مقصود دى [1]

**ترجمة الباب سره مناسبت** : په حديث باب كښې دى لاتشتره....... فان العائد فى هبته كالكلب يعود فى قيئه. په دې كښې دعود في الصدقة كراهت بيان كړې شوې دې حضرت شيخ الهند رحمه الله چه د ترجمة الباب كومه توجيه كړې ده دهغې په رڼړا كښې د ترجمة الباب سره د روايت ددې جملې مناسبت واضحه دې

## باب ۱۳۶: الجهاد باذن الابوين

**د ترجمة الباب مقصد** : د امام بخارى رحمه الله مقصد دادې چه د جهاد دپاره د والدين نه اجازت اخستل ضرورى دى علامه عينى رحمه الله فرمائي چه د جهاد احكام په مختلفو احوالو اوظروفو كښې بدليږى او په دې كښې د ائمه د اختلاف تفصيل هم دې په دې وجه امام بخارى رحمه الله ترجمه مطلق اوساتله او د تفصيل مذاهب طرف ته ئى اشاره اونه فرمائيله [2]

[حديث نمبر ۲۸۴۲] [3] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا حَبِيبُ بْنُ أَبِي ثَابِتٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا الْعَبَّاسِ الشَّاعِرَ - وَكَانَ لاَ يُتَّهَمُ فِي حَدِيثِهِ - قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرٍو - رضى الله عنهما - يَقُولُ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فَاسْتَأْذَنَهُ فِي الْجِهَادِ فَقَالَ «أَحَيٌّ وَالِدَاكَ». قَالَ نَعَمْ. قَالَ «فَفِيهِمَا فَجَاهِدْ». [۵۶۲۷]

## رجال الحديث

① **ادم** :- دا ابوالحسن آدم بن ابى اياس عبدالرحمن العسقلانى رحمه الله دې. د دوى تذكره كتاب الايمان كښې تيره شوې ده. [4]

② **شعبة** :- دا اميرالمؤمنين شعبة بن الحجاج بصرى رحمه الله دې. د دوى تذكره هم كتاب الايمان كښې تيره شوې ده [5]

---

[1] ) إرشاد السارى:۱۳۹/۵.

[2] ) عمدة القارى: ۲۵۱/۱۴ كذاأطلق ولكن فيه خلاف وتفصيل. فلذلک أبهم.

[3] ) وعندالبخارى ايضًا (۸۸۳/۲) فى الادب باب لايجاهدإلا باذن الابوين رقم: ۵۹۷۲. وعند مسلم فى صحيحه (۳۱۳/۲) قد مرتخريجه فى كتاب الزكوة. باب هل يشترى صدقته؟ولاباس بان يشترى صدقة غيره. لان النبى صلى فى كتاب البروالصلة والادب. باب بروالوالدين وأيهما أحق به رقم: ۶۵۰۴. وعند الترمذى فى جامعه (۲۹۶/۱)فى الجهاد باب ماجاء فيمن خرج إلى الغزو وترک أبويه رقمک ۱۶۷۱. وعندأبى داؤد فى سننه (۳۴۹/۱) فى الجهفاد باب فى الرجل يغزو وأبراه كارهان رقم: ۲۵۲۹وعند السنائى فى سننه (۵۳/۲) فى الجهاد باب الرخصة فى التخلف لمن له والدان رقم:۳۱۰۵.

[4] ) كشف البارى: كتاب الايمان ۶۷۸/۱.

[5] ) كشف البارى: كتاب الايمان ۶۷۸/۱.

④ **حبیب بن ابی ثابت** - دا ابویحیی قیس بن دیناراسدی کوفی رحمه الله دې. ددوی تذکره کتاب الصوم کښې تیره شوې ده (١)

⑤ **ابوعباس الشاعر** - دا سائب بن فروخ شاعرمکی رحمه الله دې ددوی تذکره کتاب التهجد کښې تیره شوې ده (٢)

**قوله وکان لایتهم فی حدیثه** - یعنی د سندراوی ابوالعباس باندې به په روایت حدیث کښې تهمت نه شولګولې. شاعران اکثرمبالغه آرائی کوی دلته په سندکښې دحبیب بن ابی ثابت شیخ ابوالعباس سائب بن فروخ محدث کیدو سره شاعرهم وو وکان لایتهم فی حدیثه نه د امام بخاری رحمه الله مقصددادې چه ابوالعباس زبښتونې وو شاعرخووو لیکن دهغه شاعرانه کلام د عربودعاموشاعرانو په شان د مبالغه او افتراپردازئی نه پاك وو (٣) په خپل دې وصف باندې هغه د حدیث په روایت کښې یولوړمقام لرلو اومتهم بالکذب نه وو مختصردا چه د وکان لایتهم فی حدیثه قیدلګولوسره امام بخاری رحمه الله د ابوالعباس رحمه الله توثیق کړې دې چه دّدوی روایات مقبول دی اوهغه دعامو مبالغه کونکوشاعرانو په شان مه ګڼئ.

⑥ **عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما** - ددوی حالات هم په کتاب الایمان کښې تیرشوی دی (٤)

**جاء رجل إلى النبی صلی الله تعالی علیه وسلم فاستاذنه فی الجهاد فقال أحی والداك؟ قال: نعم، قال: ففیهما فجاهد** یعنی عبدالله بن عمر رضی الله عنهما فرمائی د رسول الله ﷺ په خدمت کښې یوسړې حاضرشو اودهغوی نه جهادته دتللو اجازت اوغوښتلو. حضورپاك اوفرمائیل ستا مورپلارژوندی دی؟ هغه وئیل اوجی حضورپاك اوفرمائیل نوبیا هم په هغه دواړوکښې جهاداوکړه

**د رجل نه څوک مراددې؟** - د باب په روایت کښې د نوم تصریح نشته چه دا څوك وو البته د نورو روایاتونه ثابتیږی چه دا جاهمه بن عباس وو چه په جهادکښې د شرکت د اجازت د پاره د رسول الله ﷺ خدمت کښې حاضرشوې وو. چنانچه امام احمد او امام نسائی رحمهم الله د معاویه بن جاهمه په طریق یوروایت نقل کړې دې په هغې کښې دی: **أن جاهمة جاء إلى النبی صلی الله تعالی علیه وسلم فقال یارسول الله ! أردت الغزو وجئت لاستشیرك، فقال: هل لك من أم؟ قال: نعم: قال: الزمها.**(٥) یعنی جاهمه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضرشو عرض ئې اوکړو یارسول الله ! زماجهاد ته د تللو خواهش دې تاسو سره د مشورې دپاره حاضرشوې یم. حضور پاك اوفرمائیل آیاستامورژوندۍ ده؟ هغه وئیل اوجی حضورپاك اوفرمائیل هم هغې سره اوسیږه.

---

(١) کتاب الصوم باب صوم داؤد علیه السلام رقم:١٩٧٩.

(٢) کتاب التهجد باب بعدمایکره من ترک قیام اللیل لمن کان یقومه رقمک١١٥٣.

(٣) عمدة القاری: ١٤/٢٤٨ وإرشادالساری: ٥/١٣٩ وتحفة الباری:٣/٤٨٦.

(٤) کشف الباری: کتاب الایمان: ١/٦٧٩.

(٥) رواه النسائی فی سننه:٢/٥٣ فی کتاب الجهاد باب الرخصة فی التخلف لمن له والدة، وأحمد فی مسنده:٣/٤٢٩ وفتح الباری:٦/١٧٣.

په دې روايت كښې تصريح ده چه جهادته دَ تللودپاره دَ رسول الله ﷺ په خدمت كښې حاضريدونكې سړې هم جاهمه وو دغه شان امام بيهقى رحمه الله عن ابن جريج عن محمدبن طلحة بن ركانه عن معاوية بن جاهمه السلمى عن ابيه په طريق سره روايت نقل كړې دې دَ كوم راوى چه پخپله هم جاهمه دې هغه وائى أتيت النبى صلى الله تعالى عليه وسلم أستاذنه فى الجهاد (۱) زه دَ رسول الله ﷺ په خدمت كښې دَ جهاد دَ اجازت اخستلودپاره حاضرشوم

**قوله: ففيهما فجاهد** - دَ مفهوم دَ ادائيگئى دپاره خو فجاهد فيهما تعبيرهم صحيح وو خو ففيهما جارمجرور دَ اختصاص دپاره دَ امر نه مقدم كړو دَ كوم نه چه دَ موريلار اهميت اودهغوى خدمت مقدم كولوتاكيدمقصوددې حافظ ابن حجرعلامه عينى او علامه قسطلانى رحمهم الله فرمائى چه دلته فجاهد ظاهرى معنى مرادنه ده كوم چه په اضرار يعنى چاته دَ ضرراوتكليف رسولوپه معنى كښې استعماليږى بلكه دالفظ دَ مشاكلت په توګه واردشوې دې جاهمه دَ جهاد دَ اجازت دپاره راغلىوو نوحضورپاك په دغه مناسبت سره اخدمهما په ځائې دَ مشاكلت دَ پاره فجاهد اوفرمائيل په نورو الفاظوكښې داسې ونيلې شى چه دلته قدرمشترك مراد دې په جهادكښې مال خرچ كيږى او بدن سترې كيږى نولكه چه حضورپاك جاهمه ته دَ موريلار خدمت كولوسره دَنفس اودَمال دَ جهاد حكم وركړو فجاهد تعبيربه دې مناسبت سره داسې شى أبذل مالك وأتعب بدنك فى رضا والديك (۲) يعنى ته دَموريلاردَ رضادپاره خپل مال خرچ كړه او خپل بدن سترې كړه

خوعلامه شوكانى رحمه الله په دې باندې رد كولوسره فرمائى: لايخفى أن كون المفهوم من تلك الصيغة إيصال الضرر بالابوين إنما يصح قبل دخول لفظ فى عليها، وأما بعد دخولها، كما هوالواقع فى الحديث، فليس ذلك المعنى هوالمفهوم منها، فانه لايقال جاهد فى الكفار بمعنى جاهدهم كما يقول جاهد فى الله، فالجهاد الذى يراد منه إيصال الضرر لمن وقعت المجاهدة له هو. جاهده لاجاهد فيه وله. (۳)
يعنى دَ صيغه فجاهد استعمال إيصال الضرربالابوين په معنى كښې به هله صحيح وى كله چه په دې باندې في حرف جرداخل وى مطلب دا چه مطلقا صيغه فجاهد خود ايصال الضرر والا په معنى باندې دلالت كوى خوكه په دې باندې في حرف جرداخل كړې شى لكه چه په حديث باب كښې وارد دې نوبيابه ددې معنى ايصال ضررنه وى جاهدالكفار (چه دَ ايصال ضرر په معنى كښې مستعمل دې) په ځائې جاهدفى الكفارونيل به صحيح نه وى مختصردا چه مطلقا صيغه جاهد نه ايصال ضرر معنى مراد وى ليكن جاهد فيه يا جاهدله دَ محنت اومشقت په معنى كښې استعماليږى نولكه چه دَعلامه شوكانى رحمه الله په نيز ففيهما فجاهد نه ايصال ضرر معنى مرادنه ده بلكه دادَ محنت اوكوشش په معنى كښې دې په رواياتوكښې دغه شان

---

(۱) السنن الكبرىٰ للبيهقى: ۲۶/۹ كتاب السير باب الرجل يكون له أبوان مسلمان أوأحدهما فلا يغزوإلا باذنها.
(۲) عمدة القارى: ۳٤۸/۱٤ وفتح البارى: ۱۷۳/۶ وإرشاد السارى: ۱۳۹/۵.
(۳) نيل الاوطار للشوكانى: ٤٠/۹.

نور واقعات هم نقل دى چه د جهاد اجازت دپاره خوك راغلل نوحضورپاك هغوى ته د جهاد په خائى د موريلار د خدمت حكم وركړو

صحيح مسلم كښې عن ناعم مولى امر سلمة عن عبدالله بن عمرو په طريق سره روايت مروى دى چه يوسړى د رسول الله ﷺ په لاس مبارك باندې د هجرت او جهاد بيعت كولوخواهش ښكاره كړو حضورپاك د هغه نه تپوس اوكړو فهل من والديك أحدحى؟ آيا ستاوالدين كښې څوك ژوندى شته؟ هغه عرض اوكړو اوجى دواړه ژوندى دى حضور پاك اوفرمائيل ارجع إلى والديك فاحسن صحبتها (١) خپل موريلارله لاړشه اوهغوى سره اوسيدوكښې ښه سلوك كوه.

په بل طريق سره هم دغه روايت سنن ابوداؤدكښې هم نقل دې په هغې كښې دى يوسړې د رسول الله ﷺ په خدمت كښې حاضرشو عرض ئى اوكړو جئت أبايعك على الهجرة وتركت أبوى يبكيان يعنى زه تاسونه په جهاد باندې بيعت كولوته راغلې يم اوخپل موريلار مې په داسې حال كښې پريخودى راغلې يم چه هغوى ژړل رسول الله ﷺ اوفرمائيل ارجع فاضحكهما كما أبكيتهما (٢) خپل موريلارله لاړشه څنګه چه دې هغوى ژړولى هم هغه شان ئى اوخندوه.

په مذكوره رواياتوكښې رسول الله ﷺ سائل ته د جهادپه خائى د والدين د خدمت حكم وركړو خو په صحيح ابن حبان كښې د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما يوروايت دې جاء رجل إلى رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم فساله عن أفضل الاعمال، قال: الصلوة. قال ثم مه؟ قال الجهاد. قال فان لى والدين، قال آمرك بوالديك خيرا. فقال والذى بعثك بالحق نبياً لاجاهدن ولاتركنهما. قال: فانت أعلم. (٣)

د رسول الله ﷺ په خدمت كښې يوسړې حاضرشو هغه د حضورپاك نه سوال اوكړو چه د ټولونه بهترعمل كوم يودې؟ حضورپاك اوفرمائيل مونځ هغه عرض اوكړو بياكوم يوعمل غوره دې؟ حضورپاك اوفرمائيل جهاد هغه عرض اوكړو زما مور پلار ژوندى دى حضورپاك اوفرمائيل زه تاته د موريلارسره د ښه سلوك كولوحكم دركوم هغه عرض اوكړو په خدائى چاچه ته په حقه سره نبى جوړكړې راليګلې زه به ضرور جهادكوم اوموريلاربه پريږدم اوخم به. حضورپاك اوفرمائيل ته ډيرپوهيږې

د وړاندې ذكرشوو رواياتوسره د دې روايت تطبيق وركولوسره د حديث شارحين فرمائى چه دا روايت فرض عين جهاد باندې محمول دې كله چه د جهادنفيرعام وى او فرض عين شى نودموريلار د خدمت حكم ساقط كيږى (٤) په دې وجه په دې روايت كښې د والدين د خدمت د حكم نه باوجودچه سائل جهادته د تللو خواهش ښكاره كړو نوحضورپاك نكيراونه فرمائيلو. په

(١) صحيح مسلم:٣١٣/٢كتاب البر والصلة باب برالوالدين وأيهما أحق به رقم:٢٥٤٩.

(٢) سنن أبى داؤد:٣٤٢/١ كتاب الجهادباب فى الرجل يغزو لغيره وأبواه كارهان رقم: ٢٥٣٠.

(٣) صحيح بخارى ابن حبان باب فضل الصلوات الخمس رقم:١٧١٩.

(٤) فتح البارى:١٧٣/٦ وعمدة القارى: ٢٤٨/١٤ وفتح القدير:١٩١/٥ وتكملة فتح الملهم:٣٣٠/٥.

كومو روايتونو كښې رسول الله ﷺ د والدين د خدمت حكم وركړې وو هغه وخت جهاد فرض عين نه وو فرض كفايه وو نفيرعام نه كيدو په صورت كښې د يوځوكسانو تللوسره فرض كفايه اداكيږى اوخدمت محتاج والدين پريخودل اوجهادته تلل جائزكيږى نه په دې وجه حضورپاك د والدين دخدمت حكم وركړو

**په جهادكښې دمورپلارد اجازت حيثيت** - جمهورفقهاء امام ابوحنيفه، امام مالك امام شافعى امام احمد او سفيان ثورى رحمهم الله فرمائى كه په نفيرعام نه وى اوجهادفرض كفايه وى نودمورپلارد اجازت نه بغيرجهاد ته تلل جائز نه دى د والدين خدمت فرض عين او جهاد فرض كفايه دې فرض عين پريخودل او فرض كفايه اداكول گناه ده [۱] ددوى استدلال د حديث باب صحيح مسلم اوسنن ابوداؤد مذكوره رواياتونه دې چه رسول الله ﷺ سائل نه د جهاد په ځائى د والدين د خدمت حكم وركړو

البته كه نفيرعام وى اوجهادفرض عين وى نو په دغه صورت كښې په ټولو مسلمانانو باندې وتل واجب دى د والدين اختيارباقى نه پاتې كيږى د هغوى د اجازت نه بغيرتلل واجب دى [۲] علامه ابن حزم مراتب الاجماع كښې فرمائى كه په جهاد كښې د شركت په وجه د والدين د هلاكت يا ضياع انديښنه وى نوبالاجماع د جهادفرضيت ساقط كيږى خوكه د ځان د هلاكت انديښنه نه وى نوبياهم وتل د جمهورو په نيز د والدين په اجازت باندې موقوف دى [۳] علامه ابن حزم رحمه الله چه د جمهوروطرف ته د كوم مذهب نسبت كړې دې په هغې كښې د ده نه تسامح شوې ده. صحيح دادې چه د جمهورو په نيز كه د والدين د ضياع انديښنه وى نود جهاد فرضيت نه ساقطيږى دهغوى د اجازت نه بغيرجهادته تلل جائزدى مسنداحمد او مستدرك حاكم كښې دعمرو الغفارى مرفوع روايت دې لاطاعة لمخلوق في معصية خال [۴]

علامه ظفراحمدعثمانى رحمه الله ددې نه استدلال كولوسره فرمائى: فيه دلالة على أنه لاحاجة إلى إذن الوالدين، إذا كان الجهاد فرض عين، وإن منعاه عنه فلا طاعة لهما.[۵] يعنى دا روايت په دې باندې استدلال كوى چه كله جهاد فرض عين وى نود والدين اجازت ضرورى نه دې كه چرې هغوى د وتلو نه منع كوى نودهغوى اطاعت جائزنه دې

د احنافو او شوافع په نيز جد او جده يعنى نيااونيكه دواړه دوالدين په حكم كښې دى. [۶] يعنى د جهادفرض كفايه كيدو په صورت كښې دهغوى خدمت به واجب وى اوكه فرض عين وى نو خروج به واجب وى اود هغوى اطاعت به جائزنه وى

**كه چرې والدين مسلمانان نه وى؟** - د جمهورفقهاؤ په نيز كه چرې والدين غيرمسلم وى نو

---

[۱] ) فتح البارى:۶/۱۷۳ وعمدة القارى: ۱٤/۲٤۸ وفتح القدير:۵/۱۹۱ وتكملة فتح الملهم:۵/۳۳۰.
[۲] ) فتح البارى:۶/۱۷۳ وعمدة القارى: ۱٤/۳٤۷.
[۳] ) عمدة القارى: ۱٤/۳٤۷.
[۴] ) مسندأحمد۵/۶۶. ومستدرك حاكم:۳/٤٤۳ مناقب الحكم بن عمر الغفارى.
[۵] ) إعلاء السنن: ۱۲/۱۳.
[۶] ) فتح البارى:۶/۱۷۳ وإعلاء السنن: ۱۲/۱۱.

هغوی نه د فرض کفایه جهاد په صورت کښې هم د اجازت اخستلو ضرورت نشته [۱]
سفیان ثوری رحمه الله فرمائی چه دغیرمسلم والدین هم هغه حکم دې کوم چه د مسلمان والدین
حکم دې لهذا د غیر مسلم والدین نه هم اجازت اخستل ضروری دی دهغوی دلیل دادې چه
په کوموروایاتوکښې رسول الله ﷺ سائل ته د جهادپه ځائې د والدین د خدمت حکم ورکړې
په دې کښې عموم دې چه والدین کافروی یا مسلمان دهغوی د خدمت مطلقا حکم دې په
کوم کښې چه کافراومسلمان والدین دواړه شامل دی لهذا چه څنګه د مسلمان والدین نه
اجازت اخستې شی هغه شان به د کافر والدین نه اجازت هم اخستل ضروری وی [۲]
د جمهورو استدلال دادې چه د صحابه کرام رضی الله عنهم یولونی تعداد په جهادکښې شرکت کړې دې
دکومو والدین چه کافران اومشرکان وو لکه ابوبکر صدیق، ابوحذیفه بن عتبه او ابوعبیده
رضی الله عنهم ابوحذیفه بن عتبه د رسول الله ﷺ سره په جنګ بدرکښې شریك وو ددوی پلار رئیس
المشرکین وو دغه شان د ابوعبید رضی الله عنه د پلارهم دهغه دتورې په وار باندې مرګ واقع شو [۳]
جمهورو د سفیان ثوری رحمه الله استدلال جواب دا ورکړې دې چه دکوم روایاتو سره د عموم حکم
ثابتیږی د مذکوره واقعاتو د وجه نه هغه عموم باقی پاتې نه شو په دې وجه فرض کفایه د
جهاد په صورت کښې د مشرك والدین د اجازت څه حیثیت پاتې نه شو [۴]
**ترجمة الباب سره مطابقت:-** په روایت باب کښې د والدین نه داجازت اخستلو څه ذکرنشته په
دې وجه ترجمة الباب سره په ظاهره ددې مناسبت نشته علامه عینی او زکریا انصاری
رحمهم الله فرمائی چه په طریق استنباط **ففیهما فجاهد** ترجمه سره مناسبت دی رسول الله ﷺ
په روایت د والدین د خدمت حکم ورکړې دې د دې حکم تقاضا داده چه د والدینو
رضاحاصله کړئی اوچه کله رضاحاصله شی نولکه چه اجازت ملاؤ شو [۵]

## باب ۱۳۷: ماقیل فی الجرس ونحوه فی أعناق الابل

**د ترجمة الباب مقصد:-** د اوبن په غاړه کښې جرس وغیره زوړندول د عربوپه معاشره کښې
یوعام رواج وو ددې ترجمه نه د امام بخاری رحمه الله مقصد دادې چه د اوبنانو په غاړه کښې جرس
وغیره زوړندول مکروه دی [۶]

**الجرس:-** د جیم اوراء په فتحه سره ټلئی ته وائی کوم چه د څناورو په غاړه کښې تړلې شی
البته د راء په سکون سره الجرس د ټلئی غږیدو نه پیداکیدونکی آواز ته وئیلې شی [۷]

---

[۱]) المغنی لابن قدامة: ۳۷۸/۱ والمجموع شرح المهذب: ۲۷/۲۱.
[۲]) المغنی لابن قدامة: ۳۷۸/۱۰.
[۳]) المغنی لابن قدامة: ۳۷۸/۱.
[۴]) المغنی لابن قدامة: ۳۷۸/۱.
[۵]) عمدة القاری: ۳۴۷/۱۴ وتحفة الباری: ۴۸۶/۳.
[۶]) عمدة القاری: ۳۴۷/۱۴ وتحفة الباری: ۴۸۶/۳.
[۷]) عمدة القاری: ۳۴۹/۱۴ وتحفة الباری: ۱۷۴/۶.

**ونحوه** . دې نه مراد مرو نه جوړشوې هار يا اميل مراد دې دامام بخارى رحمه الله مقصد دادې چه داكراهت صرف په جرس كښې نه دې بلكه د مرو نه جوړشوې اميل كښې هم دې چه د بدنظرنه د حفاظت په توګه د اوښ په غاړه كښې زوړندولې شى

په ترجمة الباب كښې امام بخارى رحمه الله صرف د اوښ ذكر كړې دې حالانكه دغه څيزونه د نورو خناورو په غاړوكښې هم زوړندولې شى د دې تخصيص وجه داده چه په حديث كښې د ابل ذكرشوې دې دامام صاحب عادت دې چه د حديث يولفظ يا جمله نه ترجمة الباب ثابتيږى نو هغه د ترجمه جز جوړه وى دويمه وجه د ابل د تخصيص داهم كيدې شى چه په عربوكښې به غالب استعمال هم د اوښانو كيدلو اودهغې په غاړوكښې به اميلونه اچولې شو

[حديث نمبر ۲۸۴۳] (۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ عَنْ عَبَّادِ بْنِ تَمِيمٍ أَنَّ أَبَا بَشِيرٍ الأَنْصَارِيَّ - رضى الله عنه - أَخْبَرَهُ أَنَّهُ كَانَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ - قَالَ عَبْدُ اللَّهِ حَسِبْتُ أَنَّهُ قَالَ - وَالنَّاسُ فِي مَبِيتِهِمْ، فَأَرْسَلَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - رَسُولاً أَنْ لاَ يَبْقَيَنَّ فِي رَقَبَةِ بَعِيرٍ قِلاَدَةٌ مِنْ وَتَرٍ أَوْ قِلاَدَةٌ إِلاَّ قُطِعَتْ.

## رجال الحديث

① **عبدالله بن يوسف**:- داعبدالله بن يوسف تنيسى دمشقى رحمه الله دې د دوى حالات بدء الوحى كښې تيرشوى دى. (۲)

② **مالك**:- داابوعبدالله بن مالك بن انس بن مالك اصجى مدنى رحمه الله دې ددوى حالات هم تيرشوى دى. (۳)

③ **عبدالله بن ابى بكر**:- داعبدالله بن ابى بكر بن محمدبن عمرو بن حزم انصارى مدنى رحمه الله دې د دوى تذكره كتاب الوضوء كښې تيره شوې ده. (۴)

④ **عباد بن تميم**:- دا عباد بن تميم بن زيد المازنى رحمه الله دې د دوى تذكره هم كتاب الوضوء كښې تيره شوې ده. (۵)

⑤ **ابوبشير انصارى** رضى الله عنه:- دا صحابى رسول ابوبشيرالانصارى الساعدى الحارثى المدنى رضى الله عنه دې جمهور مؤرخين او شراح حديث فرمائى چه ددوى صحيح نوم معلوم نه دې د يوقول

---

۱) الحديث أخرجه مسلم:۲/۲۰۲فى اللباس باب كراهة قلادة الوترفى رقبة البحير رقم:۵۵۴۹وأبوداؤد فى الجهاد باب تقليد الخيل بالاوتار رقم:۲۵۵۲.

۲) كشف البارى:۱/۲۸۹.

۳) كشف البارى:۲/۸۰.

۴) كتاب الوضوء باب الوضوء مرتين مرتين.

۵) كتاب الوضوء باب لايتوضامن الشك حتى يتيقن.

مطابق د دوی نوم قیس بن عبیدالله بن الحریر بن عمرو بن الجعد خودلی شوې دې (۱) لیکن داقول ضعیف دې حقیقت دادې چه ددوی نوم پټ دې په دې وجه حافظ ابن عبدالبر رحمه الله فرمائیلی دی لایوقف له علی اسم صحیح وقیل اسمه قیس بن عبید ولایصح. (۲) د ده صحیح نوم معلوم نه کړې شو چه د ده نوم قیس بن عبید دې دا صحیح نه دې

دغه شان ابواحمد حاکم رحمه الله د ده تذکره دهغه صحابه کرامو په فهرست کښې کړې ده د چا نومونه چه معلوم نه دی (۳) علامه واقدی رحمه الله فرمائی چه د واقعه حره نه پس ددوی انتقال شوې دې او اوږد عمر ئې وو (۴) واقعه حره په ۶۳ هجری کښې پېښه شوې یوقول دادې چه په ۴۰ هجری کښې ددوی انتقال شوې (۵) حافظ ابن حجر رحمه الله د واقدی رحمه الله قول ته ترجیح ورکړې ده چه د هغوی وفات ۶۳ هجری کښې شوې (۶)

هغوی د رسول الله ﷺ نه درې احادیث روایت کړی دی یو د صحیح بخاری هم دغه ترجمة الباب روایت دې او باقی دوه احادیث صحیح مسلم او سنن ابوداؤد کښې نقل دی (۷) علامه عینی رحمه الله ددې سند مختلف خصوصیات بیان کړی دی هغوی فرمائی فیه التحدیث بصیغة الجمع فی موضع، وبصیغة الاخبار کذلك فی موضع، وبصیغة الافراد فی موضع، وفیه ثلاثة مدنیون مالك وشیخه وشیخ شیخه، وثلاثة أنصاریونه وهم عبدالله وعباد وأبوبشیر. وفیه تابعیان وهما عبدالله وعباد. وفیه أنه لیس لابی بشیر فی البخاری غیر هذا الحدیث الواحد

د روایت په سند کښې په یوځائی کښې تحدیث د جمع په صیغه سره دې یوځائی صیغه اخبار سره او یوځائی عنعنه ده او په دې کښې درې راویان مدنی دی امام مالك او دهغه شیخ او د شیخ شیخ دغه شان په دې کښې درې انصار دی یعنی عبدالله عباد او ابوبشیر او دوه تابعی دی عبدالله او عباد یوخصوصیت دادې چه په پوره صحیح بخاری کښې د حضرت ابوبشیر رضی الله عنه نه ددې روایت نه علاوه بل روایت نقل نه دې (۸)

**قوله** أنه کان مع رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم فی بعض أسفاره.

ابوبشیر انصاری رضی الله عنه فرمائی چه هغه رسول الله ﷺ سره په یوسفر کښې وو شراح حدیث کښې چاته هم معلومه نه شوه چه ددې نه کوم یوسفر مراد دې (۹)

---

(۱) تهذیب الکمال: ۷۹/۳۳ وتهذیب التهذیب لابن حجر: ۲۲/۱۲.
(۲) الاستیعاب لابن عبدالبر علی هامش الاصابة: ۲٤/٤.
(۳) الاصابة فی تمییز الصحابة: ۲۰/٤ وتهذیب الکمال: ۲۲/۱۲.
(٤) تهذیب الکمال: ۸۰/۳۳ وتهذیب التهذیب: ۲۲/۱۲.
(۵) الاصابة فی تمییز الصحابة: ۲۱/٤.
(٦) تهذیب التهذیب: ۲۲/۱۲.
(۷) تهذیب الکمال: ۸۰/۳۳.
(۸) عمدة القاری: ۲۵۲/۱٤.
(۹) فتح الباری: ۱٤۱/٦ عمدة القاری: ۳۵۰/۱٤.

**قوله** قال عبدالله، حسبت أنه قال: والناس في مبيتهم - عبدالله وائى زما خيال دي چه هغوى دا (هم) وئيلى دى چه هغه وخت خلق د خپل خوب ځايونوكښې وو دَعبدالله نه مراد پخپله راوى حديث عبدالله بن ابى بكر دې هغوى ته دَ والناس في مبيتهم باره كښې شك دې چه دا جمله دَهغه شيخ عبادبن تميم وئيلې وه كه نه. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه دا روايت دَ عبدالله په طريق چرته هم مروى دې په هغې كښې دَ شك دا الفاظ موجود دى (١)

فارسل رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم رسولا: لايبقين فى رقبة بعير قلادة من وتر- أو قلادة- إلاقطعت رسول اكرم ﷺ دَ يوقاصدپه ذريعه پيغام اوليګلو چه دَ يواوښ په غاړه كښې اميل يا (اوفرمائيل) اميل پاتې نه شى هغه پرې كړنى. حافظ ابن عبدالبر رحمه الله فرمائى چه دا قاصد دَ رسول الله ﷺ آزاد كړې شوې غلام حضرت زيدبن حارثه رضي الله عنه وو. (٢) دلته لفظ او دَ شك يا تنويع دَپاره ذې، (٣)

دَ ابوداؤد په روايت كښې اوقلادة په ځائى ولاقلادة ذكردې داعطف دَ عام على الخاص دَ قبيل نه دې (٤) راجح أو قلادة دې. علامه مهلب رحمه الله هم دَدې تائيد كړې دې (٥)

قلادة: دَ قاف كسره سره دَدې معنى ده اميل دَ ځاروى دَ غاړې پټئى. انعامى تمغه كومه چه په غاړه كښې اچولې شى. په هغې باندې هم دَ قلادة اطلاق كيږى. (٦)

وتر: دَ واؤ اوتاز برسره دَ لندې پټې ته وائى. (٧) دَدې جمع اوتار او وتار راځى. (٨) وتر په بولو رواياتوكښې تاء مثناة سره منقول دې. (٩) بعض حضرات دَ تاء په ځائى باء سره وبر روايت كړې دې. علامه ابن التين وائى داؤدى په دې باندې جزم كړې دې چه دا لفظ هم وبردې وبرد اوښ نه ويستلې شوې ويښتوته وائى كوم چه د وړنى په شان وى. علامه ابن التين وائى چه دا دَ داؤدى تصحيف دې. صحيح هم وتر دې. (١٠) علامه ابن جوزى رحمه الله دَخپل مزاج مطابق دلته

---

(١) فتح البارى:٦/١٤١.

(٢) التمهيدلابن عبدالبر:١٧/١٦١.

(٣) فتح البارى:٦/١٤١ وعمدة القارى: ١٤/٣٥٠.

(٤) فتح بارى: ٦/١٤١وعمدة القارى:١٤/٣٥٠.

(٥) فتح بارى: ٦/١٤١وعمدة القارى:١٤/٣٥٠.

(٦) قال العلامة الفيروز آبادى القلادة ما جعل فى العنق انرر القاموس المحيط ص: ٢٨٢ باب الدال فصل القاف وفى المعجم المحيط (القلادة): ما جعل فى العنق من خلى ونحوه ووسام يجعل فى العنق نمسحه الدولة لمن تشاء تقدير أله ص: ٧٥٤و ماده (قلد)

(٧) فتح البارى:٦/١٧٥.

(٨) فتح البارى:٦/١٧٥.

(٩) فتح البارى:٦/١٧٥ وعمدة القارى:١٤/٣٥٠.

(١٠) فتح البارى:٦/١٧٥ وعمدة القارى:١٤/٣٥٠.

هم سخت الفاظ استعمال کړی دی هغه فرمائی ربما صحف من لا علم له بالحدیث فقال. وبر [۱] یعنی چاته چه علم حدیث سره مناسبت نه وی هغه تصحیف کولوسره وتر وبر لولی

**قلاده تړلونه دممانعت وجه** - په حدیث باب او نورو روایاتو کښې د خاروو په غاړه کښې قلاده تړلو چه کوم ممانعت واردشوې دې شراح حدیث ددې ممانعت مختلف توجیهات کړی دی:

① امام مالک رحمه الله فرمائی چه د جاهلت په زمانه کښې د خلقو داعقیده وه چه دتانت قلاده د بدنظرنه محفوظ ساتی په دې وجه به هغوی اوښان د بد نظر اوبیمارو وغیره نه د بچ کیدو دپاره په غاړه کښې قلاده تړله اودا به نې مؤثربالذات ګنړله په دې وجه رسول الله ﷺ دامنع اوکړخوله چه قلاده قطعا مؤثرنه ده هغه دالله تعالی هیڅ یوحکم نه شی روستوکولی [۲] الله تعالی چه په تقدیرکښې څه لیکلی وی په قلاده کښې داسې هیڅ اثرنشته چه هغه بدل کړی

ددې تائید دعقبه بن عامر دمرفوع حدیث نه کیږی د کوم الفاظ چه دادی من علق تیمة فلا أتم الله له. [۳] تعویذ په قلاده کښې تړلوسره په عام توګه د بد نظر نه د بچ کیدودپاره په غاړه کښې زوړندولې شی. ددې روایت نه معلومیږی چه قلاده د څناور وغیره نظر بدنه بچ کولو دپاره غاړوکښې زوړندیدلو.

حافظ ابن عبدالبر رحمه الله فرمائی: إذا اعتقد الذی قلدها أنها ترد العین فقد ظن أنها ترد القدر وذلک لایجوز اعتقاده. [۴] یعنی چه کوم سړی قلاده په دې عقیده د څناور په غاړه کښې زوړندکړه چه هغه د بدنظرنه محفوظ شی نودهغه به ضرور داعقیده هم وی چه قلاده تقدیراړه وی اوبنکاره خبره ده چه داعقیده جائزنه ده چه قلاده تقدیر بدلوی.

② امام محمد رحمه الله فرمائی چه د قلاده تړلونه څکه منع کړې شوې ده چه کله څاروې تیزې منډې وهی نودقلاده د وجه نه دهغه مرئی خفه وی. [۵] حافظ ابن حجر رحمه الله اوعینی رحمه الله فرمائی چه د امام محمد رحمه الله ددې توجیه تائید د ابوعبیده رحمه الله په قول سره هم کیږی ابوعبیده رحمه الله فرمائی قلاده تړلونه څکه منع شوې ده چه په دې سره د څناورو مرئی خفه کیږی او په څرن کښې ورته تکلیف محسوس کیږی اوچه کله دا څرته ونې پورې اوتړلې شی نو مرئی خفه کیږی یا په تګ کښې ورته بندیزپیدا کیږی. [۶]

③ دریم قول د علامه خطابی رحمه الله دې هغه فرمائی رسول اکرم ﷺ د قلاده تړلوممانعت څکه

---

[۱] ) فتح الباري:۶/۱۷۵ وعمدة القاري: ۱۴/ ۳۵۰.

[۲] ) موطا امام مالک:۷/۹۳۷ والتمهید لابن عبدالبر: ۱۷/ ۶۰ وفتح الباري: ۶/۱۷۵.

[۳] ) رواه أحمد فی مسنده: ۴/۱۵۴ والحاکم فی المستدرک: ۲۱۶ والطبراني فی معجمه:۱۷/۸۲۰ من حدیث عقبة بن عام رضی الله عنه وماقال الحافظ فی الفتح:۶/۱۷۵ أخرجه أبوداؤد أیضا فقد أخطا. لم نعز علیه فی سنن أبی داؤد ولا فی الصحاح.

[۴] ) فتح الباري:۶/۱۷۵.

[۵] ) عمدة القاري: ۱۴/ ۳۵۰ فتح الباري:۶/۱۷۵.

[۶] ) فتح الباري:۶/۱۷۵ وعمدة القاري: ۱۴/ ۳۵۰.

کړې دي چه په دې کښې جرس زوړندولې شی (۱) د امام بخاری رحمه الله ترجمة الباب هم ددې قول تائید کوی ځکه چه په حدیث باب کښې د جرس لفظ نه دې وارد شوې صرف د قلاده ذکردې خو امام بخاری رحمه الله په ترجمه کښې د جرس تصریح کړې ده د علامه خطابی رحمه الله چه کومه توجیه ده چه په حدیث کښې قلاده ځکه منع کړې شوې ده چه په دې کښې به جرس زوړندولې شو ددې تائید سنن نسائی او سنن ابوداؤد کښې د ام المؤمنین حضرت ام حبیبه رضي الله عنها د دې مرفوع روایت نه کیږی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی لاتصحب الملائکة رفقة فیها جرس (۲) هم دغه حدیث امام نسائی رحمه الله د ام سلمه رضي الله عنها نه هم روایت کړې دې (۳)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه په ظاهره دامعلومیږی چه په ترجمة الباب کښې لفظ جرس نه امام بخاری رحمه الله د حدیث باب د دویم طریق طرف ته اشاره کړې ده په کوم کښې چه د جرس تصریح ده. داروایت امام دارقطنی رحمه الله د عثمان بن عمر په طریق باندې نقل کړې دې د کوم الفاظ چه دادی: لاتبقین قلادة من وترولاجرس فی عنق بعیرالاقطع (۴)

**د قلاده ممانعت تحریمی دې که تنزیهی؟:** علامه نووی رحمه الله فرمائی چه جمهورعلماؤ په نیز دا نهی کراهت تنزیهی باندې محمول ده (۵) یوقول دادې چه دا نهی تحریمی ده. (۶) دریم قول دادې چه ضرورت وی نوقلاده تړل جائز دی د ضرورت نه کیدو په وخت کښې ناجائزدی (۷)امام مالک رحمه الله فرمائی چه داکراهت صرف د تانت نه جوړې شوې قلاده دې کومه قلاده چه د تانت نه وی جوړه په هغې کښې کراهت نشته. خودا جواز هم په دې شرط دې چه کله په دې کښې د بدنظر نه د بچ کیدلو نیت نه وی. د بدنظر نه د بچ کیدو د پاره خو د هغه قلاده استعمالول هم ناجائزدی کومه چه د تانت نه نه وی جوړه. (۸)
په حقیقت کښې دا نهی د هغه قلادو اوتعویذونو سره متعلق ده په کوم کښې چه د قرآن کریم وغیره آیاتونه نه وی لیکلې شوې. خو چه په کومو قلادو او تعویذونوکښې قرانی ایاتونه او مسنون دعاګانې لیکلې شوی وی هغه د ځاروو په غاړوکښې زوړندول بلاکراهت جائزدی ځکه چه ددې نه د الله تعالی پناه اودبرکت حاصلول وی. (۹) دغه شان قلاده د ښائست دپاره زوړندولوکښې هم څه حرج نشته په دې شرط چه په دې کښې اسراف او تبذیرنه وی اوځان

---

۱) فتح الباری: ۶/۱۷۵.
۲) سنن أبی داؤد ۱/۲۴۶ کتاب الجهاد باب فی تعلیق الاجراس رقم: ۵۲۵٤.
۳) سنن نسائی: ۲/۲۹۰ کتاب الزینة باب الجلالة.
۴) فتح الباری: ۶/۱۷۵.
۵) شرح صحیح مسلم للنووی: ۲/۲۰۲ کتاب اللباس باب کراهة قلادة الوتر فی رقبة البعیر.
۶) عمدة القاری: ۱٤/۳۵۰ فتح الباری: ۶/۱۷۵.
۷) عمدة القاری: ۱٤/۳۵۰ فتح الباری: ۶/۱۷۵.
۸) عمدة القاری: ۱٤/۳۵۰- ۳۵۱ فتح الباری: ۶/۱۷۵.
۹) عمدة القاری: ۱٤/۳۵۱ فتح الباری: ۶/۱۷۶.

خودل په مقصود نه وی (۱)

**دَ جرس زوړندولو حکم** - په دې کښې مختلف اقوال نقل دي ① يو قول دا دې چه تعليق جرس مطلقا ناجائزدې (۲)

② بعض حضراتو وئيلی دی چه بغيرد ضرورت نه تعليق جرس ناجائزدې البته دَ ضرورت په وخت جائزدې (۳)

③ دريم قول دا دې چه وړوکې جرس زوړندول جائزدی خو لوئی جرس يعنی غټه ټلنی زوړندول جائزنه دی.(۴) والله اعلم

**دَ جرس دَ ناخوښه کيدووجه** - جرس ولې ناخوښه ګرځولې شوې دې؟ دَ دې دوه توجيهات دی.

① په صحيح مسلم کښې علاء ابن عبدالرحمن عن ابی هريره په طريق سره مرفوعا دا روايت نقل دې چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی. **الجرس من مزامير الشيطان** (۵) يعنی ټلنی دَ شيطان شپيلنی ده شارحين حديث دَدې نه استدلال کولوسره وائی. هذا يدل علی أن الکراهة فيه لصوته، لان فيه شبها بصوت الناقوس وشکله (۶) يعنی دَ صحيح مسلم مذکوره روايت په دې خبره باندې دلالت کوی چه دا کراهت دَ جرس دَ آواز دَ وجه نه دې ځکه چه دَجرس آواز او ظاهری صورت دواړه دَ ناقوس دَ آواز او صورت په شان دی

②جرس په عام توګه دَ اوښ او اس په غاړه کښې زوړندولې شی په هغه زمانه کښې په جهادکښې دَ اس او اوښ نه دَ سورلئی کاراخستې شو په دې وجه بعض حضراتوفرمائيلی چه دَ سورلئی په تګ سره دَ ټلنی غړيدو آواز پيدا کيږی نو په دې سره به دښمن ته دَ مجاهدينو دَ راتلو پته لګی. په دې وجه رسول اکرم ﷺ دَ تعليق جرس نه منع اوفرمائيله (۷)

**ترجمة الباب نه تطبيق** - په باب کښې امام صاحب رحمه الله لفظ جرس ذکرکړې دې خو په حديث باب کښې دَ جرس تصريح نشته. په دې وجه دلته اشکال کيدې شی چه په ترجمه کښې دَجرس تصريح شته او په حديث باب کښې هيڅ يو لفظ داسې نشته چه دَ ترجمه په دې لفظ باندې دلالت اوکړی؟

دَعلامه خطابی رحمه الله قول شاته تيرشو چه جرس به په قلاده وغيره کښې زوړندولې شو په دې وجه تعليق قلاند باره کښې چه کومه نهی په حديث کښې راغلې ده دغه نهی په حقيقت کښې هم دَ دغه جرس دَ وجه نه راغلې ده. علامه عينی رحمه الله دې قول ته ترجيح ورکړې ده اود مذکوره اشکال جواب ورکولوسره ئې فرمائيلی دی. **وما قيل فی وجه المطابقة يقول الخطابی أوجه،**

---

۱) عمدة القاری:۳۵۱/۶ فتح الباری:۱۷۶/۶.
۲) عمدة القاری:۳۵۱/۶ فتح الباری:۱۷۶/۶.
۳) عمدة القاری:۳۵۱/۶ فتح الباری:۱۷۶/۶.
۴) عمدة القاری:۳۵۱/۶ فتح الباری:۱۷۶/۶.
۵) صحيح مسلم: ۲۰۲/۲ کتاب اللباس باب کراهة الکلب والجرس.
۶) فتح الباری: ۱۷۵/۶ وعمدة القاری: ۳۵۰/۱۴.
۷) إعلاء السنن:۶۸۵/۱۲.

لان الجرس لایعلق فی أعناق الابل إلا بعلاقة، وهی الوتر ونحوه، فذکر البخاری الجرس الذی یعلق بالقلادة، فاذا ورد النهی عن تعلیق القلائد فی أعناق الابل یدخل فیه النهی عن الجرس بالضرورة، والاصل هوالنهی عن الجرس ألاتری أنه ورد، أن الملائکة لاتصحب رفقة فیها جرس (۱)

یعنی جرس دَاوښ په غاړه کښې دَ څه واسطې نه بغیرنه شي زوړندولې اوهغه واسطه بنکاره خبره ده چه دَ تانت قلاده وغیره وی په دې وجه امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې دَجرس ذکرکړې دې کوم چه دَ قلاده په ذریعه زوړندولې شی لهذا دَ اوښ په غاړه کښې چه دَ قلاده تړلومتعلق کومه نهی په حدیث کښې راغلې ده هغه نهی بهرصورت هم دَ جرس متعلق هم ده اوحقیقت دادې چه دانهی هم دَجرس باره کښې ده. په حدیث شریف کښې دی چه فرښتې دَداسې جماعت ملګرتیانه کوی کوم کښې چه جرس وی

## باب ۱۳۸: من اکتتب فی جیش فخرجت امرأته حاجة، وکان له عذر، هل یؤذن له

اکتتب:- باب افتعال نه معروف ومجهول دواړه شان لوستل صحیح دی.

حاجةً:- دا فخرجت امرأته نه حال واقع کیدودَ وجه منصوب دې. (۲)

أوکان:- دَابوذر په نسخه کښې هم دغه شان ضبط شوې دې (۳) بعض نسخوکښې دَ او په ځائی واو مذکوردې. (۴)

**دَ ترجمة الباب مقصد:-** مطلب داچه دَ یوسړی نوم دَ جهادپه لښکرکښې لیکلې شوی وی اوبل طرف ته دَهغه بی بی دَ حج په سفرباندې ځی یاهغه ته بل څه عذر پیښ شو. آیا داسې سړی ته به په جهادکښې دَ شرکت اجازت ورکولې شی؟

علامه عینی رحمه الله فرمائی چه دَ باب لاندې امام بخاری رحمه الله کوم روایت نقل کړې دې په هغې کښې دَدې جواب راغلې دې. (۵)

[حدیث نمبر۲۸۴۴] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو عَنْ أَبِي مَعْبَدٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رضى الله عنهما - أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ « لاَ يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ، وَلاَ تُسَافِرَنَّ امْرَأَةٌ إِلاَّ وَمَعَهَا مَحْرَمٌ » . فَقَامَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، اكْتُتِبْتُ فِي غَزْوَةِ كَذَا وَكَذَا، وَخَرَجَتِ امْرَأَتِي حَاجَّةً . قَالَ « اذْهَبْ فَحُجَّ مَعَ امْرَأَتِكَ » . [ر: ۱۷۶۳]

---

(۱) عمدة القاری: ۳۴۹/۱۴.

(۲) عمدة القاری: ۳۵۱/۱۴.

(۳) إرشاد الساری: ۴۷۶/۶.

(۴) إرشاد الساری: ۴۷۶/۶.

(۵) عمدة القاری: ۳۵۱/۱۴.

په روایت کښې دی چه رسول اکرم ﷺ اوفرمائیل سړې دې یواجنبی ښځې سره خلوت نه کوی نه دې یوه ښځه د محرم نه بغیرسفرکوی دې اوریدوسره یوسړې اودریدوونی ونیل فلانکی جهـ د کښې زما نوم لیکلې شوې دې خوزما ښځه حج له روانه ده

**قوله قال: إذهب، فحج مع امرأتك** حضورپاك ﷺ اوفرمائیل زه خپلې ښځې سره حج اوکړه. فحج په دې کښې ادغام دې بعض نسخوکښې احجج فك ادغام سره مذکوردې (۱)
مطلب دا که په ښځه باندې حج فرض وی اوجهادفرض عین نه وی نوښځې سره د حج د سفردپاره د خاوند تلل ضرور دی. اوهغه ته به په جهاد کښې دتللو اجازت نه شی ورکولې ځکه چه په جهاد کښې بل سړې دهغه په ځائی کیدې شی.
په روایت کښې رسول اکرم ﷺ خاوندته ښځې سره د حج کولوحکم ورکړو اود جهادنه ئې منع کړو ځکه چه په ښځه باندې حج فرض وو او د حج په سفرکښې دهغې دپاره محرم ضروری وو خوجهاد دغه وخت فرض عین نه وو لکه چه د جهادپه مقابله کښې حج ډیر اهم وو په دې وجه رسول اکرم ﷺ اوفرمائیل ته جهادپریږده او ښځې سره حج ته لاړشه. (۲)

**ترجمة الباب سره مناسبت:-** علامه عینی رحمه الله فرمائی مطابقة للترجمة تؤخذ من قوله: إذهب فحج امرأتك، لانه اكتتب فی جیش وأرادت امرأته أن تحج الفرض، فاذن له صلی الله تعالی علیه وسلم، أن یحج مع امرأته، لانه اجتمع له مع حج التوع فی حقه تحصیل حج الفرض لامرأته، فكان اجتماع ذلك له أفضل من مجردالجهاد الذی یحصل المقصود منه بغیره. (۳)
یعنی ترجمة الباب سره دحدیث داجمله مطابقت لری إذهب فحج مع امرأتك د کوم خلاصه چه دا ده چه دې سړی خپل نوم د جهاد په لښکرکښې لیکلې وو اودهغه بی بی فرض حج اداکول غوښتل نورسول الله ﷺ هغه ته د ښځې سره د حج کولو حکم په دې وجه ورکړو چه هغه ته به په یووخت کښې دوه فائدې حاصلیدلې د ښځې فرض حج اداکیدل او ښځې سره دخپل ځان دپاره نفلی حج اداکول دا دواړه فائدې جمع کول دهغه دپاره یوازې د جهادد تللونه غوره وې. ځکه چه د جهاد مقصد خو دهغه نه علاوه د بل چا په تللوسره هم حاصلیدې شو

**دحدیث نه مستنبط فوائد:-** د حدیث باب نه دوه فائدې معلومیږی ① یودا چه د جهادپه لښکرکښې شامل د ټولو کسانونومونه دې اولیکلې شی (۴)② بل دا چه حاکم وخت یاامیروغیره دخپل رعایا په مصالح او ضروریات باندې نظر اوساتی (۵)

(۱) حواله بالا وإرشاد الساری:۶/۳۷۶.
(۲) فتح الباری:۶/۱۷۶ وإرشاد الساری:۶/۳۷۶.
(۳) عمدة القاری: ۱۴/۳۵۱.
(۴) فتح الباری:۶/۱۷۶.
(۵) فتح الباری:۶/۱۷۶.

## باب ۱۳۹: الجاسوس

وقول الله تعالى: ﴿لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ﴾ [الممتحنة] اَلتَّجَسُّس: اَلتَّبَحُّث

**دَ ترجمة الباب مقصد** دَ جاسوس دوه قسمونه دی یو دا چه دَ کافرانو دَ طرف نه وی او دویم دا چه دَ مسلمانانو دَ طرفه وی په دې ترجمة الباب سره امام بخاری رحمه الله دواړه احکام خودل غواړی

**الجاسوس** دا دَ فاعول په وزن باندې دې او دَ تجسس نه دې دَ تجسس معنی ده دَ پټو کارونو پته لګول، تفتیش کول یو قول دا دې چه تجسس (جیم سره) معنی ده دَ بل چا دپاره سراغ او پته لګول او تحسس (حا سره) معنی ده خپل ځان دَ پاره پته لګول [1]

ترجمة الباب کښې امام بخاری رحمه الله دَ ابو عبیده قول نقل کولو سره دَ تجسس تشریح تبحث سره کړې ده تبحث دَ باب تفعل نه دې دَ دې معنی ده پته لګول او تفتیش کول بحث الفقیه نه دې نه اخستې شوې دې ځکه چه فقیه هم دَ مسائلو تفتیش کوی دَ هغې پته لګوی [2]

وقول الله تعالى ﴿لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ﴾ وقول جاسوس باندې عطف کیدو دَ وجه مجرور دې

علامه عینی رحمه الله فرمائی دلته دَ آیت ذکر کولو مناسبت دا دې چه دَ دې نه دَ جاسوس حکم مستنبط شوې دې دا حکم دَ حاطب بن ابی بلتعه رضی الله عنه دَ قصه نه معلومیږی [3] حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائیلی دی چه په حدیث باب کښې کومه قصه ذکر شوې ده هم دغه دَ دې آیت سبب نزول دې. په دې وجه دَ آیت دَ ذکر کولو یو مناسبت دا هم کیدې شی. [4]

**دَ جاسوس حکم:-** دَ جاسوس مختلف قسمونه دی مثلاً کافر حربی. معاهد. ذمی. مسلمان او مستامن علامه نووی رحمه الله وائی چه کافر حربی جاسوس قتل کول په اجماع سره جائز دی [5] دَ معاهد او ذمی که چرې دَ مسلمانانو خلاف جاسوسی اوکړی نو دَ جمهور فقهاؤ په نیز جاسوسی کولو وجه دَ هغه عهد نه ختمیږی. شرح السیر الکبیر کښې علامه سرخسی رحمه الله دَ دې دا وجه بیان کړې ده لکه چه دَ جاسوسئی کولو وجه نه دَ مسلمان جاسوس ایمان نه ختمیږی دغه شان دَ ذمی عهد هم نه ختمیږی. [6]

احناف او شوافع وائی دا سره دَ دې چه نقض عهد نه دې لیکن حاکم وخت له پکار دی چه ده ته سخته سزا ورکړی او قید کښې اوساتی. [7] شوافع وائی چه دَ ذمی یا معاهد نه دَ جاسوسئی نه

---

[1] ) النهایة لابن الاتیر: ۲۶۶/۱.

[2] ) عمدة القاری: ۳۵۲/۱٤.

[3] ) عمدة القاری: ۳۵۲/۱٤.

[4] ) فتح الباری: ۱۷۷/۶.

[5] ) شرح للنووی علی صحیح مسلم: ۳۰۲/۲ کتاب الفضائل باب فضائل أهل بدر. وفتح الباری: ۲۹۰۷/۶ وإعلاء السنن: ۵۶/۱٤.

[6] ) وإعلاء السنن ۵۷/۱٤.

[7] ) وإعلاء السنن: ۵۶/۱٤.

کولو په شرط باندې معاهده شوې وی نوبیا دا نقض عهد دې اودې قتل کول جائزدی.(۱)امام مالک رحمه الله او امام اوزاعی رحمه الله وائی چه د جاسوسئی د وجه نه معاهداو ذمی عهد باقی نه پاتې کیږی نودې قتل کول جائزدی (۲)

که چرې د اهل اسلام خلاف جاسوسی کونکې مسلمان وی نوداحنافو شوافع اوجمهورفقهاؤ په نیزبه هغه ته سزا (تعزیر) ورکولې شي قتل کول نی جائزنه دی (۳) بیا په تعزیرکښې دې حضراتو تفصیل کړې دې امام شافعی رحمه الله د روایت الباب نه استدلال کولوسره فرمائی که چرې مسلمان جاسوس صاحب حیثیت وی نوهغې دې معاف کړې شي (۴) امام ابوحنیفه رحمه الله او امام اوزاعی رحمه الله فرمائی چه یعزر ویطال حبسه هغه ته دې سزا ورکړې شي او د اوږدې مودې پورې دې قید کښې اوساتلې شي (۵) امام مالک رحمه الله فرمائی یجتهد فیه الامام (۶) حاکم وخت دې دهغه باره کښې اجتهاد اوکړی مطلب دا چه هغه ته د تعزیر او قتل کولو دواړو اختیاردې که غواړی نو سزا دې ورکړی پریږدې دی یا دې قتل کړی. ددې نه معلومه شوه چه د امام مالک رحمه الله په نیزد مسلمان جاسوس قتل کول جائزدی

علامه سرخسی رحمه الله فرمائی که مستامن سره د معاهدې په وخت دا شرط کیخودې شی چه هغه به د مسلمانانو جاسوسی نه کوی خوکه ددې باوجود هغه جاسوسی اوکړه نودهغه په قتل کولوکښې هیڅ حرج نشته. بلکه بهتره دا ده چه هغه قتل کړې شی دې دپاره چه د نورو دپاره د عبرت نشان اونښه جوړشي. (۷)

[حدیث نمبر ۲۸۴۵] (۸) حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِاللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا عَمْرُوبْنُ دِينَارٍ سَمِعْتُهُ مِنْهُ مَرَّتَيْنِ قَالَ أَخْبَرَنِي حَسَنُ بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي رَافِعٍ قَالَ سَمِعْتُ عَلِيًّا - رضى الله عنه - يَقُولُ بَعَثَنِي رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - أَنَا وَالزُّبَيْرَ

---

۱) شرح للنوى على صحيح مسلم:۳۰۲/۲ كتاب الفضائل باب فضائل أهل بدر.

۲) فتح الباری:۲۰۷/۶ إعلاء السنن:۵۶/۱٤.

۳) شرح صحيح مسلم للنووى: ۳۰۲/۲ وعمدة القاری:۳۵۶/۶.

٤) شرح صحيح مسلم للنووى: ۳۰۲/۲ وعمدة القاری:۳۵۶/۶.

۵) شرح صحيح مسلم للنووى: ۳۰۲/۲ وعمدة القاری:۳۵۶/۶.

۶) شرح صحيح مسلم للنووى: ۳۰۲/۲ وعمدة القاری:۳۵۶/۶.

۷) وإعلاء السنن:۵۷/۱٤.

۸) الحديث أخرجه البخاری فی الجهاد باب إذا اضطر الرجل إلى النظر فی شعور أهل الذمة والمؤمنات إذا عصين الله وتجريدهن رقم:۳۰۸۱ وفی المغازی. باب فضل من شهدبدراً رقم:۳۹۸۳ وباب غزوة الفتح رقم:٤۲۷٤ وفی التفسير سورة الممتحنة. باب لاتتخوا عدوى وعدوكم أولياء رقم ٤۷۹۰. وفی الاستئذان باب من نظر فی كتاب يحذ على المسلمين ليستبين أمره رقم:۶۲۵۹ وفی استتابة المرتدين والمعاندين وقتالهم. باب ماجاء فی المتاولين رقم ۶۹۲۹ ومسلم فی فضائل الصحابة. باب من فضائل حاطب بن أبی بلتعة وأهل بدر رضى الله عنهم رقم ۶۳۰۱ والترمذی فی التفسير. باب ومن سورة الممتحنة رقم:۳۳۰۵ وأبوداؤد فی الجهاد. باب فی حكزم الجاسوس إذاكان مسلما رقم:۲۶۵۰. ۲۶۵۱.

وَالْمِقْدَادَ بْنَ الأَسْوَدِ قَالَ « انْطَلِقُوا حَتَّى تَأْتُوا رَوْضَةَ خَاخٍ ، فَإِنَّ بِهَا ظَعِينَةً وَمَعَهَا كِتَابٌ، فَخُذُوهُ مِنْهَا » . فَانْطَلَقْنَا تَعَادَى بِنَا خَيْلُنَا حَتَّى انْتَهَيْنَا إِلَى الرَّوْضَةِ، فَإِذَا نَحْنُ بِالظَّعِينَةِ فَقُلْنَا أَخْرِجِي الْكِتَابَ. فَقَالَتْ مَا مَعِي مِنْ كِتَابٍ. فَقُلْنَا لَتُخْرِجِنَّ الْكِتَابَ أَوْ لَنُلْقِيَنَّ الثِّيَابَ فَأَخْرَجَتْهُ مِنْ عِقَاصِهَا، فَأَتَيْنَا بِهِ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَإِذَا فِيهِ مِنْ حَاطِبِ بْنِ أَبِي بَلْتَعَةَ إِلَى أُنَاسٍ مِنَ الْمُشْرِكِينَ مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ ، يُخْبِرُهُمْ بِبَعْضِ أَمْرِ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - . فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - « يَا حَاطِبُ، مَا هَذَا » . قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، لاَ تَعْجَلْ عَلَىَّ ، إِنِّي كُنْتُ امْرَأً مُلْصَقًا فِي قُرَيْشٍ ، وَلَمْ أَكُنْ مِنْ أَنْفُسِهَا، وَكَانَ مَنْ مَعَكَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ لَهُمْ قَرَابَاتٌ بِمَكَّةَ، يَحْمُونَ بِهَا أَهْلِيهِمْ وَأَمْوَالَهُمْ، فَأَحْبَبْتُ إِذْ فَاتَنِي ذَلِكَ مِنَ النَّسَبِ فِيهِمْ أَنْ أَتَّخِذَ عِنْدَهُمْ يَدًا يَحْمُونَ بِهَا قَرَابَتِي ، وَمَا فَعَلْتُ كُفْرًا وَلاَ ارْتِدَادًا وَلاَ رِضًا بِالْكُفْرِ بَعْدَ الإِسْلاَمِ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - « لَقَدْ صَدَقَكُمْ » . قَالَ عُمَرُ يَا رَسُولَ اللَّهِ دَعْنِي أَضْرِبْ عُنُقَ هَذَا الْمُنَافِقِ . قَالَ « إِنَّهُ قَدْ شَهِدَ بَدْرًا، وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ اللَّهَ أَنْ يَكُونَ قَدِ اطَّلَعَ عَلَى أَهْلِ بَدْرٍ فَقَالَ اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ، فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ » . قَالَ سُفْيَانُ وَأَيُّ إِسْنَادٍ هَذَا. [۲۹۱۵، ۳۷۶۲، ۴۰۲۵، ۴۶۰۸، ۵۹۰۴، ۶۵۴۰]

## رجال الحديث

① **على ابن عبدالله**:- داامیرالمؤمنین فی الحدیث ابوالحسن علی ابن عبدالله بن جعفر رحمه الله دي چه دَ ابن المدینی په نوم سره مشهوردې. دَدوی تذکره تیره شوې ده. (۱)

② **سفيان**.- دا ابومحمدسفیان بن عیینه کوفی رحمه الله دې. دَدوی تذکره دکتاب العلم لاندې تیره شوې ده. (۲)

③**عمرو بن دينار**:- داعمرو بن دینار مکی رحمه الله دې. دَدوی تذکره هم کتاب العلم کښې تیره شوې ده (۳)

④ **حسن بن محمد**:-داحسن بن محمد رحمه الله دې دَدوی حالات هم تیرشوی دی.

⑤ **عبيدالله بن ابى رافع**:- دادَ رسول اکرم صلی الله علیه وسلم آزادکړې شوې غلام ابورافع اسلم خوئی دې دحضرت علی رضی الله عنه کاتب وو (۴) دَهغوی خطونه وغیره به ئی لیکل. ابن سعد دَدوی شمیر په مکثرین فی الحدیث کښې کړې دې (۵) دَ جرح او تعدیل ټولو ائمه حضراتو دَدوی توثیق کړې

(۱) كشف البارى: ۲۹۷/۳.
(۲) كشف البارى: ۱۰۲/۳.
(۳) كشف البارى: ۳۰۹/٤.
(٤) تهذيب الكمال: ۳٤/۱۹.
(٥) طبقات: ٦٨١/٥.

دې [۱] هغه دخپلې مور ام رافع سلمی او د رسول اکرم ﷺ آزادکړې شوی غلام شقران حضرت علی اوحضرت ابوهریره رضی الله عنهما نه احادیث روایت کړی دی [۲] اودهغوی نه ابراهیم بن عبیدالله بن ابی رافع، بسر بن ابی رافع، بسربن سعد جعفربن محمدبن علی الحسین، حسن بن محمد بن الحنیفة، حکم بن عتبه، سالم ابوالنضر، عاصم بن عبیدالله، عبدالله بن الفضل الهاشمی، علی بن الحسین زین العابدین، ابوجعفر محمدبن علی بن الحسین، محمدبن المنکدر، معاویه بن عبدالله بن جعفربن ابی طالب [۳]

⑥ **علی** رضی الله عنه - داعلی بن ابی طالب رضی الله عنه دې دَدوی حالات دکتاب العلم لاندې تفصیل سره تیرشوی دی سمعت علیا رضی الله عنه یقول بعثنی رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم أنا والزبیر والمقدادبن الاسود، قال: انطلقوا حتی تاتوا روضة خاخ، فان بها ظعینة، ومعها کتاب فخذوه منها.....الخ

راوی وائی چه ما حضرت علی رضی الله عنه په دې ویناکولوسره واؤریدو چه رسول الله ﷺ زه زبیراومقدادبن اسود اولیګلو. وئی فرمائیل چه روضه خاخ ته لاړشئی هلته به تاسو ته په اوښ باندې سوره یوه ښځه ملاؤشی هغې سره خط دې هغه دې نه واخلئی

روضة خاخ:- دادمکې اومدینې ترمینځه د یوځائی نوم دې اودمدینې نه دولس میله لرې واقع دې [۴] علامه سهیلی رحمه الله فرمائی چه هشیم تصحیف کولوسره به خاخ خاج لوستلو. دهشیم په شان د ابوعوانه نه هم دغه تلفظ نقل دې. [۵]

ظعینة:- دَدې معنی ده د اوښ په کجاوه کښې ناسته سفرکونکې ښځه. دا د ظعن نه مشتق دې د کوم معنی چه تګ او د سفرکولوده بیادې اطلاق هودج یعنی د اوښ کجاوه اوپه دې کښې ناستې مسافرې ښځې دواړو باندې کیدلې شو. [۶] یوقول دادې چه دهغې نوم ساره وو [۷] دویم قول دادې چه دهغې نوم کنود وو. [۸] رومبې قول راجح دې. [۹] علامه نووی علامه کرمانی اوعلامه نسفی وغیره دې ته ترجیح ورکړې ده. [۱۰]

**ساره مسلمانه وه که مشرکه؟**: حافظ ابونعیم رحمه الله، ابن منده رحمه الله [۱۱] او حافظ ابن حجر رحمه الله [۱۲]

---

[۱] ثقات ابن حبان:۶۸/۵ تهذیب الکمال:۳۵/۱۹ طبقات:۲۸۲/۵.
[۲] تهذیب الکمال:۳٤/۱۹.
[۳] تهذیب الکمال:۳۵/۱۹.
[۴] إرشاد الساری:٤۷۸/۶.
[۵] عمدة القاری:۳۵۳/۱٤.
[۶] القاموس المحیط باب النون، فصل الطاء وشرح النووی علی صحیح مسلمک ۳۰۲/۲.
[۷] عمدةالقاری:۳۵۳/۱٤ وإرشاد الساری:٤۷۸/۶.
[۸] عمدة القاری:۳۵۳/۱٤ وإرشاد الساری:٤۷۸/۶.
[۹] إرشاد الساری:٤۷۸/۶.
[۱۰] إرشاد الساری:٤۷۸/۶.
[۱۱] شرح صحیح مسلم للنووی:۳۰۲/۲ فی فضائل أهل بدر، وعمدةالقاری:۳۵۳/۱٤ وشرح الکرمانی:۱۹/۱۳
[۱۲] الاصابة فی تمییز الصحابة:۳۲۳/٤.

دا په جمله صحابیات کښې شامل کړې ده قاضی اسماعیل رحمه الله کتاب الاحکام کښې حاطب بن ابی بلتعه د قصه په ضمن کښې کوم روایت نقل کړې دې په هغې کښې دی قال الذین أرسلهم: إن بها امرأة منه المسلمین معها کتاب إلی المشرکین، وأنهم لما أرادوا ان یخلعوا ثیابها. قالت: أولستم مسلمین؟ (۱) یعنی رسول الله ﷺ چه د ساره د گرفتارولود پاره کوم صحابه کرام لیکلي وو هغوی ته نی فرمائیلی وو چه روضه خاخ سره یود مسلمانه ښځه ده کومې سره چه دمشرکانو په نوم خط دې کله چه صحابه کرامود ساره لباس کوزول غوښتل نو هغې دوی ته غیرت ورکولو سره اوونیل آیاتاسو مسلمانان یئی؟ خو علامه عینی رحمه الله چه کوم تاریخی شهادتونه پیش کړی دی د هغې نه معلومیږی چه ساره مسلمانه نه وه نو بیا هغه د صحابیاتو په فهرست کښې شامل کول عجیبه خبره ده مثلاً علامه عینی رحمه الله وانی چه حاکم رحمه الله په خپل کتاب الاکلیل کښې لیکی دی وکانت مغنیة نواحة تغنی بهجاء رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم فامربها یوم الفتح، فقتلت. (۲) یعنی ساره مغنیه (سندرغاړې) اونوحه کونکې وه د رسول الله ﷺ په سپکاوی کښې به نی اشعار وئیل په دې وجه حضورپاک د فتح مکه په ورځ د هغې د قتل حکم ورکړې وو نو هغه قتل کړې شوه

دغه شان ابوعبیده البکری په روایت کښې دی فان بها امرأة من المشرکین الفاظ وارد دی په دې روایت کښې پخپله د رسول الله ﷺ په مبارکه ژبه تصریح ده چه هغه مشرکه وه (۳) د حاطب ابن ابی بلتعه د مذکوره واقعه باره کښې دا آیت نازل شوې وو ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ ﴾ علامه واحدی رحمه الله فرمائی:

إن هذه الآیة نزلت فی حاطب ابن بلتعة، وذلك أن سارة مولاة أبی عمرو بن صیفی بن هاشم بن عبد مناف أتت رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم إلی المدینة من مکة وهو یتجهز لفتح مکة، فقال: ما جاء بك؟ قالت: الحاجة. قال: فأین أنت عن شباب أهل المکة؟ وکانت مغنیة، قالت: ما طلب منی شئ بعد وقعة بدر، فکساها وحملها، وأتاها حاطب بن أبی بلتعة کتب معها کتابا إلی أهل مکة، وأعطاها عشرة دنانیر، وکتب فی الکتاب إلی أهل مکة: إن رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم یریدکم فخذوا حذرکم. فنزل جبریل علیه السلام بخبرها، فبعث علیا وعمارا وعمر والزبیر وطلحة والمقداد بن الاسود وأبا مرثد، وکانوا کلهم فرسانا، وقال: انطلقوا حتی تأتوا روضة خاخ، فان بها ظعینة معها کتب إلی المشرکین فخذوه وخلوا سبیلها فان لم تدفعه إلیکم فاضربوا عنقها. (۴)

---

(۱) عمدة القاری: ۱۴/۳۵۳.
(۲) عمدة القاری: ۱۴/۳۵۳.
(۳) عمدة القاری: ۱۴/۳۵۳.
(۴) عمدة القاری: ۱۴/۳۵۳.

دا آیت د حاطب بن بلتعه باره کښې نازل شوې د دې واقعه سبب داوو چه عمرو بن صیفي بن هاشم آزده کړې شوې وینځه ساره د مکې نه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې د حاضریدو د پاره مدینې ته راغله هغه وخت حضورپاك د فتح مکه تیاری کوله حضورپاك ساره ته اوفرمائیل ولې راغلې؟ د څه ضرورت د وجه نه راغلې یم حضورپاك اوفرمائیل مکې خوانان چرته دې اوته چرته؟ ساره سندرغاړې وه څه حضورپاك داسې الفاظ استعمال کړل ساره جواب ورکړو د بدر د واقعه نه پس مانه څاد (کانې وغیره) مطالبه نه ده کړې دې نه پس حضورپاك ساره ته د تن د پاره لباس اود سورلئی د پاره اس ورکړو بیاهغې له حاطب بن بلتعه راغلو حاطب بن بلتعه هغې له د اهل مکې په نوم باندې خط ورکړو دې نه علاوه ئې لس دیناره هم ورکړل خط کښې ئې لیکلې وو رسول الله ﷺ ستاسو خلاف د جنګ اراده لرې نوتاسو د بچاؤ اسباب اوکړئی په دې موقعه باندې حضرت جبرائیل علیه السلام راغلو او د واقعه متعلق خبر ئې ورکړو دې اوریدو سره رسول الله ﷺ حضرت علی عمار عمر زبیر طلحه او مقداد بن اسود او ابومرثد چه د عربو ښه د اس سورلی کونکی وو ساره پسې شاته وراولیګل وئې فرمائیل چه روضه خاخ ته لاړشئ هلته په اوښ په یوه ښځه سوره وی هغې سره د مشرکانو په نوم یوخط دې خط واخلئی اوهغه بغیر د مزاحمت نه پریږدئی اوکه د خط ورکولونه انکار اوکړې نو قتل ئې کړئی

دغه شان په تفسیرنسفی کښې یوروایت دې: أنت ساره من مكة إلى المدينة بعد بدر بسنين ورسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم يتجهز لفتح مكة. فقال رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم أمسلمة جئت؟ قالت: لا، قال: أمهاجرة جئت؟ قالت: لا يعني د جنګ بدرنه څوکاله پس ساره د مکې نه مدینې منورې ته راغله د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه هغه وخت حضورپاك د فتح مکه په تیاری کښې مصروف وو حضورپاك د ساره نه تپوس اوکړو چه آیا ته مسلمانه شوې راغلې؟ ساره وئیل نه. حضورپاك اوفرمائیل آیا هجرت دې کړې راغلې؟ هغې وئیل نه.

د علامه واحدی او علامه نسفی مذکوره دواړه روایات اکثرمفسرینو نقل کړی دی (۱) د دې روایتونونه هم دغه معلومیږی چه ساره مسلمانه نه وه . علامه عینی رحمه الله هم دا روایات نقل کړی دی د هغه د صنیع نه معلومیږی چه پخپله د هغه رحجان هم دغه دې چه ساره مسلمانه نه وه. والله اعلم.

**قوله: فانطلقنا تعادي بنا خيلنا، حتى انتهينا إلى الروضة، فإذا نحن بالظعينة:**

راوی وائی اسونوپه منډه مونږ ترلرې پورې یوړو کله موچه اوکتل نو واقعی مونږ په اوښه باندې سوره یوې ښځې سره وو. مونږ هغې ته اووئیل خط راوباسه هغې وئیل ماسره خوڅه خط نشته مونږ ورته اووئیل چه خط راوباسې که کپړې درنه اوباسو هغې مجبوراً د خپلې جوړې نه خط راوویستلو هغه مونږ واخستو اود رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضرشو نوپه هغې کښې تحریروو. د حاطب بن بلتعه د طرف نه د اهل مکه د یوڅومشرکانو په نوم په کوم کښې چه حاطب خپل متعلقینوته د رسول الله ﷺ بعض ارادو خبرورکړې وو. رسول الله

---

(۱) تفسیر القرطبی: ۵۱/۱۸ والتفسیر الکبیر للامام الرازی: ۲۹۶/۲۹.

ﷺ تپوس اوکړو حاطب داځه قصه ده؟ حاطب اوونيل تاسو تندی مه کونی زه يوداسې سړی یم چه قريشوله راغلم ملاؤشوم حالانکه زه اصلاً د قريشونه نه يم دا تاسوسره چه کوم مهاجرين دی ددوی ټولومکې والاسره خپلولنی دی دهغوی دوجه نه دهغوی بال بچ او مالونه محفوظ دی زمادوسره خو خپلولی ده نه ما نه داکار د کفرد وجه کړې اونه د ارتداد د وجه نه د اسلام راوړلونه پس د کفرد خوښولو وجه نه رسول الله ﷺ اوفرمائيل حاطب تاسو خلقوته رښتيااووئيل حضرت عمر ﷺ عرض اوکړو يارسول الله! مايريږده يعنی ماته اجازت راکړه چه زه خودې منافق کارخلاص کړم حضور پاك اوفرمائيل دې د بدريه جنګ کښې شريك شوې تاته معلومه نه ده چه الله تعالى د بدرخلقوته کتلوسره اوفرمائيل چه څنګه مو عمل کونی ماستاسو بخښنه کړې ده

**قوله** إلى أناس من المشركين - راوی دمکتوب اليهم نوم ذکرکولوپه ځائې الى اناس مشركين اووئيل علامه كرمانی ﷺ فرمائی هوكلام الراوی وضع موضع: الى فلان وفلان المذكورين فى الكتاب. (۱) دادَ راوی کلام دې هغه په خط کښې ذکر فلانکې اوفلانکې يعنی دنومونود تصريح په ځائې الى اناس من المشركين اووئيل او علامه عينى ﷺ په دې بندې تعريض کولوسره وائی لم يطلع الكرمانى على أسماء المكتوب اليهم، فلذلك قال هكذا، والذين كتب اليهم هم: صفوان بن أمية، وسهل بن عمرو، وعكرمة بن ابى جهل (۲) مطلب دادې چه پخپله علامه كرمانی ﷺ ته هم دمکتوب اليهم نومونه معلوم نه شو په دې وجه هغه فلانکې فلانکې اووئيل اوکه چرې معلوم وو نو تصريح به ئی کړې وه علامه عينى ﷺ وائی چه حاطب بن بلتعه د چاپه نوم خط ليکلې وو هغه صفوان بن اميه. سهل بن عمرو او عکرمه بن ابوجهل وو

**قوله** قال سفيان: وأى إسناد هذا - سفيان اووئيل څه ښکلې اوښائسته سند دې دا سفيان بن عيينه ﷺ د روايت باب په صحت سند او ثقاهت باندې د رشك اظهاركړې دې ځکه چه د روايت ټول راويان اكابر ثقات عدول اوحفاظ دی او په سند کښې چرته هم انقطاع نشته (۳)

**دحديث نه مستنبط فوائد:-** ① حاطب بن ابى بلتعه واقعه نه د رسول الله ﷺ د نبوت تصديق شوې دې. د دې خفيه واقعې ټول تفصيلات رسول الله ﷺ ته د وحې په ذريعه معلوم شو (۴)

② جاسوس كه ښځه وی اوکه سړې د راز ښکاره کولو دپاره دهغه نه خط وغيره اسختل ضروری دی. (۵)

---

(۱) شرح الكرمانى: ۱۳/ ۲.
(۲) عمدة القارى: ۱۴/ ۲۵۳.
(۳) شرح الكرمانى: ۱۳/ ۲۱ وفتح البارى: ۶/ ۱۷۷ وعمدة القارى: ۱۴/ ۲۵۶.
(۴) عمدة القارى: ۱۴/ ۲۵۶ شرح مسلم للنووى: ۱۴/ ۳۰۲.
(۵) شرح مسلم للنووى: ۱۴/ ۳۰۲.

④ د حدیث باب نه پوه خبره دا معلومه شوه چه جاسوسی کول و سره مسلمانان د ایمان د دائري نه نه وځی [1]

⑤ د ضرورت په وخت ښځه بې لباس کول جائز دی [2]

⑥ حضرت عمر رضی الله عنه حاطب بن ابی بلتعه رضی الله عنه د قتل کولو اراده اوکړه نو حضور پاک منع کړو ددې نه معلومه شوه چه د امام د اجازت نه بغیر څوک نه دی قتل کول پکار [3]

⑦ د حُکم وخت په مخکې گناهگار سره په سخته لهجه کښې خبره کول او دهغه د قتل اجازت غوښتل جائز دی [4]

⑧ الله تعالی د اهل بدر د گناهونو بخشش کړې دې ددې نه معلومیږی چه الله تعالی خپل وعیدونه نافذ کول او نه نافذ کولو اختیار دی [5]

**ترجمة الباب سره مطابقت** - په حدیث باب کښې لفظ ځعینه منسبت ترجمة الباب سره ښکاره دې امام بخاری رحمه الله باب د جاسوس قیم کړې دې د حاطب بن ابی بلتعه داخط اوړونکې ښځه هم جاسوسه وه [6]

## باب ۱۴۰: الكسوة للاسارى

**د ترجمة الباب مقصد** - ددې ترجمة الباب نه امام بخاری رحمه الله د قیدیانو حکم ښودل غواړی که د قیدی په بدن باندې لباس نه وی نو هغه دې په کپړه باندې پټ کړې شی هغه بې لباس پرېښول صحیح نه دی د ستر په حکم کښې مسلم او غیرمسلم برابر دی لکه څنګه چه د مسلمان ستر ته کتل جائز نه دی دغه شان د غیرمسلم ستر ته کتل هم جائز نه دی [7]

احدیث نمبر ۲۸۴۶ [8] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ عَمْرٍو سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ - رضى الله عنهما - قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمَ بَدْرٍ أُتِيَ بِأُسَارَى، وَأُتِيَ بِالْعَبَّاسِ وَلَمْ يَكُنْ عَلَيْهِ ثَوْبٌ، فَنَظَرَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - لَهُ قَمِيصًا فَوَجَدُوا قَمِيصَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أُبَيٍّ يَقْدُرُ عَلَيْهِ، فَكَسَاهُ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - إِيَّاهُ، فَلِذَلِكَ نَزَعَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - قَمِيصَهُ الَّذِي أَلْبَسَهُ. قَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ كَانَتْ لَهُ عِنْدَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - يَدٌ فَأَحَبَّ أَنْ يُكَافِئَهُ. [ر: ۱۲۱۱]

---

[1] شرح مسلم للنووی: ۲/ ۳۰۲ وعمدة القاری: ۱۴/ ۵۶.
[2] شرح مسلم للنووی: ۲/ ۳۰۲ وعمدة القاری: ۱۴/ ۵۶.
[3] شرح مسلم للنووی: ۲/ ۳۰۲ وعمدة القاری: ۱۴/ ۵۶.
[4] شرح ابن بطال: ۵/ ۱۶۳.
[5] شرح ابن بطال: ۵/ ۱۶۳.
[6] عمدة القاری: ۱۴/ ۲۵۴.
[7] فیض الباری: ۳/ ۴۴۲.
[8] مر تخرجه فی الجنائز باب الکفن فی القمیص یکف أولا یکف.

## رجال الحدیث

① **عبدالله بن محمد** - دا ابوجعفر عبدالله بن محمد جعفی رحمه الله دی د دوی تذکره وړاندې تیره شوې ده (۱)

② **ابن عیینه** - دا سفیان بن عیینه ابومحمد الکوفی رحمه الله دی د دوی حالات وړاندې تیرشوی دی (۲)

③ **عمرو** - دا عمرو بن دینار رحمه الله دی د دوی تذکره وړاندې تیره شوې ده

④ **جابربن عبدالله** رضی الله عنهما - د دوی حالات هم تیرشوی دی. (۳)

**لما كان يوم بدر، أتي بأسارى، وأتي بالعباس، ولم يكن عليه ثوب، فنظر النبي صلى الله تعالى عليه وسلم قميصًا فوجدوا له قميص عبدالله بن أبي يقدر عليه فكساه النبي صلى الله تعالى عليه وسلم إياه.**

حضرت جابربن عبدالله رضی الله عنهما وائی چه د بدر ورځ وه اود کافرانو قیدیان راوستلې شو و حضرت عباس رضی الله عنهما هم راوستلې شو دهغوی په بدن باندې هیڅ لباس نه وو رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغوی دپاره قمیص اولټولو. صحابه کرامو رضی الله عنهم د عبدالله بن ابی قمیص دهغه د بدن برابر کړو حضورپاك هغوی ته هم هغه قمیص واچولو.

یقدرعلیه...... - دحضرت عباس رضی الله عنه باره کښې راځي چه هغه د اوچتې خیمې په شان اوږدقدوالا وو. په قدکښې هغه د خپل پلاریه شان وو. دهغوی پلار عبدالمطلب دهغوی نه زیات اوږدوو. پخپله دحضرت عباس ځوئی عبدالله رضی الله عنه هم اوږدقدوالا وو کله چه به هغه نورو خلقو سره تللو نوکتونکی به داسې محسوس کوله چه لکه عبدالله رضی الله عنه سور وی او نور خلق پیاده روان وی. (۴) حضرت عباس رضی الله عنه خودهغوی نه هم د اوږدقدوالا وو (۵) هم دغه وجه وه چه دهغوی د قدبرابر قیمص نه ملاویدلو. عبدالله بن ابی بن سلول د اوږد قد والاوو په دې وجه دهغوی قمیص برابرشو نورسول الله صلی الله علیه وسلم هغه واخستو او حضرت عباس رضی الله عنه ته ئی واغوستلو

**قوله**: فلذلك نزع النبي صلى الله تعالى عليه وسلم قميصه الذي ألبسه. - هم په دې وجه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم خپل قمیص کوز کړو او عبدالله بن ابی ته ئی واغوستلو مطلب دا چه کله عبدالله بن ابی بن سلول وفات شو نورسول الله صلی الله علیه وسلم خپل قمیص کوز کړو اوهغه ته ئی واغوستلو ځکه چه په جنګ بدرکښې کله حضرت عباس رضی الله عنه قیدیانوسره اونیولې شو نو دهغه په بدن باندې دهغه قمیص ناکافی وو په دې وجه دعبدالله بن ابی نه قمیص واخستلې شو او

---

(۱) کشف الباری: ۶۵۷/۱.

(۲) کشف الباری: ۲۳۸/۱.

(۳) کتاب الوضوء باب صب النبی الوضوء علی المغمی علیه.

(۴) عمدة القاری: ۴۵۷/۱۴.

(۵) عمدة القاری: ۳۵۷/۱۴.

هغه ته ورواغوستلې شو دا په رسول الله ﷺ د عبدالله بن ابی احسان وو د دې بدله حضورپاك داسې وركړه كله چه عبدالله بن ابی مړشو نوحضورپاك خپل قميص هغه ته واغوستو د دې روايت متعلق څه تفصيل كتاب الجنائزكښې هم تيرشوې دې

**د حديث نه مستنبط فوائد:-** ① علامه مهلب رحمه الله فرمائي چه د روايت باب نه معلومه شوه چه قيديانوسره په ښه سلوك سره مخ كيدل پكاردي كله هغه بې لباس وي يا د هغه په تن باندې لباس ناكافي وي نوهغوی ته لباس وركول پكاردي بربنډې نه شي پريخودې خكه چه د مسلمان په شان د غيرمسلم سترته كتل هم ګناه ده (۱)

② لكه څنګه چه په ژوند كښې د چا د احسان بدله په احسان سره وركولې شي په روايت باب كښې د رسول الله ﷺ د طرزعمل نه ثابته شوه چه د مرګ نه پس هم د احسان بدله وركولې شي. (۲)

## باب ۱۴۱: فضل من أسلم على يديه رجل

**د ترجمة الباب مقصد:-** د دې ترجمة الباب نه امام بخاری رحمه الله د هغه سړي فضيلت بيانول غواړي د چا په لاس چه څوك اسلام قبول كړي (۳)

[حديث نمبر ۲۸۴۷] (۴) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدٍ الْقَارِيُّ عَنْ أَبِي حَازِمٍ قَالَ أَخْبَرَنِي سَهْلٌ - رضى الله عنه يَعْنِي ابْنَ سَعْدٍ - قَالَ قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - يَوْمَ خَيْبَرَ «لأُعْطِيَنَّ الرَّايَةَ غَدًا رَجُلاً يُفْتَحُ عَلَى يَدَيْهِ، يُحِبُّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ، وَيُحِبُّهُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ».

فَبَاتَ النَّاسُ لَيْلَتَهُمْ أَيُّهُمْ يُعْطَى فَغَدَوْا كُلُّهُمْ يَرْجُوهُ فَقَالَ «أَيْنَ عَلِيٌّ». فَقِيلَ يَشْتَكِي عَيْنَيْهِ، فَبَصَقَ فِي عَيْنَيْهِ وَدَعَا لَهُ، فَبَرَأَ كَأَنْ لَمْ يَكُنْ بِهِ وَجَعٌ، فَأَعْطَاهُ فَقَالَ أُقَاتِلُهُمْ حَتَّى يَكُونُوا مِثْلَنَا. فَقَالَ « انْفُذْ عَلَى رِسْلِكَ حَتَّى تَنْزِلَ بِسَاحَتِهِمْ، ثُمَّ ادْعُهُمْ إِلَى الإِسْلاَمِ، وَأَخْبِرْهُمْ بِمَا يَجِبُ عَلَيْهِمْ، فَوَاللَّهِ لأَنْ يَهْدِيَ اللَّهُ بِكَ رَجُلاً خَيْرٌ لَكَ مِنْ أَنْ يَكُونَ لَكَ حُمْرُ النَّعَمِ». [ر: ۲۷۸۳]

## رجال الحديث

① **قتيبه بن سعيد:-** دا ابورجاء قتيبه بن سعيد ثقفي رحمه الله دې د دوی حالات كتاب الايمان كښې تيرشوی دی. (۵)

---

۱) شرح ابن بطال:۱۶۶/۵ عمدة القاری: ۳۵۷/۱٤.
۲) شرح ابن بطال:۱۶۶/۵ عمدة القاری: ۳۵۷/۱٤.
۳) عمدة القاری: ۳۵۷/۱٤.
٤) الحديث أخرجه البخاری فی التفسير باب كنتم خير أمة أخرجت للناس رقم: ۷۵۵۷ وأبوداؤد فی الجهاد باب الاسير يوثق رقم:۲۶۷۷.
۵) كشف الباری:۱۸۹/۲.

③ **یعقوب بن عبدالرحمن** - دا یعقوب بن عبدالرحمن بن محمدبن عبدالله بن عبدالقاری القرشی الاسکندرانی رحمه الله دې د دوی حالات وړاندې تیرشوی دی (۱)
④ **ابوحازم** - داابوحازم سلمة بن دینار رحمه الله دې ددوی تذکره هم وړاندې تیره شوې ده
⑤ **سهیل ابن سعد** رضی الله عنه - ددوی حالات هم وړاندې تیرشوی دی (۲) دا روایت هم کتاب الجهاد کښې باب دعاء الرسول صلی الله تعالی علیه وسلم إلی الاسلام والنبوة لاندې په تفصیل سره تیرشوی دی
**ترجمة الباب سره مناسبت** - په حدیث باب کښې دی لان یهدی الله بك رجلا خیرلك من أن یکون لك حمرالنعم په خدائی که ستاسو د وجه نه الله تعالی یوسړی ته هدایت ایمان نصیب کړی نو دا ستاسو د پاره د سرو اوښانو نه زیات بهتردی ترجمة الباب سره ددې مناسبت واضح دې

## باب ۱۴۲: ألاساری فی السلاسل

**د ترجمة الباب مقصد** - شرعًا تعذیب خلق الله حرام دې ځکه چه دا وهم کیدې شو چه قیدی په زنځیرونوکښې تړل د دغه قاعدې لاندې حرام کیدل پکاردی شیخ الحدیث مولانا محمدزکریا رحمه الله فرمائیلی امام بخاری رحمه الله ددې وهم تردیدفرمائیلې دې اوداثی ثابت کړی دی چه قیدیان په زنځیرونو تړل جائزدی اودا خلق الله تعذیب نه دې (۳) هم دغه رائې د امام ابوداؤد رحمه الله هم ده هغه کتاب الجهاد باب الاسیریوثق لاندې ثمامه بن اثال او حارث بن برصاء واقعات نه استدلال کړې دې د حارث بن برصاء د واقعه متعلق د سنن ابی داؤد روایت د حضرت جندب بن مکیث رضی الله عنه نه مروی دې روایت داسې دې بعث رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم عبدالله بن غالب اللیثی فی سریة، وکنت فیهم، وأمرهم أن یشنوا الغارة علی بنی الملوح بالکدید فخرجنا، حتی إذا کنا بالکدید، لقینا الحارث إلی رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم، فقلنا: إن تك مسلما لم یضرك رباطنا یوما ولیلة، وأن تکن غیر ذلك نستوثق منك، فشددناه وثاقا (۴)
حضرت جندب بن مکیث رضی الله عنه وائی رسول الله صلی الله علیه وسلم عبدالله بن غالب رضی الله عنه د ټولګی امیرجوړکړو د بنوالملوح سره د جنګ د پاره اودکدیدمقام طرف ته ئی اولیګلو کله چه مونږ سفرله اووتلو او کدیدمقام ته اورسیدو نوهلته زمونږ ملاقات حارث بن برصاء لیثی سره اوشو مونږ هغه راؤنیولو نوهغه اوونیل چه زه خو هم د اسلام په اراده سره راغلې یم اوپه حقیقت کښې هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې د حاضریدودپاره راوتلې یم مونږ هغه ته اوونیل چه که ته مسلمان شوې نی نو زمونږ ستاد یوې ورځې اویوې شپې دپاره تړل به تاته هیڅ نقصان درنه

---

(۱) کتاب الجهاد باب الخطبة علی المنبر رقم:۹۱۷.
(۲) ابوحازم او سهیل بن سعید دواړو تذکره دپاره اوګورئی کتاب الوضوء باب غسل المرأة أباها الدم عن وجهه رقم:۲٤۳.
(۳) الابواب والتراجم للمحدث زکریا الکاندهلوی ص:۲۰۱.
(٤) سنن أبی داؤد:۲/۷ امدادیه.

كړی اوکه ته اسلام نه وی راوړي نو بيامونږ تا نه اطمينان غواړو. نومونږ هغه اوتړلو
اود ثمامه بن اثال رضی الله عنه سره متعلق د سنن ابوداؤد د روايت راوی حضرت ابوهريره رضی الله عنه دې

روايت دا دې بعث رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم خيلا قبل نجد، فجاءت برجل من بنى حنيفة يقال له ثمامة بن أثال سيد أهل اليمامة فربطوه بسارية من سوارى المسجد، فخرج إليه رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم، فقال: ماذا عندك يا ثمامة؟ قال: عندى يا محمد خير، إن تقتل تقتل ذا دم، وإن تنعم تنعم على شاكر، وإن كنت تريد المال فسل تعط منه ماشئت، فتركه رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم حتى إذا كان الغد، ثم قال له: ماعندك يا ثمامة؟ فأعاد مثل هذا الكلام وفتركه رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم، حتى إذا كان بعد الغد، فذكر مثل هذا، فقال رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم: أطلقوا ثمامة، فانطلق إلى نخل قريب من المسجد، فاغتسل فيه ثم دخل المسجد، فقال: أشهد أن لا إله إلا الله وأشهد أن محمدا عبده ورسوله [1]

حضرت ابوهريره رضی الله عنه فرمائى رسول الله صلى الله عليه وسلم يوتولكي د نجد طرف ته اوليګلو نو هغه سريه د قبيله بنوحنفيه يوسړي اونيولو اوستلو د هغه نوم ثمامه بن اثال وو چه د اهل يمامه سردار وو دې خلقو هغه مدينې ته راوستلو او په مسجد نبوی کښې يوستنې پورې اوتړلو رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه سره تيرشو نوحضورپاك اوفرمائيل ثمامه ستا په ذهن کې څه دی؟ ثمامه عرض اوکړو اې محمد: ماسره خيردې (يعنى د اسلام راوړلو اراده ده) که چرې تاسو ماقتل کړې نو تاسو به يوداسې سړې قتل کړنې چه ذودم دې که تاسو په ما باندې انعام کونې نو تاسو به په يوداسې سړى باندې انعام اوفرمائيئ چه ستاسو شکرګذار به وی که تاسو مال غواړئ نو چه څومره غواړئ درکولې به شي حضورپاك هغه پريخودو اولاړو په صباله هم دغه سوال جواب اوشو نو حضورپاك اوفرمائيل ثمامه پريږدئ ثمامه د هتکړو نه خلاصيدو سره جمات سره نيژدې يو باغ ته لاړو چرته چه اوبه وې هلته ئې غسل اوکړو اوبيا جمات ته راغلو کله شهادت ئې اوونيله امام ابوداؤد رحمه الله د دې دواړو رواياتونه ربط الاسير په جواز باندې استدلال کړې دې

احديث نمبر ۲۸۴۸] [2] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ زِيَادٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه - عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ « عَجِبَ اللَّهُ مِنْ قَوْمٍ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ فِي السَّلاَسِلِ ».

## رجال الحديث

① **محمدبن بشار** دا محمدبن بشار عبدی بصری رحمه الله دې د دوی تذکره کتاب العلم باب العلم قبل القول والعمل لاندې تيره شوې ده [3]

---

[1] ) سنن أبى داؤد:۷/۱ – ۸ باب الاثير يوثق.

[2] ) أخرجه البخارى أيضا: ۶۵۷/۲فى كتاب تفسير باب كنتم خير أمة أخرجت للناس رقم: ۵۸۸۷ وعند أبى داؤد فى سننه:۷/۲ فى كتاب الجهاد باب الاسير يوثق رقم:۲۶۷۷.

[3] ) كشف البارى:۲۵۸/۳.

② **غندر**:- داابوعبدالله محمد بن جعفر هذلی دې دَ غندر په لقب سره مشهوردې دَدوی حالات کتاب الایمان باب ظلم دون ظلم لاندې تیرشوی دی [1]

③ **شعبه**:- دا شعبه بن الحجاج واسطی بصری رحمه الله دې دَ دوی حالات کتاب الایمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده لاندې وړاندې تیرشوی دی [2]

④ **محمدبن زیاد**:- دا ابوالحرث محمدبن زیاد حجمی مدنی رحمه الله دې دَدوی تذکره وړاندې تیره شوې ده [3]

⑤ **ابوهریرة** رضی الله عنه:- دَ دوی تفصیلی حالات کتاب الایمان باب أمورالایمان لاندې تیرشوی دی کشف الباري: ۶۵۹/۱.

**قوله: عجب الله من قوم یدخلون الجنة في السلاسل**:- الله تعالی په داسې قوم باندې تعجب اوفرمائیلو چه په زنځیرونو کښې تړلې به جنت کښې داخلیږی تعجب دَلته دَ رضا أوخوشحالئی په معنی کښې دې اومطلب دادې چه دَ داسې خلقو نه به الله تعالی راضی اوخوشحاله وی چه په زنځیرونوکښې تړلې شوی جنت ته داخلیږی دَ حدیث اکثر شارحینو وئیلی دی چه دې نه هغه کافران مراد دی کوم چه مسلمانانو قیدیان جوړکړی په زنځیرونوتړلې دارالاسلام ته راوستې دی اوهم په دغه حال کښې هغوی مسلمانان شوی دی دَ جنت نه مراد بعض خلقو اسلام مراد اخستې دې ځکه چه اسلام دَ جنت دَداخلیدو سبب دې په دې وجه علی سبیل المجاز سبب وئیلوسره مسبب مرادواخستلې شو [4]

علامه ابن جوزی رحمه الله وضع سلاسل په مجازباندې محمول کولوسره وئیلی دی "یدخلون الجنة فی السلاسل" مطلب دا نه دې چه هغه خلق به په زنځیرونوکښې تړلې شوې اسلام کښې داخلیږی بلکه دا دَاکراه نه کنایه ده اومطلب دادې چه هغه خلق قیدی جوړیدوسره دارالاسلام ته راوستې شی خوچه کله دَ اسلام دَ حقانیت معترف کیږی نو په خپله خوشحالئی به په اسلام کښې داخلیږی [5]

علامه کرمانی رحمه الله اودَهغوی په اتباع کښې علامه برماوی رحمه الله فرمائیلی چه دَ قوم نه دَلته هغه مسلمانان قیدیان هم مراد کیدې شی چه کافرانوسره په زنځیرونوکښې تړلې وی او بیا په تړلوکښې وفات شی یاقتل کړې شی نو دَ حشر په ورځ به هغوی هم دغه شان راوچتولې شی. دَ داسې خلقو جنت کښې داخلیدل یقینی دی په دې وجه په حدیث کښې دَ حشر په ورځ راوچتیدلوتعبیر دخول جنت سره اوکړې شو [6]

---

[1] ) کشف الباری: ۲/۲۵۰ — ۲۵۱.

[2] ) کشف الباری: ۶۷۸/۱.

[3] ) کتاب الوضوء باب غسل الاعقاب.

[4] ) عمدة القاری: ۴۸۲/۶ إرشاد الساری: ۴۸۲/۶.

[5] ) فتح الباری: ۱۷۹/۶ وإرشاد الساری: ۴۸۲/۶.

[6] ) شرح الکرمانی: ۲۲/۱۳ عمدة القاری: ۳۵۸/۱۵ إرشاد الساری: ۴۸۲/۶.

خلاصه دا چه د دې حضراتو په نیز "یدخلون الجنة فی السلاسل" حشر نه کنایه ده
لیکن علامه عینی رحمه الله فرمائیلی دی چه د کرمانی داتوجیه د مجاز د قبیل نه ده کله چه لفظ جنت د هغې په حقیقی معنی محمول کولې شی نودا په مجاز باندې د محمول کولوځه ضرورت دې اوځه مانع هم نشته چه د جنت نه دلته مصداق حقیقی مراد وی او یدخلون الجنة فی السلاسل تقدیر وی یدخلون الجنة، وکانوافی الدنیافی السلاسل. (۱)
علامه طیبی رحمه الله فرمائی دلته د سلاسل نه مراد د جذب هغه کیفیت دې چه د الله تعالی منتخب بندیگان د ضلالت نه هدایت طرف ته راکاږی او د قعرمذلت نه ښکته پریوتلو نه درجات عالیه طرف پورته راکاږی. ښکاره خبره ده چه د دې توجیه په صورت کښې د حدیث الفاظ په حقیقت باندې محمول نه دی په دې وجه حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه عینی رحمه الله فرمائیلی دی چه د علامه طیبی رحمه الله دا توجیه هم د مجاز د قبیل نه ده (۲) حقیقت دادې چه لفظ جنت نه دلته حقیقی معنی مراد اخستل راجح دی لکه چه د علامه عینی رحمه الله رائې ده اود دې جملې مطلب دادې چه کله کافران مسلمانان په میدان جهاد کښې راګیرکړی او په زنځیرونو کښې اوتړی او قتل ئی کړی نوهغوی به هم په هغه حال کښې جنت ته داخلولې شی دابه د هغوی د پاره د اعزاز سبب وی چه هغوی داسې تکلیفونه او سختئی برداشت کولـو ره د الله تعالی په لار کښې خپل ځان قربانی کړو والله اعلم
دغه شان وضع سلاسل هم په حقیقت باندې محمول دې. هم دغه رائې د حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه قسطلانی رحمه الله هم ده. د حافظ ابن جوزی رحمه الله په نیزدې نه اکراه اوعلامه طیبی رحمه الله په نیزد دې نه د جذب کیفیت مراددې. دا صحیح نه ده. حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه قسطلانی رحمه الله فرمائیلی دی چه وړاندې په کتاب التفسیرکښې حضرت ابوهریره رضی الله عنه روایت نه د دې تائیدکیږی چه وضع سلاسل په حقیقت باندې محمول دې. حضرت ابوهریره رضی الله عنه د ﴿كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ﴾ تفسیر داسې کړې دې. خیرالناس للناس یاتون بهم في السلاسل في أعناقهم حتى یدخلوا في الاسلام. (۳)
حافظ ابن حجر رحمه الله د یوبل روایت نه هم استدلال کړې دې چه د ابوالطفیل رضی الله عنه د طریق نه امام بخاری رحمه الله مرفوعاً نقل کړې دې. روایت دادې: رایت ناسا من امتی یساقون إلی الجنة فی السلاسل کرهًا، قلت یارسول الله من هم؟ قال: قوم من العجم یسبیهم المهاجرون فیدخولنهم فی الاسلام مکرهین. (۴)
**ترجمة الباب سره مناسبت:-** علامه ابن منیر رحمه الله فرمائی که د روایت نه حقیقتًا وضع سلاسل مرادوی نوبیاخو ترجمة الباب سره د دې مناسبت ښکاره دې. ځوکه دا په حقیقت باندې

۱) عمدة القاری ۱۵/۳۵۸.
۲) فتح الباری:۶/۱۷۹ عمدة القاری:۱۵/۳۵۸.
۳) صحیح بخاری:۲/۶۵۴ کتاب التفسیر باب کنتم خیرأمة أخرجت للناس رقم:۵۸۸۷.
۴) فتح الباری:۶/۱۷۱.

محمول نه وی بلکه دَ اکراه نه کنایه وی نو بیابه په دواړو کښې هیڅ مناسبت نه وی ان کان المراد حقیقة وضع السلاسل فی الاعناق فالترجمة مطابقة، وان کان المراد المجاز عن الاکراه فلیست مطابقة (۱) خو علامه قسطلانی رحمه الله فرمائیلی دی چه دا هم په حقیقت باندې محمول دې اودَې تائید دَ سورت آل عمران آیت ﴿كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ﴾ لاندې دَ حضرت ابوهریره رضی الله عنه ددې قول نه کیږی خیر الناس للناس یأتون بهم فی السلاسل مکرهین (۲) لهذا په ترجمة الباب اوحدیث کښې مناسبت موجود دې

## باب ۱۴۳: فضل من أسلم من أهل الكتابين

**دَ ترجمة الباب مقصد** - اهل کتابین یعنی یهوداونصاری کتابین تثنیه ده اودَې نه تورات او انجیل مراددي دَ ترجمة الباب مقصد دادې که چرې یهوداونصاری ایمان راوړی نودوی ته به دوچنده ثواب ملاویږی

احدیث نمبر ۲۸۴۹ [(۳) حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ حَدَّثَنَا صَالِحُ بْنُ حَيٍّ أَبُو حَسَنٍ قَالَ سَمِعْتُ الشَّعْبِيَّ يَقُولُ حَدَّثَنِي أَبُو بُرْدَةَ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَاهُ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «ثَلاَثَةٌ يُؤْتَوْنَ أَجْرَهُمْ مَرَّتَيْنِ الرَّجُلُ تَكُونُ لَهُ الأَمَةُ فَيُعَلِّمُهَا فَيُحْسِنُ تَعْلِيمَهَا، وَيُؤَدِّبُهَا فَيُحْسِنُ أَدَبَهَا، ثُمَّ يُعْتِقُهَا فَيَتَزَوَّجُهَا، فَلَهُ أَجْرَانِ، وَمُؤْمِنُ أَهْلِ الْكِتَابِ الَّذِي كَانَ مُؤْمِنًا، ثُمَّ آمَنَ بِالنَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- فَلَهُ أَجْرَانِ، وَالْعَبْدُ الَّذِي يُؤَدِّي حَقَّ اللَّهِ وَيَنْصَحُ لِسَيِّدِهِ». ثُمَّ قَالَ الشَّعْبِيُّ وَأَعْطَيْتُكَهَا بِغَيْرِ شَيْءٍ وَقَدْ كَانَ الرَّجُلُ يَرْحَلُ فِي أَهْوَنَ مِنْهَا إِلَى الْمَدِينَةِ. [ر: ۹۷]

## رجال الحدیث

① **علی بن عبدالله** - داعلی بن عبدالله بن جعفر ابن المدینی رحمه الله دې دَدوی حالات کتاب العلم باب الفهم فی العلم لاندې مخکښې تیرشوی دی (۴)

② **سفیان** - داابومحمد سفیان بن عیینه الکوفی دې دَدوی حالات کتاب العلم باب قول المحدث حدثنا أو أخبرنا وأنبانا لاندې تیرشوی دی (۵)

③ **صالح بن حي ابوالحسن** - داصالح بن صالح بن حیان ثوری همدانی رحمه الله دې دَدوی حالات کتاب العلم باب تعلیم الرجل امته واهله لاندې مخکښې تیرشوی دی (۶)

---

(۱) فتح الباری: ۶/ ۱۷۹ إرشاد الساری: ۶/ ۴۸۲.
(۲) إرشاد الساری: ۶/ ۴۸۲.
(۳) قدمر تخرجه الحدیث فی کتاب العلم باب تعلیم الرجل أمته وأهله.
(۴) کشف الباری: ۳/ ۲۹۷.
(۵) کشف الباری: ۳/ ۱۰۲ – ۱۰۶.
(۶) کشف الباری: ۳/ ۵۹۳.

⑭ **شعبی** دا ابوعمرو عامر بن شراحیل شعبی کوفی رحمه الله دې دَدوی حالات کتاب الایمان باب امور الایمان لاندې تیرشوی دی (۱)

⑮ **ابوبرده** - دا عامر یاحارث بن موسی اشعری رضی الله عنه دې دَدوی حالات کتاب الایمان باب اي الاسلام افضل لاندې تیرشوی دی (۲)

⑯ **انه سمع اباه** - ددې نه دَ ابوبرده پلار حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه مراد دې دَ دوی حالات بدء الوحی لاندې تیرشوی دی (۳)

**ثلثة یؤتون أجرهم مرتین: الرجل تکون له الامة، فیعلمها فیحسن تعلیمها، ویؤد بها فیحسن أدبها، ثم یعتقها فیتزوجها، فله أجران** دَ ثلاثه تقدیرعبارت دې ثلاثه من الرجال دا مبتداء دې یؤتون أجرهم مرتین ددې خبردې الرجل دا دَ مرفوع لوستلو په حالت کښې دوه صورتونه دی یاخو دَ ثلاثة نه بدل واقع وی یا بیا مبتداء محذوف خبروی او تقدیرعبارت وی أولهم الرجل (۴) په روایت کښې دی چه دریو سړوته به دوه چنده ثواب ملاویږی یوهغه سړې چه دَهغه وینځه وی اوهغه دې ته تعلیم ورکړو اوپه ښه شان سره ئې ورته تعلیم ورکړو هغه دې ته ادب اوخودلو او په ښه شان سره ئې ورته اوخودلو بیائې هغه آزاده کړه اوبیائې هغې سره نکاح اوکړه نوده ته به دوچنده اجرملاویږی

علامه کرمانی رحمه الله فرمائیلی چه دَتعلیم تعلق شرعی امورو سره دې اودَتادیب تعلق دَ دنیا امورو سره دې (۵) مطلب دادې چه دَاحکام آخرت تعلیم ئې هم ورکړو او دَ دنیا دَ اوسیدو تګ راتګ اوتهذیب اوتمدن طور طریقې ئې ورته هم اوخودلې اوبیائې آزاده کړه اوهغې سره نکاح اوکړه نوده ته به ډبل ثواب ملاویږی رق اوحریت دوه متنافي امور دی دَ هرو دواړو جدا جدا تقاضې دی په دې لحاظ به دَهغه سړی ته ډبل اجرملاویږی (۶) علامه قسطلانی رحمه الله فرمانی دَ اجران نه اعتاق او تزویج مراد دې یعنی یواجر دَ وینځې په آزادولو او دویم اجرهغې سره په نکاح کولو (۷)

**ومومن أهل الکتاب الذی، کان مؤمنا، ثم آمن بالنبی صلی الله تعالی علیه وسلم فله أجران** دویم مومن اهل کتاب چه دَ اول نه (په خپل پیغمبرباندې) ایمان لرلو بیائې په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې ایمان راوړلو نوده ته به هم دوچنده اجرملاویږی

**دَ اهل کتاب مصداق** - اهل کتاب نه عموما یهود اونصاری مراددی خودلته ابوعبدالملک رحمه الله

---

۱) کشف الباری: ۱/۶۷۹.
۲) کشف الباری: ۱/۶۹۰.
۳) کشف الباری: ۱/۲۹۰.
۴) إرشاد الساری: ۶/۴۸۳.
۵) شرح الکرمانی: ۲/۸۹.
۶) شرح الکرمانی: ۲/۸۹.
۷) إرشا الساری: ۶/۴۸۶.

او علامه توریشتی رحمه الله فرمائی چه دې نه صرف عیسایان مراد دی. هم دغه روایت په دویم طریق سره وړاندې امام بخاری رحمه الله کتاب احادیث الانبیاء لاندې هم نقل کړې دې په هغې کښې دا الفاظ هم وارد دی: وإذا آمن بعیسیٰ ثم آمن بی (۱) د دغه حضراتو استدلال د روایت هم دغه الفاظ دی په کوم کښې چه په عیسی علیه السلام او بیا په رسول اکرم ﷺ باندې د ایمان راوړلو تصریح ده. دویم دلیل دادې چه یهودیت د عیسائیت د وجه نه منسوخ شوې دې په منسوخ دین باندې ایمان راوړل نافع نه دی لهذا په روایت باب کښې د اهل کتاب نه هم عیسایان مراد دی (۲)

علامه طیبی علامه کرمانی حافظ ابن حجر اوملاعلی قاری رحمهم الله فرمائی د اهل کتاب نه دلته یهود او نصاریٰ دواړه مراد دی. (۳) ځکه چه په کتاب او سنت کښې د اهل کتاب اطلاق په یهودو اونصاریٰ دواړوباندې کیږی. پخپله د امام بخاری رحمه الله رحجان هم دغه دې په کتاب الباب کښې کتابین تثنیه واردشوې ده د باب لاندې چه کوم روایت امام صاحب نقل کړې دې "ومؤمن أهل الکتاب الذی کان مؤمنا ثم آمن بالنبی فله أجران" د دې نه معلومیږی چه پخپله هم د هغوی په نیز هم روایت باب کښې د اهل کتاب مصداق یهود او نصاریٰ دواړه دی او هم په دې وجه په ترجمة الباب کښې د تثنیه صیغه راوړلې شوه که چرې په روایت کښې د اهل کتاب نه د هغوی په نیزصرف عیسایان مرادوې نو په ځائی د تثنیه به د مفردصیغه ذکرکولې شوه. والله اعلم.

**دفله أجران مطلب** - دادې چه د رسول الله ﷺ د بعثت نه وړاندې یابیا د بعثت نه روستو اهل کتاب ته چه ترکومې پورې د رسالت پیغام نه وو ملاؤشوې په حضرت عیسی علیه السلام باندې ایمان لرلو اود یونبی تکذیب ئی نه دې کړې. چه کله رسول الله ﷺ مبعوث کړې شو نو په هغوی باندې ئی ایمان راوړو. په دې وجه اوفرمائیلې شوچه دوی ته به ډبل ثواب ملاویږی

**ثم قال الشعبی: وأعطیتکها بغیرشئ وقدکان الرجل یرحل فی أهون منها إلی المدینة:** بیا شعبی رحمه الله اوفرمائیل چه مونږ تاسو ته دا روایت مفت درکړې دې. سره د دې چه وړاندې به سړی د دې نه هم د کم دپاره د مدینې سفرکولو. په یوروایت کښې وأعطیتکها په ځائی صیغه د استقبال سره وأعطیکها وارد شوې دې (۴) دلته په ظاهره د عامرشعبی رحمه الله دخبرې انداز خطاب د صالح طرف ته دې علامه کرمانی رحمه الله هم صالح د شعبی شاګرد ګرځولوسره هم په هغه باندې جزم کړې دې (۵)

لیکن حقیقت دادې چه دلته خطاب د صالح طرف ته نه دې بلکه د یوخراسانی سړی طرف ته دې هم د صحیح بخاری یو روایت کښې پخپله صالح تصریح کړې ده.

---

(۱) صحیح بخاری: ۴۹۰/۱ کتاب أحادیث الانبیاء باب واذکر فی الکتاب مریم.... رقم: ۳۴۴۶.

(۲) فتح الباری: ۱۹/۱.

(۳) شرح للطیبی: ۱۲۶/۱ شرح الکرمانی: ۸۸/۲ فتح الباری: ۱۹۱/۱ المرقاة: ۷۸/۱.

(۴) عمدة القاری: ۳۵۹/۱۴.

(۵) شرح الکرمانی: ۹۰/۲.

ان رجلا من أهل خراسان قال للشعبى فقال الشعبى أخبرنا أبوبردة عن أبى موسىٰ رضى الله عنه [١]

**فائده** - علامه عينى رحمه الله فرمائى چه په دې كلام سره د امام شعبى رحمه الله غرض طلب علم حرص اوجذبه پيدا كول مقصود دى خصوصا چه معلم حاضر وى [٢]، مطلب دا چه كله معلم موجود وى نو دغه موقع غنيمت اوګڼړلو سره د معلم نه استفاده كول پكار دى

## باب ۱۴۴: أهل الدار يبيتون، فيصاب الولدان والدرارى

بَيَاتًا (الاعراف: ۴) لَيْلاً (لَنُبَيِّتَنَّهُ) (النمل: ۴۹) لَيْلاً، (يُبَيِّتُ) (النساء: ۸۱) لَيْلاً.

**حل لغات** أهل الدار - دې نه اهل حرب مراد دى. **يبيتون** دا تبييت باب تفعيل نه د مجهول صيغه ده بيت العدو معنى ده په دښمن باندې د غفلت په وخت ناڅاپى حمله كول يلغار كول د تبييت معنى د نيت كولو د شپې غوراوفكر كول هم راځى [٣]، د سنن نسائى په يو روايت كښې دى لاصيام لمن لم يبيت الصيام [٤] **الولدان**: د فعيل په ځائى د وليد جمع ده د دې معنى ده نوې پيدا شوې ماشوم يا غلام [٥] د مؤنث د پاره وليدة استعماليږى د دې جمع ولائد ده [٦]، علامه ابن اثير رحمه الله فرمائى وقد تطلق الوليدة على الجارية والامة، وإن كانت كبيرة. [٧] د وليد د اطلاق په نوكرو او وينځه باندې كبيرى سره د دې كه هغه د زيات عمر وى. **الذرارى**: د ياپه تشديد سره د ذرية جمع ده په معنى د انسانى نسل ښځې اوسړى دواړه شامل دى د دې اصل ذرئة دى عربو به دا هم غيرمهموز استعمالولو په دې وجه د تخفيف د وجه نه همزه حذف كړې شو [٨] يو قول دا دى چه د دې اصل ذر دې د دې معنى د تفريق اوخوريدو ده انسانى نسل هم الله تعالى په مخ د زمكې خور كړو په دې وجه دې ته ذرية وائى [٩]

**د ترجمة الباب مقصد** - د امام بخارى رحمه الله مقصد دا دې چه په كافرانو باندې د شپې په وخت په بې خبرئې كښې ناڅاپى حمله كول جائز دى كه تبعًا ښځې اوماشومان قتل شى نو دا معفو عنه دې خو قصداً د دوى قتل كول جائز نه دى. امام بخارى رحمه الله باب قايم كړې دې أهل الدار يبيتون

---

[١] صحيح البخارى: ۱/ ۴۹۰ كتاب أحاديث الانبياء باب واذكر فى الكتاب مريم.... رقم: ۳۴۴۶.

[٢] عمدة القارى: ۱۴/ ۳۵۹.

[٣] النهاية لابن الاثير: ۱/ ۱۷۲.

[٤] سنن النسائى كتاب الصيام باب ذكر اختلاف النافلين رقم: ۲۳۳ وأخرجه الدارمى فى كتاب الصوم باب من لم يجمع الصيام: حديث: ۲/ ۷.

[٥] النهاية لابن الاثير: ۲/ ۸۷۸ والقاموس الوحيد ص: ۱۷۹۷ مادة: ولد.

[٦] النهاية لابن الاثير: ۲/ ۷۸۹.

[٧] النهاية لابن اثير: ۲/ ۷۸۹.

[٨] النهاية: ۱/ ۶۰۲ قال ابن الاثير رحمه الله الذرية اسم يجمع نسل الانسان من ذكر وأنثى. وأصلها الهمز. وتجمع على ذريات وذرارى مشددًا.

[٩] النهاية: ۱/ ۶۰۲.

فیصاب الوالدان والذراری. شارحینو ونیلی چه دلته عبارت محذوف دې تقدیرعبارت دې هل یجوز ذلك أم لا؟ یعنی په اهل حرب باندې اچانك حمله اوکړې شی اوددې په نتیجه کښې ماشومان اوښځې هلاك شی نودا جائزدی که نه؟ ددې مسئلې حکم په حدیث باب کښې تصریح سره د راغلې دې په دې وجه امام بخاری رحمه الله ترجمة الباب کښې تصریح نه ده کړې (۱).

بیاتا لیلا دَ امام بخاری رحمه الله عادت دې چه دَحدیث څه لفظ د قرآن مجیدپه آیت کښې واردشوی لفظ سره دَ یوې معنې وی نودهغې تفسیر هم په هغه آیت کښې واردشوی لفظ سره کوی (۲) دَ خپل عادت مطابق دلته هم امام بخاری رحمه الله هم داسې کړی دی چه د بیاتا تفسیر لیلا سره کړې ددې دَپاره چه دَ قرآن مجید په کومو آیاتونوکښې دا مادہ وارد دہ هغه هم دَ لیل په معنی کښې استعمال شوې ده په حدیث باب کښې لفظ یبیتون واردشوې دې دلته امام بخاری رحمه الله دَ قرآن مجیددرې آیاتونه نقل کړی دی چه لفظ یبیتون کښې دَ حدیث باب موافق دی بیاتا نه دَ سورت اعراف آیت ﴿ وَكَم مِّن قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا فَجَاءَهَا بَأْسُنَا بَيَاتًا أَوْ هُمْ قَائِلُونَ ﴾ (۳) مراد دی (۴) دَ آیت ترجمه ده څومره کلی مونږ هلاك کړی دی په کومو چه زمونږ عذاب دَ شپې راغلو یاپه داسې حالت کښې چه دَ غرمې اوده کیدونکی وو

**دَعلامه ابن منیر رحمه الله تسامح** - علامه ابن منیر رحمه الله بیاتا په ځائې نیاما نقل کړې دې دَدوی په نیز دَترجمة الباب عبارت داسې دې. فیصاب الولدان والذراری نیامًا لیلا. دَدوی خیال دې چه نیاما لیلا الفاظ هم دَ ترجمة الباب حصه ده په امام بخاری رحمه الله باندې اعتراض کولو سره علامه ابن منیر رحمه الله وائی داعجیبه خبره ده چه امام بخاری رحمه الله په ترجمه کښې نیاما اضافه کړې ده حالانکه په حدیث باب کښې دَ نیاما تصریح نشته سره ددې چه ضمنًا ذکرئې راغلې دې ښکاره خبره ده چه تبییت یعنی دَ شپې دَ حملې په وخت اکثرخلق اوده وی نولکه چه دَ نیم ذکردَ یبیتون په ضمن کښې راغلو خودَ نوم قیدلګولو آخرڅه ضرورت وو؟ مشرکان که نیام یعنی اوده کیږی یا أیقاظ یعنی ویښیږی په دواړو صورتونو کښې په هغوی باندې دَ حمله کولو هم یوحکم دې. نودَ تقییدبالنوم هډوضرورت نشته

خلاصه دا چه علامه ابن منیر رحمه الله نه دلته دوه هیرې شوی یودا چه هغه دَ بیاتاپه ځائې نیاما نقل کړې دې حالانکه صحیح هم بیاتادې یاخوداپخپله دَهغه تصحیف دې یا بیادا چه هغه سره د صحیح بخاری کومه نسخه وه هغه مصحف وو. دویمه هیره دَهغه نه داشوې چه هغه

---

(۱) فتح الباری: ۶/۱۸۱ وعمدة القاری: ۱۴/۳۵۹ وإرشاد الساری: ۶/۴۸۵.
(۲) فتح الباری: ۶/۱۸۱.
(۳) سورة اعراف: ۴.
(۴) إرشادالساری: ۶/۴۸۵.

بیاتا لیلا د ترجمه جز کنړلې حالانکه دا د ترجمة الباب جزنه دې بلکه د قرآن آیت دې [۱]
علامه ابن منیر رحمه الله ددې دا جواب ورکړې دې چه د په وینبه مقابله کښې د خوب په حالت کښې حمله کول اوناڅاپي حمله کول په دهوکه اوفریب کښې راځي په دې وجه د نیاما نه امام بخاری رحمه الله ددې د جواز طرف ته اشاره کړې ده چه د خوب په حالت کښې خو حمله کول د دهوکې په ذیل کښې راځي ولې دا سې کولو کښې هیڅ حرج او بدیت نشته [۲]
لنبیتنه دې نه د سورت نمل آیت ﴿ قَالُوْا تَقَاسَمُوْا بِاللّٰهِ لَنُبَيِّتَنَّهٗ وَاَهْلَهٗ ثُمَّ لَنَقُوْلَنَّ لِوَلِيِّهٖ مَا شَهِدْنَا مَهْلِكَ اَهْلِهٖ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴾ [۳] مراددې د آیت ترجمه ده هغوی اووئیل په خپل مینځ کښې په الله باندې قسم اوخورئي چه صالح اودهغه په کوروالا باندې حمله اوکړئي بیا د هغه وارث ته اووائي چه مونږ د هغې د خاندان د هلاکت په وخت موجودنه وو اوبیشکه مونږ رښتونی یو
د ابوذر په روایت کښې دالفظ دغه شان بغیرد اضافه دې خو بیا هم په نورو نسخو کښې دی لنبیتنه لیلاً په دې کښې د لیلا اضافه هم ده [۴]
بیت - دې نه د سورت نساء آیت ﴿ بَيَّتَ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ غَيْرَ الَّذِيْ تَقُوْلُ ﴾ [۵] مراد دې [۶] د آیت ترجمه ده نود هغوی نه یوه ډله د شپې راجمع کیدوسره ستا د خبر وخلاف مشوره کوی

احدیث نمبر ۲۸۵۰ [۷] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ الصَّعْبِ بْنِ جَثَّامَةَ رضي الله عنهم قَالَ مَرَّ بِي النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم بِالْأَبْوَاءِ - أَوْ بِوَدَّانَ - وَسُئِلَ عَنْ أَهْلِ الدَّارِ يُبَيَّتُونَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ، فَيُصَابُ مِنْ نِسَائِهِمْ وَذَرَارِيِّهِمْ قَالَ «هُمْ مِنْهُمْ» وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ «لَا حِمَى إِلَّا لِلّٰهِ وَلِرَسُولِهِ صلى الله عليه وسلم».

---

[۱]) عمدة القاري: ۱۴/ ۳۶۰.
[۲]) قال العيني رحمه الله وقال بعض الشراح. موضع بياتًا. نياما. بنون وميم. من النوم وجعل هذه اللفظة من الترجمة. فقال: والعجب لزيادته في الترجمة نياما. وماهو في الحديث إلاضمنا. لان الغالب أنهم إذا أوقع بهم في الليل لم يخلوا من نائم. وما الحاجة إلى كونهم نياما أو أيقاظ وهما سواء؟ وكان هذا القائل وقعت له نسخة مصحفة أو تحصف عليه: بيا بنيامًا. عمدة القاري: ۱۴/ ۳۶۰.
وقال الحافظ ابن حجر رحمه الله وأغرب ابن المنير فصحف بياتًا فجعلها نياما بنون وميم ن النوم فصارت هكذا: فيصاب الولدان والذراري نياماليلا. ثم تعقبه فقال: الجعب من زيادته في الترجمة نياما وما هو في الحديث الا ضمنا. إلا أن الغالب أنهم إذا وقع بهم ليلا كان أكثر هم نيامًا. ولكن ماالحاجة إلى التقييد بالنوم. والحكم سواء نياما كانوا أو أيقاظًا؟ إلا أن يقال:إن قتلهم نيامًا أدخل في الاغتيال من كونهم أيقاظا. فنبه على جواز ذلک غانتهى. وقدصحف ثم تكلف. فتح الباري: ۶/ ۱۸۱.
[۳]) سورة النمل: ۴۹.
[۴]) فتح الباري: ۶/ ۱۸۱.
[۵]) سورة النساء: ۸۱.
[۶]) فتح الباري: ۶/ ۱۸۱.
[۷]) مرتخرجه الحديث في كتاب المساقاة. باب لايحمى إلا الله ولرسوله صلى الله تعالى عيه وسلم رقم: ۲۳۷۰

وَعَنِ الزُّهْرِيِّ أَنَّهُ سَمِعَ عُبَيْدَ اللَّهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدَّثَنَا الصَّعْبُ فِي الذَّرَارِيِّ كَانَ عَمْرٌو يُحَدِّثُنَا عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فَسَمِعْنَاهُ مِنَ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ الصَّعْبِ قَالَ «هُمْ مِنْهُمْ» وَلَمْ يَقُلْ كَمَا قَالَ عَمْرٌو «هُمْ مِنْ آبَائِهِمْ». [ر: ۲۲۴۱]

## رجال الحدیث

① **علی بن عبدالله** - داعلی بن عبدالله بن جعفربن نجیح سعدی بصری رحمه الله دی. د دوی حالات کتاب العلم باب الفهم فی العلم لاندې مخکې تیرشوی دی.[1]

② **سفیان** - داابومحمدسفیان بن عیینه الکوفی دی. د دوی حالات کتاب العلم باب قول المحدث حدثنا أو أخبرنا وأنبانا لاندې تیرشوی دی.[2]

③ **زهری** - دامشهورمحدث عبدالله بن شهاب زهری رحمه الله دی. د دوی حالات بدء الوحی لاندې تیرشوی دی.[3]

④ **عبیدالله** - دا عبیدالله بن عبدالله بن عتبه بن مسعود رحمه الله دی. د دوی حالات هم بدء الوحی لاندې تیرشوی دی.[4]

⑤ **ابن عباس** رضی الله عنهما - دامشهورصحابی رسول ﷺ حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما دی. د دوی حالات هم بدء الوحی لاندې تیرشوی دی.[5]

⑥ **صعب بن جثامه** - داصحابی رسول ﷺ حضرت صعب بن جثامه لیثی رضی الله عنه دی. د دوی حالات وړاندې تیرشوی دی.[6]

**قوله**: مربی النبی صلی الله تعالی علیه وسلم بالابواء - أوودان . لفظ او دلته: شک دپاره دې راوی ته یاد نه دی په دې وجه ئې د شک اظهار کړې دې چه رسول الله ﷺ ابواء یا ودان کښې ماسره تیرشو.

أبواء - ابواء فُرع (د فاء ضمه او راء سکون سره) زیرانتظام یوه علاقه وه.[7] لکه چه د ضلع تحصیل وی اوهغه په انتظامی توګه باندې د ضلع ماتحت وی. دا د مدینې منورې مضافات

---

[1] ) کشف الباری: ۳/۲۰۲.

[2] ) کشف الباری: ۳/۱۰۲.

[3] ) کشف الباری: ۱/۳۲۶.

[4] ) کشف الباری: ۱/۴۶۶.

[5] ) کشف الباری: ۱/۴۳۵.

[6] ) کتاب جزاء الصید، باب إذا أهدی للمحرم حمارا وحشیا لم یقبل.

[7] ) معجم البلدان للحموی: ۴/۲۵۲.

كښې يوه كولاؤ او مالدار كلي وو انصارقريش اومزينه دلته آبادوو [١] فرع كښې ربض او نجف په نوم باندې دوه چينې وې ياقوت حموى ليكى په دې سره به شل زره دَ كهجورو ونې خړوب كيدې [٢]

دَ تبوأ المكان وبه- معنى ده حصاريدل، مقيم كيدل خائى جوړول [٣] چونكه په دې مقام باندې به دَ سيلاب اوبه حصاريدې او جمع كيدې په دې وجه ددې نوم ابواء شو [٤] دَ رسول الله ﷺ دَ مورښې بى انتقال هم په دې مقام شوې وو [٥]

ودان:- ودان دَ يولوئى كلى نوم دې چه دَ ابواء نه اته ميله فاصله باندې واقع دې داهم دَ فرع زيرانتظام وو [٦]

**قوله**: فسئل عن أهل الدار يبيتون من المشركين فيصاب من نسائهم وذراريهم، قال: هم منهم:- دَ رسول الله ﷺ نه دَ اهل حرب دَ مشركينو باره كښې تپوس اوكړې شو چه په هغوى باندې حمله اوكړې شى نودَهغوى ماشومان اوښځې به هم هلاك شى مطلب ئى دا وو چه ددې څه حكم دې. رسول الله ﷺ اوفرمائيل ښځې اوماشومان هم دَهغوى نه دى.

فسئل:- دَ رسول اكرم ﷺ نه سوال كونكې څوك وو؟ حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه اول زه دَهغه دَ نوم نه واقف نه ووم بيا په صحيح ابن حبان كښې ماته دَ محمدبن عمرو بن الزهرى په طريق سره دَصعب بن جثامه دا روايت ملاؤشو په كوم كښې چه هغه وائى: سئلت رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم عن أولاد المشركين أنقتلهم معهم؟ قال نعم. [٧] ما دَ رسول اكرم ﷺ نه دَمشركانودَ بچو باره كښې پوښتنه اوكړه چه مشركانوسره دَهغوى بچى هم مونږ قتل كولى شو؟ حضورپاك اوفرمائيل اوقتل كولې شئى. ددې روايت نه معلومه شوه چه راوى پخپله سوال كونكې دې.[٨]

**هم منهم مطلب**:- رسول الله ﷺ اوفرمائيل ښځې اوماشومان هم دَهغوى نه دى. ددې مطلب هيڅ كله دانه دې چه ښځې اوماشومان په طريقه دَ قصد سره قتل كول مباح او جائزدى. بلكه مطلب دادې چه دَ بچودپاسه ختلونه بغيردَهغوى پلارانوته رسيد ممكن نه وى اوكه دَ اختلاط

---

[١] معجم البلدان للحموى: ٢٥٢/٤.
[٢] معجم البلدان للحموى: ٢٥٢/٤.
[٣] القاموس الوحيد ص:١٨٥.
[٤] عمدة القارى: ٣٦١/١٤ وإرشاد السارى:٤٨٥/٦ – ٤٨٦.
[٥] عمدة القارى: ٣٦١/١٤.
[٦] عمدة القارى: ٣٦١/١٤ وإرشاد السارى:٤٨٥/٦ – ٤٨٦.
[٧] مجمع الزائدللهيثمى:٣١٥/٥.
[٨] فتح البارى: ١٨١/٦ وإرشاد السارى:٤٨٦/٦.

د وجه نه ماشومان هم وژلي شي نو تبعا دهغوى بچى قتل كول جائزدى (۱) كنى اصالتا د قدرت نه باوجود ماشومان اوښځې په طريقه د قصدسره قتل كول جائزنه دى ځكه چه په نورو صريح رواياتوكښې د ماشومانواوښځود قتل كولوممانعت راغلې دې.

**دحديث باب او دې سره معارض رواياتو كښې تطبيق** - دابحث د اشكال او جواب په شكل كښې اوكورئ كه د چا دا اشكال وى چه دصعب بن جثامه روايت باب نه د ښځو او ماشومانو قتل جائزكيدل ثابتيږى خود دې نه وړاندې باب يعنى **باب قتل النساء فى الحرب** كښې دحضرت عبدالله بن عمر رضى الله عنهما په روايت كښې دى **نهى رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم عن قتل النساء والصبيان** رسول الله ﷺ د ښځو اوبچود قتل نه منع فرمائيلې ده دغه شان په صحيح مسلم كښې د حضرت بريده نه نقل شوى حديث كښې دى: **اغزوافلا تقتلوا وليدا، وسيروا ولا تمثلوا** (۲)

جامع ترمذى كښې دحضرت سمرة رضى الله عنه روايت دې چه رسول اكرم ﷺ فرمائيلى دى **اقتلوا شيوخ المشركين واستبقوا شرخهم** (۳)

يعنى دمشركانو لوئى يعنى خوانان قتل كړئ اوماشومان پريږدئ د لفظ شيخ استعمال د شاب اوصبى دواړو په مقابله كښې وى يعنى چه دا دصبى په مقابله كښې استعمال وى نودې نه هم شاب يعنى خوان مراد وى لكه چه په دې روايت كښې لفظ شيخ صبى په مقابله كښې وارد شوې دې. شرخ د شارخ جمع ده شارخ معنى صبى او صغيرده (۴)

د رباح بن ربيع رضى الله عنه په روايت كښې دى په يوه غزوه كښې رسول الله ﷺ خالدبن وليد ته يوسړې اوليګلو اووئى فرمائيل **قل لخالد: لاتقتلن امرأة ولاعسفا** (۵)

عسيف هغه اجير اوخادم چه د مجاهدخدمت كوى يعنى خالدته اووايه چه نه يوه ښځه اونه د مجاهد څوك خادم دې هيڅ كله قتل نه كړى.

د حضرت ابوسعيدخدرى رضى الله عنه په روايت كښې دى **نهى رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم عن قتل النساء والصبيان** (۶) دغه شان دحضرت انس رضى الله عنه په روايت كښې دى چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى **لاتقتلوا شيخافانيا، ولا طفلاً، ولاصغيرا، ولا امرأة** (۷)

---

۱) قال الحافظ ابن حجر رحمه الله هم منهم أى فى حكم تلك الحالة. وليس المراد إباحة قتلهم بطريق القصدإليهم. بل المراد إذا لم يمكن الوصول إلى الاباء إلا بوط الذرية فاذا أصيبوا لاختلاطهم بهم جاز قتلهم. فتح البارى:۱۸۱/۶.

۲) صحيح مسلم ۸۲/۲ كتاب الجهاد. باب تامير الامام الاخراء على البعوث رقم:۱۷۳۱.

۳) جامع الترمذى:۲۸۵/۱ كتاب السير باب ماجاء فى النزول على الحكم. وقال حديث حسن صحيح غريب. رقم:۱۵۸۳ وسنن أبى داؤد:۶۶/۲ كتاب الجهاد باب: فى قتل النساء رقم:۲۶۷۰.

۴) النهاية لابن الاثير:۸۵۳/۱ دار المعرفة.

۵) أخرجه أبوداؤد فى سننه:۶/۲ فى الجهاد باب فى قتل النساء رقم:۲۶۶۹.

۶) مجمع الزوائد للحافظ نور الدين الهيثمى:۳۱۸/۵. باب مانهى عن قتله من النساء وغير ذلك.

۷) أبوداؤد كتاب الجهاد باب دعاء المشركين رقم:۲۶۱۴.

په دې ټولو روایاتو کښې د ښځو او ماشومانو د قتل کولو ممانعت راغلې دې خود روایت باب الفاظ "هم منهم" نه جواز ثابتیږي
علامه خطابي رحمه الله ددې اشکال جواب ورکولو سره فرمائیلي دی هم منهم مطلب دا دې ښځې او ماشومان د دین او مذهب په اعتبار سره د مشرکانو سرو په حکم کښې دی خکه چه د کافر خوني د دین او مذهب په لحاظ حکما د خپل پلار تابع وی په دې قول سره د رسول الله ﷺ منشاء ښځې او ماشومان مباح الدم علي طریق القصد د هغوی قتل کول جائز گرخول نه وو بلکه منشاء ئې داوه چه کله د مشرکانو سرو پورې رسیدو کښې د ښځو او ماشومانو د قتل کولو نه بل څه لار نه وی نو تبعا ښځې او ماشومان قتل کولو کښې څه حرج نشته په دې وجه که اختلاط بالاباء د وجه نه ماشومان او وژلې شي نو د مجاهدینو به شرعا څه مواخذه نه کیږي د نهي والا روایتونه اصالة بالقصد د هغوی د وژلو متعلق دی (۱) لهذا د هم منهم مطلب دې چه د مشرکانو ښځې او ماشومان په دې صورت کښې هم د مشرکانو د سرو په حکم کښې دی او دا ممانعت د نهي والا روایاتو د وجه نه اوس هم موجود دې خو دا ممانعت بالقصد د هغوی د قتل سره متعلق دې نه چه د حمله سره متعلق بلکه په دې صورت کښې تبعا د هغوی وژل معفو عنه دی **د حملې کولو حکم:** - یو دی حمله کول د دې په جواز کښې د چا هم اختلاف نشته امام احمد رحمه الله فرمائي **لاباس بالبیات ولا أعلم أحدا یکرهه** (۲) یعني په حمله کولو کښې هیڅ خرابي نشته دې ته مکروه ویونکی زما په علم کښې نشته بل دی په حمله کولو کښې ښځې او ماشومان وژل په دې مسئله کښې د فقهاؤ اختلاف دې امام مالك رحمه الله او امام اوزاعي رحمه الله فرماني د ښځو او ماشومانو قتل کول مطلقا ناجائز دی تردې چه جنګ کونکی سرې هغوی ډهال جوړولو سره استعمال کړي یا په قلعه کښې پناه واخلي یا په کشتئی کښې سواره وی او هغوی سره ښځې اوبچي هم وی نو بیا هم هغوی په غشی سره وژل جائز دی او نه ئې تحریق جائز دې (۳) د دوی استدلال د احادیث نهي نه دې کوم چه شاته په تفصیل سره تیر شو
ابن حبیب مالکی رحمه الله فرمائیلي **لایجوز القصد إلی قتلها إذا قاتلت، إلا إن باشرت القتل وقصدت إلیه، وکذلك الصبی المراهق.** (۴) مطلب دا دې که چرته ښځه جنګیږي نو د هغې د قتل قصد او اراده کول

---

(۱) قال الخطابي: قوله ((هم عنهم)) یرید فی حکم الدین. فان ولدالکافر محکوم له باکفرو ولم ثیرد بهذا القول إباحة دمانهم تعمدا لها. وقصدا إلیهاو وإنما هوإذا لم یمکن الوصول إلی الاباء إلا بهم. فاذا أصیبوا لاختلاطهم بالاباء لم یکن علیهم فی قتلهم شئ. اوګورئی عمدة القاري: ۳۶۳/۱۴.

(۲) المغني لابن قدامه: ۴۹۵/۱۰ رقم الفصل: ۷۵۷۵.

(۳) قال مالک والاوزاعي: لایجوز قتل النساء والصیبان بحال حتی لوتترس أمن المغرب بالنساء والصیبان أو تحصنوا بحصن أو سفینه وجعلوا معهم النساء والصیبان لم یجزرمیهم وتحریقهم. انظر فتح الباري: ۱۸۲/۶. وعمدة القاري: ۳۶۲/۱۴ وأوجز المسالک: ۶۲/۹۰.

(۴) وقال ابن حبیب من المالیکة: لایجوز القصد إلی قتلها إذا قاتلت. إلا إن باشرت القتل وقصدت إلیه انظر فتح الباري: ۱۸۲/۶.

جائزنه دی البته که چرته اقدام قتل کوی نو جائزدی اوهم دغه حکم د صبی مراهق هم دې جمهورفقهاء امام اعظم ابوحنیفه، امام شافعی، ثوری وغیره رحمهم الله فرمائی که د ښځواو ماشومانو د قتل نه بغیرسرو ته رسیدل ممکن نه وی نو ددوی قتل جائزدې (۱)
ددوی رومبې استدلال دحدیث باب نه دې چه کله درسول الله ﷺ نه د حملې کولو دوران کښې د ښځو اوماشومانو قتل د حکم پوښتنه اوکړې شوه نو حضورپاك هم منهم فرمائیلوسره دهغوی د قتل اجازت ورکړو. دهغوی دویم استدلال سنن ابوداؤد کښې د رباح بن الربیع ﷺ د روایت نه دې کنامع رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم فی غزوة أی الناس مجتمعین علی شئ فبعث رجلا فقال انظرعلی ما اجتمع هؤلاء؟ فجاء فقال علی امرأة قتیل فقال ماكانت هذه لتقاتل (۲)
رباح بن ربیع ﷺ وائی چه مونږ رسول الله ﷺ سره په غزوه کښې شریك وودې نه غزوة الفتح مراد ده، نوحضورپاك د خلقو یو ګڼړه اولیدله. یوسړې ئی اولیګلوچه اوګوره داخلق ولې راجمع دی. هغه راغلوجواب ئی اوکړو چه یوه ښځه قتل شوې پرته ده. رسول الله ﷺ اوفرمائیل دې خو جنګ نه کولو
شراح حدیث ددې جملې دا مفهوم بیان کړې دې چه د حضورپاك منشاء داوه چه ښځه خوجنګ نه کوی خوکه جنګ کوی نو بیائی وژل جائزدی. (۳)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه جمهور فقهاؤ جمع بین الحدیثین باندې عمل کړې دې (۴) د ترجمة الباب او سنن ابوداؤد ددې دوارو روایاتونه استدلال کولوسره جمهور فرمائی چه د حملې په دوران کښې که د ښځود قتل کولونه بغیرسروته رسیدل ممکن نه وی نو بیا ددوی قتل جائزدې. خوبیاهم چه په کوموروایاتوکښې د ښځو اوماشومانو د قتل ممانعت راغلې دې دهغې په رڼرا کښې د جمهور فقهاؤ په نیزهم جهادکښې ښځې او ماشومان قتل کول قصداً ناجائزدی. خوکه ښځې اوماشومان د مشرکانوسروسره د مسلمانانوخلاف وسله راوچته کړی نو بیا ترجمة الباب اوسنن ابوداؤد کښې د رباح بن ربیع ﷺ د روایت په رڼراکښې دا ممانعت باقی نه پاتې کیږی اودهغوی دقتل کولوقصد به جائزشی
علامه باجی رحمه الله فرمائی إن قاتلوافانهن یقتلن، لان العلة التی منعت من قتلهن عدم القتال منهن، فاذا وجد منهن وجدت علة إباحة قتلهن (۵) مطلب دادې چه که چرې ښځې جنګ کوی نو دهغوی قتل به جائزوی. ځکه چه دښځود قتل نه کوم ممانعت راغلې دې ددغه ممانعت علت د ښځودطرف نه جنګ نه کول دی خوکه د ښځود طرف نه جنګ لیدلې شو نوبیابه دهغوی د قتل کول مباح کیدلو علت هم موجود شی

---

(۱) عمدة القاری:۱٤/۳۶۲ وفتح الباری:۶/۱۸۲ وبذل المجهود:۱۲/۲۰۰ وأوجزالمسالک:۹/۶۳.
(۲) سنن أبی داؤد:۲/۶ کتاب الجهاد باب فی قتل النساء.
(۳) فتح الباری:۲/۱۸۲ وبذل المجهود:۱۲/۲۰۰ وأوجزالمسالک:۹/۶۳.
(٤) فتح الباری:۶/۱۸۲ والمغنی لابن قدامة:۱۰/٤۹۵ رقم الفصل:۵۷۵.
(۵) أوجز المسالک:۹/۶۳.

**قوله: وسمعته يقول: لا حمى إلاالله ولرسوله صلى الله تعالى عليه وسلم.**
دامستقل حديث دې او كتاب الشرب كښې وړاندې په تفصيل سره تيرشوې دې چاته اشكال كيدې شي چه دَ حديث داجمله دَدې باب لاندې په كوم مناسبت سره روايت كړې شوې ده؟ علامه عينى اوعلامه قسطلانى دَدې دا جواب وركړې دې چه دَ محدثينوعادت ووچه هغوى به دَ خپل شيخ نه څنګه روايت اوريدو بعينه هم هغه شان به ئې نوروته هم روايت كولو [۱] دلته هم راوى چه دَخپل شيخ نه څنګه روايت اوريدلې دې هم هغه شان ئې نقل كړې دې

**قوله: وعن الزهرى أنه سمع عبيدالله عن ابن عباس....** - داروايت دَ باب رومبى سندسره متصل دې

**قوله: وكان عمرو يحدثنا عن الزهرى.....** - علامه كرمانى رحمه الله فرمانى دَدې جملې نه دَ سفيان بن عيينه رحمه الله مقصددا خودل دى چه داروايت به مونږته عمرو بن دينار دَ امام زهرى رحمه الله نه مرسلاً روايت كولو [۲] روستو مونږ دا روايت دَ عمرو بن ديناربه واسطه سره پريخودو اونيغ په نيغه دَ امام زهرى رحمه الله نه واوريدو نوهغوى عن عبدالله عن ابن عباس عن الصعب په طريق سره متصلاً روايت كړو. عمرو بن دينارهم دَدوى نه روايت كولوسره هم من آبائهم چه كوم الفاظ نقل كړى وو دَهغې په ځائې زهرى رحمه الله هم منهم الفاظ روايت كړل دلته په روايت كښې دَ الفاظوفرق بيان كړې شو مطلب دَدواړو الفاظوهم يودې
حافظ ابن حجر رحمه الله دَ علامه كرمانى رحمه الله رائې وهم ګرځولوسره فرمانى عمرو بن ديناردَ عن زهرى په طريق دَ سفيان بن عيينه دې روايت ته مرسل وئيل صحيح نه دى. نورو شراحوهم دې ته مرسل وئيلى دې ته مرسل وئيل غلط دى [۳] حافظ ابن حجر رحمه الله دَ عمرو بن دينار دَدې روايت په يوبل طريق سره استدلال كړې دې. دا روايت علامه اسماعيلى رحمه الله دَ عباس بن يزيدعن سفيان په طريق سره تخريج كړې دې سفيان بن عيينه وائى: كان عمرو يحدثنا قبل أن يقدم المدينة الزهرى عن الزهرى عن عبيدالله عن ابن عباس عن الصعب ابن جثامة.[۴] يعنى دَ ابن شهاب زهرى رحمه الله دَ مدينې دَ راتلونه وړاندې عمروبن ديناربه دا روايت مونږ عن الزهري عن ابن عباس عن الصعب ابن جثامة په طريق سره روايت كولو

---

[۱] ) عمدة القارى: ۱۴/۳۶۳ وإرشاد السارى: ۶/۴۸۶.
[۲] ) شرح الكرمانى: ۱۳/۲۴.
[۳] ) قال الحافظ ابن حجر: قوله فى سياق هذا الباب: عن الزهرى عن النبى صلى الله تعالى عليه وسلم يوهم أن رواية عمروبن دينار عن الزهرى هكذا بطريق الارسال، وبذلک جزم بعض الشراح وليس كذلک فقد أخرج الاسماعيلى من طريق العباس بن يزيدحدثنا سفيان قال: كان عمرو يحدثنا قبل أن يقدم المدينة الزهرى عن الزهرى عن عبيدالله عن ابن عباس عن الصعب. قال سفيان فقدم علينا الزهرى فسمعته يعيده ويبديه . فتح البارى: ۶/۱۸۲.
[۴] ) فتح البارى: ۶/۱۸۲.

د حافظ ابن حجر رحمه الله مقصد دا خودل دی چه د عمرو دینار دا روایت هم په یو طریق سره موصولاً مروی دې لهذا په ترجمة الباب کښې د عمروبن دینار دا روایت هم موصول دې اودې ته مرسل ونیل غلط دی په دې باندې رد کولو سره علامه عینی فرمائی چه د کرمانی رحمه الله رائې صحیح ده دلته د عمروبن دینار روایت مرسل دې ځکه چه د دې دا صورت هم د ارسال دې کله چه روایت دلته صورتًا مرسل دې نوبیا د علامه اسماعیلی تخریج کړې شوې طریق سره د ارسال صورت نه شی ختمیدې (۱)

**ترجمة الباب سره مطابقت** - حدیث باب کښې دی وسئل عن أهل الدار یبیتون من المشرکین فیصاب من نسائهم وذراریهم، قال هم منهم ترجمة الباب سره د دې مناسبت ظاهر دې (۲)

## باب ۱۴۵: قتل الصبیان فی الحرب

**باب سابق سره مناسبت او د ترجمة الباب مقصد** - باب سابق کښې حمله کولودوران کښې د ماشومانو د قتل کولو حکم بیان کړې شوې وو دلته د جنګ په دوران کښې د هغوی د قتل حکم بیانولې شی

د دې ترجمة الباب نه د امام بخاری رحمه الله مقصد دادې چه د جنګ دوران کښې ماشومان قتل کول منع دی. د دې مختلف وجوهات دی. یوخودا چه د هغوی وړوکوالی د وجه نه د کفر د ارتکاب نه عاجزدی دویم دا چه ماشومان ژوندی پریخودو په صورت کښې د هغوی غلامان جوړولوفائده ده دریم دا چه کوم حضرات د ماشومانو په بدله کښې د فدیه اخستلو قائل دی نود هغوی د قول مطابق د ماشومانو په عوض فدیه اخستلوکښې هم فائده ده (۳)

احدیث نمبر ۲۸۵۱] (۴) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ أَخْبَرَنَا اللَّيْثُ عَنْ نَافِعٍ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ - رضي الله عنه - أَخْبَرَهُ أَنَّ امْرَأَةً وُجِدَتْ فِي بَعْضِ مَغَازِي النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - مَقْتُولَةً، فَأَنْكَرَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَتْلَ النِّسَاءِ وَالصِّبْيَانِ. [۲۸۵۲]

---

(۱) عمدة القاری: ۱۴/ ۳۶۴ وقد تبعه القسطلانی أیضًا. انظر إرشاد الساری ک ۶/۴۸۶ – ۴۸۷.

(۲) عمدة القاری: ۱۴/ ۳۶۱.

(۳) عمدة القاری: ۱۴/ ۳۶۴ قال العینی رحمه الله هذا باب فی بیان النهی عن قتل الصبیان فی الحرب لقصورهم عن فعل الکفر. ولان فی استیقانهم انتفاعا بالرقبة أو بالفداء عند من یجوز أن یفادی بهم. (وتبعه القسطلانی أیضًا. انظر إرشاد الساری: ۶/۴۸۷)

(۴) أخرجه البخاری أیضًا (۱/۴۲۳) حدیث فی کتاب المساقاة. باب لایحمی إلا الله ولرسوله صلی الله تعالی فی الجهاد باب قتل النساء فی الحرب رقم ۳۰۱۵ وعند مسلم فی صحیحه (۲/۸۷) فی کتاب الجهاد باب تحریم قتل النساء والصبیان فی الحرب رقم ک ۴۵۴۷ وعنده أبی داؤد فی سننه (۲/۶) فی کتاب الجهاد باب فی قتل النساء رقم: ۲۶۶۸ وعند ابن ماجة فی سننه ص: ۲۰۳ فی کتاب الجهاد باب الغارة والبیات وقتل النساء

# رجال الحدیث

① **احمدبن یونس** -دا احمدبن یونس بن یونس یربوعی کوفی رحمه الله دې دَدوی حالات کتاب الایمان باب من قال ان الایمان هوالعمل لاندې وړاندې تیرشوی دی [1]

② **لیث** - داابوالحارث لیث بن سعد بن عبدالرحمن فهمی رحمه الله دې دَدوی حالات بدء الوحی لاندې تیرشوی دی [2]

③ **نافع** - دادَ حضرت ابن عمر رضي الله عنهما آزاد کړې شوې غلام ابوعبدالله نافع عدوی مدنی رحمه الله دې دَدوی دَ حالاتودَپاره اوګورئی کتاب العلم باب ذکر العلم والفتیا فی المسجد

④ **عبدالله** رضي الله عنه - دا صحابی رسول صلی الله علیه وسلم حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما دې دَدوی حالات کتاب الایمان باب قول النبی صلی الله تعالی علیه وسلم بنی الاسلام علی خمس لاندې تیرشوی دی [3]

**أن امرءة وجدت فی بعض مغازی النبی صلی الله تعالی علیه وسلم مقتولة فانکر رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم قتل النساء والصبیان.** حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وائی چه دَ رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په یوه غزوه کښې یوه قتل شوې ښځه اولیدلې شوه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ ښځواو ماشومانودَ قتل کولونه منع اوفرمائیله

**امرءة** - شارحین حدیث وائی چه دَ دغه ښځې نوم معلوم نه شو [4]

**قوله: فی بعض مغازی النبی صلی الله تعالی علیه وسلم** - دَ امام طبرانی رحمه الله په اوسط کښې تصریح ده چه ددې غزوه نه فتح مکه مراده ده [5] مراسیل ابوداؤدکښې عن عکرمة په طریق سره یو روایت کښې هم دغه شان یوه واقعه نقل ده روایت دا دې أن النبی صلی الله تعالی علیه وسلم رأی امرأة مقتولة بالطائف، فقال: ألم أنه عن قتل النساء؟ من صاحبها؟ فقال رجل: أنا یارسول الله أردفتها، فارادت أن تصرعنی، فتقتلنی فقتلتها، فامربها أن تواری [6] یعنې رسول الله صلی الله علیه وسلم په طائف کښې یوه قتل شوې ښځه اولیدله نووئی فرمائیل چه ماتاسو دَ ښځودَقتل نه منع کړی نه وئی؟ دَدې قاتل څوک دې؟ یوسړی اوونیل یارسول الله: ما دا په سورلئی باندې شاته کینوله هغې زه دَ سورلئی نه راګذارکړم قتل کول ئی غوښتلم نوما دا قتل کړه. دې اوریدوسره رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ قتل شوې ښځې دَ دفن کولوحکم ورکړو په دې

---

[1] ) کشف الباری:۲/۱۵۹.
[2] ) کشف الباری:۱/ ۳۲٤ — ۳۲۵.
[3] ) کشف الباری: ۱/ ۶۳۷.
[4] ) إرشادالساری:۶/ ٤۸۷.
[5] ) إرشادالساری: ۶/ ٤۸۷ وأوجزالمسالک:۹/ ۶۰.
[6] ) فتح الباری:۶/ ۱۸۲.

روایت کښې تصریح ده چه د ښځود قتل کولونه ممانعت رسول الله ﷺ د طائف په موقع فرمائیلې وو خو په حدیث باب کښې دی چه دا ممانعت د فتح مکه په موقع باندې وارد شوې وو شارحین حدیث تطبیق ورکولوسره وائی چه دا دواړه جدا جدا واقعات کیدې شی (۱) د تیرشوی باب لاندې د حضرت صعب بن جثامه رضی الله عنه روایت تیرشوې دې هم دغه روایت په صحیح ابن حبان کښې نقل دې او په هغې کښې دا اضافه هم ده **ثم نهی عنهم یوم حنین.** (۲) په هغې کښې تصریح ده چه دا ممانعت د غزوه حنین په موقع شوې وو حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه دا جمله مدرج من الراوی ده (۳)

**ایاپه جنګ کښې دښځواوماشومانو قتل کول جائزدی؟** د جنګ په دوران کښې د ښځو اوماشومانوقتل کول جائزنه دی علامه ابن بطال رحمه الله په دې باندې اجماع نقل کړې ده (۴) خوپه دې کښې څه قدرې تفصیل دې. دامام مالك رحمه الله اوامام اوزاعی رحمه الله په نیز د ښځو او ماشومانو قتل مطلقًا ناجائزدې تردې چه که سړی هغوی د ډهال په توګه استعمال کړی یا جنګ کونکی سړی په قلعه کښې پناه واخلی یا کشتئی کښې سواره شی او هغوی سره ښځې او ماشومان وی نوبیاهم د دې حضراتو په نیز ښځې اوماشومان په غشو ویشتل جائزدی نه تحریق جائزدې (۵) د هغوی استدلال د دغه روایاتونه دې په کوم کښې چه د ښځو اوماشومانو د قتل ممانعت واردده دا ټول روایات تیرشوی باب کښې تفصیلاً تیرشوی دی

د جمهورفقهاؤ په نیز هم په جنګ کښې د ښځو اوماشومانوقتل ناجائزدې. خوداحضرات فرمائی که ښځې اوماشومان سړو سره وسله راوچته کړی اود مسلمانانو خلاف جنګ کوی نوبیادا ممانعت باقی نه پاتې کیږی اودهغوی قتل جائزدې (۶) ددوی اول استدلال د سورت بقره دې آیاتونونه دې ﴿ وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ ﴾، ﴿ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ ﴾ په دې آیاتونوکښې عموم دې چه مسلمانانوسره څوك هم جنګ کوی هغه دې قتل کړې شی ښکاره خبره ده چه په دې عموم کښې ښځې اوماشومان دواړه شامل دی. (۷)

د جمهورو دویم دلیل په سنن ابی داؤد کښې د رباح بن الربیع رضی الله عنه روایت دې. دا روایت سابقه باب کښې تیرشوې دې چه رسول الله ﷺ یوه قتل شوې ښځه اولیده نو وئی فرمائیل **ماکانت هذه لتقاتل** (۸) شراح حدیث فرمائی دې جملې نه د حضورپاك منشاء دا وه چه ښځې خو جنګ

---

(۱) فتح الباری:۶/۱۸۲ وأوجز المسالک:۹/۸۰.

(۲) فتح الباری:۶/۱۸۲.

(۳) فتح الباری: ۶/۱۸۲.

(۴) شرح ابن بطال:۵/۱۷۰.

(۵) فتح الباری:۶/۱۸۶ وعمدة القاری:۱٤/۳۶۲ وأوجز المسالک:۹/۶۲.

(۶) فتح الباری:۶/۱۸۶ وعمدة القاری:۱٤/۳۶۲ وبذل المجهود:۱۲/۲۰۰ وأوجز المسالک: ۹/۶۳.

(۷) أحکام القرآن لابی بکرمحمدبن عبدالله المعروف بابن عربی:۱/۱۰٤.

(۸) سنن أبی داؤد:۲/۶ کتاب ا لجهاد باب فی قتل النساء.

نه کوی خو که جنگ کوی نو بیا دهغوی قتل جائزدې (۱)

دریم دلیل دادې چه رسول الله ﷺ په غزوه بنوقریظه او غزوه خندق کښې د ښځو او ماشومانو دقتل حکم فرمائیلې وو دغه شان د فتح مکه په ورځ د دوو سندرغاړو ښځو چه د رسول الله ﷺ په سپکاوی مشتمل شعرونه به ئې وئیل قتل کړې وې (۲)

علامه ابن عربی رحمه الله فرمائی: وللمرءة آثار عظیمة في القتال. منها الامداد بالاموال. ومنها التحریض علی القتال، فقد کن یخرجن ناشرات شعور هن، نادبات، مثیرات، للثار، معیرات بالفرار، وذلك یبیح قلتهن (۳) مطلب دادې چه په جنګ کښې د ښځې کردار ډیرمؤثر وی لکه مالی امدادکول خپل سرې د دښمن خلاف په جنګ باندې راوچتول د کافرانوښځې به د میدان جنګ طرف ته کولاؤ ویښته راوتلې په خپلو مړوباندې به ئې ژړاګانې اومرثیې کولې اودهغوی د وینه بدله اخستلو مطالبې به ئې کولې او د جنګ نه په تیخته به ئې شرم ورکولو هم دغه امور د ښځودقتل کولودپاره دمباح کیدو سبب دی

**ترجمة الباب سره مطابقت:-** امام بخاری رحمه الله داترجمة الباب د جنګ په دوران کښې د ماشومانو د قتل ممانعت بیانولو دپاره قایم کړې دې. د حدیث باب لفظ والصبیان مطابقت ترجمة الباب سره ښکاره دې. (۴)

## باب ۱۴۶: قتل النساء فی الحرب

**د ترجمة الباب مقصد:-** دامام بخاری رحمه الله مقصددادې چه په جنګ کښې د ښځوقتل کول جائزنه دی.

[حدیث نمبر ۲۸۵۲] (۵) حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ قُلْتُ لِأَبِي أُسَامَةَ حَدَّثَكُمْ عُبَيْدُ اللَّهِ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رضی الله عنهما - قَالَ وُجِدَتِ امْرَأَةٌ مَقْتُولَةً فِي بَعْضِ مَغَازِي رَسُولِ اللَّهِ - صلی الله علیه وسلم - ، فَنَهَى رَسُولُ اللَّهِ - صلی الله علیه وسلم - عَنْ قَتْلِ النِّسَاءِ وَالصِّبْيَانِ. [ر: ۲۸۵۱]

## رجال الحدیث

① **اسحاق بن ابراهیم:-** دا مشهورامام فقه او حدیث اسحاق بن ابراهیم بن مخلد حنظلی رحمه الله دې د ابن راهویه په نوم باندې مشهوردې. کتاب العلم باب فضل من علم وعلّم لاندې د دوی حالات تیرشوی دی (۶)

۱) فتح الباری:۶/۱۸۶ وبذل المجهود:۱۲/۲۰۰وأوجزالمسالک ۹/۶۳.

۲) شرح ابن بطال:۵/۱۷۰.

۳) أحکام القرآن لابی بکرمحمدبن عبدالله المعروف بابن عربی:۱/۱۰۵.

۴) عمدة القاری: ۱۴/۳۲۴.

۵) مرتخریجه فی الباب السابق.

۶) کشف الباری: ۳/۴۲۸.

③ **ابواسامة** دا ابواسامه حماد بن اسامه بن زید قرشی رحمه الله دي د دوی حالات هم کتاب العلم باب فضل من علِم وعلَّم لاندې تیر شوی دی (۱)

④ **عبیدالله** دا عبیدالله بن عبدالله بن عمر رحمه الله دي د دوی تذکره وړاندې تیره شوې ده (۲)

⑤ **نافع** دا د ابن عمر رضی الله عنهما آزاد کړې شوې غلام ابوعبدالله نافع عدوی رحمه الله دې د دوی تذکره وړاندې تیره شوې ده (۳)

⑥ **ابن عمر** رضی الله عنهما د دوی حالات کتاب الایمان لاندې تیر شوی دی (۴)

**قوله قلت لابی أسامة: حدثکم عبیدالله عن نافع......** دلته اسحاق بن ابراهیم رحمه الله وائی چه ما د ابواسامه حماد بن اسامه نه تپوس اوکړو چه آیا عبیدالله ابن عبدالله د عن نافع په طریق باندې د ابن عمر رضی الله عنهما هغه روایت تاسو ته بیان کړې دې په کوم کښې چه هغه فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوه غزوه کښې یوه قتل شوې ښځه اولیدله نو حضور پاک د ښځو او ماشومانو د قتل نه منع اوفرمائیله؟ په دې روایت کښې ابواسامه د اسحاق بن ابراهیم نه د سوال جواب ورکولو په ځائې خاموشی اختیار کړې ده

**ایا د شیخ خاموشی د اجازت په حکم کښې ده؟** - علامه کرمانی رحمه الله فرمائی **وفیه أنه إذا قال لشیخه حدثکم أوأخبرکم فلان، وقال نعم، أو سکت فی جوابه مع قرینة الاجابة جاز الروایة عنه** (۵) یعنی ددې نه معلومه شوه چه که چرې شاګرد د خپل شیخ نه تپوس اوکړی چه فلانکی دا حدیث تاسو ته روایت کړې؟ ددې په جواب کښې شیخ اقرار اوکړی یا د اقرار قرینه موجود کیدو د وجه نه خاموشی اختیار کړی نو په داسې صورت کښې به شاګرد ته د شیخ د روایت اجازت وی

**په علامه کرمانی رحمه الله باندې د حافظ ابن حجر رحمه الله رد** - حافظ ابن حجر رحمه الله په علامه کرمانی رحمه الله باندې رد کولو سره فرمائی چه اسحاق بن ابراهیم دا روایت خپل مسند کښې نقل کړې دې د کوم په آخره کښې چه دا اضافه هم ده **فاقربه أبو أسامه وقال: نعم** چونکه په دې روایت کښې د اقرار تصریح ده په دې وجه حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائیلی دی چه روایت باب د علامه کرمانی رحمه الله د رائې دپاره دلیل نه شی جوړیدې چه د اقرار د قرینه په موجود کښې کښې د شیخ خاموشی په اجازت باندې محمول وی ځکه چه دص روایت په دویم طریق کښې د اسحاق بن ابراهیم د سوال په جواب کښې د هغه شیخ ابوسلمه رحمه الله د اقرار تصریح ده (۶)

**ترجمة الباب سره مطابقت** - ترجمة الباب سره عن قتل النساء مطابقت ښکاره دي

---

(۱) کشف الباری: ۳/ ٤١٤.
(۲) کتاب الصلوة باب الحلق والجلوس فی المسجد.
(۳) باب العلم والفتیافی المسجد.
(٤) کشف الباری: ۱/ ۶۳۷.
(۵) شرح الکرمانی: ۲۵/۹۳.
(۶) فتح الباری: ۶/۱۸۳.

## باب ۱۴۷: لایعذب بعذاب الله

احدیث نمبر ۲۸۵۳ [1]، حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ بُكَيْرٍ عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضي الله عنه - أَنَّهُ قَالَ بَعَثَنَا رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فِي بَعْثٍ فَقَالَ «إِنْ وَجَدْتُمْ فُلاَنًا وَفُلاَنًا فَأَحْرِقُوهُمَا بِالنَّارِ» ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - حِينَ أَرَدْنَا الْخُرُوجَ «إِنِّي أَمَرْتُكُمْ أَنْ تُحْرِقُوا فُلاَنًا وَفُلاَنًا، وَإِنَّ النَّارَ لاَ يُعَذِّبُ بِهَا إِلاَّ اللَّهُ، فَإِنْ وَجَدْتُمُوهُمَا فَاقْتُلُوهُمَا».

## رجال الحدیث

① **قتیبه بن سعید** - دا ابو رجاء بن سعیدبن جمیل بن طریف ثقفی رحمه الله دي. دَدوی حالات کتاب الایمان باب أفشاء السلام من الاسلام لاندې تیرشو ی دی [2]
② **لیث** - دا ابوالحارث بن سعد فهمی رحمه الله دې دَ دوی حالات بدءالوحی لاندې تیرشوی دی [3]
③ **بکیر** - دابکیربن عبدالله بن الاشج دې. دَدوی حالات وړاندې تیرشوی دی [4]
④ **سلیمان بن یسار** - دادَحضرت میمونه رضي الله عنها آزادکړې شوې غلام سلیمان بن یسار رحمه الله دې دَدوی حالات وړاندې تیرشوی دی. [5]
⑤ **ابوهریره** رضي الله عنه - دَدوی حالات هم کتاب الایمان باب أمور الایمان لاندې تفصیل سره تیرشوی دی [6]

**قوله**: بعثنا رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم فی بعث فقال: إن وجدتم فلانا وفلانا فاحرقوهما بالنار .....

حضرت ابوهریره رضي الله عنه وائی چه مونږ رسول الله صلى الله عليه وسلم یولښکرکښې اولیګلو اووئی فرمائیل چه که تاسو ته فلانکې فلانکې ملاؤ شی نوهغوی په اور کښې واچوئی وئی سوزوئی بیاچه کله مونږ اووتلو نو حضورپاک اوفرمائیل چه ما تاسو ته حکم درکړې وو چه فلانکې اوفلانکې اوسوزوئی خو په اورسره صرف الله تعالی عذاب ورکوی که تاسو دغه دواړو اولیدل نو هغوی قتل کړئی. دَدې واقعه یوراوی حمزه بن عمرو الاسلمی رضي الله عنه هم دې. حضرت ابوهریره رضي الله عنه چه دَ کوم لښکرذکرکړې دې حمزه اسلمی رضي الله عنه دَهغې امیروو. په سنن ابی داؤد کښې دا روایت

---

1) مرتخریجه فی کتاب الجهاد باب التودیع.
2) کشف الباری:۲/۱۸۹.
3) کشف الباری:۱/۳۲۴.
4) کتاب الوضوء باب من مضمض من السویق ولم یتوضا.
5) کتاب الوضوء باب غسل المنی وفرکه.....
6) کشف الباری:۱/۶۵۹.

نقل دي عن محمد بن حمزة الاسلمي، عن أبيه أن رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم أمره على سرية، قال: فخرجت فيها، وقال: ان وجدتم فلانا فاحرقوه بالنار. فوليت فناداني فرجعت إليه، فقال: إن وجدتم فلانا فاقتلوه، ولاتحرقوه فانه لايعذب بالنار إلا رب النار (١) حمزه بن عمرو اسلمي رضي الله عنه وائي چه رسول الله ﷺ زه د يولښكر اميرجوړكړم وئي ليګلو د تګ په وخت حضورپاك اوفرمائيل كه فلانكي سړي مواوليدونو په اور كښې اوسوزوئې كله چه زه روان شوم نو حضورپاك آواز كولوسره راؤغوښتم چه زه واپس راؤګرځيدم نو حضورپاك اوفرمائيل كه تاهغه سړي اوليدلو نو قتل ئې كړه په اوركښې مه سوه زوه ځكه چه د اورعذاب هم هغه وركوي چه د اور خالق دي
دحضرت ابوهريره رضي الله عنه حديث حضرت امام بخاري رحمه الله كتاب الجهاد باب التوديع كښې هم ذكركړي دي په دې روايت كښې چه كومه واقعه بيان كړې شوې ده په هغې باندې تفصيلي بحث په باب التوديع كښې تيرشوې دې. دلته مختصرد ااوګڼړئې چه د حضرت ابوهريره رضي الله عنه په روايت كښې د دوو سړو د قتل حكم دې د يونوم هباربن اسود او د بل نوم نافع عبدقيس دې. رسول الله ﷺ د دوى د قتل حكم ځكه وركړې وو چه دحضورپاك لوربي بي حضرت زينب رضي الله عنها په اوښه باندې سوره د مكې نه مدينې منورې طرف ته په سفرباندې وه. نودې دواړو د حضرت زينب سورلى په نيزه وهلې وه او هغه ئې ترې راغورزولې وه. په كوم سره چه دهغې حمل هم ساقط شوې وو. (٢)

**په روايت باب باندې يواشكال اودهغې جواب**:- دلته دا اشكال كيدې شي چه حديث باب كښې فلانا وفلانا الفاظ ذكردي او په دې كښې د دوو سړو د قتل حكم وركړې شوې دې خوسنن ابى داؤد كښې حمزه اسلمي رضي الله عنه په روايت كښې صرف د يوسړي د قتل حكم وارددې؟
حافظ ابن حجر رحمه الله په دواړو روايتونوكښې تطبيق كولوسره فرمائي چه د سنن ابى داؤد په روايت كښې فلانا نه هباربن اسودمراد دې اوصرف دهبارذكرئې ځكه اوكړو چه اصل حمله كونكې هم دغه وونافع عبدقيس خوتابع وو. (٣)

**قوله**: وإن النار لايعذب بها إلا الله، فإن وجدتموهما فاقتلوهما:- داخبر په معنى د نهى د قبيل نه دې. (٤) په نورو رواياتوكښې د لاينبغي الفاظ تصريح ده. د ابن اسحاق په روايت كښې دى. ثم رأيت، أنه لاينبغي أن يعذب بالنار إلا الله.(٥) دغه شان په سنن ابى داؤد كښې دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه په مرفوع روايت كښې دى: إنه لاينبغي ان يعذب بالنار إلا رب النار. (٦)

(١) سنن أبي داؤدو: ٧٠٦/٢ كتاب الجهاد باب فى كراهية حرق العدو بالنار.
(٢) نصب الراية للزيلعي:٤٠٧/٣.
(٣) فتح الباري:١٨٥/٦.
(٤) فتح الباري:١٨٥/٦.
(٥) السيرة النبوية لابن هشام:٢٩٨/٢ وفتح الباري:١٨٥/٦.
(٦) سنن أبى داؤد:٧٠٦/٢.

اول رسول اللهﷺ د سوزولو حکم ورکړې وو بیا د سوزولو په ځاني د قتل کولو حکم ورکړو حافظ ابن حجرؒ دې دویم حکم باره کښې فرمائي چه دا حکم به حضوریاك د وحی په ذریعه سره ورکړې وي یا به نې په خپل اجتهاد سره ورکړې وي بهرحال په دواړو صورتونو کښې د ړومبی حکم دپاره ناسخ دې [۱]

**د حدیث فوائد** حافظ ابن حجرؒ د روایت باب نه مختلف فوائد مستنبط کړی دی ① رسول اکرمﷺ اول د هبار بن اسود او نافع عبد قیس د سوزولو حکم ورکړو روستو حضوریاك دغه فیصله منسوخ کړه او دهغوی د قتل کولو حکم نې اوکړو د دې نه دا معلومه شوه چه د اجتهادی فیصله نه رجوع کول جائز دی [۲]

② رسول کریمﷺ په اور سره د عذاب د حکم نه د رجوع کولو دلیل دا بیان کړو چه په اور سره عذاب ورکول صرف الله تعالی سره ښائی د دې نه معلومه شوه چه حکم صادرکولو وخت کښې د رفع الباس دپاره دلیل پیش کول مستحب دی [۳]

③ هبار بن اسود او د هغه ملګرې نافع عبد قیس د حضرت زینبؓ سورلی په نیزه اووهله نو هغه په زمکه راپریوتله. په دې واقعه باندې ډیره موده تیریدو نه پس حضوریاك د هغوی د قتل حکم ورکړو. د دې نه معلومه شوه چه د سزا مستحق سړی په جرم باندې که ډیره موده تیره شی نو دې سره هغه سزا کالعدم کیږی نه. [۴]

④ کیتمل او نور حشرات الارض په اور کښې سیزل مکروه دی. [۵] د مسند بزار په روایت کښې عثمان بن حبان وائی چه زه ام درداءؓ سره ووم ما یو کیتمل اونیولو او په اور کښې مې واچولو په دې باندې هغې اوفرمائیل د ابودرداءؓ نه ما اوریدلی چه رسول اللهﷺ فرمائیلی لایعذب بالنار إلا رب النار. [۶] ابن ابی شیبه هم خپل مصنف کښې دا روایت ذکر کړې [۷]

⑤ یو سنت د بل سنت دپاره ناسخ کیدې شی.

⑥ د مسافر د خپل ښار مشرانو له تلل او رخصت کیدل او د دوستانو ملګرو په سفر باندې تلل او ملګری ته الوداع وئیل جائز دی. [۸]

---

[۱]) فتح الباری:۶/۱۸۶.

[۲]) فتح الباری:۶/۱۸۶.

[۳]) فتح الباری:۶/۱۸۶.

[۴]) فتح الباری:۶/۱۸۶.

[۵]) فتح الباری:۶/۱۸۶.

[۶]) نصب الرایة للزیلعی:۳/۴۰۸.

[۷]) مصنف ابن أبی شیبه:۱۷/۵۸۶ – ۵۸۷.

[۸]) فتح الباری: ۶/۱۸۶.

حديث نمبر ٢٨٥٤ [1]: حَدَّثَنَا عَلِي بْنُ عَبْدِاللّٰهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ عِكْرِمَةَ أَنَّ عَلِيًّا - رضی الله عنه - حَرَّقَ قَوْمًا، فَبَلَغَ ابْنَ عَبَّاسٍ فَقَالَ لَوْ كُنْتُ أَنَا لَمْ أُحَرِّقْهُمْ، لأَنَّ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «لاَ تُعَذِّبُوا بِعَذَابِ اللّٰهِ». وَلَقَتَلْتُهُمْ كَمَا قَالَ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - «مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ».

## رجال الحديث

①**على بن عبدالله**:- دا على بن عبد الله بن جعفربن نجيح سعدى رحمه الله دى. دَ ابن المدينى په نوم سره مشهوردى. دَ دوى حالات كتاب العلم باب الفهم فى العلم لاندې تيرشوى دى. [2]

②**سفيان**:- دا ابومحمدسفيان بن عيينه الكوفى رحمه الله دى. دَدوى حالات كتاب العلم باب قول المحدث: حدثنا أو أخبرنا وأنبئانا، لاندې تيرشوى دى. [3]

③**ايوب**:- داايوب بن ابى تميمه كيسان سختيانى رحمه الله دى. دَ دوى حالات كتاب الايمان باب حلاوة الايمان لاندې تيرشوى دى. [4]

④**عكرمه**:- دا دَ حديث اوتفسير مشهورامام ابوعبدالله عكرمه مولى عبدالله بن عباس رضى الله عنهما دى. دَدوى حالات كتاب العلم باب قول النبي صلى الله تعالى عليه وسلم: اللهم علمه الكتاب لاندې تيرشوى دى. [5]

**قوله**: أن عليا حرق قوما:- هم دغه روايت په مسند حميدى كښې هم نقل دې. په دې كښې دى: أن عليا رضى الله عنه حرق المرتدين. [6] په دې كښې دَقوم په ځائې دَ مرتدين تصريح دَه. دَدې نه عبدالله بن سبا اودَهغه منونكى مراددى كوم چه حضرت على رضى الله عنه دَهغوى دَ باطل او ډيرزيات خطرناك عقائدودَ وجه په اوركښې دَ اچولوحكم وركړې وو.

عبدالله بن سبا په اصل كښې يهودى وو [7] تاريخ دانانوليكلى دى چه عبدالله بن سبا په اسلامى تاريخ كښې هغه ړومبې سړې دې چه دَحضرت على رضى الله عنه امامت فرض كيدو اودَهغوى

---

[1] ) أخرجه البخارى أيضاً:٢/١٠٢٣فى استتابة المرتدين والمعاندين وقتالهم. باب حكم المرتد والمرتدة واستتابتهم رقم:٦٩٢٢ وعند الترمذى فى جامعه (١/٢٧٠). فى الحدود. باب ماجاء فى المرتد رقم: ١٤٥٨ وعندأبى داؤد فى سننه:٢/٢٥٠فى الحدود. باب الحكم فيمن ارتد رقم:٤٣١٥وعند النسائى فى سننه: ٧/١٦٣فى الحاربة. باب الحكم فى المرتدرقم:٤٠٦٥.

[2] ) كشف البارى:٣/٢٩٧.

[3] ) كشف البارى:٣/١٠٢.

[4] ) كشف البارى:٢/٢٦.

[5] ) كشف البارى:٣/٣٦٣.

[6] ) فتح البارى:٦/١٨٦ وعمدة القارى:١٤/٣٦٦.

[7] ) البداية والنهاية لابن الكثير:٧/١٦٢ دارالكتب العلمية بيروت.

د دښمنانو نه د خلاصی اعلان کولوسره هغوی کافرګرځولی [۱] عبدالله بن سبا دخپلو غلطو عقیدو په ښکاره باندې تبلیغ کولوسره د متبعینو یولویه ډله جوړه کړې وه چه د سبائیه فرقې په نوم باندې مشهوره شوه عبدالله بن سبا اوهغه پیروکړ په حب علی رضی الله عنه کښې د غلونه کار اخستلوسره هغه نبي اومنلواو بیا په محبت کښې دومره ورتیرشو چه هغه ئې خپل معبود اواله جوړکړو [۲] ددې ګمراهئ خورونکې عقیدې هغه دومره په زور سره تبلیغ اوکړو چه حضرت علی رضی الله عنه ته دهغه ددې خبرو معلومات اوشو نوهغوی داخلق په دوو کوهیونوکښې په اورکښې د اچولوحکم ورکړو د عبدالله بن سبا په اورکښې داچولو په نتیجه کښې یوشور او غوغ شروع شوه او د حالاتونورو خرابیدو اندیښنه وه په دې وجه هغه ئې جلاوطن کړو او ساباط المدائن ته ئې اولیګلو [۳] د بعض حضراتو وینا ده چه حضرت علی رضی الله عنه د عبدالله بن سبا پیروکار په اورکښې نه وو اچولی

چنانچه اسماعیلی د ابن أبي عمرعن سفیان او محمدبن عباد عن سفیان په دوو طریقوسره یوروایت نقل کړې دې په کوم کښې چه سفیان بن عیینه رحمه الله وائی چه ما عمروبن دینار ایوب او عمار الدهنی په یومجلس کښې ددغه خلقو تذکره کولوسره اولیدل کوم چه حضرت علی رضی الله عنه په اور کښې اچولی وو بلکه کندې کړې وې او په هغوی باندې د اور لوګی وریږخی وو په دې باندې عمروبن دینار دا اشعار اوونیل

| | |
|---|---|
| لترمبی المنایاحیث شاءت | إذا لم ترمبی فی الحفرتین |
| إذا ما أججوا حطبا و نارا | هناک الموت نقدا غیردین [۴] |

یعنی مرګ چه ما کوم ځائې غواړی اودې غورزوی خو په دوو کندوکښې مې دې نه غورزوی ځکه (هغه دود کندې دومره وحشت ناکې دی) چه کله لرګی بل کړې شی او اور اولګی نوهلته مرګ قرض نه بلکه نقد وی. شاعرد مذکوره واقعه طرف ته اشاره کړې ده چه کله په کندوکښې لرګی واچولې شو او اور سوزکړې شو نوهغوی هم هغه وخت د مرګ خلې ته لاړل

امام بخاری رحمه الله حماد بن زید عن أیوب عن عکرمه په طریق کتاب الحدود کښې کوم روایت نقل کړې دې په هغې کښې هم دتحریق تصریح ده دروایت الفاظ دادی أتی علی زنادقة فاحرقهم [۵]

---

[۱] المرتضی ص:۲۶۲.

[۲] المرتضی ص:۲۶۲.

[۳] المرتضی ص:۲۶۳.

[۴] فتح الباری:۶/۱۸۶ قال الحافظ: وفی روایة ابن أبی عمرومحمدبن عباد عندالاسماعیلی جمیعا عن سفیان قال: رأیت عمروبن دینا وأیوب وعمار الدهنی أجتمعوا فتذاکروالذین حرقهم علی. فقال أیوب فذکر الحدیث فقال عمارلم یحرقهم. ولکن حفرلهم حفائروخرق بعضهاالی بعض ثم دخن علیهم. فقال عمر ابن دینار: وقال الشاعر:( لترم بی المنایا حیث شاءت ) وکان عمرو بن دینار.... أراد بذلک الرد علی عمار الدهنی فی إنکاره أصل التحریق.

[۵] صحیح البخاری:۲/۱۰۲۳ کتاب استتابة المرتدین والمعاندین باب حکم المرتد والمرتدة واستتابتهم رقم:۶۹۲۲.

دغه شان دَ مسند احمد بن حنبل روايت دې: أن عليا أتى بقوم من هؤلاء الزنادقة ومعهم كتب، فأمر بنار فاججت ثم أحرقهم وكتبهم [1] يعنى حضرت على رضي الله عنه بعض زنادقه (مرتدين) اونيول چا سره چه كتابونه وو هغوى دَ اور بلولو حكم وركړو او بيائى هغوى دَ كتابونو سره په اور كښې واچول دغه شان په مصنف ابن ابى شيبه كښې عبدالرحمن بن عبيد عن أبيه په طريق سره چه كوم روايت نقل دې په هغې كښې هم دَ تحريق تصريح ده. روايت دا دې

كان أناس يعبدون الاصنام فى السر ويأخذون العطاء فأتى بهم على رضي الله عنه فوضعهم فى السجن، واستشار الناس، فقالوا: اقتلهم، فقال: لا، ولكن أصنع بهم كما صنعوا بأبينا إبراهيم، فحرقهم بالنار [2] يعنى څه خلق به پټه باندې دَ بتانو عبادت كولو او هدايات به ئى وصول كول. حضرت على رضي الله عنه هغوى اونيول په جيل كښې ئى واچول دَ هغوى باره كښې ئى دَ خلقو نه رائې اوغوښتله نو هغوى دا رائې وركړه چه ټول قتل كړئى هغوى اوفرمائيل نه. بلكه زه به دوى سره هغه عمل كوم كوم چه دوى زمونږ پلار حضرت ابراهيم عليه السلام سره كړې وو نو هغه ټول ئى اور كښې واچول

ابوطاهر المخلص رحمه الله يو اوږد روايت عبدالله بن شريك العامرى عن أبيه په طريق سره نقل كړې دې. په دې كښې مذكوره واقعه دَ نورو رواياتو په نسبت ډيره په تفصيل سره روايت كړې شوې ده

قيل لعلى إن هنا قوما على باب المسجد يدعون أنك ربهم! فدعاهم، فقال لهم: ويلكم ماتقولون؟ قالوا: أنت ربنا وخالقنا ورازقنا، فقال: ويلكم! إنما أنا عبد مثلكم اكل الطعام كما تاكلون، وأشرب كما تشربون، إن أطعت الله أثابنى إن شاء، وإن عصيته خشيت أن يعذبنى، فاتقوا الله وارجعوا، فابوا، فلما كان الغد غدوا عليه، فجاء قنبر فقال: قد والله رجعوا يقولون ذلك الكلام! فقال: أدخلهم فقالوا: كذلك، فلما كان الثالث قال: لئن قلتم ذلك لاقتلنكم باخبث قتلة، فابوا إلا ذلك فقال: ياقنبر! ائتنى بفعلة معهم مرورهم فخد لهم أخدودا بين باب المسجد والقصر، وقال: احفروا فابعدوا فى الارض، وجاء بالحطب فطرحه بالنار فى الاخدود قال: إنى طارحكم فيها أو ترجعون؟ فابوا أن يرجعوا فقذف بهم فيها حتى إذا احترقوا قال:

إنى إذا رأيت أمرا منكرا أوقدت نارى، ودعوت قنبرا [3]

په روايت كښې دى چه حضرت على رضي الله عنه ته اوخودلې شوچه دَ جمات په دروازه كښې څه خلق تاسو خپل رب او اله وئيلو سره رابلى حضرت على رضي الله عنه ټول راؤغوښتل ورته ئى اووئيل تاسو تباه شئى دا تاسو څه وايئى؟ هغوى ونيل تاسو زمونږ رب زمونږ خالق او زمونږ رازق ئى

---

[1] ) فتح البارى:٦/١٨٦.

[2] ) مصنف ابن أبى شيبة:٥٨٩/١٧ كتاب السير باب من رخص فى التحريق فى أرض العدو وغيرها رقم:٣٣٨٢١.

[3] ) فتح البارى:١٢/٢٦٩ – ٢٧٠ كتاب المرتدين والمعاندين وقتالهم باب حكم المرت. ط: دارالفكر وبذل المجهود:١٧/ ٢٨٤ كتاب الحدود باب الحكم فيمن ارتد.

حضرت علی رضی الله عنه اوفرمائیل تاسو تباه شئی زه خوستاسو په شان یوبنده یم لکه څنګه چه تاسوخلق خوراك څښاك کوئی هغه شان زه هم خوراك څښاك کوم که زه د الله تعالی اطاعت اوکړم نو د الله تعالی مرضی ده چه ما اوبخښی اوکه د هغه نافرمانی اوکړم نواندیښنه ده چه هغه ماته عذاب راکړی لهذا تاسو هم د الله تعالی نه اوویریږئی او دې خانی واپس شئی. خوهغوی د هغه خبره منلونه انکاراوکړو صباله سحر هغوی دوباره راغلل قنبرحضرت علی رضی الله عنه له راغلو عرض ئی اوکړو په خدائی چه هغه خلق خوبیا راواپس شوی دی اوهم هغه خبرې کوی هغوی اوفرمائیل دوی دننه راوله کله چه نی هغوی دننه راوستل نوهم هغه خبرې واپس راؤګرځولې خو چه په دریم ځل هغوی هغه خپله زړه قصه کول شروع کړه نوحضرت علی رضی الله عنه اوفرمائیل که تاسو خلقو هغه زړه خبره اوکړه نوزه به تاسو ډیر په خرابه طریقه سره قتل کړم خودې خلقو اونه منل او په خپل موقف باندې کلك ولاړ ووو حضرت علی رضی الله عنه اوفرمائیل قنبر داسې مزدوران راوله چه هغوی سره بیلچې وی نو د جمات او کور په مینځ کښې کندې اوکنستلې شوې بیائی حکم اوکړو چه دغه کندې ښې ډیرې ژورې کړئی لرګی راوړل او په بل کړې شوی اور کښې ورغوزار کړل حضرت علی رضی الله عنه اوفرمائیل واپس کیږئی که نه تاسو ټول دې اور کښې واچوم؟ هغوی د تللونه انکاراوکړو نوهغوی دا ټول په هغه کندو کښې په سورشوی اورکښې واچول کله چه هغوی اوسوزیدل او سکاره شو نوحضرت علی رضی الله عنه دا شعراولوستلو: کله چه یوه ناخوښه معامله اووینم نو اور بلولوسره قنبر راغواړم

خلاصه داشوه چه د عبدالله بن سبا پیروکار (راجح هم دغه دی) په اورکښې سوزولې شوی وو. خوبیاهم د عبدالله بن سبا په اورکښې اچولوسره فتنه خورونکوته د چغو صورو موقع ملاویدله د دې خطرې د وجه حضرت علی رضی الله عنه هغه جلاوطن کړواو ساباط المدائن ته ئی اولیګلو.(۱)

**فبلغ ابن عباس فقال لوکنت أنالم أحرقهم لان النبی صلی الله تعالی علیه وسلم قال لاتعذبوا بعذاب الله** چه حضرت ابن عباس رضی الله عنهما ته د دې واقعه خبر اوشو نو هغوی اوفرمائیل که د علی په ځائی زه ووم نو هغوی به مې کله هم په اورکښې نه وو اچولی ځکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی د الله تعالی په عذاب باندې چاته عذاب مه ورکوه

**لوکنت أنا**:- دلته خبرمحذوف دې اوتقدیرعبارداسې دې: لوکنت أنا بدله لقتلتهم جواب شرط دې او په دې کښې لام د تاکید د پاره دې.(۲) یعنی که زه د هغه په ځائی ووم یا د هغه په ځائی خلیفه ووم نودوی به مې په اورکښې نه اچول البته قتل کول به مې ضرور حضرت ابن عباس رضی الله عنهما د حضرت علی رضی الله عنه د طرف نه د بصره والی وو اوهم هلته هغوی ته د تحریق یعنی سوزولو د واقعه خبر رسیدلې وو (۳)

په سنن ابوداؤد کښې دا روایت تفصیل سره نقل دې د تحریق په واقعه باندې ابن عباس رضی الله عنهما د

---

۱) المرتضیٰ ص:۲۶۲.
۲) شرح الکرمانی:۱۳/۲۶وعمدة القاری:۱٤/۳۶۶ – ۳۶۷ وإرشاد الساری:۶/۴۸۹.
۳) بذل المجهود:۱۷/۲۸٤.

رسول اکرم ﷺ نه روایت کړې شوې حدیث پیش کولوسره خپل خفګان ښکاره کړې وو حضرت علی رضی الله عنه چه دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما په خبره باندې خبرشو نوونی فرمانیل ویح ابن عباس یوروایت کښې ویح أم ابن عباس الفاظ وارددی (۱)

دَ اهل لغت په نیز لفظ ویح بعض مواقعوکښې دَ مدح اوتعریف په معنی کښې هم استعمالیږی دلته هم په دغه معنی کښې استعمال دې بعض روایاتوکښې صدق ابن عباس الفاظ هم منقول دی (۲) لکه چه حضرت علی رضی الله عنه ته دَدې خبرې علم نه ووچه رسول الله ﷺ دَ تحریق نه منع فرمائیلی هغه په خپله رائې او اجتهاد سره سبایان په اور کښې اچولی وو په دې وجه چه کله هغه ته دَ ابن عباس رضی الله عنهما په ذریعه دَدې دَ ممانعت علم اوشو نود ابن عباس رضی الله عنهما تائیداوتصویب ئې اوکړو. (۳)

**په مسئله تحریق بالنار کښې دَ مذاهبوتفصیل:** علامه موفق الدین ابن قدامه رحمه الله فرمائی چه په دښمن باندې قابو موندلونه پس هغوی په اورکښې اچول په اتفاق سره ناجائزدی که دغه شان دَ تحریق نه بغیرپه دښمن باندې قابوموندل ناممکن وی نوبیاهم تحریق جائزنه دې خوکه دَتحریق نه بغیرقابوموندل ناممکن وی نو په دغه صورت کښې دَاکثرو علماؤ په نیزتحریق جائزدې (۴)

په صحابه کرامو کښې دَحضرت عمر رضی الله عنه او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما په نیزتحریق مطلقاً ناجائزدې که دَدې سبب کفروی که قصاص وی یاحالت جنګ کښې کیدل وی (۵) حضرت علی اوخالد بن ولید رضی الله عنهما په نیزتحریق جائزدې هم دغه رائې دَ معاذبن جبل او ابوموسی اشعری رضی الله عنهما هم ده.

علامه مهلب رحمه الله فرمائی چه په حدیث کښې نهی عن التحریق تحریمی نه ده بلکه دا نهی علی سبیل التواضع ده. مطلب دادې چه تعذیب بالنار چونکه دَالله تعالی خصوصیت دې په دې وجه تواضعاً الله دَدې ممانعت شو. دَدې دلیل دا دې چه رسول اکرم ﷺ دَعرنین په سترګوکښې ګرم سلایان راښکلې دغه شان حضرت ابوبکر رضی الله عنه دَ صحابه کرامو په موجودګئ کښې زناکارې ښځې په اورکښې اچولې وې اوخالدبن ولید رضی الله عنه دَ بعض مرتدینو تحریق کړې وو اکثرفقهاء مدینه دَ قلعه بند دښمنانو تحریق جائزګرخوی اودَ دښمن دَ سورلئ دَ سوزولو هم قائل دی. دَدې تفصیل نه معلومه شوه چه په حدیث کښې نهی عن التعذیب بالنار تحریمی او وجوبی نه دې بلکه دَ ندب او استحباب په درجه کښې دې (۶)

---

(۱) بذل المجهود:۱۷/۲۸٤.

(۲) بذل المجهود:۱۷/۲۸۵.

(۳) إرشاد الساری:۶/٤۸۹ وشرح الکرمانی:۲۶/۳.

(٤) الدرالمنضود:٤/٤۰۲ بحواله تراجم بخاری:۱٤/۱۶.

(۵) فتح الباری:۶/۱۸۵ وإرشادالساری:۶/٤۸۱.

(۶) شرح ابن بطال:۵/۱۷۲قال المهلب: لیس نهیه علیه السلام عن التحریق بالنار علی معنی التحریم. وإنما هوعلی سبیل التواضع لله. وأن لایتشبه غضبه بغضبه فی تعذیب الخلق. إذا... [بقیه برصفحه آئنده...

## باب ۱۴۸: فـامـا منـا بعد وامـا فداء / محمد: ۴/

فیه حدیث ثمامة: ار ۴۵۰]

وَقَوْلُهُ عَزَّوَجَلَّ (مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ تَكُونَ لَهُ أَسْرَى حَتَّى يُثْخِنَ فِي الْأَرْضِ (یعنی: یغلب فی الارض) تُرِيدُونَ عَرَضَ الدُّنْيَا) الآيَة. [الانفال: ۶۷/

امام بخاری رحمه الله دَ خپل عادت مطابق اکثرۀ قرآن مجید آیت یاحدیث دَباب عنوان جوړه وی. دلته هم امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې دَ سورت محمد دَ ایت یوه حصه دَباب عنوان جوړکړې دې پوره آیت دې ﴿ فَإِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ حَتَّى إِذَا أَثْخَنْتُمُوهُمْ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً حَتَّى تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا ذَلِكَ وَلَوْ يَشَاءُ اللَّهُ لَانْتَصَرَ مِنْهُمْ وَلَكِنْ لِيَبْلُوَ بَعْضَكُمْ بِبَعْضٍ وَالَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَلَنْ يُضِلَّ أَعْمَالَهُمْ ﴾ (۱)

یعنی چه کله تاسو دَ کافرانو په مقابله کښې راشئ نودَهغوی ستونه وهئې تردې چه کله دَهغوی ښه وینې اوبهیوئی نوکافران قیدکړئی اوښه کلك ئی اوتړئی بیاددې نه پس یا خواحسان اوکړئی معاوضه اخستلوسره پریږدئی ترکومې چه جنګ کونکی خپله وسله اونه غورزوی.

**دَ ترجمة الباب مقصد:-** دَدې ترجمة الباب نه دَ امام بخاری رحمه الله مقصددادې چه دکافرانو قیدیانونه فدیه واخلئې پریږدئی اوفدیه اخستلونه بغیرپریخودل دواړه صورتونه جائزدی. (۲)

دَ سورت محمدپه دې آیت کښې داخودلې شوی دی چه کله اثخان یعنی ښه وینې بهیولونه پس دَ کافرانو همت مات شی اودهغوی شان اوشوکت باقی پاتې نه شي نو (ښکاره خبره ده چه په هغوی کښې به دَ جنګ حوصله یخه شی په دې وجه) به اوس دَ جنګ لاراختیارولونه بغیرهغوی په رسوباندې کلك اوتړئی اوقیدئی کړئی. بیامسلمانانوته دَ دوو خبرو اختیاردې یاخودې احسان اوکړی پریږدې دی اودَهغوی نه دې څه مالی معاوضه نه وصول کوی یا دې مالی معاوضه واخلی یعنی فدیه سره دې پریږدی.

دَ غزوه بدر په موقع مسلمانانوته غیرمعمولی فتح حاصله شوه دَ مسلمانانولاس ته ډیر مال غنیمت راغلو اود کافرانو اویا سردران ګرفتارکړې شو صحابه کرامو دَهغوی نه فدیه اخستلوسره آزادول غوښتل نو په دې باندې دَالله تعالی عتاب نازل شو. په دغه موقع چه دَ سورت انفال کوم آیت نازل شو ﴿ مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَكُونَ لَهُ أَسْرَى حَتَّى يُثْخِنَ فِي الْأَرْضِ ﴾ په دې کښې

---

.....بقیه ازحاشیه گذشته] القتل یاتی علی مایاتی علیه الاحراق.والدلیل علی أنه لیس بحرام سمل الرسلو، أعین العرنین بالنار فی مصلی المدینه بحضرة الصحابة. وتحریق علی بن أبی طالب الخوارج بالنار. وأکثر علماء المدینة یجزون تحریق الححصون علی أهلها بالنار. وقول أکثرهم بتحریق المراکب. وهذا کله یدل أن معنی الحدیث علی الحض والندب لا علی الایجاب والفرض. والله أعلم. دې نه علاوه اوګورئی فتح الباری:۱۸۵/۶ وإرشادالساری:۴۸۹/۶.

۱) سورة محمد: ٤.

۲) عمدة القاری: ۳۶۷/۱٤ وإرشا الساری:۴۸۹/۶.

فرمائیلی شوی دی چه د اسلام په دښمنانو باندې غلبه بیاموندلونه پس دهغوی په شان شوکت او قوت باندې گذارونه مه کوئی اوقیدیا آزاد پریخودل د یونبی د شان سره برابر دی بهر حال دسورت انفال په دې آیت کښې د دښمن قیدیانونه فدیه اخستلوسره دپریخودلو ممانعت راغلې دې اود سورت محمد په آیت کښې داجائزکرخولې شوی دی په ظاهره دواړه حکمونه معارض دی

په دې کښې اختلاف دې چه کوم یوآیت ناسخ اوکوم منسوخ دې عطاء بن ابی رباح شعبی، حسن بصری، ضحاک او امام ثوری رحمهم الله په نیزد سورت محمد په آیت سره د انفال ایت منسوخ دې [۱] دحضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه هم دغه قول مروی دې [۲] ددې حضراتو په نیزد مسلمانانوامام ته اختیاردې چه مالی معاوضه یعنی فدیه اخستلوسره پریږدی او یا احسانًا بغیرد فدیه اومعاوضه اخستلو دې پریږدی یاهغه مسلمانان چه د دښمن په قید کښې دی دهغوی بدلون اوکړی البته قتل ئی جائزنه دې خو عبدالله بن عباس قتاده مجاهد سدی ابن جریج عوفی اواکثر اهل کوفه په نیزد سورت محمد آیت د سورت انفال د آیت ﴿ اقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ ﴾ او ﴿ فَإِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ فِي الْحَرْبِ فَشَرِّدْ بِهِم مَّنْ خَلْفَهُمْ ﴾ سره منسوخ دې [۳]

د صاحبین اویه یوروایت کښې د امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله قول مشهورهم دغه دې [۴] ددې حضراتو په نیزد سورت محمدآیت د منسوخ کیدو وجه نه جنگی قیدیان احسانًا یا فدیه اخستلوسره آزادول جائزنه دی خومشهورحنفی فقهی مفسر ثناء الله پانی پتی رحمه الله فرمائی

فهذه الاية ناسخة لقوله تعالى ﴿ مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَكُونَ لَهُ أَسْرَىٰ حَتَّىٰ يُثْخِنَ فِي الْأَرْضِ ۚ تُرِيدُونَ عَرَضَ الدُّنْيَا وَاللَّهُ يُرِيدُ الْآخِرَةَ ۗ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴾ فانها نزلت فی غزوة بدر سنة اثنين، وقد من رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم على الاسرى بعد ذلك فى الحديبية سنة ست، وغيرذلك. [۵]

یعنی د سورت انفال آیت منسوخ دې اود سورت محمد آیت ناسخ دې. ځکه چه د سورت انفال آیت دبدر په موقع سن هجری دویم کال نه پس نازل شوې اورسول اکرم صلی الله علیه وسلم د حدیبیه په موقع ۶هجری باندې بعض قیدیان بغیرد معاوضه احسانًا آزادکړی وو. صحیح مسلم کښې د حضرت انس رضی الله عنه روایت دې چه وسله بند د دښمن اتیاکسان د کوه تنعیم نه راکوزشواو په رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو رضی الله عنهم باندې ئی ناڅاپی حمله کول غوښتل. رسول اکرم صلی الله علیه وسلم هغه ټول گرفتارکړل او آزادئی کړل. په دې موقع باندې د سورت فتح آیت ﴿ وَهُوَ الَّذِي كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ عَنْهُم بِبَطْنِ مَكَّةَ مِن بَعْدِ أَنْ أَظْفَرَكُمْ عَلَيْهِمْ ﴾ [۶]

---

[۱] ) الجامع الاحکام القرآن للقرطبی:۲۲۷/۱۶. وعمدة القاری: ۳۶۷/۱۴.
[۲] ) عمدة القاری: ۳۶۷/۱۴.
[۳] ) الجامع الاحکام القرآن للقرطبی: ۲۲۷/۲۱۶.
[۴] ) فتح القدیر:۵/۲۱۹ — ۲۲۰کتاب السیر.
[۵] ) التفسیر المظهری:۳۳۴/۶.
[۶] ) صحیح مسلم ۱۱۴/۲ کتاب الجهاد باب قول الله تعالى:﴿وَهُوَ الَّذِي كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنكُمْ﴾ رقم:۴۴۴۳.

د قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله او بعض مفسرينو په نيزد سورت انفال آيت اول اوسورت محمد آيت پس نازل شوې چونکه متاخرد متقدم دپاره ناسخ وی په دې وجه دسورت محمد آيت ناسخ اود سورت انفال آيت منسوخ دې اوهم دغه د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله مختار مسلك هم دې د امام اعظم رحمه الله نه دوه قوله نقل دی يودا چه قيديانونه فديه اخستل او آزادول جائزنه دی اودويم قول امام محمدرحمه الله سيركبيركښې د جواز نقل کړې دی اوهم دغه قول راجح اواظهردې (۱) اود امام طحاوی رحمه الله رائې هم دغه دد اوهغوی په ډير ښکلي طرز د استدلال سره هم دا مذهب راجح ګرځولې دې (۲)

حقيقت دادې چه دمضمون اومفهوم په اعتبارسره په دواړو آياتونوکښې تعارض نشته او دواړوکښې يوايت هم ناسخ اومنسوخ نه شی ګرځولې کيدې ابن زيد او ابوعبيدبن سلام رحمه الله فرمائيلی دا دواړه آياتونه محکم دی اوهم دغه قول د امام مالك امام شافعي امام احمدابوثور او امام اوزاعی رحمهم الله هم دې (۳) حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمائی په غزوه بدرکښې د مسلمانانوتعدادکم ووهغه وخت د من وفداء ممانعت راغلو دهغې نه پس چه کله دمسلمانانو شميرزيات شو اودهغوی په شوکت او سلطنت کښې اضافه اوشوه نود من وفدا اجازت ورکړې شو (۴) ددې روايت نه معلومه شوه چه په غزوه بدرکښې من وفداء د ممانعت او اثخان حکم سره د کفرشان اوشوکت ختمول مقصودوو په دې وجه الله تعالی ته دامنظورنه شوه چه کافران دې د فديه په عوض ژوندی پريخودې شی خوچه کله د کفرشان اوشوکت ختم شو اواهل اسلام ته غلبه حاصله شوه اودهغوی شوکت او سرلوړی قايمه شوه نوداثخان ضرورت باقی نه پاتې کيدودوجه نه دمن اوفديه اجازت ورکړې شو نولکه چه دواړه آياتونه محکم دی کوم وخت چه داهل اسلام مفاد په اثخان او وينې تويولوکښې مضمروو اود حالاتوتقاضاهم دغه وه نود من اوفداء ممانعت اوشو اوداثخان حکم راغلو خوچه کله اقتضاء حال بدله شوه اود اثخان ضرورت پاتې نه شو نودمن اوفداء اجازت ورکړې شو په دې وجه دلته يوآيت ته هم منسوخ وئيلوضرورت نشته د نسخ ضرورت هغه وخت وی کله چه په آيات او جمع کښې تطبيق ممکن نه وی (۵)

هم په دې وجه جمهورفقهاؤ فرمائيلی دی چه دوخت امام ته د وخت او مصلحت لاندې په احسان فداء او ترقيق کښې په يوباندې د فيصله عمل کولواختيار حاصل دې پخپله د رسول

---

(۱) السيرالكبيرمع شرحه لمحمدبن أحمد السرخسیرحمه الله: ۲۹۶/٤ باب: من الفداء. دارالكتب العلمية بيروت الطبعة الاولى:۱٤۱۷هجری.

(۲) د تفصيل دپاره اوګورئی شرح مشكل الاثار للامام طحاوی:۱۰/۳۸۶ – ۳۸۸باب بيان مشكلمراوی عن رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم من قوله ((ولوكان معطعم ابن عدی حيا وكلمنی فی هولاء النتنی يعنی أسری بدر لاطلقتهم له)) و:۱۰/۳۹۹باب بيان مشكل ماوری عن رسول الله صلى الله تعالى عليهخ وسلم فی الاوساری هل جائزأن يقتلوا أم لا؟

(۳) تفسير الامام البغوی: ۱۷۸/٤ وعمدة القاری: ۳۶۸/۱٤.

(۴) تفسيرالامام الطبری: ۲۶/۲۷ وتفسيرالبغوی: ۱۷۸/٤ والجامع الاحكام القرآللقرطبی:۲۲۸/۱۶.

(۵) جامع البيان فی تفسير القرآن للامام الطبری: ۱۷۸/٤. والجامع الاحكام القرآن للقرطبی:۲۲۸/۱۶.

الله ﷺ په مبارکه زمانه کښې ددې ټولو مثالونه موجوددي ابوعبیدبن سلام رحمه الله فرمائي
والقول في ذلك عندنا أن الآثات جميعا محكمات لا منسوخ فيهن، وذلك أنه — صلى الله تعالى عليه وسلم — عمل بالآثات كلها من القتل والاسر والفداء حتى توفاه الله تعالى على ذلك، فكان أول أحكامه فيهم يوم بدر، فعمل بها كلها يومئذ، بدأ بالقتل فقتل عقبة بن أبي معيط والنضر بن الحارث في قفوله، ثم قدم المدينة فحكم في سائرهم بالفداء، ثم حكم يوم بني قريظة سعد ابن معاذ رضي الله عنه، فقتل المقاتلة وسبي الذرية، فنفذه رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم وأمضاه، ثم كانت غزاة بني المصطلق رهط جويرية بنت الحارث — فاستحياهم جميعا وأعتقهم، ثم كان فتح مكة فامر بقتل ابن خطل والقينتين وأطلق الباقين، ثم كانت حنين فنسبي هوازن ومن عليهم وقتل أباغرة الجمحي يوم أحد وقد كان من عليه يوم بدر، وأطلق ثمامة بن أثال. فهذه كانت أحكامه — عليه السلام — بالمن والفداء، والقتل، فيس شئ منها منسوخا، والامرفيهم ألى الامام وهومخير بين القتل والمن والفداء، يفعل الافضل في ذلك للاسلام وأهله. (۱)

زمونږ په نیز صحیح قول دادې چه دا ټول آیاتونه محکم دی اوپه دې کښې یوهم منسوخ نه دې خکه چه رسول اکرم ﷺ د خپل وفات پورې د قتل فدیه او قیدد احکامووالا ټولو آیاتونوباندې عمل کړې دې اود مشرکانو باره کښې په دې احکامو باندې د عمل کولوشروع رسول الله ﷺ د بدر په موقع اوکړه. د غزوه بدر د (اویاؤ قیدیانونه) حضوریاك صرف عقبه بن ابی معیط او نضربن حارث قتل کړو بیامدینې ته په رسیدوباندې ئې د مشرکانو ټول قیدیان د فدیه په عوض خلاص کړل بیا رسول الله ﷺ په غزوه بنی قریظه کښې حضرت سعدبن معاذ رضی الله عنه ته د فیصله اختیار ورکړو سعد رضی الله عنه جنګی سړی قتل او ماشومان اوښځې ئې د قیدکولوفیصله اوکړه نوحضوریاك دهغوی فیصله نافذکړه دې نه پس غزوه بنی مصطلق پیښه شوه بنومصطلق د جویریه بنت الحارث قبیله وه حضوریاك هغه ژوندئې پریخوده او آزاده ئې کړه دې نه پس فتح مکه پیښه شوه نوحضوریاك د ابن خطل او د دوو وینځو د قتل حکم اوکړواو باقی ټول ئې آزادکړل بیاد حنین معرکه مخې ته شوه رسول الله ﷺ د هوازن خلق د قیدکولونه پس احسانا آزاد کړل د احد په ورځ رسول الله ﷺ ابوغره جمحی (څوك چه په بدرکښې احسانا آزادکړې شوې وو) قتل کړو او ثمامه بن اثال رضی الله عنه ئې آزادکړې وو بهرحال د من فداء ترقیق اوقتل ټول احکام حضوریاك جاری کړی په دې کښې یوحکم هم منسوخ نه دې دا احکام دامام په رائې باندې موقوف دی هغه ته د قتل من فداء نه په هریوباندې دعمل کولواختیاردې چه د اسلام او اهل اسلام په مفادکښې وی اوکوم حکم هغه زیات بهتر ګڼړی په هغې باندې عمل کولې شی

هم دغه رائې د شیخ الاسلام علامه شبیراحمدعثمانی رحمه الله هم ده د سورت محمد د مذکوره آیت په ذیل کښې هغوی فرمائی:

د حق اوباطل معرکه خو به وی خوچه کوم وخت هم د مسلمانانو اوکافرانو په مینځ کښې

---

(۱) فتح الباری: ۱۸۸/۶.

جنگ اوشی نومسلمانانو له پوره طاقت او بهادرني نه کار اخستل پکاردی کله چه د باطل زور مات شی نولونی لوئی شیطانان به مره شی اودهغوی ډلې به ماتې کړې شی په دې وجه په میدان جنگ کښې سستی بزدلی شاته کیدل او تردد ته لارمه ورکوه اود الله تعالی د دښمنانو په سټ وهلوکښې هیڅ باك مه کوه د پوره جنگ نه پس چه کله ستاسو رعب قایم شی اودهغوی زور مات شی هغه وخت قیدکول هم کافی کیږی قال تعالی﴿ مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَكُونَ لَهُ أَسْرَىٰ حَتَّىٰ يُثْخِنَ فِي الْأَرْضِ ﴾ داقیداوبند ممکن دې دهغوی دپاره به دعبرت اوسبق کاروركوی اومسلمانانوسره اوسیدوسره به ستاد حالت نه د خبریدو او په اسلامی تعلیماتوکښې د غورکولو موقع به ورته ملاوشی ډیرخلق به په کښې د حق لاراختیارکړی یاکه مصلحت اوکنړی نو بغیرد معاوضه په هغوی باندې احسان کولوسره دقیدنه خلاصې ورکړه. په دې صورت کښې ډیرکسان ممکن دی چه ستاسو د احسان اوښه سلوك نه متاثرشی اوستاسو طرف ته راغب شی اوستاسو دین سره محبت اوکړی اودا هم کولې شنی چه دولت فدیه اخستلوسره د مسلمانانوقیدیانو په تبادله کښې دهغوی قیدیان پریږدئی په دې کښې مختلف قسم فائدې دی. بهرحال که دا جنگی قیدیان دهغوی د وطن طرف واپس کړنی نوهم دوه صورتونه دی: په معاوضه کښې پریخودل یا بغیرمعاوضه پریخودل په دې کښې چه کوم صورت هم د امام په نیز صحیح وی اختیارولې شی. د احنافو په نیزهم فتح القدیر اوشامی وغیره کښې داسې روایات موجود دی.(١)

**فیه حدیث ثمامة بن أثال:-** حضرت ثمامه بن اثال رضی الله عنه صحابه کرامو گرفتارکړو او جمات کښې یوې ستنې پورې اوتړلو بیایوڅو ورځې پس رسول اکرم ﷺ هغه آزادکړو په روایت کښې دی چه حضورپاك اوفرمائیل أطلقوا ثمامه ثمامه پرانیزئی خلاص نی کړنی امام بخاری رحمه الله هم ددې واقعه طرف ته اشاره کړې ده چه ثمامه رضی الله عنه قیدی وو رسول الله ﷺ هغه احسانا آزادکړو. ترجمة الباب سره ددې الفاظو مطابقت هم ښکاره دې. د ثمامه بن اثال رضی الله عنه دا واقعه وړاندې کتاب المغازی کښې تفصیلاً راروانه ده.

**ماکان لنبی أن یکون له أسرٰی حتی یثخن فی الارض – حتی یغلب فی الارض – تریدون عرض الدنیا:-** امام بخاری رحمه الله د ابوعبید رحمه الله قول نقل کړې دې (٢) ابوعبیده یثخن تفسیر په یغلب سره کړې دې یعنی اهل اسلام چه ترکومې دښمن سره د جنگ او په کثرت قتل سره په ملك کښې غلبه حاصله نه کړی ترهغه وخته پورې قیدی کافران باقی ساتل مناسب نه دی مجاهد رحمه الله د اثخان معنی قتل سره کړې ده. (٣) یعنی ترکومې چه په زمکه کښې قتل اونه کړې شی بعض حضراتوئیلی چه داثخان معنی په قتل کښې دمبالغه ده په غزوه بدرکښې الله تعالی مسلمانانوته غیرمعمولی فتح ورنصیب کړه. د قریشو ډیرزیات مال مسلمانانوته په غنیمت

---

(١) تفسیرعثمانی ص:۶۷۲.
(٢) فتح الباری:۱۸۸/۶ وإرشاد الساری:۴۹۰/۶.
(٣) فتح الباری:۱۸۸/۶ وإرشاد الساری:۴۹۰/۶.

کښې ملاؤشو اوډهغوی اویاسرداران قیدکړې شو هم ددغه قیدیانو باره کښې سوال پیداشوچه دوی سره څه سلوك اوکړې شی رسول الله ﷺ صحابه کرامو سره مشوره اوکړه حضرت عمر رضی الله عنه رائې ورکړه هم أئمة الکفر، والله أغناك عن الفداء فاضرب أعناقهم داد کفرمشران دی الله تعالی ته د فدیه نه موړکړې نی نوبس تاسو ددوی ستونه والوزوئی. حضرت ابوبکر رضی الله عنه رائې ورکړه: هم قومك وأهلك، لعل الله أن یتوب علیهم، خذمنهم فدیة تقوی بها أصحابك یعنی دا ستاسود قوم اوخاندان خلق دی کیدې شی چه الله تعالی دوی ته د توبه توفیق ورکړی تاسو ددوی نه فدیه وصول کړئی په کوم سره چه به ستاسو ملګروته طاقت ملاؤشی. رسول الله ﷺ د حضرت ابوبکر رضی الله عنه رائې قبوله کړه اودټولونه ئی فدیه وصول کړه اومعاف ئی کړل په دې باندې د سورت انفال مذکوره آیت د عتاب په توګه نازل شو چه د یونبی د شان لائق نه ده چه هغه سره کافران قیدیان وی اوهغه پریږدی بلکه دهغوی طاقت ختمولودپاره وینه تویول پکاردی دې د پاره چه په اهل اسلام باندې د حمله کولو په دوی کښې حوصله پاتې نه شی.(۱)

**د سورت انفال ایت ذکرکولومقصد:-** حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه د سورت انفال آیت ذکرکولوسره امام بخاری رحمه الله د امام مجاهد رحمه الله مذهب طرف ته اشاره کړې ده دهغوی په نیزدکافرانو قیدیانونه فدیه اخستل جائزنه دی.(۲) ددې جواب سورت محمد او سورت انفال په آیاتونوکښې تطبیق او مذاهبو تفصیل په ضمن کښې مونږ تفصیلاً ذکرکړې دې

## باب ۱۴۹: هل للاسیرأن یقتل ویخدع الذین أسروه حتی ینجومن الکفرة

فیه المسور،عن النبی صلی الله علیه وسلم- [ر: ۲۵۸۱]

**د ترجمة الباب مقصد:-** مقصددادې چه آیا د مسلمانانود قیدیانو د راخلاصولو اوکافرانونه نجات حاصلولود پاره قتل یا دهوکه اوفریب کولې شی؟ شراح فرمائیلی دی چونکه دا اختلافی مسئله ده په دې وجه امام بخاری رحمه الله په ترجمه کښې د حکم تصریح نه ده کړې.(۳)

کافران چه کله یومسلمان ګرفتارولوسره قیدکړی نولکه چه دا معاهده کیږی چه اوس به ستاسو خلاف وسله نه راوچتوو نوآیا په دې صورت کښې دمسلمان قیدی دپاره د دغه معاهده خلاف ورزی کول جائزدی؟ امام مالك رحمه الله فرمائی دهغه دپاره د کافرانود قید نه تختیدل جائزنه دی.(۴) هم دغه قول د سحنون او ابن مواز هم دې.(۵) خودمالکیه نه اشهب مالکی رحمه الله فرمائی که چرې کافرانویومسلمان په دې غرض سره قیدکړې وی چه دهغه په بدله کښې هغوی یوکافرقیدی خلاص کړی نو په دې صورت کښې مسلمان قیدی د کافرد

---

۱) إرشاد الساری:۶/ ۴۹۰.

۲) فتح الباری: ۶/ ۱۸۸.

۳) فتح الباری:۶/ ۱۸۸ وعمدة القاری: ۱۴/ ۳۶۹ وإرشاد الساری:۶/ ۴۹۱.

۴) فتح الباری:۶/ ۱۸۸ وشرح ابن بطال:۵/ ۱۷۸.

۵) شرح ابن بطال:۵/ ۱۷۸.

قيدنه خلاصى حاصلولو دپاره قتل هم جائزدى (١)
امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله او امام طبرى رحمه الله فرمائى كه يومسلمان قيدى دَ څه قسم عهدوپيمان كړې وى او تسلى ئى وركړې وى چه ستاسو په وينا به څم نودامعاهده باطل ده اوده دپاره دغه وعده ماتول جائزدى (٢) مطلب دا چه قتل اودهوكه دواړه جائزدى دامام بخارى رحمه الله مسلك هم دغه معلوميږى. دَ باب لاندې هغوى دَ مسور بن مخرمه دَ روايت حواله وركولوسره دَ حضرت ابو بصير رضي الله عنه دواقعه طرف ته اشاره كړې ده چه دَمشركانو دَقيد نه راتختيدلې مدينې ته راغلې وو او رسول الله ﷺ په هغه باندې هيڅ نكيرنه وو فرمائيلې دامام بخارى رحجان دې طرف ته دې چه دَ قيدنه دَخلاصى دپاره دهوكه وغيره وركول جائزدى. والله اعلم.
امام شافعى رحمه الله فرمائيلى دى چه عهداوپيمان په صورت كښې تختيدل خوجائزدى خودَ كافرانو خان اومال سره تعارض جائزنه دې. خوكه څه عهدنه وى شوې نوبيا ده له دَ كافرانونه دَ خلاصى دپاره قتل تحريق او اخذ مال نه يولاړ اختيارولواجازت دې دَ مسوربن مخرمه روايت والا واقعه كښې دَ ابوبصير رضي الله عنه اومشركين مكه په مينځ كښې دَ هيڅ يومعاهدې تصريح نشته. په دې وجه ابوبصير رضي الله عنه اقدام قتل اوكړو دَمشركانو يوسړې هغه قتل كړو او دويم په تختيدوكښې كامياب شو. (٣)
ابن قاسم او ابن مواز وغيره فرمائيلى دى مسلمان دَ كافرانو په قيدكښې راتلونه پس مكره كيږى په حالت اكراه كښې عهدوپيمان باطل دې. نوكه هغه كافرانو سره عهدوپيمان اوكړى اوهغوى له تسلى وركړى چه ستاسودَ مرضئى نه خلاف به هيڅ كارنه كوم ياقسم ئى خوړلې وى نو هغه به باطل وى كه هغه كافرانو دامن په حالت كښې ساتلې وى اوكه دويړې اوداعهداوحلف ځكه باطل دې چه الله تعالى په مسلمانانوباندې دَ كافرانودَ احكامو اطاعت نه كول فرض ګرځولوسره په داسې حالاتوكښې په هغوى باندې هجرت واجب كړې دې. نومسلمان قيدى له دَ تيختې دپاره هرقسم حربه استعمالولواجازت دې. دې حضراتو دَ حضرت ابوبصير رضي الله عنه دَ واقعه نه استدلال كړې دې چه هغه دَ مكې دَكافرانودَ قيدنه اوتختيدو اومدينې ته راغلو نو رسول الله ﷺ دَهغه تصويب اوفرمائيلو اودهغه په دې عمل باندې دَ رضامندئى اظهاراوكړو. (٤)
**دَ ابوبصير رضي الله عنه واقعه:-** دَ حديبيه په موقع چه دَمكې مشركانو سره په كوموشرائطو صلح شوې وه په هغې كښې يودا هم ووكه دَ قريشو نه څوك سړې دَخپل آقا او ولى دَ اجازت نه بغير مدينې ته لاړشى نوهغه به واپس كولې شى كه هغه مسلمان وى اوكه كافر. ابوبصير رضي الله عنه اسلام راوړو دَمكې نه مدينې ته راغلو دَ اهل مكه دَ طرف نه دوه كسان دَهغه دَ بوتلودپاره راغلل

---

(١) شرح ابن بطال: ۱۷۸/۵ فتح البارى: ۱۸۸/۶ وعمدة القارى: ۳۶۹/۱۴.
(٢) شرح ابن بطال: ۱۷۸/۵ فتح البارى: ۱۸۸/۶ وعمدة القارى: ۳۶۹/۱۴.
(٣) فتح البارى: ۱۸۸/۶ وعمدة القارى: ۳۶۹/۱۴.
(٤) شرح ابن بطال: ۵/ ۱۸۸ وعمدة القارى: ۳۶۹/۱۴.

رسول الله ﷺ د شرط مطابق هغه واپس كړو په واپسئ كښې په مقام ذوالحليفه كښې ابوبصير رضي الله عنه هغه دواړوكښې يوكس قتل كړو اودويم تختيدوسره بچ اووتلو او مدينې ته راغلو د رسول الله ﷺ په خدمت كښې حاضرشو حضورپاك چه هغه اوليدو نو وئې فرمائيل چه ضرور څه خطرناكه خبره شوې ده هغه ونيل چه زما ملګرې خوقتل شوې دې زه هم قتل كيدونكې يم دې نه پس ابوبصير رضي الله عنه اورسيدو اوعرض ئې اوكړويارسول الله ﷺ ستاسو چه كومه ذمه وارى وه هغه خوالله تعالى پوره كړه تاسو زه واپس كړم بياالله تعالى ماته دهغوى نه خلاصې راكړو حضورپاك اوفرمائيل چه دا خود جنګ تيزولو والاكاردې افسوس چه د ده پوهه كونكې څوك وې دې اوريدوسره ابوبصير رضي الله عنه پوهه شو چه حضورپاك به ما واپس كوى په دې وجه هغه د مدينې منورې نه اووتلو او سمندر سره ئې ډيره واچوله ابوجندل رضي الله عنه ته معلومه شوه نوهغه هم ابوبصير رضي الله عنه له لاړو د قريش مكه نه چه به څوك مسلمان كيدو ابوبصير رضي الله عنه ته به ئې خان رسولو تردې چه د سمندرپه غاړه يوه ډله جوړه شوه د قريشو كومه قافله چه به د شام طرف ته تلله دې خلقو به هغه رامنع كوله د قافله والا به ئې مړه كړل او مال به ئې ترې واخستو كله چه دامعامله مخې ته شوه نو قريش مكه حضورپاك ته پيغام اوليګلو چه تاسو دغه خلق خپل خان له راوغواړئې مونږ دغه شرط واپس اخلو چه زمونږ كوم سړې تاسوله درشى نوهغه به واپس كوئى كوم سړې هم چه زمونږ نه تاسو ته درشى دهغوى د واپس كولوذمه وارى به په تاسو نه وى په دې خبره رسول الله ﷺ هغه ټولو ته پيغام اوليګلو چه واپس راشئى.(١) خوابوبصير رضي الله عنه ته چه د حضورپاك پيغام رسيدلونوهغه د دې دنيا نه رخصت كيدلو په دې وجه مدينې ته رانغللې شو (٢)

## باب ۱۵۰: إذا حرق المشرك المسلم هل يحرق

**د ترجمة الباب مقصد:-** حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى دا باب باب لايعذب بعذاب الله نه پس متصلاً ذكركول زيات مناسب وو كيدې شى چه دا دناقلينو تصرف وى چه دا باب ئې لايعذب بعذاب الله نه دوه ابواب روستو ذكركړې دې. دَدې تائيد د نسفى د نسخې نه هم كيږى په كوم كښې چه زيرنظر باب. باب لايعذب بعذاب الله متصلاً روستودې. او په مينځ كښې دواړه ابواب ساقط دى. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى دَدې باب نه دَامام بخارى رحمه الله مقصددادې چه په ماقبل باب كښې تعذيب بالنار كوم ممانعت واردشوې دې هغه دې صورت سره خاص دې كله چه تحريق بالنار على سبيل القصاص نه وى خو كه بياهم على سبيل القصاص دَتحريق

(١) صحيح بخارى:١/٣٨٠كتاب الشروط باب الشروط فى الجهاد مع أهل الحرب.

(٢) رسول اكرم ﷺ د ابوبصير رضي الله عنه په نوم خط ليكلې وو چه مدينې ته راشه كله چه خط مبارك اورسيدو نو هغه وخت هغه د دنيا نه رخصت كيدو روح ئې په داسې حال كښې لاړوچه د رسول الله ﷺ مبارك خط ئې په لاس كښې وو ابوجندل رضي الله عنه دهغوى تدفين اوكړو اوهلته ئې يوجمات هم جوړ كړو. فتح البارى:٥/٣٥١.

نوبت راشی نو په دې کښې څه بدی نشته (۱) لیکن علامه عینی ﷫ په دې باندې رد کولو سره وائي چه دا باب باب لایعذب بعذاب الله سره متصلاً ذکر څه مهم امر نه دې لهٰذا موجوده ترتیب د ناقلین تصرف طرف ته منسوب کولوهیڅ ضرورت نشته حافظ ابن حجر ﷫ د علامه نسفی د نسخې ترتیب په توګه د تائید حواله ورکړې ده علامه عینی ﷫ وائی د دې نسخه د ترتیب نه د حافظ ﷫ د رائې تائید نه کیږی ځکه چه ساقط څیز د معدوم په درجه کښې وی او یو معدوم څیز د تائید په توګه نه شی پیش کولې (۲)

خو حقیقت دا دې چه هم د حافظ ابن حجر ﷫ رائې صحیح ده او د علامه عینی ﷫ رد د تکلف او تعصف نه خالی نه ده. والله اعلم

[حدیث نمبر ۲۸۵۵] (۳) حَدَّثَنَا مُعَلَّى بْنُ أَسَدٍ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ أَبِي قِلاَبَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ - رضى الله عنه - أَنَّ رَهْطًا مِنْ عُكْلٍ ثَمَانِيَةً قَدِمُوا عَلَى النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فَاجْتَوَوُا الْمَدِينَةَ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ ، ابْغِنَا رِسْلاً . قَالَ « مَا أَجِدُ لَكُمْ إِلاَّ أَنْ تَلْحَقُوا بِالذَّوْدِ » . فَانْطَلَقُوا فَشَرِبُوا مِنْ أَبْوَالِهَا وَأَلْبَانِهَا حَتَّى صَحُّوا وَسَمِنُوا ، وَقَتَلُوا الرَّاعِىَ ، وَاسْتَاقُوا الذَّوْدَ ، وَكَفَرُوا بَعْدَ إِسْلاَمِهِمْ ، فَأَتَى الصَّرِيخُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - ، فَبَعَثَ الطَّلَبَ ، فَمَا تَرَجَّلَ النَّهَارُ حَتَّى أُتِىَ بِهِمْ ، فَقَطَّعَ أَيْدِيَهُمْ وَأَرْجُلَهُمْ ، ثُمَّ أَمَرَ بِمَسَامِيرَ فَأُحْمِيَتْ فَكَحَلَهُمْ بِهَا ، وَطَرَحَهُمْ بِالْحَرَّةِ ، يَسْتَسْقُونَ فَمَا يُسْقَوْنَ حَتَّى مَاتُوا . قَالَ أَبُو قِلاَبَةَ قَتَلُوا وَسَرَقُوا وَحَارَبُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ - صلى الله عليه وسلم - وَسَعَوْا فِى الأَرْضِ فَسَادًا . [ر: ۲۳۱]

## رجال الحدیث

① **معلی**:- دا معلی اسد ﷫ دې. د دوی تذکره وړاندې تیره شوې ده. (۴)

② **وهیب**:- دا وهیب بن خالد بن عجلان باهلی بصری ﷫ دې. د دوی تذکره کتاب الایمان باب تفاضل أهل الایمان في الاعمال لاندې تیره شوې ده. (۵)

③ **ایوب**:- دا ایوب بن ابی تمیمه کیسان سختیانی ﷫ دې. د دوی حالات کتاب الایمان باب حلاوة الایمان لاندې تیر شوی دی. (۶)

④ **ابوقلابه**:- دا مشهور تابعی عبدالله بن زید جرمی ﷫ دې. او هم په دې کنیت سره مشهور دې.

---

۱) فتح الباری: ۶/۱۸۹.

۲) عمدة القاری: ۱۴/۳۷۰.

۳) مر تخریجه فی کتاب الوضوء باب أبوال الابل ولدواب والغنم ومرابضها رقم: ۲۳۳.

۴) کتاب الحیض باب المرأة تحیض بعدالافاضة.

۵) کشف الباری: ۲/۱۱۸ – ۱۱۹.

۶) کشف الباری: ۲/۲۶.

دَ دوی تذکره هم مذکوره کتاب او باب لاندې تیره شوې ده.[1]

⑤ **انس بن مالک** - دَ انس بن مالک رضی الله عنه تذکره کتاب الایمان باب من الایمان أن یحب لاخیه مایحب لنفسه لاندې تیره شوې ده

**دَاهل عرینه واقعه** - دَ باب لاندې امام بخاری رحمه الله چه کوم روایت نقل کړې دې په دې کښې دَ عرنیین مشهوره واقعه ذکرده. دا روایت امام بخاری رحمه الله دَ مختلفو بابونو لاندې ذکر کړې دې واقعه دا اوشوه چه دَ قبیله عرینه څه کسان مدینې ته راغلل او اسلام ئې قبول کړو او هلته اوسیدل دَمدینې آب وهوا برابرنه راتلو په وجه ټول بیماران شو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی ته دَمدینې نه بهرخپلو اوښانوسره دَتللوهدایت اوکړو اوونې فرمائیل چه دَ اوښانو پیئې اومتیازې اوڅکئی نو ټیك به شئی دَ پیئو او متیازو په څکلوسره هغه ټول روغ جوړ شو هغوی دَ اوښانو ساتونکې دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم راعی حضرت یسار رضی الله عنه قتل کړو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ددې واقعه خبراوشو نوهغوی یوڅو کسان صحابه دَهغوی دَ ګرفتارولو دپاره اولیګل کله چه هغوی ګرفتار کړې شو او راوستلې شو نوحضورپاك دَهغوی دَ قتل کولو حکم ورکړو اودهغوی په سترګو کښې په اور سور کړې شوی سلایان راښکلې شو اودهغوی خپې لاسونه پرې کولوسره حره (کانړیزه زمکه) باندې اوغورزولې شو.[2] ددې واقعه نه استدلال کولوسره امام بخاری رحمه الله دا ثابت کول غواړی چه علی سبیل القصاص تحریق بالنار جائزدې

**دَامام بخاری رحمه الله په استدلال باندې اشکال** - لیکن په دې استدلال باندې اشکال کیدې شی چه په حدیث باب کښې خودې خبرې تصریح نشته چه عرنیین دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ راعی په سترګو کښې سلائی راښکلې وه دَ کوم په نتیجه کښې چه قصاصاً هغوی سره هم دغه عمل اوکړې شو.

**دَ حافظ ابن حجر رحمه الله جواب** :- حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی (۳) چه امام بخاری رحمه الله دَدې روایت دویم طرق طرف ته اشاره کړې ده په کوم کښې چه دَ دې خبرې تصریح ده چه عرنیین دَ راعی په سترګو کښې سلائی راښکلې وو دَ صحیح مسلم په روایت کښې حضرت انس رضی الله عنه فرمائی

انما سمل النبی صلی الله تعالی علیه وسلم أعین العرنیین لانهم سملوا أعین الرعاة (۴) یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم دَعرنیین په سترګو کښې سلائی څکه راښکلوچه عرنیین دَ راعیانو په سترګو کښې سلائی راښکلې وو

**دَ علامه ابن بطال رحمه الله جواب** - علامه ابن بطال رحمه الله فرمائی که دَ روایت په دویم طریق کښې دَ دې خبرې صراحت نه وی چه عرنیین دَ راعی رسول صلی الله علیه وسلم په سترګو کښې سلائی راښکلې وو نوبیاهم دې نه تحریق بالنار جواز ثابتیږی مطلب دادې چه اهل عرینه دَ راعی رسول صلی الله علیه وسلم په

---

[1] ) کشف الباری:۲/۲۶.
[2] ) دَتفصیل دَپاره اوګورئی فتح الباری:۱/۳۳۷.
[3] ) دَ تفصیل دَپاره اوګورئی فتح الباری:۱/۳۳۷.
[4] ) صحیح مسلم:۲/۵۸ کتاب القسامة باب حکم المحاربین والمرتدین.

سترگوکښې سلائی نه وو رابنکلي نو دې باوجود حضور پاك د اهل عرينه په سترگوکښې گرم سلائی رابنکل جائزاوگرځول كه واقعتا اهل عرینه د دغه شقاوت مظاهره کړې وی نو په دې صورت کښې په طريق اولي دهغوی په سترگوکښې گرم سلائی رابنکل جائزکیدل (۱)

**د قصاصا تحریق بالنار حکم** - د شوافع او مالکیه په نیزیه قصاص کښې مساوات ضروری دې هغوی فرمائی چه قاتل د کوم فعل په ذریعه دمقتول قتل کړې وی که چرې هغه مشروع وی اومنهی عنه نه وی نوقاتل هم قصاصا هم په هغه فعل سره وژلې شی البته که د قاتل عمل چرې غیرمشروع وی نو په هغې کښې مساوات جائزنه دې مثلا که قاتل په کانړی ویشتلوسره څوك مړه کړی نوقاتل به هم په کانړی ویشتلوسره مړکولې شی که قاتل څوك په اوبوکښې ډوب کړو نوهغه به هم ډوبولې شی خوکه دقاتل عمل غیرمشروع وی یعنی هغه په چاباندې جادوکولوسره یا شراب څکلوسره یا زنا سره یا لواطت سره مړې کړې وی نود قاتل نه به هم په دغه فعل سره قصاص اوبدله نه شی اخستې بلکه په دغه صورت کښې به قصاص صرف په توره سره اخستې شی. (۲) د یوروایت مطابق دامام احمدبن حنبل رحمه الله هم دغه مسلك دې (۳) د هغوی استدلال د قرآن مجید دې آیت نه دې ﴿ وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُمْ ﴾ (۴)﴿ فَمَنِ اعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ ﴾ (۵)﴿ جَزَاءُ سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا ﴾ (۶) په دې آیاتونو کښې دا تعلیم ورکړې شوې دې چه د ظلم اوزیاتی بدله هم په هغه اندازه باندې اخستل جائزدی څومره چه بل فریق کړې وی.

د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیزقصاص صرف په وسله سره اخستل جائزدی. دهغوی استدلال د ابن ماجه د روایت نه دې لاقود إلا بالسیف (۷) یعنی قصاص دې صرف په توره باندې واخستې شی دامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله په نیز د سیف نه هرقسم وسله مراد ده لهذا دهغوی په نیزدتورې نه علاوه ټوپك وغیره سره هم قصاص اخستل جائزدی. (۸)

شوافع او مالکیه چه د کوموآیاتونونه استدلال کړې دې هم دغه آیاتونه د احنافوهم مستدل دی په آیاتونوکښې دا حکم ورکړې شوې دې چه په چاباندې ظلم اوزیاتی شوې وی نودهغې بدله دې هم هغه هومره واخستې شی دهغې نه دې تجاوز کول حرام دی که په قصاص کښې په مماثلت او برابروالی باندې عمل اوکړې شی نو په دې کښې په انصاف باندې عمل کول

---

(۱) شرح ابن بطال:۱۷۹/۵ وفتح البارى:۱۸۹/۶.

(۲) المغنى لابن قدامة:۹/۳۹۰ – ۳۹۱ وفتح القدير: ۱۵۶/۹.

(۳) العدة شرح العمدة فى مذهب الامام أحمدبن حنبل رحمه الله ص:۵۰۱باب شروط وجوب القصاص واستيفاء والمغنى لابن قدامة:۳۹۱/۹ رقم الفصل: ۶۶۵۴.

(۴) سورة النحل:۱۲۶

(۵) سورة البقرة:۱۹۴

(۶) سورةالشورى:۴۰.

(۷) سنن ابن ماجه ص:۱۹۱كتاب الديات باب لاقود إلا بالسيف رقم:۲۶۶۷ – ۲۶۶۸.

(۸) المغنى لابن قدامة:۳۱۹/۱۹ وفتح القدير:۱۵۶/۹ وتكلمة فتح الملهم:۳۳۹/۲.

ممکن نه دی مثلاً اکثروختونوکښې یوسړې د کانړې په یوګذاراِباندې هلاك شی خوکله داسې هم کیږی چه په یوسړی باندې د کانړو ډیروګذارونوسره هم دهغه مرګ نه واقع کیږی اوس که د قاتل د کانړی په یوګذار سره د چامرګ واقع شی خود قصاص په دوران کښې پخپله د قاتل مرګ که چرې په یوګذارسره واقع نه شی نو په هغه باندې به ډیرکانړی ورولې کیږی نوښکاره خبره ده چه دا ظلم دې خکه چه قاتل خو صرف هم یوکانړې ویشتې وو د کمیت په اعتبارسره قصاص د قاتل د فعل نه زیات اخستلې شی. په دې وجه د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیزقصاص بالمثل جائزنه دې بلکه قصاص دې صرف په وسله سره واخستې شی. (۱) هم دغه مذهب د عطاء بن ابی رباح رحمه الله امام ثوری رحمه الله او صاحبین رحمهم الله دې (۲) په یوروایت کښې امام احمد رحمه الله نه هم دغه قول مروی دې. (۳)

قصاصاً تحریق بالنار د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیزجائزنه دې دهغوی په نیزبه قصاص صرف په وسله سره اخستې شی تحریق بالنار ناجائزګرخولوسره امام اعظم رحمه الله د دې حدیث نه استدلال کړې دې. لایعذب بالنار إلا رب النار (۴) د هغوی په نیزدې حدیث په عموم کښې قصاصاً تحریق بالنار هم شامل دې. (۵)

د امام احمد رحمه الله نه دوه اقوال نقل دی د یوقول مطابق دهغوی په نیزقصاصاً تحریق جائزنه دې دهغوی دلیل هم د امام اعظم رحمه الله مستدل روایت دې. (۶) دویم قول دادې چه تحریق قصاصاً جائزدې (۷) هم دغه مسلك د امام شافعی رحمه الله هم دې. (۸) من حرق حرقناه ومن غرق غرقناه. (۹) ددوی په نیز لایعذب بالنار إلا رب النار په عموم سره تحریق علی سبیل القصاص مستثنی دې. (۱۰) خود امام ابوحنیفه رحمه الله په نیزدې په عموم کښې تحریق علی سبیل القصاص هم شامل کیدود وجه نه ناجائزدې. اوحدیث لاقود إلا بالسیف په رنړاکښې قصاص صرف په وسله سره اخستې شی

**ترجمة الباب سره مطابقت:**- په حدیث باب کښې دا صراحت نشته چه رسول الله ﷺ د عرنیین سترګې خکه داغلې وې چه هم دغه عمل عرنیین د رسول الله ﷺ راعیانوسره کړې وو. په دې

---

(۱) الشرح الکبیر لشمس الدین ابن قدامة:۱۹/٤۰۰ – ٤۰۱ وتکلمة فتح الملهم: ۳۳۹/۲.
(۲) الشرح الکبیر لشمس الدین ابن قدامة:۱۹/ ٤۰۱.
(۳) الشرح الکبیر لشمس الدین ابن قدامة:۱۹/ ٤۰۱ والعدة شرح العمدة فی مذهب الامام أحمدبن حنبل:۵۰۱ باب شروط وجوب القصاص واستیفاءه.
(٤) سنن ابی داؤد ۲/۸ کتاب الجهاد باب کراهیة حرق العدوبالنار.
(۵) المغنی لابن قدامة:۱۹/۳۹۲ رقم الفصل:۶۶۵۵.
(۶) المغنی لابن قدامة:۱۹/۳۹۲ رقم الفصل ۶۶۵۵ والعدة شرح العمدة فی مذهب الامام أحمد بن حنبل:۵۰۱.
(۷) العدة شرح العمدة:۵۰۱ والمغنی لابن قدامة:۱۹/۳۹۲.
(۸) المغنی لابن قدامة:۱۹/۳۹۲ والشرح الکبیر:۱۹/٤۰۲.
(۹) المغنی لابن قدامة:۱۹/۳۹۲ و العدة شرح العمدة:۵۰۱.
(۱۰) المغنی لابن قدامة:۱۹/۳۹۲

وجه د ترجمة الباب سره د حديث باب مطابقت نشته
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی په اصل کښې امام بخاری رحمه الله د روايت باب د بل طريق طرف ته اشاره کړې ده په کوم کښې چه تصريح ده چه رسول الله ﷺ د عرنيين سترګې څکه داغلې وې چه عرنين د رسول الله ﷺ د راعيانو سترګې داغلې وې (۱)
چنانچه صحيح مسلم کښې د حضرت انس رضی الله عنه روايت کښې دی إنما سمل النبی صلی الله تعالی عليه وسلم أعين العرنيين لأنهم سملوا أعين الرعاة (۲)

## باب

**د ترجمة الباب مقصد اود باب سابق سره مناسبت** :- حافظ ابن حجر علامه عينی اوعلامه قسطلانی رحمهم الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله داباب بلاترجمه قايم کړې دې اودا باب هم د سابق تتمه ده.(۳) باب سابق کښې د تحريق ذکروو په دې باب کښې داخودل مقصود دې چه په تحريق کښې تجاوز جائز نه دې. يعنی چه څوك د تحريق مستحق نه وی دهغه تحريق د حد نه تجاوز او ګناه ده.(۴)

[حديث نمبر ۲۸۵۶] (۵) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يُونُسَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ وَأَبِي سَلَمَةَ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ - رضی الله عنه - قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ «قَرَصَتْ نَمْلَةٌ نَبِيًّا مِنَ الأَنْبِيَاءِ، فَأَمَرَ بِقَرْيَةِ النَّمْلِ فَأُحْرِقَتْ، فَأَوْحَى اللَّهُ إِلَيْهِ أَنْ قَرَصَتْكَ نَمْلَةٌ أَحْرَقْتَ أُمَّةً مِنَ الأُمَمِ تُسَبِّحُ». [۳۱۴۱]

## رجال الحديث

① **يحيى بن بكير**:- دا ابوزکريا يحيى بن عبدالله بن بکير القرشی رحمه الله دې د دوی تذکره بدء الوحی لاندې تيره شوې ده.(۶)
② **ليث**:- دا امام ابوالحارث ليث بن سعد بن عبدالرحمن فهمی رحمه الله دې. د دوی حالات بدء الوحی لاندې تيرشوی دی.(۷)

---

۱) فتح الباری:۶/۱۸۹.
۲) صحيح مسلم ۲/۵۸ کتاب القسامة باب حکم المحاربين والمرتدين.
۳) فتح الباری:۶/۱۹۰ وعمدة القاری: ۱۴/۳۷۱ وإرشادالساری:۶/۴۹۳.
۴) فتح الباری:۶/۱۹۰.
۵) رواه البخاری ايضاً:۱/۴۲۷ فی بدء الخلق، باب إذا وقع الذباب فی شراب أحدکم فليغمسه فان فی أحد جناحيه داء وفی الاخر شفاء. وخمس من الدواب فواسق يقتلن فی الحرم رقم:۳۳۱۹ وعند مسلم فی صحيحه: ۲/۲۳۶والغنم ومرابضها رقم:۲۳۳. فی قتل الحيات وغيرها، باب النهی عن قتل النمل رقم:۵۸۴۹ وعند أبی داؤد فی سننه:۲/۳۶۲ باب فی قتل الذر رقم:۵۲۶۵ وعندالنسائی فی سننه: ۲/۱۹۸فی الصيد، باب قتل النمل رقم:۴۳۶۳ — ۴۳۶۴ وعندابن ماجه فی سننه ص:۲۳۲فی الصيدبابماينهی عن قتله رقم:۳۲۲۵.
۶) کشف الباری:۱/۲۳۲.
۷) کشف الباری:۱/۳۲۴ — ۳۲۵.

③ **يونس** - دا يونس بن يزيد دے ددوى تذكره هم بدءالوحى كښې تيره شوې ده [١]

④ **ابن شهاب** - مشهور محدث عبدالله بن شهاب زهرى دې ددوى حالات هم بدء الوحى لاندې تيرشوى دى [٢]

⑤ **سعيدبن المسيب** - داامام التابعين سعيدبن المسيب بن حزن بن ابى وهب قرشى رحمه الله دې ددوى تفصيلى تذكره كتاب الايمان باب من قال ان الايمان هوالعمل لاندې تيره شوې ده [٣]

⑥ **ابوسلمه** -دا ابوسلمه بن عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه دې ددوى تذكره كتاب الايمان باب صوم رمضان احتسابًا من الايمان لاندې تيره شوې ده [۴]

⑦ **ابوهريره** رضي الله عنه - ددوى حالات هم كتاب الايمان باب أمور الايمان لاندې تفصيل سره تيرشوى دى [۵]

**قرصت نملة نبيا من الانبياء، فامربقرية النمل فاحرقت، فاوحى الله إليه: أن قرصتك نملة أحرقت امة من الامم تسبح** په يوروايت كښې دى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دى يومېږى يونبى اوچيچلو هغه د مېږو د سوړو سوزولوحكم وركړو چه اوسوزولې شوې الله تعالى هغه ته وحى راولېګله چه ته يومېږى اوچيچلې ولې تايو پوره مخلوق اوسيزلو چه د الله تعالى تسبيح كوى.

**نبيا**:- شراح په دې كښې دوه اقوال نقل كړى دى چه دې نه كوم يونبى مراددې؟

① علامه كرمانى رحمه الله يوداقول نقل كړې دې چه دې نه موسى عليه السلام مراد دې. [۶] په نوادر كښې حكيم ترمذى هم دغه قول نقل كړې دې. [٧]

② علامه قسطلانى رحمه الله فرمائى چه دې نه عزير عليه السلام مراد دى. [٨]

**يوڅواشكالات اودهغې جوابات**:- علامه كرمانى رحمه الله اشكال كړې دې چه مېږې خو غيرمكلف دې نوددې سوزول قصاصًا څنګه جائزكيدې شى؟ علامه كرمانى رحمه الله جواب وركولوسره وائى چه كيدې شى دهغه نبى په شريعت كښې داسې كول جائزوو. [٩] دويم جواب ئى داوركړې دې چه په ماراو اژدهاباندې قياس كولوسره طبعًا هرموذى ښاور قتل كول جائزدى. [١٠]

---

[١]) كشف البارى: ١/٤٦٣.

[٢]) كشف البارى:١/٣٢۶.

[٣]) كشف البارى:٢/١٥٩ – ١۶١.

[۴]) كشف البارى:٢/٣٢٣.

[۵]) كشف البارى:١/۶۵٩- ۶۶٣.

[۶]) شرح الكرمانى:١٣/٢٨وعمدة القارى: ١۴/٣٧١ – ٣٧٢.

[٧]) إرشادالسارى:۶/۴٩٣.

[٨]) إرشادالسارى:۶/۴٩٣.

[٩]) شرح الكرمانى:١٣/٢٨.

[١٠]) شرح الكرمانى:١٣/٢٨.

په دې باندې اشکال کیدې شي چه کله دهغوی په شریعت کښې دا عمل جائزوو نوبیا د الله تعالی د طرف نه عتاب ولې نازل شو؟ ددې جواب دادې چه ممکن دی داکار جائزوو خو اولی نه وو اودا عتاب په ترک اولی باندې نازل شوی دی [۱] په دې باندې علامه عینی رحمه الله اشکال کړې دې چه دا جواب محل نظر دې چه داکار د هغه وخت په شریعت کښې جائزوو ځکه چه دا جواب صرف د ظن او تخمین په بنیاد باندې ورکړې شوې دې صحیح جواب دادې چه مذکوره نبی کوم وخت تحریق کړې هغه وخت هغه ته د هغې د ناجائز کیدو علم نه وو [۲]

علامه قسطلانی رحمه الله ددې یوبلکلې جواب ورکړې هغه فرمائی وقد روی لهذه القصة سببا وهو أن هذا النبی مر علی قریة أهلکها الله بذنوب أهلها فوقف متعجبا فقال: یارب کان فیهم صبیان، ودواب ومن لم یقترف ذنبا، ثم نزل تحت شجرة فجرت له هذه القصة، فنبهه الله علی أن الجنس المؤذی یقتل وإن لم یؤذ، وتقتل أولاده وإن لم یبلغ الاذی، والحاصل أنه لم یعاتبه إنکارا لما فعل بل جوابا له وإیضاحا لحکمة شمول الاهلاک لجمیع أهل تلك القریة، فضرب له المثل بذلك أی إذا اختلط من یستحق الاهلاك بغیره وتعین اهلاك الجمیع طریقا إلی إهلاك المستحق جاز إهلاك الجمیع. [۳]

یعنی د دې واقعه سبب داوو چه مذکوره نبی په یوداسې کلی باندې تیرشو د کوم او سیدونکې چه الله تعالی دهغوی د ګناهونو د وجه نه هلاك کړې وو هغه دلته اودریدو او په حیرانتیا سره ئې د الله تعالی نه ګیله اوکړه چه په دې کلی ماشومان خناور او داسې خلق هم وو چه د ګناه ارتکاب ئې نه ووکړې بیاهغه د یوې ونې لاندې اودریدو په حدیث باب کښې چه کومه واقعه بیان کړې شوې ده هغه هم دلته پیښه شوه چه هغه د یومیږی په چیچلو سره قصاص د میږو سوړې اوسیزلې ټول ئې هلاك کړل دا یوه تکوینی واقعه وه الله تعالی ددې واقعه په ذریعه هغه خبردار کړو چه کوم جنس بالطبع موذی وی سره ددې چه هغه بالفعل تکلیف ورنه کړی دهغه قتل جائزدې اودهغه د بچو قتل هم جائزدې سره ددې چه په هغوی کښې د تکلیف رسولو صلاحیت پیداشوې نه وی د کلام حاصل دادې چه د نبی د فعل د وجه نه عتاب نه دې شوې چه تاله داسې نه ووکول پکار بلکه په دغه عتاب سره دهغه د سوال جواب ورکړې شو او کوم هلاکت چه د کلی والو احاطه اوکړه دهغې حکمت واضح کول مقصود وو الله تعالی دا واقعه د مثال په توګه پیش کړه چه کله د هلاکت مستحق او غیرمستحق یوځائی وی اودافیصله اوشی چه د هلاکت مستحق برباد کولو دپاره د ټولو هلاکولو نه بغیر بل څه لارنشته نو په داسې صورت کښې ټول هلاك کول جائز کیږی

---

[۱] شرح الکرمانی: ۱۳/ ۲۸.
[۲] عمدة القاری: ۱٤/ ۳۷۲.
[۳] إرشاد الساری: ۶/ ٤۹٤.

# باب ۱۵۱: حرق الدور والنخيل

**دَ ترجمة الباب مقصد** - امام بخاري رحمه الله دلته داخودل غواړي چه دَ ضرورت په وخت كورونه اودَ كجورو ونې سوزول جائزدی (1)

حرق - دَ حاز براوراء سكون سره، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي دَ صحيح بخاری په ټولو نسخوكښې دالفظ هم دغه شان ضبط كړې شوې دې خوداضبط محل نظردې ځكه چه دَدې مادې مصدر حرق نه راځي چونكه دا رباعی ده په دې وجه به دَدې مصدرتحريق يا احراق راځی ممكن دی چه په اصل كښې دَ راء په تشديدسره دَ ماضي صيغه وه او په دې صورت كښې دَ حديث باب مطابق هم جوړيږی. په دې صورت كښې به دَ حرق فاعل محذوف وی دور او نخيل دَ مفعول كيدو دَ وجه نه منصوب وی او تقديرعبارت به شی: حرّق النبی صلی الله تعالی عليه وسلم بفعله أو بإذنه. (2)

علامه عينی رحمه الله په دې باندې رد كولوسره فرمائي چه مذكوره ضبط ته دَ حافظ ابن حجر رحمه الله محل نظر وئيلو په ځانې پخپله محل نظردې. حافظ ابن حجر رحمه الله دا تصريح نه ده كړې چه دا لفظ داسې نساخ ضبط كړې دې يامشائخ فن؟ كه چرې نساخ ضبط كړې دې نودَهغوی دَ ضبط څه اعتبارنشته اوكه چرې مشائخ فن ضبط كړې وی نوبيا دا ضبط صحيح دې چه حرق به په دې صورت كښې دَ احراق نه اسم مصدروی نه چه مصدر (3)

بله خبره داده چه حافظ صاحب تحريق ته رباعی وئيلې حالانكه دَ فن صرف په اصطلاح كښې دَ رباعی اطلاق په داسې لفظ باندې كيږی دَ كوم چه څلور حروف اصلی وی. صحيح خبره داده چه تحريق ثلاثی مزيدفيه دې (4)

[حديث نمبر ۲۸۵۷] (5) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ إِسْمَاعِيلَ قَالَ حَدَّثَنِي قَيْسُ بْنُ أَبِي حَازِمٍ قَالَ قَالَ لِي جَرِيرٌ قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «أَلاَ تُرِيحُنِي مِنْ ذِي الْخَلَصَةِ». وَكَانَ بَيْتًا فِي خَثْعَمَ يُسَمَّى كَعْبَةَ الْيَمَانِيَةَ قَالَ فَانْطَلَقْتُ فِي خَمْسِينَ وَمِائَةِ فَارِسٍ مِنْ أَحْمَسَ، وَكَانُوا أَصْحَابَ خَيْلٍ - قَالَ - وَكُنْتُ لاَ أَثْبُتُ عَلَى الْخَيْلِ،

---

1) عمدة القاري: ۱٤/۴۷۲.

2) فتح الباري: ۶/۱۹۰.

3) عمدة القاري: ۱٤/۴۷۲.

4) عمدة القاري: ۱٤/۴۷۲.

5) أخرجه البخاری أيضًا: ۱/۲۷۶فی الجهاد باب من لايثبت علی الخيل رقم:۳۰۳۶ باب البشارة فی الفتوح رقم:۳۰۷۶و ۱/۵۳۹فی مناقب الانصار، باب ذكر جرير بن عبدالله الجلی رضی الله عنه رقم:۳۸۲۳ و ۲/۶۶٤ فی المغازی باب غزوة ذی الخلصة رقم:٤۳۵۵ – ٤۳۵۷ و ۲/۸۹۸ فی الادب، باب التبسم والضحک رقم:۶۰۸۹ وفی الدعوات باب قول الله تبارک وتعالی ﴿وصل عليهم﴾ ومن خص بالدعاء دون نفسه رقم:۶۳۳۳ وعندأبی داوٗد:۲/۲۶ فی الجهاد باب فی بعثة البشراء رقم:۲۷۷۲.

فَضَرَبَ فِي صَدْرِي حَتَّى رَأَيْتُ أَثَرَ أَصَابِعِهِ فِي صَدْرِي وَقَالَ «اللَّهُمَّ ثَبِّتْهُ وَاجْعَلْهُ هَادِيًا مَهْدِيًّا». فَانْطَلَقَ إِلَيْهَا فَكَسَرَهَا وَحَرَّقَهَا، ثُمَّ بَعَثَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يُخْبِرُهُ فَقَالَ رَسُولُ جَرِيرٍ وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ، مَا جِئْتُكَ حَتَّى تَرَكْتُهَا كَأَنَّهَا جَمَلٌ أَجْوَفُ أَوْ أَجْرَبُ. قَالَ فَبَارَكَ فِي خَيْلِ أَحْمَسَ وَرِجَالِهَا خَمْسَ مَرَّاتٍ.[۲۸۷۱، ۲۹۱۱، ۳۶۱۱، ۴۰۹۷_۴۰۹۹، ۵۷۳۸، ۵۹۷۴]

## رجال الحديث

① **مسدد:**- دامسدد بن مسرهد بن مسربل اسدى رحمه الله دي. دَدوی حالات کتاب الایمان باب من الایمان أن یحب لاخیه مایحب لنفسه لاندي تیرشوی دی. (۱)

② **یحیی:** دایحیی بن سعید قطان رحمه الله دي دَدوی تذکره هم کتاب الایمان کښي تیره شوي ده.(۲)

③ **اسماعیل:**- دا اسماعیل بن ابی خالد احمسی بجلی رحمه الله دي. دَدوی حالات کتاب الایمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده لاندي تیرشوی دی. (۳)

④ **قیس بن ابی حازم:**- دامشهورتابعی قیس بن ابی حازم احمسی بجلی رحمه الله دي دَ دوی حالات کتاب الایمان باب قول النبی صلی الله تعالی علیه وسلم الدین النصیحة لله ولرسوله ولائمة المسلمین وعامتهم لاندي تیرشوی دی. (۴)

⑤ **جریر:**- دا حضرت جریر بن عبدالله احمسی بجلی رضی الله عنه دي. دَدوی حالات هم مذکوره کتاب اوباب لاندي تیرشوی دی. (۵) دا روایت وړاندي کتاب الجهاد کښي باب البشارة فی الفتوح لاندي اوکتاب المغازی کښي په تفصیل سره راروان دي.(۶) په دي روایت کښي دَ ذوالخلصة ذکردي چه دَ قبیله دوس او خثعم بت وو اودغي ته به ئی کعبه یمانیه ونیل رسول الله ﷺ دَدي دَ نړولودپاره جریر بن عبدالله رضی الله عنه اولیګلو اوهغه دا مات کړو او وئی سوزولو

**ترجمة الباب سره مطابقت:**- په روایت کښي دَفانطلق إلیها فکسرها وحرقها ترجمة الباب سره دَدي مناسبت ښکاره دي.

---

۱) کشف الباری:۲/۲.
۲) کشف الباری:۲/۲.
۳) کشف الباری:۱/۲۷۹.
۴) کشف الباری:۲/۷۶۱.
۵) کشف الباری:۲/۷۶۱.
۶) کشف الباری: کتاب المغازی باب غزوة ذی الخلصة ص:۵۷۳ – ۵۷۷.

[حديث نمبر ۲۸۵۸] [1] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رضى الله عنهما - قَالَ حَرَّقَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - نَخْلَ بَنِي النَّضِيرِ. [ر ۲۲۰۱]

## رجال الحديث

① **محمدبن كثير** - دامحمدبن كثير عبدى بصرى رحمة الله عليه دي. دَدوى حالات كتاب العلم باب الغضب فى الموعظة والتعليم إذا رأى مايكره لاندې تيرشوې دى [2]

② **سفيان** - دا ابومحمدسفيان بن عيينه كوفى رحمة الله عليه دي. دَدوى تذكره كتاب العلم باب قول المحدث حدثنا... لاندې تيره شوې ده. [3]

③ **موسى بن عقبه**: - دا موسى بن عقبه اسدى مدنى رحمة الله عليه دې. دَدوى حالات وړاندې تيرى شوى دى [4]

④ **ابن عمر** رضى الله عنهما - دَدوى حالات كتاب الايمان باب قول النبى صلى الله تعالى عليه وسلم بنى الاسلام على خمس لاندې تيرشوى دى. [5]

**قوله**: حرق النبى صلى الله تعالى عليه وسلم نخل بنى النضير - حضرت ابن عمر رضى الله عنهما فرمائى رسول اكرم صلى الله عليه وسلم د بنونضير دَ كهجورو ونې اوسوزولې

**دَ دښمن دَ كورونواو ونو دَ تحريق مسئله** - علامه خرقى فرمائى چه دَدښمن دَ ونو او فصلونو سوزول جائزنه دى اوكه چرې دښمن دَ مسلمانانو په زمكوكښې دَدې تحريق كوى نو دَ تنبيه په توګه دَهغوى په زمكه كښې داسې كول جائزدى. دې دَپاره چه بيادښمن هم دَتحريق نه منع شى [6] موفق الدين ابن قدامة رحمة الله عليه دَ فصلونو او ونو مختلف قسمونه بيانولوسره دَهرقسم حكم بيان كړې دې. هغه فرمائى چه دَ فصل اوونودرې قسمونه دى.

① دَ دښمن دَ قلعه ګانونه چاپيره ونې اوفصلونه چه دَهغوى په قتل كښې بنديز جوړيږى يَا دښمن دَ ونو په شا دَ مسلمانانونه پټيږى يادَ لاړو ارتولودَپاره دَ ونو پرې كولو ضرورت وى يا دښمنان دَ مسلمانانو فصلونه او ونې تباه كوى نو په دې ټولو صورتونوكښې بغيردَ اختلاف دَ فقهاؤ دَدښمن ونې او فصلونه ختمول جائزدى

---

[1] مرتخريجه فى كتاب الحرث والمزارعة باب قطع الشجرة والنخل:۲۳۲۶.
[2] كشف البارى:۵۳۶/۳.
[3] كشف البارى: ۱۰۲/۳.
[4] كتاب العلم باب العلم والفتيافى المسجد.
[5] كشف البارى:۶۳۷/۱.
[6] المغنى لابن قدامة:۵۰۱/۱۰ (۷۵۸۴) وأوجزالمسالک: ۸۰/۹ كتاب الجهاد دارالقلم.

② که د ونو اوفصلونو په پریخودو کښې د مسلمانانو فائده او په تلف کولو کښې نقصان وی نو دغه ندی مطلب دادې چه په دښمن باندې د غلبه موندلو نه پس مسلمانان دهغوی د ونو د سوزو نه خوندونه واخلی اودهغوی ځاروو ته به کیا حاصله شی نو په دې صورت کښې د ونو او فصلونو ختمول جائزنه دی دغه شان که چرې اهل اسلام او دښمنانو په مینځ کښې د جنګ دوران کښې دې څیزونوته د نقصان رسیدو رواج نه وی نو په داسې صورت کښې هم ونو او فصلونوته نقصان رسول جائزنه دی ښکاره خبره ده چه د ردعمل په توګه به دښمن هم د مسلمانانو په علاقوباندې د حمله کولو نه پس دهغوی ونو اوفصلونوته نقصان رسوی

③ دریم او آخری صورت دادې چه د ونو او فصلونو په تباه کولو کښې د مسلمانانو څه فائده نه وی اونه څه نقصان وی اومقصد نی صرف دښمن ته نقصان او دهوکه ورکول وی نو په دې صورت کښې اختلاف دې (١)

**د جمهورفقهاء مسلک اودهغوی استدلال:-** جمهورفقهاء امام شافعی امام مالك امام احمد اسحاق ثوری اوامام ابوحنیفه رحمهم الله په نیز د دښمن د ونو فصلونو او کورونوتحریق جائزدې (٢) ددوی استدلال د احادیث باب نه دې په رومبی روایت کښې دی چه جریر بن عبدالله رضی الله عنه ذوالخلصة ورانولوسره اوسوزله په دویم روایت کښې تصریح ده چه رسول الله ﷺ د بنونضیر د کهجورو ونې سوزولې وې د ابن عمر رضی الله عنهما د روایت نه استدلال کولو جمهور وائی چه دا روایت په دې خبره دلالت کوی چه د دښمن شوکت ختمولواو په هغوی غلبه موندلو دپاره مسلمانانوله دهغوی ونې پرې کول اوبه خرابول د هرطرف نه هغوی راګیرول او هرهغه تدبیراختیارولواجازت دې په کوم سره چه دهغوی ملاماته شی (٣)

**د امام اوزاعی لیث بن سعد اوابوثورمسلک او دهغوی استدلال:-** امام اوزاعی لیث بن سعد او ابوثور رحمهم الله په نیزد دښمن ونې اوکورونوسوزول اوخرابول مکروه دی (٤) ددوی استدلال په موطا امام مالك کښې د یحیی بن سعیدروایت دې په هغې کښې تصریح ده چه ابوبکر رضی الله عنه د شام طرف ته مختلف لښکرې لیګلې وې په هغوی کښې یزیدبن ابوسفیان د یولښکر امیر جوړولوسره هغه ته وصیت کړې وو **ولاتقطعن شجرا مثمرا ولا تخربن عامرا** (٥) یعنی د میوو والا ونې قطعاً مه کټ کوئی او آبادی کله هم مه ورانه وئی

**د امام اوزاعی وغیره د استدلال جواب:-** ① علامه طبری رحمه الله د دې استدلال داجواب ورکړې دې چه ابوبکر رضی الله عنه اصالتاً او قصداً د تحریق نه منع کړې وو که دوران جنګ کښې د دښمن

---

(١) المغنی لابن قدامة:١٠/٥٠١، ٥٠٢ (٧٥٨٤) وأوجزالمسالک: ٩/٨٠ – ٨١.
(٢) الام للامام الشافعی:٧/٣٥٦وشرح ابن بطال:٥/١٨١.
(٣) عمدة القاری:١٤/٣٧٥.
(٤) المغنی لابن قدامة:١٠/ ٥٠٢ وشرح ابن بطال:٥/١٨١ وعمدة القاری:١٤/٣٧٥.
(٥) موطاامام مالک رحمه الله ص:٣٦٥ – ٣٦٦ کتاب الجهاد باب النهی عن قتل النساء والولدان فی الغزو. نور اوګورئی: المغنی لابن قدامة:١٠/٥٠٢ وفتح الباری: ٦/١٩١ وعمدة القاری:١٤/٣٧٤.

مغلوب کولو او بنکته کولو دپاره اتفاقاً د تحریق ضرورت پیښ شی نو هیڅ بدی نشته [۱]

۲ امام شافعی دا جواب ورکړې دې چه حضرت ابوبکر رضی الله عنه رسول الله ﷺ داسې فرمائیلو سره اوریدلې وو چه د شام په ملک باندې به د مسلمانانو فتح وی په دې وجه هغوی د مسلمانانو د فائدې د خاطره یزیدبن ابوسفیان د تحریق او ونو پرې کولو نه منع کړې وه [۲]
مطلب دادې چه ابوبکرصدیق رضی الله عنه ته په دغه پیشنګوئی باندې یقین وو چه په شام باندې به د اسلام لښکر غلبه بیامومی او دهغه ځائی ونې او فصلونه به د مسلمانانو په قبضه کښې راځی نو که ونې پرې کړې شوې او اوسوزولې شوې نو په راتلونکی وخت کښې به هم د مسلمانانو نقصان وی په دې وجه هغوی د تخریب او تحریق نه منع اوفرمائیله.

**ترجمة الباب سره مطابقت:-** د ابن عمر رضی الله عنهما په حدیث باب کښې د بنونضیر د باغونو د تحریق ذکر دې. ترجمة الباب سره د دې مطابقت واضح دې.

## باب ۱۵۲: قتل النائم المشرك

**د ترجمة الباب مقصد:-** امام بخاری رحمه الله دلته داخودل غواړی چه د اوده شوی مشرك قتل جائزدې.

[حدیث نمبر ۲۸۵۹- ۲۸٦۰] [۳] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْلِمٍ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ زَكَرِيَّاءَ بْنِ أَبِي زَائِدَةَ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ -رضي الله عنهما- قَالَ بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- رَهْطًا مِنَ الأَنْصَارِ إِلَى أَبِي رَافِعٍ لِيَقْتُلُوهُ، فَانْطَلَقَ رَجُلٌ مِنْهُمْ فَدَخَلَ حِصْنَهُمْ قَالَ فَدَخَلْتُ فِي مَرْبِطِ دَوَابَّ لَهُمْ، قَالَ وَأَغْلَقُوا بَابَ الْحِصْنِ، ثُمَّ إِنَّهُمْ فَقَدُوا حِمَارًا لَهُمْ، فَخَرَجُوا يَطْلُبُونَهُ، فَخَرَجْتُ فِيمَنْ خَرَجَ أُرِيهِمْ أَنَّنِي أَطْلُبُهُ مَعَهُمْ، فَوَجَدُوا الْحِمَارَ، فَدَخَلُوا وَدَخَلْتُ، وَأَغْلَقُوا بَابَ الْحِصْنِ لَيْلاً، فَوَضَعُوا الْمَفَاتِيحَ فِي كَوَّةٍ حَيْثُ أَرَاهَا، فَلَمَّا نَامُوا أَخَذْتُ الْمَفَاتِيحَ، فَفَتَحْتُ بَابَ الْحِصْنِ ثُمَّ دَخَلْتُ عَلَيْهِ فَقُلْتُ يَا أَبَا رَافِعٍ. فَأَجَابَنِي، فَتَعَمَّدْتُ الصَّوْتَ، فَضَرَبْتُهُ فَصَاحَ، فَخَرَجْتُ ثُمَّ جِئْتُ، ثُمَّ رَجَعْتُ كَأَنِّي مُغِيثٌ فَقُلْتُ يَا أَبَا رَافِعٍ، وَغَيَّرْتُ صَوْتِي، فَقَالَ مَا لَكَ لأُمِّكَ الْوَيْلُ قُلْتُ مَا شَأْنُكَ قَالَ لاَ أَدْرِي مَنْ دَخَلَ عَلَيَّ فَضَرَبَنِي. قَالَ فَوَضَعْتُ سَيْفِي فِي بَطْنِهِ، ثُمَّ تَحَامَلْتُ عَلَيْهِ حَتَّى قَرَعَ الْعَظْمَ، ثُمَّ خَرَجْتُ وَأَنَا دَهِشٌ، فَأَتَيْتُ سُلَّمًا لَهُمْ لأَنْزِلَ مِنْهُ فَوَقَعْتُ فَوُثِئَتْ رِجْلِي، فَخَرَجْتُ إِلَى أَصْحَابِي فَقُلْتُ مَا أَنَا بِبَارِحٍ حَتَّى أَسْمَعَ النَّاعِيَةَ، فَمَا بَرِحْتُ حَتَّى سَمِعْتُ نَعَايَا أَبِي رَافِعٍ تَاجِرِ أَهْلِ الْحِجَازِ. قَالَ فَقُمْتُ وَمَا بِي قَلَبَةٌ حَتَّى أَتَيْنَا النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- فَأَخْبَرْنَاهُ.

---

[۱] ) شرح ابن بطال:۱۸۱/۵ وفتح الباری:۱۹۱/٦ وعمدة القاری: ۱٤/۳۷٤ – ۳۷۵.

[۲] ) الام للامام الشافعی:۳۵۷/۷.

[۳] ) اخرجه البخاری أيضًا فی الجهاد متصلا بعدهذا الحديث رقم:٦۰۲۳ وفی المغازی باب قتل أبی رافع عبدالله بن أبی حقيق رقم:٤۰۳۸ – ٤٤٤۰ وقد تفرد به البخاری رحمه الله.

## رجال الحديث

① **على بن مسلم**:- دايحيى بن مسلم بن سعيدابوالحسن الطوسى رحمه الله دى. دَدوى تذكره وړاندې تيره شوې ده (١)

② **يحيى بن زكريا**:- دا ابوزائده يحيى بن زكريا كوفى رحمه الله دې. دَدوى تذكره هم وړاندې تيره شوې ده. (٢)

③ **ابى**:- دَدې نه دَ يحيى پلار زكريابن ابى زائده مراددې. دَدوى حالات كتاب الايمان باب فضل من استبرأ لدينه لاندې تيرشوى دى. (٣)

④ **ابواسحاق**:- دا ابواسحاق عمرو بن عبدالله بن عبيد سبيعى دې. دَ دوى تذكره كتاب الايمان باب الصلوة من الايمان لاندې تيره شوې ده. (٤)

⑤ **براء بن عازب** رضى الله عنه:- دا مشهورصحابى حضرت براء بن عازب بن الحارث حارثى دوسى رضى الله عنه دې. دَدوى تذكره په مذكوره كتاب اوباب كښې تيره شوې ده. (٥)

كتاب المغازى كښې دا روايت په تفصيل سره راروان دې په هغې كښې ابورافع عبدالله بن ابى حقيق دَ قتل بيان دې. عبدالله بن عتيك رضى الله عنه دَ ابورافع په كوركښې ورننوتلو دَ شپې په تياره كښې ئى په بستره باندې قتل كړې وو. دَ قتل دامنصوبه هغه دَ رسول اكرم صلى الله عليه وسلم په اجازت سره جوړه كړې وه. امام بخارى رحمه الله هم دې واقعه كښې دَ خوب په حالت كښې دَ مشرك دَ قتل په جواز باندې استدلال كړې دې.

[حديث نمبر ۲۸٦۰] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي زَائِدَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ - رضى الله عنهما - قَالَ بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - رَهْطًا مِنَ الأَنْصَارِ إِلَى أَبِي رَافِعٍ فَدَخَلَ عَلَيْهِ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَتِيكٍ بَيْتَهُ لَيْلاً، فَقَتَلَهُ وَهُوَ نَائِمٌ. [۳۸۱۲، ۳۸۱۴]

## رجال الحديث

① **عبدالله بن محمد**:- داابوجعفر عبدالله بن محمدبن عبدالله بن جعفربن اليمان جعفى بخارى رحمه الله دې. دَدوى تذكره كتاب الايمان باب امورالايمان لاندې تيره شوې ده. (٦)

---

(١) كتاب الحج باب ذات عرق لاهل العراق.

(٢) كتاب الوصايا باب قول الله تعالى ﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ ﴾.

(٣) كشف البارى: ٦٧٣/٢.

(٤) كشف البارى: ٣٧٠/٢.

(٥) كشف البارى: ٣٧٥/٢.

(٦) كشف البارى: ٦٥٧/١.

② **يحيى بنادم** - دا يحيى بن آدم بن سليمان الاموى رحمه الله دې. د دوى تذكره تيره شوې ده.[1]
د باقي رجال د سند تذكره د باب په رومبي روايت كښې راغلې ده

**بعث رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم رهطا من الانصار إلى أبي رافع فدخل عليه عبدالله بن عتيك بيته ليلا فقتله وهونائم**

روايت كښې دى چه رسول اكرم ﷺ يوڅو صحابه كرام ابورافع ته اوليګل حضرت عبدالله بن عتيك رضي الله عنه د شپې د هغه په كوركښې داخل شو او په اودو باندې ئې هغه قتل كړو په دې روايت كښې تصريح ده چه عبدالله بن عتيك رضي الله عنه ابورافع په اودو قتل كړو.

**بيته** - د باء فتحه او ياء په سكون سره. د دې معنى ده كور منزل. مطلب دادې چه عبدالله بن عتيك رضي الله عنه د شپې د ابورافع كوركښې ننوتلو. د حموى او مستملى په روايت كښې دا ي، تشديد سره بَيَّتَهُ دې. په دې صورت كښې به دا لفظ د تبيت نه وى او د تبييت معنى د شپې په وخت په دښمن باندې حمله كول دى.[2] مطلب دا چه عبدالله بن عتيك رضي الله عنه ابورافع د شپې په وخت قتل كړې وو.

د باب په دواړو روايتونوكښې د ابورافع د قتل قصه بيان كړې شوې ده. امام بخارى رحمه الله رومبې روايت اوږد او دويم مختصرذكر كړې دې. رومبې روايت د على بن مسلم په طريق او دويم د عبدالله بن محمد په طريق سره. په دواړوكښې فرق دې چه په رومبي روايت كښې امام بخارى رحمه الله او د هغوى شيخ يحيى بن زكريا رحمه الله په مينځ كښې على بن مسلم صرف هم يو: واسطه ده او په دويم كښې عبدالله بن محمد او يحيى بن آدم دوه واسطې دى.

**د حديث باب نه مستنبط فوائد**:- شراح حديث د دې روايت نه مختلف فوائد مستنبط كړى دى

① د مشركانو جاسوسى كول او د هغوى د غفلت نه فائده اوچتول او تكليف وركونكو باندې په بخبرئى كښې حمله كول جائزدى.[3]

② ابورافع به رسول الله ﷺ سره دښمنى لرله او نورخلق به ئې هم په دې باندې تيارول هم په دې وجه هغه قتل كړې شو. د دې نه معلومه شوه چه كه يو داسې مشرك ته د اسلام دعوت وړاندې رسيدې وى نو هغه ته بيا دعوت وركولونه وړاندې هغه قتل كول جائزدى خو په اودو باندې د مشرك قتل هغه وخت جائز كيږى چه كله د وحى يا قرائن يا آثارنه دا معلومه شى چه هغه په خپل كفرباندې په سختنى سره كلك ولاړدې او د ده خو هډو د مسلمانيدو اميدنه وو.[4]

③ د ريمه خبره د دې روايت نه دا معلومه شوه چه په جنګ كښې سختى اختيارول د دښمن د انبوه كثيره نه تعارض كول او د الله تعالى په لاركښې خپل خان په هلاكت كښې اچول جائزدى.[5]

---

[1] ) كتاب الغسل باب الغسل بالصائغ ونحوه.
[2] ) إرشادالسارى:۶/۴۹۸ وعمدة القارى: ۱۴/۳۷۹.
[3] ) شرح ابن بطال:۵/۱۸۳ وفتح البارى:۶/۱۹۲ وعمدة القارى: ۱۴/۳۷۸.
[4] ) فتح البارى:۶/۱۹۲.
[5] ) شرح ابن بطال:۵/۱۸۳.

ترجمة الباب سره مطابقت حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی وهي ظاهرة فيما ترجم له، لان الصحابي طلب قتل أبي رافع وهو نائم، وانما ناداه ليتحقق أنه هو، لئلا يقتل غيره ممن لاغرض له إذا ذاك في قتله وبعد أن أجابه كان في حكم النائم، لانه حينئذ استمر على خيال نومه. بدليل أنه بعد أن ضربه لم يفر من مكانه، ولاتحول من مصجعه حتى عاد إليه فقتله (۱)

يعني ترجمة الباب سره د حديث مطابقت ظاهر دي. ځکه چه عبدالله بن عتيك رضي الله عنه ابورافع په اودو قتل کول غوښتل ابورافع ته هغه آوازونه ځکه ورکړې وودې دپاره چه دا يقين اوشي چه دا هم ابورافع دي ددې په ځائي بل څوك قتل نه کړې شي د کوم په قتل سره چه د هغه دغه وخت کښې هيڅ غرض نه وو د عبدالله بن عتيك رضي الله عنه د آواز جواب ورکولو نه پس ابورافع د نائم په حکم کښې وو هغه وخت دي دوباره پوځ خوب کښې لاړو ددې دليل دادې چه د عبدالله بن عتيك رضي الله عنه د توري ږومبي ګذار خوړلونه پس ابورافع نه خودځپل ځائي نه اوتختيدو اونه د خپلې بسترې نه اخوا ديخوا اوخوزيدو تردې چه ابن عتيك رضي الله عنه په دويم ځل راغلو قتل ئې کړو

## باب ۱۵۳: لاتمنوا لقاء العدو

د ترجمة الباب مقصد -ددې باب لاندې امام بخاري رحمه الله داخودل غواړي چه د دښمن د مقابله خواهش او تمنا کول جائزنه دي. (۲)

[حديث نمبر ۲۸۶۱- ۲۸۶۲] (۳) حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ مُوسَى حَدَّثَنَا عَاصِمُ بْنُ يُوسُفَ الْيَرْبُوعِيُّ حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ الْفَزَارِيُّ عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ قَالَ حَدَّثَنِي سَالِمٌ أَبُو النَّضْرِ مَوْلَى عُمَرَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ كُنْتُ كَاتِبًا لَهُ قَالَ كَتَبَ إِلَيْهِ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي أَوْفَى حِينَ خَرَجَ إِلَى الْحَرُورِيَّةِ فَقَرَأْتُهُ فَإِذَا فِيهِ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فِي بَعْضِ أَيَّامِهِ الَّتِي لَقِيَ فِيهَا الْعَدُوَّ انْتَظَرَ حَتَّى مَالَتِ الشَّمْسُ. ثُمَّ قَامَ فِي النَّاسِ فَقَالَ «أَيُّهَا النَّاسُ لاَ تَمَنَّوْا لِقَاءَ الْعَدُوِّ وَسَلُوا اللَّهَ الْعَافِيَةَ، فَإِذَا لَقِيتُمُوهُمْ فَاصْبِرُوا وَاعْلَمُوا أَنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ ظِلاَلِ السُّيُوفِ - ثُمَّ قَالَ - اللَّهُمَّ مُنْزِلَ الْكِتَابِ وَمُجْرِيَ السَّحَابِ وَهَازِمَ الأَحْزَابِ اهْزِمْهُمْ وَانْصُرْنَا عَلَيْهِمْ».

## رجال الحديث

① **يوسف بن موسى** - داابويعقوب بن موسى بن عيسى المروزي رحمه الله دي ددوی تذکره تيره شوې ده (۴)

---

(۱) فتح الباري: ۶/ ۱۹۲.

(۲) عمدة القاري: ۱۴/ ۲۷۹.

(۳) قد مر تخريجه في الجهاد باب الجنة تحت بارقة السيوف رقم: ۲۸۱۸.

(۴) كتاب الجمعة باب هل على من لم يشهد الجمعة غسل من النساء والصبيان وغيرهم.

④**عاصم بن یوسف الیربوعی**:- دا ابوعمرو عاصم بن یوسف الیربوعی رحمه الله دې. [1] دوی د دې محدثینونه د حدیث روایت کړې دې. ابواسحاق ،ابراهیم بن محمدالفزاری، اسرائیل بن یونس، حسن بن عیاش، حماد بن شعیب الحمانی، ابوالاحوص سلام بن سلیم او فضیل بن عیاض رحمهم الله دَدوی نه روایت کونکی تلامذه کښې ابوشیبه ابراهیم بن ابی بکر بن ابی شیبه ابراهیم بن القعقاع ابراهیم بن یعقوب الجوزجانی ابوعمرو احمدبن حازم ابوبکر احمدبن ابی خیثمه ابوبکر احمدبن محمدالبغدادی احمدبن منصور اواحمد بن یوسف السلمی غوندې اعلام حدیث شامل دی. [2]

امام بخاری رحمه الله اودَدوی نه علاوه امام نسائی او امام ترمذی رحمهما الله هم دَدوی نه روایات اخستی دی. [3] ټولوائمه دَ جرح اوتعدیل دَدوی توثیق کړې دې. [4]

③**ابواسحاق الفزاری**:- دا ابراهیم بن محمد الفزاری رحمه الله دې دَدوی تذکره وړاندې تیره شوې ده. [5]

④**موسیٰ بن عقبه**:- داموسیٰ بن عقبه الاسدی المدنی رحمه الله دې. دَدوی تذکره وړاندې تیره شوې ده. [6]

⑤ **سالم ابوالنضر**:- دا ابوالنضرسالم بن امیه المدنی القرشی التمیمی رحمه الله دې دَدوی تذکره وړاندې تیره شوې ده. [7]

⑥ **عبدالله بن ابی اوفی** رضی الله عنه:- دامشهورصحابی دې. دَدوی تذکره وړاندې تیره شوې ده. [8]

**كنت كاتباله**:- دَ له دَ ضمیرمرجع عمربن عبدالله دې. سالم ابوالنضرداوئیل غواړی چه زهٔ دَ عمربن عبدالله کاتب وو. هم دغه روایت امام بخاری رحمه الله **باب الجنة تحت بارقة السيوف** لاندې نقل کړې دې. اوهلته علامه عینی رحمه الله او حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه "ه" ضمیردَ عبدالله بن ابی اوفی طرف ته راجع دې. علامه قسطلانی رحمه الله دلته فرمائیلی دی چه دَ ترجمة الباب ددې روایت نه دَدغه دواړوحضراتو دَ قول تغلیط کیږی. ځکه چه دلته سالم پخپله تصریح کړې ده چه هغه دَعمربن عبدالله کاتب وو. لهذا داویناکول چه دَ له ضمیرمرجع عبدالله بن ابی اوفی دې صحیح نه ده. [9]

---

[1] الثقات لابن حبان:۵۰۸/۸.

[2] دَ شیوخ او تلامذه دَتفصیل دَپاره اوګورئی تهذیب الکمال: ۵۴۹/۱۳.

[3] تهذیب الکمال:۵۵۰/۱۳.

[4] الثقات لابن حبان:۵۰۸/۸ والجرح والتعدیل رقم الترجمة: ۱۹۴۰ وتهذیب التهذیب:۶۰/۵.

[5] کتاب الجمعة باب القائلة بعدالجمعة.

[6] کتاب الوضوء باب اسباغ الوضوء.

[7] کتاب الوضوء باب المسح علی الخفین.

[8] کتاب الوضوء باب من لم یری الوضوء إلا من المخرجین.

[9] إرشاد الساری:۵۰۰/۶.

أن رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم لی بعض أیامه....

سالم ابوالنضر وائی چه کله هغه عمربن عبدالله سره د خارجیانوسره د جنگ د پاره اووتلو نو د عبدالله بن ابی اوفی د طرف نه چه کوم خط راغلو هغه ما لوستلو وو په هغې کښې لیکلی وو رسول الله ﷺ دښمن سره د جنگ په ورځو کښې د زوال آفتاب انتظار کولو د نمر د زوال نه پس یخه هوا چلیږی په بدن کښې تازه والې پیدا کیږی په دې وجه رسول الله ﷺ د جنگ شروع د پاره د زوال انتظار اوکړو (۱) .شارحینو د دې نور هم حکمتونه بیان کړی باب کان النبی صلی الله تعالی علیه وسلم إذا لم یقاتل أول النهار أخر القتال حتی تزول الشمس لاندې د دې تفصیل تیر شوې دې

**قوله**: ثم قام فی الناس فقال: لاتمنوا لقاء العدو وسلوا الله العافیة: بیا حضورپاك ﷺ خلقوته خطاب فرمائیلوسره اوونیل ایها الناس! دښمن سره د مقابله کولو خواهش مه کوئی بلکه د الله تعالی د امن اوعافیت دعاکوئی دلته اشکال پیداکیږی چه دښمن سره د مقابله کولو خواهش کول جهاد دې اوښکاره خبره ده چه جهاد طاعت دې نو حضورپاك بیا د طاعت د خواهش کولو نه ولې منع اوفرمائیله؟

د دې جواب دادې چه سړی ته خپل انجام معلوم نه وی اودا امکان یقیناً مسترد کولې نه شی چه هغوی به په کلکه دښمن سره د جنگ او کامیابیدو په اراده سره مقابله د پاره اوځی خو په عین وخت کښې هغوی ته د خپل غزائم او ارادو د پوره کولوموقع ملاؤنه شی اود موانع او شدائد رفع کیدل اود اسباب پیدا کیدل د هغوی په اختیار کښې نه وی. بلکه حقیقت خودادې چه خپل اندامونه او جوارح اوبه خپلو ارادو باندې د هغوی هیڅ تصرف نه وی مشهوره واقعه ده چه په غزوه خیبر کښې یوسړې په وینو رنگ ښنگ وو اود زخمونو طاقت نه لرلو د وجه نه هغه خودکشی اوکړه. (۲)

دا واقعه د دې خبرې دلیل دې چه سړې د خپل انجام نه بې خبره وی هغه ته پته نه لگی چه په سختو اومصیبتونو کښې به هغه ترکومې صبرکولې شی. هغه ته معلومه نه وی چه په جنگ کښې به هغه ثابت قدم وی که تختی به؟ د الله تعالی د رضاد پاره به جنگیږی که د ریا اوسمعه د پاره؟ په جنگ کښې به د شریعت د احکامو التزام اوکړې شی اووکه نه؟

دویمه وجه داده چه دښمن سره د مقابله تمناکولو کښې د عجب شائبه ده په دې سره لکه چه په خپل نفس اوقوت باندې یقین اوتوکل اود دښمن د کمزوری ښکاریدو تاثرملاویږی په دې وجه حضورپاك د دښمن د مقابله خواهش کولونه منع کړې اود عافیت او سلامتئی د دعا تلقین اوکړو (۳) حضرت ابوبکرصدیق ﷺ ښه فرمائیلی لان أعافی فاشکر أحب إلی من ان ابتلی

---

۱) فتح الباری:۶/۱۴۹ باب کان النبی صلی الله تعالی علیه وسلم إذا لم یقاتل أول النهار أخر القتال حتی تزول الشمس

۲) إرشاد الساری:۶/۴۹۹.

۳) فتح الباری:۶/۱۹۳ إرشاد الساری:۶/۶۹۹ وتکملة فتح الملهم:۳/۳۴.

فاصبر (۱) عافيت كښې اوسيدل او په دې شكرادا كول زمادذې نه ډيرخوښ دى چه په څه مصيبت كښې اخته شم او په هغې باندې صبراوكړم حضرت علي رضي الله عنه خپل خوني ته اووئيل لاتدع أحدا إلى المبارزة ومن دعاك إليها فاخرج إليه لانه باغ، والله قد ضمن نصر من بغي عليه. (۲) يعني چاته دَ جنګ دعوت مه وركوه خوكه تاله څوك دَ جنګ دعوت دركړى نوهغوى سره جنګيږه ځكه چه هغه باغى دې اوالله تعالى دَباغيانو دَ جنګ كونكود نصرت او امداد ضمانت وركړې دې.

**دښمن ته دَ جنګ دعوت وركولوحكم:**- حسن بصرى رحمه الله دَ حديث باب نه استدلال كولوسره فرمائيلي چه دښمن ته دَ جنګ دعوت وركول مكروه دى (۳) دَ امام ثورى اوزاعى احمدبن حنبل او اسحاق بن راهويه رحمهم الله هم دغه رائې ده. (۴) علامه ابن منذر فرمائيلي دښمن له دَ اميريه اجازت سره دعوت مبارزت وركول جائزدى. په دې باندې هغه اجماع نقل كړې ده (۵) دَامام مالك رحمه الله او امام شافعى رحمه الله په نيز دعوت مبارزت وركول جائزدى. او په دې كښې دَاميراجازت هم ضرورى نه دې. (۶) دَامام مالك رحمه الله نه دَ داسې مجاهد باره كښې تپوس اوكړې شوچه دَ صف دَ مينځ نه "من يبارز" چغه اوچته كړى اودښمن ته دَ مبارزت دعوت وركړى چه څوك دې چه ماسره مقابله اوكړى؟ نوامام جواب وركړو ذلك إلى نيته، إن كان يريد بذلك وجه الله تعالى فارجو أن لايكون به باس، قد كان فعل ذلك من مضى. (۷) مطلب دادې چه دَ مجاهدپه نيت باندې موقوف دى كه چرې په دعوت مبارزت سره دَهغه مقصددَالله تعالى رضاحاصلول وى نوزما اميددې چه داسې كولوكښې هيڅ حرج نشته اسلاف هم دا طريقه اختياركړې وه.

چنانچه انس بن مالك رضي الله عنه روايت دې چه براء بن مالك مرزبان ته دَ مبارزت دعوت وركړو اوهغه ئې قتل كړو. (۸) دغه شان ابوقتاده رضي الله عنه وائي چه دَ حنين په ورځ ما يوسړى ته دَمقابله دعوت وركړو اوقتل مې كړو نورسول الله ﷺ دَهغه مال اسباب ماته راكړل (۹) علامه ابن بطال رحمه الله فرمائى دَ ابوقتاده رضي الله عنه په روايت كښې دا تصريح نشته چه هغه دَ مبارزت دعوت دَ رسول الله ﷺ نه اجازت اخستې وو. (۱۰)

---

(۱) شرح ابن بطال: ۱۸۵/۵ فتح البارى:۱۹۳/۶ إرشادالسارى:۴۹۹/۶ وعمدة القارى: ۳۸۰/۱۴.
(۲) شرح ابن بطال:۱۷۵/۵ إرشاد السارى:۴۹۹/۶ وعمدة القارى: ۳۸۰/۱۴.
(۳) فتح البارى:۶/ ۱۹۳.
(۴) شرح ابن بطال:۱۸۵/۵ وعمدة القارى: ۳۸۰/۱۴.
(۵) شرح ابن بطال:۱۸۵/۵ وعمدة القارى: ۳۸۰/۱۴.
(۶) شرح ابن بطال:۵/ ۱۸۵ وعمدة القارى: ۳۸۰/۱۴.
(۷) شرح ابن بطال:۱۸۵/۵ وعمدة القارى: ۳۸۰/۱۴.
(۸) شرح ابن بطال:۱۸۶/۵ وعمدة القارى: ۳۸۰/۱۴ بل اوګورئى الاصابة فى تمييز الصحابة: ۱۴۴/۱.
(۹) شرح ابن بطال:۱۸۶/۵ وعمدة القارى: ۳۸۰/۱۴.
(۱۰) شرح ابن بطال:۱۸۶/۵.

**قوله فاذا لقیتموهم فاصبروا** - کله چه دښمن سره ستاسو مقابله اوشي نو بیا د صبراو ثابت قدمئ نه کار اخله مطلب دا چه اول خود مقابله خواهش مه وه خو چه کله مقابله راشي نو بیا نه په بهادرئ سره جنګیږه ددې جمله تشریح وړاندې تیره شوې ده

**قوله أن الجنة تحت ظلال السیوف** - جنت د تورو د سورې لاندې دې د تورو د سورې د لاندې څه مطلب دې؟ په دې باندې تفصیلی بحث وړاندې تیرشوې دې

**قوله ثم قال: اللهم منزل الکتاب، ومجري السحاب وهازم الاحزاب اهزمهم وانصرنا علیهم:** بیا حضور پاک اوفرمائیل اې د قرآن پاک نازل کونکي ذاته اوریځي شړونکیه اوکافرانو لښکرو ته ماتې ورکونکیه دوی ته ماتې ورکړه اوددوې په مقابله کښې زمونږ امداد اونصرت اوکړه

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه په دې دعا کښې رسول الله ﷺ د الله تعالی د نصرت د مختلف صورتونو طرف ته اشاره اوکړه د کتاب نه د قرآن مجید آیت ﴿ قَاتِلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ بِأَيْدِيكُمْ ﴾ طرف ته اشاره ده مجری السحاب نه د اوریځو په تسخیر کښې د الله تعالی د قدرت طرف ته اشاره ده اوهغه هواګانوته په خپله رضا باندې حرکت ورکوی خود هوادتیزو چپو چلیدونه باوجود اوریځ کله دخپل ځائی نه بې حرکته پاتې وی کله د باران اوبه راووره وی اوکله نه راوروی نود اوریځو په حرکت سره په جهاد کښې د مجاهدینو په حرکت کښې امداد طرف ته اشاره ده په خپل ځائي باندې حصارې اوریځو سره د اهل اسلام طرف ته وړاندې شوی لاسونه منع کولو طرف ته اشاره ده د انزال مطر نه د مال غنیمت دحصول طرف ته اشاره ده. دهازم الاحزاب نه دې خبرې طرف ته اشاره ده چه په دعا کښې د مخکښنو نعمتونو حواله هم ورکول پکاردی. د الله تعالی په ذات باندې پوره توکل کول اوداعقیده لرل پکاردی چه دهرڅه پوره کونکې هم هغه یوذات دې. بیا حافظ ابن حجر رحمه الله اوفرمائیل چه په دې دعا سره خبرداکړې شوی دی چه مسلمانانوته به درې لوئی نعمتونه ملاویږی

① دانزال کتاب نه اخروی نعمت حاصل شو دې نه مراد اسلام دې ② اجراء سحاب نه دنیوی نعمت حاصل شوې دې نه مراد رزق دې ③ هزیمه الاحزاب نه د مذکوره دواړه نعمتونو تحفظ نعمت حاصلیدو طرف ته اشاره ده [1]

احدیث نمبر ۲۸۶۲] وَقَالَ مُوسَى بْنُ عُقْبَةَ حَدَّثَنِي سَالِمٌ أَبُو النَّضْرِ كُنْتُ كَاتِبًا لِعُمَرَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ فَأَتَاهُ كِتَابُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى - رضی الله عنهما أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله علیه وسلم - قَالَ «لاَ تَمَنَّوْا لِقَاءَ الْعَدُوِّ». [ر: ۲۶۶۳]

دا تعلیق نه دې بلکه په سابق سند باندې معطوف دې امام بخاری رحمه الله داخودل غواړی چه دا

---

[1] فتح الباری: ۶/ ۱۹۳.

روايت هغوى سره صرف هم په يوسندسره طويل اومختصردواړه شان مروى دي (۱) دَ ابوذر په نسخه كښې طويل اومختصر دواړه روايات ذكردى بعض حضراتو صرف مختصر روايت نقل كړې دي (۲)

[حديث نمبر ۲۸۶۳] وَقَالَ أَبُو عَامِرٍ حَدَّثَنَا مُغِيرَةُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنِ الأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه - عَنِ النَّبِىِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «لاَ تَمَنَّوْا لِقَاءَ الْعَدُوِّ، فَإِذَا لَقِيتُمُوهُمْ فَاصْبِرُوا».

## رجال الحديث

① **ابوعامر** -دا ابوعامرعبدالملك بن عمرو عقدى رحمه الله دي (۳) علامه كرمانى رحمه الله فرمائيلي چه كيدې شى داعبدالله بن براد اشعرى دي. دا دَهغه وهم دي (۴)

② **مغيره بن عبدالرحمن**: دامغيره بن عبدالرحمن حزامى رحمه الله دي دَدوى تذكره تيره شوې ده (۵)

③ **ابى الزناد**:- داعبدالله بن ذكوان مدنى رحمه الله دي. دَدوى تذكره كتاب الايمان باب حب الرسول من الايمان لاندې تيره شوې ده (۶)

④ **اعرج**:- دا ابوداؤد عبدالرحمن بن هرمز مدنى رحمه الله دي. دَدوى تذكره هم په مذكوره كتاب اوباب كښې تيره شوې ده. (۷)

⑤ **ابوهريره** رضى الله عنه:- دَدوى تفصيلى تذكره كتاب الايمان باأمور الايمان لاندې تيره شوې ده (۸)

## باب ۱۵۴: الحرب خدعة

**دَ ترجمة الباب مقصد**:- امام بخارى رحمه الله داخودل غواړى چه جنګ دَدهوكې فريب او پټ چل ول نوم دي. دښمن ته ماتې وركول اوښكته كولودپاره داسې پټ چلونه كولو كښې هيڅ مضائقه اوبديت نشته. والله اعلم.

[حديث نمبر ۶۵-۲۸۶۴] (۹) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ هَمَّامٍ

---

۱) فتح البارى:۶/۱۹۴، إرشادالسارى:۶/۵۰۰.

۲) فتح البارى:۶/۱۹۴ وإرشادالسارى:۶/۵۰۰.

۳) فتح البارى:۶/۱۹۴، إرشادالسارى:۶/۵۰۰ ابوعامرعقدى تذكره وړاندې تيره شوې ده كشف البارى:۱/۶۵۱.

۴) فتح البارى:۶/۱۹۴، إرشادالسارى:۶/۵۰۰.

۵) الاستسقاء باب دعاء النبى صلى الله تعالى عليه وسلم: واجعلها سنين كسنى يوسف.

۶) كشف البارى:۲/۱۰.

۷) كشف البارى: ۲/۱۱.

۸) كشف البارى:۱/۶۵۹.

۹) أخرجه أيضًا:۱/۴۳۹ فى الخمس باب قول النبى صلى الله تعالى عليه وسلم: أحلت لكم الغنائم، و۱/۵۱۱ فى المناقب باب علامة النبوة فى الاسلام و۲/۹۸۰ فى الايمان والنذور.... [بقيه برصفحه آئنده...

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضي الله عنه - عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «هَلَكَ كِسْرَى ثُمَّ لاَ يَكُونُ كِسْرَى بَعْدَهُ، وَقَيْصَرٌ لَيَهْلِكَنَّ ثُمَّ لاَ يَكُونُ قَيْصَرٌ بَعْدَهُ، وَلَتُقْسَمَنَّ كُنُوزُهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ». وَسَمَّى الْحَرْبَ خُدْعَةً.

[حديث نمبر ۲۸۶۵] حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَصْرَمَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضي الله عنه - قَالَ سَمَّى النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - الْحَرْبَ خُدْعَةً [۲۹۵۲، ۳۴۲۲، ۶۲۵۵].

[حديث نمبر ۲۸۶۶] حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ الْفَضْلِ أَخْبَرَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ عَمْرٍو سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ - رضي الله عنهما - قَالَ قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «الْحَرْبُ خُدْعَةٌ».

## رجال الحديث

① **عبدالله بن محمد**:- دا ابوجعفر عبدالله بن محمد جعفی رحمه الله دي. دَدوی تذکره کتاب الایمان باب أمور الایمان کښې وړاندې تیره شوې ده. [1]

② **عبدالرزاق**:- دا ابوبکر عبدالرزاق بن همام بن نافع صنعانی یمانی رحمه الله دي. دَدوی تذکره کتاب الایمان باب حسن إسلام المرء لاندې تیره شوې ده. [2]

③ **معمر**:- دا معمر بن راشد ازدی بصری رحمه الله دي. دَدوی تذکره کتاب العلم باب کتابة العلم لاندې تیره شوې ده. [3]

④ **همام**:- دا همام بن منبه بن کامل بن سیج بن ذی کبار الیمانی البصری رحمه الله دي. دَدوی تذکره کتاب العلم باب السمر في العلم لاندې تیره شوې ده. [4]

**هلك كسرى، ثم لايكون كسرى بعده، وقيصر ليهلكن ثم لايكون قيصر بعده، ولتقسمن كنوزها في سبيل الله**

کسری هلاك شو بیا به دَهغه دویم کسری نه وی او قیصر به ضرور هلاکیږی دَهغه نه پس به بیا دویم قیصر نه وی

<u>کسری</u>:- په کاف باندې کسره او فتحه دواړه صحیح دی ابن الاعرابی وانی چه کسره فصیح لغت دې هم دغه رائې دَ ابوحاتم هم ده کسری دَ فارسیانو په تخت ناستو لقب دې او دَخسره

...بقيه ازحاشيه گذشته] باب كيف كانت يمين النبي صلى الله تعالى عليه وسلم وعندمسلم في صحيحه: ۲/۳۹۶ في الفتن. باب هلاك كسرى وقيصر رقم:۲۹۱۸ وعندالترمذي:۲/۴۵ في الفتن باب ماجاء إذا ذهب كسرى فلا كسرى بعده رقم:۲۱۲۷.

[1]) كشف البارى:۱/۶۵۷.

[2]) كشف البارى:۳/۴۲۱.

[3]) كشف البارى:۴/۳۲۱.

[4]) كشف البارى:۴/۳۱۷.

معرب دی ارقیصر د روم د بادشاهانو لقب دی (۱)
په دی روایت کښی رسول الله ﷺ د روم اوفارس ناقابل تسخیر او مستحکم حکومتونه هلاک اوبرباد کیدو پیشنګونی فرمائیلی ده روم اوفارس دهغه وخت د ټولو نه مضبوط او طاقتور حکومتونه وو امریکه چه سپرپاور استیټ دی او په یوه زمانه کښی داحیثیت روس ته هم حاصل وو دغه شان روم اوفارس دخپل وخت سپرپاور حکومتونه وو تاریخ مشاهده کړی ده چه د رسول الله ﷺ د دغه پیشنګوئی نه لږه موده پس د روم او فارس سلطنت ته د زوال داسی کونړی اولګیدو چه د شکست او خواره وارده کیدونه پس نه په روم کښی څوك قیصر جوړ شو او نه د فارس اوسیدونکو چرته د یو کسری شکل اولیدلو.

**د روایات تعارض اودهغی حل:-** دلته اشکال کیږی چه د روایت باب جمله هلك کسری کښی په صیغه د ماضی تصریح ده چه کسری هلاك شو اودده نه پس به یو کسری پاتی نه شی دغه شان د صحیح مسلم په روایت کښی **قدمات کسرای فلا کسرای بعده** (۲) الفاظ واردی په دی کښی **قد** حرف تاکید سره په زمانه ماضی کښی دکسری دهلاکت خبر ورکړی شو خو په جامع ترمذی کښی هم دغه روایت عن سعید بن المسیب عن أبي هریرة په طریق باندی مروی دی په هغی کښی دی **إذا هلك کسرای فلا کسرای بعده، وإذا هلك قیصر فلاقیصر بعده** (۳) اذا حرف شرط د مستقبل دپاره راځی ددی نه معلومه شوه چه هغه وخت کسری اوقیصر دواړه ژوندی وو او رسول اکرم ﷺ په مستقبل کښی دهغوی دهلاکت پیشنګوئی کړی وه اوتاریخی حقیقت هم دغه دی چه د فارس آخری کسری د حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه په خلافت کښی هلاك شوی وو
علامه قرطبی په دواړو روایتونو کښی تطبیق ورکولو سره وائی چه په کومو روایاتو کښی په صیغه د ماضی قدمات کسری اوهلك کسری الفاظ دی ممکن دی چه داسی روایات ابوهریره رضی الله عنه د کسری د هلاکت نه پس د رسول الله ﷺ نه اوریدلی وی او په کومو روایاتو کښی چه په مستقبل کښی د کسری دهلاکت پیشنګونی ورکړی شوی ده هغه نی د کسری دهلاکت نه وړاندی اوریدلی وی (۴)
علامه قرطبی رحمه الله دا توجیه زمونږ په نیز صحیح نه ده اشکال خودادی چه د کسری هلاکت د رسول الله ﷺ په زمانه کښی نه دی شوی بلکه دحضرت عثمان رضی الله عنه په دورخلافت کښی شوی بیا داتوجیه څنګه صحیح کیدی شی چه په کوموروایاتو کښی د کسری هلاکیدل ماضی سره تعبیرکړی شوی دی ممکن ده چه هغه روایات راوی د کسری د هلاك کیدو نه وړاندی اوریدلی وی حقیقت خودادی چه دا پیشنګونی ده اود یقینی کیدو د وجه نه دکسری اودهغه د سلطنت هلاك کیدل ماضی سره تعبیرکړی شوی دی والله اعلم

---

۱) فتح الباری:۶/۷۷۶ کتاب المناقب باب علامة النبوة فی الاسلام.
۲) صحیح مسلم:۲/۳۹۶ کتاب الفتن.
۳) جامع الترمذی:۲/۴۵.
۴) إرشاد الساری:۶/۵۰۰ وفتح الباری:۶/۷۷۷.

علامه قرطبی رحمه الله دویمه تطبیق ورکړې دې چه لفظ هلك او مات کښې معنا تغیر دې. په روایت باب کښې د هلاکت نه مراد د کسری سلطنت د هلاکت طرف ته اشاره ده او د صحیح مسلم په روایت کښې پخپله د کسری د مرګ طرف ته اشاره ده لکه چه په دواړو روایتونو کښې پیشنګونی ده او د یقینی کیدو د وجه دکسری او دهغه د سلطنت هلاك کیدل ماضی سره تعبیر کړې شوی دی

د عربو عادت دې چه د کومې واقعه پیښیدل په مستقبل کښې یقینی وی هغه د ماضی په صیغه کښې بیانوی. لکه چه قرآن مجید کښې احوال قیامت د ماضی په صیغو کښې بیانولې شی د سورت نحل آیت ﴿ أَتَىٰ أَمْرُ اللَّهِ فَلَا تَسْتَعْجِلُوهُ ﴾ کښې پیښه شوې واقعه ماضی سره تعبیر کړې شوې ده. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائیلی چه دویم تطبیق اولی دې ځکه چه د روایاتو مخرج هم یودې په دې صورت کښې دا په تعدد باندې محمول کول به خلاف الاصل اوګرځی. [۱]

**قوله**: وقیصر لیهلکن:- قیصر مبتداء او علمیت وعجمة د وجه نه غیر منصرف دې لیهلکن د دې خبر دې بعض نسخو کښې ولاقیصر الفاظ دی. په دې صورت کښې قیصر د حرف نفی نه پس واقع دې او په وجه د تنکیر علمیت زائل کیدو د وجه منصرف دې. [۲]

**قوله**: لتقسمن کنوزهما فی سبیل الله:- یعنی د قیصر او کسری دواړو خزانې به د الله تعالی په لار کښې تقسیم کولې شی. کنوز د کنز جمع ده هغه مال چه په زمکه کښې دفن وی یاچرته هم ذخیره کړې شوې وی هغې ته کنزوئیلې شی. امام شافعی رحمه الله فرمائی دا پیشنګوئی رسول الله ﷺ قریشوته د تسلئ دپاره فرمائیلې وه. د جاهلیت په زمانه کښې د قریشو تجارتی قافلې به عراق او شام ته تللې. کله چه د قریشو اکثر خلقو اسلام قبول کړو نو دهغوی اندیښنه وه چه هسې نه دښمن د عراق او شام طرف ته تلونکې تجارتی قافلې په لار کښې د هغوی د اسلام راوړلو د وجه نه بندې نه کړی. رسول الله ﷺ د تطبیب قلوب او تسلئ دپاره اوفرمائیل تاسو ته به هیڅ خطره نه وی په روم کښې به نه قیصر پاتې شی او نه په فارس کښې کسری. بلکه دهغوی قیمتی مالونه او خزانې به په مسلمانانو کښې تقسیمیږی. [۳]

**قوله**: وسمی الحرب خدعة:- یعنی رسول الله ﷺ جنګ ته مکر او فریب اوفرمائیلو.

**د خدعه مطلب**:- د خدعه په ضبط کښې پنځه صورتونه ذکر کړې شوی دی او په هر صورت کښې د دې معنی مختلف ده. ① خاء په ضمه او دال په سکون سره د دې معنی ده جنګ دهوکه فریب [۴]

② د خاء ضمه او دال فتح سره. په دې صورت کښې همزه او لمزه په شان مبالغه صیغه ده.

---

[۱]) فتح الباری: ۶/۷۷۷.

[۲]) فتح الباری: ۶/۷۷۷.

[۳]) عمدة القاری: ۱۴/۳۸۱ وإرشاد الساری: ۶/۵۰۱.

[۴]) إرشاد الساری: ۶/۵۰۱.

يعنى جنګ سرى په ډيره دهوكه كښې اچونكې ځيزدې د يوې لمحې غفلت او بې پرواهنى په نتيجه كښې هغوى يولونى خطرې سره مخ كولې شى لهذا په جنګ كښې دهرقسم صورت حال سره مخ كيدودپاره هروخت بيدار او چست اوسيدل پكاردى او دښمن سپك ګڼړلوسره غافل كيدل نه دى پكار (۱)

③ دَ خاء اودال دواړو فتح سره دَ خادع جمع ده يعنى دهوكه وركونكې په دې صورت كښې به دَ الحرب خدعة مطلب داوى جنګ كونكى دهوكه بازوى (۲)

④ دَ خاء كسره اودال په سكون سره دَدې معنى ده حقيقت پټولوسره دَهغې خلاف ښكاره كول (۳)

⑤ پنځم اوآخرى صورت دادې چه خدعة دَخاء فتحه او دال سكون سره اوهم دغه افصح هم دې ابوذر هروى او قزاز دَدې افصح كيدو باندې جزم كړې دې په دې صورت كښې دَ فعلة په وزن باندې كوم چه دَ مرة دپاره راځى يعنى په جنګ كښې يوځل چل ول كولوسره كاميابى حاصليږى دَخدعة دَدې ضبط باره كښې ثعلب وائى بلغنا أنها لغة النبى صلى الله تعالى عليه وسلم يعنى مونږ ته دا روايت رارسيدلې دې اوهم دغه دَ رسول الله ﷺ لغت دې دَ ثعلب دَدې قول وضاحت كولوسره ابوبكربن طلحه وائى أراد ثعلب أن النبى صلى الله تعالى عليه وسلم كان يستعمل هذه البنية كثيرًا لوجازة لفظها ولكونها تعطى معنى الاخيرتين، ويعطى معناها أيضًا الامر باستعمال الحيلة مهما أمكن ولومرة وإلا فقاتل فكانت مع اختصارها كثيرة المعنى (۴)

دَ ثعلب مقصد دادې چه رسول الله ﷺ به اكثرهم دغه صيغه استعمالوله دَدې يوه وجه خوداده چه دا صيغه مختصر مګرجامع او دَ بلاغت نه ډكه ده دويمه وجه داده چه دا دَ باقى دواړو صيغو (خُدَعَة اوخُدَعَة) معنى هم وركوى دريمه وجه داده چه دَدې معنى دې حكم ته هم متضمن ده چه كله هم موقع ملاؤشي چال نه كار اخلئى سره دَدې چه يوځل ولې نه وى ګنى جنګيږئى خلاصه داده چه دا صيغه دمختصركيدو سره كثيرالمعانى ده.

دَخدعة په آخره كښې تاء مدوره وحدت باندې دلالت كولودپاره ده. مطلب دادې چه رسول الله ﷺ مسلمانانوته په جنګ كښې دَ چال چلولوترغيب وركړې دې چه دښمن ته فريب وركوئى سره دَدې چه يوځل ولې نه وى يا حضورپاك مسلمانانوته دحزم احتياط او بيدار اوسيدو تلقين فرمائيلې دې چه دښمن كمزورې ګڼړلوسره غفلت نه دى كول پكار سره دَدې چه دَهغوى دَ طرف نه دَ دهوكه اوفريب هم يوه واقعه درپيښه شى په هغې سره مسلمانانوته غيرمعمولى نقصان رسيدلې شى (۵)

---

۱) فتح البارى:۶/۱۹۵.

۲) فتح البارى:۶/۱۹۵.

۳) فتح البارى:۶/۱۹۵.

۴) فتح البارى:۶/۱۹۵.

۵) فتح البارى:۶/۱۹٤ وعمدة القارى:۱٤/۲۸۲.

**په جنګ کښې د دهوکه حکم** - په جنګ کښې د دهوکه هریو صورت اختیارول جائزدی علامه نووی رحمه الله په دې باندې جمهورو اتفاق نقل کړې دې [1]. البته داسې صورت اختیارکول جائزنه دی په کوم سره چه دعهدوپیمان خلاف ورزی لازم راځی حضرت عمر رضی الله عنه به مختلف بلاد اوامصارته لیکلی شوو لښکرو ته لکل چه کوم سړې عجمی کافر د امان ورکولونه پس قتل کړی دهغې په بدله کښې به هم هغه قتل کوم [2].

**د خداع دوه مثالونه** - مشهورمحدث عبدالله بن ابی جمره په جنګ کښې د خداع دوه مثالونه ذکرکړی دی ① یو خودا چه ته کله د ښمن خپل طرف ته په راتلو اووینې نو زر هغوی ته وایه تاسو پسې شاته ځوك راروان دی حالانکه شاته هیڅ ځوك هم نه وی کله چه هغوی شاته اوګوری نوتاسو حمله اوکړئی اوهغه قتل کړئی [3] ② یابیاهغوی ته داووایه چه ستاسو د کجاوې دا رسئی ولې سسته ده؟ آیا ته مونږ ته د خپلې شهسوارنی یوه نمونه خودلې شې؟ کله چه کجاوې طرف ته دهغه توجه پیداشی نوته هغه قتل کړه [4].

## باب ۱۵۵: الكذب في الحرب

**د ترجمة الباب مقصد** - په باب سابقه کښې د خداع في الحرب د جواز بیان وو د دې باب لاندې امام بخاری رحمه الله کذب في الحرب حکم خودل غواړی یعنی چه کذب في الحرب جائزدې که نه؟ که چرې جائزدې نو صراحتا جائزدې که تلویحا؟ [5]

[حدیث نمبر ۲۸۶۷] [6] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ - رضى الله عنهما - أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «مَنْ لِكَعْبِ بْنِ الأَشْرَفِ، فَإِنَّهُ قَدْ آذَى اللَّهَ وَرَسُولَهُ». قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ أَتُحِبُّ أَنْ أَقْتُلَهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ «نَعَمْ». قَالَ فَأَتَاهُ فَقَالَ إِنَّ هَذَا - يَعْنِي النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - - قَدْ عَنَّانَا وَسَأَلَنَا الصَّدَقَةَ، قَالَ وَأَيْضًا وَاللَّهِ قَالَ فَإِنَّا قَدِ اتَّبَعْنَاهُ فَنَكْرَهُ أَنْ نَدَعَهُ حَتَّى نَنْظُرَ إِلَى مَا يَصِيرُ أَمْرُهُ قَالَ فَلَمْ يَزَلْ يُكَلِّمُهُ حَتَّى اسْتَمْكَنَ مِنْهُ فَقَتَلَهُ. [ر: ۲۳۷۵]

## رجال الحديث

① **قتيبه بن سعید**:- دا ابورجاء قتیبه بن سعید بن جمیل بن طریف ثقفی رحمه الله دې دهغوی حالات کتاب الایمان باب إفشاء السلام من الاسلام لاندې تیرشوی دی [7]

---

[1] ) إرشادالساری: ۶/۵۰۰ – ۵۰۱.
[2] ) فتح الباری: ۶/۱۹۵.
[3] ) بهجة النفوس لابن أبی جمرة: ۲/۱۲۱.
[4] ) بهجة النفوس لابن أبی جمرة: ۲/۱۲۱.
[5] ) عمدة القاری: ۱۴/۳۸۳ وإرشاد الساری: ۶/۵۰۲.
[6] ) مرتخریجه فی کتاب الرهن. باب رهن السلاح رقم: ۲۵۱۰.
[7] ) کشف الباری: ۲/۱۸۹.

۲ **سفیان** - داسفیان بن عیینه بن ابی عمران هلالی کوفی رحمه الله دې دَ ده تفصیلی تذکره کتاب العلم باب قول المحدث حدثنا او أخبرنا أنبانا لاندې تیره شوې ده [1]

۳ **عمرو بن دینار** - دا ابومحمد عمرو بن دینار مکی جمحی دې دَدوی تذکره کتاب العلم باب کتابة العلم لاندې تیره شوې ده [2]

۴ **جابر بن عبدالله** - دامشهورصحابی دې دَدوی تذکره تیره شوې ده [3]

**قوله** أن النبی صلی الله تعالی علیه وسلم قال: من لكعب بن الاشرف، فانه قد آذى الله ورسوله؟ قال محمد بن مسلمة: أتحب أن أقتله یارسول الله؟ قال نعم....: په روایت کښې دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل څوك دې چه دَ کعب بن اشرف کار تمام کړی ځکه چه هغه الله تعالی اودَهغه رسول ته تکلیف رسولې دې حضرت محمد بن مسلمه عرض اوکړو آیا تاسو دا خوښوئی چه زه هغه قتل کړم؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل او.

**قوله** فأتاه فقال: إن هذا یعنی النبی صلی الله تعالی علیه وسلم قد عنانا وسألنا الصدقة قال: وأیضًا والله لتملنه....: دوی کعب بن اشرف له راغلو محمد بن مسلمه اووئیل دې سړی (رسول اکرم ﷺ) مونږ په مشقت کښې اچولې یو اوهغه زمونږ نه دَ صدقه مطالبه کوی. کعب بن اشرف اووئیل په الله تعالی قسم دې چه تاسوبه دَده نورتنګ شئ.

**قوله** قال: فأنا قد اتبعناه فنكره أن ندعه، حتی ننظر إلی ما یصیر أمره: محمد بن مسلمه اووئیل مونږ دَهغه اتباع کړې ده په دې وجه مونږ دا نه غواړو چه هغه پریږدو تردې چه مونږ هغه سره کیدونکې انجام اووینو. دَمغازی په روایت کښې دی فائذن لی أن أقول شیئًا قال نعم. یعنی په دې موقع باندې محمد بن مسلمه دَ رسول الله ﷺ په خدمت کښې دا هم عرض کړې ووچه تاسو ماته اجازت راکړئی چه څه خبره اوکړم (مطلب داچه داسې ذومعنی او مبهم خبره اوکړم چه دَدې خیال اوبرابروی اوماته دَهغه قتل آسان شی) نوحضورپاك ﷺ اجازت ورکړو. په مغازی کښې داواقعه په تفصیل سره راروانه ده [4]

**دَ صریح کذب حکم:** - په حدیث باب کښې محمد بن مسلمه رضی الله عنه کعب بن اشرف سره چه کومه مکالمه اوکړه په هغې کښې دَ صریح کذب تصریح نشته علامه قسطلانی رحمه الله فرمانیلی چه دا تعریض دې. البته هم دغه روایت دَ وړاندې باب لاندې نقل دې په دې کښې دَ صریح کذب

---

[1] ) کشف الباری:۳/۱۰۲.

[2] ) کشف الباری:۴/۳۰۹.

[3] ) کتاب الوضوء باب صب النبی صلی الله تعالی علیه وسلم وضوءه علی المغمی علیه.

[4] ) کشف الباری کتاب المغازی ص:۱۹۱ — ۱۹۶.

دَ اجازت تصریح ده دَ روایت الفاظ دی فاذن لي.فاقول؟ قال قد فعلت دا الفاظ په صریح کذب باندې دلالت کوی دې نه معلومه شوه چه رسول الله ﷺ په بعض موقعوکنبې دَ کذب صریح اجازت ورکړې دې دَ سنن ترمذی روایت ددې نه زیات صریح دې په دې کښې دا هم خودلې شوی دی چه کذب صریح په کوموموقعوکښې جائزدی دَ اسماء بنت یزید رضی الله عنها په مرفوع روایت کښې دی لایحل الکذب إلا فی ثلاث تحدیث الرجل امرأته یرضیها والکذب فی الحرب وفی الاصلاح بین الناس [1]

علامه طبری رحمه الله فرمائی چه په دې روایت کښې دَ بعض حضراتو په نیزدَکذب مرخص نه تول انواع دَ کذب مراددی اودا په خپل اطلاق باندې محمول دی که چرې په کذب کښې مصلحت وی نو ددې گنجائش شته ددې په نیزمنهی عنه او مذموم کذب هغه دې کوم چه نقصان ده وی اوفائدې نه خالي وی بعض حضراتوفرمائیلی دی چه دَ کذب یوقسم هم جائزنه دې په دې روایت کښې چه دَ کوم کذب مرخص ذکرراغلې دې دې نه توریه او تعریض مراددې [2]

حقیقت دادې چه دلته کذب خپل حقیقی معنی باندې محمول دې دَعلامه رشیداحمد گنگوهی رحمه الله په رائې کښې هم دغه ده.حضرت گنگوهی رحمه الله فرمائی چه په حدیث کښې کذب په خپله حقیقی معنی باندې محمول دې لیکن علماؤ احتیاطًا فرمائیلی چه دې نه توریه او تعریض مراددې دې دپاره چه عوام د دروغوئیلو په معامله کښې جرې او بې باک نه شی [3]

## باب ۱۵۶: الفتک بأهل الحرب

فتک:۔باب سمع نه دَ فاء فتحه اوتاء سکون سره په دې معنی کښې دی په دهوکه یاغفلت سره قتل کول حمله کول یا په بنکاره وژل [4] دلته ددې معنی دَغفلت په حالت کښې قتل کول دی

**دَ ترجمة الباب مقصد**.۔ دَامام بخاری رحمه الله مقصددادې چه دَ غفلت په حالت کښې په دښمن باندې ناځاپې حمله کول اوهغه قتل کول جائز دی [5]

[حدیث نمبر ۲۸۶۸] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو عَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «مَنْ لِكَعْبِ بْنِ الأَشْرَفِ». فَقَالَ مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ أَتُحِبُّ أَنْ أَقْتُلَهُ قَالَ «نَعَمْ». قَالَ فَأْذَنْ لِي فَأَقُولَ. قَالَ «قَدْ فَعَلْتُ». [ر: ۲۳۷۵]

## رجال الحدیث

① **عبدالله بن محمد**:۔ داابوجعفر عبدالله بن محمد جعفی رحمه الله دې دَدوی تذکره وړاندې کتاب

---

[1] سنن الترمذی:۱۵/۲، کتاب البر والصلة، باب ماجاء فی إصلاح ذات البین.

[2] الکوکب الدری فی شرح جامع الترمذی:۵۳/۳.

[3] الکوکب الدری فی شرح جامع الترمذی:۵۳/۳.

[4] القاموس الوحید:۱۲۰۲.

[5] عمدة القاری:۳۸۵/۱۴ وإرشاد الساری:۵۰۳/۶.

الایمان باب أمور الایمان کښې تیره شوې ده (۱)

۲ **سفیان** داسفیان بن عیینه بن ابی عمران هلالی الکوفی دې ددوی حالات کتاب العلم باب قول المحدث حدثنا أو اخبرنا وأنبانا لاندې تیرشوی دی (۲)

۳ **جابر** رضی الله عنه دامشهور صحابی رسول حضرت جابربن عبدالله انصاری رضی الله عنه دې د دوی حالات وړاندې تیرشوی دی (۳)

دتیرشوی باب روایت امام بخاری رحمه الله دمناسبت د وجه نه دلته هم مختصراً بیان کړې دې امام بخاری رحمه الله ددې روایت نه استدلال کړې دې چه محمدبن مسلمه رضی الله عنه کعب بن اشرف غولولوسره قتل کړو هم دغه فتك دې

**ترجمة الباب سره مناسبت**:- دحدیث باب هیڅ یولفظ صراحتاً ترجمة الباب سره مناسبت نه لری علامه عینی رحمه الله او علامه قسطلانی رحمه الله فرمائیلی دی چه دا روایت معناً د ترجمة الباب مناسب دې (۴)

## باب ۱۵۷: مایجوزمن الاحتیال والحذر، معمن تخشی معرته

**الاحتیال**:-ددې معنی دهوکه ورکول مکر اوچال چلولو ده

**الحذر**:- حذریحذر (س) معنی ده بیدارکیدل، تکړه کیدل. حذرالشئ ومنه ویریدل. بچ کیدل. محتاط کیدل (۵) دلته احتیاط مراد دې

**معرة**:- ددې معنی تکلیف اوسزا. (۶)

**د ترجمة الباب مقصد**:- امام بخاری رحمه الله دلته داخودل غواړی که د چانه د شرفساد اونقصان رسیدو خطره وی نود هغه نه د بچ کیدودپاره احتیاطی تدابیر اختیارول اویټ چال چلول جائزدی

[حدیث نمبر ۲۸۶۹] (۷) قَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِي عُقَيْلٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ -رضی الله عنهما- أَنَّهُ قَالَ انْطَلَقَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- وَمَعَهُ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ قِبَلَ ابْنِ صَيَّادٍ، فَحُدِّثَ بِهِ فِي نَخْلٍ، فَلَمَّا دَخَلَ عَلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ-

---

۱) کشف الباری:۶۵۷/۱.

۲) کشف الباری:۳/۱۰۲.

۳) کتاب الوضوء باب صب النبی صلی الله تعالی علیه وضوءه علی المغمی علیه..

۴) إرشاد الساری:۶/۵۰۴.

۵) القاموس الوحید ص:۳۲۱.

۶) القاموس الوحید:۱۰۶٤.

۷) قدمرتخریجه فی کتاب الجنائز. باب إذاأسلم فمات. هل یصلی علیه؟وهل یعرض علی الصبی الاسلام؟ رقم:۱۳۵۵.

صلى الله عليه وسلم - النَّخْلَ ، طَفِقَ يَتَّقِي بِجُذُوعِ النَّخْلِ ، وَابْنُ صَيَّادٍ فِي قَطِيفَةٍ لَهُ فِيهَا رَمْرَمَةٌ، فَرَأَتْ أُمُّ ابْنِ صَيَّادٍ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَتْ يَا صَافِ، هَذَا مُحَمَّدٌ، فَوَثَبَ ابْنُ صَيَّادٍ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «لَوْ تَرَكَتْهُ بَيَّنَ». [ر: ۱۲۸۹]

حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما وائی چه رسول الله ﷺ ابی بن کعب رضي الله عنه سره ابن صیاد له تشریف یوړو ورته اوخودلې شو چه هغوی د کهجورو په باغ کښې دې کله چه حضور پاک هلته اورسیدو نو خپل خان ئې د کهجورو د بناخونو شاته پټ روان کړو ، دې د پاره چه ابن صیاد ئې اونه لیدلې شی، هغه وخت ابن صیاد په څادر کښې وو او د څادر دننه نه د کونړاری آواز راتللو دهغه مور دې اولیدواوچغه ئې کړه اې صاف ،دا د ابن صیاد نوم دې، دا محمد ﷺ، رارسیدلې دې ابن صیادراټوپ کړو رسول الله ﷺ اوفرمائیل که دده مور ده ته ،زمونږ د راتلو باره کښې، نه وو ونیلی نوهغه به په ښکاره بیان کړې وو یعنی دهغه دخبرونه به اندازه شوې وه چه دې په حقیقت کښې دجال دې یا بل څوك دې دا روایت په تفصیل سره کتاب الجنائزکښې تیرشوې دې.

**دَ مذکوره تعلیق تخریج**:- علامه اسماعیلی په مستخرج کښې دا تعلیق عن أبي عمران بن هانئ عن الرمادي، عن ابن بکیر وأبي صالح عن اللیث په طریق باندې موصولاً روایت کړې دې (۱)

**دَ مذکوره تعلیق مقصد**:- امام بخاری رحمه الله باب قایم کړې دې چه دَ شر اونقصان نه دَ بچ کیدو دپاره حذر اوحتیاط دواړه جائزدی. ددې تعلیق نه امام بخاری رحمه الله دَ حذر اواحتیاط په جواز باندې دَ رسول الله ﷺ طرزعمل دَ استدلال په توګه پیش کړې دې یعنی رسول الله ﷺ دَ کهجورو دَ بناخونو شاته پټ روان ووخکه چه دَ ام ابن صیادپه لیدوسره دَ نقصان اندیښنه وه.

**ترجمة الباب سره مطابقت**:- علامه عینی رحمه الله فرمائی چه دَ تعلیق باب جز طفق یتقي بجذوع النخل ترجمة الباب سره مطابقت لری ددې جملې مطلب دادې چه رسول الله ﷺ دَ کهجورو په بناخونوکښې خپل خان پټ کړو لاړو دې دپاره چه ام ابن صیاد هغوی اونه ګوری هم دغه حذر اواحتیاط دې خکه چه دَام ابن صیاد نه دَ نقصان رسیدو اندیښنه وه (۲)

## باب ۱۵۸ : الرجز فی الحرب ورفع الصوت فی حفر الخندق

**الرجز**:- رجز دَ شعرونو دَ مختلف بحرونویومعروف قسم دې ددې جوړخ سجع سره مماثلت لری خودا په وزن کښې دَ شعر په شان موزون وی ددې وزنونه نیزدې نیزدې وی اومصرعې مختصر او وړې کومې چه په لوستلواو پوهیدلو کښې دعامو شعرونو په نسبت ډیرې آسانې وی لکه څنګه چه شعرونه لوستونکوته شاعران وائی دغه شان رجزلوستونکوته راجز وائی (۳)

دَ لسان العرب مؤلف علامه ابن منظور فرمائی چه په لغت کښې رجز معنی تتابع الحرکات

(۱) تغلیق التعلیق لابن حجر: رحمه الله ۳/۴۵۶.

(۲) عمدة القاری: ۱۴/۳۸۶.

(۳) لسان العرب لابن منظورالانصاری: ۵/۴۱۰. مادة رجز والنهایة لابن لاثیر: ۱/۶۴۶ – ۶۳۷.

ده ومنه قولهم ناقة رجزاء رجزاء په عربو کښې هغه اوښې ته وائی د کومې خپې چه د اوچتیدو په وخت رپیږی رجز دا د شعرد پاره هم د رجز د اصطلاح په وجه مشهورشو چه ددې مصرعې ورې اولندې وی لوستونکې د یوې مصرعې نه بلې ته په تیزئی سره وراوړی لکه چه دلته تتابع الانتقال کیږی لکه چه د اوښې په خپه کښې رپیدلو وخت کښې تتابع الحرکات کیږی (۱)

**دَ ترجمة الباب مقصد** - عربوبه عموماً په میدان جنګ کښې تازه والې پیدا کولو اود حوصلو اوچتولو دَپاره رجزیه اشعار لوستل. امام بخاری رحمه الله ترجمة الباب سره داخودل غواړی چه میدان جنګ او دَ خندق دَ کنستلو په وخت په اوچت آواز سره رجزیه شعرونه وئیل جائزدی والله اعلم

په سنن ابوداؤد کښې دَ قیس بن عباس په طریق سره نقل کړې شوی روایت کښې دی كان أصحاب رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم يكرهون الصوت عند اللقاء (۲) یعنی صحابه کرامو به په دښمن باندې دَ حملې کولو په وخت شور اوچغې وهل ناخوښولې چه دا خودویریدو اودهشت علامت دې اوخاموشی دَ ثبات یعنی کلکوالی دلیل دې. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمانی امام بخاری رحمه الله دَ ترجمة الباب دویم جز ورفع الصوت في حفر الخندق نه دې خبرې طرف ته اشاره کړې ده چه دَ آواز اوچتوالې په عین دَ جنګ وخت کښې ناخوښه دې البته دَ جنګ په نورو موقعو کښې رجزیه شعرونه وئیل جائزدی. (۳)

**قوله**: فِيهِ سَهْلٌ وَأَنَسٌ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - [ر: ۲۶۷۹، ۳۵۸۶]

دا روایت امام بخاری رحمه الله کتاب المغازي کښې باب غزوة الخندق لاندې موصولاً روایت کړې دې. په دې کښې دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ ژمی په یخ سحر کښې صحابه په خندق کنستلو سره په اولګه او سترپوالی سره اوکتل نو وئی فرمائیل

اللهم لا عيش إلا عيش الآخرة فاغفر الانصار والمهاجرة

صحابه کرامو په جواب کښې اووئیل:

نحن الذين بايعوا محمدًا على الجهاد ما بقينا أبدًا (۴)

امام بخاری رحمه الله دَ روایت هم ددې جزطرف ته اشاره کړې ده چه دَ خندق دَ کنستلو په وخت حضورپاك اودهغوی صحابه کرامو شعرونه وئیلی.

وأنس - دا په سهل باندې عطف کیدودَ وجه نه مرفوع دې. دَدې نه دَحضرت انس رضی الله عنه دې روایت طرف ته اشاره ده کوم چه هم په کتاب الجهاد کښې باب حفر الخندق لاندې امام بخاری رحمه الله موصولاً نقل کړې. په دې کښې دی چه مهاجرین اوانصار صحابه رضی الله عنهم دَ مدینې خلورو

---

(۱) لسان العرب: ۴۱۲/۵.

(۲) سنن أبي داؤد: ۴/۲ كتاب الجهاد باب فيما يؤمر به من الصمت عند اللقاء.

(۳) فتح الباری: ۱۹۸/۶.

(۴) کشف الباری کتاب المغازی ص: ۲۸۲ — ۲۸۳.

وازو طرفو ته خندق کنستلو وخت کښې دا شعرونه ونیل

نحن الذین بایعوا محمدًا    علی الجهاد ما بقینا أبدًا

رسول الله ﷺ به د دې په جواب کښې ونیل

اللهم إنه لا خیر إلا خیر الآخرة    فبارك فی الانصار والمهاجرة (۱)

**قوله** وَفِيهِ يَزِيدُ عَنْ سَلَمَةَ. [ر: ۳۹۶۰]

د یزیدنه یزید بن ابی عبید او سلمه نه سلمه بن الاکوع رضی الله عنه مراددې دا روایت امام بخاری رحمه الله کتاب المغازی باب غزوة خیبر (۲) او کتاب الدعوات، باب قول الله تبارك وتعالی ﴿ وَصَلِّ عَلَيْهِمْ ﴾ لاندې موصولاً روایت کړې دې (۳) چنانچه یزید بن ابو عبید عن سلمه ابن الاکوع په طریق سره مروی روایت کښې د عامر بن الاکوع واقعه بیان کړې شوې ده. دامام بخاری اشاره دغه واقعه طرف ته ده. عامر بن الاکوع د سلمة بن الاکوع رضی الله عنه د تره خوئی وو په روایت کښې دی چه صحابه کرام و سره خیبر طرف ته روان وو. د شپې وخت وو عامر بن الاکوع ته چا وونیل ألا تُسمعنا من هنیهاتك؟ آیا تاسو مونږ ته څه رجزیه شعرونه نه اوروئی. نو عامر بن اکوع د سورلئی نه راکوز شو او د قوم مخکښې ئی خوش آوازی شروع کړه.

اللهم لولا أنت ما اهتدینا    ولا تصدقنا ولا صلینا

فاغفر فداءً لك ما أبقینا    وثبت الاقدام إن لاقینا

وألقین سکینة علینا    إنا إذا صیح بنا أتینا

وبالصیاح عولوا علینا

[حدیث نمبر ۲۸۷۰] (۴) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ عَنِ الْبَرَاءِ - رضی الله عنه - قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ - صلی الله علیه وسلم - يَوْمَ الْخَنْدَقِ وَهُوَ يَنْقُلُ التُّرَابَ حَتَّى وَارَى التُّرَابُ شَعَرَ صَدْرِهِ، وَكَانَ رَجُلاً كَثِيرَ الشَّعَرِ وَهُوَ يَرْتَجِزُ بِرَجَزِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ رَوَاحَةَ:

اللَّهُمَّ لَوْلاَ أَنْتَ مَا اهْتَدَيْنَا    وَلاَ تَصَدَّقْنَا وَلاَ صَلَّيْنَا

فَأَنْزِلَنْ سَكِينَةً عَلَيْنَا    وَثَبِّتِ الأَقْدَامَ إِنْ لاَقَيْنَا

إِنَّ الأَعْدَاءَ قَدْ بَغَوْا عَلَيْنَا    إِذَا أَرَادُوا فِتْنَةً أَبَيْنَا

يَرْفَعُ بِهَا صَوْتَهُ. [ر: ۲۶۸۱]

---

(۱) کشف الباری کتاب المغازی ص: ۲۸۳.

(۲) صحیح بخاری: ۶۰۳/۲ کتاب المغازی باب غزوة خیبر رقم: ۴۱۶۶.

(۳) صحیح بخاری: ۹۳۷/۲ کتاب الدعوات. باب قول الله تبارك وتعالی ﴿ وَصَلِّ عَلَيْهِمْ ﴾ رقم: ۶۳۳۱.

(۴) مر تخریجه فی الجهاد باب حفر الخندق رقم: ۳۸۳۶.

# رجال الحدیث

① **مسدد** - دا مسدد بن مسربل بن مرعبل الاسدی البصری ﷫ دې دَدوی حالات کتاب الایمان باب من الایمان أن یحب لاخیه مایحب لنفسه لاندې تیرشوی دی (1)

② **ابوالاحوص** - دا ابوالاحوص سلام بن سلیم الحنفی الکوفی ﷫ دې دَ دوی تذکره وړاندې تیره شوې ده (2)

③ **ابواسحاق** - دا ابواسحاق عمرو بن عبدالله بن عبید السبیعی دې دَ دوی تذکره کتاب الایمان باب الصلوة من الایمان لاندې تیره شوې ده (3)

④ **البراء** - دامشهورصحابی حضرت براء بن عازب ﷛ دې دَدوی تذکره کتاب الایمان باب الصلوة من الایمان لاندې تیره شوې ده (4)

رأیت رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم یوم الخندق وهوینقل التراب حتی واری التراب شعرصدره وهویرتجز برجزعبدالله

حضرت براء بن عازب ﷛ وائی چه دَ غزوه خندق په ورځ ما رسول الله ﷺ اوکتلو هغوی خاوره کنستله تردې چه خاورې دَحضورپاک دَ سینې مبارکې ویښته مبارک پټ کړل په یوروایت کښې بیاض بطنه الفاظ راغلی دی یعنی خاور دَحضورپاک دَ خیټې مبارکې سپینوالې پټ کړو (5) په دواړو روایتونوکښې هیڅ تعارض نشته خاوره دَ سینې او خیټې دواړو په ویښتو به لګیدلې وی. په یوروایت کښې دَ سینې او بل کښې دَ خیټې ذکردې دغه وخت رسول الله ﷺ مبارک دَ عبدالله ابن رواحه ﷛ رجزیه أشعارلوستل

| | |
|---|---|
| اللهم لولا أنت ما اهتدینا | ولا تصدقنا ولا صلینا |
| فانزلن سکینة علینا | وثبت الاقدام أن لاقینا |
| إن الاعداء قد بغوا علینا | إذا أرادوا فتنة ابینا |

① یاالله که چرې ته نه وې نو مونږبه هدایت نه وو بیاموندې اونه به مونږ صدقه ورکوله اونه به مومونځ کولو

② په مونږ باندې سکینه نازله کړه او په جنګ کښې مونږ ثابت قدم اوساته.

③ دښمنانوپه مونږباندې ظلم کړې دې کله چه دَاخلق مونږپه فتنه کښې دَ اخته کولواراده کوی نومونږ به انکارکوو

---

1) کشف الباری:۲/۲.

2) الاذان باب الالتفات فی الصلوة: رقم:۷۵۱.

3) کشف الباری:۳۷۰/۲.

4) کشف الباری:۳۷۵/۲.

5) صحیح بخاری:۳۹۸/۱ کتاب الجهاد باب حفرالخندق رقم:۲۸۳۷.

**قوله يرفع بها صوته** - داجمله وهويرتجز نه حال واقع ده او مطلب دادې چه دا شعرونه به حضورپاك په اوچت اواز لوستل (۱)

**ترجمة الباب سره مناسبت** - علامه عينى رحمه الله فرمانى چه وهويرتجز برجز عبدالله او يرفع بها صوته د حديث باب دا دواړه اجزاء ترجمة الباب سره مطابقت لرى (۲)

## باب ۱۵۹: من لايثبت على الخيل

**د ترجمة الباب مقصد:** - ① علامه عينى رحمه الله فرمانى چه ددې ترجمة الباب نه د امام بخارى رحمه الله مقصد دا خودل دى چه رسول الله ﷺ د داسې سړى باره كښې دعاء خير فرمانيلې چه په اس به نه شو سوريدې (۳)

② حافظ ابن حجر رحمه الله فرمانى امام بخارى دا باوركول غواړى چه كوم سړې په اس باندې سورلى نه شى كولې اهل خيرله يكاردى چه دهغه دپاره د ثبات دعاوكړى (۴) ددې نه علاوه امام بخارى رحمه الله په اس باندې سوريدل او كلك كيناستلو د فضيلت طرفته هم اشاره كړې ده (۵)

[حديث نمبر ۲۸۷۱] (۶) حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ نُمَيْرٍ حَدَّثَنَا ابْنُ إِدْرِيسَ عَنْ إِسْمَاعِيلَ عَنْ قَيْسٍ عَنْ جَرِيرٍ - رضى الله عنه - قَالَ مَا حَجَبَنِى النَّبِىُّ - صلى الله عليه وسلم - مُنْذُ أَسْلَمْتُ، وَلاَ رَآنِى إِلاَّ تَبَسَّمَ فِى وَجْهِى.

وَلَقَدْ شَكَوْتُ إِلَيْهِ إِنِّى لاَ أَثْبُتُ عَلَى الْخَيْلِ . فَضَرَبَ بِيَدِهِ فِى صَدْرِى وَقَالَ « اللَّهُمَّ ثَبِّتْهُ وَاجْعَلْهُ هَادِيًا مَهْدِيًّا ». [ر: ۲۸۵۷]

## رجال الحديث

①**محمدبن عبدالله بن نمير**:- دابوعبدالرحمن محمدبن عبدالله بن نمير الهمدانى رحمه الله دې ددوى تذكره وړاندې تيره شوې ده. (۷)

② **ابن ادريس**: دابومحمد عبدالله بن ادريس بن يزيدبن عبدالرحمن الاسود الاودى الكوفى رحمه الله

---

(۱) عمدة القارى: ۳۸۷/۱٤.

(۲) عمدة القارى: ۳۸۷/۱٤.

(۳) عمدة القارى: ۳۸۷/۱٤.

(۴) فتح البارى: ۱۹۹/۶.

(۵) فتح البارى: ۱۹۹/۶.

(۶) أخرجه البخارى: ۵۳۹/۱ أيضًا فى كتاب مناقب الانصار باب ذكر جرير بن عبدالله البجلى رضي الله عنه رقم: ۳۸۲۲ وفى: ۸۹۸/۲ كتاب الادب باب التبسم والضحك رقم: ۶۰۹۰ وعندمسلم فى صحيحه: ۲۹۷/۲ فى فضائل الصحابة باب من فضائل جرير بن عبدالله رضي الله عنه رقم: ۲٤۷۵ وعند الترمذى فى جامعه: ۲۶۱/۲ فى المناقب باب مناقب جرير بن عبدالله البجلى رضي الله عنه رقم: ۳۸۲۲.

(۷) كتاب العمل فى الصلوة باب ماينهى من الكلام فى الصلوة: رقم: ۱۱۹۹.

دي هغه د خپل پلار ادريس بن يزيد الاودي او ربيعه بن عثمان. سفيان ثوري. سليمان الاعمش. شعبه بن الحجاج. سهيل بن ابي صالح. عبدالملك بن عزيزبن جريج .ليث بن ابي سليم .مالك بن انس .محمدبن اسحاق بن يسار .هشام بن عروه .يحي بن سعيد التيمي. يحي بن سعيد الانصاري اويزيدبن ابي زياد غوندې جليل القدر ائمه حديث نه روايت کړې دې
او دهغوی نه حديث روايت کونکی دی عبدالله بن مبارك. ابراهيم بن مهدی. احمدبن جواس الحنفي. احمدبن حرب الموصلي. احمدبن محمد بن حنبل. اسحاق بن راهويه. ابومعمر. اسماعيل بن ابراهيم. حسن بن ربيع بجلي. زهيربن حرب. عمر بن حفص. قتيبه بن سعد. مالك بن انس. محمدبن سعيد. محمدبن سلام البيكندي. يحيى بن آدم. يحيى بن اكثم. يحيى بن معين وغيرهم
مالك بن انس او عبدالله بن ادريس رحمهما الله دواړو د يوبل نه روايت اخستې لکه چه مالك بن انس دهغه شيخ هم دې او تلميذهم (1)

امام احمدبن حنبل رحمه الله دهغوی باره کښې فرمائيلي كان نسيج وحده (2) امام ابوحاتم رحمه الله فرمائي حجة يحتج بها، إمام من أئمة المسلمين ثقة (3) امام نسائي رحمه الله فرمائيلي ثقة، ثبت
ابن ادريس رحمه الله د اوچتې پائې جليل القدرمحدث وو. د جرح اوتعديل ټولو ائمه حضراتو دهغوی توثيق کړې دې امام عثمان بن سعيد دارمي رحمه الله بيان کوی چه ما د يحيى بن معين رحمه الله نه تپوس اوکړو ادريس او ابن نمير کښې ستاسو چاسره ډيرمحبت دې؟ يحيى بن معين رحمه الله جواب راکړو ثقتان، إلا أن ابن إدريس أرفع، وهو ثقة في كل شيء، يعنى دواړه ثقه دی خو ابن ادريس ډيره اوچته مرتبه ده. هغه خو په هرڅيزکښې ثقه وو (4) ١٠ذوالحجه ١٩٢هجری کښې د هارون الرشيد د خلافت په آخری زمانه کښې وفات شوې (5)

④ **اسماعيل**:- دا اسماعيل بن ابي خالد احمسي بجلي کوفي رحمه الله دې. د دوی تذکره كتاب الايمان باب من سلم المسلمون من لسانه ويده کښې تيره شوې ده.(6)

⑤ **قيس**:- دامشهورتابعی قيس بن ابي حازم احمسي بجلي رحمه الله دې. د دوی حالات کتاب الايمان باب قول النبي صلى الله تعالى عليه وسلم الدين النصيحة لله ولرسوله ولائمة المسلمين وعامتهم لاندې تيرشوی دی (7)

---

(1) د شيوخ اوتلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ تهذيب الكمال للحافظ المزی:٢٩٤/١٤ — ٢٩٦وتهذيب التهذيب لابن حجر:١٤٤/٥.

(2) تهذيب الكمال:٢٩٦/١٤وتهذيب التهذيب:١٤٤/٥.

(3) الجرح والتعديل الترجمة:٤٤ تهذيب الكمال:٢٩٩/١٤ تهذيب التهذيب:١٤٥/٥.

(4) تهذيب الكمال للمزی:٢٩٧/١٤ وتهذيب التهذيب:١٤٥/٥.

(5) طبقات ابن سعد:٣٨٩/٦ وتهذيب الكمال:٣٠٠/١٤.

(6) كشف الباري:٦٧٩/١.

(7) كشف الباري:٧٦١/٢.

⑤ جرير رضي الله عنه دا حضرت جرير بن عبدالله احمسي بجلي رضي الله عنه دي دَدوى حالات هم مذكوره كتاب اوباب لاندې تيرشوى دى (١)

**قوله** ماحجبني النبي صلى الله تعالى عليه وسلم منذ أسلمت، ولا رآني إلا تبسم في وجهي: يعنى دَ كله نه چه زه مسلمان شوې يم رسول الله ﷺ په خپل كوركښې داخليدونه منع كړې نه يم اوكله نى چه هم زه ليدلې يم مسكې شوې دې

في وجهي:- دَسرخسى او كشميهنى په نسخوكښې دالفظ داسې ضبط شوې دې خودَ ابوذر په نسخه كښې وجهه نقل دې دا التفات من المتكلم إلى الغائب دَ قبيل نه دې معنى په دواړو صورتونوكښې هم يوه ده (٢)

**قوله** ولقد شكوت إليه أني لا أثبت على الخيل فضرب بيده في صدري وقال: اللهم ثبته واجعله هاديا مهديا: ما حضورپاك ته شكايت اوكړو چه زه په اس نه شم كلكيدې رسول الله ﷺ خپل لاس زما په سينه باندې اووهلو او ونى فرمائيل اې الله دې په اس باندې كلك كړې او دَنيغې لار والا او دَ هدايت موندونكې نى جوړ كړې

في صدري:- دَ ابوذر په روايت كښې دَدې په ځائى صدره واردشوې دې دا هم دَ رومبى لفظ په شان التفات من المتكلم إلى الغائب دَ قبيل نه دې

**ترجمة الباب سره مطابقت**:- ترجمة الباب سره أني لا أثبت على الخيل مناسبت ښكاره دى (٣)

**دَ حديث نه مستنبط فوائد**:- علامه عينى رحمه الله دَ حديث باب نه مختلف فوائد مستنبط كړى دى: ① دَ روايت نه معلومه شوه چه په مسكا او رونړ تندى باندې ملاويدل دَ اخلاق نبوت نه دى. په مسكا او رونړ تندى سره ملاويدل تكبر ختموى اوالفت اومودت پيداكوى (٤)

② په روايت كښې دَ اس دَ سورلئى فضيلت بيان كړې شوې دې اشراف او رؤساء له پكاردى چه دَ اس دَ سورلئى مشق كوى اودا فن زده كړى (٥)

③ كه يوعالم دين يا دَ وخت امام ته څوك سرې په خپل بدن باندې دَهغه دَ لاس رابنكلو او لاس وهلو درخواست اوكړى نودَهغه درخواست قبلولوكښې هيڅ بديت نشته چه دا عمل خودَ تواضع دې اوبل خپل طرف ته دَ مائل كولو سبب دې (٦)

---

(١) كشف البارى: ٢/ ٧٦٤.
(٢) فتح البارى: ٦/ ١٩٩ وعمدة القارى: ١٤/ ٣٨٨ وإرشادالسارى: ٦/ ٥٠٦.
(٣) فتح البارى: ٦/ ١٩٩ وعمدة القارى: ١٤/ ٣٨٨.
(٤) وعمدة القارى: ١٤/ ٣٨٨.
(٥) وعمدة القارى: ١٤/ ٣٨٨.
(٦) وعمدة القارى: ١٤/ ٣٨٨.

## باب ۱۶۰: دواء الجرح بإحراق الحصير، وغسل المرأة عن أبيها الدم عن وجهه وحمل الماء في الترس

داباب په دريوجزونو باندې مشتمل دې او په هرجز کښې يوحکم بيان کړې شوې دې

**قوله** دواء الجرح بإحراق الحصير - دا ړومبې جزدې په دې کښې امام بخاری داخودل غواړی چه پوزکې سوزول او دهغې ايره په زخم باندې لګول جائزدی

**قوله** وغسل المرءة عن أبيها الدم عن وجهه - دادويم جزدې په دې کښې داخودل غواړی که چرې ښځه دخپل پلارزخمی شوې مخ اووينځی نو داسې کول جائزدی

**قوله** وحمل الماء في الترس - ترس ډهال ته وئيلې شی په دې کښې امام بخاری رحمه الله داخودل غواړی چه ډهال د اوبود لوښی په توګه هم استعمالولې شی

علامه عينی رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله ترجمة الباب د حديث باب نه معنًا اخذ کړې دې مرءاة نه مراد حضرت فاطمه رضی الله عنها ده. هم هغې اول د رسول اکرم ﷺ په مخ باندې لګيدلې وينه وينځلې د پوزکی ټکړه سوزولوسره د رسول اکرم ﷺ په زخم باندې لګولې وه او په ډهال کښې اوبه راوړونکې حضرت علی رضی الله عنه وو.[1]

[حديث نمبر ۲۸۷۲][2] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا أَبُو حَازِمٍ قَالَ سَأَلُوا سَهْلَ بْنَ سَعْدٍ السَّاعِدِيَّ - رضى الله عنه - بِأَىِّ شَىْءٍ دُووِىَ جُرْحُ النَّبِىِّ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ مَا بَقِىَ مِنَ النَّاسِ أَحَدٌ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّى، كَانَ عَلِىٌّ يَجِىءُ بِالْمَاءِ فِى تُرْسِهِ، وَكَانَتْ - يَعْنِى فَاطِمَةَ - تَغْسِلُ الدَّمَ عَنْ وَجْهِهِ، وَأُخِذَ حَصِيرٌ فَأُحْرِقَ، ثُمَّ حُشِىَ بِهِ جُرْحُ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم -.[ر: ۲۴۰]

## رجال الحديث

① **على بن عبدالله**: داامير المؤمنين فی الحديث ابوالحسن علی بن عبدالله بن جعفربن نجيح سعدی بصری رحمه الله دې. ددوی تفصيلی حالات كتاب العلم باب الفهم في العلم لاندې مخکې تيرشوی دی.[3]

② **سفيان**: داابومحمدسفيان بن عيينه هلالی الكوفی دې. ددوی حالات كتاب العلم باب قول المحدث حدثنا أو أخبرنا وأنبانا لاندې تيرشوی دی.[4]

---

[1] وعمدة القاری: ۳۸۸/۱۴.

[2] مرتخريجه فی كتاب الوضوء باب غسل المرءة أباها الدم عن وجهه رقم: ۲۳۴.

[3] كشف الباری: ۲۹۷/۳-۳۰۲.

[4] كشف الباری: ۳/۱۰۲.

③ **ابوحازم** - دا ابوحازم سلمة بن دينار رحمه الله دي ددوی تذکره هم وړاندې تيره شوې ده (۱)

④ **سهل بن سعد الساعدي** رضي الله عنه - دامشهور انصاری صحابی دې ددوی تذکره هم دې نه وړاندې تيره شوې ده (۲)

**قوله سألوا سهل بن سعد الساعدی رضی الله عنه بأی شئ دووی جرح رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم؟...:** خلقو د سهل بن سعد رضي الله عنه نه تپوس اوکړو چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زخم علاج په څه څیز سره کړې شوې وو؟ دا زخم په جنګ احد کښې لګېدلې وو سهل اوونیل اوس په خلقو کښې د هغې نه زیات پیژندونکې بل هیڅ نشته ځکه چه په دغه وخت کښې په مدینه کښې د سهل نه علاوه بل یو صحابی ژوندې بچ نه وو پاتې شوې ټول وفات شوی وو حضرت علی رضي الله عنه به په ډیل ډهال کښې اوبه راوړلې اوفاطمه بی بی رضي الله عنها به نې د مخ نه وینه وینځله بویوزکې راوړلې شو اوهغه اوسوزولې شو او په هغې سره د حضور پاك زخم ډك کړې شو دلته په روایت کښې اخذ او احرق مجهول صیغې دی خود مغازی په روایت کښې تصریح ده چه د بوزکې سوزونکې حضرت فاطمه رضي الله عنها وه (۳) دا روایت بعینه هم په دې الفاظو سره کتاب الوضوء لاندې وړاندې تیر شوې دې او وړاندې کتاب المغازی کښې هم په تفصیل سره راروان دې.

## باب ۱۶۱: مایکره من التنازع والاختلاف فی الحرب، وعقوبة من عصی إمامه

**د ترجمة الباب مقصد:** - د دې ترجمة الباب لاندې امام بخاری رحمه الله دوه خبرې خودل غواړی:

① **مایکره من التنازع** کښې دا خودل غواړی چه د جنګ په وخت اختلاف مکروه دې د مسلمانانو خپل مینځ کښې اختلاف اوانتشار ته کتلو سره دښمن جری او بې ویرې کیږی او د هغوی د زړونو نه د مسلمانانو هیبت اوځی ښکاره خبره ده چه د دې کربړ نتیجه د دښمن په مقابله کښې ماتې د یو ناقابل تلافی نقصان په شکل کښې ښکاره کیدې شی

② **وعقوبة من عصی إمامه** کښې دا خودل غواړی چه د امیر د نافرمانئی سزا اومال غنیمت نه د محروم کیدل هم په دې دنیا کښې ملاویږی (۴)

په غزوه احد کښې غشو ویشتونکو د حضرت عبدالله بن جبیر رضي الله عنه خبره اونه منله نو فتح په شکست کښې بدله شوه چه معاملات په خپل مینځ کښې په اتفاق او مشاورت سره فیصله شی نو په هغې کښې برکت وی که امیر د چا رائې ته ترجیح ورکړی او هغې سره د چا اختلاف وی نو د خپلې رائې د اختلاف د وجه نه د حدنه بهرنه دی وتل پکار په داسې موقعو باندې د

---

۱) كتاب الوضوء باب غسل المرءة أباها الدم عن وجهه.
۲) كتاب الوضوء باب غسل المرءة أباها الدم عن وجهه.
۳) كتاب المغازى:ص: ۲٤۷.
٤) فتح البارى:۶/۲۰۰ وعمدة القارى:۱٤/۳۸۹ وإرشادالسارى:۶/۵۰۷.

صبر او تحمل نه کار اخستل پکاردی حضرت عمر رضي الله عنه د حضرت خالدبن ولید رضي الله عنه غوندې عظیم د جنګ فاتح د هغه د عهدې نه معزول کړو هغه د تصادم او محاذ آرائی کولو په ځائې دا فیصله په خوشحالئی سره قبوله کړه او مسلمانان د کډوډ کیدونه بچ شو.

**قوله** وقال الله تعالى: ﴿وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ﴾ /الانفال: ۴۶/.

امام بخاری رحمه الله د خپل عادت مطابق د باب مناسبت سره ایت نقل کړې دې پوره ایت ﴿وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ وَاصْبِرُوا إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ﴾ او د الله تعالى او د هغه د رسول ﷺ اطاعت کوئې او (خپل مینځ کښې) جګړه مه کوئې ګنې کم همت به شئ او ستاسو هوا به اوچته کړې شي او صبر کوئې بیشکه الله تعالى صبر کونکو سره دې

د الله تعالى او د هغه د رسول ﷺ اطاعت خو واجب دې په سیاق ایت کښې د دې اطاعت د تاکید کولو مطلب دا دې چه احکام او د جنګ تدبیرونو کښې د الله تعالى او د هغه د رسول ﷺ د حکم او د هغوی مرضی او منشاء باندې تلل واجب دی خپله رائې او د نفس منل او په خپل مینځ اختلاف او جګړې کوئی نو د دې نتیجه به ستاسو همت ښکته کیدو په صورت کښې ښکاره کیږی او د دښمنانو په زړونو چه ستاسو کوم رعب او دبدبه خوره ده هغه به ختمیږی په دې وجه که د جنګ په حال کښې څه ناخوښه حالات پیداشی نو د صبر او استقامت نه کار واخلئې صبر کونکو سره خو د الله تعالى ملګرتیا شامل حال وی او هم دغه ملګرتیا د فتح او نصرت د تولو نه لوئې ضمانت دې.[1]

**قوله** قال قتادة: الريح الحرب: امام بخاری رحمه الله د قتاده قول نقل کړې دې هغه د ريح تفسير حرب سره کړې دې په دې صورت کښې د آیت مطلب دې که تاسو په خپل مینځ کښې جنګیږئې نو همت به مو ښکته شي یعنی کم به شی او ستاسو جنګی طاقت به هم ختمیږی. د قتاده دا اثر عبدالرزاق رحمه الله په خپل تفسیر کښې عن معمر عن قتاده په طرق سره موصولاً نقل کړې دې.[2] مجاهد رحمه الله د ريح تفسير نصر سره کړې دې.[3] یعنی د جګړو په صورت کښې به تاسو د الله تعالى د نصرت نه محروم شئ. یوقول دا هم دې چه ريح نه دولت او سلطنت مراد دې یعنی د خپل مینځ اختلافات او جګړو د وجه نه به ستاسو حکومت او سلطنت ختم شی.[4]

[حدیث نمبر ۲۸۷۳] [5] حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا وَكِيعٌ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - بَعَثَ مُعَاذًا وَأَبَا مُوسَى إِلَى الْيَمَنِ قَالَ « يَسِّرَا وَلاَ تُعَسِّرَا، وَبَشِّرَا وَلاَ تُنَفِّرَا، وَتَطَاوَعَا وَلاَ تَخْتَلِفَا ». [۴۰۸۶ _ ۴۰۸۸، ۵۷۷۳، ۶۷۵۱]

---

[1] ) فتح الباری:۶/۲۰۰.

[2] ) تغلیق التعلیق لابن حجر:۳/۴۵۷.

[3] ) عمدة القاری:۲/۳۹۰.

[4] ) عمدة القاری:۲/۳۹۰.

[5] ) مر تخریجه فی کتاب الاجارة باب استئجار الرجل الصالح رقم: ۲۲۶۱.

# رجال الحدیث

① **یحیی** - دا ابوزکریا یحیی بن جعفر ازدی البخاری البیکندی رحمه الله دي. ددوی تذکره وړاندې تیره شوې ده.[1]

② **وکیع** دامشهورامام محدث ابوسفیان وکیع بن الجراح بن ملیح الرواسی الکوفی رحمه الله دي. د دوی حالات کتاب العلم باب کتابة العلم لاندې تیرشوی دی.[2]

③ **شعبه** - دا شعبه بن الحجاج بن الورد العسکی واسطی رحمه الله دي. د دوی حالات کتاب الایمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده لاندې وړاندې تیرشوی دی.[3]

④ **سعیدبن ابی برده**:- دا سعیدبن ابی بردة عامربن موسی الکوفی رحمه الله دي. ددوی تذکره وړاندې تیره شوې ده.[4]

⑤ **عن ابیه**:- ددې نه د سعیدبن ابی برده پلار عامر یا حارث بن موسی الاشعری رضي الله عنه مراد دي. د دوی تذکره کتاب الایمان باب أی الاسلام أفضل لاندې تیره شوې ده.[5]

**عن جده**:- ددې نه د ابوبرده نیکه مشهورصحابی ابوموسی عبدالله بن قیس الاشعری رضي الله عنه مراددي. ددوی تذکره هم په مذکوره کتاب اوباب کښې تیره شوې ده.[6]

**أن النبی صلی الله تعالی علیه وسلم بعث معاذا وأبا موسٰی إلی الیمن قال: یسرا ولاتعسرا، وبشرا ولاتنفرا، وتطاوعا ولاتختلفا**

رسول الله ﷺ حضرت معاذ او ابوموسی رضي الله عنهما د یمن طرف ته اولیګل. دا د حجة الوداع نه د وړاندې واقعه ده. یعنی دا دواړه نې د یمن طرف ته حاکمان جوړولوسره اولیګل. حضوریاک ﷺ اوفرمائیل په خلقو اسانی کوئې سختی مه کوئې هغوی ته خوشخبری اوروئې نفرت مه ورکوئی اتفاق کوئې اختلاف مه کوئی. وړاندې کتاب المغازی کښې دا روایت په تفصیل سره راروان دې.[7]

**ترجمة الباب سره مطابقت**:- په روایت کښې دی **ولا تختلفا** ترجمة الباب سره ددې مطابقت ښکاره دې.[8]

---

[1]) کتاب الخوف باب یحزن بعضهم بعضا فی صلاة الخوف رقم:۹٤٥.
[2]) کشف الباری:۲۱۹/٤ — ۲۲۶.
[3]) کشف الباری:۱/۶۷۸.
[4]) کتاب الزکاة باب علی کل مسلم صدقة رقم:۱٤٤٥.
[5]) کشف الباری:۱/۲۹۰.
[6]) کشف الباری:۱/۲۹۰.
[7]) کشف الباری: کتاب المغازی:ص:۵۶۵.
[8]) عمدة القاری:۱٤/۳۹۰.

حديث نمبر ۲۸۷۴] (۱) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ - رضى الله عنهما - يُحَدِّثُ قَالَ جَعَلَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - عَلَى الرَّجَّالَةِ يَوْمَ أُحُدٍ - وَكَانُوا خَمْسِينَ رَجُلاً - عَبْدَ اللَّهِ بْنَ جُبَيْرٍ فَقَالَ «إِنْ رَأَيْتُمُونَا تَخْطَفُنَا الطَّيْرُ، فَلاَ تَبْرَحُوا مَكَانَكُمْ هَذَا حَتَّى أُرْسِلَ إِلَيْكُمْ، وَإِنْ رَأَيْتُمُونَا هَزَمْنَا الْقَوْمَ وَأَوْطَأْنَاهُمْ فَلاَ تَبْرَحُوا حَتَّى أُرْسِلَ إِلَيْكُمْ» فَهَزَمُوهُمْ. قَالَ فَأَنَا وَاللَّهِ رَأَيْتُ النِّسَاءَ يَشْتَدِدْنَ قَدْ بَدَتْ خَلاَخِلُهُنَّ وَأَسْوُقُهُنَّ رَافِعَاتٍ ثِيَابَهُنَّ، فَقَالَ أَصْحَابُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جُبَيْرٍ الْغَنِيمَةَ - أَىْ قَوْمِ - الْغَنِيمَةَ، ظَهَرَ أَصْحَابُكُمْ فَمَا تَنْتَظِرُونَ فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ جُبَيْرٍ أَنَسِيتُمْ مَا قَالَ لَكُمْ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالُوا وَاللَّهِ لَنَأْتِيَنَّ النَّاسَ فَلَنُصِيبَنَّ مِنَ الْغَنِيمَةِ. فَلَمَّا أَتَوْهُمْ صُرِفَتْ وُجُوهُهُمْ فَأَقْبَلُوا مُنْهَزِمِينَ، فَذَاكَ إِذْ يَدْعُوهُمُ الرَّسُولُ فِي أُخْرَاهُمْ، فَلَمْ يَبْقَ مَعَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - غَيْرُ اثْنَىْ عَشَرَ رَجُلاً، فَأَصَابُوا مِنَّا سَبْعِينَ، وَكَانَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - وَأَصْحَابُهُ أَصَابَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ يَوْمَ بَدْرٍ أَرْبَعِينَ وَمِائَةً سَبْعِينَ أَسِيرًا وَسَبْعِينَ قَتِيلاً، فَقَالَ أَبُو سُفْيَانَ أَفِي الْقَوْمِ مُحَمَّدٌ ثَلاَثَ مَرَّاتٍ، فَنَهَاهُمُ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - أَنْ يُجِيبُوهُ ثُمَّ قَالَ أَفِي الْقَوْمِ ابْنُ أَبِي قُحَافَةَ ثَلاَثَ مَرَّاتٍ، ثُمَّ قَالَ أَفِي الْقَوْمِ ابْنُ الْخَطَّابِ ثَلاَثَ مَرَّاتٍ، ثُمَّ رَجَعَ إِلَى أَصْحَابِهِ فَقَالَ أَمَّا هَؤُلاَءِ فَقَدْ قُتِلُوا. فَمَا مَلَكَ عُمَرُ نَفْسَهُ فَقَالَ كَذَبْتَ وَاللَّهِ يَا عَدُوَّ اللَّهِ، إِنَّ الَّذِينَ عَدَدْتَ لأَحْيَاءٌ كُلُّهُمْ، وَقَدْ بَقِيَ لَكَ مَا يَسُوؤُكَ. قَالَ يَوْمٌ بِيَوْمِ بَدْرٍ، وَالْحَرْبُ سِجَالٌ، إِنَّكُمْ سَتَجِدُونَ فِي الْقَوْمِ مُثْلَةً لَمْ آمُرْ بِهَا وَلَمْ تَسُؤْنِي، ثُمَّ أَخَذَ يَرْتَجِزُ أُعْلُ هُبَلْ، أُعْلُ هُبَلْ. قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «أَلاَ تُجِيبُوا لَهُ». قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا نَقُولُ قَالَ «قُولُوا اللَّهُ أَعْلَى وَأَجَلُّ». قَالَ إِنَّ لَنَا الْعُزَّى وَلاَ عُزَّى لَكُمْ. فَقَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «أَلاَ تُجِيبُوا لَهُ». قَالَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا نَقُولُ قَالَ «قُولُوا اللَّهُ مَوْلاَنَا وَلاَ مَوْلَى لَكُمْ»

[۴۲۸۵، ۳۸۴۰، ۳۸۱۷، ۳۷۶۴].

## رجال الحديث

① **عمرو بن خالد:**- دا ابوالحسن عمرو بن خالد بن فروخ بن سعید التمیمی الحرانی رحمه الله دې د دوی تذکره کتاب الایمان باب الصلوة من الایمان لاندې تیره شوې ده. (۲)

② **زهیر:**- دا ابوخیثمه زهیر بن معاویه بن حدیج بن الرحیل بن زهیر بن خیثمه الجعفی الکوفی رحمه الله دې دوی تذکره هم په مذکوره باب او کتاب کښې تیره شوې ده. (۳)

---

(۱) إخرجه البخاری أيضًا فی المغازی باب بلاترجمة رقم:۳۹۸۶وباب غزوة أحدرقم:۴۰۴۳وباب إذتصعدون ولاتلوون على أحد رقم:۴۰۶۷ وفى كتاب التفسير باب قوله تعالى ﴿وَالرَّسُولُ يَدْعُوكُمْ فِي أُخْرَاكُمْ﴾ رقم:۴۵۶۱.

(۲) كشف البارى:۲/۳۶۶.

(۳) كشف البارى:۲/۳۶۷.

③ابواسحاق دا ابواسحاق عمرو بن عبدالله بن عبید السبیعی رحمه الله دې ددوی تذکره هم په مذکوره کتاب اوباب کښې تیره شوې ده [۱]

④ براء بن عازب رضی الله عنه دامشهورصحابی براء بن عازب بن الحارث بن عدی الانصاری الحارثی الاوسی رحمه الله دې ددوی تذکره هم په مذکوره کتاب اوباب کښې تیره شوې ده [۲]

**قوله** جعل النبی صلی الله تعالی علیه وسلم علی الرجالة یوم أحد- وکانوا خمسین رجلا – عبدالله بن جبیر.: رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ احد په ورځ دَ پنځوسو کسانوامیر عبدالله بن جبیر رضی الله عنه مقرر کړو

الرجالة . دا خلاف قیاس د راجل جمع ده [۳] یعنی پیدل تلونکی

**قوله** فقال إن رأیتمونا تخطفنا الطیر فلا تبرحوا مکانکم هذا حتی أرسل إلیکم، فرهزموهم.: رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه که چرې تاسو مونږ اوګورئی چه مرغئی مونږ اوچتوی نوبیابه هم تاسو خپل ځائی نه پرېږدئی ترهغه وخته پورې چه زه تاسو ته پیغام دراولیږم نو مسلمانانو کافرانو ته شکست ورکړو

تخطفنا . خَطَفَ یَخْطَفُ دَ نصر نه دَې معنی ده اوچتول. راښکل. په زور اخستل شارحینو دَ دې جملې تقدیر بیان کړې دې إن قتلنا وأکلت الطیر لحومنا فلاتبرحوا مکانکم [۴] که چرې مونږ قتل کړې شو او مرغئی زمونږ غوښه راکاږی خوری نوبیاهم تاسو دَخپل ځائی نه مه خوزیږئی

**قوله** وإن رأیتمونا هزمنا القوم وأوطأناهم فلاتبرحوا حتی أرسل إلیکم: که چرې تاسو مونږ اووینئی چه مونږ کفار قوم ته شکست ورکړو او هغوی مو چخنړی کړه نوبیاهم د خپل ځائی نه اونه خوزئی ترهغه وخته پورې چه زه تاسو ته پیغام دراولیږم

أوطأناهم . وطأ الشئ وطأ معنی ده دَ خپولاندې کول. چخنړی کول. وطئ العدو په دښمن باندې ورختل علامه کرمانی رحمه الله فرمائی أوطناهم په شروع کښې همزه دَتعریض دَپاره ده أی جعلناهم فی معرض الدوس بالقدم. [۵] یعنی چه مونږ هغوی په داسې ځائی کښې واچوی چرته چه دَ خپو لاندې کولې شی

دَ احمد حاکم او طبرانی روایت دې چه ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی: أن النبی صلی الله تعالی علیه وسلم

---

[۱]) کشف الباری:۲/۳۷۰.

[۲]) کشف الباری:۲/۳۷۵.

[۳]) عمدة القاری:۱۴/۳۹۱ وإرشادالساری: ۶/۵۰۸ – ۵۰۹.

[۴]) عمدة القاری:۱۴/۳۹۲ وإرشادالساری: ۶/ ۵۰۹.

[۵]) شرح الکرمانی:۱۳/۳۷.

اقامهم فی موضع ثم قال: احموا ظهورنا فان رائیتمونا نقتل فلاتنصرونا وان رأیتمونا قد غنمنا فلا تشرکونا (١)
یعنی رسول اکرم ﷺ د صحابه کرامو دغه ټولې په یوځائی باندې مقرر کړو ورته ئې اوفرمائیل تاسو زما شاته خیال کوئ که تاسو مونږ قتل کیدونکی اوګورئی نوزمونږ امداد مه کوئی اوکه تاسو مونږ په مال غنیمت اخستو سره اووینئی نو په هغې کښې مونږ سره شرکت مه کوئی

**قوله** قال: فأنا والله رأیت النساء یشددن، قد بدت خلاخلهن وأسوقهن، رافعات ثیابهن..: براء بن عازب رضی الله عنه وائی په خدائی ما (مشرکانې) ښځې په داسې حال کښې منډې وهونکې اولیدلې چه دهغوی پانړیبونه او ښکاره وې او خپلې کپړې ئې اوچتې کړې وې

یشددن:- أی یسرعن فی المشی (٢) یعنی ښځو منډې وهلې په تیزئی سره روانې وې یادا د حملې کولو په معنی کښې دې اومطلب دادې چه هغوی په کافرانو باندې حمله کونکې وې أی: یشتددن علی الکفار یقال: شد علیه فی الحرب أی حمل علیه (٣) بعض نسخو کښې یسندن الفاظ هم واردشوی دی دا د سندنه دې یعنی د غرونودلمن اوچته حصه په دې صورت کښې مطلب دادې چه ښځې د غره د لمن په اوچته حصه کښې روانې وې دې د پاره چه په غر وراوخیژی أی یمشین فی سند الجبل یردن أن یرقین الجبل (٤)
د دغه مشرکانو ښځوتعداد پنځلس وو ابن اسحاق په دوی کښې د بعضو ښځو نومونه هم ذکرکړی دی ① هندبنت عتبه، دا ابوسفیان سره وه ② ام حکیم بنت الحرث بن هشام، داخپل خاوندعکرمه بن ابو جهل سره وتلې وه ③ فاطمه بنت ولیدبن مغیره، داخپل خاوند حرب بن هشام سره وتلې وه ④ برزه بنت مسعود، دا صفوان بن امیه سره تلې وه ⑤ ریطة بن شیبة، داخپل خاوندعمرو بن عاصی سره تلې وه ⑥ سلافه بنت سعد، داخپل خاوند طلحه بن ابی طلحه الحجبی سره وتلې وه (٥)

**قوله** فقال أصحاب ابن جبیر: الغنیمة أی قوم الغنیمة، ظهر أصحابکم فما تنتظرون؟ فقال: عبدالله بن جبیر......: د عبدالله بن جبیر رضی الله عنه ملګرواووئیل د غنیمت مال وهنې ستاسو ملګری غالب راغلی دی اوس د څه څیزانتظاردې؟ عبدالله بن جبیر رضی الله عنه اووئیل آیا تاسو د رسول الله ﷺ فرمان هیرکړو؟ یعنی رسول الله ﷺ فرمائیلی وو

---

(١) مسند أحمد بن حنبل: ١/ ٢٨٧.
(٢) إرشاد الساری: ٦/ ٥٠٩.
(٣) عمدة القاری: ١٤/ ٣٩٢ وإرشاد الساری: ٦/ ٥٠٩.
(٤) عمدة القاری: ١٤/ ٣٩٢ وإرشاد الساری: ٦/ ٥٠٩ والنهایة لابن الاثیر: ١/ ٨٥٠.
(٥) عمدة القاری: ١٤/ ٥٠٩ وإرشاد الساری: ٦/ ٥٠٩.

چه د خپل ځائی نه مه خوزئ آياتاسو دافرمان هيرکړو؟ د ابن جبير رضی الله عنه ملګرو اووئيل په خدائي مونږ خوبه دغه خلقو سره د غنيمت مال راغونډوو کله چه دا ټول د مال غنيمت دپاره لاړل نوکافرانو دهغوی مخونه واړول او شکست خوړلوسره واپس راغلل رسول الله صلی الله عليه وسلم سره د دولسو کسانونه علاوه هيڅ څوک پاتې نه شواوکافرانوزمونږ اوياکسان شهيدان کړل او حضورپاك اودهغوی ملګرو د بدر په ورځ يوسل څلويښت کافرانو نقصان کړې وو اوياني قيدکړې وو او اوياني قتل کړې وو

دې نه پس ابوسفيان درې ځل اووئيل أفي القوم محمد؟ آيا په دې خلقو کښې محمد شته؟ رسول اکرم صلی الله عليه وسلم د جواب ورکولونه منع اوکړه سوال بې فائدې وو په دې وجه حضورپاك جواب ورکول د مصلحت خلاف اوګڼړلو ابوسفيان بيا درې ځل اووئيل أفي القوم ابن أبي قحافة ايا په دې خلقو کښې ابن ابوقحافه (ابوبکر رضی الله عنه) شته؟ ابوقحافه د ابوبکر رضی الله عنه د پلار عثمان کنيت وو بياهغه درې ځل اووئيل أفي القوم ابن الخطاب؟ آيا په دې خلقو کښې عمربن الخطاب شته؟ دې ونيلوسره ابوسفيان خپلو ملګروله لاړو وئې ونيل چه دا ټول خوقتل شوی دی حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه په خپل ځان باندې قابو اونه کړې شوه او بې اختياره ئې چغه کړه اې دالله دښمنه ته دروغ وې د چانومونه چه تا واخستل هغه ټول ژوندی دی او اوس په تاسو باندې خراب وخت راتلونکې دې ابوسفيان اووئيل د نن ورځ د بدر د ورځې بدله ده جنګ خود ډولچې په شان دې (کله د يوپه لاس کښې اوکله د بل په لاس کښې وی دغه شان فتح کله د يوې ډلې او کله د بلې ډلې وی) ته به په خپل قوم کښې مثله يعنې بوچې کيدل وينې ما ددې حکم نه وو ورکړې خو ماته دا خراب هم ښکاره نه شو ابوسفيان دقريش مکه سردارو او د مسلمانانو دښمن ددې جملې نه دهغه مقصد داخودل ووچه دمثله غوندې قبيح حرکت حکم مانه وو ورکړې ځکه چه ددې نقصان هم دغه کارکونکی اوچتوی خوچه کله ماته ددې مثله علم اوشو نوماته بد اونه لګيدل ځکه چه تاسو زمونږ دښمنان ئې تاسو ته تکليف رسيدو سره زه خوشحاليدې شم.

دې نه پس ابوسفيان رجزيه مصرعه اووئيله أُعْلُ هُبَلُ أُعْلُ هُبَلُ اې هبل ته اوچت اوسه، اې هبل ته اوچت اوسه هبل د قريشود بت نوم وو کوم چه عمرو بن لحی د قريشودپاره راوړلې وو اوکعبه کښې ئې کيخودې وو رسول اکرم صلی الله عليه وسلم صحابه کرامو ته اوفرمائيل آيا تاسو ده ته جواب نه ورکوئې؟ صحابه کرامو عرض اوکړو مونږ څه جواب ورکړو؟ حضورپاك اوفرمائيل

جواب ورکړئ الله أعلى وأجل الله تعالى د ټولونه اوچت او لوئې دې

ابوسفيان اووئيل إن لنا عزى ولا عزى لكم زمونږ دپاره عزی بت دې ستاسو دپاره نه دې حضورپاك اوفرمائيل تاسو ده ته جواب نه ورکوئې؟ صحابه کرامو عرض اوکړو څه جواب ورکړو؟ حضورپاك اوفرمائيل تاسو داسې وائئ الله مولانا ولامولالكم الله تعالى زمونږ مددګار دې او ستاسو هيڅوك مددګار نشته

**ترجمة الباب سره مطابقت:**- دا اوږدحديث امام بخاری رحمه الله ددې خودلودپاره نقل کړې دې چه په جنګ احد کښې د اهل اسلام د شکست سبب دعبدالله بن جبير رضی الله عنه ملګری وو رسول الله

ﷺ هغوى ته حكم وركړې ووچه لاتبرحوامكانكم تاسو دخپل ځائى نه مه خوزئى ليكن هغوى مخالفت اوكړو اوددغه مخالفت د وجه نه مسلمانانوته شكست اوشو علامه عينى رحمه الله فرمائى د ترجمة الباب مناسبت د روايت دې جملې أصحاب عبدالله بن جبير سره دې ځكه چه هم ددوى د مخالفت په نتيجه كښې مسلمانانو د شكست مخ ليدلې وو. (١)

## باب ١٦٢: إذافزعوابالليل

**د ترجمة الباب مقصد**:-حافظ ابن حجر علامه عينى او علامه قسطلانى رحمهم الله فرمائى دې ترجمة الباب نه امام بخارى رحمه الله داخودل غواړى كه د شپې داسې واقعه راپيښه شى په كوم سره چه په خلقوكښې ويره پيداشي نو اميرله پكاردى چه ياخودې پخپله دهغې دتحقيق دپاره اوځى اويا چه څوك مناسب كنړى دتحقيق دپاره دې اوليګى. (٢)

[حديث نمبر ٢٨٧٥] (٣) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسٍ -رضى الله عنه- قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- أَحْسَنَ النَّاسِ، وَأَجْوَدَ النَّاسِ، وَأَشْجَعَ النَّاسِ، قَالَ وَقَدْ فَزِعَ أَهْلُ الْمَدِينَةِ لَيْلَةً سَمِعُوا صَوْتًا، قَالَ فَتَلَقَّاهُمُ النَّبِىُّ -صلى الله عليه وسلم- عَلَى فَرَسٍ لأَبِى طَلْحَةَ عُرْىٍ، وَهُوَ مُتَقَلِّدٌ سَيْفَهُ فَقَالَ «لَمْ تُرَاعُوا، لَمْ تُرَاعُوا». ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «وَجَدْتُهُ بَحْرًا». يَعْنِى الْفَرَسَ. [ر: ٢٤٨٤]

## رجال الحديث

① **قتيبه بن سعيد**:- دا ابورجاء قتيبه بن سعيد بن جميل بن طريف الثقفى رحمه الله دې كتاب الايمان باب أفشا السلام من الاسلام لاندې د دوى تذكره تيره شوې ده. (٤)

② **حماد**:- داحمادبن زيد بن درهم الازدى البصرى رحمه الله دې كتاب الايمان باب المعاصى من أمرالجاهلية ولايكفرصاحبها بارتكابها إلا بالشرك لاندې ددوى تذكره تيره شوې ده (٥)

③ **ثابت**:- داابومحمد ثابت بن اسلم البنانى البصرى رحمه الله دې كتاب العلم باب القراءة والعرض على المحدث لاندې د دوى تذكره تيره شوې ده. (٦)

④ **انس**:- دامشهورصحابى انس بن مالك رضى الله عنه دې ددوى تذكره كتاب الايمان باب من الايمان أن يحب لاخيه مايحب لنفسه لاندې تيره شوې ده. (٧)

---

١) عمدة القارى: ٣٩١/١٤.

٢) فتح البارى: ٢٠١/٦ عمدة القارى: ٣٩٤/١٤ إرشادالسارى: ٥١١/٦.

٣) مرتخريجه فى كتاب الهبة وفضلها ولتحرض عليها باب من استعار من الناس الفرس رقم: ٢٦٢٧.

٤) كشف البارى: ١٨٩/٣.

٥) كشف البارى: ٢١٩/٢.

٦) كشف البارى: ١٨٣/٣.

٧) كشف البارى: ٢١٤/٢.

حضرت انس ﷛ وائی رسول الله ﷺ د ټولونه زیات ښائسته د ټولونه زیات سخی اود ټولونه زیات بهادروو مدینې والا اوویریدل هغوی څه آواز آوریدلې ووړد خبراخستلودپاره د کورونه بهر راوتلې وو، رسول اکرم ﷺ چه د ټولو نه وړاندې رسیدلې وو، د ابوطلحه ﷛ په اس باندې په بربنډه ملاباندې سور توره زوړنده واپسی کښې هغه سره ملاؤ شو حضورپاك اوفرمائیل لم تراعوا لم تراعوا هیڅ ویره نشته هیڅ ویره نشته بیانی اوفرمائیل مونږ دا اس د سمندر په شان محسوس کړو دا اس د ابوطلحه ﷛ وو رسول الله ﷺ عاریتاً اخستې وو په ښه رفتار او ښه کولاؤ سل کښې حضورپاك دا سمندر سره تشبیه کړو اوداد حضورپاك د برکت اثروو دا روایت کتاب الهبه په آخراو مختلف ابواب کښې هم کتاب الجهاد کښې خوځل تیرشوې دې (۱)

**ترجمة الباب سره مطابقت:**- ترجمة الباب سره فتلقاهم النبی صلی الله تعالی علیه وسلم سره مناسبت ښکاره دې.

## باب ۱۶۳: من رأی العدو فنادی بأعلی صوته: یاصباحاه، حتی یسمع الناس

یاصباحاه:- د حاء نه پس الف د استغاثه دپاره دې او په آخره کښې "ه" ندبه دپاره ده داجمله د استغاثه دپاره استعمالیږی او عربوبه دا حمله کونکی دښمن نه غافل خلق خبرولودپاره استعمالوله. شراح د دې وجه تسمیه دا تحریرکړې ده چه دښمنان به د شپې د جنګ نه منع کیدل اوبیابه سحر وختې تازه شو دوباره به ئې حمله کوله لکه چه په یاصباحاه سره به ئې قوم په دې خبردارکولو چه سحرشوې دې د حملې دپاره تیارشئی. **فکانه یرید بقوله یا صباحاه: قد جاء وقت الصباح فتاهبوا للقتال.** (۲)

**د ترجمة الباب مقصد:**- امام بخاری دلته دا وئیل غواړی چه کافرانو به حمله کونکي دښمن اولیدلو نودخپل ملګرو د امداددپاره به ئې آواز کولووخت کښې د جاهلیت په زمانه کښې یاصباحاه وئیل. دا جمله به سره ددې چه د جهالت په دورکښې کافرانو استعمالوله ولې د مسلمانانودپاره ددې په استعمال کښې هیڅ بدی نشته چه دا منهی عنها دعوی د جاهلیت نه نه ده. (۳)

[حدیث نمبر ۲۸۷۶] (۴) حَدَّثَنَا الْمَكِّيُّ بْنُ إِبْرَاهِيمَ أَخْبَرَنَا يَزِيدُ بْنُ أَبِي عُبَيْدٍ عَنْ سَلَمَةَ أَنَّهُ أَخْبَرَهُ قَالَ خَرَجْتُ مِنَ الْمَدِينَةِ ذَاهِبًا نَحْوَ الْغَابَةِ، حَتَّى إِذَا كُنْتُ بِثَنِيَّةِ الْغَابَةِ لَقِيَنِي غُلَامٌ لِعَبْدِ

---

(۱) کشف الباری: کتاب المغازی: ص: ۲۲۰.

(۲) النهایة فی غریب الحدیث والاثر لابن الاثیر: ۸/۲ وعمدة القاری: ۳۹۵/۱۴.

(۳) فتح الباری: ۲۰۲/۶.

(۴) وعند البخاری: ۶۰۳/۲ أیضًا فی المغازی، باب غزوة ذی قرد رقم: ۴۱۹۴ وعندمسلم فی صحیحه ۱۱۳/۲: فی الجهاد والسیر، باب غزوة ذی قرد وغیرها رقم: ۴۴۴ وعندأبی داؤد فی سننه: ۲۲/۲ فی الجهاد باب فی السریة ترد علی أهل العسکر رقم: ۲۷۵۲.

الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ قُلْتُ وَيْحَكَ، مَا بِكَ قَالَ أُخِذَتْ لِقَاحُ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قُلْتُ مَنْ أَخَذَهَا قَالَ غَطَفَانُ وَفَزَارَةُ. فَصَرَخْتُ ثَلاَثَ صَرَخَاتٍ أَسْمَعْتُ مَا بَيْنَ لاَبَتَيْهَا يَا صَبَاحَاهْ، يَا صَبَاحَاهْ. ثُمَّ انْدَفَعْتُ حَتَّى أَلْقَاهُمْ وَقَدْ أَخَذُوهَا، فَجَعَلْتُ أَرْمِيهِمْ وَأَقُولُ:

أَنَا ابْنُ الأَكْوَعِ وَالْيَوْمُ يَوْمُ الرُّضَّعِ،

فَاسْتَنْقَذْتُهَا مِنْهُمْ قَبْلَ أَنْ يَشْرَبُوا، فَأَقْبَلْتُ بِهَا أَسُوقُهَا، فَلَقِيَنِي النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ الْقَوْمَ عِطَاشٌ، وَإِنِّي أَعْجَلْتُهُمْ أَنْ يَشْرَبُوا سِقْيَهُمْ، فَابْعَثْ فِي إِثْرِهِمْ، فَقَالَ «يَا ابْنَ الأَكْوَعِ، مَلَكْتَ فَأَسْجِحْ. إِنَّ الْقَوْمَ يُقْرَوْنَ فِي قَوْمِهِمْ». [۳۹۵۸]

## رجال الحديث

① **المكي بن ابراهيم** - دامكي بن ابراهيم بن بشير بن فرقد تميمي حنظلي بلخي رحمه الله دي كتاب العلم باب من أشار الفتيا باشارة اليد والرأس لاندې دَدوی تذکره تیره شوې ده [1]

② **يزيدبن ابى عبيد** - دامشهور تابعی حضرت سلمه بن الاکوع رضي الله عنه آزادکړې شوې غلام ابوخالد يزيد بن ابی عبيد اسلمی حجازی رحمه الله دي دَدوی تذکره کتاب العلم باب إثم من كذب على النبي صلى الله تعالى عليه وسلم لاندې تیره شوې ده [2]

③ **سلمه** -دا سلمه بن عمر بن الاکوع الاسلمی المدنی رضي الله عنه دي دَدوی تذکره هم په مذکوره کتاب اوباب کښې تیره شوې ده [3]

**قوله** خرجت من المدينة ذاهبًا نحو الغابة حتى إذا كنت بثنية الوداع لقيني غلام...: حضرت سلمه بن الاکوع رضي الله عنه فرمائی زه دَ مدينې نه بهر غابه (صحرا) ته لاړم کله چه زه دَ غابه غرته اورسيدم نوماته دَ عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه غلام ملاؤشو ماونيل ته دلته څنګه؟ هغه ونيل دَ رسول الله ﷺ اوښې نيولې شوی دی ما ونيل چا؟ غلام اوونيل دَ غطفان او فزاره خلقو مادرې خل ياصباحاه په اوچت آواز سره چغه اووهله اودَمدينې دَ دوو کانړيځنې زمکو په مينځ کښې پوره آبادئی ته مې خپل آواز واؤرولو بيا زه مخکې لاړم تردې چه هغوی سره ملاؤشوم هغوی اوښې نيولې وې مابه په هغوی باندې غشې ورولو او دابه مې ونيل

أنا ابن الأكوع والیوم یوم الرضع

يعنی زه دَ اکوع خونی يم اونن دَ کمينه خلقو دَ بربادنی ورځ ده ماهغوی نه هغه اوښې واخستې ددې نه وړاندې چه هغوی اوبه څکلې وې زه وړاندې لاړم په دې کښې ماسره رسول الله ﷺ ملاؤشو ماعرض اوکړو: يارسول الله! إن القوم عطاش، وإني أعجلتهم أن يشربوا سقيهم، فابعث

---

[1]) كشف الباري:٣/٤٨١.

[2]) كشف الباري: ٤/١٨٢.

[3]) كشف الباري: ٤/١٨٣.

فی أثرهم. دغه خلق تگی دی ماد هغوی نه اوښې را خلاصې کړې د هغوی د اوبو څکلو نه وړاندې لهذا تاسو هغوی پسې فوج روان کړئی حضورپاك اوفرمائیل یابن الاکوع! ملکت فاسجح، إن القوم یقرون فی قومهم. اې ابن الاکوع! کله چه تا په قوم باندې غلبه بیاموندله نو اوس د نرمئې نه کار واخله ددې خلقو خو په خپل قوم کښې میلمستیا کیږی

یقرون . دا د قراء نه د مضارع مجهول صیغه ده د قراء معنی ده میلمستیا ضیافت ددې جملې مطلب دادې چه اوس هغه خلق خپلې قبیلې غطفان ته اورسیدل هلته د هغوی خاطر تواضع او میلمستیا کیږی. په دې وجه اوس هغوی پسې فوج لیګلو هیڅ فائده نشته معناه أنهم وصلوا إلی غطفان وهم یضیفونهم ویساعدونهم فلا فائدة فی الحال فی البعث لأنهم لحقوا بأصحابهم [۱]

د صحیح بخاری په بعض نسخو کښې دالفظ یقرون د یاء په زیر اود راء پیش سره راغلې دې ددې معنی ده هغوی د میلمانو ضیافت کوی په دې صورت کښې به د مذکوره جملې مطلب دا شی چه ته هغوی سره د نرمئی معامله اوکړه څکه چه داخلق د میلمانو ضیافت کوی رسول الله ﷺ ته د هغه خلقو د توبې ویستلو امید وو په دې وجه حضورپاك هغوی سره دا رعایت اوکړو [۲]

**فائده**:- دا حدیث د امام بخاری رحمه الله د ثلاثیات نه دې

**ترجمة الباب سره مناسبت**:- په حدیث باب کښې دی یاصباحاه یاصباحاه ترجمة الباب سره ددې مطابقت ښکاره دې

## باب ۱۶۴: من قال: خذها وأنا ابن فلان

**قوله**: خذها وأنا ابن فلان: داجمله د فخر د ښکاره کولو دپاره استعمالیږی د حدیث شارحینو فرمائیلی دی دغه شان مختلف جملې د عربو بهادر جنګیالې په دښمن باندې د خپلې بهادرئی رعب اچولو او په امورحرب کښې خپل مهارت خودلو دپاره د فخریه توګه استعمالولې خذها وأنا ابن فلان ویونکی به دامقصد هم وو که په مقابل فریق کښې څوك د بهادرئی دعوی کوی نو هغه دې د مقابلې دپاره بهرراوخی [۳]

**د ترجمة الباب مقصد**:- امام بخاری رحمه الله په دې ترجمة الباب سره دا باور ورکول غواړی که څوك په میدان جنګ کښې دښمن په رعب کښې راوستو دپاره خذها وأنا ابن فلان وائی نودا جائزدی اوکه د فخریه توګه ئې وائی نو جائز نه دی څکه چه فخر د کبر علامت دې اوتکبر حرام دې سره ددې چه داجمله اوریدونکوته فخریه معلومیږی خوکه نیت صرف د دښمن په رعب کښې راوستل وی اوزړه ئې د فخرنه خالی وی نوښکاره خبره ده چه داسې وئیلو کښې څه بدی نشته علامه ابن منیر رحمه الله فرمائی د امام بخاری رحمه الله مقصد داخودل دی چه دا جمله

---

[۱] ) عمدة القاری: ۳۹۷/۱ وإرشاد الساری: ۵۱۳/۶.

[۲] ) إرشاد الساری: ۵۱۳/۶.

[۳] ) شرح ابن بطال: ۱۹۹/۵ وعمدة القاری: ۳۹۸/۱۴.

داقتضاء حال د وجه نه دمنهی عنه افتخار په ذیل کښې نه راځی (١)

**قوله** وَقَالَ سَلَمَةُ خُذْهَا وَأَنَا ابْنُ الأَكْوَعِ. [ر: ٢٨٧٦]

حافظ ابن حجر رحمه الله اوعلامه عینی رحمه الله فرمائی چه داتعلیق من حیث المعنی د سابقه باب د روایت جزدې (٢)

[حدیث نمبر ٢٨٧٧] (٣) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ عَنْ إِسْرَائِيلَ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ سَأَلَ رَجُلٌ الْبَرَاءَ-رضی الله عنه-فَقَالَ يَا أَبَا عُمَارَةَ، أَوَلَّيْتُمْ يَوْمَ حُنَيْنٍ قَالَ الْبَرَاءُ وَأَنَا أَسْمَعُ أَمَّا رَسُولُ اللَّهِ-صلی الله علیه وسلم- لَمْ يُوَلِّ يَوْمَئِذٍ، كَانَ أَبُو سُفْيَانَ بْنُ الْحَارِثِ آخِذًا بِعِنَانِ بَغْلَتِهِ، فَلَمَّا غَشِيَهُ الْمُشْرِكُونَ نَزَلَ، فَجَعَلَ يَقُولُ أَنَا النَّبِيُّ لاَ كَذِبْ، أَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبْ قَالَ فَمَا رُئِيَ مِنَ النَّاسِ يَوْمَئِذٍ أَشَدُّ مِنْهُ. [ر: ٢٧٠٩]

## رجال الحدیث

① **عبیدالله**:- داعبیدالله بن موسیٰ بن باذام عبسی کوفی رحمه الله دې. دَدوی تذکره کتاب الایمان باب قول النبی صلی الله تعالیٰ علیه وسلم بنی الاسلام علی خمس لاندې تیرشوې دې. (٤)

② **اسرائیل**:- دااسرائیل بن یونس بن ابی اسحاق همدانی سبیعی کوفی رحمه الله دې. دَدوی تذکره کتاب العلم باب من ترك بعض الاختیار مخافة أن یقصر فهم بعض الناس عنه فیقعوا فی أشد منه لاندې تیرشوی دی. (٥)

③ **ابواسحاق**:- دا ابواسحاق عمرو بن عبدالله بن عبید سبیعی دې. دَ دوی تذکره کتاب الایمان باب الصلوة من الایمان لاندې تیره شوې ده. (٦)

په روایت کښې دی چه یوسړی دَ براء بن عازب رضی الله عنه نه تپوس اوکړو اې ابوعماره آیا تاسو خلق د غزوه حنین په ورځ تختیدلی وئی. ابواسحاق وائی ما اوریده چه براء رضی الله عنه دا جواب ورکړو أما رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم فلم یول یومئذ لیکن رسول الله صلی الله علیه وسلم خو په هغه ورځ نه وو تختیدلې ابوسفیان بن حارث بن عبدالمطلب دَ رسول اکرم صلی الله علیه وسلم قچر واګه نیولې وه چه مشرکانو رسول الله صلی الله علیه وسلم ګیرکړو نو حضورپاك اوفرمائیل

أنا النبی لاکذب أنا ابن عبد المطلب

---

(١) فتح الباری:٢/٢.

(٢) فتح الباری:٦/٢٠٢ وعمدة القاری:١٤/٢٩٨.

(٣) مرتخریجه فی کتاب الجهاد باب من قاد دابة غیره فی الحرب.

(٤) کشف الباری:١/٦٣٦.

(٥) کشف الباری: ٤/٥٤٦.

(٦) کشف الباری:٢/٣٧٠.

یعنی زه نبی یم په دې کښې دروغ نشته اوزه دعبدالمطلب خوئی یم

**ترجمة الباب سره مطابقت** ترجمة الباب سره دحدیث باب جمله أنا النبي لاکذب مناسبت لری په دې کښې درسول الله ﷺ دبهادرئ اوپه جنګ کښې دثابت قدمئ تعریف کړې شوې دې [1]

## باب ۱۶۵: إذا نزل العدو على حكم رجل

**د ترجمة الباب مقصد** - علامه عینی رحمه الله فرمائی چه باب کښې د إذا حرف شرط جواب محذوف دې اوتقدیری عبارت داده ي ينفذ إذا أجازه الإمام [2]

ددې ترجمة الباب نه دامام بخاری رحمه الله مقصد داخودل دی که چرې کافران یومسلمان ته دااووائی او خپل ثالث ئې جوړکړی چه زمونږ باره کښې هغه کومه فیصله هم کوی مونږ به ئې منو اوکه امام وخت هغه ته د فیصله کولو اجازت ورکړو نو ددغه فیصله نفاذ به جائزوی [3]

[حدیث نمبر ۲۸۷۸] [4] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ - هُوَ ابْنُ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ - عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رضي الله عنه - قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ بَنُو قُرَيْظَةَ عَلَى حُكْمِ سَعْدٍ - هُوَ ابْنُ مُعَاذٍ - بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم -، وَكَانَ قَرِيبًا مِنْهُ، فَجَاءَ عَلَى حِمَارٍ، فَلَمَّا دَنَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «قُومُوا إِلَى سَيِّدِكُمْ». فَجَاءَ فَجَلَسَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ لَهُ «إِنَّ هَؤُلاَءِ نَزَلُوا عَلَى حُكْمِكَ». قَالَ فَإِنِّي أَحْكُمُ أَنْ تُقْتَلَ الْمُقَاتِلَةُ، وَأَنْ تُسْبَى الذُّرِّيَّةُ. قَالَ «لَقَدْ حَكَمْتَ فِيهِمْ بِحُكْمِ الْمَلِكِ». [۳۵۹۳، ۳۸۹۵، ۵۹۰۷]

## رجال الحدیث

① **سلیمان بن حرب**:- داابو ایوب سلیمان بن حرب بن بجیل ازدی بصری رحمه الله دې. کتاب الایمان باب من کره أن یعود فی الکفر کما یکره أن یلقی فی النار من الایمان لاندې ددوی تذکره تیره شوې ده. [5]

② **شعبه**:- دا شعبه بن الورد العسکی الواسطی رحمه الله دې. ددوی حالات کتاب الایمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده لاندې وړاندې تیرشوی دی. [6]

---

[1]) عمدة القاری: ۳۹۹/۱٤.

[2]) عمدة القاری: ۳۹۹/۱٤.

[3]) فتح الباری: ۲۰۳/۶ وعمدة القاری: ۳۹۹/۱٤ وإرشاد الساری: ۵۱٤/۶.

[4]) وعندالبخاری أیضًا: ۵۹۱/۲ فی المغازی باب مرجع النبی صلی الله تعالی علیه وسلم من الاحزاب رقم: ٤۱۲۱ و۵۳۶/۱ – ۵۳۷ فی الاستئذان باب قول النبی صلی الله تعالی علیه وسلم: قوموا إلی سیدکم رقم: ۶۲۶۲ وعندأبی داؤد فی سننه: ۲/ ۳۶۱ – ۳۶۲ فی کتاب الادب باب ماجاء فی القیام رقم: ۵۲۱۵.

[5]) کشف الباری: ۱۰۵/۲.

[6]) کشف الباری: ۶۷۸/۱.

③ **سعدبن ابراهیم** - دا سعدبن ابراهیم بن عبدالرحمن بن عوف القرشی المدنی رحمه الله دی دَدوی تذکره وړاندې تیره شوې ده [1]

④ **ابوامامه** دا ابوامامة اسعدبن سهل بن حنیف الانصاری المدنی رحمه الله دې دَدوی تذکره کتاب الایمان باب من کره أن یهود فی الکفر کما یکره أن یلقی فی النار من الایمان لاندې دَدوی تذکره تیره شوې ده [2]

⑤ **ابوسعید الخدری رضی الله عنه** - دامشهورصحابی سعدبن مالك بن سنان بن عبیدبن ثعلبه الانصاری الخزرجی دې دَ دوی تذکره کتاب الایمان باب من الدین الفرار من الفتن لاندې تیره شوې ده [3]

**لمانزلت بنوقریظة علی حکم سعدهوابن معاذبعث رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم وکان قریبا منه.......**
په روایت کښې دی چه کله بنوقریظه دَحضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه په حکم اوفیصله دَ قلعه نه راکوزشو نورسول اکرم صلی الله علیه وسلم حضرت سعد راوغوښتلو چه حضورپاك سره نیزدې وو زیات لرې نه وو حضرت سعد رضی الله عنه په خرباندې سور چه کله نیزدې راغلونورسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل قوموا الی سیدکم دَخپل سردارتعظیم دپاره اودریږئ حضرت سعد رضی الله عنه حضورپاك سره نیزدې کیناستو نوحضورپاك اوفرمائیل دا خلق ستاپه فیصله باندې راضی شوی لاندې راکوز شول حضرت سعد رضی الله عنه عرض اوکړو چه زه دا فیصله کوم چه جنګ کونکی سړی دې قتل کړې شی اودَهغوی ښځې او بچی دې قیدیان کړې شی حضورپاك صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل حکمت فیهم بحکم الملك یعنی تادَ الله تعالی دَ حکم مطابق دَدوی فیصله اوکړه دَغزوه بنوقریظه دا واقعه وړاندې کتاب المغازی کښې په تفصیل سره راروانه ده [4]

**حکمت فیهم بحکم الملك** - الملك دَ لام کسره سره دې اوښکاره خبره ده چه دې نه الله تعالی مراددې بعض روایاتوکښې دَملك په ځائې لفظ الله تصریح ده [5] قاضی عیاض رحمه الله فرمائی دَ صحیح بخاری په نسخوکښې ملك دَلام کسره او فتحه دواړه شان ضبط کړې شوې دې که چرې فتحه صحیح اومنلې شی نودې نه به جبرائیل علیه السلام مراد وی اوتقدیرعبارت به داسې شی **لقدحکمت فیهم بالحکم الذی جاء به الملك عن الله تعالی** یعنی تادَهغوی فیصله صحیح دَهغه حکم مطابق اوکړه کومه چه جبرائیل علیه السلام دَ الله تعالی دَ طرف نه راوړې [6]
حافظ ابن حجر رحمه الله دَ قاضی عیاض رحمه الله په دې توجیه باندې رد کړې دې چه دَ ملك نه حضرت جبرائیل علیه السلام مراد دې دَهغوی په نیزملك هم دَ لام کسره سره صحیح دې اودَدې نه الله تعالی مراددې دَدې دوه دلیلونه دی

---

[1] ) کتاب الوضوء باب الرجل یوضئ صاحبه.
[2] ) کشف الباری:۲/۱۲۲.
[3] ) کشف الباری:۲/۸۲.
[4] ) کشف الباری، کتاب المغازی: ص:۲۹۶ – ۳۰۷.
[5] ) عمدة القاری:۱۴/۴۰۰وارشاد الساری:۶/۵۱۵.
[6] ) عمدة القاری:۱۴/۴۰۰وارشاد الساری:۶/۵۱۵.

① ړومبی دلیل دادې چه په یو روایت کښې دانه دی ذکرشوی چه په دې معامله کښې حضرت جبرئیل علیه السلام د آسمان نه څه حکم راوړې راغلې وی که چرې داسې وې نو حضرت سعد رضی الله عنه ته به د ځتیب د هغوی دعوت نه شو ورکولې

② دویم دلیل دادې چه بعض روایات کښې قضیت بحکم الله تصریح ده لهذا د باب په روایت کښې ملك نه جبرئیل علیه السلام مراد اخستل صحیح نه دی (۱)

**د حدیث نه مستنبط فوائد** - ① د روایت نه معلومه شوه چه که چرې دوه خصم د یوثالث په فیصله باندې رضامندشی نو د ثالث فیصله به په هرصورت منل واجب شی علامه عینی رحمه الله فرمائی چه دډې روایت سره د خوارج د نظریې تردید کیږی چه د حضرت علی رضی الله عنه د تحکیم نکرنې کړې وو (۲)

② که د حکمران په مجلس کښې یومسلمان د قبیلې سردار یا صاحب فضل سړې خوموجود وی نوحکمران له پکاردی چه د هغه د عزت حکم ورکړی او د مجلس نورو حاضرینو ته اووائی چه د هغه د تعظیم د پاره اودریږی علامه عینی رحمه الله فرمائی چه دا طرز عمل د حضرت معاویه رضی الله عنه د دې حدیث معارض نه دې په کوم کښې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی من سره أن یتمثل له الرجال قلیتبوأ مقعده من النار داځکه چه حضور پاك دا وعید د متکبرینو او داسې خلقو باره کښې ارشاد فرمائیلی چه په خیال تعظیم کښې نه اودریدونکو باندې د غم او غصې اظهار کوی (۳)

## باب ۱۶۶: قتل الاسير، وقتل الصبر

الصبر- په لغت کښې د صبر معنی ده الحبس (۴) منع کول صبرًا د قتل کول مطلب داوی چه د قیدی خپې لاسونه اوتړلې شی او د هغې نه پس ئی قتل کړی (۵)

په پیش نظر نسخو کښې د ترجمة الباب دوه جزونه دی قتل الاسیر او قتل الصبر د ړومبی جزنه داخودل مقصود دی چه قیدی په مروجه طریقه سره قتل کول جائزدی او د دویم جزمقصد دادې چه د قیدی خپې لاسونه په رسئی تړلو نه پس هم قتل کول جائزدی خو د کشمیهنی په روایت کښې د باب عبارت دادې باب قتل الاسیر صبرًا (۶) په دې روایت کښې دویم جز وقتل الصبر نشته که د کشمیهنی د روایت اعتبار اوکړې شی نو بیا ظاهره ده چه امام بخاری رحمه الله د دې نه هم یو ه خبره خودل غواړی چه قیدی د خپو لاسونه نه تړلو سره قتل کول جائزدی

د علامه عینی رحمه الله د پیش نظر نسخې عبارت داسې دې باب قتل الاسیر صبرًا وقتل الصبر په دې

(۱) عمدة القاری: ۱۴/ ۴۰۰ وإرشاد الساری: ۶/ ۵۱۵.
(۲) عمدة القاری: ۱۴/ ۴۰۰.
(۳) عمدة القاری: ۱۴/ ۴۰۰-۴۰۱.
(۴) النهاية فی غريب حديث والاثر: ۲/ ۹ وعمدة القاری: ۱۴/ ۴۰۱ وإرشاد الساری: ۶/ ۵۱۵.
(۵) عمدة القاری: ۱۴/ ۴۰۱ وإرشاد الساری: ۶/ ۵۱۵.
(۶) عمدة القاری: ۱۴/ ۴۰۱ وإرشاد الساری: ۶/ ۵۱۵.

روایت کښې دباب د دوارو جملو هم یومطلب دې چه قیدی دخپو لاسونو تړلوسره قتل کول جائزدی په دې وجه علامه عینی رحمه الله فرمائیلی چه دباب دویمه جمله وقتل الصبر لاطائل او بې فائدې ده [۱]

د جمهورو په نیزد قیدیانوباره کښې امام المسلمین ته اختیاردې چه قتل ئې کړی یا فدیه اخستوسره ئې پریږدی یا احساناً بغیرد فدیه اخستلو خلاص کړی یا هغه مسلمانان چه د دښمن په قید کښې دی تبادله اوکړې شی. د دې امورو نه چه کوم دمسلمانانو په فائده کښې وی امام المسلمین ته په دې باندې دعمل کولو اختیاردې په دې مسئله کښې د مذاهبو تفصیل باب المن والفداء لاندې تیرشوې دې.

[حدیث نمبر ۲۸۷۹] [۲] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ - رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - دَخَلَ عَامَ الْفَتْحِ وَعَلَى رَأْسِهِ الْمِغْفَرُ، فَلَمَّا نَزَعَهُ جَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ إِنَّ ابْنَ خَطَلٍ مُتَعَلِّقٌ بِأَسْتَارِ الْكَعْبَةِ، فَقَالَ «اقْتُلُوهُ». [ر ۱۷۴۹]

## رجال الحدیث

① **اسماعیل بن ابی اویس**:- داابوعبدالله اسماعیلی بن ابی اویس اصبحی مدنی رحمه الله دې ددوی تذکره کتاب الایمان باب تفاضل أهل الایمان فی الاعمال لاندې تیره شوې ده [۳]

② **مالک**:-دا امام دارالهجر مالک بن انس بن مالک بن ابی عام بن عمرو الاصبحی المدنی رحمه الله دې. ددوی تذکره کتاب الایمان باب من الدین الفرار من الفتن لاندې تیره شوې ده [۴]

③ **ابن شهاب**:- دامحمدبن مسلم بن عبدالله بن شهاب الزهری رحمه الله دې. د دوی تذکره بدء الوحی لاندې تیره شوې ده. [۵]

④ **انس بن مالک** رضی الله عنه -دا مشهورصحابی رسول دې. ددوی تذکره کتاب الایمان باب من الایمان أن یحب لاخیه مایحب لنفسه لاندې تیره شوې ده [۶]

**أن رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم دخل عام الفتح وعلی رأسه المغفر، فلما نزعه جاء رجل فقال: ان ابن خطل متعلق باستار الکعبه فقال: اقتلوه.**

---

[۱] ) عمدة القاری:۶/۵۱۵.

[۲] ) مرتخریجه فی کتاب جزاء الصید. باب دخول الحرم ومکة بغیراحرام.

[۳] ) کشف الباری:۲/۱۱۳.

[۴] ) کشف الباری: ۲/۸۰ — ۸۱.

[۵] ) کشف الباری:۱/۳۲۶.

[۶] ) کشف الباری:۲/۴.

المغفر : په كسره د ميم سكون د غين معجمة وفتح الفاء وفي آخره راء د توپنى لاندې استر
كوم چه زغرې سره يوځانى شوې وى زره دينسج من الدروع على قدر الرأس يلبس تحت القلنسوة (١)
په روايت كښې دى چه د فتح مكه په كال رسول الله ﷺ په مكه كښې داخل شو د حضورپاك
په سرمبارك باندې هغه د توپنى استر وو كله چه حضورپاك هغه كوز كړو نو يو سړې راغلو دا
ابوبرزه اسلمى وو (٢) هغه اووئيل يارسول الله ﷺ ابن خطل د كعبې كپړه پورې زوړند شوې
دې حضورپاك ﷺ اوفرمائيل هغه هم هلته مړ كړئ نو هغه ئى هم په هغه حالت كښې قتل كړو
قتل كونكې څوك وو؟ په رواياتو كښې مختلف نومونه راغلى دى د بيهقى او حاكم په روايت
كښې دى فاما هلال بن خطل فقتله الزبير (٣) يعنى هلال ابن خطل حضرت زبير ؓ قتل كړو
مسندبزار او بيهقى په السنن الكبرىٰ كښې دى. فاما عبدالله ابن خطل فادرك وهو متعلق باستار
الكعبة فاستبق اليه سعيد بن حريث وعمار بن ياسر فسبق سعيد عمارًا وكان أشب الرجلين فقتله (٤)
يعنى ابن خطل د كعبه غلاف نيولې زوړند اوليدلې شو سعيد بن حريث او عمار بن ياسر د هغه
طرف ته وړاندې شو خو سعيد ځوان وو په دې وجه هغه مخكې شو او ابن خطل ئى د عمار نه
وړاندې قتل كړو

دغه شان ابن ابى شيبه د ابوعثمان الهندى په طريق باندې روايت نقل كړې دې أن أبا برزة
الاسلمى قتل ابن خطل وهو متعلق باستار الكعبة (٥) ابوبرزه اسلمى ؓ ابن خطل قتل كړو هغه
وخت هغه د كعبه غلاف پورې زوړندوو د دې آخرى روايت متابعت كښې عبدالله بن مبارك
ؒ هم خپله د ابوبرزه اسلمى ؓ يوروايت نقل كړې دې (٦) دويمه خبره داده چه د ابن خطل
د قاتل د نوم په تعيين كښې كوم روايات نقل دى د هغې په مقابله كښې دا روايت زيات
صحيح دې علامه بلاذرى ؒ د نورو علماء اخبارنه په دې باندې جزم كړې دې (٧) ابن هشام
جزم سره وئيلى دى چه ابوبرزه اسلمى ؓ او سعيد بن حريث ؓ دواړو په شريكه د ابن خطل
خاتمه اوكړه (٨) بعض حضراتو وئيلى دى چه سعيد بن ذويب ابن خطل قتل كړې (٩)

---

١) عمدة القارى: ١٤/٤٠١.
٢) إرشاد السارى: ٦/٥١٦.
٣) السنن الكبرى للبيهقى: ٩/٢١٢ كتاب الجزية باب اللحربى إذا لجا إلى الحرم. والمستدرک على الصحيحين للحاكم اليسابورى: ٢/٥٤.
٤) السنن الكبرى للبيهقى: ٨/٢٠٥ كتاب المرتد باب من قال فى المرتد يستتاب مكانه فان تاب وإلا قتل. والمصنف لابن أبى شيبة: ٢٠/٤٧٤ – ٤٧٥.
٥) المصنف لابن أبى شيبة: ٢٠/٤٧٦.
٦) فتح البارى: ٤/٧٩ دار السلام.
٧) فتح البارى: ٤/٧٩ دار السلام.
٨) فتح البارى: ٤/٧٩ دار السلام.
٩) فتح البارى: ٤/٧٩ دار السلام.

علامه طبری رحمه الله وائی چه زبیر بن عوام رضی الله عنه هغه سړی دې چه ابن خطل ئی وژلې دې[1] شارحین په دې ټولو روایاتو کښې تطبیق کولوسره وائی چه ممکن ده ابن خطل ټولو په شریکه قتل کړې وی او ابوبرزه اسلمی رضی الله عنه په دې کښې ړومبې شوې وی ([2])

**ترجمة الباب سره مطابقت** - علامه عینی رحمه الله فرمائی رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ابن خطل صبراً د قتل کولوحکم ورکړې وو نو ترجمة الباب سره د روایت مطابقت ښکاره دې. ([3])

**ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت باندې اشکال اوددغې جواب** - دلته سوال داپیداکیږی چه ابن خطل خو پخپله د کعبه غلاف پورې انختې وو او په دغه حال کښې قتل کړې شوې وو لکه دا انختل داسې دی لکه چه خپې لاسونه ئی تړلې وی دغه شان په ده باندې د اسیر قتل کیدل هم صادق شو. ځکه چه هغه وخت مسلمانانو مکه فتح کړې وه اوهغوی ته هرقسم قدرت اوطاقت حاصل شوې وو لکه چه ابن خطل هغه وخت د یوقیدی په حیثیت سره وو ([4])

د جاهلیت په زمانه کښې د ابن خطل نوم عبدالعزیٰ وو. د اسلام راوړلونه پس رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغه نوم عبدالله کیخودې وو. خو روستودا بدبخت مرتد شو. شارحین فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دا مباح الدم ګرځولوسره د ده دقتل حکم ځکه ورکړې وو چه په هغه کښې د قتل مختلف اسباب جمع شوی وو. یوسبب خود ده مرتدکیدل وو بل د مرتد کیدونه پس به ده په شعرونوکښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سپکاوې کولو دغه شان دهغه دوه سندرغاړو وینځوبه هم د حضورپاك سپکاوې کولو. دویم سبب جنایت قتل وو. هغه خپل یومسلمان غلام بې ګناه قتل کړې وو په دې وجه د پناه غوښتلوسره د کعبه غلاف پورې انختلو باوجود رسول الله صلی الله علیه وسلم ابن خطل قصاصاً د قتل کولو حکم ورکړو. ([5])

## باب ۱۶۷: هل یستأسر الرجل ومن لم یستأسر، ومن رکع رکعتین عند القتل

**د ترجمة الباب مقصد** - ددې ترجمة الباب لاندې امام بخاری رحمه الله درې خبرې کول غواړی هل یستاسرالرجل لاندې دا ونیل غواړی که چرې داسې موقع راشی چه یومسلمان خپل ځان د کافرپه قید کښې ورکول غواړی نوداسې کول جائزدی. دویم جز ومن لم یستاسر کښې دا وئیل غواړی که یوسړې په عزیمت باندې عمل کولوسره د کافرانو قیدی جوړیدوباندې تیارنه وی نوهغه د اباء اوانکار اجازت دې. آخری جز ومن رکع رکعتین عندالقتل کښې دا خودل غواړی چه کله نی کافران قتل کوی نود شهادت په وخت دوه رکعته مونځ کول پکاردی

---

[1]) فتح الباری: ٤/ ٧٩ دارالسلام.

[2]) فتح الباری: ٤/ ٧٩ دارالسلام وإرشاد الساری: ٦/ ٥١٦.

[3]) عمدة القاری: ١٤/ ٤٠١.

[4]) فتح الباری: ٤/ ٨١ کتاب جزاء الصیدباب دخول الهرم ومکة بغیرإحرام.

[5]) فتح الباری: ٤/ ٨١ وعمدة القاری: ١٤/ ٤٠١.

احديث نمبر ۲۸۸۰] (۱) حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِي قَالَ أَخْبَرَنِي عَمْرُو بْنُ أَبِي سُفْيَانَ بْنِ أَسِيدِ بْنِ جَارِيَةَ الثَّقَفِي - وَهُوَ حَلِيفٌ لِبَنِي زُهْرَةَ وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ أَبِي هُرَيْرَةَ - أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ - رضي الله عنه - قَالَ بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - عَشَرَةَ رَهْطٍ سَرِيَّةً عَيْنًا، وَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ عَاصِمَ بْنَ ثَابِتٍ الأَنْصَارِي جَدَّ عَاصِمِ بْنِ عُمَرَ، فَانْطَلَقُوا حَتَّى إِذَا كَانُوا بِالْهَدَأَةِ وَهُوَ بَيْنَ عُسْفَانَ وَمَكَّةَ ذُكِرُوا لِحَيٍّ مِنْ هُذَيْلٍ يُقَالُ لَهُمْ بَنُو لِحْيَانَ، فَنَفَرُوا لَهُمْ قَرِيبًا مِنْ مِائَتَي رَجُلٍ، كُلُّهُمْ رَامٍ، فَاقْتَصُّوا آثَارَهُمْ حَتَّى وَجَدُوا مَأْكَلَهُمْ تَمْرًا تَزَوَّدُوهُ مِنَ الْمَدِينَةِ فَقَالُوا هَذَا تَمْرُ يَثْرِبَ. فَاقْتَصُّوا آثَارَهُمْ، فَلَمَّا رَآهُمْ عَاصِمٌ وَأَصْحَابُهُ لَجَئُوا إِلَى فَدْفَدٍ، وَأَحَاطَ بِهِمُ الْقَوْمُ فَقَالُوا لَهُمُ انْزِلُوا وَأَعْطُونَا بِأَيْدِيكُمْ، وَلَكُمُ الْعَهْدُ وَالْمِيثَاقُ، وَلاَ نَقْتُلُ مِنْكُمْ أَحَدًا.

قَالَ عَاصِمُ بْنُ ثَابِتٍ أَمِيرُ السَّرِيَّةِ أَمَّا أَنَا فَوَاللَّهِ لاَ أَنْزِلُ الْيَوْمَ فِي ذِمَّةِ كَافِرٍ، اللَّهُمَّ أَخْبِرْ عَنَّا نَبِيَّكَ. فَرَمَوْهُمْ بِالنَّبْلِ، فَقَتَلُوا عَاصِمًا فِي سَبْعَةٍ، فَنَزَلَ إِلَيْهِمْ ثَلاَثَةُ رَهْطٍ بِالْعَهْدِ وَالْمِيثَاقِ، مِنْهُمْ خُبَيْبٌ الأَنْصَارِي وَابْنُ دَثِنَةَ وَرَجُلٌ آخَرُ، فَلَمَّا اسْتَمْكَنُوا مِنْهُمْ أَطْلَقُوا أَوْتَارَ قِسِيِّهِمْ فَأَوْثَقُوهُمْ فَقَالَ الرَّجُلُ الثَّالِثُ هَذَا أَوَّلُ الْغَدْرِ، وَاللَّهِ لاَ أَصْحَبُكُمْ، إِنَّ فِي هَؤُلاَءِ لأُسْوَةً. يُرِيدُ الْقَتْلَى، فَجَرَّرُوهُ وَعَالَجُوهُ عَلَى أَنْ يَصْحَبَهُمْ فَأَبَى فَقَتَلُوهُ، فَانْطَلَقُوا بِخُبَيْبٍ وَابْنِ دَثِنَةَ حَتَّى بَاعُوهُمَا بِمَكَّةَ بَعْدَ وَقْعَةِ بَدْرٍ، فَابْتَاعَ خُبَيْبًا بَنُو الْحَارِثِ بْنِ عَامِرِ بْنِ نَوْفَلِ بْنِ عَبْدِ مَنَافٍ، وَكَانَ خُبَيْبٌ هُوَ قَتَلَ الْحَارِثَ بْنَ عَامِرٍ يَوْمَ بَدْرٍ، فَلَبِثَ خُبَيْبٌ عِنْدَهُمْ أَسِيرًا، فَأَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عِيَاضٍ أَنَّ بِنْتَ الْحَارِثِ أَخْبَرَتْهُ أَنَّهُمْ حِينَ اجْتَمَعُوا اسْتَعَارَ مِنْهَا مُوسَى يَسْتَحِدُّ بِهَا فَأَعَارَتْهُ، فَأَخَذَ ابْنًا لِي وَأَنَا غَافِلَةٌ حِينَ أَتَاهُ قَالَتْ فَوَجَدْتُهُ مُجْلِسَهُ عَلَى فَخِذِهِ وَالْمُوسَى بِيَدِهِ، فَفَزِعْتُ فَزْعَةً عَرَفَهَا خُبَيْبٌ فِي وَجْهِي فَقَالَ تَخْشَيْنَ أَنْ أَقْتُلَهُ مَا كُنْتُ لأَفْعَلَ ذَلِكَ.

وَاللَّهِ مَا رَأَيْتُ أَسِيرًا قَطُّ خَيْرًا مِنْ خُبَيْبٍ، وَاللَّهِ لَقَدْ وَجَدْتُهُ يَوْمًا يَأْكُلُ مِنْ قِطْفِ عِنَبٍ فِي يَدِهِ، وَإِنَّهُ لَمُوثَقٌ فِي الْحَدِيدِ، وَمَا بِمَكَّةَ مِنْ ثَمَرٍ وَكَانَتْ تَقُولُ إِنَّهُ لَرِزْقٌ مِنَ اللَّهِ رَزَقَهُ خُبَيْبًا، فَلَمَّا خَرَجُوا مِنَ الْحَرَمِ لِيَقْتُلُوهُ فِي الْحِلِّ، قَالَ لَهُمْ خُبَيْبٌ ذَرُونِي أَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ. فَتَرَكُوهُ، فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ قَالَ لَوْلاَ أَنْ تَظُنُّوا أَنَّ مَا بِي جَزَعٌ لَطَوَّلْتُهَا اللَّهُمَّ أَحْصِهِمْ عَدَدًا.

وَلَسْتُ أُبَالِي حِينَ أُقْتَلُ مُسْلِمًا عَلَى أَيِّ شِقٍّ كَانَ لِلَّهِ مَصْرَعِي

وَذَلِكَ فِي ذَاتِ الإِلَهِ وَإِنْ يَشَأْ يُبَارِكْ عَلَى أَوْصَالِ شِلْوٍ مُمَزَّعِ

فَقَتَلَهُ ابْنُ الْحَارِثِ، فَكَانَ خُبَيْبٌ هُوَ سَنَّ الرَّكْعَتَيْنِ لِكُلِّ امْرِئٍ مُسْلِمٍ قُتِلَ صَبْرًا،

---

[1] ) وعندالبخارى فى صحيحه:۲/۵۸۵ – ۵۸۶ فى المغازى باب غزوةالرجيع رقم:٤٠٨٦و ۲/۱۱۰۰ فى التوحيد باب مايذكر فى الذات والنعوت وأسامى الله. وعند أبى داؤد فى سننه :۲/٤ فى الجهاد باب الرجل يستاسر رقم:۲۶۶۰ – ۲۶۶۱و ۲/۸۷ فى الجنائز باب المريض يؤخذ من أظفاره وعانته رقم:۳۱۱۲.

فَاسْتَجَابَ اللَّهُ لِعَاصِمِ بْنِ ثَابِتٍ يَوْمَ أُصِيبَ، فَأَخْبَرَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- أَصْحَابَهُ خَبَرَهُمْ وَمَا أُصِيبُوا، وَبَعَثَ نَاسٌ مِنْ كُفَّارِ قُرَيْشٍ إِلَى عَاصِمٍ حِينَ حُدِّثُوا أَنَّهُ قُتِلَ لِيُؤْتَوْا بِشَيْءٍ مِنْهُ يُعْرَفُ، وَكَانَ قَدْ قَتَلَ رَجُلاً مِنْ عُظَمَائِهِمْ يَوْمَ بَدْرٍ، فَبُعِثَ عَلَى عَاصِمٍ مِثْلُ الظُّلَّةِ مِنَ الدَّبْرِ، فَحَمَتْهُ مِنْ رَسُولِهِمْ، فَلَمْ يَقْدِرُوا عَلَى أَنْ يَقْطَعَ مِنْ لَحْمِهِ شَيْئًا. [٣٧٦٧، ٣٨٥٨، ٦٩٦٧]

## رجال الحديث

① **ابواليمان** - دا ابواليمان حکم بن نافع بهرانی حمصی رحمه الله دی. دَ دوی تذکره بدء الوحی کښې تیره شوې ده.[1]

② **شعیب** - دابوبشر شعیب بن ابی حمزه القرشی الاموی رحمه الله دی. دوی تذکره هم بدء الوحی کښې تیره شوې ده.[2]

③ **زهری** - دامشهورمحدث محمدبن مسلم بن عبیدالله بن عبدالله بن شهاب زهری رحمه الله دی. دَدوی حالات بدء الوحی لاندې تیرشوی دی.[3]

④ **عمرو بن ابی سفیان** ......دا دَحضرت ابوهریره رضی الله عنه په مصاحبین کښې وو. بعض حضراتو دَدوی نوم عمر (په ضمه دَعین) لیکلې دی.[4] صحیح عمرو (په فتح دَ عین)دی. امام بخاری رحمه الله هم په خپل تاریخ کښې دَده نوم عمرو لیکلې دی.[5] هغه دَ عبدالله بن عمر بن خطاب رضی الله عنه عمربن خطاب رضی الله عنه ابوموسی اشعری رضی الله عنه او ابوهریره رضی الله عنه نه احادیث روایت کړی دی. دَدوی نه روایت کونکونومونه دادی: الحجاج بن فرافضه، عبدالله بن عبدالرحمن بن ابی حسین، دَدَ وراره عبدالملك بن عبدالله بن ابي سفيان بن اسیدبن جاریه الثقفی، محمدبن مسلم بن شهاب الزهری او هشام بن سعد رحمهم الله.[6] امام بخاری امام مسلم امام ابوداؤد او امام نسائی رحمهم الله دې تولوحضراتو دَ عمرو بن ابی سفیان روایت نقل کړې دی.[7] ابن حبان رحمه الله دَدوی تذکره په ثقات کښې کړې ده.[8] او حافظ ابن حجر په تقریب کښې دې ثقه ګرځولې دی.[9]

⑤ **ابوهریره** رضی الله عنه: دَدوی حالات کتاب الایمان باب أمور الایمان لاندې تفصیل سره تیرشوی دی.[10]

---

[1]) كشف الباری:۱/٤٧٩.
[2]) كشف الباری:۱/٤٨٠.
[3]) كشف الباری:۱/٣٢٦.
[4]) تهذیب الکمال: ٢٢/٤٥.
[5]) التاریخ الکبیر:۱/٣٣٦ رقم الترجمة:٦٥٦٧.
[6]) تهذیب الکمال:٢٢/٤٥ تهذیب التهذیب:٨/٤١.
[7]) تهذیب الکمال:٥/٤٥/٢٢.
[8]) ثقات ابن حبان:٥/١٨٠.
[9]) تقریب التهذیب:٦/٨١.
[10]) كشف الباری:۱/٦٥٩.

په دې روايت كښې د غزوه رجيع واقعه بيان كړې شوې ده دا روايت امام بخاري ﷺ په مغازي كښې هم د غزوه رجيع لاندې په تفصيل سره نقل كړې دې [١] حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرماني **بعث رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم عشرة رهط سرية عينا وأمر عليهم عاصم بن ثابت الانصاري جد عاصم بن عمر بن الخطاب** رسول اكرم ﷺ د لسو كسانو يو ټولګې د جاسوسنې په غرض روان كړو او حضرت عاصم بن ثابت رضي الله عنه چه د عاصم بن عمر بن خطاب نيكه وو په هغوى باندې امير مقرر كړو

رهط- لس يا د لسونه كم كسانو باندې مشتمل ډله ارهط او ارهاط د دې جمع ده [٢]

**قوله فانطلقوا حتى كانوا بالهدأة......** داخلق روان شو اوچه مقام هداة ته اورسيدل كوم چه د مكې او عسفان په مينځ كښې دې نو چا بنولحيان خبر كړو چه د قبيله هذيل يو څانګه ده هغوى دوه سوه غشى ويشتونكى صحابه كرامو پسې راوليګل دې خلقو د صحابه كرامو د خپو چاپونو پسې روان شو يو ځائې صحابه كرامو كهجورې خوړلې وې كومې چه د مدينې نه خان سره اخستې وې هغوى د كهجورو ګټكې اوپيژندل چه داد مدينې كهجورې دى دا خلق د هغوى د خپو په نښو باندې روان وو كله چه عاصم رضي الله عنه او د هغه ملګرو دوى اوليدل نو هغوى په يوه بله ښكته غونډئى كښې پناه واخستله. كافرانو هغوى راګير كړل او ورته ئې اووئيل راكوز شئى او خپل خان مونږ ته حواله كړئى ستاسو د پاره عهدوپيمان دې مونږ به تاسو كښې هيڅوك نه قتل كوو.

په دې باندې د جماعت امير عاصم رضي الله عنه اووئيل **أما أنا فوالله لاانزل اليوم فى ذمة كافر اللهم أخبر عنا نبيك** زه په الله تعالى قسم چه د كافر په پناه كښې به راكوز نه شم. اې الله زمونږ د حال نه خپل نبى خبر كړه. بيا كافرانو په هغوى باندې د غشو باران شروع كړو او عاصم رضي الله عنه ئې د اووه ملګرو سره شهيد كړو. خبيب انصاري ابن دثنه او يو بل سړې عبدالله بن طارق د هغوى په عهدوپيمان باندې لاندې راكوز شول. كله چه كافرانو هغوى قابو كړل نو د لندو مزى ئې كولاو كړل او په هغه مزو ئې درېواړه اوتړل

په دې باندې هغه دريم سړى عبدالله بن طارق اووئيل دا رومبى غدارى ده زه تاسو سره نه ځم زما د پاره خو په دغه شهيدانو كښې يوه نمونه ده. كافرانو هغه راښكلو او خان سره ئې د بوتلو كوشش اوكړو. عبدالله بن طارق انكار اوكړو نو هغه ئې قتل كړو او خبيب او زيد بن دثنه ئې بوتلو د غزوه بدر نه پس ئې په مكه كښې خرخ كړل. خبيب د حارث بن عامر خامنو واخستلو ځكه چه حارث حضرت خبيب رضي الله عنه په بدر كښې قتل كړې وو نو د پلار قصاص اخستلو د پاره د حارث ځامنو واخستلو. حضرت خبيب رضي الله عنه هغوى سره د قيدى په حيثيت حصار وو.

---

[١] كشف الباري: كتاب المغازي ص:٢٥٣ — ٢٦١.

[٢] النهاية في غريب الحديث:١/٧٠٧.

**قوله** فاخبرني عبدالله بن عياض..... ابن شهاب زهری رحمه الله وائی دَ حارث لور زینب، هغه ته اوخودل چه کله هغوی دَ خبیب رضي الله عنه دَ قتل کولو اراده اوکړه نوخبیب رضي الله عنه دَ زینب نه چاړه اوغوښتله چه دَ نامه لاندې دَ ویښتو صفائی اوکړی زینب ورته چاړه ورکړه وراندې وائی چه ماته پته نه وه چه زما یوخوني خبیب له راغلي دې ما اوکتل چه هغه ماشوم په خپله پنډئی باندې کینولي دې او چاړه دَهغه په لاس کښې ده دې کتلو سره زه ډیره اوویریدلم خبیب زما ویریدونکی مخ لیدو سره پوهه شو وئي وئیل چه ته په دې خبره ویریږې چه زه به دې قتل کړم زه به دې نه قتل کوم والله مارأیت أسیرا قط خیرًا من خبیب والله لقد وجدته یومًا یاکل من قطف عنب فی یده، وإنه لموثق فی الحدید......
زینب وائی والله ماد خبیب نه ښه قیدی نه دې لیدلې ماهغه دَ انګورو دَ غونچې نه په خوړلو لیدلې اوهغه دَ اوسپنې په بیړو کښې تړلې شوې وو دغه ورځو کښې په مکه کښې میوه بالکل نه وه داد الله تعالی روزی وه چه خبیب له ئی ورکړې وه. بیاچه دې خلقو خبیب دَ قتل کولودَپاره دَ حرم نه بهر بوتلو نوحضرت خبیب اووئیل ذرونی ارکع رکعتین ماته دَ دوو رکعتو مونځ کولوموقع راکړئی. خبیب رضي الله عنه دوه رکعته مونځ اوکړو بیاقاتلانوطرف ته متوجه شو وئي وئیل که چرې تاسو داګمان نه کولوچه زه دَ مرګ نه ویریږم نو (خپل مونځ) به مې اوږد کړې وو یاالله دا کافران یو یو هلاک کړه بیاهغه دا شعر اووئیل:

| | |
|---|---|
| ما أن أبالی حین أقتل مسلما | علی أی جنب کان لله مصرعی |
| وذلك فی ذات الاله وإن یشا | تبارك علی أوصال شلو ممزع |

① چه زه دَ مسلمانیدو په حال کښې قتل کیږم نوزما دَدې خبرې هیڅ فکر او پرواه نشته چه دَ الله تعالی دَپاره به په کوم اړخ باندې (په زمکه) پریوتل وی.
② اوزما قتل کیدل دَالله تعالی دَ رضادَپاره دی که چرې هغه اوغوښتل نو په ټکړې ټکړې شوی اندامونو جوړونوباندې به برکت نازل کړی.
دې نه پس عقبه بن حارث هغه شهید کړو. خبیب رضي الله عنه دَهرمسلمان قیدی دَپاره په شهید کیدو باندې دَ دوه رکعته مونځ سنت قایم کړل. حضرت ابوهریره رضي الله عنه دې ته څکه سنت اووئیل چه خبیب رضي الله عنه دا عمل دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم په ژوند کښې کړې وو اوحضورپاك دا خوښ کړی وو.[1]

**قوله** فاستجاب الله لعاصم بن ثابت یوم أصیب. په کومه ورځ چه عاصم بن ثابت قتل شو الله تعالی دَهغه دعاقبوله کړه. عاصم رضي الله عنه چه دَ وړوکی لښکر امیروو هغه دعاکړې وه اللهم أخبرنا عنا نبیك ای الله زمونږ په حال باندې خپل نبی خبرکړه. مطلب دا چه دَهغوی دادعا قبوله شوه او رسول اکرم صلى الله عليه وسلم دَهغوی دَ حال نه خبرشو. هم په هغه ورځ حضورپاك خپل صحابه کرام دَ دغه واقعه نه خبر کړل او په هغوی چه کوم تکلیفونه تیرشوی وو هغه ئی بیان کړل.

---
[1] ) إرشاد الساري:۶/۵۲۰.

وبعث ناس من کفار قریش إلی عاصم حین حدثوا أنه قتل لیؤتوا بشئ منه یعرف وکان قدقتل رجلا من عظمائهم یوم بدر یعنی بعض دَ قریشو کافرانو ته چه دَ عاصم رضی الله عنه دَ شهادت خبر ملاؤ شو نو هغوی یو څو کسان روان کړل چه لاړشئی دَ عاصم دَ بدن یوه داسې ټکړه راوړې کړئی راوړې په کوم سره چه دَ هغه پیژند ګلو کیدې شی عاصم رضی الله عنه دَ بدر په موقع دَ قریشو یو سردار (عقبه بن ابی معیط) قتل کړې وو لکه چه دَ قریشو کافرانو دَ انتقام هغه غصه پوره کول غوښتل

**قوله فبعث علی عاصم مثل الظلة من الدبر فحمته من رسولهم، فلم یقدروا علی أن یقطعوا من لحمه شیئاً:** دَ عاصم رضی الله عنه په بدن باندې دَ مچو یوه داسې دسته راولیګلې شوه چه دَ قریشو دَ رالیګلو شو سړو نه دَحضرت عاصم حفاظت اوکړو دې خلقو دَحضرت عاصم رضی الله عنه دَ بدن یوه حصه پرې کولو باندې طاقت حاصل نه کړې شو بعث دلته دَ مجهول صیغه ده. وړاندې دَ مغازی په روایت کښې دی. فبعث الله علی عاصم په دې روایت کښې تصریح ده چه الله تعالی دَ مچو دسته راولیګله

الظلة: (دَ ظاء په ضمه سره) سوری ته وئیلې شی

الدبر:- (دَ دال فتحه او دال سکون سره) دَ مېرو او مچو ته وئیلې شی

**ترجمة الباب سره مناسبت:-** ① هل یستاسر الرجل کښې خودلې شوی دی چه خپل ځان دَ کافرانو په قید کښې ورکول جائز دی. په حدیث کښې دی فنزل إلیهم ثلاثة رهط بالعهد والمیثاق درې سړی (خبیب انصاری، زیدبن دثنه عبدالله بن طارق) دَ کافرانو په عهدوپیمان باندې راکوز شو. دَ حدیث باب دَدې جز مناسبت دَترجمة الباب رومبی جز سره ښکاره دې

② دویم جز من لم یستاسر کښې خودلې شوی دی چه خپل ځان دَ کافرانو په قید کښې ورکولو نه انکار کول هم جائز دی. په حدیث باب کښې وقال عاصم بن ثابت أمیرالسریة: أما أنا فوالله لاأنزل الیوم فی ذمة کافر. امیرسریه عاصم بن ثابت رضی الله عنه اووئیل چه زما دې په الله قسم وی دَ کافر په پناه کښې به راکوز نه شم. په دې جمله کښې مناسبت ترجمة الباب دغه دویم جز سره واضح دې.

③ ترجمة الباب دریم جز من رکع رکعتین عندالقتل کښې خودلی شوی دی چه دَ شهادت په وخت دوه رکعته مونځ کول پکاردی. دَ حدیث باب داجمله دې سره مطابقت لری: قال لهم خبیب: ذرونی أرکع رکعتین فترکوه فرکع رکعتین.[1]

## باب ۱۶۸: فکاك الاسیر

دَشراح حدیث په نیز دلته عبارت مقدر دې: باب وجوب فکاك الاسیر من أیدی العدو أو بغیره.[2]

[1] عمدة القاری: ۴۰۳/۱۴.

[2] عمدة القاری: ۴۰۸/۱۴ فتح الباری: ۱۶۷/۶ إرشاد الساری: ۴۲۱/۶.

**فكاك** . فاء مفتوح لوستل هم صحيح دی اومكسورهم[1] دَدې معنی ده خلاصول، پريخودل[2]

**دَ ترجمة الباب مقصد** . دَدې ترجمة الباب نه دَامام بخاري رحمه الله مقصد دادې چه دَ دښمن په لاس راګیرېدونکی مسلمان قیدی راخلاصول واجب دی او دَخلاصی په عوض کښې مال یا دَ هغه دَمتبادل دَ بل څه څیز مطالبه اوکړې شی نوهغه پوره کول پکار دی[3]

**قوله** :فيه عن أبي موسى ،عن النبي ﷺ:

**دَ مذکوره تعليق تخريج** . دا تعليق امام بخاری رحمه الله كتاب النكاح[4] او كتاب الاحكام[5] د لاندې مسدد په طريق سره او كتاب الاطعمة[6] كښې عن محمدبن كثير عن سفيان په طريق او كتاب المرضى[7] كښې قتيبه بن سعيد په طريق موصولاً روايت كړې دې[8]

دې نه علاوه سنن ابوداؤد كښې كتاب الجنائز[9] لاندې دَامام نسائی رحمه الله سنن الكبرى كښې كتاب السير لاندې هم مذكوره تعليق موصولاً روايت كړې شوې دې[10]

**دَ مذکوره تعليق مقصد** . په دې تعليق سره امام بخاری رحمه الله دا خودل غواړي چه په دې باب كښې كوم حديث روايت دې هغه دَ رسول اكرم ﷺ نه ابوموسى اشعرى رضي الله عنه روايت كړې دې[11] مطلب دادې چه هم ابوموسى اشعرى رضي الله عنه دَ باب حديث روايت كولو كښې دې پشهرت لرى علامه قسطلانی رحمه الله فرمائی دَ ابوذر په روايت كښې دغه مذكوره تعليق نشته[12] امام بخاری رحمه الله دَ ترجمه مدعى ثابتولو دپاره دلته دوه احاديث نقل كړى دى.

[حديث نمبر ۲۸۸۱] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ أَبِي مُوسَى - رضى الله عنه - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - « فُكُّوا الْعَانِيَ - يَعْنِي الأَسِيرَ - وَأَطْعِمُوا الْجَائِعَ وَعُودُوا الْمَرِيضَ ».[۴۸۷۹، ۵۰۵۸، ۵۳۶۵، ۶۷۵۲]

---

[1] ) عمدة القارى:۱۴/۴۰۸.

[2] ) عمدة القارى:۱۴/۴۰۸.

[3] ) عمدة القارى:۱۴/۴۰۸ فتح البارى:۶/۱۶۷إرشادالسارى:۶/۴۲۱.

[4] ) أخرجه فى صحيحه: ۲/۷۷۷ فى باب حق إجابة الوليمة رقم: ۵۱۷۴.

[5] ) أخرجه :۲/۱۰۶۰۳ باب إجابة الحاكم الدعوة رقم:۷۱۷۳.

[6] ) أخرجه:۲/۸۰۹ فى باب قول الله تعالى ﴿كُلُوا مِنْ طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقْنَٰكُمْ﴾ رقم:۵۳۷۳.

[7] ) أخرجه فى صحيحه فى:۲/۲ باب وجوب عيادة المريض رقم:۵۶۴۹ فتح البارى:۶/۱۶۷.

[8] ) عمدة القارى:۱۴/۴۰۸.

[9] ) أخرجه أبوداؤد فى سننه فى باب الدعاء للمريض عندالعبادة رقم:۳۷۰۵.

[10] ) أخرجه النسائى فى السنن الكبرى۵/۲۰۲ فى باب الامر بفكاك الاسير رقم:۸۶۶۶.

[11] ) عمدة القارى:۱۴/۴۰۸ فتح البارى:۶/۱۶۷إرشادالسارى:۶/۴۲۱.

[12] ) إرشادالسارى للقسطلانى:۶/۵۲۱.

# رجال الحدیث

① **قتیبه بن سعید**:- دا شیخ الاسلام ابورجاء قتیبه بن سعیدبن جمیل بن طریف ثقفی رحمه الله دي دَ دوی حالات کتاب الایمان کښې تیرشوی دی (١)

② **جریر**:- دا حضرت جریر بن عبدالحمید بن قرط ضبی رازی دې دَدوی حالات کتاب العلم لاندې تیرشوی دی (٢)

③ **منصور**:- دا ابوعتاب منصور بن المعتمر سلمی کوفی رحمه الله دې دَدوی حالات هم کتاب العلم لاندې تیرشوی دی (٣)

④ **ابووائل**:- دا مشهور تابعی ابووائل شقیق بن سلمه اسدی کوفی رحمه الله دې دَ رسول اکرم صلی الله علیه وسلم زمانه ئې لیدلې خو دَ زیارت سعادت ورته نه دې حاصل شوې دَدوی حالات کتاب الایمان لاندې تیرشوی دی (٤)

⑤ **ابوموسیٰ**:- دا مشهور او جلیل القدر صحابی ابوموسیٰ اشعری رضی الله عنه دې دَدوی حالات کتاب الایمان لاندې تیرشوی دی (٥)

**قال رسول الله صلی الله تعالیٰ علیه وسلم فکوالعانی یعنی الاسیر** یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل قیدی خلاص کړئ.

العانی:- په وزن دَ قاضی دَ قیدی په معنی کښې دې. عناة دَدې جمع ده. دَ مؤنث نه دَدې جمع عوان اومفرد عانیة دې. عنا یعنو(ن) نه دَدې معنی ذلت اورسوائی ده. العانی بالعین المهملة وبالنون مثل القاضی من عنا یعنو فهوعان والجمع عناة، والمرءة عانیة، والجمع عوان، وقال ابن الاثیر: والعانی الاسیروکل من ذل واستکان وخضع فقدعنا (٦)

یعنی الاسیر:- دا مدرج من الراوی دې اودَ فکوالعانی تفسیردې. (٧) علامه قسطلانی رحمه الله فرمائی چه دَ ابوزر په روایت کښې دلته یعنی په ځائی أی ضبط شوې دې (٨)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه دا ادراج دَ قتیبه یا جریر کیدې شی خو امام بخاری رحمه الله روایت په کتاب الطب کښې ابوعوانه عن منصور اوکتاب الاطعمة کښې ثوری عن منصور په طریق

---

(١) کشف الباری:۱۸۹/۲.
(٢) کشف الباری:۲۶۸/۳.
(٣) کشف الباری:۲۸۰/۳.
(٤) کشف الباری:۵۵۹/۲.
(٥) کشف الباری:۶۹۰/۱.
(٦) عمدة القاری: ۲۹٤/۱٤ وفتح الباری:۱۶۷/۶.
(٧) عمدة القاری: ۲۹٤/۱٤ وفتح الباری:۱۶۷/۶.
(٨) إرشادالساری شرح صحیح البخاری:۵۲۱/۶.

سره هم نقل کړې دي په رومبی طریق کښې دَ مذکوره ادراج تصریح نشته البته دَ ثوری عن منصور والا طریق په آخره کښې دا اضافه ده قال سفیان العاني الأسیر لکه چه په دې طریق کښې څه ابهام نشته حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی

**والتفسير من قبل جرير أو قتيبة، وإلا فقد أخرجه المصنف في الطب من طريق أبي عوانة عن منصور فلم يذكره، وأخرجه في الأطعمة من طريق الثوري عن منصور وقال في آخره قال سفيان: العاني الأسير**[1]

دکلام خلاصه دا شوه چه دَ حافظ ابن حجر رحمه الله دَ قول په رنړاکښې دا ادراج دَ قتیبه یا جریر کیدې شی چونکه دَ روایت په باب کښې دَ قائل تصریح نشته په دې وجه تعیین نه شی کیدی

**دَ مسلمان قیدی دَ راخلاصولومسئله:-** علامه ابن بطال فرمائی دَ مسلمان قیدی راخلاصول بالاجماع فرض کفایه دی په دې باندې هغه وعلیه كافة العلماء ونیلوسره دَ جمهور اتفاق نقل کړې دې[2] البته په دې کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې چه دَ مسلمان قیدی په راخلاصولوکښې دښمن ته څه څیزورکړې شی. دَ اسحاق بن راهویه رحمه الله رائې ده چه مال دې ورکړی خلاص دې کړی[3] په یوروایت دَامام مالك رحمه الله نه هم دغه قول نقل دې.[4] امام احمدبن حنبل رحمه الله[5] او امام شافعی رحمه الله په نیزدَ راس بدله راس دې.[6] مطلب دادې چه دَمسلمان قیدی دَ خلاصولو بدله کښې به کافر قیدی خلاصولې شی. ترکومې چه دَ مال په بدله دَ خلاصی حکم دې په دې سلسله کښې امام احمد رحمه الله دې سره اختلاف کړې دې هغه فرمائی **وأما بالمال فلا أعرفه.**[7] او دَ امام اعظم رحمه الله نه دوه اقوال نقل دی.

① **دَامام اعظم ابوحنیفه رومبې قول:-** دَ یوقول مطابق دَهغوی په نیزدَ راس بدله کښې راس ناجائز دې. په دې سلسله کښې هغوی دادلیل پیش کړې دې چه دَ خلاصی نه پس به کافر قیدی دوباره اهل اسلام سره جنګ کوی. دَ کافر قیدی په خلاصیدوسره به دَ دښمن دَ فوج شمیرزیات شی اودَهغوی په طاقت کښې به زیاتې کیږی. ښکاره خبره ده چه دا معامله دَ مسلمانانودَپاره فائده مندہ نه ده بلکه نقصان ورکونکې ده. په دې وجه دَ مسلمان قیدی دَ راخلاصولو په مقابله کښې دَ دغه نقصان بندیز راوستل ډیر بهتر دی کوم چه به دَ کافرقیدپه راخلاصولوپیدا کیږی. چنانچه په هدایه کښې دی: **ولایفادی بالاساری عند أبي حنیفة - إلى أن قال - له أن فیه معونة الكفرة، لأنه یعود حربا علینا، ودفع شر حرابه خیر من استنقاذ الاسیر المسلم.**[8]

---

[1] فتح الباری:۲۰۵/۶.
[2] شرح ابن بطال:۲۱۰/۵.
[3] فتح الباری:۱۶۷/۶ وعمدة القاری:۲۹٤/۱٤.
[4] فتح الباری:۱۶۷/۶ وعمدة القاری:۲۹٤/۱٤.
[5] فتح الباری:۱۶۷/۶ وعمدة القاری:۲۹٤/۱٤.
[6] المجموع شرح المهذب:۸۰/۲۱ وهدایة:۵۶۷/۲.
[7] فتح الباری:۱۶۷/۶وعمدة القاری:۲۹٤/۱٤.
[8] هدایة:۵۶۷/۲ وردالمختار على الدرالمختار:۵۳۵/۱۲.

**دویم قول** - دَامام اعظم رحمه الله دویم قول دادې چه دَ رأس په بدله کښې رأس جائزدې یعنی دَ مسلمان قیدی په بدله کښې کافر قیدی خلاصولې شی هم دغه رائې دَ صاحبین رحمهما الله هم ده [1] دَ دوی استدلال دَ عمران بن حصین رضی الله عنه دَ روایت نه دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ یومشرک قیدی په بدله کښې دوه مسلمانان قیدیان راخلاص کړې وو لانه فدی رجلین من المسلمین برجل من المشرکین [2] داحضرات فرمائی چه کافرقیدی قتل کول یا هغه دَمسلمانانو په فائده کښې استعمالولونه زیات بهتردی چه مسلمان قیدی ته دَ هغه په بدله کښې خلاصې ملاؤشی دَامام اعظم رحمه الله دویم قول امام محمد رحمه الله په سیرکبیرکښې نقل کړې دې هم دا امام زیلعی رحمه الله او علامه بن همام رحمه الله [3] أظهرالروایتین عن أبی حنیفة گرځولې دې

چنانچه علامه زیلعی رحمه الله فرمائی: وعن أبی حنیفة رحمه الله أنه لاباس بان یفادی بهم أساری المسلمین، وهوقول محمد، لان تخلیص المسلم من أیدیهم واجب، ولا یتوصل إلیه إلابه........، ومنفعة تخلیص المسلم أولی من استرقاقهم أو جعلهم ذمة، وقد روی أنه علیهم الصلوة والسلام فادی بهم أسری المسلمین، وذکرفی السیرالکبیرأن هذا هو أظهرالروایتین عن أبی حنیفة. [4]

**دَ نوی مسلمان شوی قیدی دَ خلاصولوحکم**:- که چرې کافر قیدی اسلام راوړی نودَهغه په بدله کښې دَمسلمان قیدی خلاصول په دې شرط باندې جائزدی چه کله دَ مسلمان په قیدکښې اسلام راوړونکې دا نوې مسلمان قیدی په دغه بدلولو باندې راضی وی اودَ اسلام په لارکښې دَ څه قسم خطراتو کښې اخته کیدو اندیښنه ورته نه وی چنانچه په هدایه کښې دی ولوکان أسلم الاساری فی أیدینا لا یفادی بمسلم أسیرفی أیدیهم، لانه لا یفید إلا إذا طابت نفسه به، وهو مامون علی إسلامه. [5]

**دَ علامه ابن همام رحمه الله تسامح**:- دَ صاحبینو په نیزدَ مسلمان قیدی دَ راخلاصولوپه عوض دَاهل اسلام په قیدکښې پاتې کیدونکې غیرمسلم ښځه پریخودل ناجائزدی خو امام شافعی رحمه الله اوامام احمد رحمه الله په مذکوره صورت کښې دَ جواز قائل دی دَ دې حضراتو په نیزپه دې صورت باندې عمل کولوکښې هیڅ قباحت نشته خوصاحب دَ فتح القدیر علامه ابن همام رحمه الله ته په دې مسئله کښې نقل مذاهبوکښې تسامح شوې دې دَ هغه دَ صنیع نه

---

[1]) حداية:۵۶۷/۲ وردالمختار علی الدرالمختار:۵۳۵/۱۲.

[2]) أخرجه مسلم فی صحیحه کتاب الایمان باب لاوفاء لنذر فی معصية الله ولا فیما لایملک العبد رقم: ۱۶۴۱ وأبوداؤد فی سننه کتاب الایمان باب النذر فیما لایملک رقم:۳۳۱۶ وأحمدفی مسنده مسندالکوفیین حدیث عمران بن حصین رضی الله عنهما رقم:۱۰۱۰۳.

[3]) فتح الباری:۴۷۴/۵.

[4]) تبیین الحقائق للزیلعی رحمه الله ۹۹/۴ وردالمختار:۵۳۵/۱۲.

[5]) هدایه:۵۲۷/۲.

معلومیږی چه د صاحبینو په شان امام شافعی رحمه الله او امام احمد رحمه الله هم د عدم جواز قائل دی (۱) حالانکه د دې حضراتو نقطه نظر هم هغه دې کوم چه مونږ پورته بیان کړې دې د علامه ابن همام رحمه الله اتباع کولوسره صاحب د اعلاء السنن مولانا ظفر احمد عثمانی رحمه الله ته هم د مذاهبو په نقل کولو کښې مغالطه شوې ده

چنانچه په اعلاء السنن کښې دی وعن أبي حنيفة أنه يفادى بهم كقول أبي يوسف ومحمد، والشافعي وأحمد إلا بالنساء فانه لاتجوز المفاداة بهن عندهم. (۲) حالانکه په شرح المهذب کښې امام شافعی رحمه الله مسلك او المغنی کښې د امام احمد رحمه الله مسلك بالكل واضحه دې چه د مسلمان قیدی د خلاصولو په عوض کافره ښځه پریخودل جائز دی او په دې کښې هیڅ کراهت نشته د دې حضراتو دلیل د مسلم شریف دا روایت دې چه حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په جهاد کښې حضرت سلمه بن اکوع رضی الله عنه ته یوه قیدی ښځه ورکړې وه چه روستو سلمه بن اکوع رضی الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته هدیه کړې وه رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغې په بدله کښې د فتح مکه په موقع بندې مسلمانان قیدیان آزاد کړې وو (۳)

د صحیح مسلم روایت نقل کولونه پس د امام شافعی رحمه الله د مسلك وضاحت کولو سره امام نووی رحمه الله فرمائی. وفي الحديث: جواز المفاداة، وجواز فداء الرجال بالنساء الكافرات (۴) هم د دې حدیث نه استدلال کولوسره ابن قدامة رحمه الله د امام احمد رحمه الله د نقطه نظر وضاحت کړې دې په المغنی کښې دی: وجوز أن يفادى بهن أسارى المسلمين لان النبى صلى الله تعالى عليه وسلم فادى بالمرءة التى أخذها من سلمة بن الاكوع (۵)

**د احنافو استدلال:-** د صاحبینو په نیز د کافرې ښځې په بدله کښې مسلمان قیدی راخلاصول ځکه جائز نه دی چه د ښځې د پریخودو په نتیجه کښې به د اهل کفر په توالد وتناسل کښې ترقی کیږی او ښکاره خبره ده چه دا د کافرانو په شوکت اوقوت کښې د اضافې سبب دې

**د علامه ابن عابدين شامی توجيه:-** لیکن علامه ابن عابدين شامی رحمه الله تحریر فرمائی چه ممکن دی د احنافو په نیز دا ممانعت د مال په عوض د کافر قیدی د راخلاصولو متعلق وی

---

(۱) فتح القدير:۵/۴۷۵.

(۲) اعلى السنن:۱۲/۱۰۴.

(۳) أخرجه مسلم فى صحيحه فى كتاب الجهاد باب التنفيل وفداء المسلمين بالاسارىٰ رقم: ۱۷۵۵عن سلمة بن الاكوع – رضى الله عنه – خرجنا مع أبى بكر أمره علينا رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم – إلى أن قال – فلقينى رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم فى السوق فقال لى: ياسلمة هب لى المرءة لله أبوك: أعنيى التى كان أبوبكر نفله إياها. فقلت فى لك يا رسول الله. والله ماكشفت لها ثوبا. فبعث بها رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم ففدى بها ناسامن المسلمين كانوا أسروا بمكة أنظر أيضًا شرح المهذب:۲۱/۷۹ حيث نقله مستدلاً به.

(۴) المجموع شرح المهذب:۲۱/۸۰.

(۵) المغنى لابن قدامة:۱۰/۳۹۸.

کښی دَ احنافو په نیزد کافرانو قیدیانو په بدله کښې مسلمان قیدیان راخلاصول جائزدی او په دې صورت کښې دهغوی په نیزهیڅ کراهت نشته سره ددې چه کافران سړی قیدیان هم د توالد اوتناسل ذریعه ده مطلب دا چه د ممانعت هغه علت چه دَ احنافو په نیز دَ مسلمانانو قیدیانو دَ راخلاصولو په عوض په کافرانو ښځو پریخودوکښې موجودوو هغه دکافرانو سړو په عوض د مسلمانانو راخلاصولوپه وخت هم موجود وی په دې وجه رأس بالراس په صورت کښې هم ناجائز کیدل پکاردی کله چه دَ کافرانو سړو د بدلون په صورت کښې جائزدې نوبیا به دَ کافرانو ښځو دَ بدلون په صورت کښې هم جائزوی په ردالمختار کښې علامه شامی رحمه الله تحریر فرمائی: قوله: واتفقوا أنه لايفادیٰ بنساء وصبيان لما إذا الصبيان يبلغون فيقاتلون، والنساء يلدن، فيكثر نسلهم، ولعل المنع فيما إذا أخذ البدل مالا، وإلا فقد جوز وادفع أسراهم فداء لأسرانا، مع أنهم إذا ذهبوا الدارهم يتناسلون. (١)

**قوله**: أطعموا الجائع وعودوا المريض:- په اوګی باندې خوراك کوئی اودَ بیمارتپوس کوئی. په نهرباندې خوراك کول فرض کفایه ده خوکه دَ اولګې دَ زیاتوالی نه څوك مړکیدو اندیښنه وی او بل سړی سره په هغه باندې دَخوړلودومره څه وی په څه سره چه هغه ژوندې پاتې شی په دې صورت کښې په دغه سړی باندې خوراك کول فرض عین دې په دې شرط چه ددې نه علاوه دَ خوراك دپاره نورڅه موقع موجودنه وی. البته په عدم ضرورت اوعام حالاتوکښې خوراك ورکول مندوب اومستحسن دی. (٢)

**قوله**: وعودوا المريض:- دَ بیمارتپوس کول دَ جمهورو علماؤ په نیزمستحب دې خودَ اصحاب ظواهر په نیز واجب دې. امام بخاری رحمه الله په کتاب المرضى کښې باب وجوب عيادة المريض باب قایمولوسره دَ خپل مسلك طرف ته اشاره کړې ده دَهغه استدلال دَ عودوالمریض نه دې کوم چه مفید وجوب دې اوجمهور دا په ندب باندې محمول کوی (٣) علامه عینی رحمه الله وائی چه دَ مریض پوښتنه کول فرض کفایه دې. (٤) دَ بعضو په نیزسنت مؤکده دې. (٥)

**دَ حدیث نه دَترجمة الباب اثبات**:- دَ ترجمة الباب مناسبت فكوا العانی سره ښکاره دې.

---

(١) ردالمختار: ٥٣٧/١٢.
(٢) عمدة القاري: ٤٠٨/١٤.
(٣) كشف الباري ص: ٤٧٩ كتاب المرضى باب وجوب عيادة المريض.
(٤) عمدة القاري: ٤٠٨/١٤.
(٥) عمدة القاري: ٤٠٨/١٤.

احدیث نمبر ۲۸۸۲] (۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا مُطَرِّفٌ أَنَّ عَامِرًا حَدَّثَهُمْ عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ -رضي الله عنه- قَالَ قُلْتُ لِعَلِيٍّ -رضي الله عنه هَلْ عِنْدَكُمْ شَيْءٌ مِنَ الْوَحْيِ إِلَّا مَا فِي كِتَابِ اللَّهِ قَالَ وَالَّذِي فَلَقَ الْحَبَّةَ وَبَرَأَ النَّسَمَةَ مَا أَعْلَمُهُ إِلَّا فَهْمًا يُعْطِيهِ اللَّهُ رَجُلًا فِي الْقُرْآنِ، وَمَا فِي هَذِهِ الصَّحِيفَةِ. قُلْتُ وَمَا فِي الصَّحِيفَةِ قَالَ الْعَقْلُ وَفَكَاكُ الأَسِيرِ، وَأَنْ لَا يُقْتَلَ مُسْلِمٌ بِكَافِرٍ. [ر: ۱۱۱]

## رجال الحديث

① **احمدبن يونس**:- دااحمدبن عبدالله بن يونس بن عبدالله بن قيس تميمي يربوعي رحمه الله دي دَ ده تذكره كتاب الايمان باب من قال إن الايمان هوالعمل لاندې تيره شوې ده. (۲)

② **زهير**:-دا زهير بن معاويه بن حديج بن رحيل بن زهير بن خيثمه جعفي رحمه الله دي. دَ دوی تذكره كتاب الايمان باب الصلوة من الايمان لاندې تيره شوې ده. (۳)

③ **مطرف**:- دا مطرف بن طريف حارثي كوفي رحمه الله دي. دَ دوی تذكره كتاب العلم باب كتابة العلم لاندې تيره شوې ده.

④ **عامر**:- دا ابوعمرو عامر بن شراحيل شعبي كوفي رحمه الله دي. دَدوی تذكره كتاب الايمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده لاندې تيره شوې ده. (۴)

⑤ **ابوجحيفة** رضي الله عنه:- داصحابي رسول ﷺ ابوجحيفه وهب بن عبدالله رضي الله عنه دي. دَ دوی تذكره

(۱) والحديث أخرجه البخاري أيضًا في صحيحه: ۱/۲۵۰، ۲۵۲كتاب فضائل المدينة باب حرم المدينة رقم: ۱۸۷۰و ۱/۴۵۰ الجزية والموادعة باب ذمة المسلمين وجوارهم واحدة يسعى بها أدناهم، رقم: ۳۱۷۲ و۱/۴۵۱ كتاب الجزية والموادعة باب إثم من عاهدثم غدر رقم: ۳۱۷۹ و۲/۱۰۰۰ كتاب الفرائض باب إثم من تبرأمن مواليه رقم: ۶۷۵۵ و ۲/۱۰۲۰ كتاب الديات باب العاقلة رقم: ۲۹۰۳ و ۲/۱۰۲۱ كتاب الديات باب لايقتل المسلم بالكافر رقم: ۶۹۱۵ و ۲/۱۰۸۴ كتاب الاعتصام بالكتاب والسنة باب مايكره من التعمق والتنازع في العلم والغلو في الدين والبدع رقم: ۷۳۰۰ وعندمسلم في صحيحه في كتاب الحجباب فضل المدينة رقم: ۳۲۲۷ – ۳۲۲۹ وفي كتاب العتق باب تحريم تولي العتيق غيرمواليه رقم: ۳۷۹۴ وعندالترمذي في جامه في أبواب الديات باب ماجاء لايقتل مسلم بكافر رقم: ۱۴۱۲وفي ابواب الولاء والهبة باب ماجاء في تولي غيرمواليه أو ادعى إلى غيرأبيه رقم: ۲۱۲۷ والنسائي في سننه في كتاب القسامة باب القود بين الاحرار والمماليك رقم: ۴۷۳۸، ۴۷۳۹ وباب سقوط القود من المسلم للكافر رقم: ۴۷۴۸ – ۴۷۵۰ وعند أبي داؤد في سننه في كتاب المناسك باب في تحريم المدينة رقم: ۲۰۳۴ وفي كتاب الديات باب إيقاذ المسلم من الكافر رقم: ۴۵۳۰ وعند ابن ماجة في سننه في كتاب الديات باب لايقتل مسلم بكافر رقم: ۲۶۵۸.

(۲) كشف الباري: ۲/۱۵۹.

(۳) كشف الباري: ۲/۳۶۷.

(۴) كشف الباري: ۱/۶۷۹.

کتاب العلم باب کتابة العلم لاندې تیره شوې ده

**دې روایت په تخریج کښې د علامه عبدالغنی نابلسی تسامح:-** د ترجمة الباب د دې روایت متعلق علامه عبدالغنی نابلسی رحمه الله ذخائر المواریث کښې لیکلی دی چه امام بخاری رحمه الله دا روایت دیات کښې د احمدبن یونس په طریق سره ذکرکړې دې [۱] دا دهغه تسامح دې خکه چه په کتاب الدیات کښې دا روایت احمدبن یونس په طریق سره نه بلکه د صدقه بن الفضل په طریق سره نقل کړې دې [۲]

**قوله** قلت لعلی رضی الله عنه هل عندکم شئ من الوحی الا مافی کتاب الله؟.......: دې حدیث ته حدیث قرطاس وئیلې شی کتاب العلم باب کتابة العلم لاندې په دې باندې تفصیلی بحث تیرشوې دې

**ترجمة الباب سره مناسبت:-** د ترجمة الباب مناسبت وفکاك الاسیر سره دې ابوجحیفه رضی الله عنه چه کله دحضرت علی رضی الله عنه نه پوښتنه اوکړه چه په دې صحیفه کښې څه دی؟ نوحضرت علی رضی الله عنه جواب ورکړو. العقل وفکاك الاسیر ترجمة الباب سره د دې جملې مناسبت بالکل ښکاره دې [۳]

## باب ۱۶۹: فداء المشرکین

**باب سابق سره مناسبت:-** په وړاندینی باب کښې د کافرانو اومشرکانو په قید کښې راګیرشوی مسلمانان قیدیانو د راخلاصولوحکم بیان کړې شوې وو او په دې باب کښې د کافراومشرك قیدی د راخلاصولومتعلق حکم بیانولې شی چه په جنګ کښې قیدکیدونکی مشرکان د فدیه اخستلونه پس خلاصولې شی؟

**دترجمة الباب مقصد:-** علامه ابن بطال رحمه الله فرمائی چه د دې باب لاندې امام بخاری رحمه الله دا خودل غواړی چه د مسلمانانو په لاس ګرفتار کیدو سره قیدیان جوړیدونکی مشرکان د جنګ او وینوبهیولونه پس فدیه اخستلوسره خلاصول جائزدی. په حدیث کښې چه د حضرت عباس رضی الله عنه کومه واقعه ذکرده چه هغه د خپل ځان اوعقیل رضی الله عنه د طرف نه فدیه ورکولوسره خلاصې حاصل کړې وو. دا صورت د وینو بهیولو (اثخان) نه وړاندې وو په دې باندې د الله تعالی د طرف نه رټنه نازل شوې وه. په دې وجه فدیه اخستلوسره مشرك قیدی خلاصول صرف په هغه صورت کښې جائزدی چه کله د مسلمانانو اوکافرانو په مینځ کښې جنګ شوې وی. یابیادا چه د مسلمانانو په مقابله کښې مشرکان کمزورې وی. [۴]

---

[۱]) ذخائر المواریث: ۲/۳۴۴ – ۳۴۵ رقم: ۵۴۴۵ قال النابلسی: أخرجه البخاری فی کتاب الجهاد وفی الدیات عن أحمد بن یونس.

[۲]) صحیح البخاری: ۲/۱۰۲۱ کتاب الدیات باب لایقتل المسلم بالکافر رقم: ۶۶۱۵.

[۳]) عمدة القاری: ۱۴/۴۰۹.

[۴]) شرح ابن بطال: ۵/۲۱۲.

ء د بخاری رحمه الله د ترجمة الباب په اثبات کښې دلته دري احاديث نقل کړي دی.

حديث ۲۸۸۳ [۱]: حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ أَبِي أُوَيْسٍ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عُقْبَةَ عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ -رضي الله عنه- أَنَّ رِجَالًا مِنَ الْأَنْصَارِ اسْتَأْذَنُوا رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ ائْذَنْ فَلْنَتْرُكْ لِابْنِ أُخْتِنَا عَبَّاسٍ فِدَاءَهُ. فَقَالَ «لَا تَدَعُونَ مِنْهَا دِرْهَمًا». [ر: ۲۴۰۰]

## رجال الحديث

① **اسماعيل بن ابی اویس**- دا ابوعبدالله اسماعيل بن ابی اویس عبدالله بن اویس بن مالك بن ابی عامر اصجی مدنی رحمه الله دي. د دوی تذکره کتاب الایمان لاندې تیره شوې ده [۲].

② **اسماعيل بن ابراهيم**- دا اسماعيل بن ابراهيم بن عقبه بن ابی عیاش قرشی اسدی رحمه الله دي. دی د امام المغازی موسی بن عقبه وراره دې [۳] د دوی تذکره وړاندې تیره شوې ده [۴].

③ **موسی بن عقبه**- دا امام المغازی موسی بن عقبه اسدی رحمه الله دي. د دوی تذکره وړاندې تیره شوې ده [۵].

④ **ابن شهاب**- دا جلیل القدر امام حديث ابوبکر محمد بن شهاب زهری رحمه الله دي. د دوی حالات هم بدء الوحي کښې د دریم حديث لاندې تیر شوی دی. [۶]

⑤ **انس بن مالك رضي الله عنه**- دا مشهور صحابی رسول صلی الله علیه وسلم انس بن مالك رضي الله عنه دي. د دوی تذکره کتاب الایمان لاندې تیره شوې ده. [۷]

**قوله**: أن رجالا من الانصار استاذنوا رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم فقالوا: يارسول الله! ائذن لنا فلنترك لابن أختنا عباس فداءه؟ فقال: لاتدعوا منه درهما....: حضرت انس رضي الله عنه وائی چه د انصارو بعض کسان د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شو اجازت ئې اوغوښتلو چه هغه خپل خوریې عباس رضي الله عنه فدیه معاف کول غواړی هغه وخت حضرت عباس رضي الله عنه اسلام نه وو راوړلې او د بدر قیدیانو سره

---

[۱] والحديث أخرجه البخاری رحمه الله أيضًا فی المغازی باب شهود الملائكة بدرًا وفی كتاب العتق باب إذا إسر أخو الرجل أوعمه.

[۲] كشف الباری:۲/ ۱۱۳.

[۳] تهذيب الكمال للحافظ المزی: ۱۷/۳ رقم الترجمة:۴۱۵.

[۴] كتاب جزاء الصيد باب ماينهی من الطيب للمحرم والمحرمة.

[۵] كتاب الوضوء باب إسباغ الوضوء.

[۶] كشف الباری:۱/ ۳۲۶.

[۷] كشف الباری:۲/ ۴.

دَمسلمانانو په لاس ګرفتارشوې وو رسول الله ﷺ هغوی ته دَ داسې کولو اجازت ورنه کړو او
ونې فرمائیل دَهغه په فدیه کښې یو درهم هم معاف نه کړئې
حضرت عباس رضی الله عنه دَ رسول الله تره وو انصاری صحابه کرامو په حضورپاك باندې دَ خان
اوزړه نه قربان وو په دې وجه دَ خپلولئي د وجه نه هغوی دَ رسول الله ﷺ رعایت کولوسره
دَحضرت عباس رضی الله عنه دَ فدیه معاف کولو درخواست کړې وو لیکن دَهغوی خیال ووچه په فدیه
ورکولوکښې به دَ مشرکانو سپکاوې کیږی اوپه دې سره به دَهغوی طاقت کمزورې شی په
دې وجه حضورپاك خپلولی نظرانداز کولوسره دَ فدیه وصول کولو حکم ورکړو (۱)

**دَ ترجمة الباب اثبات:-** علامه عینی رحمه الله فرمائی چه دَ ترجمة الباب مناسبت ائذن لنا سره دې
(۲) صحابه کرام رضی الله عنهم ائذن لنا فلنترك لابن أختنا عباس فداءه ونیلوسره دَ رسول الله ﷺ نه دَ
حضرت عباس رضی الله عنه دَ فدیه معاف کولو درخواست کړې وو چه هغه وخت نې لا اسلام نه وو
راوړلې ددې نه معلومه شوه چه فدیه اخستلوسره دَ مشرکانو قیدیانو خلاصلولوصورت
موجودوو په دې وجه ترجمة الباب سره ائذن لنا مناسبت ښکاره دې.

[حدیث: ۲۸۸۴] وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ أُتِيَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- بِمَالٍ مِنَ الْبَحْرَيْنِ ، فَجَاءَهُ الْعَبَّاسُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ ، أَعْطِنِي فَإِنِّي فَادَيْتُ نَفْسِي ، وَفَادَيْتُ عَقِيلاً . فَقَالَ «خُذْ» . فَأَعْطَاهُ فِي ثَوْبِهِ .[ر ۴۱۱]

## رجال الحدیث

① **ابراهیم بن طهمان:-** دا ابراهیم بن طهمان هروی دې دَدوی تذکره کتاب الغسل باب من اغتسل عریانا وحده فی الخلوة لاندې تیره شوې ده.
② **عبدالعزیزبن صهیب:-** داعبدالعزیربن صهیب بنانی بصری رحمه الله دې. دَدوی حالات کتاب الایمان لاندې تیرشوی دی. (۳)
③ **انس بن مالک رضی الله عنه:-** دَترجمة الباب په رومبی حدیث کښې دَدوی حواله تیره شوې ده

أن النبی صلی الله تعالی علیه وسلم أتی بمال من البحرین، فجاءه العباس فقال: یارسول الله! أعطنی، فانی فادیت نفسی، وفادیت عقیلا. فقال: خذ فاعطاه فی ثوبه.

دَحضرت انس رضی الله عنه روایت دې دَ رسول الله ﷺ په خدمت کښې دَ بحرین خراج راغلو نو
حضرت عباس رضی الله عنه دَ حضور پاك په خدمت کښې عرض اوکړو یارسول الله ﷺ ماته هم راکړه
خکه (دَ بدرپه موقع) ماخپله اودَعقیل فدیه اداکړې وه حضورپاك اوفرمائیل واخله اودَهغه
حصه ئې دَهغه په جولئې کښې واچوله.

---

(۱) شرح ابن بطال:۵/۲۱۲.
(۲) عمدة القاری:۱۴/۴۰۹.
(۳) کشف الباری:۲/۱۲.

د بدر په موقع گرفتارشوو مشرکانو قیدیانو کښې حضرت عباس رضی الله عنه هم شامل وو هغه وخت دوی اسلام نه وو راوړلې چونکه په معاشی لحاظ سره مالداران او آسوده حال وو په دې وجه نې خپله اود عقیل فدیه ورکولوسره خلاصې حاصل کړو. حافظ ابن حجر رحمه الله وائی چه د یوروایت مطابق هغه سره حارث بن نوفل هم قیدیانو کښې شامل وو حضرت عباس رضی الله عنه د هغه د طرف نه هم فدیه اداکړې وه. [۱]

**فائده**. خوعلامه ابن بطال رحمه الله یوقول نقل کړې دې چه دا فدیه حضرت عباس رضی الله عنه په قرض اخستلوسره اداکړې وه د اسلام راوړلوپورې دغه رقم د هغه په ذمه باندې اداکول پاتې وو د بحرین د خراج د مال نه حضرت عباس رضی الله عنه د څه اخستلو مطالبه هم په دې وجه کړې وه چه خپل قرض ورکړې شی. [۲]

**د مذکوره تعلیق تخریج**:- دا تعلیق امام بخاری رحمه الله دلته په اختصارسره او کتاب الصلوة کښې په تفصیل سره روایت کړې دې اوپه کتاب الصلوة کښې هم دامعلق دې. [۳] خو حافظ ابونعیم مستخرج کښې اوحاکم په مستدرك کښې احمدبن حفص په طریق سره دا تعلیق موصولاً روایت کړې دې. [۴]

**د تعلیق مقصد**:- په دې تعلیق کښې پخپله حضرت عباس رضی الله عنه د جنګ بدر په موقع باندې خپل او د عقیل فدیه ادا کولو تصریح کړې ده چه د ترجمة الباب د روایت دپاره مؤید دې دویمه خبره دا دې تعلیق نه دامعلومه شوه چه کومه فدیه هغوی په قرض اخستلوسره اداکړې هغه قرض تردغه وخته پورې د هغه په ذمه واجب الادا وو لکه چه علامه ابن بطال رحمه الله نقل کړې دی. اوداقرضه روستوهغوی د بحرین د جزئیه یا مال خراج نه اداکړو. [۵] امام بخاری رحمه الله هم د دې وجوهاتو په وجه مذکوره تعلیق نقل کړې دې چه یوخودا تعلیق د رومبی روایت د پاره مؤیددې بل د زیاتی فائدې په توګه د دې نه یوه نوې خبره معلومه شوه.

**ترجمة الباب سره مناسبت**:- په روایت باب کښې داجمله فانی فادیت نفسی وفادیت عقیلا مناسبت ترجمة الباب سره ښکاره دې. [۶]

---

[۱] ) کشف الباری:۶/۲۰۶۰.

[۲] ) شرح ابن بطال:۲۱۲/۵قیس أنه کان یداین فی ذلک عباس، وبقی علیه الدین إلی وقت إسلامه. ولذلک قال للنبی صلی الله تعالی علیه وسلم أعطنی فانی فادیت نفسی وفادیت عقیلا. فغرم النبی صلی الله تعالی علیه وسلم ماتحمله العباس من ذلک بعدإسلامه مما آفاء الله علی رسوله.

[۳] ) صحیح بخاری:۶۰/۱ کتاب الصلوة باب القسمة وتعلیق القنو فی المسجد رقم:۴۲۱.

[۴] ) فتح الباری:۵۱۶/۱ کتاب الصلوة باب القسمة وتعلیق القنوفی المسجد.

[۵] ) د بحرین دا مال د جزئیه یا خراج د قبیل نه وو؟ د دې تفصیل په کتاب الجزیه کښې راروان دې.

[۶] ) عمدة القاری:۱۴/۴۰۹.

حدیث ۲۸۸۵ [1]: حَدَّثَنِي مَحْمُودٌ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنْ أَبِيهِ - وَكَانَ جَاءَ فِي أُسَارَى بَدْرٍ - قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - يَقْرَأُ فِي الْمَغْرِبِ بِالطُّورِ. [ر: ۷۳۱]

## رجال الحدیث

① **محمود** - محمود بن غیلان العدوی المروزی دي. دَ دوی حالات کتاب مواقیت الصلوة باب النوم قبل العشاء لمن غلب لاندې تیرشوی دی

② **عبدالرزاق** - دا عبدالرزاق بن همام بن نافع صنعانی یمانی رحمه الله دي. دَدوی تذکره کتاب الایمان باب حسن إسلام المرء لاندې تیره شوې ده [2]

③ **معمر** - دامعمربن راشد ازدی بصری رحمه الله دي. دَدوی تذکره بدء الوحی پنځم حدیث لاندې تیره شوې ده. [3]

④ **زهری** - دامشهورمحدث محمدبن مسلم بن عبیدالله بن عبدالله بن شهاب زهری رحمه الله دي. دَدوی حالات بدء الوحی لاندې تیرشوی دی. [4]

⑤ **محمدبن جبیر** - دامشهورتابعی محمدبن جبیر معظم ابن عدی دي. دَجبیربن معطم رضی الله عنه خوئی دي. دَ دوی شمیر دَ علم الانساب په مشهورو ماهرینو کښې کیږی کتاب الاذان باب الجهرفی المغرب لاندې دَ دوی حالات تیرشوی دی

⑥ **عن ابیه** - دي نه دَمحمدبن جبیر پلارجبیربن مطعم رضی الله عنه مراد دي. دَدوی حالات کتاب الغسل باب من أفاض علی رأسه ثلاثا لاندې تیرشوی دی.

**قوله**: وكان جاء في أسارى بدر - دَدې حدیث تفصیلی بحث کتاب الاذان باب الجهرفی المغرب لاندې تیرشوې دې.

**ترجمة الباب سره مناسبت** - دَ حدیث پاك دا جمله وكان جاء فی أسارى بدر دَ ترجمه مناسب ده. [5] حضرت جبیربن مطعم رضی الله عنه فدیه ورکړه اودَ بدر دَ قیدیانودَ خلاصولودَپاره نبی رسول الله صلی الله علیه وسلم سره معاهده کولودَپاره راغلې وو او چونکه په دې کښې دَ فدیه ذکردې په دې وجه ترجمة الباب سره دَدې مطابقت ښکاره دې

---

[1] ) وقدسبق تخريج الحديث فی کتاب الاذان باب الجهر فی المغرب رقم: ۷۶۵.
[2] ) کشف الباری:۲/۴۲۱.
[3] ) کشف الباری:۱/۴۶۵.
[4] ) کشف الباری:۱/۳۲۶.
[5] ) فتح الباری:۶/۱۶۸ وعمدة القاری: ۱۴/۴۱۰ وإرشادالساری:۵/۱۶۷ وتحفة الباری: ۳/۵۱۰.

## باب ۱۷۰: الحربی إذادخل دارالاسلام بغیرأمـان

**باب سابق سره مناسبت** په وړاندینی باب کښې په جهاد کښې ګرفتار شوی قیدیانو حکم بیان کړې شوې وو ددې باب لاندې دامان غوښتلوبغیردارالاسلام کښې داخلیدونکی حربی حکم بیانولې شی چه دا قتل کړې شی که قید کړې شی؟

**دترجمة الباب مقصد** علامه عینی رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله دلته یوسوال اوچت کړې دې که چرې حربی په دارالاسلام کښې داخل شی نوهغه قتل کولې شی؟ په دې صورت کښې به عبارت مقدر وی باب الحربی إذا دخل دارالاسلام بغیرأمان، هل یجوزقتله؟ [۱] علامه عینی رحمه الله فرمائی دامسئله چونکه مختلف فیها ده په دې وجه امام بخاری رحمه الله په ترجمه کښې د حکم تصریح نه ده فرمائیلې [۲]

احدیث ۲۸۸۶] [۳] حَدَّثَنَا أَبُونُعَيْمٍ حَدَّثَنَا أَبُو الْعُمَيْسِ عَنْ إِيَاسِ بْنِ سَلَمَةَ بْنِ الأَكْوَعِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ أَتَى النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - عَيْنٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ وَهْوَ فِي سَفَرٍ، فَجَلَسَ عِنْدَ أَصْحَابِهِ يَتَحَدَّثُ ثُمَّ انْفَتَلَ، فَقَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «اطْلُبُوهُ وَاقْتُلُوهُ». فَقَتَلَهُ فَنَفَّلَهُ سَلَبَهُ.

## رجال الحدیث

① **ابونعیم:** دامشهور محدث ابونعیم الفضل بن دکین الملائی الکوفي الاحول رحمه الله دې ددوی حالات کتاب الایمان باب فضل من استبرألدینه کښې تیرشوی دی [۴]

② **ابوالعمیس:** دا ابوالعمیس عتبه بن عبدالله بن عتبه بن عبدالله بن مسعود الهذلی المسعودی الکوفی رحمه الله دې. د دوی تذکره کتاب الایمان باب زیادة الایمان ونقصانه لاندې تیره شوې ده

③ **ایاس بن سلمه:** دادَ مشهورصحابی سلمة بن اکوع رضی الله عنه خوئی ابوسلمة ایاس بن سلمه بن اکوع الاماني المدني رحمه الله دې. [۵] ده دَخپل پلار سلمه بن اکوع رضی الله عنه نه حدیث روایت کړې دې [۶] امام ذهبی رحمه الله فرمائی چه ماته معلومه نه شوه چه ده دَخپل پلار نه علاوه دَ بل چانه

---

[۱] عمدة القاری: ۱۰/۱٤ ٤والابواب والتراجم للشیخ زکریاالکاندهلوی ص:۲۰۳.

[۲] عمدة القاری: ۱۰/۱٤ ٤والابواب والتراجم للشیخ زکریاالکاندهلوی ص:۲۰۳.

[۳] الحدیث عندمسلم فی صحیحه ۸۸/۲فی کتاب الجهاد باب استحقاق سلب اللقتیل رقم:۱۷۵٤وعندأبی داؤد فی سننه ۳/۲ فی کتاب الجهاد باب فی الجاسوس المستامن رقم:۲۶۵۳وعند ابن ماجه فی سننه ص:۲۰۳ فی الجهاد باب المبارزة والسلب رقم:۲۸۳۶.

[۴] کشف الباری: ۶۶۹/۲.

[۵] تهذیب الکمال: ٤۰۳/۳ رقم الترجمة: ۵۹۰.

[۶] تهذیب الکمال: ٤۰۳/۳وسیرأعلام النبلاء:٤٤٤/۵ رقم الترجمة:۱۰۷.

حديث روايت كړي دي [1] ليكن حافظ مزى رحمه الله د محمد ابن عمار بن ياسر تصريح كړي ده چه اياس بن سلمه د هغه هم حديث روايت كړي دي [2]

په دواړو اقوالو كښې څه تعارض نشته ځكه چه د علامه ذهبى نه پيژندل د دې خبرې دليل نه دې چه په واقع كښې هم اياس بن سلمه رحمه الله د خپل پلار نه علاوه د بل چانه حديث روايت كړې نه وى حافظ يوسف مزى رحمه الله دده نه روايت حديث كونكو ۲۰ رجال حديث فهرست نقل كړې دې په كوم كښې ابوالعميس عتبه بن عبدالله محمدبن بشير عكرمه بن عمار او محمدبن شهاب زهرى رحمهم الله غوندې جليل القدر اعلام حديث شامل دى [3]

د ده باره كښې امام يحيى بن معين رحمه الله فرمائى ثقه [4]

امام احمدبن عبدالله العجلى او امام نسائى هم هغه ته ثقه وئيلي دي [5]

ابن سعد رحمه الله فرمائى وكان ثقة وله أحاديث كثيرة [6]

ابن حبان رحمه الله دهغوى ذكر په ثقات كښې كړې دې [7]

امام حاكم رحمه الله فرمائى اتفق جميعا على الحجة به من أبيه. [8]

طبقات ابن سعد كښې دى چه دهغه وفات مدينه منوره كښې په كال ۱۱۹هجرى كښې شوې ۷۷ كاله عمرئى وو [9]

**قوله اياس بن سلمه تابعي ووكه صحابي؟**: ابن عبدالبر رحمه الله فرمائى چه دا صحابى وو [10] حقيقت دادې چه دا تابعى وو دهغه په صحابى كيدوباندې هيڅ دليل موجودنه دې قرائن او آثار دهغوى صحابى نه كيدوباندې صريح دى.

**د حافظ ابن حجر رحمه الله رد**:- حافظ ابن حجر رحمه الله عبدالبر رحمه الله پسې كيدو سره وائى كه چرې دا هم هغه اياس بن سلمه دې چانه چه ابوالعميس رحمه الله د حديث روايت كړې دې نوبيا رسول الله ﷺ سره د دوى صحبت ثابت نه دې. ځكه چه د اياس ولادت دحضرت عثمان رضي الله عنه په دور خلافت كښې شوې دې دې نه ثابتيږى چه رسول الله ﷺ سره د دوى ملاقات نه دې شوې حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه عبدالبر رحمه الله د دوى ذكر د صحابه كرامو په فهرست كښې د كولو نه پس

[1] ) قال العلامة الذهبي: وما علمته روى عن غير أبيه انظر سير أعلاء النبلاء: ٢٤٤/٥.

[2] ) تهذيب الكمال: ٤٠٣/٣.

[3] ) تهذيب الكمال:٤٠٣/٤ — ٤٠٤.

[4] ) سير أعلاء النبلاء للذهبي:٢٤٤/٥وتهذيب الكمال:٤٠٤/٣.

[5] ) تهذيب الكمال للحافظ المزى:٤٠٤/٣.

[6] ) طبقات ابن سعد:١٨٤/٥.

[7] ) كتاب الثقات لابن حبان:٤٣/١.

[8] ) إكمال تهذيب الكمال للعلامة علاء الدين مغلطائى:٣٠٣/٢.

[9] ) طبقات ابن سعد:١٨٤/٥وسير أعلاء ا لنبلاء للذهبي:٢٤٤/٥وتهذيب الكمال:٤٠٤/٣والكاشف للذهبي:١٥٨/١ رقم الترجمة:٤٩٨.

[10] ) الاصابة لابن حجر:٨٩/١.

نیکلی دی دوی د حضورپاك په شان کښې مدحیه اشعارهم ونیلی دی مرزبانی رحمه الله د حافظ ابن عبدالبر رحمه الله نه هم وړاندې دې هغه معجم کښې د ایاس رحمه الله صحابی کیدلوتصریح نه ده کړې [۱]
د ایاس بن سلمه رحمه الله د تابعی کیدو دویم دلیل دادې چه د ده وفات په ۱۱۹هجری کښې شوې [۲] حالانکه مؤرخین اوجمهور محدثینو په نیزد ۱۱۰هجری نه پس د رسول الله ﷺ صحبت اوچتونکی صحابه کرامو قافلې یوکس هم په دې دنیاکښې باقی پاتې نه وو د عامربن واثله رضي الله عنه وفات د ټولونه آخرکښې ۱۱۰هجری کښې شوې
چنانچه علامه ذهبی رحمه الله فرمائی عامربن واثلة أبوالفضل الکنانی وکان من محبی علی رضي الله عنه وبه ختم الصحابة فی الدنیا، مات سنه عشر ومائة علی الصحیح. [۳]

**قوله** أتی النبی صلی الله تعالی علیه وسلم عین من المشرکین وهو فی

سفر: رسول الله ﷺ ته په سفرکښې یومشرك جاسوس راغلو حافظ ابن حجر رحمه الله وائی چه ماته د هغه جاسوس نوم معلوم نه شو [۴]

عین - د دې معنی د جاسوس ده [۵] په عربی کښې لیکلې شی إعتان له: أی أتاه بالخبر د عین اطلاق په سترګه باندې کیږی جاسوس ته عین ځکه ونیلې شی چه د هغه ټول اهم امور د نظر توجه او غیرمعمولی ارتکاز سره پوره کیږی یا په نورو لفظونوکښې د هغه د نظر په ارتکازکښې دومره انهماك او توجه وی لکه چه هغه د سرنه واخله ترخپو پورې سترګې جوړې شوی وی. وسمی الجاسوس عینا، لان جل عمله بعینه، أو لشدة اهتمامه بالرؤیة واستغراقه فیها کان جمیع بدنه صار عینا [۶]

وهو فی سفر:- په صحیح مسلم کښې امام مسلم رحمه الله د ترجمة الباب متذکره روایت د عکرمه بن عمار په طریق سره نقل کړې دې په هغې کښې تصریح ده چه دا د غزوه هوازن سفروو [۷]

---

[۱] وذکره ابن عبدالبر فی الصحابة وقال مدح النبی صلی الله تعالی علیه وسلم بشعر. وفیه نظر. إن کان هوالذی روی عنه أبوالعمیس فلیست له صحبة. لانه ولدفی زمن عثمان رحمه الله وقال بعد أسطر - وقدسبق ابن عبدالبرالی ذلک المرزبانی فی معجمه لکن لم یصرح بان له صحبة بل قال فی ترجمته: وهوالقائل بمدح النبی صلی الله تعالی علیه وسلم انظر الاصابة للحافظ ابن حجر:۱/۸۹.
[۲] طبقات ابن سعد: ۵/۱۸٤.
[۳] الکاشف للذهبی:۱/۵۲۷.
[٤] فتح الباری:۶/۲۰۷.
[۵] النهایة فی غریب الحدیث:۳/۳۳۱.
[۶] فتح الباری:۶/۱۶۸.
[۷] صحیح مسلم:۲/۸۸کتاب الجهاد باب استحقاق القاتل سلب القتیل رقم:۱۷۵٤.وفیه: قال (سلمة بن الاکوع رضي الله عنه)غزونامع رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم هوازن..... الخ.

**قوله** فجلس عند أصحابه يتحدث ثم انفتل - بيا هغه صحابه كرامو سره كيناستو هغوى سره ئې خبرې اترې كولې اوبيا هغه واپس لاړو

انفتل - اي انفتل سريعا يعنى په تيزئى سره واپس ګرځيدل (۱) د امام نسائى رحمه الله په سنن كبرىٰ كښې دا روايت د جعفر بن عون عن ابى العميس په طريق سره مروى دې په دې كښې دى فلما طعم انسل (۲) يعنى د خوراك نه فارغيدو سره هغه پټه شان لاړو خو په صحيح مسلم كښې د عكرمه متذكره روايت كښې زيات وضاحت موجود دې د صحيح مسلم الفاظ دادې **فقيد الجمل، ثم تغدى مع القوم وجعل ينظر، وفينا ضعفة ورقة في الظهر، إذ خرج يشتد** (۳)

خلاصه داچه د بهرنه راتلونكې داجاسوس د صحابه كرامو په ډله كښې شامل شو هغوى سره يوځائې شو هغوى سره ترخوراك پورې اوكړو اوهغوى ته خبر اونه شو چه دا د دښمن مخبر اوجاسوس دې بيا دا چه هغه په پټه باندې په داسې مهارت سره اوتختيدو چه صحابه كرامو ته قطعا احساس اونه شو

**قوله اطلبوه واقتلوه، فقتله، فنفله سلبه** - حضورپاك اوفرمائيل هغه اولټوئى اوقتل ئې كړئى نو حضرت سلمه بن اكوع رضي الله عنه هغه قتل كړو او د هغه وسله او سامان حضورپاك هم هغه ته وركړل مستخرج ابونعيم كښې يحيى بن حمانى عن ابى العميس په طريق باندې چه كوم روايت نقل دې په هغې كښې دى چه حضوراوفرمائيل أدركوه فانه عين هغه ګرفت ركړئى ځكه چه دغه جاسوس دې (۴)

فنفله سلبه - دا د راوى سلمه بن اكوع رضي الله عنه الفاظ دى د متكلم صيغه استعمالولوپه ځائې هغه خلاف قياس د غائب صيغه استعمال كړه دا التفات من المتكلم إلى الغائب د قبيل نه دې د قياس موافق داسې وئيل پكاروو **فقتلته ونفلني سلبه** (۵)

د نفل جمع انفال راځى د دې معنى د زياتوالى ده. فاء ساكن اومتحرك دواړه شان لوستل صحيح دى لهذا فنفله سلبه معنى به په دې صورت كښې داسې شى رسول الله صلى الله عليه وسلم سلمه بن اكوع رضي الله عنه ته د هغه د مقرر حصې نه زياته وركړه. په نفلى مونځ باندې هم د نوافل اطلاق د دې دپاره كيږى چه هغه زياتى فرائض وى ابن اثير رحمه الله ليكى **النفل بالتحريك: الغنيمة، وجمعه أنفال. والنفل بالسكون وقد يحرك: الزيادة، وبه سميت النوافل في العبادات، لانها زائدة على الفرائض.** (۶)

---

۱) عمدة القارى: ۱۴/۴۱۰.
۲) السنن الكبرى للنسائى: ۵/۲۶۵ كتاب السير باب قتل عيون المشركين رقم: ( ) فتح البارى: ۶/۲۰۷.
۳) صحيح مسلم: ۲/۸۸ كتاب الجهاد باب استحقاق القاتل سلب القتيل. وفتح البارى: ۶/۲۰۷.
۴) فتح البارى: ۶/۱۶۸ وعمدة القارى: ۱۴/۴۱۱.
۵) عمدة القارى: ۱۴/۴۱۱ وفتح البارى: ۶/۱۶۹ وإرشاد السارى: ۵/۱۶ وتحفة البارى: ۳/۵۱۱.
۶) النهاية لابن اثير: ۵/۹۹ وفتح البارى: ۵/۵۱۲.

**سلب** - هوفعل بمعنی مفعول: أی مسلوب [1] هغه څیزچه دَقتل شوی نه اخستې شوې وی قسطلانی رحمه الله فرمائی هوالشیئ المسلوب سمی به، لانه یسلب عن المقتول [2]
**دَ سلب مصداق** - دَ سلب اطلاق دَ مقتول نه اخستې شوی دې څیزونو باندې کیږی سورلی، لباس، وسله، زین بل دَ مقتول په سفری بیګ کښې موجود دَهغه مال اومتاع [3]
**په دارالاسلام کښې دَ کافرحربی دَ داخلیدومسئله** - دَامام مالک رحمه الله په نیزکه چرې کافرحربی دَ امان طلب کولو نه بغیردَ دارالاسلام په حدودوکښې داخل شی نوامام ته اختیاردې چه که هغه نې قتل کوی قیدی ئې جوړه وی اوکه فدیه اخستوسره ئې پریږدی [4] امام شافعی رحمه الله په نیزقتل کولوغلام جوړولو او فدیه اخستل پریخودلوسره دَ امن اواحسان اختیارهم حاکم وخت ته حاصل دې [5]
که چرې کافر حربی دعوی اوکړی چه هغه دَخپل ملک دَحاکم دَ طرف نه دَ قاصد په حیثیت سره راغلې دې نو احناف [6] او حنابله [7] په نیز دَدغه دا خبره به په دې شرط قبلولې شی چه هغه سره دَ حاکم وخت تحریروی اویقین وی چه دا تحریر هم دَ حاکم وخت دې. اوکه چرې کافر حربی اووائی چه ما امان راوړلې راغلې یم نوامام اوزاعی امام شافعی او امام احمد رحمهم الله په نیزدې دَ هغه داخبره ردکړې شی او امام ته اختیاردې چه هغه دې دَ خپل اختیار مطابق دَ ته کوم قسم سزا هم چه وی ورکړی [8] هم دغه مسلک دَ امام مالک رحمه الله هم دې [9] البته دَ احنافو دَ فقهاؤ په نیز حربی جاسوس دَ خپلې دعوی دَ تصدیق دَپاره دې ثبوت پیش کړی نودَ دې نه تعارض کول جائزنه دی. سزا ورکولونه دې بغیرپریخودې شی [10] امام محمد رحمه الله فرمائی هغه چه چاله په لاس ورغلودَهغه غلام دې جوړکړې شی. [11] امام احمد رحمه الله فرمائی که چرې دَ تجارت په غرض په دارالاسلام کښې دَ حربیانو تګ راتګ معمول وی او په دې صورت کښې مشتبه جاسوس دَ یوسوداګرپه حیثیت سره خپله پیژندګلو اوکړی نودې نه به تعارض نه شی کولې. [12]

---

[1] ) النهایة لابن الاثیر:۳۸۷/۲.
[2] ) إرشادالساری:۱۶۸/۵.
[3] ) عمدة القاری: ۴۱۱/۱۴وفتح القدیر۵/۵۱۴ وإرشادالساری:۱۶/۵ وتحفة الباری:۵۱۱/۳.
[4] ) فتح الباری:۱۶۸/۶.
[5] ) المجموع شرح المهذب للنوی:۲۳۸/۲۱ باب عقد الذمة.
[6] ) ردالمختارعلی الدرالمختار: ۱۶۸/۴سعید.
[7] ) المغنی لابن قدامة: ۱۰/۴۳۳ فصل:۷۴۹۱.
[8] ) المغنی لابن قدامة: ۴۳۳/۱۰ فصل:۷۴۹۱.
[9] ) شرح ابن بطال:۲۱۳/۵.
[10] ) ردالمحتار علی الدرالمختار: ۱۶۸/۴سعید.
[11] ) شرح ابن بطال:۲۱۳/۵.
[12] ) المغنی لابن قدامة: ۴۳۳/۱۰.

علامه شامى رحمه الله په ردالمحتار کښې لیکلی دی که یو مسلمان کافر حربی ته د امان ورکولو دعوی اوکړه نود دوو مسلمانانو ګواهانونه دې د دې دعوی تصدیق واخلی چه واقعتاً هغه دې حربی ته امان ورکړې دې؟ که ګواهانو تصدیق اوکړو نو دې به پریخودې شی (۱)

**دحربی مسلم حکم** مذکوره تفصیل دکافرانو اهل حرب سره متعلق وو که په دارالاسلام کښې داخلیدونکې حربی مسلمان وې نو د امام ابوحنیفه امام شافعی او بعض فقهاء مالکیه رائې داده چه امام وخت دې هغه ته دخپلې خوښې مناسب سزا ورکړي دې قتل کول جائزنه دی (۲) امام مالک رحمه الله فرمائی یجتهد فیه الامام خو علامه عینی او امام نووی رحمه الله فرمائی چه دغه اجتهاد وضاحت امام مالک رحمه الله نه دې فرمائیلي چه ددې مطلب څه دې؟ (۳) البته قاضی عیاض رحمه الله فرمائی چه د بعض فقهاء مالکیه د رائې مطابق مسلمان حربی قتل کول جائزدی.

وقال عیاض: قال کبار أصحابه - أی أصحاب مالک - یقتل (۴)

**ترجمة الباب او حدیث باب مناسبت باندې اشکال اودهغې جواب** - ابن منیر رحمه الله فرمائی چه په روایت کښې د جاسوس ذکردې خو په ترجمة الباب کښې امام بخاری رحمه الله د حربی ذکرکړې دې په ظاهره په دواړو کښې مناسبت نشته. ځکه چه مطلق حربی د کوم چه په ترجمة الباب کښې ذکردې اومشرک جاسوس دواړه جدا جدا شرعاً حکم لری لهٰذا دلته دعوی د دلیل نه اعم ده:

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ددې جواب دا ورکړې شوې دې چه په شروع کښې د صحابه کرامو خیال وو چه دا جاسوس حربی مستامن دې. ددې حقیقت ادراک هغوی ته روستو اوشو چه هغه حربی مستامن نه وو بلکه جاسوس وو اوبغیرد امان نه راغلې وو. کله چه هغوی سره ملاؤشو او خوراک ئې اوکړو اود صحابه کرامو د حالاتو د جائزه اخستلو نه پس په پټه طریقه سره اووتلو اوتختیدو نومعلومه شوه چه مستامن نه وو بلکه جاسوس وو.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی: قال ابن المنیر: ترجم بالحربی إذا دخل بغیر أمان، وأورد الحدیث المتعلق بعین المشرکین وهو جاسوسهم، وحکم الجاسوس مخالف لحکم الحربی المطلق الداخل بغیر أمان، فالدعویٰ أعم من الدلیل. وأجیب بان الجاسوس المذکور أوهم أنه ممن له أمان، فلما قضیٰ حاجته من التجسیس انطلق مسرعا ففطن له، فظهر أنه حربی دخل بغیر أمان (۵)

## باب ۱۷۱: یقاتل عن أهل الذمة ولا یسترقون

**باب سابق سره مناسبت**:- په وړاندینی باب کښې د امان طلب کولونه بغیردارالاسلام کښې داخلیدونکی حربی د مشرکانو دجاسوس حکم بیان کړې شوې وو چونکه جاسوس یا حربی

(۱) ردالمحتار علی الدرالمختار: ۶/۲۶۶ کتاب الجهاد فصل فی استئمان الکافر. دارالمعرفة بیروت.

(۲) عمدة القاری: ۱۴/۲۹۷.

(۳) شرح النووی علی صحیح مسلم: ۲/۸۹ وعمدة القاری: ۱۴/۲۹۷.

(۴) عمدة القاری: ۱۴/۲۹۷ وبذل المجهود: ۱۲/۱۷۸ الابواب والتراجم ص: ۲۰۳.

(۵) فتح الباری: ۶/۱۶۹.

ته د اهل اسلام د حفاظت د خاطره سزا ورکولې شي کوم چه د وخت د حکومت فریضه ده په دې وجه په زیر نظر باب کښې تبعاً د اهل ذمه حکم بیان کړې شو چه په شرعی لحاظ سره څنګه چه د مسلمانانو حفاظت ضروری دې دغه شان د معاهد ذمی حفاظت او د هغه د مال املاک تحفظ هم ضروری دې والله اعلم

**د ترجمة الباب مقصد** - امام بخاری رحمه الله دلته دا باورکول غواړی چه په امصار اسلام کښې څنګه د مسلمانانو د ځان اومال حفاظت او د هغوی په حمایت کښې د ښمنانو سره جنګیدل د حکومت وخت فریضه ده دغه شان د ذمیانو د ځان اومال عزت اوناموس د حفاظت د پاره د ښمن سره جنګ کول د وخت په حکومت او مسلمانانو باندې فرض دی ځکه چه اهل ذمه د دې تحفظ د پاره جزیه ادا کوی (۱)

د **فلایسترقون** مطلب دادې چه اهل ذمه نقض عهد اوکړی نوبیاهم هغه غلام جوړول جائزنه دی (۲)

[حدیث: ۲۸۸۷] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ حُصَيْنٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ عَنْ عُمَرَ - رضي الله عنه - قَالَ وَأُوصِيهِ بِذِمَّةِ اللَّهِ وَذِمَّةِ رَسُولِهِ - صلى الله عليه وسلم - أَنْ يُوفَى لَهُمْ بِعَهْدِهِمْ، وَأَنْ يُقَاتَلَ مِنْ وَرَائِهِمْ، وَلَا يُكَلَّفُوا إِلَّا طَاقَتَهُمْ. [ر ۱۳۲۸]

## رجال الحدیث

① **موسی بن اسماعیل**:- دا ابوسلمه موسی بن اسماعیل التبوذکی البصری رحمه الله دې د دوی تذکره بدء الوحی لاندې تیره شوې ده. (۳)

② **ابوعوانه**:- دا ابوعوانه وضاح بن عبدالله یشکری رحمه الله دې. د دوی تذکره هم بدء الوحی لاندې تیره شوې ده (۴)

③ **حصین**:- دا ابوالهذیل حصین بن عبدالرحمن السلمی الکوفی رحمه الله دې. د دوی تذکره کتاب مواقیت الصلوة، باب الاذان بعد ذهاب الوقت لاندې تیره شوې ده

④ **عمربن میمون**:- دا عمر بن میمون الاودی الکوفی رحمه الله دې د دوی تذکره کتاب الوضوء باب إذا القی علی ظهرالمصلی قذر أوجیفة لم تفسد علیه صلاته لاندې تیره شوې ده

⑤ **عمر** رضی الله عنه - دامشهورصحابی حضرت عمر ابن الخطاب رضی الله عنه دې د دوی حالات بدء الوحی لاندې تیرشوی دی (۵)

---

(۱) عمدة القاری: ۱۴/ ۴۱۱ - ۴۱۲ وتحفة الباری: ۳/ ۵۱۱.
(۲) فتح الباری: ۶/ ۲۰۸.
(۳) کشف الباری: ۱/ ۴۳۳.
(۴) کشف الباری: ۱/ ۴۳۴.
(۵) کشف الباری: ۱/ ۲۳۹.

**قوله** وأوصيه بذمة الله وذمة رسوله، أن يوفى لهم بعهدهم، وأن يقاتل من وراءهم: دا روايت په كتاب الجنائز كښې په تفصيل سره راغلې دې دلته امام بخارى رحمه الله د باب په مناسبت سره حديث مختصرًا نقل كړې دې روايت كښې دى چه حضرت عمر رضي الله عنه (د وفات نه لږ وړاندې) اوفرمائيل چه زه ماپسې راتلونكى خليفه ته د دې خبرې وصيت كوم چه ذميانوسره د الله تعالى اودهغه د رسول صلى الله عليه وسلم كوم عهددې هغه پوره كړى اودهغوى د تحفظ دپاره دې جنګ كوى

وړاندې دمناقب په يواوږدروايت كښې حضرت عمر رضي الله عنه باندې د قاتلانه حملې تفصيلى واقعه اود وفات نه وړاندې خپل خان پسې راتلونكى خليفه وخت ته چه هغه كوم وصيت كړې دهغې تفصيلى ذكردې (١) دلته امام بخارى رحمه الله د باب په مناسبت سره د ذميانومتعلق وصيت ذكركولوباندې اكتفاكړې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم ذميانوسره كومه معاهده كړې وه هغې په رڼاكښې په اسلامى حكومت كښې هغوى چه دوى ته كوم رعايت وركړې وو راتلونكى خليفه له پكاردې چه دغه معاهده پوره كړى كه چرې په ذميانوباندې حمله اوكړې شى نودهغوى دحفاظت دپاره حمله كونكوسره دې جنګ هم اوكړى

**دذميانو غلام جوړولوحكم:-** د ذميانود حفاظت دپاره جنګيدل اوهغوى د حمله كونكونه آزادول په اسلامى حكومت باندې فرض دى كه حربيانو حمله اوكړه او ذميان ئې ګرفتاركړل او دارالحرب ته ئې بوتلل قيدئى كړل نودهغوى د راخلاصولواو واپس دارالاسلام ته راوستلودپاره حربيانوسره جنګ كول به واجب وى

سوال دادې چه كله ذميان د دارالحرب نه خلاصيدونه پس دارالاسلام ته راوستلې شى نوهغوى به غلامان جوړولې شى كه د وړاندې په شان به آزاد پريخودلې شى؟

ائمه اربعه امام شعبى، ليث، اوزاعى، اسحاق بن راهويه اود اشهب مالكى رحمهم الله مسلك دادې چه ذميان په هيڅ صورت سره غلامان جوړول جائزنه دى. ځكه چه دهغوى د طرف نه څه داسې اقدام نه دې شوې چه نقض عهد (عهدماتول) باندې دلالت اوكړى په دې وجه دهغوى عقدذمه به باقى پاتې وى او هغوى به غلامان جوړول جائزنه وى (٢) البته مالكيه نه د ابن قاسم مالكى رائې ده كه چرې ذميانود نقض عهدارتكاب نه وى كړې نوبيا هم دارالاسلام ته د راوستونه پس هغوى غلامان جوړولې شى (٣)

**د مذاهب په نقل كولوكښې په ابن قدامه باندې دابن حجر رحمه الله اعتراض اود علامه عينى جواب:-**
د مذاهبو په نقل كولوكښې ابن قدامه رحمه الله داغراب طرف ته نسبت كولوسره حافظ ابن

---

(١) صحيح بخارى: ١/٥٢٣ - ٥٢٥ كتاب الفضائل أصحاب النبى صلى الله تعالى عليه وسلم باب قصة البيعة والاتفاق على عثمان بن عفان رضى الله عنه وفيه مقتل عمر الخطاب رضى الله عنه رقم: ٣٧٠٠.

(٢) المغنى لابن قدامة: ٩/٢٢٧ - ٢٢٨ رقم: المسئلة: ٧٥٦٦ وعمدة القارى: ١٤/١٩٧ وفتح البارى: ٦/١٧٠ ولامع الدرارى: ٧/٢٧٥.

(٣) عمدة القارى: ١٤/٤١٢ دارالكتب العلمية بيروت.

حجر رحمه الله فرمائي وأغرب ابن قدامة فحكى الاجماع، وكانه لم يطلع على خلاف ابن القاسم [1] يعنى دارالاسلام ته دمنتقل كيدونه پس ذميان غلامان جوړول جائزنه دى په دې باندې ابن قدامه رحمه الله اجماع نقل كړې ده حالانكه د ابن قاسم مالكي رحمه الله رائې د اجماع خلاف ده لكه چه ابن قدامه رحمه الله ته داعلم اونه شو چه د ابن قاسم قول د جمهورو خلاف دې كنى هغه به د دې اجماع مسئله نه كرخوله

علامه عينى رحمه الله حافظ ابن حجر رحمه الله پسې كيدوسره د ابن قدامة د طرف نه دا جواب وركړې دې ممكن دې چه د لفظ اجماع نه د ابن قدامه په نيزد ائمه اربعه اجماع مراد وى. په عمدة القاري كښې دى: وقيل: أغرب ابن قدامة فحكى الاجماع فكانه لم يطلع على خلاف ابن القاسم، قلت: يحتمل أنه أراد به إجماع الائمة الاربعة. [2]

**د باب نه د حديث په مناسبت د ابن التين رحمه الله اشكال اود ابن منير رحمه الله رد:**- علامه ابن التين رحمه الله فرمائى چه په حديث باب كښې د ذميانو غلامان جوړولو د ممانعت تصريح نشته. په دې وجه د ترجمة الباب دويم جزء ولا يسترقون سره د حديث باب مناسبت نشته. [3]

ابن منير رحمه الله د دې جواب وركړې چه امام بخارى رحمه الله په دې ترجمة الباب كښې وأوصيه بذمة الله مناسبت سره قايم كړې دې. ځكه چه د دغه وصيت تقاضا داده چه د ذميانو سره د نرمئ تلطف او ښه سلوك معامله اوكړې شى. او غلام جوړول د دې وصيت د مقتضى منافى دى. [4]

**دعلامه عينى رحمه الله توجيه:**- علامه عينى رحمه الله فرمائى چه ممكن ده ولا يسترقون نه د امام بخارى رحمه الله ترجمة الباب كښې زير بحث مسئله مختلف فيها كيدو طرف ته اشاره فرمائيلى وى چه ذميان د دارالحرب نه دارالاسلام ته منتقل كولونه پس غلامان جوړولې شى كه نه؟ د ابن قاسم مالكى رحمه الله رائې په دې مسئله كښې د جمهورو خلاف ده. [5] والله اعلم

**قوله**: ولايكلفون إلا طاقتهم:- د هغوى د طاقت او وسعت نه زيات بوج په هغوى مه اچوئى. مطلب دا چه د جزيه مقدار د هغوى د مالى حيثيت رعايت كولو سره مقرر كوئى. داسې چه د مالدارنه زيات او متوسط نه كم او غريبانانو نه ډير كم واخستې شى. كوم خلق چه د آمدن ذرائع نه لرى د چا د معيشيت انحصار چه د نورو په وركړه باندې دې په هغوى باندې جزيه معاف كړئى د جزيه په مقررولو كښې د دې خبرې خيال ساتل ضرورى دى چه داسې رقم

---

[1] ) فتح البارى: ۶/ ۱۷۰.

[2] ) عمدة القارى: ۱۴/ ۱۹۷ ولامع الدرارى: ۷/ ۲۸۵.

[3] ) عمدة القارى: ۱۴/ ۱۹۷ وفتح البارى: ۶/ ۲۰۸.

[4] ) چنانچه حافظ ابن حجر رحمه الله تحرير فرمائى (فتح البارى: ۶/ ۱۷۰) وقد تعقبه ابن التين بانه ليس فى الحديث مايدل على ماترجم به من عدم الاسترقاق. وأجاب ابن المنير بانه أخذ من قوله: وأوصيه بذمة الله فان مقتضى الحديث بالاشفاق على أن لايدخلوا فى الاسترقاق.

[5] ) عمدة القارى: ۱۴/ ۴۱۲ قلت يحتمل أنه ذكره لمكان الخلاف فيه. فان مذهب ابن القاسم: إنهم يسترقون إذا نقضوا العهد.

مقرر کړې شی د کوم اداکول چه د هغوی د پاره اسان وی

**ترجمة الباب سره مطابقت:-** په روایت کښې دی وأن یقاتل من وراءهم ترجمة الباب سره د دې مطابقت ښکاره دې [1]

## باب ۱۷۲: جوائز الوفد هل یستشفع إلى أهل الذمة ومعاملتهم

**د ابواب په ترتیب کښې د نسخو اختلاف:-** د صحیح بخاری د زیرنظر نسخه مطابق باب جوائز الوفد لاندې څه حدیث نقل کولو بغیر متصلاً دویم باب شروع کیږی د کوم لاندې چه د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما حدیث نقل کړې شوې دې د فربری رحمه الله په ټولو نسخو کښې هم دغه ترتیب دې البته هم د فربری رحمه الله نه ابن علی بن شبویه چه کومه نسخه روایت کړې د٤ په هغې کښې باب هل یستشفع إلى أهل الذمة؟ ومعاملتهم وړاندې او باب جوائز الوفد روستو دې د علامه عینی رحمه الله او حافظ ابن حجر رحمه الله رائې ده چه هم دغه ترتیب مناسب اوقرین قیاس دې ځکه چه ترجمة الباب سره د حدیث باب مناسبت هم په دې ترتیب پیش نظرکیدې شی په حدیث باب کښې وأجیزوالوفد مناسبت باب جوائزالوفد سره بالکل ښکاره دې د دې برعکس چه د اول ذکرشوو نسخوکوم ترتیب دې چه جوائزالوفد باب اول او باب هل یستشفع..... روستو دې د هغې مطابق ترجمة الباب نه د حدیث باب مناسبت نه شی کیدې [2]

اوس پوهه شئ چه په اصل کښې امام بخاری رحمه الله باب هل یستشفع.... ترجمه قایمولوسره بیاض پریخودې وو چه په باب کښې به د دې مناسب حدیث نقل کولې شی خو امام صاحب ته د دې موقع نه ده ملاؤشوې لیکن نساخ بخاری د امام بخاری پریخودې شوې بیاض نظر انداز کولوسره دواړه ابواب یوځائې کړل [3]

د صحیح بخاری چه کومه نسخه علامه نسفی رحمه الله روایت کړې ده باب جوائزالوفد هډوموجود نه دې په دې نسخه کښې حدیث ابن عباس رضي الله عنهما باب هل یستشفع لاندې نقل کړې شوې دې حلانکه دې ترجمه سره د ابن عباس رضي الله عنهما د حدیث مناسبت قایم کول د تکلف نه خالی نه دی [4]

**د حافظ ابن حجر رحمه الله توجیهات:-** البته حافظ ابن حجر رحمه الله علامه نسفی رحمه الله د نسخې مذکوره

---

[1]) عمدة القاري: ۱۴/ ۴۱۲ وتحفة البارى للامام زكريا الانصارى: ۳/ ۵۱۱.

[2]) عمدة القاري: ۱۴/ ۴۱۲ قال العيني: هكذا وقع هذان البابان وليس بينهما شئ فى جميع النسخ من طريق الفربرى إلا فى رواية أبى على ابن شبويه عن الربرى وقع باب جوائز الوفد بعد باب هل يستشفع وهذا أصواب الان حديث الباب مطابق لترجمة جوائزالوفد لقوله: وأخيز والوفد بخلاف الترجمة الاخرى. وفتح البارى: ۶/ ۲۰۹.

[3]) نفس المصدرين السابقين ونص ماقاله العيني: وكان لبخارى وضع هاتين اترجمتين وأخلى بينهما بياضا ليجد حديثا يناسبهما فلم يتفق ذللک. ثم إن النساخ أبطلو البياض وقرنوابيهما.

[4]) عمدة القاري: ۱۴/ ۴۱۲.

ترتیب پیش نظر باب هل یستشفع إلی أهل الذمة؟ ومعاملتهم سره دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما
مناسبت فیمولو دپاره مختلف توجیهات کړی دی
**رومبی توجیه** - دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما په حدیث کښې دی أخرجوا المشرکین دَدې مقتضی داده چه دَ ذمیانو سفارش مه کوئی دَدې جملې مناسبت دَترجمة الباب جزء اول هل یستشفع إلی أهل الذمة سره ممکن کیدې شي دغه شان په حدیث باب کښې دی وأجیزوا الوفد دَدې مقتضیٰ داده چه مشرکانو سره دَنرمئی اوښه سلوک کوئی دَدې جملې مناسبت دَ ترجمة الباب دویم جزء ومعاملتهم سره ممکن دی
**دویمه توجیه** - هل یستشفع إلی أهل الذمة کښې به إلی دَ لام په معنی کښې اخستې شی عبارت به مقدروی هل یستشفع لهم عند الامام وهل یعاملون؟ یعنی اے امام وخت ته دَ ذمیانو سفارش کیدې شی؟ اوهغوی سره حسن سلوک جائز دې؟
په دې صورت کښې ترجمة الباب سره دَ حدیث دواړه وصیتونه أخرجوا المشرکین او وأجیزوا الوفد مناسبت ممکن دې (۱)
**دَ حافظ ابن حجر په توجیهات باندې دَ علامه عینی رحمه الله رد** - لیکن علامه عینی رحمه الله فرمائی چه دلته دَدې توجیهاتو ضرورت نشته هغه دَحافظ صاحب توجیهات بې محل او تکلف ګرځولی دی (۲)
**دَترجمة الباب مقصد** - هل یستشفع إلی أهل الذمة ومعاملتهم نه امام بخاری رحمه الله داخودل غواړی چه امام ته دَ اهل ذمه سفارش کول جائزدی او هغوی سره حسن سلوک کول هم جائزدی لیکن که اهل ذمه معاهده ماته کړه نوبیابه هغوی دَ دغه سلوک قابل نه وی (۳)
باب دَ مضاف لوستلو په صورت کښې به ومعاملتهم مجرور وی (۴) خوکه په باب باندې تنوین اولوستلې شی نو په دغه صورت کښې به مرفوع وی (۵) بل چه إلی دَ لام په معنی کښې وی نو په دغه صورت کښې به عبارت مقدروی هل یستشفع لهم عندالامام او دَ هل جواب لایشفع لهم ولا یعاملون إذا انقضوا العهد به محذوف وی (۶)

---

(۱) قال ابن حجر رحمه الله (فتح الباری:۲۰۹/۶) ولعله من جهة ان الاخراج یقتضی رفع الاستشفاع. والحض علی إجازة الوفد یقتضی حسن المعاملة. أو لعل إلی فی الترجمة بمعنی اللام. أی:هل یستشفع لهم عندالامام وهل یعاملون؟ ودلالة أخرجوهم من جزیرة العرب و أجیزوالوفد لذلک ظاهرة. والله اعلم.
(۲) عمدة القاری:۴۱۲/۱۴ قال رحمه الله ولقد تکلف بعضهم فی توجیه المطابقة فقال.....الخ.
(۳) تحفة الباری:بشرح صحیح البخاری للامام زکریاالانصاری:۵۱۲/۳.
(۴) تحفة الباری:بشرح صحیح البخاری للامام زکریاالانصاری:۵۱۲/۳.
(۵) تحفة الباری:۵۱۲/۳.
(۶) تحفة الباری:۵۱۲/۳قال: وإلی بمعنی اللام أی هل یشفع لهم عندالامام. وجواب هل محذوف أی لایشفع لهم ولایعاملون إذا انقضوا العهد.

احدیث ۲۸۸۸ حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ حَدَّثَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ سُلَيْمَانَ الأَحْوَلِ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رضی الله عنهما - أَنَّهُ قَالَ يَوْمُ الْخَمِيسِ، وَمَا يَوْمُ الْخَمِيسِ ثُمَّ بَكَى حَتَّى خَضَبَ دَمْعُهُ الْحَصْبَاءَ فَقَالَ اشْتَدَّ بِرَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَجَعُهُ يَوْمَ الْخَمِيسِ فَقَالَ «ائْتُونِي بِكِتَابٍ أَكْتُبْ لَكُمْ كِتَابًا لَنْ تَضِلُّوا بَعْدَهُ أَبَدًا». فَتَنَازَعُوا وَلاَ يَنْبَغِي عِنْدَ نَبِيٍّ تَنَازُعٌ فَقَالُوا هَجَرَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - . قَالَ «دَعُونِي فَالَّذِي أَنَا فِيهِ خَيْرٌ مِمَّا تَدْعُونِي إِلَيْهِ». وَأَوْصَى عِنْدَ مَوْتِهِ بِثَلاَثٍ «أَخْرِجُوا الْمُشْرِكِينَ مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ، وَأَجِيزُوا الْوَفْدَ بِنَحْوِ مَا كُنْتُ أُجِيزُهُمْ». وَنَسِيتُ الثَّالِثَةَ.

وَقَالَ يَعْقُوبُ بْنُ مُحَمَّدٍ سَأَلْتُ الْمُغِيرَةَ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ . فَقَالَ مَكَّةُ وَالْمَدِينَةُ وَالْيَمَامَةُ وَالْيَمَنُ . وَقَالَ يَعْقُوبُ وَالْعَرْجُ أَوَّلُ تِهَامَةَ.[ر ۱۱۴]

دعلامه نسفی رحمه الله اوفربری رحمه الله تقریباً په ټولو نسخوکښې د حدیث باب سند د قبیصه په طریق سره نقل کړې شوې دې البته دفربری رحمه الله چه کومه نسخه ابن السکن رحمه الله روایت کړې ده په هغې کښې د سند شروع په ځائې د قبیصه د قتیبه نه کیږی په پوره صحیح بخاری کښې د سفیان بن عیینه رحمه الله نه د قبیصه هم دغه یوروایت نقل دې دهغه اکثر روایات د سفیان ثوری رحمه الله نه مروی دی [۱] بل هم دغه روایت په مغازی کښې د قتیبه په طریق سره نقل دې علامه عینی رحمه الله هم دیو روایت په مذکوره دوو طرق کښې تطبیق کولو سره فرمائی چه ممکن ده امام بخاری رحمه الله دا روایت د قبیصه او قتیبه دواړو نه اوریدلی وی [۲]

## رجال الحدیث

① **قبیصه**:- دا ابوعامر قبیصه بن عقبه محمدبن سفیان السوائی الکوفی رحمه الله دې د دوی تذکره کتاب الایمان لاندې تیره شوې ده.[۳]

② **ابن عیینه**:- دا مشهور امام حدیث سفیان بن عیینه بن میمون ابومحمد الکوفی رحمه الله دې د دوی حالات وړاندې تیرشوی دی [۴]

③ **سلیمان الاحول**:- دا سلیمان بن ابی مسلم الاحول رحمه الله دې د دوی حالات کتاب التهجد ذباب التهجد بالليل لاندې تیرشوی دی.[۵]

④ **سعیدبن جبیر**:- دامشهورتابعی سعیدبن جبیربن هشام اسدی رحمه الله دې ددوی حالات کتاب العلم باب السمر في العلم لاندې په تفصیل سره تیرشوی دی [۶]

---

[۱] فتح الباری:۶/۲۰۹.
[۲] عمدة القاری: ۱۴/۴۳.
[۳] کشف الباری:۲/۲۷۵ — ۲۷۶.
[۴] کشف الباری:۱/۲۳۸.
[۵] کتاب التهجدذ باب التهجد بالليل.
[۶] کشف الباری: ۴/۱۸.

⑤ **ابن عباس** رضي الله عنهما دا مشهور صحابى عبدالله بن عباس بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبدالمناف دي د رسول الله ﷺ د تره خوئي دي د دوی حالات بدء الوحی څلورم حديث لاندې په تفصيل سره تيرشوی دی (١)

**تنبيه** ترجمة الباب سره مذکوره روايت متعلق بحثونه کتاب العلم لاندې په تفصيل سره تيرشوی دی امام بخاری رحمه الله دا حديث وړاندې کتاب المغازی کښې هم روايت کړې دې هلته به هم ددې متعلقه مباحث په تفصيل سره بيانيږی دلته مونږ د حديث باب د بعض جملو تشريح او ترجمة الباب مناسبت زيربحث موضوع سره متعلق تفصيلی بيان کوو

**قوله** فتنازعوا ولا ينبغي عندنبي تنازع - صحابه کرامو رضي الله عنهم اختلاف او نزاع يعنى جګړه کوله حالانکه د يونبی په وړاندې اختلاف او جګړه کول مناسب نه دی

**د دې جملې قائل څوک دې؟** - علامه کرمانی رحمه الله فرمائی کيدې شی چه د دې جملې قائل پخپله رسول الله ﷺ يا بيا حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دې (٢)

**په کرمانی رحمه الله باندې د علامه عينی رحمه الله رد:-** علامه عينی رحمه الله ته د علامه کرمانی رحمه الله په رائې باندې حيرانتياده هغه وائی چه کرمانی خپله رائې د سياق کلام نه ثابتولو سره وائی چه ددې قائل يا خو رسول الله ﷺ دې اويا حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دې حالانکه ددې ترديد هيڅ ضرورت نشته ځکه چه کتاب العلم والا روايت کښې پخپله رسول الله ﷺ تصريح فرمائيلې ده: ولا ينبغي عندي التنازع. د کرمانی دا وينا ددې نه هم زياته حيرانونکې ده ومر شرح الحديث في باب کتابة العلم يعنی د دې حديث تشريح باب کتاب العلم لاندې تيره شوې ده. مطلب دادې چه د کتاب العلم والا روايت پخپله د علامه کرمانی د قول نه ثابتيږی چه د هغوی مخې ته وو: په کوم کښې چه ولاينبغي عندي التنازع واضح الفاظ موجود دی خودې باوجود دا وينا کول ډيره حيرانونکې ده چه کيدې شی دا جمله رسول الله ﷺ يا بيا د ابن عباس رضي الله عنهما وی چنانچه علامه عينی ليکی: قال الكرماني: لفظ: ولاينبغي....، إما قول رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم وإما قول ابن عباس، والسياق يحتملها، والموافق لسائر الروايات الاولى. قلت: لاحاجة هذا الترديد، لانه –عليه الصلوة والسلام– صرح في الحديث الذی سبق فی کتاب العلم بقوله: ولاينبغي عندی التنازع، والعجب منه ذلك مع أنه قال: ومر شرح الحديث في باب كتابة العلم. (٣)

**قوله** أخرجوا المشركين من جزيرة العرب - په روايت کښې د رسول الله ﷺ وصيت دې چه مشرکان د جزيره العرب نه اوباسئ په مرقاة کښې د ابن ملك په حواله سره ملاعلی قاری رحمه الله نقل کړی دی چه د مشرکين نه يهود اونصاری مراددی (٤) د حضرت عمر رضي الله عنه په

---

(١) كشف الباري: ١/ ٤٣٥ – ٤٣٦.

(٢) شرح الكرماني: ٥٠١٣.

(٣) عمدة القاري: ١٤/ ٤١٤.

(٤) مرقاة اللمفاتيح للملاعلى قارى رحمه الله ٧/ ٦٥٠ رقم: ٤٠٥٢.

روایت کښې هم د یهود اونصاری لفظ راغلي دي د صحیح مسلم په روایت کښې د حضرت عمر رضی الله عنه قول دې لاخرجن الیهود والنصاریٰ من جزیرة العرب حتی لا أدع إلا مسلما [1] یعنی زه به په هرحال کښې یهود اونصاری د جزیرة العرب نه اوباسم بغیرد مسلمانانونه به هیڅ څوك اوسیدوته نه پریږدم

**د جزیرة العرب نه د یهودواونصاری د وطن نه د ویستلو مسئله** - رسول الله ﷺ یهود اونصاری د جزیرة العرب نه د ویستلو وصیت ځکه فرمائیلي وو دې دپاره چه د دین اسلام مرکز د همیشه دپاره د غیرود اثرنه محفوظ پاتې شی د حضرت عائشه رضی الله عنها په روایت کښې رسول الله ﷺ پخپله د دې وجه بیان کړې ده د مسنداحمد په روایت کښې حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی أخرما عاهد رسول الله صلی الله تعالیٰ علیه وسلم أن قال: لایترك بجزیرة العرب دینان [2] یعنی د حضورپاك آخری وصیت داوو چه په جزیرة العرب کښې به هیڅ کله دوه دیونه جمع نه شی حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه په خپل دور حکومت کښې د دې وصیت د پوره کولوموقع ملاؤنه شوه دهغوی په دور خلافت کښې هنګامی مسائلواو فتنو سر اوچت کړو اوداهغې د سربنکته کولو اومقابله کولوکښې دومره مشغول شو چه یهود اونصاری د جزیرة العرب نه د ویستلو هغوی ته موقع ملاؤنه شوه [3]

البته حضرت عمر رضی الله عنه په خپل دورخلافت کښې د دې وصیت پوره والې کړې په روایت کښې دی چه هغه څلویښت زره کسان د وطن نه ویستي وو [4] د یمن ملك هم په جزیرة العرب کښې داخل دې لیکن خلفاء اسلام کښې چاهم د دې ځائې نه یهوداونصاری د دغه ځائی نه د ویستلو حکم نه دې ورکړې هم د دې وجوهاتو په وجه جمهور فقهاء محدثین مسلك دې چه یهود اونصاری د جزیرة العرب نهه ویستل د عربو په حکمرانانو باندې واجب دی البته په جزیرة العرب کښې واقع کیدو نه باوجود د جمهورو په نیزبه د یمن نه یهود اونصاری نه شی ویستلې ځکه چه د خلفاء راشدین وغیرهم د اثرنه داثابت نه دی علامه عینی رحمه الله فرمائی که د څه مصلحت لاندې د وخت خلیفه یوه ډله ته په عارضی توګه جزیرة العرب ته د راتلواجازت ورکړی نود احنافو اومالکیه په نیز په دې کښې هیڅ بدیت نشته [5]

---

[1]) رواه مسلم فی صحیحه: ۹٤/۲ فی کتاب الجهاد باب إجلاء الیهود من الحجاز رقم:۱۷٦۷وعند أبی داؤد فی سننه:۷۳/۲ فی کتاب الخراج والا مارة. باب فی إخراج الیهود من جزیرة اللعرب رقم: ۳۰۳۰ وعند الترمذی فی جامعه :۲۸۸/۱ فی کتاب السیر باب ماجاء فی إخراج الیهود من جزیرة العرب رقم: ۳۰۲۹.

[2]) رواه أحمدفی مسنده:۲۷٥/٦.

[3]) عمدة القاری: ٤١٤/١٤.

[4]) عمدة القاری: ٤١٤/١٤.

[5]) فتح الباری:۲۰۰/٦ قال الحافظ ابن حجر رحمه الله لکن الذی یمنع المشرکون من سکناهم منها الحجاز خاصة. وهو مکة. والمدینة والیمامة. وما والاها. لافیما سوی ذلک مما یطلق علیه اسم جزیرة العرب. لاتفاق الجمیع علی أن الیمن لایمنعون منها مع أنها من جملة جزیرة العرب.

**مسجدحرام او عام مساجدوکښې د مشرکانو یهودیانو اونصاری د داخلیدو مسئله** - دلته دویمه مسئله دادہ چه مشرکان یهودونصاری یا اهل ذمه ته په مسجدحرام یا عام جماتونوکښې د داخلیدو اجازت شته که نه؟ په دې مسئله کښې د ائمه اختلاف دې د کوم اصل منشاء چه د سورت توبه دا آیت دې ﴿ إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هَٰذَا ﴾ یعنی مشرکان نجس دی نودې کال نه پس هغوی دې مسجدحرام ته نیزدې هم رانه شي په کال نهم د هجری چه کله حضرت ابوبکرصدیق ﷺ حج اداکولو د مشرکانونه د براءت داحکم هم په دغه کال موسم حج کښې نازل شو رسول الله ﷺ حضرت علی ﷺ ته حکم ورکړو چه هغه ددې آیت په اوریدوسره ددې حکم اعلان اوکړی چه دې کال نه پس هیڅ یومشرك ته د خپل مشرکانه رسوماتو سره او په بربنډه د حج کولواجازت نشته [۱] ددې روایت الفاظ وړاندې د مذاهب په تفصیل کښې راځی د جمهورمفسرینو په نیز د سورت توبه آیت په ۹ هجری کښې نازل شوی [۲] په دې وجه ﴿ بَعْدَ عَامِهِمْ هَٰذَا ﴾ کښې د هذا مشارالیه ۹ هجری دې اومطلب دادې چه د ۹ هجری نه پس د لسم هجری نه به د دې حکم د نفاذ اطلاق کیږی چه هیڅ یومشرك ته دحج په اراده په مسجدحرام کښې داتلونکې وخت نه به اجازت نه وی.

**د امام مالک ﷺ مذهب اود هغه استدلال** - امام مالك ﷺ فرمائی چه شرعًا سره د مسجدحرام په عام مساجدو کښې هم دناپاك او نجس سړی د داخلیدلواجازت نشته د سورت توبه د مذکوره آیت نه کله چه د کافرانو او مشرکانو نجس کیدل ثابت شو نوهغوی سره د مسجدحرام په عام جماتونوکښې هم د داخلیدو اجازت نه وی [۳]

① هغوی ړومبې استدلال د امراء او حکام په نوم د حضرت عمر بن عبدالعزیز ﷺ نه کړې دې په کوم کښې چه هم دا آیت ذکرکولوسره هغوی کافرانو ته د مسلمانانو په عام مساجدو کښې د نه داخلیدوهدایت کړې وو. [۴]

② د هغوی دویم استدلال د سورت نور ددې آیت نه دې ﴿ فِي بُيُوتٍ أَذِنَ اللَّهُ أَنْ تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ ﴾ یعنی هغوی داسې کورونو ته (ځی عبادت کوی) د کوم د نسبت چه الله تعالی حکم کړې دې چه د هغې ادب اوکړې شی اوپه هغې کښې د الله تعالی نوم واخستې شی جماتونوته د کافرانو او مشرکانو داخلیدل د ادب احترام او رفع ذکر منافی دی په دې وجه د دې آیت د مقتضی په موجب هغوی ته په یوجمات کښې هم د داخلیدو اجازت نشته. [۵]

③ د هغوی دریم استدلال هغه حدیث نه دې په کوم کښې چه رسول الله ﷺ مبارك ارشاد

---

[۱] ) الجامع لاحكام القرآن للقرطبي:۱۰۶/۸ وأحكام القرآن للجصاص:۳۷/۳ وروح المعانى للعلامه الالوسى:۷۷/۶.

[۲] ) الجامع لاحكام القرآن للقرطبي:۱۰۶/۸ وأحكام القرآن للجصاص:۳۲/۳.

[۳] ) تفسير قرطبي:۱۰۴/۸ وهداية: ۲۳۲/۴ كتابالكراهية فصل فى مسائل متفرقة. وأحكام القرآن للجصاص:۱۳۱/۳.

[۴] ) الجامع لاحكام القرآن للقرطبي:۱۰۴/۸.

[۵] ) الجامع لاحكام القرآن للقرطبي:۱۰۴/۸.

ډ ماتیلي لا احل المسجد لحائض ولا جنب یعني زه په جمات کښې یوحائضه ښځې او جنبي سړي ته د دننه راتلو اجازت جائزنه گنړم خکه چه مشرك اوکافر هم د جنابت د غسل او طهارت اهتمام نه کوی په عام توګه په نجاست کښې وی په دې وجه داحکم د هرمشرك اوکافر د پاره سره د مسجدحرام د ټولو جماتونوسره متعلق دې چه یومشرك اوکافرته سره د مسجدحرام په یو جمات کښې د داخلیدو اجازت نشته (۱)

**د امام شافعي رحمه الله مسلک اود هغه دلیل** امام شافعي رحمه الله هم دغه فرمائی چه د سورت توبه په آیت کښې مشرکانو ته نجس ونیلې شوی دی لهذا آیت په رڼاکښې ټول مشرکان نجس دی خو د امام شافعي رحمه الله په نیزد ممانعت حکم صرف مسجد حرام سره متعلق دې په دې وجه د مسجدحرام نه علاوه په عامو جماتونوکښې د مشرکانو داخلیدل ناجائزنه دی تفسیرقرطبي کښې دی وقال الشافعی: الایة عامة فی سائر المشرکین، خاصة فی المسجد الحرام، ولایمنعون من دخول غیره، فاباح دخول الیهودی والنصرانی فی سائر المسجد (۲)

مطلب دادې چه په آیت کښې مشرك ته نجس ونیلی شوی دی ددې اطلاق په ټولو مشرکانوباندې دې ولې په دې کښې د دخول ممانعت صرف مسجدحرام سره خاص دې عام مساجددې نه مستثنی دی په دې وجه د مسجدحرام نه علاوه په نورو مساجدوکښې د داخلیدونه هغوی نه شی منع کولې د امام شافعي رحمه الله په نیزددې تفصیل په رڼاکښې د یهود اونصاری د مسلمانانو په عام مساجدکښې داخلیدل مباح او جائزدی

**د امام شافعي رحمه الله په استدلال باندې رد** - خوحقیقت دا دې چه د امام شافعي رحمه الله استدلال تام نه دې خکه چه د هغوی په نیزکله چه په مسجدحرام کښې د ممانعت دخول علت نجاست گرخولې شوې دې نوبیا دا حکم مسجدحرام سره خاص کول صحیح نه دی خکه چه د نجس سړی دپاره په عام مساجدکښې هم داخلیدل جائزنه دی د امام شافعي رحمه الله د استدلال طریق مخې ته ساتلوسره د مشرکانو او یهود اونصاری دپاره په عام مساجدوکښې داخلیدل هم ناجائزکیدل پکاررو. لهذا دا استدلال صرف د امام مالك رحمه الله د مذهب مطابق تام دې چنانچه علامه ابن همام رحمه الله فرمائی : أقول: لایذهب علیك أن هذا الدلیل لوتم لدل علی أن لایدخل شیئا من المساجد، ومذهب الشافعی أنه لایجوز دخول الکافر المسجد الحرام دون سائر المساجد، فلم یکن هذا الدلیل ملائما لمذهبه، وانما کان مناسبا لمذهب مالك رحمه الله (۳)

**د امام ابوحنیفه رحمه الله مسلک اود هغه دلائل** - د امام اعظم رحمه الله په نیز ﴿ إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ ﴾ کښې نجاست نه نجاست اعتقادی مراد دې (۴) او ﴿ فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هَٰذَا ﴾ مطلب

---

[1] ) الجامع لاحکام القرآن للقرطبی:۱۰۵/۸ والهدایة للمرغینانی:۲۳۲/۴ وردالمختار لابن عابدین الشامی:۲۷۴/۵ کتاب الحظر والاباحة. فصل فی البیع. رشیدیه.

[2] ) ایضاً.

[3] ) فتح القدیر:۶۳/۱۰کتاب الکراهیة.وردالمختار علی الدرالمختار:۲۷۴/۵کتاب الحظر والاباحة. فصل فی البیع

[4] ) أحکام القرآن للجصاص: ۱۳۲۰۲۱/۳ وقال:قوله تعالی ﴿إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ﴾ ... [بقیه برصفحه آئنده

دادې چه ۹هجرى نه پس مشركانوته د مشركانه رسم سره د حج داداكولويه اراده سره مسجد حرام كښې د داخليدو اجازت نشته د احنافو په نيز په دې كښې د مشركانوډپاره مسجد حرام او عامو مساجدو كښې د داخليدوممانعت نه دې كړې شوې بلكه دممانعت حكم په هغه صورت باندې محمول دې كله چه اهل شرك يا يهود اونصارى په مشركانه طرز باندې په بربنډه د حج وغيره كولو يا استيطان او تسلط او استيلاء په مقصد سره په حرم كښې داخليږى كنى په مسافرانه حيثيت سره په عام حالاتوكښې مصلحتا د حاكم وخت په اجازت سره په حدود حرم كښې اوعام مساجدوكښې دهغوى په داخليدوكښې هيڅ بديت نشته لهذا د سورت توبه مذكوره آيت مطلب به دا شى چه مشركان دې په راتلونكى كال كښې د حج په اراده مسجدحرام ته نه راځى. (۱)

په حقيقت كښې مسجدحرام كښې د داخليدو ممانعت صرف د حج په غرض سره راتلونكي مشركانوډپاره دې په دې باندې پخپله د قرآن مجيد د آياتونو سياق اوسباق هم دلالت كوى اود صحيح احاديثونه هم د دې تائيد كيږى.

① د احنافوړومبى استدلال د ثقيف د وفدواقعه ده په روايت كښې دى عن حماد بن سلمة عن سلمة عن الحسن عثمان بن أبي العاص رضي الله عنهم: أن وفد ثقيف لما قدموا على رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم ضرب لهم قبة في المسجد فقالوا قوم أنجاس فقال رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم: إنه ليس على الارض من أنجاس الناس شئ إنما أنجاس الناس على أنفسهم. (۲)

عثمان بن ابى العاص رضي الله عنه نه روايت دې چه كله د ثقيف وفد د رسول الله ﷺ په خدمت كښې حاضرشو نوحضورپاك په جمات كښې خيمه اولګوله اوهغوى ئې كينول صحابه كرام په دې موقع باندې موجودوو ونى وئيل داخو نجس خلق دى دهغوى مقصدوو چه دا خو نجس او كافردى په دې وجه دوى په مسجدكښې كينولوسره د مسجد بې حرمتى كيږى په دې باندې حضورپاك ارشاد اوفرمائيلو چه د مسجد په زمكه باندې د دوى د نجاست هيڅ اثر نه پريوځى

---

...بقيه ازحاشيه گذشته] إطلاق اسم النجس على المشرك من جهة أن الشرك الذى يعتقده يجب اجتنابه كما يجب اجتناب النجاسات والاقذار.

(۱) الهداية: ۲۳۲/٤ قال العلامة المرغيناني: ولاباس بان يدخل أهل الذمة المسجد الحرام. وقال. الشافعي: يكره ذلك. وقال مالك: يكره فى كل مسجد. للشافعي رحمه الله قوله تعالى: ﴿إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ﴾ ولان الكافر لايدخلو عن جنابة. لانه لا يغتسل اغتسالا لايخرجه عنها. والجنب يجنب المسجد وبهذا يحتج مالك. والتعليل بالنجاسة عام. فينتظم المساجد كلها. ولان ماروى: أن النبى صلى الله تعالى عليه أنزل وفد الثقيف فى المسجد. وهم كفار. ولان الخبث فى اعتقادهم. فلايؤدى إلى طويث السجد. والاية محمولة على الحضور استيلاء واستعلاءً. أو طائفين عرة. كما كانت عادتهم فى الجاهلية. (كتاب الكراهية فصل فى مسائل متفرقة) وردالمحتار لابن عابدين الشامى: ۲۷٤/٤ واحكام القرآن للجصاص:۳/۱۳۱. ۱۳۲ وعمدة القارى: ۱٤/٤۱٥. ٤۱٦.

(۲) أحكام القرآن للجصاص: ۱۳۱/۳و الهداية للعلامة المرغيناني: ۲۲۳/٤ كتاب الكراهية وردالمحتار لابن عابدين الشامى: ۲۷٤/٤.

خکه چه نجاست د دوی په ظاهری بدن باندې نه بلکه، د دوی په زړونو کښې دې
دا روایت امام احمد رحمه الله په مسند (۱) او امام طبرانی رحمه الله په معجم (۲) کښې روایت کړې دې
په مراسیل ابی داؤد کښې هم دا روایت نقل دې (۳)، البته د سنن ابوداؤد د روایت الفاظ
مختلف دی په هغې کښې دی عن عثمان بن أبي العاص: أن وفد ثقيف لما قدموا على رسول الله صلى
الله تعالى عليه وسلم أنزلهم المسجد ليكون أرق لقلوبهم فاشترطوا عليه أن لايحشروا أولا يعشروا ولا يجبوا:
فقال رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم: ولكم أن لاتحشروا أولا تعشروا ولا خير في دين ليس فيه ركوع. (۴)
په روایت کښې دی چه کله د بنوثقیف وفد د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضرشو
نوحضورپاك هغوی په جمات کښې کینول دې دپاره چه د هغوی زړونه نرم شی هغوی د خپل
اسلام راوړلو شرط داکیخودو چه د زکوة جهاد او مانځه نه مونږ مستثنی کړې شو رسول الله
ﷺ اوفرمائیل د زکوة او جهاد باره کښې خو پریخودې شی مګر د مانځه باره کښې نه، خکه
چه په کوم دین کښې رکوع (مونځ) نه وی په هغه دین کښې خیرنشته
امام اعظم رحمه الله د سورت توبه آیت کښې د نجس کومه معنی مراد اخستې ده دې روایت سره د
هغې تائید کیږی چه اهل شرك ته نجس وئیلو سره د هغوی د عقیدې (کفر او شرك) نجاست مراد
دې (۵)

② د احنافودویم استدلال صحیحین او سنن نسائی او جامع ترمذی (۶) وغیره دا روایت دې په
کوم کښې چه د سورت توبه د آیاتونو د نزول نه پس د حضرت علی رضی الله عنه د اعلان براءت صریح
الفاظ دا وو: لايحج بعد العام مشرك، ولا يطوف بالبيت عريان یعنی د دې کال نه پس یو مشرك ته د
حج کولو او په بربنډه د طواف کولو اجازت به نه وی په آیت کښې ﴿فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ
عَامِهِمْ هٰذَا﴾ معنی د دې اعلان په وړاندې هم دغه ده چه مشرکان په حقیقت کښې صرف د حج
وغیره د اداکولو نه منع کړې شوی دی. کنی د حاکم وخت یا امیرالمؤمنین په اجازت سره

---

(۱) مسنداحمدبن حنبل رحمه الله: ۲۱۸/٤ وفي مسندالشاميين رقم: ۱۸۰۸٤.
(۲) المعجم الكبير للطبراني: ۹/ ٥٤ رقم: ۸۳۷۲
(۳) نصب الراية لاحاديث الهداية للعلامة الزيلعي: ٤/ ۲۷۰ كتاب الكراهية فصل في مسائل متفرقة.
(٤) سنن أبي داؤد: ۷۲/۲ كتاب الخراج باب خبر الطائف رقم: ۳۰۲٤.
(٥) أحكام القرآن للجصاص: ٤/ ۱۳۰ و الهداية للعلامة المرغيناني: ۲۲۳/٤ كتاب الكراهية وردالمحتار لابن عابدين الشامي: ٤/ ۲۷٤.
(٦) أخرجه البخاري: ۵۳/۱ في الصلوة باب مايستر من العورة. وفي الحج: ۲۲۰/۱ باب لايطوف بالبيت عريان: ٤٥١/١ وفي الجهاد باب كيف ينبذ إلى أهل العهد. و: ٦٢٦/٢ في المغازي. باب حج أبي بكر رضى الله عنه بالناس. و ك ٦٧١/٢ في سورة البراءة. باب قولة: فسيحوا في الارض أربعة أشهر. وأخرجه مسلم في صحيحه: ٤٢٥/١ في كتاب الحج. باب لايحج البيت مشرك. وأبوداؤد: ۲٦٨/١ في الحج باب يوم الحج الاكبر. والنسائي: ۳۱/۲ في الحج باب قوله: ﴿خُذُوا زِينَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ﴾ والترمذي: ۱۳۹/۲ في كتاب التفسير باب ومن سورة البراءة.

حدودحرم کښې دهغوی په داخله باندې شرعا څه قدغن نشته

③ علامه ابوبکرجصاص رحمه الله په احکام القرآن کښې شریك عن أشعث عن الحسن په طریق سره دحضرت جابربن عبدالله رضی الله عنه روایت نقل کړې دې په کوم کښې چه د حضورپاك ارشاد مبارك دې لایقرب المشرکون المسجد الحرام بعد عامهم هذا إلا أن یکون عبدًا أو أمة یدخله لحاجة [1]

یعنی مشرك ته په مسجدحرام کښې د داخلیدو اجازت نشته البته غلام او وینځه ددې حکم نه خلاص دی هغوی ته د ضرورت په وخت د داخلیدو اجازت دې

دا روایت هم د احنافو تائیدکوی په کوم کښې چه د ممانعت علت واضح کړې شوې دې څکه چه غلام او وینځه د یومشرك په شان په اعتقادي نجاست کښې ککړنه وی که چرې حدودحرم کښې د داخلې ممانعت مشرك سره تړلې وې نو ددې ممانعت لاندې به قیاسا غلام او وینځه هم شامل وو د احنافودې رائې تائید مشرك او ذمی وغیره حدود حرم کښې داخلیدې شی ددې تائید دحضرت جابر بن عبدالله رضی الله عنه دبل روایت نه هم کیږی

④ مصنف عبد الرزاق کښې دی: أخبرنا عبدالرزاق قال: أخبرنا ابن لجریج قال: أخبرنا أبوالزبیر أنه سمع بن عبدالله یقول فی هذه الایة: ﴿فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هَٰذَا﴾ قال: لا، إلا أن یکون عبدًا أو أحدًا من أهل الجزیة. [2]

په روایت کښې دی چه حضرت جابربن عبدالله رضی الله عنه د سورت توبه مذکوره آیت لوستلو سره اوفرمائیل چه غلام یا ذمی ددې ممانعت نه خلاص دې هغوی په حدود حرم کښې داخلیدې شی بهرحال فقهاء احناف د امام اعظم رحمه الله محقق رائې هم دغه تحریرکړې ده چه مشرك یهود نصارئ او ذمی [3]، دامیرالمؤمنین په اجازت سره مصلحتا حدود حرم کښې داخلیدې شی سره ددې چه د کفریه نجاست کښې ملوث وی. اود سورت نور په آیت کښې ددوی په مطلق داخلیدو باندې پابندی نه ده لګولې شوې بلکه ددې مطلب د احادیث اوآثار نه ښخپله متعین شو چه کافران اومشرکان وغیره د تسلط غلبه او استیلاء او استیطان ناپاك ارادې لرې نو بیا دهغوی دپاره په حدودحرم کښې د داخلیدو هیڅ ګنجائش نشته

**قوله: وقال یعقوب بن محمد**

# رجال الحدیث

①**یعقوب بن محمد:**- دا یعقوب بن محمد بن عیسی بن عبدالمالك بن حمید بن عبدالرحمن

---

[1]) أحکام القرآن للجصاص:۳۲/۳.

[2]) المصنف للحافظ أبی بکرعبدالرزاق بن همام: ۵۳/۶ کتاب أهل الکتاب باب لایدخل الحرم مشرك وأخرجه أیضًا فی کتاب أهل الکتابین باب هل یدخل المشرك الحرم:۳۵۶/۱ رقم:۱۹۳۵۷ وأحکام القرآن للجصاص: ۳۲/۳.

[3]) الارشاد والنظائر للعلامة ابن نجیم ص:۳۸۶ فی أحکام الذمی. قال: ولایمنع – الذمی – من دخول المسجد جنبا بخلاف المسلم ولایتوقف جواز دخوله علی إذن مسلم عندنا ولوکان المسجد الحرام دمشق

بن عوف الزهری المدنی دی (۱) ابویوسف د دوی کنیت دی (۲)

هغوی د ابراهیم بن جعفر بن مسلمه الانصاری، رفاعه بن هریر بن عبدالرحمن بن رافع بن خدیج سفیان بن حمزه الاسلمی، صالح بن قدامه، عبدالله بن محمدبن یحیی بن عروه بن زبیر، عبدالله بن وهب المصری، محمد بن طلحه التیمی او یعقوب بن اسحاق الانصاری نه روایت حدیث کړې دې (۳) د هغوی نه روایت کونکی احمدبن سنان القطان، احمدبن یوسف السلمی، حجاج بن الشاعر، حسین بن منصور النیشاپوری، محمد بن سنان البصری، محمد بن عبدالله المخرمی، ابویوسف یعقوب بن اسحاق القلوسی او یوسف بن موسیٰ القطان وغیره دی (۴) د هغه باره کښې یحییٰ بن معین رحمه الله فرمائی **ماحدثکم عن الثقات فاکتبوه ومالا یعرف من الشیوخ فدعوه** (۵) یعنی یعقوب بن محمد نه روایات اخستلوکښې څه حرج نشته چه هغوی د ثقات نه روایت کړې دې البته د هغه مجهول او مستور شیوخ حدیث روایتونه پریخودل پکاردی

ابوحاتم محمد بن ادریس رحمه الله فرمائی **هوعلی یَدَی عدل، أدرکته فلم أکتب عنه** (۶) هغه د عدل دلاسه هلاک شو څکه چه ما هغه اولیدلو خو د هغه نه مې څه حدیث اونه لیکلو دا عربی متل دې او د تضعیف سخت الفاظ دی. د دې پس منظردادې چه عدل په ملك یمن کښې د قبیله حمیر بادشاه تبع پولیس وو(۷) چه تبع به د چا په قتل پسې اولګیدو نو د هغه مړ کولو باره به ئی عدل ته حواله کول د دې کردار سره د عدل نه مشهورشو کله چه به یوسړې د کار قابل پاتې نه شو او د هغه نه به د کامیابئی څه امیدباقی پاتې نه شو نوونیلې به شو **هوعلی یدی عدل** یعنی هغه د عدل د لاسه هلاك شو (۸)

چه پس منظر په ذهن کښې نه وی نودا په ظاهره د توثیق الفاظ معلومیږی علامه ذهبی رحمه الله ته هم د غه مغالطه شوې ده. هغه یدی د دال په کسره او عدل د لام دوو پیښونوسره: **علی یَدِی عدلٌ** لوستلې دې په دې وجه الکاشف کښې هغوی فرمائی **وقواه أبوحاتم** (۹)

---

۱) تهذیب الکمال للحافظ یوسف المزی:۳۲/۳۶۷ تقریب التهذیب ص:۲۰۸ رقم الترجمة: ۷۸۳٤.

۲) تهذیب الکمال:۳۲/۳۶۷ وتهذیب التهذیب للحافظ ابن حجر: ۱۱/۳۹۶ رقم الترجمة: ۷۶٤.

۳) تهذیب الکمال للحافظ یوسف المزی: ۳۲/۳۶۷.

۴) تهذیب الکمال للحافظ یوسف المزی: ۳۲/۳۶۷.

۵) الجرح والتعدیل للامام أبی حاتم: ۹/۲۶٤ رقم الترجمة: ۱۶۵۵۱ وتهذیب الکمال: ۳۳/۳۷۰ وتهذیب التهذیب: ۱۱/۳۹۶.

۶) الجرح والتعدیل للامام أبی حاتم: ۹/۲۶٤ وتهذیب الکمال: ۳۲/۳۷۰ وتهذیب التهذیب: ۱۱/۳۹۶.

۷) الاعلام للزرکلی: ۲/۸۳.

۸) وعدل: کان من رجال الشرط عند تبع. فکان تبع اذا أراد قتل رجل دفعه إلی عدل. فکانوا یقولون لمن یئس منه: هوعلی یدی عدل. انظر تعلیقات محمدعواد علی هامش الکاشف للذهبی: ۲/۳۹۶ وأیضاً عندالشیخ عبدالفتاح أبی غدة فی تعلیقاته علی هامش الرفع والتکمیل فی الجرح والتعدیل للامام للکنوی:۱۷۶، ۱۷۷.

۹) الکاشف الذهبی:۲/۳۹۶.

ابوحاتم هغه يعقوب بن محمد، ته قوى ونيلي حالانكه ابوحاتم رحمه الله وهوعلى يَدَى عدلٍ ونيلوسره هغه تضعيف كړې دې:

حافظ ابوزرعه رحمه الله دهغوى باره كښې وائى واهى الحديث، منكرالحديث.[1] حجاج بن الشاعر دَدوى باره كښې وائى ثقه[2] ابن حبان رحمه الله هغه په ثقات كښې ذكر كړې دې[3]، امام احمدبن حنبل رحمه الله دَ هغه باره كښې وائى يعقوب ليس بشئ ليس يسوى شيئًا[4]

حقيقت دادې چه دَيعقوب بن محمد شمير په ضعيف راويانو كښې كيږى اكثرائمه جرح وتعديل په روايت حديث كښې دَ بې خايه تساهل دَ وجې نه په ده باندې كلام كړې دې على بن حسين بن حبان وائى چه يعقوب بن محمد هشام بن عروة عن ابيه عن عائشه رضي الله عنها په طريق يو روايت نقل كړې دې په كوم كښې چه دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم طرف ته دا الفاظ منسوب كړى دى من لم يكن عنده صدقة فليلعن اليهود.[5] يعنى چه څوك دَ صدقې طاقت نه لرى هغه دې په يهود باندې لعنت وائى. حافظ خطيب بغدادى فرمائى چه دا موضوع حديث دې هيڅ يوعقل مندسړې داقطعًا نه شى روايت كولې[6] البته په شواهد اومتابعات كښې دَهغه روايات نقل كولو كښې څه كلام نشته لكه چه دَ ترجمة الباب لاندې پخپله امام بخارى رحمه الله دَ صنيع نه هم دا معلوميږى[7] والله اعلم بالصواب.

② **مغيره بن عبدالرحمن**:- دامغيره بن عبدالرحمن بن عبدالرحمن بن عوف بن حبيب الاسدى دې دَ دوى حالات كتاب الاستسقاء باب دعاء النبى صلى الله تعالى عليه وسلم: اجعلنها سنين كسنى يوسف لاندې تيرشوى دى.

**قوله**: **والعرج أول تهامة**:- عرج په عين باندې فتحه او راء سكون سره مكې سره نيزدې دَ يومقام نوم دې تهامه دَ تاء زير سره دَدې اطلاق نجد او بلاد حجاز باندې كيږى.[8]

**دَ مذكوره تعليق تخريج**- دَ يعقوب بن محمد مذكوره تعليق قاضى اسماعيل عن أحمد بن المعدل عن يعقوب بن محمد بن عيسى الزهرى عن المغيرة بن عبدالرحمن په طريق سره احكام القرآن كښې

---

[1]) تهذيب الكمال:۳۲/۳۷۰ وتعليق الدكتور بشار عواد معروف على هامش تهذيب اكمال:۳۲/۳۷۰ والجرح والتعديل لابى حاتم: ۹/۲٦٤ وتهذيب التهذيب لابن حجر: ۱۱/۳۹۷.

[2]) نفس المصادر السابقة.

[3]) الثقات لابن حبان: ۹/۲۸٤.

[4]) الضعفاء للعقيلى ٤/٤٤٥ رقم الترجمة:۲۰۷۲.

[5]) تاريخ بغداد للخطيب: ۱٤/۲۷۰ رقم: الترجمة: ۷۵٦۳.

[6]) تاريخ بغداد للخطيب: ۱٤/۲۷۰ رقم: الترجمة: ۷۵٦۳ قال هذا كذب باطل لا يحدث بهذا أحد يعقل.

[7]) تحرير تقريب التهذيب: ٤/۱۲۸.

[8]) شرح الكرمانى:۱۳/۵۱.

موصولاً نقل كړې دې (١) يعقوب بن ابی شيبه هم په خپل مسند كښې عن أحمد بن المعدل عن يعقوب بن محمد عن مالك بن انس په طريق سره دا تعليق موصولاً روايت كړې دې (٢).

**ددې تعليق مقصد** په حديث باب كښې د رسول الله ﷺ ددې وصيت ذكروو چه د جزيرة العرب نه مشركان اوباسئ خو په دې كښې د جزيرة العرب د جغرافيائي حدودو وضاحت نه وو امام بخاری رحمه الله د دغه ابهام لرې كولو د پاره دا تعليق نقل كړو چه د جزيرة العرب حدود كوم دی اود دې اطلاق د كوم خائی نه كوم خائی پورې كيږي؟ والله اعلم

**د جزيرة العرب محل وقوع** - د يعقوب بن محمد په مذكوره تعليق كښې دی چه جزيرة العرب نه مكه مدينه يمامه او يمن مراد دی هم دغه قول د امام مالك رحمه الله هم دې (٣) امام اصمعی رحمه الله وائی چه جزيرة العرب په اوږدوالی كښې د عدن نه عراق پورې او پلنوالی كښې جده نه ترشام پورې خور دې (٤)

**د جزيرة العرب وجه تسميه** - عربو ته جزيره ځكه وائی چه ددې دريوطرفوته سمندر او يوطرف ته د درياب د اوبو حصار قايم دې. دريوطرفوته بحرهند بحرقلزم بحرفارس او بحرحبشه دی يوطرف ته دجله او فرات درياب. فتح الباري كښې دی:

قال الخليل سميت جزيرة العرب، لان بحر فارس وبحر حبشة والفرات والدجلة أحاطت بها او امام اصمعی رحمه الله وائی لاحاطة البحار بها، يعنی بحر الهند والقلزم وبحر فارس وبحر الحبشة (٥)

تفصيلی جغرافيه ياقوت حموی په معجم البلدان كښې ذكركړې ده هغوی ليكی وانما سميت بلاد العرب جزيرة لاحاطة البحار والانهار بها من جميع أقطارها وأطرافها فصار وامنها فى مثل الجزيرة من جزائر البحر، وذلك أن الفرات أقبل من بلاد الروم فظهر بناحية قنسرين ثم انحط على أطراف الجزيرة وسواد العراق حتى وقع فى البحر فى ناحية البصرة والابلة وامتد إلى عبادان، وأخذ البحر فى ذلك الموضع مغربا مطيقا ببلاد العرب منعطفا عليها... الخ. (٦)

يعنی بلاد عرب ته جزيرة العرب ځكه وئيلې شی چه هغه په سمندرونو اودريابونو كښې راګير دی مثلاً داسې چه د فرات درياب د بلاد روم نه شروع شو اود قنسرين په خواكښې د عربو په پوله باندې ښكاره شو بيا عراق كښې تيريدو سره بصره سره خواكې سمندر سره ملاؤشو دغه ځائی نه بيا سمند عرب راګيركړل اود قطيف اوهجر غاړې سره عمان او شجرسره تيرشو بيا حضرموت اوعدن سره سره د پچهم طرف ته د يمن غاړو پولوسره اولګيدو ترڅو چه جده

١) عمدة القاری: ۴۱۶/۱۴ وفتح الباری: ۲۱۰/۶ وتعليق التعليق: ۴۵۸/۳.
٢) تغليق التعليق لابن حجر رحمه الله ۴۵۸/۳.
٣) فتح الباری: ۲۱۰/۶ وعمدة القاری: ۴۱۴/۱۴.
٤) فتح الباری: ۲۱۰/۶ وعمدة القاری: ۴۱۴/۱۴.
٥) فتح الباری: ۲۱۰/۶.
٦) معجم البلدان: ۱۳۷/۲.

راښکاره شوه کوم چه د مکې حجاز ساحل دې بيا ساحل طور او خليج ايله ته رسيدو سره د سمندر شاخ ختم شو بيا د مصر زمکه شروع شوه قلزم راښکاره شو او ددې سلسله د فلسطين د ښارونونه د عسقلان د سواحل نه تيره شوه د صور وساحل زمکه نه اردن او بيرت ته اورسيدو په آخره کښې بيا قنسرين ته په رسيدو باندې هغه خاتی راخی چرته چه د بلاد عرب احاطه شروع کړې ده دغه شان څلور واړه طرف ته د اوبو سلسله قايم ده او هم دغه جزيرة العرب دې

## باب ۱۷۳: التجمل للوفود

**د ترجمة الباب مقصد** - ددې باب نه د امام بخاری رحمه الله مقصد دادې چه د وفود په راتلو باندې حاكم وخت يا نور استقبال کونکوله زيب او زينت اختيارول پكاردی او صفا ستره لباس اچول پكاردی د حديث باب لاندې علامه ابن بطال رحمه الله فرمائی چه دا سې کول سنت دی او په دې باندې د عمل کولو په نتيجه کښې به دا فائده وی چه د بهرنه راغلی وفد باندې د اسلام او اهل اسلام ښه او ښکلې اثر پريوځی د دښمن په زړه کښې به د مسلمانانو عظمت پيدا کيږی (۱)
علامه قسطلانی رحمه الله فرمائی چه د ترجمة الباب اصل مقصد دادې چه ښائست وغيره اختيارول خو جائزدی ولې د سړو دپاره چه د کوم لباس ممانعت راغلې دې هغه اغوستل حرام دی په حديث باب کښې رسول الله ﷺ خود زينت اختيارولو اجازت ورکړې دې ليکن منهی عنه لباس ممانعت ئی هم فرمائيلې دې (۲)
دحضرت شيخ الحديث رحمه الله هم دغه خبره ده (۳)

حديث نمبر ۲۸۸۹ (۴) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ- رضی الله عنهما- قَالَ:
وَجَدَ عُمَرُ حُلَّةَ إِسْتَبْرَقٍ تُبَاعُ فِي السُّوقِ فَأَتَى بِهَا رَسُولَ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، ابْتَعْ هَذِهِ الْحُلَّةَ فَتَجَمَّلْ بِهَا لِلْعِيدِ وَلِلْوُفُودِ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم- «إِنَّمَا هَذِهِ لِبَاسُ مَنْ لاَ خَلاَقَ لَهُ، أَوْ إِنَّمَا يَلْبَسُ هَذِهِ مَنْ لاَ خَلاَقَ لَهُ». فَلَبِثَ مَا شَاءَ اللَّهُ ثُمَّ أَرْسَلَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ- صلى الله عليه وسلم- بِجُبَّةِ دِيبَاجٍ، فَأَقْبَلَ بِهَا عُمَرُ حَتَّى أَتَى بِهَا رَسُولَ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قُلْتَ «إِنَّمَا هَذِهِ لِبَاسُ مَنْ لاَ خَلاَقَ لَهُ أَوْ إِنَّمَا يَلْبَسُ هَذِهِ مَنْ لاَ خَلاَقَ لَهُ». ثُمَّ أَرْسَلْتَ إِلَيَّ بِهَذِهِ فَقَالَ «تَبِيعُهَا، أَوْ تُصِيبُ بِهَا بَعْضَ حَاجَتِكَ». [ر: ۸۴۶]

---

(۱) قال ابن بطال رحمه الله فيه من السنة المعروفة التجمل للوفود بحسن الثياب. لان فی ذلک جمالا للاسلام وأهله. وإرهابا على العدو. وعظيماللمسلمين. شرح ابن بطال: ۲۱۶/۵.

(۲) إرشاد الساری:۱۷/۵ قال القسطلانی رحمه الله ولم ينكر عليه طلبه التجمل وإنما أنكر عليه التجمل بهذا الشئ لمنهى عنه.

(۳) الابواب والتراجم للمحدث الكاندهلوی ص:۲۰۳.

(۴) مر تخريجه الحديث فی كتاب الجمة.باب سابق يلبس أحسن مايجد رقم:۸۸۶.

## رجال الحدیث

①**یحیی بن بکیر** - داابوزکریا یحیی بن عبدالله بن بکیر القرشی رحمه الله دي دَ دوی تذکره بدءالوحی کښې دریم حدیث لاندې تیره شوې ده.[1]

② **لیث** - داابوالحارث لیث بن سعد بن عبدالرحمن فهمی رحمه الله دي دَدوی حالات بدء الوحی دریم حدیث لاندې تیرشوی دی.[2]

③**عقیل** - دا عقیل (بالتصغیر) بن خالد بن عقیل (بالتکبیر) دي دَدوی حالات هم بدء الوحی دریم حدیث لاندې تیرشوی دی.[3]

④**ابن شهاب** - مشهورمحدث عبدالله بن شهاب زهری دي دَدوی حالات هم بدء الوحی دریم حدیث لاندې تیرشوی دی.[4]

⑤**سالم بن عبدالله** - داابوعمر یا ابوعبدالله بن عبدالله بن عمر بن الخطاب رضي الله عنهما دي دَدوی تذکره کتاب الایمان باب الحیاء من الایمان کښې تیره شوې ده.[5]

⑥ **ابن عمر** رضي الله عنهما - داصحابی رسول حضرت عبدالله بن عمر بن الخطاب رضي الله عنهما دي دَدوی حالات شاته تیرشوی دی.[6]

**قوله** وجد عمر حلة استبرق تباع في السوق - دې روایت سره متعلق مباحث کتاب الجمعه لاندې تیرشوی دی.[7] او وړاندې په کتاب اللباس کښې هم راروان دی.[8]

**ترجمة الباب سره دَ حدیث باب مطابقت** - په روایت کښې دی حضرت عمر رضي الله عنه رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو ابتع هذه الحلة فتجمل بها للعيد وللوفود داحله تاسو واخلئ په دې کښې دَ اختر او بهرنه راتلونکو وفودو دَ استقبال دَپاره زیب اوزینت اختیارکړئ ددې جملې دَ ترجمة الباب سره مناسبت دې.[9]

## باب ۱۷۴: کیف یعرض الاسلام علی الصبی

**دَ ترجمة الباب مقصد** - کتاب الجنائزکښې امام بخاری رحمه الله باب اهل یعرض الاسلام علی الصبي ترجمه منعقد کړې ده هلته استفهام دې چه آیا ماشوم ته به دَاسلام دعوت ورکولې

---

[1]) کشف الباری: ۱/۳۲۳.

[2]) کشف الباری: ۱/ ۳۲٤ – ۳۲۵.

[3]) کشف الباری: ۱/ ۳۲۵.

[4]) کشف الباری: ۱/۳۲۶.

[5]) کشف الباری: ۲/ ۱۲۸.

[6]) کشف الباری: ۱/ ۶۳۷.

[7]) أنظر کتاب الجمعة باب: یلبس أحسن مایجد.

[8]) کشف الباری: کتاب اللباس باب لبس الحریر وافتراشه للرجال: ص: ۱۸۹ – ۱۹٤.

[9]) عمدة القاری: ۱٤/۱۶٤.

شي؟ خو د كتاب الجهاد په دې ترجمة الباب كښې جزم دې چونكه د كتاب الجنائز لاندې امام بخارى رحمه الله د اسلام صبى په صحت باندې دليل پيش كړې دې په دې وجه هغه دلته د صحت صراحت ضرورى او نه ګڼړلو صرف د كيفيت ذكرئې اوكړو لكه چه په ترجمه كښې جزء دې چه صبى ته د اسلام دعوت وركول خو ثابت دى ليكن دا دعوت به څنګه وركولې شى د دې كيفيت به څه وى؟ په ترجمه كښې امام بخارى رحمه الله هم د دې په ذكر باندې اكتفاء كړې ده

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى قوله: وهل يعرض الاسلام على الصبى ذكره هنا بلفظ الاستفهام، وترجم فى كتاب الجهاد بصيغة تدل على الجزم بذلك فقال: وكيف يعرض الاسلام على الصبى؟ وكانه أقام الادلة هنا على صحة إسلام استغنى بذلك وأفاد هناك ذكر الكيفة. [1]

امام بخارى رحمه الله دلته بالغ ته د اسلام دعوت وركولو په حواله سره مستقل باب تړلې دې دې سره امام دا يقين وركول غواړى چه خوان او د ډيرعمر سړو او ښځوته د اسلام دعوت وركول خو ثابت دى او يو ښكاره خبره ده ليكن د جهاد په دوران هغوى سره كوم نابالغ ماشومان په قيد يانوكښې شامل كيږى هغوى ته هم د اسلام دعوت وركول ثابت دى

حديث نمبر ٢٨٩٠/٢٨٩١ [2] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا هِشَامٌ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ أَخْبَرَنِي سَالِمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رضى الله عنهما - أَنَّهُ أَخْبَرَهُ أَنَّ عُمَرَ انْطَلَقَ فِي رَهْطٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - مَعَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قِبَلَ ابْنِ صَيَّادٍ حَتَّى وَجَدُوهُ يَلْعَبُ مَعَ الْغِلْمَانِ عِنْدَ أُطُمِ بَنِي مَغَالَةَ، وَقَدْ قَارَبَ يَوْمَئِذٍ ابْنُ صَيَّادٍ يَحْتَلِمُ، فَلَمْ يَشْعُرْ حَتَّى ضَرَبَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - ظَهْرَهُ بِيَدِهِ ثُمَّ قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «أَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم -». فَنَظَرَ إِلَيْهِ ابْنُ صَيَّادٍ فَقَالَ أَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُولُ الأُمِّيِّينَ. فَقَالَ ابْنُ صَيَّادٍ لِلنَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - أَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللَّهِ. قَالَ لَهُ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «آمَنْتُ بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ» قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - مَاذَا تَرَى». قَالَ ابْنُ صَيَّادٍ يَأْتِينِي صَادِقٌ وَكَاذِبٌ. قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «خُلِطَ عَلَيْكَ الأَمْرُ». قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «إِنِّي قَدْ خَبَأْتُ لَكَ خَبِيئًا». قَالَ ابْنُ صَيَّادٍ هُوَ الدُّخُّ. قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «اخْسَأْ فَلَنْ تَعْدُوَ قَدْرَكَ». قَالَ عُمَرُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، ائْذَنْ لِي فِيهِ أَضْرِبْ عُنُقَهُ. قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «إِنْ يَكُنْهُ فَلَنْ تُسَلَّطَ عَلَيْهِ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْهُ فَلاَ خَيْرَ لَكَ فِي قَتْلِهِ».

## رجال الحديث

① **عبدالله بن محمد**: دا ابو جعفر عبدالله بن محمد بن عبدالله بن جعفر بن اليمان بن اخنس

---

[1] فتح البارى: ٢٠٩/٣ والابواب والتراجم للشيخ الكاندهلوى: ص: ٢٠٣.

[2] قدمر تخريجه الحديث فى كتاب الجنائز باب إذا أسلم الصبى فمات. هل يصلى عليه؟ رقم: ١٣٥٤.

جعفي بخاري رحمه الله دي. دَ دوى تذكره كتاب الايمان باب أمور الايمان لاندې تيره شوې ده [١]
(٢) **هشام**: دا قاضى ابوعبدالرحمن هشام بن يوسف الصنعانى دې. دَ دوى تذكره كتاب الحيض باب من سمى النساس حيضًا لاندې تيره شوې ده
(٣) **معمر**: دامعمربن راشد ازدى ابوعروه بصرى رحمه الله دې. دَ دوى تذكره بدء الوحي پنځم حديث لاندې تيره شوې ده [٢]
دَ باقي دريوارو راويانو حواله دَ تيرشوى باب لاندې دَ حديث په سند كښې تيره شوې ده

**قوله: أتشهد أني رسول الله؟**:- په روايت كښې چه رسول الله ﷺ ابن صياد ته دَ اسلام دعوت وركولو سره اوفرمائيل آيا ته به دا ګواهى وركړې چه زه دَ الله تعالى رسول يم؟
**ايا دَ صبى عاقل غيربالغ اسلام معتبردې؟**:- امام بخارى رحمه الله ترجمة الباب سره خپل رجحان طرف ته اشاره كولوسره فرمائيلى دى چه دَ هغوى په نيزدَ صبى عاقل اسلام معتبردې. ائمه ثلاثه رائې هم دغه ده. فتح القدير كښې دى: وإسلامه إسلام باتفاق الائمة الثلاثة [٣] البته دَ امام زفر رحمه الله او امام شافعى رحمه الله په نيز دَ نابالغ اسلام معتبر نه دې [٤]
**دَ علامه انورشاه كشميرى رحمه الله توجيه**:- علامه انورشاه كشميرى رحمه الله فرمائى چه دَامام شافعى رحمه الله دَ مسلك باره كښې زما تعجب ووچه كله دَهغوى په نيز دَ نابالغ اسلام معتبرنه دې نودَ حضرت على رضي الله عنه دَ اسلام متعلق به دَهغه څه رائې وى؟ ځكه چه دَ اسلام دَ قبلولو وخت كښې حضرت على رضي الله عنه نابالغ وو اوسن بلوغ ته نه وو رسيدلې
شاه صاحب فرمائى چه روستو ماته دَامام بيهقى رحمه الله په معرفة السنن كښې يو روايت ملاؤشو هغې زما پريشانى ختمه كړه. دَامام بيهقى رحمه الله په معرفة السنن كښې دى چه دَ غزوه خندق نه پس دَ شرائع او احكامو دارومدار په بلوغ باندې كيخودې دې. خودَحضرت على رضي الله عنه دَ اسلام قبلولو واقعه دَ غزوه خندق نه وړاندې ده.

فيض البارى كښې دى: وأما عند الشافعي فاسلامه غيرمعتبر، وكنت أتعجب منه، وأقول: إنهم ما ذا يصنعونه باسلام علي رضى الله عنه فانه أسلم فى صباه، ثم رأيت فى معرفة السنن للبيهقي أن الاحكام نيطت عليه بالبلوغ بعد غزوة الخندق، وإسلام علي — رضى الله عنه — كان قبلها، فلا بأس بعبرته وحينئذ زال القلق. [٥]
**دَ جمهورفقهاؤ استدلال**:- دَدې حضراتو استدلال دَحضرت على رضي الله عنه دَ قبول اسلام دَ واقعه نه دې چه هغوى دَ بلوغت نه وړاندې اسلام قبول كړې وو. رسول الله ﷺ صرف دَهغوى اعتبارنه

---

[١] كشف البارى:١/٦٥٧.
[٢] كشف البارى:١/٤٦٥.
[٣] فتح القدير للعلامة ابن الهمام: ٣٢٨/٥ فى أحكام المرتد. وردالمختار:٣٩٣/٦ والفتاوىٰ التنار خانية للعلامة ابن العلاء الانصارى الدهلوى:٣٧٦/٥ فى كتاب أحكام المرتدين.
[٤] فتح القدير: ٣٢٨/٥ والفتاوىٰ التنار خانية:٣٧٦/٥.
[٥] فيض البارى:٣/ ٤٥٤.

ووكړي بلكه د فخر اومسرت اظهارني هم فرمائيلي وو [1]

امام مالك رحمه الله موطا كښې عن ابن شهاب عن على بن حسين عن على بن ابى طالب په طريق سره يوروايت نقل كړې دې إنما ورث أباطالب عقيل ولم يرثه على [2] مطلب داچه د ابوطالب ميراث لكه چه په وړاندې باب كښې تفصيل راغې، صرف طالب اوعقيل حاصل كړې حضرت على رضي الله عنه ته د مسلمان كيدو وجې خپله حصه ملاؤنه شوه [3] د دې نه هم د هغوى د اسلام د صحت او اعتبار باندې استدلال كولې شى ځكه چه د مسلمان كيدو د وجې نه هغوى ته خپله حصه نه ملاويدل د اسلام معتبر كيدو دليل دې.

دويم قوى دليل د هغوى حديث باب دې په كوم كښې چه حضورپاك ابن صياد ته د اسلام دعوت وركړې اوهغه بالغ نه وو. دا دليل ځكه زيات قوى دې چه دابن صياد دا واقعه دغزوه خندق نه پس راغلې ده [4]

**د امام زفر رحمه الله او امام شافعى رحمه الله استدلال اود هغې رد:** ① د دې حضراتو رومبې دليل دادې چه نابالغ د اسلام په معامله كښې د مورپلار تابع دې لهذا د هغه اسلام به اصلى نه وى دانه شى كيدې چه هغه تابع هم وى اصلى هم [5]

② دويم دليل دادې چه د نابالغ د اسلام اعتبار اوكړې شى نود دې په نتيجه كښې به هغه سره داسې كارونه اوترلې شى كوم سره چه به نقصان لازم راځى اوهغه احكام به د هغه په حق كښې د ضرر سبب وى د مثال په توګه چه دې به د خپل كافرمورپلار د ميراث نه محروم شى په دې وجه نابالغ صبى كښې د اسلام اهليت د دې حضراتو په نيز اعتبار نشته. [6]

علامه مرغينانى په هدايه اوعلامه ابن نجيم په البحرالرائق كښې د دې حضراتو مذكوره دلائلو دا جواب وركړې دې چه د نابالغ صبى اسلام ځكه معتبر ګرځولې شوې دې كه چرې هغه په صدق زړه سره اسلام قبول كړى نوښكاره خبره ده چه دا د هغه اسلام سره د هغه د اعتقاد او خوښئى دليل دې اودايوداسې حقيقت دې كوم چه يقينًا ردكولې نه شى

دويمه دا چه دادهميشه نيك بختى او په آخرت كښې د خلاصى ضامن هم اسلام دې اودا يوه دومره لويه فائده ده چه د دې په مقابله كښې دنياوى مفادات يعنى ميراث وغيره هيڅ حيثيت

---

[1] ) ردالمحتار على الدرالمختار:٦/٤٩٤ والبحرالرائق للعلامة ابن نجيم:٥/٢٣٢ فى كتاب السير باب أحكام المرتدين.

[2] ) موطاللامام مالك رحمه الله ص:٦٦٦ كتاب الفرائض ميراث أهل الملل. نورمحمد.

[3] ) انظر كشف المغطاعن وجه الموطاللعلامة أشفاق الرحمن الكاندهلوى على هامش لموطا لمالك ص:٦٦٦ وأوجزالمسالك إلى موطا الامامام مالك للمحدث محمدزكريا الكاندهلوى: ١٢/٤٤٣ كتاب الفرائض ميراث أهل الملل.

[4] ) انظر فتح القدير للعلامة ابن همام رحمه الله ٥/٣٢٩ أحكام المرتد.

[5] ) البحرالرائق:٥/٢٣٢ كتاب السير باب أحكام المرتدين.

[6] ) فتح القدير:٥/٣٢٩ والبحرالرائق:٥/٢٣٢.

بس هم دغه د اسلام اصلي حکم دې چه په آخرت کښې نجات او خلاصې حاصل شي نو که د میراث وغیره نقصان وی د هغې هیڅ پرواه نشته

بحرالرائق او هدایه وغیره کښې دی وارتداد الصبی العاقل صحیح کاسلامه بیان للاسلام الصبی وردته. أما الاول، ففیه خلاف زفر، والشافعی — رحمهما الله — نظرا إلی أنه فی الاسلام تبع الابویه فیه، فلایجعل أصلاً، ولانلزمه أحکامًا یشوبها المضرة، فلایؤهل له.

ولنا أن علیا — رضی الله عنه — أسلم فی صباه وصحح النبی صلی الله تعالی علیه وسلم إسلامه، وافتخاره بذلك مشهور، ولانه أتی بحقیقة الاسلام، وهو التصدیق والاقرار معه، لان الاقرار عن طوع دلیلٌ علی الاعتقاد علی ماعرف والحقائق لاترد، ومایتعلق به سعادة أبدیة ونجاة عقباویة، وهو من أجل المنافع، وهوالحکم الاصلی، ثم یبتنی علیه غیرها فلا یبالی بما یشوبه. (۱)

**ترجمة الباب سره مطابقت:** په روایت کښې دی أتشهدأنی رسول الله؟ په دې کښې نابالغ ابن صیاد، ته د اسلام دعوت ورکړې شوې دې ترجمة الباب سره د دې جملې مناسبت دې (۲)

[حدیث ۲۸۹۱] قَالَ ابْنُ عُمَرَ انْطَلَقَ النَّبِیُّ - صلی الله علیه وسلم - وَأُبَیُّ بْنُ كَعْبٍ یَأْتِیَانِ النَّخْلَ الَّذِی فِیهِ ابْنُ صَیَّادٍ، حَتَّی إِذَا دَخَلَ النَّخْلَ طَفِقَ النَّبِیُّ - صلی الله علیه وسلم - یَتَّقِی بِجُذُوعِ النَّخْلِ وَهُوَ یَخْتِلُ ابْنَ صَیَّادٍ أَنْ یَسْمَعَ مِنِ ابْنِ صَیَّادٍ شَیْئًا قَبْلَ أَنْ یَرَاهُ، وَابْنُ صَیَّادٍ مُضْطَجِعٌ عَلَی فِرَاشِهِ فِی قَطِیفَةٍ لَهُ فِیهَا رَمْزَةٌ، فَرَأَتْ أُمُّ ابْنِ صَیَّادٍ النَّبِیَّ - صلی الله علیه وسلم - وَهُوَ یَتَّقِی بِجُذُوعِ النَّخْلِ، فَقَالَتْ لاِبْنِ صَیَّادٍ أَیْ صَافِ - وَهُوَ اسْمُهُ - فَثَارَ ابْنُ صَیَّادٍ، فَقَالَ النَّبِیُّ - صلی الله علیه وسلم - «لَوْ تَرَكَتْهُ بَیَّنَ». [ر ۱۲۸۹]

دا تعلیق ړومبی حدیث سند سره موصول دې په دې کښې د ابن صیاد د قصې د دویمې حصې بیان دې.

[حدیث ۲۸۹۲] وَقَالَ سَالِمٌ قَالَ ابْنُ عُمَرَ ثُمَّ قَامَ النَّبِیُّ - صلی الله علیه وسلم - فِی النَّاسِ فَأَثْنَی عَلَی اللَّهِ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ، ثُمَّ ذَكَرَ الدَّجَّالَ فَقَالَ «إِنِّی أُنْذِرُكُمُوهُ، وَمَا مِنْ نَبِیٍّ إِلاَّ قَدْ أَنْذَرَهُ قَوْمَهُ، لَقَدْ أَنْذَرَهُ نُوحٌ قَوْمَهُ، وَلَكِنْ سَأَقُولُ لَكُمْ فِیهِ قَوْلاً لَمْ یَقُلْهُ نَبِیٌّ لِقَوْمِهِ، تَعْلَمُونَ أَنَّهُ أَعْوَرُ وَأَنَّ اللَّهَ لَیْسَ بِأَعْوَرَ». [ر ۳۱۵۹]

دا تعلیق د اول سند سره موصول دې په دې کښې د ابن صیاد د قصې د دریمې حصې بیان دې.

**دمذکوره تعلیقات تخریج:** حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه مذکوره دریواړه تعلیقات مسند

---

۱) الهدایة للعلامة المرغینانی: ۳۴۹/۴ کتاب السیر باب أحکام المرتدین. إدارة القرآن کراچی. والبحرالرائق: ۲۳۲/۵ کتاب السیر أحکام المرتدین.

۲) عمدة القاری: ۴۱۷/۱۴.

احمد بن حنبل كښې عن معمر عن الزهرى عن سالم په طريق باندې موصولاً نقل دى (۱)

## باب ۱۷۵: قول النبى ﷺ لليهود: (أسلموا تسلموا)

**د ترجمة الباب مقصد** - د دې باب لاندې امام بخارى رحمه الله دا خودل غواړى چه يهودوته د اسلام دعوت وركول د سنت نه ثابت دى رسول اكرم ﷺ د عربو يهودو ته د اسلام دعوت وركړو او ونى فرمائيل اسلموا تسلموا كه چرې تاسو اسلام راوړئى نو په دې بركت سره به د دنيا كښې د قتل او جزيه د ذلت نه او د آخرت د عذاب نه محفوظ شئى (۲)

**اوس سابق باب سره مناسبت** - د تير باب لاندې دا خودلې شوى دى چه د جهاد په دوران كښې لويو سره نابالغ ماشومان هم په قيديانو كښې شامل وى داشك لرى كولو د پاره چه آيا نابالغ ماشومانو ته د اسلام دعوت وركول ثابت دى كه نه؟ امام بخارى رحمه الله يو مستقل باب قايم كولو سره د حديث نه ثابته كړې ده چه نابالغ ته هم د اسلام دعوت وركول منصوص دى ښكاره خبره ده چه په قيديانو كښې نابالغ مشركانو په شان يهوديان هم شامل كيدې شى امام بخارى رحمه الله باب هل يعرض الاسلام على الصبى؟ مناسبت سره يهودو سره متعلق هم يو مستقل باب قايم كولو سره دا وضاحت فرمائيلې چه دوى ته هم د اسلام دعوت وركول سنت نه ثابت دى

قَالَهُ الْمَقْبُرِىُّ عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ. [ر: ۲۹۹۶]

دلته امام بخارى رحمه الله حديث نه دې نقل كړې وړاندې كتاب الجزيه كښې باب إخراج اليهود من جزيرة العرب لاندې امام بخارى رحمه الله دا تعليق عن الليث، عن سعيد المقبرى عن ابيه، عن أبى هريرة رضى الله عنه په طريق سره موصولاً روايت كړې دې (۳) په دې به تفصيلى بحث ان شاء الله هم هتله كيږى دې نه علاوه كتاب الاكراه (۴) او كتاب الاعتصام (۵) لاندې هم په دې سند سره دا تعليق موصولاً نقل كړې شوې دې (۶)

## باب ۱۷۶: إذا أسلم قوم فى دار الحرب، ولهم مال وأرضون، فهى لهم

**د ترجمة الباب مقصد** - د دې ترجمة الباب نه د امام بخارى رحمه الله مقصد دا دې چه په دار الحرب باندې غلبه او استيلاء نه باوجود د اسلام راوړونكو حربيانو منقوله اوغير منقوله جائيداد به

---

(۱) مسند أحمد بن حنبل رحمه الله ۱۴۹/۲ وتغليق التعليق لابن الحجر رحمه الله: ۴۵۹/۳.

(۲) عمدة القارى: ۴۲۰/۱۴ قال العينى رحمه الله أى هذا باب فى ماذكرمن قول النبى صلى الله تعالى عليه وسلم لليهود: أسلموا بفتح الهمزة من الاسلام. قوله: تسلموا. بفتح التاء من السلامة أى تسلموا فى الدنيا من القتل والجزية. وفى الاخرة من العقاب والخلود فى النار.

(۳) كتاب الجزية باب إخراج اليهود من جزيرة العرب رقم: ۳۱۶۷ وعمدة القارى وفتح البارى: ۲۰۶/۶ والابواب والتراجم ص: ۴۰۳.

(۴) صحيح بخارى كتاب الاكراه باب فى بيع المكره ونحوه فى الحق وغيره رقم: ۲۹۴۴.

(۵) صحيح البخارى كتاب الاعتصام بالكتاب والسنة باب وكان الانسان أكثر شئ جدلا رقم: ۷۳۴۸.

(۶) تغليق التعليق للحافظ ابن حجر رحمه الله ۴۵۹/۳.

هم دعوى په قبضه اوملكيت كښې وى حمله كونكى مسلمانانو دعوى املاك د غنيمت مال كنړلوسره قطعا په خپل تصرف كښې نه شى راوستې دراصل امام بخارى رحمه الله دلته په احناف رد كړې دې (۱) د دې تفصيل وړاندې راځى

احديث ۲۸۹۳ (۲) حَدَّثَنَا مَحْمُودٌ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عَلِيِّ بْنِ حُسَيْنٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَيْنَ تَنْزِلُ غَدًا فِي حَجَّتِهِ. قَالَ «وَهَلْ تَرَكَ لَنَا عَقِيلٌ مَنْزِلاً». ثُمَّ قَالَ نَحْنُ نَازِلُونَ غَدًا بِخَيْفِ بَنِي كِنَانَةَ الْمُحَصَّبِ، حَيْثُ قَاسَمَتْ قُرَيْشٌ عَلَى الْكُفْرِ». وَذَلِكَ أَنَّ بَنِي كِنَانَةَ حَالَفَتْ قُرَيْشًا عَلَى بَنِي هَاشِمٍ أَنْ لاَ يُبَايِعُوهُمْ وَلاَ يُئْوُوهُمْ. قَالَ الزُّهْرِيُّ وَالْخَيْفُ الْوَادِي. [ر: ۱۵۱۱]

## رجال الحديث

① **محمود** - محمود بن غيلان العدوى المروزى دې د دوى حالات كتاب مواقيت الصلوة باب النوم قبل العشاء لمن غلب لاندې تيرشوى دى.

② **عبدالرزاق** - داابوبكر عبدالرزاق بن همام بن نافع صنعانى يمانى رحمه الله دې ددوى تذكره كتاب الايمان باب حسن إسلام المرء لاندې تيره شوې ده (۳)

③ **معمر** - داابوعروه معمربن راشد ازدى بصرى رحمه الله دې ددوى تذكره بدء الوحى پنځم حديث لاندې تيره شوې ده (۴)

④ **زهرى** - دامشهورمحدث ابوبكر محمدبن مسلم بن عبيدالله بن عبدالله بن شهاب زهرى المدنى رحمه الله دې ددوى حالات بدء الوحى كښې دريم حديث لاندې تيرشوى دى (۵)

⑤ **على بن حسين** - دامشهورعابد اوفقيه زين العابدين على بن حسين بن على بن ابى طالب الهاشمى دې ددوى حالات كتاب التهجد باب تحريض النبى صلى الله تعالى عليه وسلم على قيام الليل لاندې تيرشوى دى.

⑥ **عمروبن عثمان بن عفان** - داعمرو بن عثمان بن عفان اموى مدنى قرشى رحمه الله دې د دوى تذكره كتاب الحج باب توريث دور مكة وبيعتها وشرائها لاندې تيرشوى دى

⑦ **اسامه بن زيد** - دا اسامه بن زيد بن حارثه كليسى مدنى رحمه الله دې د دوى تذكره كتاب الوضوء باب إسباغ الوضو لاندې تيره شوې ده

---

(۱) فتح البارى: ۶/۲۰۶ والابواب والتراجم للكاندهلوى ص: ۲۰۳.

(۲) قد سبق تخريج الحديث فى كتاب الحج. باب توريث دُور مكة وبيعها وشرائها رقم: ۱۵۸۸.

(۳) كشف البارى: ۲/۴۲۱.

(۴) كشف البارى: ۱/۴۶۵.

(۵) كشف البارى: ۱/۳۲۶.

**قوله** قلت یارسول الله، أین تنزل غدا؟ في حجته - اسامه بن زید رضی الله عنه وائی چه ما د حجة الوداع په موقع باندې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس اوکړو صباله به تاسو چرته قیام کوئی؟

**قوله** قال: وهل ترك لنا عقیل منزلا؟ ثم قال: نحن نازلون غدا بخیف بني کنانة المحصب حیث قاسمت قریش علی الکفر - رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل عقیل زمونږ د پاره چرته یومکان پریخودې هم دې؟ بیائې اوفرمائیل صبابه زمونږ قیام په خیف بني کنانه مقام محصب کښې وی چرته چه قریشو په کفرباندې عهد کړې وو مطلب دادې په دې مقام باندې بنوکنانه او قریشو د بنوهاشم خلاف په دې خبره باندې عهد کړې وو چه هغوی سره به د اخستلو خرڅولو معاملات کیږی اونه به هغوی ته پناه ورکولې شی دې د پاره چه په بنوهاشم باندې د دین اسلام د اشاعت اوترویج تولې لارې بندې کړې شی

المحصب - دا د مصدر تصحیب نه د اسم مفعول صیغه ده او د ماقبل جملې بخیف بني کنانة نه عطف بیان یا بدل دې (۱)

قاسمت - په معنی حالفت د قاف فتحه سره د دې مصدر قسامة دې د یمین اوقسم په معنی کښې دې (۲)

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د نیکه عبدالمطلب د وفات نه پس د هغه د جائیداد وارث د هغه خامن اوحضورپاك تره ابوطالب جوړشوې وو د ابوطالب څلور خامن وو طالب عقیل حضرت جعفر او حضرت علی رضی الله عنه آخری دواړه حضرات خو د سابقین اولین نه وو عقیل رضی الله عنه د فتح مکه نه پس اسلام راوړلې وو او طالب روستو د کفر په حالت کښې اووژلې شو

چونکه د کافروارث مسلمان نه شی جوړیدې او حضرت جعفر اوحضرت علی رضی الله عنهما دواړه د ابوطالب د وفات په وخت مسلمانان شوی وو په دې وجه دوی د ابوطالب وارثان جوړنه شو طالب اوعقیل رضی الله عنه د هغوی د میراث مالك جوړشوی وو بیا روستو عقیل رضی الله عنه تول مکانات ابوسفیان په لاس خرڅ کړل (۳) وهل ترك لنا عقیل منزلا سره رسول اکرم صلی الله علیه وسلم هم دې طرف ته اشاره کړې ده اوهم په دې سره امام بخاری رحمه الله خپله مدعی ثابتوی.

**د حربی مسلمان د منقوله اوغیرمنقوله اموالوحکم:** - د فتح مکه په موقع باندې د مسلمانانو د غلبه او استیلاء نه باوجود د اسلام راوړلونه وړاندې کوم جائیدادچه د عقیل رضی الله عنه ملکیت کښې پاتې وو په هغې باندې د هغه ملکیت د اسلام راوړلونه پس هم وو په دې وجه د هغه د تصرف اعتبارکولوسره رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل وهل ترك لنا عقیل شیئ؟ د حضورپاك د ارشاد منشادا وه چه که د عقیل جائیداد وې کوم چه هغه د ابوسفیان رضی الله عنه په لاس خرڅ کړې وو نوهغه به پخپله د هغې وارث وو د امام بخاری رحمه الله په نیزدې نه ثابته شوه چه دارالحرب باندې

---

۱) عمدة القاري: ۴۲۱/۱۴.

۲) عمدة القاري: ۴۲۱/۱۴.

۳) کشف الباري: کتاب المغازي ص: ۵۱۱.

مسلمانانو غلبه او استیلاء نه پس د حربی مسلمان املاک محفوظ کیږی اوهم دهغه په تصرف کښې به وی غانمین ته دا املاک په خپل تصرف کښې راوستل جائز نه وی
امام قرطبی رحمه الله فرمائی چه دې روایت نه ممکن دی چه د امام بخاری رحمه الله مراد دا دې چه کله رسول اکرم ﷺ په اهل مکه باندې کله چه هغوی اسلام نه وو راوړې احسان کولو سره دهغوی مالونو اوکورونوباندې دهغوی قبضه باقی اوساتله نود مسلمان کیدونکو قبضه دهغوی په املاک وغیره باندې په طریقه اولی سره په خانی پاتې کیدل پکاردی
چنانچه فتح الباری کښې دی يحتمل أن يكون مراد البخاری أن النبی صلی الله تعالی عليه وسلم من علی اهل مكة بأموالهم ودورهم من قبل أن يسلموا فتقرير من أسلم يكون بطريق الاولی (١)
**امام شافعی رحمه الله، اشهب رحمه الله او سحنون رحمه الله مسلک** ددې حضراتو رائې هم دغه ده چه په دارالحرب باندې دمسلمانانو دحملې کولو نه باوجود منقوله او غیرمنقوله املاک باندې دمسلمان حربی ملکیت هم هغه شان باقې وی اودهغوی نابالغ ماشومان غلامان جوړول جائزنه دی ځکه چه هغوی په اسلام کښې دخپل پلار تابع دی شرح ابن بطال کښې دی قال الشافعی وأشهب وسحنون انه قد أحرز ماله وعقاره حيث كان وولده الصغار. لأنهم تبع لأبيهم فی الاسلام (٢)
**دامام مالک رحمه الله مسلک** - د امام مالک رحمه الله په نیز دا املاک د دار تابع کیدوسره به مال غنیمت جوړیږی قال مالك: أهله وماله وولده فيها فئ علی حكم البلاد (٣)
**د طرفین رحمهما الله مسلک** - امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله فرمائی چه په منقوله څیزونو اونابالغ اولاد باندې به د حربی مسلمان تصرف په خانی وی خو غیرمنقوله املاک به مال غنیمت شی البحر الرائق کښې علامه ابن نجیم رحمه الله فرمائی عند أبی حنيفة ومحمد يصير ماله فيئا وإنما يحرز نفسه وماله. (٤)
په دارالحرب کښې مقیم اسلام راوړونکی نفس د قبولیت اسلام د وجې نه محترم وی په دې وجه دهغه مال منقول هم محترم دې دهغه احترام د وجې مال منقول غنیمت جوړول جائزنه دی او نابالغ اولاد حکماً دپلار تابع وی په دې وجه هغه غلامان جوړول جائزنه دی د امام سرخسی رحمه الله په المبسوط کښې دی وإذا أسلم الحربی فی دارالحرب ثم ظهر المسلمون علی تلك الدار ترك له ما فی يده ومن ماله، ورقيقه وولده الصغار، لان أولاده الصغار صار والمسلمين بإسلامه تبعا، فلا يسترقون والمنقولات فی يده حقيقة وهی يد محترمة لاسلام صاحبها فلا يتملك ذلك عليه بالاستيلاء (٥)

---

١) فتح الباری: ٦/٢١٦.
٢) شرح ابن بطال: ٥/٢١٩ وعمدة القاری: ١٤/٤٢٠ وفتح الباری: ٦/٢١٦ وفيض الباری للعلامة الكشميری: ٣/٤٥٦
٣) شرح ابن بطال: ٥/٢١٩ وعمدة القاری: ١٤/٤٢٠.
٤) البحر الرائق: ٥/١٤٧ والمبسوط للسرخسی: ١٠/٥٤ وإعلاء السنن: ١٢/١٤٠.
٥) المبسوط للامام الاسرخسی رحمه الله ١/٥٤ الجزء العاشر كتاب السير والبحر الرائق لعلامة ابن نجيم: ٥/١٤٧.

البته د دغه حضراتو په نیز کافره ښځه او نابالغ اولاد غلام جوړولې شي مبسوط سرخسي او علامه ابن نجیم په بحر الرائق کښې دی چه د حامله ښځې حمل هم د مال منقول تابع کیدوسره شرعًا د غلام په حکم کښې دې (۱)

خو د مسلمان حربي کوم مال منقول چه مسلمان یا ذمي سره د امانت په توګه موجود وی په هغې به د هغه ملکیت برقرار وی ځکه چه دا مال په داسې لاس کښې دې د کوم قبضه چه شرعًا صحیح او معتبرده اودا قبضه په دار الحرب باندې د مسلمانانو د حملې او غالب راتلوسره ختمیږی نه امام سرخسي رحمه الله فرمائی. وأن كان أودع شيئًا من ماله مسلمًا أو ذميًا فذلك المال لايكون فيئًا، لان يد المسلم والذمي يد صحيحة على هذا المال فتكون مانعة إحراز المسلمين إياها (۲)

البته کافر حربي سره کیخودې شوې امانت به مال غنیمت جوړیږی. ځکه چه په دې امانت باندې د هغه قبضه معتبرنه ده. د دې وجه داده چه د مسلمانانو د حملې کولو په تنیجه کښې د هغه د ذاتي ملکیت څیزونه هم مال غنیمت جوړیږی. که د اسلام مجاهدین د هغه مال غنیمت جوړول غواړی نو د کافرحربي قبضه شرعًا مانع نه شي جوړیدې. په دې وجه هغه سره د کیخودې شوی مال ودیعت هم د غه حیثیت دې کوم چه مجاهدین اسلام مال غنیمت جوړول غواړی نو د هغه قبضه د هغوی د پاره مانع کیدې نه شي. کله چه مجاهدین حمله اوکړی نو چه څنګه د ده ذاتي مال غنیمت جوړیږی دغه شان هغه سره موجود مال هم په غنائم کښې شمیرلې کیږی.

امام سرخسي رحمه الله په المبسوط کښې تحریر فرمائی: وأن كان أودع شيئًا من ماله حربيًا فذلك المال فئ في ظاهر الرواية. وجه ظاهر الرواية أن يد المودع في هذا المال ليست بيد صحيحة، ألا ترى أنها لاتكون دافعة لاغتنام المسلمين عن سائر أمواله. فكذلك عن هذه الوديعة وإذا لم تكن يده معتبرة كان هذا، والمال الذي لم يودعه أحد سواء. (۳)

**د امام ابویوسف رحمه الله مسلک:-** د امام ابویوسف رحمه الله په نیز مال منقول او مال غیرمنقول دواړو یو حکم دې لهٰذا د هغوی په نیزبه په دې مالونو باندې د مسلمان حربي ملکیت په خائې وی. (۴)

**د امام ابویوسف رحمه الله استدلال او د هغې جواب:-** د هغوی استدلال د محمد بن اسحاق د دې روایت نه دې چه کله رسول الله ﷺ د بنو قریظه محاصره اوکړه نو په هغوی کښې بعض کسانو اسلام قبول کړو رسول الله ﷺ د اسلام د قبلولو د وجې نه محصور (حربي) د مسلمانانو مال اوځان محفوظ او مامون ګرځولو حکم اوفرمائیلو د روایت الفاظ دادی.

عن محمد بن اسحاق رحمه الله أن نفرًا من بني قريظة أسلموا حين كان رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم

---

(۱) المبسوط للامام الاسرخسي رحمه الله ۱/ ۵٤ الجزء العاشر كتاب السير والبحر الرائق لعلامة ابن نجيم: ۱٤۷/۵.
(۲) المبسوط للامام الاسرخسي رحمه الله ۱۰/ ۵٤ –۵۵.
(۳) المبسوط للامام الاسرخسي رحمه الله ۱۰/ ۵٤ –۵۵ كتاب السير.
(۴) إعلاء السنن: ۱۲/ ۱۳۹ شرح السير للامام محمد رحمه الله ۱۰/ ۶۶ –۶۷ والمبسوط للسرخسي: ۱۰/ ۵٤.

محاصر البنی قریظة فاحرزوا بذلك أموالهم وأنفسهم (۱)
امام ابویوسف رحمه الله فرمائی وعامة أموالهم الدور والاراضي.. مطلب دادې چه محمدبن اسحاق رحمه الله په روایت کښې دلفظ اموال نه کورونه اوزمکې وغیره مراد دی ځکه چه عموماً دهغوی مالونه به هم دغه څیزونه وو ددې استدلال جواب دادې چه غیرمنقوله مال یعنی کورونه باغونه او زمکو باندې ملکیت حکماً ثابتیږی اودارالحرب دا رالاسلام نه دې چرته چه احکام جاری شی په دې وجه په غیرمنقول مال باندې دمسلمان حربی د ملکیت اعتبار د مسلمانانو د حملې کولونه وړاندې هم نه شی کیدې لهٰذا د مسلمانانو دحملې کولو په نتیجه کښې د دارالحرب په غیرمنقوله املاك باندې د حربیانو ملکیت باقی نه پاتې کیږی هغه به مال غنیمت جوړیږی (۲)
**دَ طرفینو استدلال:-** دَ دې حضراتو دلیل دَ ابن شهاب زهری رحمه الله دا مرسل روایت دې حدثنا حفص بن غیاث عن ابن أبی ذئب عن الزهری قال: قضیٰ رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم فیمن أسلم من البحرین أنه قد أحرز دمه وماله إلا أرضه فانها فیئ للمسلمین، لانهم لم یسلموا وهم ممتنعون. (۳)
روایت کښې دی چه رسول الله ﷺ دَ بحرین اسلام راوړونکو باره کښې فیصله اوکړه چه هغوی دَخپل ځان اومال حفاظت خو اوکړو البته زمکې به دَ مسلمانانو په مال غنیمت کښې شمیرلې کیږی ځکه چه هغه خلقو دَعصمت په حالت کښې ایمان نه دې راوړې.
دَ ابن شهاب زهری رحمه الله دَدې مرسل روایت تائید دَحضرت عمربن عبدالعزیز رحمه الله دَدې اثر نه هم کیږی کوم چه دَ یحییٰ بن آدم په کتاب الخراج کښې دې: حدثنا إسماعیل بن عیاش الشامی عن عبدالله البهرانی عن عمربن عبدالعزیز أنه کتب: من أسلم من أهل البحرین فله ما أسلم علیه من أهل ومال، وأما داره وأرضه، فانها کانت فی فیئ الله علی المسلمین. (۴)
مطلب دادې چه دَ اهل بحرین نه کوم خلق مسلمانان شوی داسې اوګڼړئی چه هغوی دَخپل اهل وعیال اومال سره مسلمانیدوسره محفوظ شو. البته دَهغوی مکانات اوزمکې دَ الله تعالی دَ طرف نه دَمسلمانانو دَپاره مال فیئ دې.
دَ اصول فقه په کتابونو کښې تصریح ده چه که دَ مرسل په تائید کښې داسې صحابی یا تابعی اثر نقل وی چه په شرعی احکامو کښې ژور بصیرت لری نو دَداسې صحابی یا تابعی اثر به په اتفاق دَاحتجاج قابل وی.(۵) دَ عمر بن عبدالعزیز رحمه الله تقویٰ تدین اودَهغوی فقهی بصیرت باندې دَ فقهاؤ اتفاق دې. چونکه دَ زهری رحمه الله دَ مرسل په تائید کښې دَهغوی فتویٰ اواثر

---

۱) إعلاء السنن: ۱۳۹/۱۲ والمبسوط للسرخسی: ۵٤/۱۰.
۲) إعلاء السنن: ۱۳۹/۱۲ والمبسوط للسرخسی: ۵٤/۱۰.
۳) أخرجه یحییٰ بن آدم فی کتاب الخراج انظر إعلاء السنن: ۱٤٦/۱۲.
٤) إعلاء السنن: ۱۳۹/۱۲.
۵) الوجیز فی أصول الفقه: ٤۷٤/۱ وإعلاء السنن: ۱٤٦/۱۲.

موجود دي په دې وجه دامام اعظم رحمه الله او امام محمد رحمه الله استدلال زيات قوى دې [1]
**امام شافعي رحمه الله، اشهب رحمه الله او سحنون رحمه الله دلائل اودهغې رد** د دې حضراتو زانې ود چه حديث باب كښې رسول الله ﷺ دحضرت عقيل رضي الله عنه تصرف په خانې اوساتلو په دې وجه د مسلمان حربى تصرف اوملكيت دې په خانى اوساتلې شى په دارالحرب باندې د اهل اسلام غالب راتلوسره دهغوى ملكيت نه ختميږى ددې استدلال مختلف جوابات دى ① رسول الله ﷺ د حسن اخلاق د وجى نه دتره د خونى تصرف كښې دخل كول مناسب اونه گنړل [2]
② د رسول الله ﷺ په دې طرز عمل سره تاليف قلب مقصود وو [3]
③ په دې سره دا يقين وركول مقصدوو چه څنګه د جاهليت د زمانې نكاح په خانى وى هغه شان به دهغه وخت تصرفات هم معتبر او په خانى وى [4]
④ د صلح په نتيجه كښې فتح كيدونكې علاقې د اوسيدونكوزمكې باغونه اومكانونه بالاجماع مال غنيمت نه شى جوړيدې بلكه په هغې باندې داهل صلح ملكيت هم دمخكې په شان وى
د امام شافعي رحمه الله د مشهورقول مطابق مكه عنوتاً فتح شوې نه ود بلكه صلحاً فتح شوې وه [5] دمكې د فتح سره متعلق دامام شافعي رحمه الله ددې قول نه معلوميږى چه حديث باب پخپله د هغوى دپاره دليل نه شى جوړيدې څكه چه صلحاً فتح كيدونكې علاقومنقول اوغيرمنقول املاك باره كښې د امام شافعي رحمه الله سره د ائمه ثلاثه هم اختلاف نشته دټولو په نيزهغه دمسلم حربى ملكيت كښې پاتې كيږى. اختلاف خو عنوتاً فتح كيدونكې علاقې مال غيرمنقول باره كښې دې

**ترجمة الباب سره دحديث مناسبت** علامه عينى رحمه الله فرمائى چه ترجمة الباب سره هل ترك لنا عقيل منزلامناسبت دې په كوم سره چه امام بخارى رحمه الله دااثابت كړى دى چه كله رسول الله ﷺ په حالت كفركښې دحضرت عقيل رضي الله عنه دتصرف اعتبارا وكړونودا اسلام راوړلونه پس خواعتبار په طريقه اولى كيدل پكاردى لكه چه دترجمة الباب مدعى هم دې نه ثابته كړې شوې ده [6]
حضرت شيخ الحديث زكريا رحمه الله فرمائى حقيقت دادې امام بخارى رحمه الله د خپلې مدعى ثابتولودپاره ترجمة الباب سره مناسبت لرونكې صحيح حديث نه دې نقل كړې [7] د حافظ

---

[1]) پخپله دامام شافعي رحمه الله په نيزچه په مذكوره مسئله كښې د طرفين خلاف دې دامام زهرى مرسل روايات مقبول او قابل احتجاج دى اوګورئ الوجيزفى أصول الفقه: ٤٧٥/١.
[2]) فتح البارى:١٥/٨ كتاب المغازى وفتح الملهم للعلامة شبيرأحمدعثمانى رحمه الله ٣٨٢/٣كتاب الحج باب نزول احاج بمكع وتوريث دورها.
[3]) فتح البارى:١٥/٨ كتاب المغازى وفتح الملهم للعلامة شبيرأحمدعثمانى رحمه الله ٣٨٢/٣.
[4]) فتح البارى:٨ ١٥ كتاب المغازى وفتح الملهم للعلامة شبيرأحمدعثمانى رحمه الله ٣٨٢/٣.
[5]) فتح البارى:٨ ١٣كتاب المغازى.
[6]) عمدة القارى:١٤ ٤٢١.
[7]) الابواب والتراجم للمحدث الكاندهلوى: ص:٢٠٣.

صاحب رائې هم دغه ده هغوی لیکی چه مسند احمد بن حنبل کښې صخر بن علیه په طریق سره چه کوم روایت نقل کړې شوې دې هم دغه د ترجمة الباب سره مناسب دې [1] مسند احمد کښې دی عن صخر بن علیة المجلی قال: فر قوم من بنی سلیم عن أرضهم فأخذتها، فاسلموا وخاصمونی الی النبی صلی الله تعالی علیه وسلم، فردها علیهم وقال: اذا أسلم الرجل فهو أحق بارضه وماله. [2] صخر بن علیه رضی الله عنه فرمائی چه د بنوسلیم یود قبیلې خپله زمکه پریخوده اوتختیدل هغه زمکه ما واخستله روستو د قبیلې خلقو اسلام راوړو نودهغې د واپس کولو مطالبه کولوسره نی زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر کړم حضورپاک هغه زمکه هغوی ته واپس کړه او ارشاد نې اوفرمائیلو کله چه سړې مسلمان شی نو په خپله زمکه او مال باندې هم دهغه حق وی
حافظ ابن حجر رحمه الله په نیزیه مذکوره روایت کښې اذا اسلم الرجل فهوأحق بارضه وماله د ترجمة الباب سره مناسبت دې

[حدیث ۲۸۹۴] [3] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ-رضی الله عنه-اسْتَعْمَلَ مَوْلًى لَهُ يُدْعَى هُنَيًّا عَلَى الْحِمَى فَقَالَ يَا هُنَيُّ، اضْمُمْ جَنَاحَكَ عَنِ الْمُسْلِمِينَ، وَاتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ، فَإِنَّ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ مُسْتَجَابَةٌ، وَأَدْخِلْ رَبَّ الصُّرَيْمَةِ وَرَبَّ الْغُنَيْمَةِ، وَإِيَّايَ وَنَعَمَ ابْنِ عَوْفٍ، وَنَعَمَ ابْنِ عَفَّانَ، فَإِنَّهُمَا إِنْ تَهْلِكْ مَاشِيَتُهُمَا يَرْجِعَا إِلَى نَخْلٍ وَزَرْعٍ، وَإِنَّ رَبَّ الصُّرَيْمَةِ وَرَبَّ الْغُنَيْمَةِ إِنْ تَهْلِكْ مَاشِيَتُهُمَا يَأْتِنِي بِبَنِيهِ فَيَقُولُ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ. أَفَتَارِكُهُمْ أَنَا لاَ أَبَا لَكَ فَالْمَاءُ وَالْكَلأُ أَيْسَرُ عَلَيَّ مِنَ الذَّهَبِ وَالْوَرِقِ، وَايْمُ اللَّهِ، إِنَّهُمْ لَيَرَوْنَ أَنِّي قَدْ ظَلَمْتُهُمْ، إِنَّهَا لَبِلاَدُهُمْ فَقَاتَلُوا عَلَيْهَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ، وَأَسْلَمُوا عَلَيْهَا فِي الإِسْلاَمِ، وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْلاَ الْمَالُ الَّذِي أَحْمِلُ عَلَيْهِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ مَا حَمَيْتُ عَلَيْهِمْ مِنْ بِلاَدِهِمْ شِبْرًا.

## رجال الحدیث

① **اسماعیل**:- دا اسماعیل بن ابی اویس ابن مالک المدنی رحمه الله دې. د دوی تذکره کتاب المساقاة، باب شرب الناس وسقی الدواب لاندې تیره شوې ده.
② **مالک**- دا امام مالک بن انس بن ابی عامر بن عمرو الاصبحی رحمه الله دې د دوی تذکره کتاب الایمان باب من الدین الفرار من الفتن لاندې تیره شوې ده [4]
③ **زیدبن اسلم**:- دا ابواسامه یا ابوعبدالله زیدبن اسلم قرشی عدوی مدنی رحمه الله دې د دوی

[1] فتح الباری:۶/۲۱۶.
[2] فتح الباری:۶/۲۱۶.
[3] تفردبه البخاری. انظر تحفة الاشراف بمعرفة الاطراف للمزی:۸/۸ رقم:۱۰۳۹۵.
[4] کشف الباری:۲/۸۰.

تذکره هم کتاب الایمان کښې تیره شوې ده (۱)
په روایت کښې دی چه حضرت عمر رضی الله عنه هُنی نوم خپل آزاد کړې غلام ته (ربذه) د مال د څرن د ځائی عامل مقرر کړو نوهغه ته نی هدایت اوکړو چه مسلمانانوسره په رفق اونرمئی سره ملاویږه دَمظلوم د بد دعانه ویریږه ځکه چه د مظلوم دعا رد کیږی نه

هُنی :- (بضم الهاء فتح النون وتشدید الیاء) دادَ حضرت عمر رضی الله عنه آزاد کړې شوې غلام وو حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه فضل اوکمال کښې دَ هغه درجه اوچته وه کُنی دحضرت عمر رضی الله عنه غوندې جوهرشناس خلیفه اسلام به دَ ربذه د چراګاه هغه کله هم عامل نه جوړولو (۲)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه هنی دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم زمانه خولیدلې ده لیکن مؤرخینوکښې چاهم هغه ته صحابی نه دی وئیلی (۳) په صحیح بخاری کښې هنی ذکر د باب هم په دې یوروایت کښې شوې دې. باقی امام بخاری رحمه الله په خپل صحیح کښې دهغه هیڅ یوروایت نه دې نقل کړې (۴)

الحِمٰی :- (بکسرالحاء المهملة وفتح المیم مقصورا) چراګاه یعنې دَ څرن ځائی ته وائی پخوانئی زمانه کښې به دَمالدارانو او اثرلرونکوخلقو خاص دَځاروودَڅرن ځایونه وو په کوم کښې چه به دَ نوروخلقودَځاروو دَ څرولواجازت نه وو حمی هم دې ته وائی (۵)
په روایت کښې چه دَ کوم چراګاه ذکر دې دې نه د ربذة چراګاه مراد ده (۶) معجم البلدان کښې یعقوب حموی رحمه الله لیکلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې چراګاه کښې دَ اوسیدوخواهش ښکاره کړې وو اودَ ربذه تعریف کولوسره ئی فرمائیلی ووکه چرې دلته دَ مارانو کثرت نه وو نو دَ اوسیدودپاره ډیر مناسب ځائی وو (۷)

وأدخل رب الصریمة ورب الغنیمة وإیای ونعم بن عوف ونعم بن عفان فانهما إن تهلك ماشیتهما یرجعان إلی نخل وزرع، وأن رب الصریمة ورب الغنیمة، ان تهلك ماشیتهما یاتنی ببنیه فیقول یاأمیر المؤمنین، أفتارکهم أنا؟ لا أبالك فالماء والکلأ أیسر علی من الذهب والورق.
حضرت عمر رضی الله عنه هنی ته هدایت کولوسره نور اوفرمائیل چه کوم خلق دَ اوښانواو چیلو مالکان دی دهغوی په رمو کښې دَ جائزې اخستلودَ پاره ورځه دې دَپاره چه دَ صدقه په وصول کولوکښې دَ چاحق اونه وهلې شی. دَعبدالرحمن بن عوف او عثمان بن عفان دَ ځاروو باره کښې احتیاط کوه ځکه چه په معاشی لحاظ سره دا دواړه حضرات مستحکم او مالداران دی

---

(۱) کشف الباری: ۲۰۳/۲.
(۲) عمدة القاری: ۲۲/۱٤ ٤وفتح الباری: ۲۱۷/٦.
(۳) عمدة القاری: ۲۲/۱٤ ٤وفتح الباری: ۲۱۷/٦.
(٤) عمدة القاری: ۲۲/۱٤ ٤وفتح الباری: ۲۱۷/٦.
(۵) معجم البلدان: ۳۰۷/۲ (المادة: ح.م)
(٦) عمدة القاری: ٤۲۲/۱٤.
(۷) معجم البلدان: ۳۰۸/۲قوله صلی الله تعالی علیه وسلم: لنعم المنزل الحمی. لولا کثرة حیانة.

هسې نه چه د امارت د وجې په چراګاه کښې دهغوی د څارووزیات رعایت کولوسره د غریبانانو حق اونه وهلې شي ځکه چه د دوی څاروی هلاك هم شي نودخپلو کهجوروړد باغونو نه او د فصلونونه هغوی د خپل رزق اومعاش انتظام کولې شي خوچه کوم غریبانانو د یوځو اوښانو چیلو خاوندان دی که دهغوی څاروی (ګیانه ملاویدو اوخیال نه ساتلود وجې) هلاك شي نوهغوی به خپل اولاد ماله راولي واني به اې امیرالمؤمنین (مونږ غریبانانو اومحتاج یوتاسو زمونږ دپاره د بیت المال نه وظیفه جاري کړنی)[۱] نوآیا هغوی به زه هیرکړم؟ نه (بلکه زه به دهغوی د معاش انتظام کوم) لهذا دهغوی د پاره د ګیا اوبوانتظام او آساني ورکول په سرو زرو او سپینو زرو د هغوی انتظام کولو نه بهتر او آسان دی

حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه عیني رحمه الله فرمائي عبدالرحمن بن عوف او عثمان بن عفان رضي الله عنهما نومونه حضرت عمر رضي الله عنه د مثال په توګه پیش کړی دی ځکه چه په صحابه کرامو کښې دا دواړه حضرات په معاشي لحاظ سره ښه مستحکم اوخوشحال وو[۲] د حضرت عمر رضي الله عنه منشاء داوه چه دهغوی څارود څرن د ځائي نه منع کړه یعنی ددوی په څارووو د نورو په مقابله کښې دومره توجو مه ورکود چه دغریبانواو حاجتمندو حق اووهلې شي ځکه چه که د غریبانو څاروي هلاك شي نودهغوی د معاش انتظام کولودپاره به بله لاړملاؤنه شي بغیرددې نه چه مونږ د بیت المال نه د هغوی دپاره په وظیفه باندې امداد اوکړو اوکه د ابن عوف او ابن عفان رضي الله عنهما څاروي هلاك هم شي نوهغوی د خپلو پټوفصلونو اود کهجورو دباغونونه خپل معاشي ضرورت پوره کولې شي[۳]

**الصریمة**:- په صاد ضمه او راء باندې فتحه سره دالصرمة تصغیردې. وړوکې رمې ته وائی ددې اطلاق د شلو نه تر دیرشو یا څلویښتو پورې اوښانو اوچیلو رمه باندې کیږی[۴]

**الغنیمة**:- دادَ غنم تصغیردې. ددې لفظ نه هم تقلیل عدد مراددې یعنی د چیلو وړه رمه[۵]

**إیاي**:- دا لفظ تحذیر دې قیاسًا إیاك وئیل پکاروو ځکه چه دنحوی قاعدې مطابق تحذیر د مخاطب کولې شی او إیای شاذ او قلیل الاستعمال دې. لیکن علامه عیني رحمه الله او حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه دتحذیر نسبت خپل ځان طرف ته کولوسره دراصل دحضرت عمر رضي الله عنه مقصد هم مخاطب خبردار کول وو او ډیره بلیغ پیرایه هم دغه ده. چنانچه عمدة القاري کښې

---

[۱]) عمدة القاري: ۴۲۲/۱۴ — ۴۲۳.

[۲]) دحضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه د مالدارنی قصه مشهوره ده د وفات نه پس چه کله د سرو زرو خښتې دهغه په بیبیانوتقسیم شوې نو د پرې کونکو په لاسونوکښې پولټی جوړې شوې په څلورو بیبیانو کښې هرې یوې ته اتیا اتیا زره اشرفئی ملاؤشوې اوګورئی هزار سال پهلی ص:۱۷۷ مؤلف مولانا مناظراحسن ګیلانی.

[۳]) فتح الباري: ۲۱۷/۶وعمدة القاري: ۴۲۲/۱۴.

[۴]) النهایة لابن الاثیر:۲۷/۳(المادة: ص ر م)والکرماني:۵۵/۱۳.

[۵]) عمدة القاري: ۴۲۲/۱۴.

دى وكان القياس ان يقول وإياك. لان هذه اللفظ للتحذير. وتحذير المتكلم نفسه شاذ عند النحاة. ولكنه بالغ فيه من حيث انه حذر نفسه. ومراده تحذير المخاطب. وهو ابلغ (١)

**قوله** وأيم الله إنهم ليرون أني قد ظلمتهم إنها لبلادهم فقاتلوا عليها في الجاهلية په خدائي هغوى به باوركوى چه ما هغوى سره ظلم كړې دې ځكه چه دا زمكې هم دهغوى علاقې دى د جاهليت په زمانه كښې هغوى ددې دپاره جنګونه كړى دى علامه عينى رحمه الله او حافظ ابن حجر رحمه الله تحرير فرمائى چه دې خلقو نه عبدالرحمن بن عوف او عثمان بن عفان رضي الله عنهما نه بلكه عام اهل مدينه مراد دى (٢)

**قوله** وأسلموا عليها في الإسلام - او اسلام راوړلو نه پس دهغوى په زمكوباندې دهغوى ملكيت په ځائى اوساتلې شو

**قوله** والذي نفسي بيده لولا المال الذي أحمل عليه في سبيل الله ما حميت عليهم من بلادهم شبرًا - دهغه ذات قسم د چا په قدرت كښې چه زما ځان دې كه هغه مال نه وو كوم چه په جهاد كښې د سورلئى په كار راځى نو ما به د هغوى په علاقو كښې په يوليشت زمكه باندې هم چراګاه نه جوړوله. د دغه مال نه هغه اوښان او اسونه مراد دى كوم چه په جهاد كښې د سورلئى په كار راځى. دحضرت عمر رضي الله عنه په دورخلافت كښې په مختلف ميدانونو او چراګاهونو كښې به څلويښت زره اوښان او اسونه څريدل (٣)

**ترجمة الباب سره دحضرت عمر رضي الله عنه د اثر مناسبت باندې اشكال** - امام بخارى رحمه الله دحضرت عمر رضي الله عنه په مذكوره اثر كښې **إنها لبلادهم فقاتلوا عليها في الجاهلية، وأسلموا عليها في الإسلام** سره ترجمة الباب ثابت كړې دې. ليكن حقيقت دادې چه ترجمة الباب سره ددې اثر هيڅ مناسبت نشته نه دا اثر داحنافو خلاف مستدل جوړيدې شى ځكه چه اهل مدينه اهل صلح وو په اثركښې د ربذه د چراګاه ذكردې دا د مدينې په حدود كښې شامل وو مونږ وړاندې خودلې دى چه د اهل صلح منقوله اوغيرمنقوله املاك په اتفاق سره غنيمت نه شى جوړيدې ددې دپاره **إنها لبلادهم فقاتلوا عليها في الجاهلية، وأسلموا عليها في الإسلام** نه دحضرت عمر رضي الله عنه دا وو چه د مدينې اوسيدونكو اهل اسلام سره صلح كړې وه اوداسلام راوړلو نه پس دهغوى په زمكو باندې دهغوى ملكيت په ځائى ساتلې شوې وو لهذا اوس به هم دا ملكيت په ځائى وى

بل دا چه د اهل مدينه په كومه حصه زمكه باندې حضرت عمر رضي الله عنه د څرن ځائى جوړ كړې وو هغه شاړه او خرابه زمكه وه. حضرت عمر رضي الله عنه دا په كار راوستلوسره د ځاروو د څرن دپاره خاص كړې وه په دې وجه هغه د مسلمانانو دعام مفاد دپاره د حكومت په كنټرول كښې راوستلې شوه شرعًا حاكم وخت ته ددې اختيارحاصل دې بفرض محال كه داخبره اومنلې

---

(١) فتح البارى: ٢١٧/٦ وعمدة القارى: ٤٢٢/١٤.

(٢) عمدة القارى: ٤٢٣/١٤ وفتح البارى: ٢١٨/٦.

(٣) عمدة القارى: ٤٢٣/١٤.

نى چه مدينه عنوة فتح شوې وه نوبيا هم ددې اثر نه دا نه ثابتيږي چه د فتح نه وړاندې د مدينې اسلام راوړونكو خپل جائيدادونو باندې دعوى ملكيت او تصرف په څنګ کښې تللي شوى وو

حديث چه علامه ظفر احمد عثمانى رحمه الله تحرير فرمائي ولا حجة فيه أصلا - اى فى أثر عمر رضي الله عنه - فان المريزة من عمل المدينة كما قاله المجد، وأهل المدينة قد أسلموا عفوا وطوعا وكانت أموالهم. وهذا معنى قول عمر: وأسلموا عليها فى الاسلام ولا نزاع فى أهل الصلح........ وإن سلمنا أنها فتحت عنوة فلا دليل أن بعض أهلها قد أسلموا قبل الفتح وأقر واعلى أرضهم وديارهم، ومن ادعى فليات على ذلك ببرهان. [1]

**دحضرت انورشاه كشميرى رحمه الله اشكال** حضرت علامه انورشاه كشميرى رحمه الله عجيبه نكته بيان كړې ده دامام بخارى رحمه الله په مذكوره ترجمه باندې اشكال كولوسره فرمائي چه د حضرت عمر رضي الله عنه ددې اثر ترجمه سره هيڅ مناسبت نشته دترجمة الباب لاندې چه كومه زيربحث ده هغه د دارالكفر د بعض خلقو مسلمانان كيدو سره متعلق ده او دحضرت عمر رضي الله عنه اثر هغه دارالكفر سره متعلق دې چرته چه اوسيدونكي ټولو اسلام راوړلې وى. [2] بيكار خبره ده چه د كوم دارالكفروالا په اجتماعى توګه باندې مسلمانان شوې وى نو د مجاهدين اسلام د حملې كولو وجه نه د هغوى املاك غنيمت جوړولو په اتفاق سره اجازت نشته په دې كښې د يو امام اختلاف نشته

فيض البارى كښې دى: قاتلوا عليها فى الجاهلية وأسلموا عليها فى الاسلام فيه دليل على كون تلك الأراضى مملوكة لهم، وذا لا يرد علينا، لان المتبادر منه أنهم أسلموا كلهم، ومسالتنا فيما إذا أسلم قوم، وبقى الكفر من حولهم. [3] حضرت شيخ الحديث رحمه الله هم دغه خبره فرمائيلې ده [4]

**د مذكوره اثر تخريج** امام بخارى رحمه الله نه علاوه دحضرت عمر رضي الله عنه مذكوره اثر امام مالك رحمه الله هم په موطا كښې روايت كړې دې. [5] ليكن حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه دا اثر په موطا امام مالك رحمه الله كښې مروى نه دې وهذا الحديث ليس فى الموطا [6]

په دې باندې ردكولوسره حافظ زرقاني رحمه الله ان هذا لشئ عجاب تحريرفرمائيلو سره دتعجب اظهار كړې دې چه دا اثر امام مالك رحمه الله په موطا كښې روايت كړې دې ددې نه باوجود حافظ ابن حجر رحمه الله څنګه انكاركوى [7] د حافظ ابن حجر رحمه الله دفاع كولوسره حضرت شيخ الحديث رحمه الله تحرير فرمائي: ويمكن الاعتذار عن الحافظ أنه يمكن أن يكون فى نسخته من الموطا. [8]

---

[1] ) إعلاء السنن: ١٤٣/١٢.
[2] ) الابواب والتراجم ص: ٢٠٣.
[3] ) فيض البارى: ٤٥٦/٣.
[4] ) الابواب والتراجم: ص:٢٠٣.
[5] ) موطا امام مالك رحمه الله ١٠٠٣/٢ فى دعوة المظلوم. باب ماينقى من دعوة المظلوم.
[6] ) فتح البارى: ٢١٨/٦.
[7] ) أوجز المسالک للمحدث محمدزكريا الكاندهلوى: ٣٧١/١٥.
[8] ) أوجز المسالک للمحدث محمدزكريا الكاندهلوى: ٣٧١/١٥.

یعنی د حافظ صاحب د طرف نه دا عذر پیش کولې شی چه د هغوی زیرنظر موطا کومه نسخه وه ممکن دی چه په هغې کښې دا اثر نه وی

**د روایت باب نه مستنبط فوائد** - علامه مهلب رحمه الله د روایت باب نه دا فوائد مستنبط کړی دی
① حاکم وخت له پکار دی چه هغه شاړې بنجر زمکې د مفاد عامه دپاره په کار راولی (۱)
② که د غریبانانو د حق وهلو اندیښنه وی نو د هغوی د فائدې د خاطره مالدارانو ته معمولی شان نقصان رسولو کښې هیڅ بدیت نشته. (۲) لکه څنګه چه حضرت عمر رضی الله عنه په دې اثر کښې هنی ته هدایت ورکولو سره اوفرمائیل که د مالدارانو څاروو ته نقصان هم اورسی نو د هغوی په حق کښې دا څه لوئی نقصان نه دې هغوی سره د معاش نورې هم ذرائع موجود دی ولې د غریبانانو د معاش ذریعه هم دغه څاروی دی په دې وجه د هغوی خیال ساته

③ کوم ځائی چه د څاروو ډنګرود څرن دپاره خاص وی په هغې باندې د هغه ځائی د اوسیدونکو حق دې. په دغه زمکه باندې چه هغوی ته د خپلو څاروو د څرن آسانی ده حاکم وخت دې هغوی د دغه آسانئی نه نه محروم کوی (۳)

## باب ۱۷۷: كتابة الامام الناس

النـاس :- دامنصوب دې ځکه چه کتابة د مصدر اضافت فاعل طرف ته دې اودا د دې مفعول دې ينصب الناس على أنه مفعول للمصدر المضاف إلى فاعلة. (۴)

**د ترجمة الباب مقصد**:- علامه ابن منیر رحمه الله فرمائی چه دې باب قایمولو سره امام بخاری رحمه الله د هغه عقیدې تردید کوی چه په مردم شمارئی سره برکت اوچتیږی. یعنی داګنړل چه په مردم شمارئی سره برکت اوچتیږی غلطه ده. د غزوه حنین په موقع د برکتونو اوچتولو واقعه د اعجاب نفس د وجه نه شوې وه. (۵)

ګنی فی نفسه په مردم شمارئی کښې د دین اسلام دپاره په څوحوالوسره مختلف فوائد پټ دی. مثلاً هم دغه چه د مستحق او ضرورت مندو کسانو دپاره د وظائف جاری کول د مردم شمارئی نه بغیر ډیر ګران دی. که چرې مردم شماری اونه کړې شی نو د بیت المال په اخراجات کښې عدم توازن او د وظائف په جاری کولو کښې به بې قاعدګی پاتې شی.

[حديث ۲۸۹۵] (۶) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ حُذَيْفَةَ -رضى الله عنه- قَالَ قَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- «اكْتُبُوا لِي مَنْ

---

[۱]) شرح ابن بطال: ۵/۲۱۹ — ۲۲۰.
[۲]) شرح ابن بطال: ۵/۲۱۹ — ۲۲۰.
[۳]) شرح ابن بطال: ۵/۲۱۹ — ۲۲۰.
[۴]) عمدة القاری: ۱۴/۴۲۳.
[۵]) المتواری ص: ۱۷۹ وفتح الباری: ۶/۲۲۰ والابواب والتراجم: ص: ۲۰۴.
[۶]) وأيضًا الحديث عندمسلم فی صحيحه: ۱/۸۴ فی کتاب الایمان باب جواز الا ستسرار بالایمان للخائف رقم: ۳۷۷ وعند ابن ماجه فی سننه ص: ۲۹۱ فی الفتن، باب الصبرعلی البلاژی رقم: ۴۰۲۹.

تَلَفَّظَ بِالإِسْلَامِ مِنَ النَّاسِ » . فَكَتَبْنَا لَهُ أَلْفًا وَخَمْسَمِائَةِ رَجُلٍ ، فَقُلْنَا نَخَافُ وَنَحْنُ أَلْفٌ وَخَمْسُمِائَةٍ فَلَقَدْ رَأَيْتُنَا ابْتُلِينَا حَتَّى إِنَّ الرَّجُلَ لَيُصَلِّي وَحْدَهُ وَهُوَ خَائِفٌ.

## رجال الحديث

① **محمدبن يوسف** - دا محمدبن يوسف بن واقدضبى فريابى رحمه الله دي دَدوى حالات كتاب العلم باب ماكان النبى صلى الله تعالى عليه وسلم يتخولهم بالموعظة لاندې تيرشوى دى

② **سفيان** - دا مشهورمحدث سفيان بن عيينه بن ابى عمران هلالى كوفى رحمه الله دي دَدوى حالات كتاب الايمان لاندې اجمالاً (١) او كتاب العلم لاندې تفصيلاً تير شوې دى (٢)

③ **الاعمش** - دا ابومحمد سليمان بن مهران اسدى كوفى رحمه الله دي دَاعمش په لقب سره مشهوردې. دَدوى حالات كتاب الايمان باب ظلم دون ظلم لاندې تيرشوى دى (٣)

④ **ابووائل** - دا مشهور تابعى ابووائل شقيق بن سلمه اسدى كوفى رحمه الله دي دَدوى حالات كتاب الايمان باب خوف المؤمن من أن يحبط عمله لاندې تيرشوى دى (٤)

⑤ **حذيفه** رضي الله عنه - دامشهورصحابى ابوعبدالله حذيفه بن اليمان رضي الله عنه دي دَدوى حالات كتاب العلم لاندې تفصيل سره تيرشوى دى (٥)

**قوله: اكتبوالى من تلفظ بالاسلام من الناس** - په روايت كښې دى چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه ماته دَ مسلمانانو شمير ليكلې راكړه. په صحيح مسلم كښې دا روايت دَ ابومعاويه په طريق سره نقل دې. په هغې كښې اكتبوا په ځائى أحصوا دې. (٦) په دې لفظ كښې دمعنى لحاظ سره ډيرعموم دې. دَ صحيح مسلم په دې روايت كښې رسول الله ﷺ فرمائيلى دى إنكم لاتدرون لعلكم أن تبتلوا. (٧) يعنى تاسو نه پيژنئى كيدې شى فتنوكښې اخته شئى دَ صحيح بخارى په حديث باب كښې دا جمله نشته.

**قوله: فكتبناله ألفاً وخمساۃ رجل** - حضرت حذيفه رضي الله عنه وائى چه مونږ دَ يوزر پنځوسوو مسلمانانو نومونه اوليكل اودَ حضورپاك په خدمت كښې مو پيش كړل.

**قوله: فقلنانخاف، ونحن ألف وخمساۃ** - فقلنا نخاف..... دا استفهام تعجب دې. نخاف

---

١) كشف البارى: ٢٣٨/١

٢) كشف البارى: ٨٦/٣.

٣) كشف البارى: ٢٥١/٢.

٤) كشف البارى: ٥٥٩/٢.

٥) كشف البارى: ٩٢/٣.

٦) الصحيح مسلم: ٨٤/١ كتاب الايمان باب جواز الاستسرار بالايمان للخائف كما مر آنفاً.

٧) الصحيح لمسلم: ٨٤/١وعمدة القارى: ٤٢٤/١٤ وفتح البارى: ٢١٩/٦.

نه وزاندې هل مفدر دې (١) مطلب دادې چه آیا یونیم زر نفوسو باندې مشتمل کیدو باوجود به مونږ ویره محسوس کوو؟ یعنی د دومره غیرمعمولی کثرت باوجودبه مسلمانان ولې په ویره او دهشت کښې راګیریږی؟

**د مردم شمارنی واقعه کله پیښه شوه؟** شارحینو په دې کښې مختلف اقوال نقل کړی دی

① بوقول دادې چه د مردم شمارنی واقعه ممکن ده چه غزوه احدته د تللودپاره پیښه شوې وی (٢)

② علامه ابن التین رحمه الله د وثوق سره فرمائیلی دی چه دا واقعه د غزوه خندق په موقع د خندق د کنستلو وخت کښې پیښه شوې (٣)

③ د علامه داؤدی رحمه الله رائې ده چه دا د حدیبیه په موقع پیښه شوې ځکه چه د شمیرې باره کښې د صحابه کرامو په مینځ کښې اختلاف هم په دې مقام باندې شوې وو دبعض صحابه کرامو رائې وه چه ټول کسان یونیم زر دی او بعضو وئیل چه زر دی (٤)

**قوله** فلقد رأیتنا ابتلینا حتی إن الرجل لیصلی وحده وهو خائف - رأیتنا په دې کښې نا باندې ضمه ده اوډمتکلم صیغه ده تقدیرعبارت دادې **فلقدرأیت نفسنا** بعض روایاتو کښې رأینا نقل دی (٥) مونږ خپل ځان فتنو کښې راګیرکړو تردې چه سړې ځان له مونځ کولو سره هم ویریږی علامه کرمانی رحمه الله او علامه عینی رحمه الله فرمانی چه په روایت کښې دویرې دکوم کیفیت تذکره کړې شوې ده هغه د رسول الله ﷺ د وفات نه پس زمانې سره متعلق ده (٦)

**روایت کښې په ابتلاء سره دکومې فتنې طرف ته اشاره ده؟**:- په روایت کښې ویره او ابتلاء نه کومو فتنوطرف ته اشاره ده؟ په دې سلسله کښې د شارحینو حضراتو مختلف اقوال ذکرشوی دی ① دحافظ ابن حجر رحمه الله رائې ده چه دې نه د حضرت عثمان رضی الله عنه د دورخلافت په آخری ورځوکښې د ولید بن عقبه او دکوفې دنورو امراؤ بې اعتدالیانو طرف ته اشاره ده ولیدبن عقبه به مونځ د وخت نه روستو کولو یا دا چه د مانځه د سنتو او آدابو خیال به ئې نه ساتلو د ولید بن عقبه او د ده په شان داسې نورو امراؤ د غلط تګ د وجې نه څه نیکان خلق داسې وو چه د هغه په اقتداء کښې به ئې مونځ کول مکروه ګڼړل داسې خلقو به اول په پټه ځان له مونځ کولو او روستو دعقبه د قهر اوغضب اوعتاب نشانه جوړیدو او فتنه کښې د راګیریدو د ویرې په دویم ځل دهغه په اقتداء کښې مونځ کولو

---

(١) شرح الکرمانی:١٣/٥٦وعمدة القاری:١٤/ ٢٢٤ وقسطلانی:١٧٥/٥.

(٢) عمدة القاری:١٤/ ٢٢٤وفتح الباری:٦/ ٢١٩ وإرشادالساری للقسطلانی:١٧٥/٥.

(٣) عمدة القاری:١٤/ ٢٢٤وفتح الباری:٦/ ٢١٩ وإرشادالساری للقسطلانی:١٧٥/٥.

(٤) عمدة القاری:١٤/ ٢٢٤وفتح الباری:٦/ ٢١٩ وإرشادالساری للقسطلانی:١٧٥/٥.

(٥) شرح الکرمانی رحمه الله ١٣/ ٥٦.

(٦) شرح الکرمانی:١٣/ ٥٦وعمدة القاری:١٤/ ٢٢٤.

حافظ ابن حجر رحمه الله تحریر فرمائی فیشبه أن یکون أشار بذلك الی ماوقع فی أواخر خلافة عثمان من ولایة بعض امراء الکوفة کالولید بن عقبة حیث کان یؤخر الصلوة أولا یقیمها علی وجهها، وکان بعض الورعین یصلی وحده سرًا، ثم یصلی معه خشیة من وقوع الفتنة (۱)

② یو قول دادې چه دې نه دحضرت عثمان رضی الله عنه د یو سفر طرف ته اشاره ده په دغه سفر کښې هغوی د قصر مونځ په خانې پوره مونځ کړې وو اود سفر ملګروچه د حضرت عثمان رضی الله عنه دا طرز عمل اولیدلو نو دهغوی دویرې نه به نی په پټه قصر هم کولو. مطلب دادې چه د حضرت عثمان رضی الله عنه په اقتداء کښې به پوره کولو خوروستوبه ئی دهغه نه په پټه قصر هم کولو

③ د امام نووی رحمه الله رائې ده چه د دې نه د رسول الله ﷺ د وفات نه پس ښکاره کیدونکې فتنوطرف ته اشاره ده دا فتنې دومره خطرناکې وې چه خلقو به د ویرې د وجې نه خپل ځان پټولو او د مونځ په شان اهم عبادت به ئی پټ ادا کولو چه چرته د فتنې او قتل او فساد ښکاره نه شی (۲)

حَدَّثَنَا عَبْدَانُ عَنْ أَبِي حَمْزَةَ عَنِ الْأَعْمَشِ فَوَجَدْنَاهُمْ خَمْسَمِائَةٍ. قَالَ أَبُو مُعَاوِيَةَ مَا بَيْنَ سِتِّمِائَةٍ إِلَى سَبْعِمِائَةٍ. (۳)

## رجال الحدیث

①**عبدان**:- دا عبدالله بن عثمان بن بجله دې عبدان په لقب سره مشهوردې د دوی حالات کتاب الایمان بدء الوحی لاندې تیرشوی دی. (۴)

② **ابوحمزه**:- دا ابوحمزه محمد بن میمون الیشکری دې. د دوی حالات کتاب الغسل باب نقض الیدین من الغسل لاندې تیرشوی دی.

③ **عمش**:- دا ابومحمد سلیمان بن مهران اسدی کوفی رحمه الله دې. داعمش په لقب سره مشهوردې. د دوی حالات کتاب الایمان باب ظلم دون ظلم لاندې تیرشوی دی. (۵)

**قوله**: قال ابومعاویه:- دا ابومعاویه محمدبن خازم التمیمی دې. د دوی حالات کتاب العلم باب الحیاء فی العلم لاندې تیر شوی دی. (۶)

**د مذکوره تعلیق تخریج**:- دا تعلیق امام مسلم رحمه الله کتاب الایمان باب الاستسرار بالایمان للخائف

---

(۱) فتح الباری:۶/۲۱۹.
(۲) شرح النووی علی صحیح مسلم:۱/۸٤ وشرح الکرمانی:۱۳/۵۶ وعمدة القاری:۱٤/٤۲٤.
(۳) قوله: حدثنا عبدان...... تفرد به البخاری رحمه الله. أنظر تحفة الاشراف للحافظ المزی رحمه الله ۳/۳۸ رقم:۳۳۳۸.
(۴) کشف الباری:۱/٤۶۱.
(۵) کشف الباری: ۲/۲۵۱.
(۶) کشف الباری: ٤/۶۰۵.

لاندې. امام نسائی رحمه الله سنن کبری کښې کتاب السیر باب أحصاء الامام الناس لاندې او امام ابن ماجه رحمه الله خپل سنن کښې کتاب الفتن باب الصبر علی البلاء لاندې موصولاً نقل کړې دې (۱).

**دَ روایت باب او مذکوره تعلیق مقصد** - دامام بخاری رحمه الله مقصد دا خودل دی چه ترجمة الباب په رومبی روایت کښې په کوم طریق سره سفیان بن عیینه رحمه الله دَ اعمش رحمه الله نه حدیث روایت کړې دې هم په دغه طریق سره ابوحمزه رحمه الله او ابومعاویه رحمه الله هم دَ اعمش رحمه الله نه نقل کړې دې خودې دواړو دَ سفیان بن عیینه رحمه الله نه اعدادوشمار مختلف ذکر کړی دی (۲) سفیان بن عیینه رحمه الله یوزر پنځه سوه او ابوحمزه رحمه الله پنځه سوه او ابومعاویه رحمه الله شپږسوه نه تر اوو سوو پورې عدد ذکرکړې دې چونکه سفیان بن عیینه رحمه الله په حفظ اتقان او ثقاهت کښې په نورو محدثینو فوقیت لری بل دا چه دَ ثقه راوی زیادت هم معتبردې. په دې وجه امام بخاری رحمه الله دَ ابن عیینه زیادت فی العدد والا روایت ته ترجیح ورکولو سره مقدم اوساتلو. (۳)

علامه اسماعیلی رحمه الله فرمائی چه یحیی بن سعید اموی او ابوبکربن عیاش رحمه الله دَ ابوحمزه رحمه الله موافقت کښې دَ پنځوسوو عدد ذکرکړې دې. په دې باندې حافظ بن حجر رحمه الله فرمائی چه تعارض حفظ اواتقان او اکثریت په مینځ کښې دې. یعنی یوطرف ته ابوزحمزه. یحیی بن سعید او ابوبکر بن عیاش رحمهم الله دې چه دَ پنځوسوو عدد نقل کولو کښې متفق دی (لفظ اکثریت نه هم دې حضراتو دَ اتفاق طرف ته اشاره کړې ده) خو دَ مذکوره دریواړو حضراتو په مقابله کښې احفظ دې لکه چه تعارض دلته په احفظیت او اکثریت کښې دې. ددې نه دَ امام بخاری رحمه الله رحجان هم معلومیږی یعنی دَ تعارض په صورت کښې هغه چونکه حفظ ته ترجیح ورکوی په دې وجه دلته هم امام بخاری رحمه الله دَ احفظ کیدو دَ وجې امام ابن عیینه رحمه الله روایت ته ترجیح ورکړې ده او اکثریت یعنی ابوحمزه یحیی بن سعید او ابوبکربن عیاش رحمهم الله روایات ئې مرجوح گرځولی دی.

حافظ ابن حجر رحمه الله تحریرفرمائی: **وأما ما ذکره الاسماعیلی أن یحیی بن سعید الاموی وأبابکر بن عیاش وافقا أبا حمزة فی قوله: خمسماة فتعارض الاکثریة والاحفظیة، فلا یخفی بعد ذلك الترجیح بالزیادة، وبهذا یظهر نظر البخاری علی غیره.** (۴)

**دَ یواشکال جواب:** - دلته دا اشکال کیدې شی چه امام بخاری رحمه الله که چرې دَ ثقه دَ زیادت اعتبار کولو سره دَ سفیان بن عیینه رحمه الله روایت ته ترجیح ورکړه نو بیاامام مسلم رحمه الله دَ ابومعاویه رحمه الله روایت ته ولې ترجیح ورکړه؟

علامه عینی رحمه الله او حافظ ابن حجر رحمه الله ددې داجواب ورکړې دې چه دَ اعمش په شاگردانو

---

(۱) السنن الکبری للامام النسائی:۲۷۶/۵ رقم:۸۸۷۵ صحیح مسلم:۸۴/۱ کتاب الایمان باب جواز الاستسرار بالایمان للخائف.وسنن ابن ماجه ص:۲۹۱ فی أبواب الفتن.

(۲) عمدة القاری:۴۲۴/۱۴ وفتح الباری:۲۱۹/۶.

(۳) عمدة القاری:۴۲۴/۱۴ وفتح الباری:۲۲۰/۶ وإرشادالساری:۱۷۵/۵.

(۴) فتح الباری:۲۲۰/۶.

کښې ابومعاویه دَ حفظ او اتقان په لحاظ سره زیات ممتاز وو په دې وجه امام مسلم رحمه الله دَ هغه روایت ته ترجیح ورکړه او سفیان بن عیینه رحمه الله دَ اعمش رحمه الله په تلامذه سره په ټولو محدثینو باندې فائق دې په دې وجه امام بخاری رحمه الله دَ هغه روایت ته ترجیح ورکړه (۱)

**په اعدادکښې تعارض اودهغې حل** - اعداد اوشمیر مختلف خودونکی دې درېواړو روایاتو کښې تطبیق ورکولوسره شارحین حضرات مختلف اقوال نقل کوی ① علامه داؤدی رحمه الله فرمائی **لعلهم کتبوا فی مواطن** یعنی ممکن ده چه دَ مردم شمارئی دا واقعه په مختلفو مقاماتو باندې دېرخل پیښه شوې وی په داسې صورت کښې ښکاره خبره ده چه دکسانو دَ زیاتیدو او کمیدو سره اعداد اوشمیر مختلف کیدل بالکل ممکن دی (۲)

② بعضو داتطبیق ورکړې دې چه په کومو روایتونوکښې دَ یوزر پنځوسوو عدد ذکرشوې دې دې نه مسلمانان سړی ښځې ماشومان او غلامان ټول مراددی (۳)

او په کومو روایاتوکښې چه دَ پنځو سوو عددذکرکړې شوې دې دَهغې نه صرف مجاهدین مراددی دغه شان چه کومو روایاتوکښې شپږ سوو نه اووه سوو پورې دَعدد بیان شوې دې دَهغې نه صرف سړی مراددی (۴)

**په دویم تطبیق باندې دَامام نووی رحمه الله رد**:- لیکن دویم تطبیق ردکولوسره امام نووی رحمه الله فرمائی چه کله روایاتو کښې **ألف وخمسماة رجل** کښې دَ رجل تصریح موجود ده نودَدې اطلاق په ښځو ماشومانو اوغلامانوباندې صحیح نه دې.

③ امام نووی رحمه الله فرمائی چه صحیح تطبیق دادې چه کومو راویانودَ اووه سوو عدد روایت کړې دې دَهغې نه خصوصاً دَمدینې رجال یعنې سړی مراد دی اوکومو راویانوچه دَ یوزر پنځوسوو عدد ذکرکړې دې دَهغې نه دَ مدینې دَ رجالوسره مدینې سره ملحق خایونو اوکلو مسلمانان اوسیدونکی هم مراد دی.

چنانچه امام نووی رحمه الله تحریر فرمائی **وقد یقال: وجه الجمع بین هذه الالفاظ أن یکون قولهم ألف وخمسماة المراد به النساء والصبیان والرجال، ویکون قولهم ست ماة إلی سبع ماة الرجال خاصة، ویکون خمسماة المراد به المقاتلون، ولکن هذا الجواب باطل بروایة البخاری فی أواخر کتاب السیر فی باب کتابة الامام الناس، فان فیها: فکتب له ألفا وخمس ماة رجل. والجواب الصحیح - إن شاء الله - أن یقال: لعلهم أرادوا بقولهم مابین الستماة إلی السبعماة رجال المدینة خاصة، وبقولهم: فکتبنا له ألفا وخمسماة هم مع المسلمین حولهم** (۵)

---

(۱) عمدة القاری: ۱٤/٤۲٤وفتح الباری:٦/۲۲۰.

(۲) فتح الباری:٦/۲۲۰وعمدة القاری: ۱٤/٤۲٥.

(۳) فتح الباری:٦/۲۲۰وعمدة القاری: ۱٤/٤۲٥وإرشادالساری:٥/۱۷٥.

(٤) فتح الباری:٦/۲۲۰وعمدة القاری: ۱٤/٤۲٥وإرشادالساری:٥/۱۷٥.

(٥) شرح النووی علی صحیح مسلم:۱/۸٤کتاب الحج باب جواز الاستسرار بالایمان للخائف.

د علامه کرمانی رحمه الله د صنیع نه معلومیږی چه دهغوی په نیزد امام نووی رحمه الله مذکوره تطبیق راجح دې (1) علامه کرمانی رحمه الله په دویم تطبیق باندې رد کولوسره فرمانیلی وو چه په حدیث باب کښې درجل تصریح موجود دی په دې وجه داسې ونیل صحیح نه دی چه دې نه بنځې ماشومان او غلامان مراددی علامه عینی رحمه الله هغه پسې لیکلی دی او سره فرمانی چه دا رد پخپله محل نظر دې خکه چه د رجل اطلاق په عبید او صبیان باندې هم کیږی (2)

**ترجمة الباب سره دحدیث باب مناسبت** روایت کښې کتابت یعنی دمردم شمارنی ذکر دې ترجمة الباب سره د دې مناسبت ښکاره دې

احدیث ۲۸۹۶] (3) حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ عَنْ أَبِي مَعْبَدٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رضى الله عنهما - قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي كُتِبْتُ فِي غَزْوَةِ كَذَا وَكَذَا، وَامْرَأَتِي حَاجَّةٌ. قَالَ « ارْجِعْ فَحُجَّ مَعَ امْرَأَتِكَ ». [ر: ۱۷٦۳]

# رجال الحدیث

① **ابونعیم** - دامشهور محدث ابونعیم الفضل بن دکین الملانی الکوفی رحمه الله دې ددوی حالات کتاب الایمان باب فضل من استبرأ لدینه کښې تیرشوی دی (4)

② **سفیان** - دترجمة الباب د ړومبی حدیث لاندې د دوی حواله تیره شوې ده.

③ **ابن جریج** - دا عبدالملک بن عبدالعزیز بن جریج اموی رحمه الله دې ددوی تذکره کتاب الحیض باب غسل الحائض رأس زوجها وترجیله لاندې تیره شوې ده

④ **عمروبن دینار** - داابومحمد عمرو بن دینار الجرحی رحمه الله دې ددوی تذکره هم کتاب العلم باب العلم والعظة باللیل کښې تیره شوې ده (5)

⑤ **ابومعبد** - دادحضرت ابن عباس رضی الله عنهما آزادکړې شوې غلام ابومعبد نافذ المکی رحمه الله دې ددوی حالات کتاب الاذان باب الذکر بعد الصلوة لاندې تیرشوی دی.

⑥ **ابن عباس** - دامشهورصحابی درسول صلی الله علیه وسلم د تره خوئی حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما دې ددوی حالات بدء الوحی (6) بل د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه نیغ په نیغه د هغوی د مرویاتو تعداد سره

---

(1) شرح الکرمانی:۱۳/۵۷.

(2) عمدة القاری:۱٤/۵۲۵ قال العلامة العینی رحمه الله الحکم ببطلان الوجه المذکور لایخلو عن نظر. لان العبید والصبیان یدخلون فی لفظ: الرجل فتامل: والله أعلم.

(3) قد سبق تخریج الحدیث فی کتاب جزاء الصید باب حج النسا رقم:۱۸٦۲.

(4) کشف الباری: ۲/٦٦۹.

(5) کشف الباری: ٤/۳۰۹.

(6) کشف الباری:۱/٤۳۵ - ٤۳۷.

متعلق بحث کتاب الایمان باب کفران العشیر وکفر دون کفر لاندې تیرشوی دی (۱)

جاء رجل إلى النبى صلى الله تعالى عليه وسلم فقال يا رسول الله! إنى كتبت فى غزوة كذا وكذا وامرأتى حاجة قال: أرجع فحج مع امرءتك:- حضرت ابن عباس روایت کوی چه یوسړی رسول الله ﷺ له راغلو اوعرض ئی اوکړو یا رسول الله! زما نوم په فلانکی فلانکی جهاد کښې لیکلې شوې دې اوزما ښځه دحج د پاره وتلې ده حضورپاک اوفرمائیل زه خپلې ښځې سره حج اوکړه دې روایت سره متعلق بحثونه کتاب الحج باب حج النساء لاندې تیرشوی دی

**ترجمة الباب سره دحدیث باب مناسبت:-** د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما په په دغه روایت کښې إنى كتبت فى غزوة كذا وكذا مناسبت ترجمة الباب سره ښکاره دې حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ددې جملې تعلق ترجمة الباب رومبی روایت لفظ اكتبوا سره دې د کوم نه چه داثابتیږی چه د صحابه کرامو عادت وو چه هغوی به د جهاددپاره د وتلونکو نومونه لیکل (۲) د حافظ صاحب ددې استدلال تائید دمذکوره روایت نه کیږی په کوم کښې چه دی یوسړې د حضورپاک په خدمت کښې حاضر شو وئی وئیل زما نوم په فلانکی اوفلانکی غزوه کښې لیکلې شوې دې

## باب ۱۷۸: إن الله يؤيد الدين بالرجل الفاجر

**د ترجمة الباب مقصد:-** علامه ابن منیر رحمه الله فرمائی ددې ترجمة الباب نه دامام بخاری رحمه الله مقصد دادې که یوفاجر حاکم داسلام د حفاظت سبب جوړشی نو صرف د فسق اوفجور د وجې نه خروج او بغاوت کولوسره هغه معزول کول جائزنه دی. ځکه چه الله تعالى د فاسق اوفاجر نه هم د دین دخدمت اوتائید کاراخلی. لهذا د داسې حاکم په اقتدار باندې په صبر اوتحمل او شرعی امورو کښې د هغه اطاعت کول واجب دی.

[حديث ۲۸۹۷] (۳) حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِىِّ ح وَحَدَّثَنِى مَحْمُودُ بْنُ غَيْلاَنَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِىِّ عَنِ ابْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ -رضى الله عنه- قَالَ شَهِدْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ لِرَجُلٍ مِمَّنْ يَدَّعِى الإِسْلاَمَ «هَذَا مِنْ أَهْلِ النَّارِ». فَلَمَّا حَضَرَ الْقِتَالُ قَاتَلَ الرَّجُلُ قِتَالاً شَدِيدًا، فَأَصَابَتْهُ جِرَاحَةٌ فَقِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، الَّذِى قُلْتَ إِنَّهُ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَإِنَّهُ قَدْ قَاتَلَ الْيَوْمَ قِتَالاً شَدِيدًا وَقَدْ مَاتَ. فَقَالَ النَّبِىُّ -صلى الله عليه وسلم- «إِلَى النَّارِ». قَالَ فَكَادَ بَعْضُ النَّاسِ أَنْ يَرْتَابَ، فَبَيْنَمَا

---

۱) كشف البارى:۲/۲۰۵ – ۲۰۶.

۲) فتح البارى:۶/۲۲۰.

۳) وأيضًا أخرجه البخارى فى صحيحه:۲/۶۰۴ فى كتاب المغازى باب غزوة خيبر. رقم:۴۲۰۴ و: ۲/۹۷۷ فى القدر باب العمل بالخواتيم رقم:۶۶۰۶ ومسلم فى صحيحه:۱/۷۱ فى كتاب الايمان باب غلظ تحريم قتل الانسان نفسه.

هُمْ عَلَى ذَلِكَ إِذْ قِيلَ إِنَّهُ لَمْ يَمُتْ، وَلَكِنَّ بِهِ جِرَاحًا شَدِيدًا. فَلَمَّا كَانَ مِنَ اللَّيْلِ لَمْ يَصْبِرْ عَلَى الْجِرَاحِ، فَقَتَلَ نَفْسَهُ، فَأُخْبِرَ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - بِذَلِكَ فَقَالَ «اللَّهُ أَكْبَرُ، أَشْهَدُ أَنِّي عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ». ثُمَّ أَمَرَ بِلاَلاً فَنَادَى بِالنَّاسِ «إِنَّهُ لاَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلاَّ نَفْسٌ مُسْلِمَةٌ، وَإِنَّ اللَّهَ لَيُؤَيِّدُ هَذَا الدِّينَ بِالرَّجُلِ الْفَاجِرِ». [۳۹۶۷، ۶۲۳۲]

## رجال الحديث

① **ابوالیمان**:- دا ابوالیمان حکم بن نافع بهرانی حمصی رحمه الله دې. دَ دوی تذکره بدء الوحی کښې تیره شوې ده.[1]

② **شعیب** - دابوبشر شعیب بن ابی حمزه القرشی الاموی رحمه الله دې. دَ دوی تذکره هم بدء الوحی کښې تیره شوې ده.[2]

③ **زهری**:- دامشهورمحدث محمدبن مسلم بن عبید الله بن عبد الله بن شهاب زهری رحمه الله دې دَدوی حالات هم بدء الوحی لاندې تیرشوی دی.[3]

**قوله**: وَحَدَّثَنِي مَحْمُودُ بْنُ غَيْلاَنَ.......

## رجال الحديث

①**محمود بن غیلان**:- دامحمود بن غیلان العدوی رحمه الله دې. دَدوی حالات کتاب **مواقیت الصلوة باب النوم قبل العشاء** لاندې تیرشوی دی.

② **عبدالرزاق**:- داابوبکر عبدالرزاق بن همام بن نافع صنعانی یمانی رحمه الله دې. دَ دوی حالات کتاب الایمان باب حسن إسلام المرء لاندې تیرشوی دی.[4]

③ **زهری**:- دامشهورمحدث عبدالله بن شهاب زهری رحمه الله دې. دَدوی حالات بدء الوحی لاندې تیرشوی دی.[5]

④**المسیب**:- داامام التابعین سعیدبن المسیب بن حزن بن ابی وهب بن عمرو بن عائذ بن عمران بن مخزوم بن مره قرشی مخزومی رحمه الله دې. دَدوی تفصیلی تذکره کتاب الایمان باب من قال ان الایمان هوالعمل لاندې تیره شوې ده.[6]

---

[1]) کشف الباری:۱/۴۷۹ - ۴۸۰.
[2]) کشف الباری:۱/۴۸۰.
[3]) کشف الباری:۱/۳۲۶.
[4]) کشف الباری: ۲/۴۲۱.
[5]) کشف الباری:۱/۳۲۶.
[6]) کشف الباری:۲/۱۵۹ – ۱۶۱.

⑤ ابوهریره ﷺ د دوی حالات هم کتاب الایمان باب أمور الایمان لاندې تفصیل سره تیرشوی دی (۱)

**قوله** وحدثني محمود......... : دا تحویل سند دې ددې خانی نه امام بخاری ﷺ خپل دویم سند ذکر کړې دې

**قوله** شهدنا مع رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم فقال لرجل ممن يدعى الاسلام: هذا من أهل النار - حضرت ابوهریره ﷺ فرمائی چه مونږ رسول الله ﷺ سره په یوه غزوه کښې شرکت اوکړو دې نه غزوه خیبرمراددې یوسړې چه خپل ځان ئې مسلمان ښکاره کولو حضورپاك دهغه باره کښې اوفرمائیل دا جهنمی دې په دې روایت سره حضرت ابوهریره ﷺ د غزوه دنوم تصریح نه کړه هم دغه روایت امام بخاری ﷺ کتاب المغازی کښې هم نقل کړې دې. هلته شهدنا خیبر تصریح موجود ده (۲)

وړاندې روایت کښې دی: **فلما حضر القتال قاتل الرجل قتالا شديدا فاصابته جراحة، فقيل يارسول الله! الذى قلت إنه من أهل النار، فانه قد قاتل اليوم قتالا شديدًا وقد مات، فقال رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم: إلى النار.**

کله چه جنګ شروع شو هغه سړې ډیر په تیزئی سره اوجنګیدو او زخمی شو صحابه کرامو عرض اوکړو یارسول الله ! دَ کوم سړی باره کښې چه تاسو ارشاد فرمائیلي چه دا جهنمی دې هغه خو نن ډیر په تیزئی سره اوجنګیدو او مړ هم شو حضورپاك اوفرمائیل هغه جهنم ته اورسیدو.

په حقیقت کښې چه کله هغه دَ اسلام دَ طرف نه ډیر په بهادرئی او بې خیالئی سره اوجنګیدو زخمی شو او په ظاهره دَهغه دَ مرګ یقین هم اوشو نو صحابه کرامو دَ رسول الله ﷺ دَ پیشنګوئی متعلق تذبذب کښې راګیرشو ځکه چه دَهغوی په خیال دَ مسلمانانو دَ طرف نه جنګیدو سره بهادری خودلوسره هغه دَ شهادت درجه حاصله کړې وه.

**قوله** حضر القتال :- قتال مرفوع او منصوب دواړه شان لوستل صحیح دی. دَ رفع په صورت کښې قتال دَحضر فاعل دې. دَ نصب په حالت کښې به دَ حضرفاعل ضمیروی چه دَهغه سړی طرف ته به راجع وی اوقتال به مفعول وی. (۳) حضرت ابوهریره ﷺ په روایت کښې نور فرمائی: **فكاد الناس أن يرتاب.................** نیزدې وه چه خلق په شك اوشبه کښې اخته شوې وې په دې وخت کښې چا اوونیل هغه مړ نه دې خو دَهغه زخم ژور دې کله چه شپه شوه نو دَ زخمونو طاقت نه راوړلوسره هغه خودکشی اوکړه حضورپاك ته دَ دغه واقعه خبر ورکړې

---

(۱) کشف الباری: ۶۵۹/۱- ۶۶۳.

(۲) صحیح البخاری: ۶۰٤/۲ کتاب المغازی باب غزوة خیبر رقم: ٤۲۰٤.

(۳) شرح الکرمانی: ۵۸/۱۳ وعمدة القاری: ٤۲٦/۱٤ وفتح الباری: ۶۰۱/۷.

شو نو وني فرمائيل الله اکبر اني عبدالله ورسوله بيا حضور پاك حضرت بلال رضي الله عنه ته دَدې اعلان کولو حکم اوکړو چه دَ مسلمان نه بغير به هيڅوك جنت ته نه ځي

أن يرتاب يرتاب دکاد خبردې دَ افعال مقاربه په خبر باندې أن ناصبه داخل کيدل قليل الاستعمال دي ليکن بهرحال جائزدې (١)

**قوله**: فقتل نفسه - دَ حضرت ابوهريره رضي الله عنه په روايت کښې دی چه هغه خودکشی اوکړه ليکن داوضاحت نشته چه په څه آله سره ئې خودکشی اوکړه. دهغه دا روايت کتاب المغازی کښې هم ذکردې په کوم کښې چه تصريح ده چه هغه په غشی باندې خپل کار تمام کړې وو هم په کتاب المغازی کښې دحضرت سهيل بن سعد رضي الله عنه يو روايت کښې هم دَ خودکشۍ ذکردې خو په هغې کښې دی چه دغه سړی په توره سره خودکشی کړې وه په ظاهره په دواړو کښې تضاد دې کتاب المغازی کښې په دې موضوع باندې تفصيلی بحث راروان دې (٢)

**قوله**: ثم أمر بلالا - دلته په روايت کښې تصريح ده چه رسول الله ﷺ حضرت بلال رضي الله عنه ته دَاعلان حکم ورکړو اودَ صحيح مسلم په روايت کښې دی: **قم يا ابن خطاب.** (٣) دغه شان دَ بيهقی په روايت کښې دی چه اعلان عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه کړې وو (٤) حافظ ابن حجر رحمه الله په دريواړو روايتونو کښې تطبيق کولو سره ليکی ممکن ده چه دا هم يو اعلان په مختلفو مقاماتو دې تيولو کړې وی. (٥)

**قوله**: وإن الله ليؤيد الدين بالرجل الفاجر - الله تعالی دَدې دين دَتقويت او تائيد کار فاجرسړی نه هم اخستې دې. داحديث په ظاهره دَ صحيح مسلم دَهغه روايت معارض دې په کوم کښې چه دی: **فلن أستعين بمشرك** (٦) هغوی اوفرمائيل زه به هيڅ کله دَ مشرك نه امداد وانخلم.

ليکن په دواړو رواياتو کښې څه تعارض نشته. علامه مهلب رحمه الله فرمائی چه رسول الله ﷺ **لانستعين بمشرك** په کومه موقع چه ارشاد فرمائيلې وو هم هغه موقع سره خاص وو. (٧)

بل دا چه دَصحيح مسلم په روايت کښې دَ مشرك تصريح ده دې نه مسلمان فاجرمراد نه دې خودَ صحيح بخاری په روايت باب کښې دَ فاجر مسلم ذکردې په دواړو رواياتو کښې هيڅ

---

(١) فتح الباری:٦٠١/٧ وعمدة القاری:٤٢٦/١٤.

(٢) کشف الباری:ص ٤٢٢ کتاب المغازی باب غزوة خيبر.

(٣) صحيح مسلم:٧٤/١ کتاب الايمان باب غلظ تحريم الغلول وأنه يدخل الجنة المؤمنون رقم:١٨٢.

(٤) فتح الباری:٦٠٣/٧ کتاب المغازی باب غزوة خيبر.

(٥) فتح الباری:٦٠٣/٧.

(٦) صحيح مسلم: ١١٨/٢ کتاب الجهاد باب کراهية الاستعانة فی الغرو بکافر إلا لحاجة أو کونه حسن الرأی رقم:٤٧٠٠.

(٧) شرح ابن بطال: ٢٢٢/٥.

تعارض نشته [1]

**په جهادکښې دکافرانو مشرکانونه امداد اخستلوحکم** امام مالك، علامه بن منذر او علامه جوزجانی رحمهم الله په نیزد مشرك نه امداد اخستل جائزنه دی [2]، د یوروایت مطابق دامام احمدبن حنبل رحمه الله مسلك هم دغه دې [3]، ددې حضراتو استدلال د صحیح مسلم روایت لن استعین بمشرك نه دې په هغې کښې د مشرك نه امداد اخستلو ممانعت دی [4]، امام اعظم او امام شافعی رحمهما الله په نیزد ضرورت او حاجت لاندې د مشرك نه امداد اخستل جائزدی [5]، علامه خرقی رحمه الله او د یوروایت مطابق امام احمدبن حنبل رحمه الله مسلك هم دغه دی [6]

**دامام اعظم رحمه الله او امام شافعی رحمه الله دلائل** - ① د دې حضراتو یومبی دلیل حدیث باب دې

② د دوی دویم استدلال دادې چه رسول الله ﷺ دبنوقریظه خلاف د یهود بنو قینقاع نه امداد اخستې وو [7]

③ د دوی دریم استدلال د صفوان بن امیه رضی الله عنه د طرف نه جنگ حنین کښې د مسلمانانو په حمایت کښې جنگیدلو درخواست حضورپاك ﷺ منظورکړې وو صفوان بن امیه رضی الله عنه په جنگ حنین او طائف کښې د مسلمانانو د طرف نه جنگیدلې وو حالانکه هغه وخت هغه اسلام نه وو راوړلې [8] حضورپاك د صفوان بن امیه رضی الله عنه نه په جنگ حنین کښې د جنگ وسله مستعار غوښتې وه هغه سل زغرې او نور لوازمات په خدمت کښې وړاندې کړې وو [9] دغه شان په سنن سعیدبن منصورکښې دامام زهری رحمه الله یو مرسل روایت کښې هم تصریح ده چه حضورپاك د یهودیانونه امداداخستې وو [10]

**د اهل شرک نه دامداد غوښتلو شرائط:** - البته ددې حضراتو په نیز د مشرکانونه امداد اخستل یوخوشرائطوسره جائزدی: ① چه مشرك داهل اسلام باره کښې مثبت او دوستانه رائې لری اودهغوی د طرف نه دمسلمانانوخلاف د بغاوت یا دهوکې اوفریب څه اندیښنه نه وی [11]

---

[1]) شرح ابن بطال:۲۲۲/۵.

[2]) المغنی لابن قدامة:۴۴۷/۱۰ رقم: الفصل:۷۵۰۸ علامه ابن قدامه رحمه الله إنا لا نستعین بمشرک نه استدلال کولوسره صحیح سملم حواله ورکړې ده. حالانکه دادَ سنن ابن ماجه د روایت الفاظ دی د صحیح مسلم الفاظ هم هغه دی کوم چه په متن کښې حضرت شیخ الحدیث دامت برکاتهم په تقریرکښې نقل دی دابن ماجه د روایت دپاره اوګورئی سنن ابن ماجه. ص:۲۰۳. کتاب الجهاد باب الا ستعانة بالمشرکین.

[3]) المغنی لابن قدامة:۴۴۷/۱۰.

[4]) المغنی لابن قدامة:۴۴۷/۱۰.

[5]) شرح السیرالکبیرللامام السرخسی رحمه الله ۱۹۱/۴ والمجموع شرح المهذب للنوی:۳۸/۲۱.

[6]) المغنی لابن قدامة:۴۴۷/۱۰.

[7]) شرح السیر الکبیر للامام السرخسی ۱۹۱/۴ والمجموع شرح المهذب:۳۷/۲۱ والام للامام شافعی ۲۶۱/۴

[8]) شرح السیر الکبیر للامام السرخسی ۱۹۱/۴ والمجموع شرح المهذب:۳۷/۲۱.

[9]) عمدة القاری: ۷۲۶/۱۴ والمجموع شرح المهذب:۳۷/۲۱.

[10]) المغنی لابن قدامه:۴۴۶/۱۰ رقم: المسئله: ۷۵۰۷.

[11]) المجموع شرح المهذب:۳۸/۱.

② چه مسلمانانو ته په حقيقت کښې د اهل شرك د امداد ضرورت وى د استغناء او ضرورت نه كيدو په صورت کښې د غير مسلم نه تعاون حاصلول جائز نه دى [1]

③ چه د مشركانو په مقابله کښې د مسلمانانو دله زياته وى دې دپاره چه دغوى په حمايت کښې جنګيدونكى مشركان كه چرته سازش لاندې بغاوت كولوسره خپل مذهب والا سره ملاوشي نو په داسې صورت کښې چه د اهل اسلام دپاره دغوى خلاف خروج كول ناممكن نه وى [2]

**دامام مالك رحمه الله او علامه ابن منذر وغيره د استدلال جواب:-** د دې حضراتو استدلال د صحيح مسلم روايت لن استعين بمشرك نه وو شارحين حضرات د دې مختلف جوابات وركړى دى

① امام شافعى رحمه الله د دې استدلال جواب وركړې دې چه د صحيح مسلم دا روايت په روستو رواياتوسره منسوخ دې ځكه چه دا حديث رسول الله ﷺ د بدر په موقع باندې ارشاد فرمائيلې وو روستو دغزوه خيبرپه موقع باندې حضورپاك د يهود بنو قينقاع نه او په غزوه حنين کښې د صفوان بن اميه رضي الله عنه نه امداد اخستې وو په دې واقعاتوسره دغزوه بدر والا د صحيح مسلم مذكوره روايت منسوخ شو [3]

② دويم جواب دادې چه رسول الله ﷺ په كومه موقع باندې لن أستعين بمشرك فرمائيلي وو هم دغه موقع دپاره خاص وو [4]

③ دريم جواب دا وركړې شوې دې چه د حديث نه جواز او عدم جواز دواړه ثابت دى په دې وجه امام ته اختيار دې چه څه مقتضى وى په هغې دې عمل اوكړى [5]

④ بعض حضراتودا جواب وركړې دې چه د صحيح مسلم په روايت کښې د رسول اكرم ﷺ ارشاد د يومشرك متعلق وو چه د مسلمانانو په حمايت کښې د جنګيدلودپاره مسلسل اصرار كولو رسول الله ﷺ ته د نبوت د فراست په ذريعه د هغه په زړه کښې د اسلام طرف ته رغبت ادراك شوې ووپه دې وجه حضورپاك مصلحتاً لن أستعين بمشرك فرمائيلوسره د هغه د طرف نه د تعاون وړاندې كولو اميد رد كړو چه د مسلمانانو د طرف نه دې هغه اسلام راوړى اودې جنګيږى اوهم داسې اوشو [6]

**ترجمة الباب سره د حديث باب مناسبت:-** په حديث باب کښې إن الله ليؤيد هذا الدين بالرجل الفاجر ترجمة الباب سره د دې مناسبت ښكاره دې

---

[1] ) المجموع شرح المهذب: ٣٨/١ كتاب السير فصل: الاستعانة بالمشركين.

[2] ) المجموع شرح المهذب: ٣٨/١ كتاب السير فصل: الاستعانة بالمشركين.

[3] ) الام للامام الشافعى رحمه الله ٢٦١/٤ فى الاستعانة باهل الذمة على قتال العدو.

[4] ) شرح ابن بطال: ٢٢٢/٥ وعمدة القارى: ٤٢٦/١٤.

[5] ) الام للامام الشافعى: ٢٦١/٤.

[6] ) فتح البارى: ٢٢١/٦.

## باب: ۱۸۹ من تامر في الحرب من غير إمرة إذا خاف العدو

ترجمة الباب كښې من تامر جواب محذوف جاز ذلك دې دعبارت مقدردې من تامر من غير أمرة إذا خاف العدو، جاز ذلك (۱)

من غير أمرة - يعنى دَ جنګ په دوران كښې دَ حاكم يا امير د طرف نه د امارت حواله كول بغير دَدې نه چه پخپله امير جوړشى أى جعل نفسه أميرا على قوم في الحرب من غير تامير الامام (۲)

**دترجمة الباب مقصد:** - په دې ترجمة الباب سره امام بخارى رحمه الله دا خودل غواړى كه د لښكر اميرشهيدشى په موقع باندې موجود پاتې نه شى يا په څه حادثه كښې دَ مشرنى كولوقابل پاتې نه شى اودَ دښمن دَ طرف نه دحملې خطره وى نوكه په داسې حالاتوكښې يوكس راوړاندې شى دَ دارالخلافه نه دَ لښكردَ مشر دَمقرركيدو دَحكم نه وړاندې پخپله دَ لښكر مشرى واخلى اوسالارجوړشى نو شرعًا به دَهغه اطاعت كول واجب وى. په دې شرط چه دَ ده په امارة باندې ټول متفق وى. (۳)

[حديث ۲۸۹۸] (۴) حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا ابْنُ عُلَيَّةَ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ هِلَالٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ - رضى الله عنه - قَالَ خَطَبَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ «أَخَذَ الرَّايَةَ زَيْدٌ فَأُصِيبَ، ثُمَّ أَخَذَهَا جَعْفَرٌ فَأُصِيبَ، ثُمَّ أَخَذَهَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ رَوَاحَةَ فَأُصِيبَ، ثُمَّ أَخَذَهَا خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ عَنْ غَيْرِ إِمْرَةٍ فَفُتِحَ عَلَيْهِ، وَمَا يَسُرُّنِي - أَوْ قَالَ مَا يَسُرُّهُمْ - أَنَّهُمْ عِنْدَنَا». وَقَالَ وَإِنَّ عَيْنَيْهِ لَتَذْرِفَانِ. [ر: ۱۱۸۹]

## رجال الحديث

① **يعقوب بن ابراهيم:** - داابويوسف يعقوب بن ابراهيم بن كثيربن زيد بن افلح عبدى دورقى دې. دَدوى تذكره كتاب الايمان باب حب الرسول صلى الله تعالى عليه وسلم من الايمان لاندې وړاندې تيره شوې ده. (۵)

② **ابن عليه:** - دااسماعيل بن ابراهيم بن مقسم اسدى بصرى رحمه الله دې. دَدوى تذكره دَ مذكوره كتاب اوباب لاندې تيره شوې ده (۶)

③ **ايوب:** - دا ايوب بن ابى تميمه كيسان سختيانى بصرى رحمه الله دې. دَدوى تذكره كتاب الايمان

---

(۱) عمدة القارى: ۴۲۷/۱۴.
(۲) عمدة القارى: ۴۲۷/۱۴.
(۳) فتح البارى: ۲۲/۶ والابواب والتراجم للمحدث الكاندهلوى ص: ۲۰۴.
(۴) امر تخريجه الحديث فى كتاب الجنائز باب الرجل ينعى إلى أهل الميت بنفسه رقم: ۱۲۴۶.
(۵) كشف البارى: ۲/۱۱.
(۶) كشف البارى: ۱۲/۲.

ب ب حلاوة الايمان لاندې وړاندې تیره شوې ده [1]

⑥ **حميدبن هلال** دا ابونصر حميد بن هلال البصرى رحمه الله دې دده تذکره کتاب الصلوة باب يرد المصلى من مر بين يديه لاندې وړاندې تیره شوې ده

⑤ **انس بن مالک** رضي الله عنه دا د رسول الله صلى الله عليه وسلم خادم خاص حضرت انس بن مالك خزرجى انصارى رضي الله عنه دې دده حالات کتاب الايمان لاندې وړاندې تيرشوى دى [2]

**خطب رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم فقال: أخذ الراية زيد فاصيب، ثم أخذها جعفر فاصيب، ثم أخذها عبدالله بن رواحة فاصيب، ثم أخذها خالد بن الوليد عن غيرامرة ففتح عليه.**

کله چه موته کښې صحابه کرام رضي الله عنهم مشغول وو دحضرت انس رضي الله عنه روايت دې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم په مدينه کښې په منبرباندې کيناستوارشادئى اوفرمائيلو، زيدعلم واخستو اوشهيدشو بياجعفرجنډا واخسته او شهيدشو بياعبدالله بن رواحه جهنډاواخسته اوهغه هم شهيدشو بياخالدبن وليد د چاد حکم نه بغيرجهنډا اونيوله اوهغه ته فتح حاصله شوه.

**من غيرامرة** -يعنى خالدبن وليد رضي الله عنه د مرکزنه دامارت تفويض کيدونه بغيريه خپله مرضئى د لښکراميرمقررشو. أى صار إميرامن غيرأن يفوض إليه الامام. [3] نبى کريم صلى الله عليه وسلم ته د ميدان جنګ داخبره هيچانه ده کړې په دې باندې هغوى د نبوت د کشف په وجه خبر کړې شوې وو [4]

امام واقدى رحمه الله په خپل سندسره ذکرکړى دى چه کله په موته کښې د کافرانواومسلمانانو په مينځ کښې جنګ شروع شو نوالله تعالى په قدرت کامله سره د شام د زمکې پورې تولې علاقې او آباديانې دحضورپاك مخې ته کړې. دمنبرنبوى نه ترشام پورې ټول حجابات اوپردې اوچتې کړې شوې. ميدان جنګ د حضورپاك په مشاهده کښې وو ددغه صورت حال مشاهده کولوسره نبى کريم صلى الله عليه وسلم فرمائيل چه زيدد اسلام جنهډا په لاس کښې واخسته او شهيدشو. إلى آخر ماقال صلى الله تعالى عليه وسلم.

په البدايه والنهايه کښې دى قال الواقدى: حدثنى عبدالجبار بن عمارة بن غزية عن عبدالله بن أبى بكر بن عمرو بن حزم قال: لما التقى الناس بموتة، جلس رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم على المنبر، وكشف الله له مابينه وبين الشام، فهوينظرإلى معركتهم، فقال: أخذ الرايةُ زيد بن حارثة.... الخ [5]

---

[1] ) كشف البارى:٢/٢٦.

[2] ) كشف البارى:٢/٨.

[3] ) عمدة القارى: ٤٢٨/٤.

[4] ) البداية والنهاية: ٤/٢٤٦ وعمدة القارى: ٤٢٨/١٤.

[5] ) البداية والنهاية:٤/٢٤٦ – ٢٤٧ وعمدة القارى: ٤٢٨/١٤.

**قوله** وما يسرني أو قال ما يسرهم أنهم عندنا - اوزه دا امر د مسرت يعني خوشحالئ نه دې يا د راوي شك دې هغوي اوفرمائيل دَ دغه شهيدانو دپاره دغه خبره د خوشحالئ سبب نه وو چه هغوي زمونږ سره موجودوي مطلب دا چه ددوي حقيقي خوشحالي هم په دې کښې وه چه د الله تعالی په لاړکښې خپل ځانونه قربان کړي او دغه رضاحاصله کړي دومره خوشحالي او مسرت به دهغوي زمونږ سره په موجودګيدوکښې نه وو ځکه چه دغه شهادت ددې نه زيات اوچت او غوره دې (۱) حديث باب سره متعلق نور بحثونه وړاندې كتاب المغازي کښې راروان دي (۲)

**قوله** وعيناه تذرفان -اودې وخت کښې دحضورپاك سترګي مبارکي د اوښکونه ډکې وې مطلب دا چه کله حضورپاك د صحابه کرامو ﷺ د شهادت اعلان کولو نو دغه او خفګان نه دهغوی په سترګو مبارکوکښې اوښکې راغلې

تذرفان - بكسر الراء أي تدفعان الدموع. أو تدمعن دمعا ددې معنی ده د سترګونه اوښکې وتل. بهيدل (۳)

**ترجمة الباب سره دحديث باب مناسبت** - دغزوه موته دپاره چه رسول الله ﷺ کوم لښکرروان کړې وو حضرت زيدبن حارثه ﷺ ئې دَهغې اميرمقررکړې وو اوفرمائيلي چه که زيدبن حارثه شهيدشو نوبيابه جعفربن ابي طالب امير وی اوکه جعفرهم شهيدشی نو بيا به عبدالله بن رواحه اميروی اوکه هغه هم شهيدشو نو مسلمانانوته اختيار دې چه څوك اميرجوړول غواړی خپل اميردې منتخب کړی (۴)

په موته کښې د جنګ شروع اوشوه نودحضورپاك خوښ کړې شوي دريواړه د لښکراميران يوبل پسې په بهادرئ سره شهيدان شو په آخره کښې عبدالله بن رواحه ﷺ شهيدشونو خالدبن وليد راوړاندې شو اود جهاد علم ئې په لاس کښې واخستو اود فوج کمان ئې سنبال کړو چونکه خالدبن وليد ﷺ رسول پاك ﷺ اميرنه وو منتخب کړې بلکه هغه پخپله د جهاد جنډا په لاس کښې واخستله اود لښکرکمان ئې واخستو په دې وجه رسول الله ﷺ اوفرمائيل ثم أخذها خالد بن الوليد من غيرإمرة امام بخاري ﷺ هم په دې سره ترجمة الباب ثابت کړې دې (۵)

---

(۱) عمدة القاري: ۱۴/ ۲۸ ٤.
(۲) عمدة القاري: ۱۴/ ۲۸ ٤. وفتح الباري:۷/ ۶۵۳.
(۳) عمدة القاري: ۱۴/ ۲۸ ٤. وفتح الباري:۷/ ۶۵۳.
(۴) طبقات ابن سعد:۲/ ۶۶.
(۵) عمدة القاري: ۱۴/ ۲۸ ٤. وفتح الباري:۷/ ۶۵۳.

## باب- ۱۸۰ العون بالمدد

**دَ ترجمة الباب مقصد** - دَدې ترجمة الباب نه امام بخاري رحمه الله داخودل غواړی چه کله اسلامی لښکرته دَ مجاهدينو قلت اوکمې محسوس شي نود وخت خليفه له پکاردی چه هغه دې دَدوی دَ امداد دپاره نور اعوان او انصار روان کړی (۱)

**المدد** - په عربی ژبه کښې دَ مدد اطلاق په هرهغه څيز باندې کيږی دَ کوم نه چه دَ زياتوالی اوکثرت فائده حاصليږی نوچه کله دَ لښکردپاره نوره زياتی دسته اوليکلې شي نوبه عربی کښې وائی أمد الجيش بمدد يعنی دَلښکردَ نور زياتوالی انتظام اوکړې شو دَدې جمع امداد راځی (۲)

حديث ۲۸۹۹ [(۳) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ وَسَهْلُ بْنُ يُوسُفَ عَنْ سَعِيدٍ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ - رضى الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - أَتَاهُ رِعْلٌ وَذَكْوَانُ وَعُصَيَّةُ وَبَنُو لِحْيَانَ، فَزَعَمُوا أَنَّهُمْ قَدْ أَسْلَمُوا، وَاسْتَمَدُّوهُ عَلَى قَوْمِهِمْ، فَأَمَدَّهُمُ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - بِسَبْعِينَ مِنَ الأَنْصَارِ قَالَ أَنَسٌ كُنَّا نُسَمِّيهِمُ الْقُرَّاءَ، يَحْطِبُونَ بِالنَّهَارِ وَيُصَلُّونَ بِاللَّيْلِ، فَانْطَلَقُوا بِهِمْ حَتَّى بَلَغُوا بِئْرَ مَعُونَةَ غَدَرُوا بِهِمْ وَقَتَلُوهُمْ، فَقَنَتَ شَهْرًا يَدْعُو عَلَى رِعْلٍ وَذَكْوَانَ وَبَنِي لِحْيَانَ. قَالَ قَتَادَةُ وَحَدَّثَنَا أَنَسٌ أَنَّهُمْ قَرَءُوا بِهِمْ قُرْآنًا أَلاَ بَلِّغُوا عَنَّا قَوْمَنَا بِأَنَّا قَدْ لَقِينَا رَبَّنَا فَرَضِيَ عَنَّا وَأَرْضَانَا. ثُمَّ رُفِعَ ذَلِكَ بَعْدُ. [ر: ۲۶۴۷]

## رجال الحديث

① **محمدبن بشار**:- دامشهورمحدث محمدبن بشار بن عثمان عبدی بصری رحمه الله دي. دَدوی حالات كتاب العلم باب ماكان النبی صلی الله تعالی علیه وسلم يتخولهم بالموعظة والعلم كی لاينفروا لاندې وړاندې تير شوی دی (۴)

② **ابن ابی عدي**:- دا ابوعمرمحمدبن ابراهيم ابن ابی عدی السلمی البصری رحمه الله دي. دَ دوی حالات كتاب الغسل باب إذا جامع ثم عاد لاندې وړاندې تيرشوی دی.

③ **سهل بن يوسف**:- دامشهورمحدث سهل بن يوسف الانماطی البصری رحمه الله دي. دَدوی حالات كتاب الجهاد باب من أقاد دابة غيره فی الحرب لاندې وړاندې تيرشوی دی.

④ **سعيد**- دامشهورمحدث سعيدبن ابی عروبه مهران اليشكری دي. دَدوی حالات كتاب الغسل باب إذا جامع ثم عاد لاندې تيرشوی دی

---

[۱]) الابواب واتراجم للمحدث محمدزكريا الكاندهلوی رحمه الله ص: ۲۰۴.
[۲]) عمدة القاری: ۱۴/۴۲۸.
[۳]) اقد سبق تخريج الحديث فی كتاب الوتر باب القنوت قبل الركوع وبعده رقم: ۱۰۰۱.
[۴]) كشف الباری: ۳/۲۲۱.

⑤**قتاده** داقتاده بن دعامه بن قتاده بن عزیز سدوسی بصری رحمه الله دي. ددوی حالات کتاب الایمان من الایمان أن یحب لاخیه مایحب لنفسه لاندي وړاندې تیرشوی دی (۱)

⑥**انس** رضی الله عنه دادَ رسول الله صلی الله علیه وسلم خادم خاص حضرت انس بن مالك خزرجی انصاری رضی الله عنه دې. ددوی حالات هم په مذکوره کتاب اوباب کښې تیرشوی دی کشف الباري ۴۰۳/۲.

**أن النبی صلی الله تعالی علیه وسلم أتاه رعل وذکوان وعصیة وبنولحیان فزعموا أنهم قد أسلموا، واستمدوه علی قوم واستمدوه.** دا دَباب استفاعل نه دې معنی مدد طلب کول حضرت انس رضی الله عنه فرمائی رعل. ذکوان عصیه او بنولحیان دَ قبیلې والادَحضورپاك په خدمت کښې حاضرشو دَاسلام اظهار ئې اوکړو اودا تاثرئې ورکړو چه هغوی مسلمانان شوی دی اوهغوی دَ حضورپاك نه دَ دښمن قوم خلاف امداد اوغوښتلو چونکه دَ کتاب المغازی په روایت کښې دَ قوم په ځائې دَ عدو تصریح ده په دې وجه په ترجمه کښې مونږ دَ قوم تعبیر په دښمن سره کړې دې.

**قوله** فأمدهم النبی صلی الله تعالی علیه وسلم بسبعین من الانصار.
حضورپاك اویا کسان انصار دهغوی دَ امداد دپاره ورکړل

**بنولحیان** - داروایت دَ بئر معونه دَ واقعه متعلق دې او په دې کښې دَ بنولحیان ذکر اغلې دې حافظ دمیاطی رحمه الله دا وهم ګرځولې دې ځکه چه دَ بنولحیان تعلق غزوه رجیع سره دې دَ بئرمعونه ددې سره هیڅ تعلق نشته. (۲) مذکوره روایت کتاب المغازی کښې غزوه بئرمعونه لاندې راروان دې ددې متعلق بحثونه به هم هلته په تفصیل سره راځی. (۳)

**ترجمة الباب سره دَحدیث باب مناسبت:** - په روایت کښې واستمدوه علی قوم فامدهم النبی صلی الله تعالی علیه وسلم یعنی رعل اوذکوان وغیره قبیلې خلقو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته درخواست اوکړو چه زمونږ دَ دښمن په مقابله کښې زمونږ امداد اوکړه نوحضورپاك دَهغوی دَامداد دپاره او یاکسان انصار ورکړه امام بخاری رحمه الله په دې سره ترجمة الباب ثابت کړې دې

## باب - ۱۸۱ من غلب العدو فأقام علی عرصتهم ثلاثا

**دَ ترجمة الباب مقصد:** - دې باب نه امام بخاری رحمه الله داخودل غواړی چه دَ غلبه موندلونه پس دَ دښمن په علاقه یا دَ جنګ په میدان کښې تردریو ورځوپورې حصاریدل دَسنت نه ثابت دی. خو په ترجمة الباب کښې دَامام بخاری رحمه الله دَ صنیع نه معلومیږی چه دَدښمن په علاقه یا دَ جنګ میدان کښې درې ورځې قیام کول ضابطه نه ده بلکه دَامام په رائې باندې موقوف ده

---

(۱) کشف الباری:۴۰۳/۲.
(۲) عمدة القاری:۴۲۹/۱۴. وفتح الباری:۲۲۲/۶ وتحفة الباری: ۵۱۸/۳.
(۳) کشف الباری:ص:۲۶۱ کتاب المغازی باب غزوة بیرمعونة.

احدیث ۲۹۰۰ [۱] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيمِ حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ حَدَّثَنَا سَعِيدٌ عَنْ قَتَادَةَ قَالَ ذَكَرَ لَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ عَنْ أَبِي طَلْحَةَ - رضى الله عنهما - عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - أَنَّهُ كَانَ إِذَا ظَهَرَ عَلَى قَوْمٍ أَقَامَ بِالْعَرْصَةِ ثَلَاثَ لَيَالٍ.

## رجال الحدیث

① **محمدبن عبدالرحیم** - داابویحیی محمدبن عبدالرحیم بن ابی زهیربغدادی رحمه الله دې دَ صاعقه په لقب سره مشهوردې دَدوی حالات کتاب الوضوٴ باب غسل الوجه لاندې وړاندې تیرشوی دی

② **روح بن عبادة** - داابومحمدروح بن عباده بن العلاء بن حسان بن عمرو بن مرثدقیسی بصری رحمه الله دې دَ دوی حالات کتاب الایمان باب اتباع الجنائزمن الایمان لاندې تیرشوی دی [۲]

③ **سعید** - دَدوی حواله باب العون بالمدرلاندې تیره شوې ده

④ **قتاده** - داقتاده بن دعامه بن قتاده بن عزیزسدوسی بصری رحمه الله دې دَدوی حالات کتاب الایمان باب من الایمان أن یحب لاخیه مایحب لنفسه لاندې تیرشوی دی [۳]

⑤ **انس بن مالک** رضی الله عنه - دَدوی حالات هم دَدې نه وړاندې باب لاندې تیرشوی دی

⑥ **ابوطلحه** رضی الله عنه - دا دَ حضرت انس بن مالک رضی الله عنه میرنې پلار حضرت زیدبن سهیل بن الاسود بن حرام البخاری المدنی دې په ابوطلحه باندې مشهوردې دَدوی حالات کتاب الوضوٴ باب الماء الذی یغسل به شعرالانسان کښې تیرشوی دی.

**قوله**: ذکرلنا أنس عن أبي طلحة رضی الله عنهما - امام قتاده رحمه الله فرمائی داروایت مونږ ته حضرت انس بن مالک رضی الله عنه دَ ابوطلحة رضی الله عنه نه بیان کړې دې حافظ حجر رحمه الله لیکلی دی ورواه ثابت عن أنس بغیرذکر أبي طلحة یعنی دا روایت ثابت عن انس په طریق سره هم مروی دې خو په دې کښې دَحضرت ابوطلحه رضی الله عنه په مینځ کښې واسطه نشته. [۴]

**قوله**: أنه کان إذاظهرعلی قوم أقام بالعرصة ثلاث لیال - رسول کریم صلی الله علیه وسلم چه به کله په یودښمن قوم باندې غالب راتلو نو په میدان جنګ کښې به ئې درې ورځې قیام کولو العرصة په عین اوصاد باندې فتحه او راء سکون سره دَدې جمع عرصات راځی عرصه ارت او

---

[۱] ) رواه ایضًا (۵۶۶/۲) فی کتاب المغازی باب قتل أبی جهل رقم: ۳۹۷۶ وعند أبی داؤد فی سننه: ۱۱/۲ فی کتاب الجهاد باب فی الامام یقیم عندالظهور علی العدو بعرضتهم رقم: ۲۶۹۵ وعند الترمذی فی جامعه (۲۸۳/۱) فی أبواب السیر باب فی البیات والغارات رقم: ۱۵۵۱.

[۲] ) کشف الباری: ۵۱۸/۲.

[۳] ) کشف الباری: ۳/۲.

[۴] ) فتح الباری: ۲۲۳/۶.

کولاؤ خانی ته وئیلې شی د کوم ځلورو واړو طرفونه چه څه آبادی نه وی

قال ابن الاثير: هي كل موضع واسع لابناء فيه (۱)، وقال الثعالبي: كل بقعة لابناء فيها فهي عرصة (۲)، وقال العيني وابن حجر رحمهم الله شي البقعة الواسعة بغير بناء من دار وغيرها (۳).

**د دريوورځودقيام حكمت** - شارحينوددې مختلف توجيهات كړى دى ① علامه مهلب رحمه الله فرمائى دحضورپاك دا قيام به د آرام اوملانيغولودپاره وو مسافرهم په دريوورځوكښې پوره آرام او راحت حاصلوى په دې وجه به رسول الله ﷺ په دښمن باندې د غلبه موندلونه پس په جنګ سره حاصليدونكې بدنى ستړې والې لرې كولودپاره په ميدان جنګ كښې درې ورځې حصاريدو البته په دې سنت باندې عمل كول هغه وخت صحيح دى چه ددښمن د طرف نه د حمله او يلغار خطره نه وى والله اعلم

چنانچه علامه ابن بطال رحمه الله فرمائى كان هذا منه والله اعلم. ليريح الظهر والانفس، هذا إذا كان فى أمن عدو وطارق، وإنما قصد إلى ثلاث. والله اعلم. لانه أكثر ما يريح المسافر (۴).

② علامه ابن جوزى رحمه الله فرمائى إنما كان يقيم ليظهر تاثير الغلبة وتنفيذ الاحكام (۵) يعنى د رسول اكرم ﷺ غرض په دې قيام سره د قوت غلبه اظهار او د اسلام د احكامو نفاذ مقصود وو

③ علامه ابن المنير رحمه الله يود عجيبه توجيه كړې ده هغه فرمائى چه په دې سره د الله تعالى د ذكر اوشعائر اسلام ترويج او اشاعت د وجه د ګناه دككړې زمكې ضيافت مقصود وو لكه چه دهغوى قيام د ضيافت په حكم كښې وو چونكه ضيافت درې ورځې وى په دې مناسبت سره رسول الله ﷺ قيام هم د دښمن په علاقه كښې درې ورځې وو

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى قال ابن المنير: يحتمل أن يكون المراد أن تقع ضيافة الارض التى وقعت فيها المعاصى بإيقاع الطاعة بذكر الله وشعائر اسلام وإذا كان ذلك فى حكم الضيافة ناسب أن يقيم عليها ثلاثا، لان الضيافة ثلاثا. (۶)

**ترجمة الباب سره مناسبت**:- په حديث باب كښې دى أنه كان إذا ظهر على قوم أقام بالعرصة ثلاث ليال ترجمة الباب سره ددې مناسبت ښكاره دې

تَابَعَهُ مُعَاذٌ وَعَبْدُ الأَعْلَى حَدَّثَنَا سَعِيدٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ عَنْ أَبِي طَلْحَةَ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم -. [۳۷۵۷]

---

۱) النهاية لابن الاثير: ۳/۲۰۸.
۲) فقه اللغة للثعالبى.
۳) عمدة القارى: ۱۴/۴۳۰ وفتح البارى: ۶/۲۲۳.
۴) شرح ابن بطال ۵/۲۲۶ وفتح البارى: ۶/۲۲۳ والابواب والتراجم ص: ۲۰۴.
۵) عمدة القارى: ۱۴/۴۳۰ وفتح البارى: ۶/۲۲۳ والابواب والتراجم ص: ۲۰۴.
۶) فتح البارى: ۶/۲۲۳ والابواب والتراجم ص ۲۰۴.

امام بخاری رحمه الله فرمائی چه د قتاده نه معاذ او عبدالاعلی هم د روایت باب متابعت کړې ده د معاذ عنبری متابعت اصحاب سنن ثلاثه موصولاً کړې دې په کوم کښې چه حضورپاك ارشاد دې احب أن يقيم بالعرصة ثلاثة (۱) د عبدالاعلی السامی رحمه الله متابعت ابوبکربن ابي شيبه رحمه الله موصولاً نقل کړې دې امام مسلم رحمه الله ددې دواړو متابعاتو تخريج د يوسف بن حماد په طريق باندې کړې دې بل اسماعيلی مستخرج کښې دا دواړه متابعاتو عن أبي يعلی عن أبي بکر بن أبي شيبه په طريق باندې موصولاً ذکر کړی دی (۲)

## باب- ۱۸۲ من قسم الغنيمة فی غزوه وسفره

**دَ ترجمة الباب مقصد** -مسئله داده چه آيا په دارالحرب کښې دننه دَمال غنيمت تقسيم جائزدې که نه؟ دَ جمهورو په نيز جائزدې او احناف وائی جائزنه دې حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ددې ترجمة الباب نه امام بخاری رحمه الله دَ جمهورو فقهاؤ تائيدکولوسره په احنافو باندې ردکړې دې (۳) ليکن علامه عينی په حافظ ابن حجر رحمه الله باندې ردکولوسره فرمائيلی دی چه احاديث باب خو پخپله دَاحنافودپاره حجت دې اودې نه هډو د جمهورو مذهب نه ثابتيږی په دې وجه دا ونيل تيك نه دی چه دلته امام بخاری رحمه الله د جمهورفقهاؤ تائيدکولوسره په احنافو ردکړې دې (۴)

وَقَالَ رَافِعٌ كُنَّا مَعَ النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- بِذِى الْحُلَيْفَةِ، فَأَصَبْنَا غَنَمًا وَإِبِلاً، فَعَدَلَ عَشَرَةً مِنَ الْغَنَمِ بِبَعِيرٍ. [ر: ۲۳۶]

## رجال الحديث

① **رافع**:- دا رافع بن خديج بن عدی الاوسی رضی الله عنه دې. دَ ده حالات کتاب مواقيت الصلوة باب وقت المغرب لاندې تيرشوی دی. حضرت رافع خديج رضی الله عنه فرمائی چه په ذوالحليفه کښې مونږ رسول اکرم صلی الله عليه وسلم سره وو. دغنيمت په مال کښې مونږ ته اوښان اوچيلئی ملاؤشوې. دَغنيمت دَ مال دَ تقسيم په وخت حضورپاك لس چيلئی دَ يو اوښ برابر اوګرځولې

**دَتعليق تخريج**:- امام بخاری رحمه الله په کتاب الشرکة، باب قسمة الغنيمة (۵) او باب من عدل عشرة من الغنم بجزور فی القسم (۶) لاندې دا تعليق په تفصيل سره موصولاً نقل کړې دې. دلته دَ باب مناسبت

---

(۱) سنن الدارمی رحمه الله: ۲۱/۲کتاب السير باب ان النبی صلی الله تعالی عليه وسلم إذا ظهرعلی قوم أقام علی عرصتهم ثلاثا رقم: ۲٤٥۹وسنن أبی داؤد ۱۱۱/۲کتاب الجهاد باب فی الامام يقيم عندالظهور علی العدو بعرصتهم رقم: ۲٦۹٥ وسنن الترمذی: ۲۸۲/۱ کتاب السيرباب فی البيات والغارات رقم: ۱٥٥۱.

(۲) تغليق التعليق: ٤٦۰/۳.

(۳) فتح الباری للحافظ: ۲۲۳/٦.

(۴) عمدة القاری: ٤۳۰/۱٤.

(۵) صحيح بخاری: ۳۳۸/۱رقم: ۲٤۸۸.

(۶) صحيح بخاری: ۳٤۱/۱(رقم: ۲٥۰)

سره امام بخاری رحمه الله ددې یوجز نقل کړې دې (۱)

دغه شان کتاب الجهاد کښې باب مایکره من ذبح الابل والغنم فی المغانم لاندې کتاب الذبائح والصید کښې باب التسمیة علی الذبیحة ومن ترک متعمدا او باب إذا أصاب قوم غنیمة لاندې هم امام بخاری رحمه الله مذکوره تعلیق موصولاً نقل کړې دې (۲)

**ددې تعلیق مقصد**: که د حافظ ابن حجر رحمه الله ددې رائې اعتبار اوکړې شی چه ترجمة الباب سره امام بخاری رحمه الله د جمهورو تائید کولو سره په احنافو باندې رد کړې دې نو بیا په دې تعلیق سره د امام بخاری رحمه الله دامقصد ثابتول دی چه ذوالحلیفه چرته چه رسول الله ﷺ د غنیمت مال تقسیم کړې وو دارالحرب وو چونکه حضوریاک په دارالحرب کښې قیام کښې مال غنیمت تقسیم کړې په دې وجه دا تعلیق دامام بخاری رحمه الله په نیز په دارالحرب کښې دننه د غنائم د تقسیم په جواز باندې صریح دلیل او د جمهورمؤیدوی اودامام بخاری رحمه الله مقصدهم دغه ثابت کول دی

اوکه چرې د علامه عینی رحمه الله د رائې اعتبار اوکړې شی نو بیا خو ښکاره خبره ده چه دې تعلیق نه دامام بخاری رحمه الله مقصد د احنافو مذهب ثابتول دی چه ذوالحلیفه کښې چرته رسول الله ﷺ مال غنیمت تقسیم کړې دارالاسلام وو نه چه دارالحرب لکه چه د احنافو د فقهاؤ رائې ده

**ترجمة الباب سره مطابقت**: په تعلیق کښې دی کنا مع النبی صلی الله تعالی علیه وسلم بذی الحلیفة فاصبنا غنما وإبلا فعدل عشرة من الغنم ببعیر نو ترجمة الباب سره ددې مناسبت بالکل واضح دې حافظ ابن حجر رحمه الله چه د ترجمة الباب کوم مقصد بیان کړې دی که د هغې اعتبار اوکړې شی نو بیا هم ترجمه سره د تعلیق مناسبت ښکاره دې. اوکه د علامه عینی رحمه الله د رائې اعتبار اوکړې شی نو بیا هم ترجمه سره مناسبت صفا دې.

[حدیث ۲۹۰۱] (۳) حَدَّثَنَا هُدْبَةُ بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنْ قَتَادَةَ أَنَّ أَنَسًا أَخْبَرَهُ قَالَ اعْتَمَرَ النَّبِيُّ -صلی الله علیه وسلم- مِنَ الْجِعْرَانَةِ، حَيْثُ قَسَمَ غَنَائِمَ حُنَيْنٍ. [ر: ۱۶۸۷]

## رجال الحدیث

①**هدبه بن خالد**: دا ابوخالد هدبه بن خالد بصری رحمه الله دې. د دوی حالات کتاب الصلوة باب فضل صلوة الفجر لاندې تیرشوی دی.

②**همام**: دا همام بن یحیی بن دینار دې د دوی حالات کتاب الوضوء باب ترک النبی صلی الله تعالی علیه وسلم والناس الاعرابی حتی فرغ من بوله فی المسجد لاندې تیرشوی دی

(۱) عمدة القاری: ۱۴/۴۳۰ – ۴۳۱.

(۲) صحیح البخاری کتاب الجهاد: ۱/۳۳۲ رقم: ۳۰۷۵ وفی الذبائح: ۲/۸۲۶ رقم: ۵۴۹۸ وأیضاً: ۲/۸۳۱ رقم: ۵۵۴۳ وتغلیق التعلیق للحافظ ابن حجر رحمه الله ۳/۴۶۱.

(۳) قد سبق تخریج الحدیث فی کتاب العمرة باب النزول بذی طوی قبل أن یدخل مکة رقم: ۱۷۷۸.

تیرشوی باب لاندې د ده حواله تیره شوې ده
③ **قتاده** - تیرشوی باب لاندې د ده حواله تیره شوې ده
④ **انس** رضی الله عنه - د دوی حواله هم په تیرشوی باب کښې تیره شوې ده

**قوله قال اعتمر النبی صلی الله تعالی علیه وسلم من الجعرانة حیث قسم غنائم حنین** حضرت انس بن مالك رضی الله عنه فرمائی رسول الله صلی الله علیه وسلم احرام په جعرانه کښې اوتړلو کوم خائی چه نبی د غزوه حنین مال غنیمت تقسیم کړې وو دا روایت هم په دې سندسره کتاب العمرة باب النزول بذی طوئ قبل أن یدخل مكة لاندې تفصیلاً تیرشوې دې [1] امام بخاری رحمه الله دلته ترجمة الباب مناسبت سره د دې یوجز نقل کړې دې

**ترجمة الباب سره مناسبت** - ترجمة الباب سره د مذکوره روایت مناسبت بالکل واضحه دې د باب د تعلیق لاندې حافظ ابن حجر اوعلامه عینی رحمهم الله رانې مخې ته کولوسره ترجمة الباب سره د مذکوره تعلیق مناسبت سره متعلق کوم تفصیل شاته تیرشو هغه دلته هم په خیال کښې اوساتئ.

**دارالحرب کښې د مال غنیمت د تقسیم مسئله**:- په دارالحرب کښې دننه د مجاهدینو د پاره د مال غنیمت تقسیم جائزدې که نه؟ په دې مسئله کښې د جمهور فقهاؤ اواحنافو اختلاف دې

**د جمهورفقهاؤ مسلک** - امام مالك امام اوزاعی امام شافعی ابن منذر او ابوثوررحمهم الله په نیزیه دارالحرب کښې د غنیمت د مال تقسیم جائزدې. [2]

**د احنافو مسلک**:- د فقهاء احناف رحمهم الله په نیز په دارالحرب کښې د غنائم تقسیم په هیڅ صورت جائزنه دې صاحب بدائع الصنائع علامه کاسانی رحمه الله لیکلی دی چه تقسیم په دوه قسمه دې تقسیم د حمل اونقل او بل تقسیم د ملك.

① د تقسیم حمل اونقل مطلب دادې که چرې مال غنیمت دارالاسلام ته منتقل کولو د پاره د مجاهدین اسلام سره د سورلئ انتظام نه وی نو امیر جیش مالك جوړولونه بغیر د لښکر ټول غانمینوته د هغوی مقررحصې ورکړی. دارالاسلام ته په رسیدوباندې د غه حصې واپس واخلی او د ملکیت په توګه دې تقسیم کړی. دا صورت د احنافو په نیز بالکل جائزدې. ځکه چه په دې صورت کښې دارالحرب کښې چه کوم تقسیم شوې هغه د ملکیت تقسیم نه وو بلکه تقسیم حمل ونقل یعنی خپل مقام ته د رسولوتقسیم وو [3]

② د تقسیم ملکیت مفهوم بالکل واضحه دې چه په دارالحرب کښې دننه مال غنیمت د غانمینو ملکیت اوګرځولې شی او تقسیم کړې شی دې ته تقسیم ملکیت وئیلې شی اودا صورت د احنافو د فقهاؤ په نیز جائزنه دې [4]

**د جمهورفقهاؤ دلائل اود هغې رد**:- ① د جمهوروړومبې دلیل دادې چه په دارالحرب کښې

---

[1] ) حواله بالا.
[2] ) المجموع شرح لمهذب للامام النووی رحمه الله ۱٤۸/۲۱ والمغنی لابن قدامة رحمه الله ۱۰/٤۵۸.
[3] ) بدائع الصنائع:۴۸۸/۹ – ۴۸۹ وردالمختار مع الدرالمختار: ۶/۲۲۴ – ۲۲۵.
[4] ) بدائع الصنائع:۴۸۸/۹ – ۴۸۹ وردالمختار مع الدرالمختار: ۶/۲۲۴ – ۲۲۵.

دَاهل اسلام غلبه اواستیلاء سره ملکیت ثابتیږی په دې وجه په دارالحرب کښې دمال غنیمت تقسیم جائزدې اودَدې تقسیم حیثیت به بعینه هم هغه وی کوم حیثیت چه دَ غنائم په دارالاسلام کښې وی (۱)

علامه ظفرعثمانی رحمه الله ددې دلیل داجواب ورکړې دې چه دارالحرب طرف ته دوباره غلبه اودَ یلغارامکان بهرحال موجود وی ددې دپاره اهل اسلام هلته من وجه غالب هم وی او مغلوب هم لهذا په غنائم باندې دَاهل اسلام ملکیت په درالحرب کښې پوره نه وی ځکه چه صرف په غلبه او استیلاء باندې ملکیت تام کیږی نه اتمام ملکیت دَ پاره دارالحرب دارالاسلام جوړول دَ غلبه اواستیلاء مکمل استحکام ضروری دې (۲)

۲ دَ جمهورو دویم استدلال دَ ترجمة الباب دَ ړومبی معلق روایت نه دې دَ حضرت رافع بن خدیج رضی الله عنه په دې تعلیق کښې تصریح ده چه رسول الله ﷺ په ذوالحلیفه کښې مال غنیمت تقسیم کړې وو دجمهورو په نیزذوالحلیفه دارالحرب دې لهذادَدې تعلیق نه استدلال کولو سره جمهوروائی چه په دارالحرب کښې دَ مال غنیمت تقسیم جائزدې خوحقیقت دادې چه دا روایت پخپله دَ جمهوروخلاف دَ احنافودپاره مستدل دې علامه عینی رحمه الله په عمدة القاری کښې تحریرفرمائی چه په دې معلق روایت کښې خو په دارالحرب کښې دَمال غنیمت دَ تقسم قطعی توګه باندې څه ذکرنشته ځکه چه ذوالحلیفه هغه وخت په دارالاسلام کښې شامل وه دَدې حیثیت دَ دارالحرب نه وو (۳)

۳ دَ جمهورفقهاؤ دریم استدلال دَ ترجمة الباب دویم اوآخری روایت نه دَې أن انسا رضی الله عنه قال: اعتمر النبی صلی الله علیه وسلم من الجعرانة حیث قسم غنائم حنین. حضرت انس بن مالک رضی الله عنه فرمائی رسول الله ﷺ دَعمرې احرام دَ جعرانه نه تړلې وو چرته چه حضورپاک دَ حنین دَ مال غنیمت تقسیم کړې وو دَدې روایت نه استدلال کولوسره جمهور وائی چه جعرانه دارالحرب وو په کوم کښې چه دَ رسول الله ﷺ مال غنیمت تقسیم کول په دارالحرب کښې دَمال غنیمت دَ تقسیم په جواز باندې صریح دلیل دې لیکن علامه عینی رحمه الله فرمائی چه جعرانه دارالاسلام وو دې ته دارالحرب وئیل صحیح نه دی په دې وجه داروایت هم په حقیقت کښې دَ احنافو دلیل دې (۴) هم دَدې استدلال یوجواب امام سرخسی رحمه الله په مبسوط کښې داورکړې دې چه محمدبن اسحاق اوکلبی په روایت کښې دی أن رسول الله صلی الله تعالیٰ علیه وسلم قسم غنائم حنین بعد منصرفه من الطائف بالجعرانه. یعنی دَ طائف نه په واپس راتلورسول الله ﷺ دَ حنین مال غنیمت جعرانه کښې تقسیم کړو.

دَدې مطلب دادې چه رسول الله ﷺ دَ حنین مال غنیمت ځکه چه دَ ترجمة باب مذکوره روایت

---

۱) المغنی لابن قدامة:۱۰/۴۵۸ – ۴۵۹ والجموع شرح مهذب ۲۱/۱۴۸.
۲) إعلاء السنن: ۱۴/۱۲.
۳) عمدة القاری: ۱۴/۴۳۱.
۴) عمدة القاری: ۱۴/۴۳۱.

کښې تصریح دہ، مؤخر کولوسره جعرانه ته راغلو تقسیم ئې کړو جعرانه هغه وخت دارالاسلام یعنی مکه مکرمه کښې شامل وه غزوه حنین دَفتح مکه نه پس پیښه شوې په دې وجه دَ مکه مکرمې دارالاسلام کیدل بدیهی دی

امام سرخسی رحمه الله فرمائی چه دا روایت په حقیقت کښې په دې خبره باندې دلالت کوی چه دارالحرب کښې دمال غنیمت تقسیم جائزنه دې دغزوه حنین نه ملاؤشوې مال غنیمت مؤخر کولوسره جعرانه ته راتلل اوتقسیم کول دَدې واضح دلیل دې (۱)

④ دَ جمهورو فقهاؤ یواستدلال داهم دې چه رسول الله ﷺ غزوه بنو مصطلق غزوه هوازن او غزوه خیبرکښې کله چه دَ دې مقاماتوحیثیت دَ دارالحرب وومال غنیمت تقسیم کړې وو ترکومې چه دَ غزوه بنومصطلق او غزوه خیبرتعلق دې نوددې جواب دادې چه بنومصطلق او خیبر رسول الله ﷺ فتح کولوسره دارالاسلام جوړ کړې وو اوهلته دَاسلام دَ پوره احکامو نفاذ په عمل کښې راغلې وو په دې وجه بنومصطلق او خیبر کښې دَ غنائم دَتقسیم حیثیت به بعینه هم داسې وی لکه چه په یو اسلامی ریاست کښې دَ مال غنیمت تقسیم کیږی (۲)

اوترکومې چه دَ هوازن تعلق دې نوحافظ ابن حجر رحمه الله تلخیص الخبیر کښې تصریح کړې ده چه رسول الله ﷺ دَ هوازن مال غنیمت جعرانه ته دَ راتلونه پس تقسیم کړې وو ددې نه دَ جمهورو استدلال کول صحیح نه دی بلکه دا خو پخپله دَاحنافو مستدل دې چه جعرانه دارالاسلام په حدودکښې واقع وه (۳) لکه څنګه چه اول هم مونږ دَدې تفصیل خودلې دې.

⑤ دَ جمهورو فقهاؤ نه امام شافعی رحمه الله استدلال کړې دې چه رسول الله ﷺ دَ بدرمال غنیمت سیر نوم مقام کښې تقسیم کړې وو بدر هغه وخت دارالحرب وو او سیر هم دغلته واقع وو امام سرخسی رحمه الله صاحب بدائع الصنائع علامه کاسانی رحمه الله ددې استدلال داجواب ورکړې دې چه یوخو سیر په حدودبدرکښې شامل کول صحیح نه دی اودویم دا چه رسول الله ﷺ غنائم بدر په سیرکښې نه وو تقسیم کړې بلکه دَ صحیح اومشهورقول مطابق ئې په مدینه منوره کښې تقسیم کړې وو اوښکاره خبره ده چه مدینه دارالاسلام وو (۴)

حقیقت دادې چه دکومو روایاتونه جمهورو استدلال کړې دې هغه پخپله دَهغوی دَ پاره دَاحنافو حجت دې په دې کښې یو روایت هم په دارالحرب کښې دننه دَ مال غنیمت دَ تقسیم په جائزکیدو باندې دلالت نه کوی امام سرخسی رحمه الله دَحضرت مکحول رحمه الله یوروایت نقل کړې دې ماقسم رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم الغنائم إلافي دارالاسلام (۵) یعنی رسول الله ﷺ همیشه په دارالاسلام کښې دَ غنائم تقسیم فرمائیلې یوروایت هغوی دَ ابن عباس رضی الله عنهما نقل کړې دې په کوم کښې چه دی أن النبی صلی الله تعالی علیه وسلم قسم غنائم بدر بعد

---

(۱) المبسوط للامام السرخسی رحمه الله ۱۶/۵.

(۲) إعلاء السنن للعلامة ظفرأحمدعثمانی:۱۱۳/۱۲.

(۳) إعلاء السنن للعلامة ظفرأحمد عثمانی:۱۱۳/۱۲.

(۴) المبسوط للامام السرخسی رحمه الله ۱۵/۵ وبدائع الصنائع للعلامة الکاسانی رحمه الله ۴۹۱/۹.

(۵) المبسوط للامام السرخسی رحمه الله ۵/۱۵ وبدائع الصنائع للعلامة الکاسانی رحمه الله ۴۹۱/۹.

ماقدم المدينة دَ بدر غنائم رسول الله ﷺ په مدينه منوره كښې تقسيم كړې وو امام سرخسي رحمه الله مبسوط كښې فرمائى چه دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما منشاء په حقيقت كښې دا دې روايت نه دا ثابت كول دى چه دااميرجيش دپاره جائزنه دى چه دارالحرب كښې دننه مال غنيمت تقسيم كړى (١)

دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما ددې روايت نه ثابته شوه چه غنائم بدر حضورپاك مدينې منورې ته د راتلونه پس تقسيم كړى وو په دې سره داامام شافعي رحمه الله داستدلال ترديد كيږى په كوم كښې چه هغوى فرمائيلي غنائم بدر حضورپاك په سير كښې تقسيم كړي وو

**ترجمة البا ـ سره دحديث باب مناسبت** ـحديث باب دې اعتمر النبي صلى الله تعالى عليه وسلم من الجعرانة حيث قسم غنائم حنين دَ ترجمة الباب نه دَ امام بخارى رحمه الله مقصد څه دې حافظ صاحب اوعلامه عينى رحمه الله ددواړو حضراتو رائې تشريح وړاندې تيره شوې ده كه ددوى مختلف آراء ستاسو په ذهن كښې وى نوددواړو راويانو په وړاندې ترجمة الباب سره دمذكوره حديث مناسبت بالكل واضح دې

## باب ـ ۱۸۳ إذا غنم المشركون مال المسلم ثم وجده المسلم

**دَ ترجمة الباب مقصد**: ـ په دې باب سره حضرت امام بخارى رحمه الله دَ يواختلافى مسئلې طرف ته اشاره فرمائيلې ده كه حربيانو په دارالاسلام باندې حمله كولوسره دَ مسلمانانو مال غنيمت اوګڼرلو او په خپل تصرف كښې راوستلو بيا مسلمانانو په هغوى باندې حمله اوكړه اوهغه مال ئې دوباره حاصل كړو نوهرسړې به حسب سابق دَ خپل متعين مال مالك وى يابه هغه مال مال غنيمت په حكم كښې وى اود عامو غنائمو په شان به تقسيم كيږى؟

علامه عينى رحمه الله دامام بخارى رحمه الله په ترجمة الباب كښې دَ إذا جواب نه دې ذكر كړې لكه چه ددې نه زيربحث مسئله كښې دَ اختلاف مذاهب طرف ته اشاره ده (٢)

[حديث ۲۹۰۲/ ۲۹۰۴] قَالَ ابْنُ نُمَيْرٍ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ ـ رضى الله عنهما ـ قَالَ ذَهَبَ فَرَسٌ لَهُ، فَأَخَذَهُ الْعَدُوُّ، فَظَهَرَ عَلَيْهِ الْمُسْلِمُونَ فَرُدَّ عَلَيْهِ فِي زَمَنِ رَسُولِ اللَّهِ ـ صلى الله عليه وسلم ـ، وَأَبَقَ عَبْدٌ لَهُ فَلَحِقَ بِالرُّومِ، فَظَهَرَ عَلَيْهِمُ الْمُسْلِمُونَ، فَرَدَّهُ عَلَيْهِ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ بَعْدَ النَّبِيِّ ـ صلى الله عليه وسلم ـ.

## رجال الحديث

① **ابن نمير**: ـ دا عبدالله بن نمير الهمدانى الكوفى رحمه الله دې ددوى حالات كتاب التيمم باب إذا لم يجد ماء ولا ترابا لاندې مخكې تيرشوى دى

② **عبيدالله** داعبيد الله بن عمربن حفص بن عاصم بن عمربن الخطاب القرشى العدوى رحمه الله دې

---

(١) المبسوط للسرخسى رحمه الله ۱۱۵/۵.

(٢) عمدة القارى: ۳/۱۵.

دَ دوی حالات کتاب الوتر باب لیجعل آخر صلاته وترًا لاندې تیرشوی دی

③ **نافع** - داد حضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه آزاد کړې شوې غلام ابوعبدالله نافع المدنی رحمه الله دې دَ دوی حالات کتاب العلم باب من أجاب السائل بأكثر مما سال لاندې تیرشوی دی

④ **ابن عمر** رضی الله عنهما - دا مشهورصحابی حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما دې دَدوی حالات کتاب الایمان باب بني الاسلام علی خمس لاندې تیرشوی دی [1]

**قوله: ذهب فرس له فأخذه العدو** - دَحضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما یو اس اوتختیدو نوهغه دښمن اونیولو حافظ ابن حجر رحمه الله او عینی رحمه الله فرمائی چه دَ کشمیهنی په روایت کښې لفظ ذهب په ځائی مذکر دَ ذهبت صیغه مؤنث سره او لفظ فاخذه کښې د ضمیرمذکر په ځائی هاضمیر دَمؤنث ضبط شوې دې دَدې وجه داده چه فرس اسم جنس دې مذکر او مؤنث دواړه شان استعمالیږی [2] په دواړو نسخوکښې هیڅ تعارض نشته په یوروایت کښې دَ تذکیر اعتبار اوکړې شو او بل کښې دَ تانیث.

**قوله: فظهر علیه المسلمون فرد علیه في زمن رسول الله صلی الله علیه وسلم** - مطلب داچه مسلمان په دښمن باندې غالب راشی نوهغه اس دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم په مبارکه زمانه کښې ابن عمر رضی الله عنهما ته واپس کړې شو.

**قوله: وأبق عبد له فلحق بالروم، فظهر علیهم المسلمون، فرده علیه خالد بن ولید بعد النبي صلی الله تعالی علیه وسلم** - یعنی دغه شان دَحضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما یوغلام اوتختیدو په روم کښې پناه واخسته کله چه مسلمانانو په روم باندې حمله اوکړه نوحضرت خالد بن ولید رضی الله عنه غلام هغوی ته حواله کړو دَرسول الله صلی الله علیه وسلم دَزمانې مبارکې نه پس واقعه ده.

**دَ مذکوره تعلیق تخریج:** - دا تعلیق امام ابوداؤد رحمه الله **کتاب الجهاد باب في المال يصيبه العدو من المسلمين ثم يدركه صاحبه في الغنيمة** لاندې او ابن ماجه رحمه الله **کتاب الجهاد باب ما أحرز العدو ثم ظهر عليه المسلمون** لاندې موصولًا روایت کړې دې [3] حافظ ابو نعیم رحمه الله هم **المستخرج علی البخاری** کښې دا تعلیق **عن محمد بن علي بن حبيش عن القاسم بن زكريا بن زهير بن سلام النسائي عن ابن نمير** په طریق سره موصولًا روایت کړې دې [4]

---

[1] ) کشف الباری: ۱/۶۳۷ — ۶۳۸.

[2] ) فتح الباری: ۶/۲۲٤ وعمدة القاری: ۳/۱۵.

[3] ) سنن أبي داؤد: ۱۲/۲ وسنن ابن ماجه: ص: ۲۰٤ کتاب الجهاد باب ماأحرز العدو ثم ظهر علیه المسلمون.

[4] ) تغلیق التعلیق للحافظ ابن حجر: ۴۶۲/۳.

حدیث ۲۹۰۳] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ قَالَ أَخْبَرَنِي نَافِعٌ أَنَّ عَبْدًا لِابْنِ عُمَرَ أَبَقَ فَلَحِقَ بِالرُّومِ، فَظَهَرَ عَلَيْهِ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ، فَرَدَّهُ عَلَى عَبْدِ اللَّهِ، وَأَنَّ فَرَسًا لِابْنِ عُمَرَ عَارَ فَلَحِقَ بِالرُّومِ، فَظَهَرَ عَلَيْهِ فَرَدُّوهُ عَلَى عَبْدِ اللَّهِ.

## رجال الحدیث

① **محمدبشار** - دامشهورمحدث محمدبن بشار بن عثمان عبدی بصری رحمه الله دي. دَدوی حالات کتاب العلم باب ماکان النبی صلی الله تعالی علیه وسلم یتخولهم بالموعظة والعلم کي لاینفروا لاندې په تفصیل سره تیرشوی دی (۱)

② **یحیی** - دامشهورامام حدیث یحیی بن سعیدبن فروخ القطان تمیمی دي. دَدوی حالات کتاب الایمان باب من الایمان أن یحب لاخیه مایحب لنفسه لاندې تیرشوی دی (۲) دَعبیدالله اونافع رحمهم الله حواله دَ روایت په رومبی سند کښې تیره شوې ده

**قوله**: أن عبدًا لابن عمر أبق...... - دادَترجمة الباب دَرومبی روایت دویم طریق دی په دې کښې دی چه دَ ابن عمر رضی الله عنهما یوغلام اوتختیدو او روم ته لاړو حضرت خالدبن ولید رضی الله عنه هغه راونیولو او عبدالله بن عمر رضی الله عنهما ته ئی واپس کړو او هم دغه شان دَ ابن عمر رضی الله عنهما یو اس اوتختیدو او روم کښې داخل شو. حضرت خالدبن ولید رضی الله عنه هغه راونیولو او اهل اسلام هغه ابن عمر رضی الله عنهما ته واپس کړو.

**قوله**: فردوه علی عبدالله - دَ صحیح بخاری په دویمه نسخه کښې دَ جمع دَ صیغه په ځائې فرده مفرد واردشوې دې.(۳) که چرې دَجمع صیغه وی لکه چه په مذکوره روایت کښې ده نودهغې ترجمه به شی مسلمانانو هغه حضرت عبدالله ابن عمر رضی الله عنهما ته واپس کړو که دَمنفردصیغه وی نوبیاخوبنکاره خبره ده فرده کښې ضمیر فاعل حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه طرف ته راګرځی.

**قوله**: قال أبوعبدالله: عار مشتق من العیر، وهوحمار وحش، أی هرب. - ابوعبدالله دَ امام بخاری رحمه الله کنیت دې دلته امام بخاری رحمه الله دَ لفظ عار تفسیر کړې دې چه دا دَعیرنه مشتق دې اوعیرحمار وحشی ته وائی. دَ عار معنی امام بخاری رحمه الله عاه الفرس: انفلت وذهب ههنا وههنا (۴) اس وران شو او په مستئی کښې اخوا دیخوا اوتختیدو. هم دغه معنی امام

---

(۱) کشف الباری:۳/۲۵۸ - ۲۶۱.

(۲) کشف الباری:۲/۲. ۳.

(۳) تحفة الباری بشرح صحیح البخاری لشیخ الاسلام زکریابن محمدالانصاری:۳/ ۵۲۰.

(۴) مختارالصحاح للامام محمد بن أبی بکر الرازی. ص:۵۶۲.

خلیل هم کړې ده.[1] شیخ الاسلام زکریابن محمد انصاری رحمه الله فرمائي چه د صحیح بخاری په یو د نسخه کښې د امام بخاری رحمه الله د اتفسیری قول ساقط دې

احدیث ۲۹۰۴ [۳] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ-رضی الله عنهما أَنَّهُ كَانَ عَلَى فَرَسٍ يَوْمَ لَقِيَ الْمُسْلِمُونَ، وَأَمِيرُ الْمُسْلِمِينَ يَوْمَئِذٍ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ، بَعَثَهُ أَبُو بَكْرٍ، فَأَخَذَهُ الْعَدُوُّ، فَلَمَّا هُزِمَ الْعَدُوُّ رَدَّ خَالِدٌ فَرَسَهُ.

## رجال الحدیث

① **احمدبن یونس** - دا ابوعبدالله احمدبن یونس بن عبدالله بن قیس تمیمی یربوعی کوفی رحمه الله دې د دوی حالات کتاب الایمان باب من قال ان الایمان هوالعمل لاندې تیرشوی دی[4]

② **زهیر** - دا زهیربن معاویه بن خدیج بن الرحیل بن زهیر بن خیثمه جنعی کوفی رحمه الله دې د دوی حالات کتاب الایمان باب الصلوة من الایمان لاندې تیرشوی دی[5]

③ **موسی بن عقبه** - داصاحب المغازی موسی بن عقبه الاسدی المدنی رحمه الله دې د دوی حالات کتاب الوضوء باب إسباغ الوضوء لاندې تیرشوی دی

④ **عن نافع عن ابن عمر** رضی الله عنهما - د ترجمة الباب د رومبي روایت لاندې د دواړو راویانو حواله تیره شوې ده.

**قوله**: أنه كان على فرس يوم لقي المسلمون، وأمير المسلمين يومئذ خالد بن الوليد بعثه أبوبكر، فأخذه العدو، فلما هزم العدو رد خالد فرسه - په کومه ورځ چه مسلمانان (د جنګ د پاره) کفاروسره مقابله شو ابن عمر رضی الله عنهما په اس باندې سوړوو په هغه ورځ د مسلمانانو امیرخالدبن ولید رضی الله عنه وو هغه حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه (د اسلامی لښکر) امیرجوړ کړې لیګلې وو (د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما) اس دښمن اونیولو کله چه دښمن شاته شو نوخالد (ابن ولید رضی الله عنه) هغه ته د هغه اس واپس کړو.

**قوله**: يوم لقي المسلمون - د صحیح بخاری په دې روایت کښې مفعول محذوف دې. حافظ ابونعیم رحمه الله او اسماعیلی رحمه الله چه کوم روایت نقل کړې دې په هغې کښې مفعول ذکردې روایت اسماعیلی رحمه الله عن محمدبن عثمان بن أبي شيبة عن أحمد بن يوسف په طریق او ابونعیم رحمه الله أحمدبن يحيى الحلواني په طریق سره نقل کړې دې په دې کښې دی: یوم لقي

---

[1]) فتح الباری:۶/۲۲۵.

[2]) تحفة الباری:۳/۵۲۰.

[3]) د ترجمة الباب رومبی روایت کښې د دې تخریج تیرشوی دې.

[4]) کشف الباری:۲/۱۵۹.

[5]) کشف الباری:۲/۳۶۷، ۳۷۰.

المسلمون طيئا وأسدا (۱) يعنى په کومه ورځ چه مسلمانانو د جنګ دپاره قبيله طي او اسد سره ملاوشو د اسماعيلي او ابونعيم هم په دې طريق کښې ابن عمر رضي الله عنهما د اس د دښمن په تحويل کښې راتللو وجه هم ذکرده د روايت الفاظ دادى فاقتحم الفرس بعبدالله بن عمر جرفًا فصرعه وسقط ابن عمر فعار الفرس (۲) مطلب دا چه اس عبدالله بن عمر رضي الله عنهما واخستلو او حرف ته نى ټوپ کړو او هغه نى راغورزولو ابن عمر رضي الله عنهما پريوتلو او اس وران شو او تختيدو

**د باب په رواياتو کښې تعارض اوددې تطبيق** په رواياتو کښې چه د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما د اس کومه واقعه نقل ده هغه کله پيښه شوې ده؟ په دې سلسله کښې د ترجمة الباب دويم او دريم روايت کښې تعارض دې په رومبى روايت کښې ده د اس واقعه چه د رسول اکرم ﷺ په مبارکه زمانه کښې شوې اود غلام واقعه ددې نه پس هم د دې روايت په دويم طريق کښې دى چه دواړه واقعات د رسول الله ﷺ د زمانې مبارکې نه پس سره متعلق دى په دې دويم طريق کښې فرس او عبد دواړوسره متعلق فلحق بالروم الفاظ مروى دى اولکه څنګه چه په دريم روايت کښې دى چه د حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه په مشرئى کښې په روم باندې د حضرت ابوبکرصديق رضي الله عنه په زمانه کښې شوې په دې وجه چه دويم روايت د دريم روايت په تناظر کښې اوکتلې شى نوددې نه هم دغه ثابتيږى چه د فرس او عبد واقعات د رسول اکرم ﷺ د وفات نه پس پيښې شوى دى. او دريم روايت د رومبى روايت سره متعارض دې دا روايت د رومبى روايت برعکس دې په رومبى روايت کښې د فرس واقعه د رسول اکرم ﷺ د زمانې بيان کړې شوې ده او په دې کښې د اس د ورانيدو واقعه د ابوبکرصديق رضي الله عنه د خلافت په زمانه کښې شوې لکه چه تعارض په اصل کښې د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما د فرس والا واقعې د تاريخ په تعين کښې دې.

علامه قسطلانى رحمه الله د باب رومبى روايت يعنى د ابن نمير په طريق چه دې ته ترجيح ورکولو سره فرمائى چه د دې طريق متابعت اسماعيل بن زکريا رحمه الله هم کړې دې چه د فرس واقعه د رسول کريم په مبارکه زمانه کښې پيښه شوې (۳) رومبى روايت ته ترجيح ورکولو سره علامه داؤدى رحمه الله فرمائى چه د دې روايت په سند کښې عبيدالله راوى د نافع نه حديث روايت کولو کښې په دريم طريق کښې واقع موسى بن عقبه نه أثبت دې (۴) حافظ ابن عبدالبر رحمه الله هم د دې تصويب کړې دې (۵)

امام ابن ماجه رحمه الله کتاب الجهاد باب ما أحرز العدو ثم ظهر عليه المسلمون لاندې عن على بن محمد بن نمير عن عبدالله عن نافع عن ابن عمر په طريق سره کوم روايت ذکر کړې دې په هغې کښې دى قال

---

۱) فتح البارى:۶/۲۲۵.

۲) فتح البارى:۶/۲۲۵.

۳) إرشادالسارى للقسطلانى:۵/۱۷۹.

۴) إرشادالسارى:۵/۱۷۹ وأوجز المسالک:۸/۲۸۵.

۵) أوجز المسالک:۸/۲۸۵.

ذهبت فرس له فاخذها العدو وظهرعليهم المسلمون فردعليه فى زمن رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم... (۱) هغوى دَ باب لاندې هم دغه يو طريق ذكركولو باندې اكتفاء كړې ده. دويم طريق ئې نه دې ذكركړې. دَ دې صنيع نه دَهغوى رحجان هم متعين كيږى چه دَهغوى په نيز راجح هم دغه دې چه دَابن عمر ﷺ دَ فرس واقعه عهدنبوى كښې پيښه شوې ده دَحضرت ابوبكرصديق ﷺ دورخلافت سره دَدې تعلق نشته. والله اعلم

**قوله حكم ما أحرز العدو ثم ظهر عليه المسلمون** - ترجمة الباب كښې چه امام بخارى ﷺ كومه فقهى مسئله ذكركړې ده اوس دَهغې تفصيل اوګورئى كه اهل حرب په اهل اسلام باندې حمله اوكړى دَ مسلمانانو په مالونواو املاك باندې قبضه كولوسره دارالحرب ته يوسى بيا اهل اسلام په دارالحرب باندې حمله اوكړى او هغه اموال اواملاك واپس دارالاسلام ته راوړى نو په مسلمانانوكښې هرسړې حسب سابق به دَ خپل متعين مال مالك وى يا هغه اموال به دَ غنيمت په حكم كښې راتلوسره لاعلى التعيين په ټولوكښې تقسيم كيږى؟

**دَ امام شافعى ﷺ ابوثور او ابن منذرمسلک:**- دَدې حضراتو په نيز په دارالاسلام باندې غلبه او استيلاء سره دَاهل اسلام په اموالواواملاكوباندې دَ حربيانو ملكيت نه ثابتيږى نوچه كله اهل اسلام په دارالحرب باندې حمله كولوسره دغه اموال اواملاك دارالاسلام ته راوړى نوچه كوم مال دَچاملكيت وو هغه به حسب سابق هم دَهغه ملكيت كښې وى دَ دغه مالونو حكم به دَ مال غنيمت نه وى. (۲)

**امام حسن امام زهرى اوعمروبن دينارمسلک:** دَدې حضراتو په نيز دَمسلمانانوپه زور اخستې شوې مال دَ دارالحرب نه دارالاسلام ته دَ منتقل كيدونه پس به په غانمينوكښې تقسيم كيږى يعنى په دارالحرب باندې حمله كونكى مجاهدين به دَدې مستحق وى دَ مخكينى مالك حق به په دغه مال باندې باقى پاتې نه شى. (۳)

دَدې حضراتو استدلال دادې چه دَمسلمانانو په غلبه اواستيلاء سره څنګه چه دَ مشركينومال دَ مسلمانانودپاره غنيمت جوړيږى دغه شان ذكرشوې مال هم. په كوم چه دَ اهل حرب غلبه اواستيلاء اوشى هغه دَهغوئ ملك كيږى لهذا دَمسلمانانو په غالب راتلوسره به هغه دَ مال غنيمت په توګه په مجاهدينوكښې تقسيم كيږى. (۴)

**دَ جمهورفقهاؤمسلک:**- امام اعظم ابوحنيفه امام ثورى امام اوزاعى امام مالك اودَيوروايت مطابق امام احمدرحمهم الله مسلك دادې چه اهل حرب په اهل اسلام باندې دَ حملې كولودَ وجه نه به دَ مسلمانانودَ مالونو مالكان جوړشى(۵) خوچه په دارالحرب باندې حمله كولوسره

---

(۱) سنن ابن ماجه: ۲۰۴ كتاب الجهاد باب ماأجرزه العدو ثم ظهرعليه المسلمون.

(۲) الاستذكار لابن البر: ۴/ ۴۴فتح البارى:۶/ ۲۲۴ والمغنى لابن قدامة: ۱۰/ ۴۸۲.

(۳) المحلى بالاثار لابن حزم ﷺ ۵/ ۳۵۵ وشرح ابن بطال ﷺ ۵/ ۲۲۷وفتح البارى:۶/ ۲۲۴ وأوجز المسالک: ۸/ ۲۷۱.

(۴) حواله بالا.

(۵) المغنى لابن قدامة: ۱۰/ ۴۷۵.

اهل اسلام خپلو مالونه په زورواخستل دارالاسلام ته نی راوړل نود دې حضراتو په نیزپه دې کښې تفصیل دې
که چرې مخکښې مالکان دَ مال غنیمت دَ تقسیم نه وړاندې خپل متعین مال اومومی نو دَهغوی ملکیت به وی اودَ غنائم دَ تقسیم نه پس په خپل مال باندې به دَزوړمالك ملکیت باقی پاتې نه شی بلکه هغه به دَغانمین ملکیت وی البته دَ دې حضراتو په نیز دَ غنائم دَ تقسیم نه پس که چرې زوړمالك خپل مال اولیدو اودَهغه خواهش دې چه غانم ته دَ قیمت په عوض دَهغه مال ملاؤ شی نوبیادَ غانم په مقابله کښې دَهغه زیات حق دې چه دَ قیمت دَ اداکولوپه صورت کښې هغه ته دغه مال ورکړې شی.([1])
په دې صورت کښې شریعت دَاصل مالك او غانم دَ دواړو مفادورعایت اوخیال ساتلې دې. چونکه دَمال غنیمت دَ تقسیم نه پس دَ زوړمالك ملکیت په دغه مال باندې باقی نه پاتې کیږی او دې باندې دَغانم ملکیت قایم کیږی په دې وجه که زوړمالك خپل مال بې عوض اخستې وې نوغانم به په نقصان کښې پاتې کیدو په دې وجه دَخپل مال دَحاصلولو دَپاره زوړمالك باندې دَ دې قیمت اداکول لازم گرځولې شوی دی دې دَپاره چه خپل مال واخلی اوزوړ مالك هم فائده کښې پاتې شی اودَ غانم حق هم اوه وهلې شی.([2])
صحابه کرامو کښې حضرت عمربن الخطاب حضرت علی حضرت زیدبن ثابت رضی الله عنهم اوتابعینونه سعیدبن المسیب عطاء بن ابی رباح قاسم اوعروه رحمهم الله مسلك هم دغه دې.([3]) په یوروایت کښې امام احمد رحمه الله په نیزدَمال غنیمت دَتقسیم نه پس په خپل مال باندې دَزوړ مالك ملکیت قطعاً باقی نه پاتې کیږی اوهم غانم دَدې اصل مالك جوړیږی ([4]) لیکن په المغنی کښې دی چه دَ امام احمد رحمه الله په نیزړومبې روایت معمول به دې ([5])
**امام شافعی ابوثور او ابن منذر رحمهم الله وغیره دلائل اودَ هغې رد.** - علامه قسطلانی رحمه الله فرمائی دَدې حضراتو استدلال دَ احادیث باب نه دې په کوم کښې چه تصریح ده حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما ته دَهغه اس اوغلام چه دارالحرب ته تختیدلی وو واپس کړې شوی وو([6])
علامه ابن حزم رحمه الله هم په المحلی بالاثار کښې دَدې روایاتونه دا استدلال کړې دې چه دَ اهل اسلام په مال اومتاع باندې دَ مشرکانو ملکیت هډو ثابتیږی نه څکه ‌ه چه دَ دارالحرب نه دَ مسلمانانو مال اومتاع په زور اخستل اودارالاسلام ته راوړلونه پس به بهرصورت خپل زوړ مالك ته حواله کولې شی ([7]) خو حقیقت خودادې چه احادیث باب پخپله دَ دغه حضراتوخلاف

---

[1]) المدونة الکبری:۵۹۲/۲ والمغنی لابن قدامة:۴۷۱/۲۱ وعمدة القاری:۳/۱۵ وردالمختار علی الدرالمختار:۲۵۷/۶ وأوجزالمسالک للشیخ زکریا الکاندهلوی رحمه الله ۲۵۷/۶.
[2]) ردالمحتار علی الدرالمختار لابن عابدبن الشامی:۲۵۷/۶.
[3]) شرح ابن بطال:۲۲۷/۵ وعمدة القاری:۳/۱۵.
[4]) المغنی لابن قدامة:۴۷۱/۲۱.
[5]) المغنی لابن قدامة:۴۷۱/۲۱.
[6]) إرشادالساری للقسطلانی:۵۴۳/۶.
[7]) المحلی الاثار للعلامة لابن حزم:۲۶۰/۵.

دَ جمهور فقهاؤ دَپاره حجت دي ځکه چه دحضرت ابن عمر رضی الله عنهما دَ ترجمة الباب والا په روايت کښي اجمال دي دَ موطاامام مالك رحمه الله هم په دې روايت کښي آخر کښي داتصريح هم ده. وذلك قبل أن يقاسم (۱) يعني مجاهدين اسلام دَ دارالحرب نه چه کوم اس او غلام اخستي وو دارالاسلام ته ئې راوړې وو هغه حضرت ابن عمر رضی الله عنهما دَ مال غنيمت دَتقسيم نه وړاندې واپس کړې شوې وو

هم دغه روايت عن رشدين عن يونس عن الزهري، عن سالم عن أبيه په طريق په سنن دارقطني کښي هم مروي دې په دې کښي دی من وجد ماله الفئ قبل أن يقسم فهوله، ومن وجد بعد ماقسم فليس له شئ (۲) مال غنيمت دَتقسيم نه وړاندې چا چه خپل مال اوموندلو هغه مال (بغير دَعوض نه دَهغه ملکيت دې خو دَ غنيمت دَتقسيم نه پس موندلو په صورت کښي به هغه ته دَهيڅ اخستو هم حق نه وی

دَمال غنيمت دَتقسيم نه پس دَ ملکيت باقی نه پاتې کيدو مطلب دادې چه هغه به دَعوض دَاداکولونه بغير به دَ خپل مال مالك خونه شی خو دَعوض اوقيمت اداکولونه پس دَغانم په مقابله کښې به دَهغه زيات حق وی. دَدې تائيد دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم حديث او دَحضرت عمر رضی الله عنه دوه آثارنه کيږی چه وړاندې دَجمهورو دَدلائلو لاندې راروان دی

**دَ جمهورو دلائل:-** ① امام اعظم ابوحنيفه امام ثوری امام اوزاعی امام مالك او امام احمد بن حنبل رحمهم الله استدلال دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما دَ حديث نه دې دا روايت عن حسن بن عمارة عن الملك بن ميسرة عن طاوس عن ابن عباس رضی الله عنهما په طريق سره نقل دې په دې کښي دی.أن رجلا وجد بعيرًا له كان المشركون أصابوه، فقال له النبي صلى الله تعالى عليه وسلم: إن أصبته قبل أن يقسم فهولك، وإن أصبته بعدما قسم، أخذته بالقيمة (۳) يعني يوسړی خپل اوښ اوليدلو کوم چه مشرکانو اخستې وو (او روستو مسلمانانو په دارالحرب باندې حمله اوکړه او هغه ئې په مال غنيمت کښې دوباره دارالاسلام ته راوړو) نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه مخاطب کړو وئې فرمائيل که دا اوښ دَمال غنيمت دَتقسيم نه وړاندې واخستو نو دابه هم ستاوی او که دَمال غنيمت دَتقسيم نه پس درته ملاؤشی نو بيا په قيمت ورکولوسره ئې اخستې شې دا روايت امام دارقطنی رحمه الله او امام بيهقی رحمه الله هم روايت کړې دې.(۴)

**دَ جمهورو په دليل کلام او دَهغې جواب** -حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه قسطلانی رحمه الله دَ جمهور

---

(۱) موطاللامام مالک رحمه الله ص:٤۹۹ باب مايرد قبل أن يقع القسم لما أصاب العدو. وإعلاء السنن:۳۱۱/۱۲.

(۲) سنن الدارقطني: ٤/۱۱۳.

(۳) الاستذكار للحافظ ابن عبدالبر رحمه الله ۶د والمغني مع ذيله المسمى به الشرح الكبير على مقنع لموفق الدين وشمس الدين ابن القدامة:۱۰/٤٦۹ – ٤۷۱ كتاب الجهاد حكم مالواخذه اهل الحرب من اموال المسلمين وعبيدهم فادركه صاحبه قبل قسمة فهواحق به كشف الباري ۵۷۷/۲۰.

(۴) نصب الراية للزيلعي:۳/٤۳٤ وأوجز المسالك إلى موطاء الامام مالك: ۱۷۵/۹ دارالقلم دمشق.

مذکره دلیل باندې د سندپه حواله سره کلام کولوسره تحریر فرمانی واسنادہ ضعیف [۱] په اصل کښې ددې روایت تضعیف ددې په سندکښې موجود راوی حسن بن عمارة د وجه کړې شوې دې د یحیی بن معین رحمه الله نه دَدوی باره کښې لیس بشئ او ابراهیم بن یعقوب جوزجانی نه ساقط الفاظ جرح منقول ده [۲] او ابن حزم رحمه الله خو د حسن بن عماره د ضعیف یقین کولوکښې هیڅ کسرنه دې پریخودې [۳]

لیکن حقیقت دادې چه ددې روایت تائیدپه ډیرومتابعاتوسره کیږی په دې وجه دَحضرت ابن عباس رضی الله عنهما دامذکوره روایت ضعیف کرخول انصاف نه دې علامه عینی رحمه الله دَ امام احمدبن حنبل رحمه الله دا حواله نقل کړې ده چه دَ حسن بن عماره نه علاوه مذکوره روایت مسعرعن عبدالملك په طریق سره مروی دې دَدې تائید دَ یحیی بن سعید رحمه الله په دې قول سره کیږی سالت مسعرا عنه فقال: هومن حديث عبدالملك ولكن لاأحفظه [۴]

دغه شان امام علی بن المدینی رحمه الله فرمائی: روی عن يحيىٰ بن سعيد أنه سال عنه فقال: هومن رواية عبدالملك عن طاؤس عن ابن عباس رضی الله عنهما [۵]

دَدې اقوالونه معلومیږی چه حسن بن عماره په چاچه دَ ضعف الزام لګولې شوې دې په مذکوره روایت نقل کولو کښې متفردنه دې بلکه دَ ډیرو متابعاتونه ددې تائیدکیږی علامه ظفراحمدعثمانی الجوهر النقي په حواله سره دَ ابن عدی رحمه الله قول نقل کړې دې وقدروی هذا الحديث عن مسعرعن عبدالملك [۶] وړاندې علامه عثمانی رحمه الله لیکی وهذه متابعة جيدة قوية وتابعه إسماعيل بن عياش فرواه عن عبدالملك بن ميسرة، كما في المحلى [۷] بل امام شافعی رحمه الله هم دَدې متابعت عن أبي يوسف القاضي عن الحسن بن عمارة عن الحكم بن عتبة عن مقسم په طریق سره کړې دې چنانچه امام بیهقی رحمه الله دَدې متابعت متعلق فرمائی: هكذا وجدته عن أبي يوسف عن الحسن بن عمارة عن الحكم بن عتبة، رواه غيره عن الحسن بن عمارة عن عبدالملك [۸]

امام ابویوسف رحمه الله فقیه اومجتهدوو په روایت حدیث کښې دَهغوی ثقاهت او درایت هم

---

[۱]) فتح الباری:۶/ ۲۲٤ وإرشاد لساری:۱۷۹/۵.
[۲]) عمدة القاری: ۳/۱۵.
[۳]) المحلی بالاثار لابن حزم:۳۵۷/۵.
[٤]) عمدة القاری:۱۵/ ٤.
[۵]) عمدة القاری:۱۵/ ٤.
[۶]) إعلاء السنن:۱۲/ ۳۱۰.
[۷]) إعلاء السنن:۳۰۱/۱۲ والمحلی بالاثار لابن حزم:۳۵۷/۵.
[۸]) نصب الرایة للزیلعی رحمه الله ۴۳۶/۳ وإعلاء السنن ۱۲/ ۳۱۰.

مسلم دي دمذکوره روایت نه دهغوی استدلال کول ددې روایت د صحت دلیل دې بیا د مسعر او اسماعیل بن عیاش متابعت په خاني پخپله د حسن بن عماره د روایت په صحت باندې صریح دلیل دې په دې اصولو باندې ټول محدثین متفق دی چه کله د یوضعیف روایت متابعت د بل ضعیف یادې نه اقوی روایت سره وی نوهغه حدیث ضعیف نه پاتې کیږی د قوی درجه حاصلوی د احناف او یا جمهور فقهاؤ د استدلال تضعیف د حسن بن عماره د وجه نه شوې دې ددې د تردید دپاره دېر متابعات ذکر کړې شو هم ددې حسن بن عماره بعض حضراتو توثیق هم کړې دې مثلاً محمد بن اسحاق رحمه الله ددوی باره کښې فرمائی حدثنی من لا أتهم

② د جمهور فقهاؤ دویم استدلال دحضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه د اثرنه دې دا اثر په مصنف عبدالرزاق کښې عن محمد زائد عن مکحول عن عمر بن الخطاب رضی الله عنه په طریق سره روایت کړې شوې دې په دې کښې دی أنه إن أدرك قبل القسمة رد إلى صاحبه بغير ثمن، وإن لم يدرك إلا بعد القسمة فصاحبه أحق به بقيمته. (۱) که چرې هغه دتقسیم (غنیمت) نه وړاندې خپل مال اوموندلو نو دې مالك ته به دغه مال بې قیمته واپس ورکولې شی خوکه دتقسیم نه پس نی اوموندلو نو بیا به دغه مال باندې دهغه حق د قیمت اداکولو په صورت کښې په خاني دې. علامه ابن حزم رحمه الله المحلی کښې ددې اثر درې نور طرق هم ذکر کړی دی. (۲)

③ د جمهور دریم استدلال دحضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه د اثر نه دې کوم چه امام طحاوی او امام دارقطنی رحمهما الله عن رجاء بن حیوة عن قبیصة بن ذویب په طریق سره د صحیح سند روایت کړې دې په دې کښې دی أن عمر رضى الله عنه قال: فيما أحرزه المشركون فأصابه المسلمون فعرفه صاحبه قال إن أدركه قبل أن يقسم فهوله، وإن جرت فيه السهام فلا شئ له. (۳)

مطلب دادې چه کوم مالی مشرکانو اخستې دې او مسلمانانو هغه (په جهاد کښې دوباره) ترلاسه کړو او روستو اصل مالك خپل مال اوپیژندلو نوحضرت عمر رضی الله عنه فرمائی که هغه ته دا مال دتقسیم نه وړاندې ملاؤشوې وی نوبیاخوداد هغه حق دې خوکه په مجاهدینو کښې حصې تقسیم شوې نو بیا دهغه هیڅ حق باقی نه پاتې کیږی.

داصرف یواتفاق دې چه حضرت عمر رضی الله عنه په دې اثر کښې داتصریح نه ده کړې چه دخپل مال قیمت اداکولو نه پس د غانم په مقابله کښې زور مالك زیات حقدار دې. کنی دحضرت عمر رضی الله عنه په اول ذکرشوی اثر کښې دا تصریح راغلې ده. دهغوی په یوبل اثر کښې هم دا تصریح موجود ده دغه اثر وړاندې راځی.

**دحضرت عمر رضی الله عنه په اثر باندې اشکال اودهغې جواب** دحضرت عمر رضی الله عنه ددې دویم اثر په سند کښې راوی قبیصه بن ذؤیب باندې کلام کړې شوې دې چه دحضرت عمر رضی الله عنه نه دهغه سماع

---

(۱) المحلی بالاثار لابن حزم:۵/ ۳۵٤ کتاب الجهاد اختلاف الناس فی مال المسلم يجده فی غنيمة.

(۲) المحلی بالاثار لابن حزم:۵/ ۳۵٤.

(۳) عمدة القاری ۱۵/ ٤ وإعلاء السنن:۱۲/ ۳۱۲.

او لقاء (ملاقات) ثابت نه دې (۱) ابوسهیل رحمه الله دا اثر مرسل گرځولې دې (۲) لیکن حقیقت دادې چه دا اثر موصول دې حافظ ابن عبدالبر رحمه الله په الاستیعاب کښې لیکې د قبیصه بن ذؤیب پیدائش په یوروایت کښې د فتح مکه په ورځ او په یوروایت کښې دی چه د هجرت په اول کال شوې (۳) روایت کښې دی چه حضورپاک ﷺ دهغه دپاره دبرکت دعا فرمائیلې (۴) ددې دپاره ابن شاهین فرمائیلی چه دا صحابی وو (۵) حافظ ابن حجر رحمه الله تهذیب التهذیب کښې د ابن قانع داقول دهغه باره کښې نقل کړې دې له رؤیة (۶) ددې نه هم د قبیصه بن ذؤیب دصحابی کیدو تائید کیږی ددې نه علاوه حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ابودرداء رضی الله عنه حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها او حضرت ابوهریره رضی الله عنه غوندې کبار صحابه کرامو نه نې د حدیث سماع کړې ده اودهغوی نه نې روایات اخستې دی (۷)

د مذکوره دلائلو په رڼا کښې دحضرت عمر رضی الله عنه سره د قبیصه بن ذؤیب ملاقات ممکن دی دمحدثینو په نیز د سند د اتصال دپاره د راوی اومروی عنه دزمانې یوکیدل هم کافی دی (۸) امام مسلم رحمه الله هم د صحیح مسلم په مقدمه کښې فرمائیلی چه د اتصال سند دپاره امکان لقاء کافی ده (۹) فرض کړه که حضرت عمر رضی الله عنه سره د هغوی ملاقات ثابت هم نه وی خو بیاهم د اصول حدیث په رڼا کښې دا اثر موصول دې ځکه چه کله حضرت ابوبکر رضی الله عنه اوحضرت ابودرداء رضی الله عنه سره د قبیصه بن ذؤیب ملاقات ثابت دې نوحضرت عمر رضی الله عنه سره ددوی دملاقات امکان د دواړو دزمانې یوکیدل بالکل هم یوه خبره ده.

دویم جواب علامه عینی رحمه الله داورکړې دې چه د قبیصه بن ذؤیب ملاقات که حضرت عمر رضی الله عنه سره ثابت نه وی نو بیاهم مذکوره روایت مرسل گرځول معمول به جوړیدې شی اوددې تائید هم دحضرت عمر رضی الله عنه د یواثر نه کیږی. هغه دادې: عن رجاء حیوة أن ابن عبیدة رضی الله عنهما کتب إلی عمر بن الخطاب — رضی الله عنه — فی هذا فقال: من وجد ماله بعینه فهو أحق به بالثمن الی حسب علی من أخذه، وکذلك إن بیع ثم قسم منه فهو أحق به بالثمن. (۱۰)

علامه ظفر احمد عثمانی رحمه الله یوقوی جواب ورکړې دې هغه فرمائی چه تدریب الراوی کښې

---

(۱) عمدة القاری: ۱۵/۴.

(۲) إعلاء السنن: ۱۲/۳۱۲.

(۳) الاستیعاب لابن عبدالبر علی هامش الاصابة لابن حجر ۳/۲۵۵ و تهذیب التهذیب: ۸/۳۴۷.

(۴) الاستیعاب علی هامش الاصابة ۳/۲۵۶ و تهذیب التهذیب: ۸/۳۴۷.

(۵) إعلاء السنن: ۱۲/۳۱۲.

(۶) تهذیب التهذیب: ۸/۳۴۷.

(۷) تهذیب الکمال فی أسماء الرجال للحافظ المزی: ۲۳/۴۷۷ و تهذیب التهذیب: ۸/۳۴۶.

(۸) تدریب الراوی فی شرح تدریب النووی: ۱/۲۱۵.

(۹) مقدمة صحیح مسلم: ۱/۲۱ — ۲۲.

(۱۰) عمدة القاری: ۱۵/۳.

علامه سیوطی رحمه الله فرمائی چه کله د مرسل تائید د مسند روایت نه یا بل داسې مرسل روایت سره وی د کوم راوی چه د رومبی مرسل نه مختلف وی نو داسې دواړه روایتونه د صحیح درجه لری ترهغه وخته پورې چه د دغه دواړو په مقابله کښې یو صحیح حدیث معارض شی نو دغه دواړو ته به ترجیح حاصله وی او صحیح روایت به مرجوح وی د قبیصه مذکوره روایت امام بیهقی رحمه الله د حضرت عمر رضی الله عنه په دریو واسطوسره نقل کړې دې او یویو کولوسره په دوو مختلفوواسطوسره عبدالرزاق او ابن ابی شیبه هم روایت کړې دې دغه شان تول پنځه مراسیل جویریی لکه چه هم یوروایت دحضرت عمر رضی الله عنه نه په پنځو واسطوسره نقل دی اوهرمرسل دبل د پاره موید دې (۱) په دې صورت کښې که د قبیصه روایت مرسل تسلیم هم کړې شی نو هیڅ مضائقه نشته خکه چه د اصول حدیث په رڼا کښې صحیح روایت هم کوم چه د دې معارض وی مرجوح به وی.

**دمکاتب مدبر او ام الولدحکم:-** دلته دویمه مسئله داده چه که هم په دغه مال کښې کوم چه اهل حرب اخستې دې اواهل اسلام په حمله کولوسره دوباره حاصل کړو نو دمکاتب مدبر او ام الولد هم شامل وی نو د دوی څه حکم دې؟ په دې کښې هم اختلاف دې

**دَ امام مالک امام احمد اوامام ثوری رحمهم الله مسلک -** دَ امام مالک امام احمد اوامام ثوری رحمهم الله په نیزد مسلمانانو دعامو مالونو په شان په مکاتب مدبر او ام الولدباندې هم په غلبه اواستیلاء سره دَ اهل حرب دَ مشرکینو ملکیت ثابتیږی لهذا هغه دَ عامو مالونو په شان دَ مال غنیمت دَ تقسیم نه وړاندې به زوړمالك ته واپس کولې شی خود تقسیم نه پس به صرف دې صورت کښې زوړمالك ته واپس کول جائزوی کله چه هغه د دې قیمت یا عوض اداکړی (۲)

د دوی استدلال دَ حضرت علی رضی الله عنه دَ روایت نه دې: **عن قتادة أن مكاتبا أسره العدو فاشتراه رجل، فسأل بن قرواش عنه علی بن أبی طالب — رضی الله عنه — فقال له علی رضی الله عنه: إن أفتكه سيده فهو على كتابته وإن أبى أن يفتكه فهوللذى اشتراه.** (۳) دښمن یومکاتب قیدکړې ووکوم چه یوسړی واخستو بکر بن قرواش دحضرت علی رضی الله عنه نه د دې معامله دَ نوعیت دَ شرعی حکم تپوس اوکړو نوحضرت علی رضی الله عنه اوفرمائیل که آقا دا مکاتب دَ دښمن دَ قید نه آزادکړې وی نوهغه به د وړاندې په شان دهغه مکاتب وی اوکه آقاداسې نه وی کړې اودَ خلاصی نه ئې انکار اوکړونوبیابه دمکاتب اخستونکې دهغه مالك وی

**دَاحنافو مسلک:-** دَ احنافو په نیز مکاتب مدبر اوام الولد دعام مالونو په حکم کښې نه دی. شرعًا دادریواړه دَ آزادپه حکم کښې دې په کوموچه دعامو مالونو په شان دَ اهل حرب د مشرکانو ملکیت غلبه او استیلاء قطعًا نه ثابتیږی په دې وجه دعام مالونو برعکس په دریواړوکښې په هریوباندې دَ زوړمالك ملکیت په هرصورت برقراروی. دَ مال غنیمت په

---

۱) إعلاء السنن:۱۲/۳۱۲.

۲) المغنی والشرح الکبیر للامامین موفق الدین وشمس الدین ابن قدامة:۱۰/۴۷۴.

۳) أخرجه ابن أبی شیبة فی مصنفه انظرالمحلی بالاثار لابن حزم:۵/۳۵۳.

تقسیم سره ددې ملکیت نه ختمیږي نوکه دغنیمت مال تقسیم شوې وي اوکه نه مکاتب مدبراو ام الولد به د مخکینی مالك په ملکیت کښې وي (۱).

**د احنافو استدلال** د احنافو استدلال دحضرت عمر رضی الله عنه د اثر نه دې د سنن سعیدبن منصور روایت دې حدثنا عثمان بن مطرالشیبانی حدثنا أبوحریز عن الشعبی قال: أغار أهل "ماه" وأهل "جلولاء" علی العرب، فأصابوا سبایا من العرب ورقیقا، ومتاعا، ثم إن السائب بن الأقرع عامل عمر — رضی الله عنه — غزاهم ففتح ماه" وکتب إلی عمر — رضی الله عنه — فی سبایا للمسلمین ورقیقهم ومتاعهم قد اشتراه التجار من أهل ماه" فکتب الیه: أن المسلم أخوالمسلم لایخونه ولایخذله، فأیما رجل من المسلمین أصاب رقیقه ومتاعه بعینه فهو أحق به، وإن أصابه فی أیدی التجار بعد ما أقتسم فلا سبیل إلیه، وأیما حر اشتراه التجار فانه یرد علیهم رؤوس أموالهم فان الحر لایباع ولایشتری. (۲)

په روایت کښې دي چه اهل "ماه" او "جلولاء" په جزیرة العرب باندې حمله اوکړه د عربو قیدیان غلامان اومالونه ئې لوټ کړل لاړل. حضرت عمر رضی الله عنه سائب بن اقرع د لښکرامیرجوړ کړو اودهغوی خلاف ئې د جنګ په مهم باندې روان کړل هغوی ته فتح اوشوه نو چه د مسلمانانو کوم قیدیان غلامان اومال اومتاع چه سوداګرو د اهل ماه نه اخستې وو حضرت سائب بن اقرع دهغې دحکم معلومولودپاره دحضرت عمر رضی الله عنه په خدمت کښې استفسارنامه اولیګله حضرت عمر رضی الله عنه په جواب کښې اولیکل یومسلمان د بل مسلمان رور دې هغه نه ده سره خیانت کوی او نه هغه بې آسرې پریږدی. کوم مسلمان چه خپل غلام یا مال اووینی هم هغه دهغې اصل حقداردې. اوکه چرې هغه دا مالونه د غنیمت د مال دتقسیم نه روستو سوداګرو سره اووینی نو بیا هغه سره ددې د حاصلولو هیڅ لارنشته. اوالبته که سوداګرو احرار اخستې وی نوهغه (سوداګرو)ته دې دهغې پیسې واپس کړی (اواحرار دې دهغوی نه واپس واخلی) ځکه چه د آزاد (حر) اخستل اوخرڅول جائزنه دی.

**قوله: وإن أصابه في أيدي التجار بعدما اقتسم فلا سبيل له:-** یعنی د غنیمت دمال د تقسیم نه پس کله چه مخکینې مالك خپل مال متاع اوغلامان وغیره سوداګروسره اووینی نوبیاهغه سره ددې دحاصلولوهیڅ لارنشته. علامه ظفراحمد عثمانی رحمه الله فرمانی چه د حضرت عمر رضی الله عنه ددې اثر مطلب دادې که هغه دخپل مال قیمت نه اداکوی نوپه دغه صورت کښې به هغه ته هیڅ نه شی ورکولې. کنی سوداګروته دمال قیمت اداکولونه پس به هغه زیات حقداروی. لکه چه شاته هم دحضرت عمر رضی الله عنه یواثرکښې ددې تصریح موجودده.

دلته په زیربحث مسئله کښې د احنافو استدلال په اصل کښې حضرت عمر رضی الله عنه مذکوره اثر کښې فان الحر لایباع ولایشتری نه دې اودحریت او آزادئی علت په مکاتب مدبر او ام الولدکښې موجود دې په دې وجه به د غلبه او استیلاء نه په دوی باندې د حربیانو ملکیت هیڅ کله نه

---

۱) أوجزالمسالک: ۸/۳۸۰ — ۳۸٤. وردالمختارعلی الدرالمختار: ۶/۲۵۹ کتاب الجهاد.

۲) أخرجه سعید بن منصور فی سننه: ۲/۲۸۸، ۲۸۹ دارلکتب العلمیة بیروت

ثابتیږی په دې وجه چه کله اهل اسلام په دارالحرب باندې د حمله کولو په نتیجه کښې هغه د حربیانو نه واخلی او بیانی دارالاسلام ته راوړی نو پخوانی مالکان به د دې د اخستلو زیات حقدار وی. (١)

**امام مالک امام احمداو ابوثور رحمهم الله د استدلال رد** -د دوی استدلال د حضرت علی رضی الله عنه د اثرنه وو چه که د مکاتب آقا دې خلاص کړو نو هغه به هم هغه شان مکاتب وی کنی په بل صورت کښې به مکاتب اخستونکې هم اصل مالك وی. د دې استدلال جواب ورکولو سره علامه ظفر احمد عثمانی رحمه الله فرمائی وهومحمول عندنا علی أن مولاه إن لم يفتكه، فللذي اشتراه أن يحبسه عنده حتى يتوفى ثمنه بدليل ..... أن الحر لايباع ولايشترى والمكاتب والمدبر وأم الولد في حكم الحر، لايباع أحد منهم ولايشترى. (٢) يعنی زمونږ په نيزدا اثر په هغه صورت باندې محمول دې چه كله آقا د مكاتب په راخلاصولو كښې انكاراوكړی نوبيا د هغه اخستونكې صرف د دومره مودې د پاره د خپل خدمت د پاره رامنع ساتی په كومې سره چه هغه قيمت پوره شی چه د هغه د اخستلو په وخت ئی اداکړې وو. د دې دليل د حضرت عمر رضی الله عنه دا اثر دې چه د آزادسړی اخستل اوخرڅول جائزنه دی. مکاتب مدبر اوام الولد هم د آزاد په حکم کښې دی په دې وجه به په دوی کښې د يوهم اخستل اوخرڅول جائزنه وی.

**د عبدابق حکم**:- هم د دې مسئله په ذيل کښې فقهاؤ د عبدآبق حکم هم بيان کړې دې. د عبدآبق په حکم کښې د ائمه احناف په مينځ کښې اختلاف دې.

**د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله مسلک**:- د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله په نيزعبدآبق مکاتب مدبر او ام الولد په حکم کښې دې. په دې وجه د دارالحرب د تختيدونه پس د مولاملکيت ختميدو د وجه نه عبدآبق د آزاد غلام په شان د هيچا مملوك نه شی جوړيدې. هم دغه قول د امام احمدبن حنبل رحمه الله هم دې. (٣)

**د صاحبينورحمهما الله قول**:- د قاضی ابويوسف رحمه الله او محمد رحمه الله په نيزد عبدآبق حکم د عام اموال او املاك په شان دې. په دې وجه د دې حضراتو په نيزد غلبه اواستيلاء په ذريعه به اهل حرب د عبدآبق مالکان وی. کله چه اهل اسلام په دارالحرب باندې حمله اوکړی هغه اونيسی خان سره ئی راولی نود غنيمت د مال د تقسيم نه وړاندې که زوړ مالك به د قيمت اداکولونه بغير د اخستلو مجازوی خود مال غنيمت د تقسيم نه پس د ده استحقاق په قيمت اداکولوسره مشروط وی (٤) هم دغه قول د امام مالك رحمه الله هم دې. په المدونه کښې دی چه د هغوی په نيز عبدآبق او غيرآبق دواړو يوحکم دې. (٥) د حنابله هم دغه مسلك دې. په المغنی کښې دی.

---

(١) إعلاء السنن:١٢/٣١٩.

(٢) إعلاء السنن:١٢/٣١٩.

(٣) إعلاء السنن:١٢/٣١٩

(٤) أوجز المسالک للكاندهلوی رحمه الله ٨/٢٧٧وإعلاء السنن:١٢/٣١٧ — ٣١٨.

(٥) المدونة الكبرى:٢/٥٩٤كتاب الجهادباب فی الرجل يعرف متاعه وعبيده قبل أن يقعوا فی المقسم؛ وأوجزوالمسالک إلى موطا الامام مالک:٩/١٧٧ دمشق دارالقلم.

وبناً انه مال لوأخذوه من دار الاسلام ملكوه، فاذا أخذوه من دار الحرب ملكوه كالبهيمة [١]

**د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله استدلال** د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله استدلال جامع ترمذى او سنن ابوداؤد كښې د حضرت على رضى الله عنه د روايت نه دې عن ربعى بن حراش عن على رضى الله عنه قال: خرج عبدان الى رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم —يعنى يوم الحديبية قبل الصلح— فكتب اليه مواليهم فقالوا: يا محمد! والله ما خرجوا اليك رغبة دينك وانما خرجوا هرباً من الرق، فقال ناس صدقوا يارسول الله، ردهم اليهم، فغضب رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم وأبى أن يردهم، قال: هم عتقاء الله عزوجل [٢]

حضرت على رضى الله عنه روايت كوى چه د حديبيه په ورځ د صلح نه وړاندې دوه غلامان رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغلل د دوارو موالى د حضورپاك په نوم خط كښې دا اوليكل په خدائې چه دا تاسو له ستاسو د دين د رغبت د وجه نه دى درغلى بلكه د غلامئ نه تختيدلى درغلى خلقو عرض اوكړو يارسول الله دوى ربښتياوانى دا غلامان دوى ته واپس كړه رسول الله صلى الله عليه وسلم چه دا واوريده نو غصه شواود هغوى د واپس كولونه ئې انكار اوكړو او وئې فرمائيل دوى ته الله تعالى آزادى وركړې ده

علامه ظفراحمدعثمانى رحمه الله د امام ابوحنيفه رحمه الله په تائيدكښې د دې روايت نه استدلال كولوسره تحريرفرمائى چه كله د دارالحرب نه دارالاسلام طرف ته راتلونكې غلام د مسلمانانو د ملكيت لاندې راتلوسره غلام نه پاتې كيږى نو دارالاسلام نه دارالحرب ته تختيدونكې د يومسلمان غلام په طريقه اولى د مشركين اهل حرب د ملكيت لاندې نه شى راتلې [٣]

**د صاحبين رحمهماالله استدلال اود هغې رد:** د صاحبينو رائې وه چه عبدآبق د عامومالونو په حكم كښې دې د هغوى استدلال د مصنف ابن ابى شيبه د دې روايت نه دې أن أمة لرجل مسلم أبقت إلى العدو، فغنمها المسلمون، فعرفها أهلها، فكتب فيها أبوعبيدة بن الجراح إلى عمر، فكتب إليه عمر: ان كانت لم تخمس ولم تقسم فهى رد على أهلها، وان كانت قد خمست وقسمت فامضها لسبيلها. [٤]

روايت كښې دى چه د يومسلمان وينځه دښمن له اوتختيده كله چه هغه د اهل اسلام په مال غنيمت كښې ملاؤشوه نوهغه مالك اوپيژندله حضرت ابوعبيده بن جراح رضى الله عنه حضرت عمر رضى الله عنه خط اوليكلو حضرت عمر رضى الله عنه په جواب كښې اوليكل كه خمس اومال غنيمت تقسيم شوې نه وى نودغه وينځه دې خپل آقاته حواله كړى اوكه چرې خمس اومال غنيمت تقسيم شوې وى نوبياچه دې سره څه كيږى هغه هم په هغه حالت پريږدئى يعنى د مال غنيمت په تقسيم كښې چه د چاپه حصه كښې راغله هم هغه سره ئې پريږدئى

---

[١] ) المغنى لابن قدامة:٤٧٧/١٠ رقم الفصل:٧٥٤٧.

[٢] ) أخرجه ابوداؤدفى سننه. كتاب الجهاد باب فى عبيدالمشركين يلحقون بالمسلمين فيسلمون رقم:٢٧٠٠والترمذى فى جامعه:٢١٣/٢كتابالمناقب باب مناقب على رضى الله عنه رقم:٣٧١٦.

[٣] ) إعلاء السنن:٣٢٠/١٢.

[٤] ) المحلى بالاثار لابن حزم رحمه الله ٣٥٤/٥.

خودي استدلال جواب دادې چه په مذکوره روايت کښې د کومې وينځې ذکردې هغه دخپل آقاد کورنه اوتختيده نوحربيانوهغه هم په دارالاسلام کښې نيولې وه او دارالحرب ته نۍ بوتلې وه چونکه په دارالاسلام کښې دهغې حيثيت د وينځې وو آزاده شوې نه وه په دې وجه د دارالحرب د ملکيت اعتبار اوکړې شو (١) د روايت نه داخبره نه ثابتيږي چه وينځه دارالحرب ته تلې وه په دغه صورت کښې به دا دخپل آقاد ملکيت نه وتلې وه او آزاده شوې به وه او په دې به د دارالحرب ملکيت حزيت علت د موجودګئې د وجه نه نه ثابتيدو

## باب-۱۸۴ من تكلم بالفارسية والرطانة

**د ترجمة الباب مقصد:** علامه ابن بطال حافظ ابن حجر اوعلامه عينى رحمهم الله فرمائى چه په دې ترجمة الباب سره امام بخارى رحمه الله داخودل غواړى چه اهل حرب ته هم دهغوى په ژبه کښې امان ورکړئى دَدې به هم اعتبار وى. يعنى امان ورکولودپاره عربى ژبه کښې خبرې کول شرط نه دى عجمى ژبه هم کولې شى. (٢)

علامه قسطلانى رحمه الله فرمائى کتاب الجهاد کښې داترجمه قايم کولوسره امام بخارى رحمه الله دا يقين ورکول غواړى چه د اکناف عجم نه راتلونکى سفيرانو اوقاصدانوسره خبرې اترې کولودپاره عربومسلمانانوته په فارسئى کښې د خبرواترو ضرورت پيښيدې شي په دې وجه هغوى له فارسى ژبه زده کول پکاردى. رسول الله ﷺ حضرت زيد بن ثابت ته د عجمى ژبو زده کولوحکم ورکړو (٣)

بالفارسية:- يعنى د فارس قوم ژبه، د قوم فارس د جداعلى نوم فارس بن کومرس وو په دې وجه دهغوى ژبه ته فارسى وئيلې شى. (٤) داکومرس څوك وو؟ حافظ ابن حجر رحمه الله دَده باره کښې مختلف اقوال نقل کړى دى: ① دا دَسام بن نوح دَاولادنه وو. ② يوقول دادې چه دَيافث بن نوح دَاولادنه وو. ③ بعض حضرات وائى چه کومرس دَحضرت آدم عليه السلام نه پيداشوې دې ④ څلورم او آخرى قول دادې چه کومرس په حقيقت کښې هم حضرت آدم عليه السلام پخپله دې (والله اعلم)(٥)

د کومرس اووه لس (١٧) ځامن وو تول بهادر تکړه او بې مثله فارس (سواره)وو په دې وجه د پوره قوم نوم فارس شو (٦) خودا توجيه مخدوش ګنړلوسره حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه اشتقاق د عربى ژبه خصوصيت دې اوداخصوصيت په عجمى ژبوکښې نه شى موندلې په دې وجه دا ويناکول صحيح نه دى چه د کومرس قوم نوم دهغوى د بې مثله فروست (شهسوارئى)

---

[١] إعلاء السنن:١٢/٣١٨و ٣٢٠.

[٢] شرح ابن بطال:٥/٢٣١ وعمدة القارى:١٥/٩ وفتح البارى:٦/٢٢٦.

[٣] إرشادالسارى للقسطلانى:٥/١٨١.

[٤] فتح البارى:٦/٢٢٦.

[٥] د څلورو واړو اقوالودپاره اوګورئى فتح البارى:٦/٢٢٦.

[٦] عمدة القارى:١٥/٥وفتح البارى:٦/٢٢٦.

د وجه نه فارس شوې دې. مشهوره داده چه داس نسل د ټولونه اول د حضرت اسماعیل علیه السلام بن ابراهیم علیه السلام د پاره مسخر کړې شو (۱) والله اعلم

الرطانة. په راء باندې زبر او زیر لوستل دواړه صحیح دی (۲)، د دې اطلاق د عربی نه علاوه په ټولو عجمی ژبو باندې کیږی. شارح بخاری علامه کرمانی رحمه الله فرمانی چه په هره یوه عجمی ژبه کښې خبرې کولو ته رطانه ونیلې شی (۳) هم دغه خبره صاحب د الافعال او علامه ابن التین رحمه الله هم کړې ده (۴)

علامه ابن الاثیر رحمه الله فرمانی: التراطن: کلام لایفهمه الجمهور، والعرب تخص بها غالبا کلام العجم (۵) د رطانه اطلاق په داسې خبرو اترو باندې کیږی کوم باندې چه عام خلق نه پوهیږی. عرب دې نه عجمی ژبه مراد اخلی

وقوله تعالی ﴿ وَاخْتِلَافُ أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوَانِكُمْ ﴾ /الروم:۲۲/. ﴿ وَمَآ أَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهٖ ﴾ /ابراهیم:۴/.]

دا د سورت روم آیت دې پوره آیت دا دې: ﴿ وَمِنْ اٰیٰتِهٖ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافُ اَلْسِنَتِكُمْ وَاَلْوَانِكُمْ ط اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیٰتٍ لِّلْعٰلِمِیْنَ﴾ (۶) یعنی او د هغه الله تعالی په نښانوکښې د آسمانونو اوزمکې پیداکول او ستاسو ژبې (خبرې) او رنګونه مختلف کیدل دی

مطلب دا دې چه د هر قوم ژبه لهجه طرز د خبرو د بل قوم نه مختلف وی هم دغه شان هر انسان په خپل تخلیق یعنی مخ سره صورت رنګ او شکل په اعتبار سره د بل انسان نه مختلف وی او داسې په دې وجه دی چه د هرسړی یوخپل جدا شاخت وی د یو بل پیژندګلو کول کښې آسانی وی که ټول د آدم علیه السلام اولاد په شکل او صورت رنګ سره هم په یو ډهانچه کښې اچولې شوې وې نو د پیژندګلو د انظام به ګډوډ شوې وو او بې شمیره تعطل به پیدا شوې وې (۷)

﴿ وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهٖ ﴾:- دا د سورت ابراهیم د شروع آیت دې پوره آیت دا دې: ﴿ وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهٖ لِیُبَیِّنَ لَهُمْ ط فَیُضِلُّ اللهُ مَنْ یَّشَآءُ وَیَهْدِیْ مَنْ یَّشَآءُ ط وَهُوَ الْعَزِیْزُ الْحَکِیْمُ﴾ (۸) یعنی الله تعالی چه کوم رسول او نبی کوم قوم ته ورلیګلې دې په هغه باندې هم د هغه قوم په ژبه کښې وحی نازل کړې دې د پاره چه د هغه قوم هم په خپله ژبه کښې د الله تعالی احکام او تعلیماتو باندې پوره شان سره پوهه شی. او د قیامت په ورځ دې وینا کولو سره هغوی ته د عذر

---

(۱) فتح الباری:۶/۲۲۶.
(۲) عمدة القاری:۱۵/۵ وفتح الباری:۶/۲۲۶.
(۳) شرح الکرمانی رحمه الله ۱۳/۶۱.
(۴) شرح ابن بطال:۵/۲۳۲ وعمدة القاری:۱۵/۵.
(۵) النهایة لابن الاثیر رحمه الله ۲/۲۳۳ (مادة رطن)
(۶) سورة الروم:۲۲.
(۷) عمدة القاری:۱۵/۵.
(۸) سورة ابراهیم:۴.

كولوموقع ملاؤنه شي چه هغه تعليمات خو زمونږ د پوهې اوعقل نه بالاوو؟ په كومو قومونو او ملتونو كښې چه انبياء او رسولان مبعوث شوى دى الله تعالى د حجت داتمام دپاره هم په هغوى باندې د هغوى په ژبه كښې وحى نازل كړې

د مذكوره آيت تفسير كولوسره علامه زمخشري رحمه الله فرمانى أى ليفقهوا عنه مايدعوهم اليه فلا تكون لهم حجة على الله، ولايقولوا: لم نفهم ماخوطبنا به (١)

**د باب لاندې د ايات ذكر كولومقصد** علامه عينى حافظ ابن حجر او علامه عسقلانى رحمهم الله فرمانى چه دې آياتونو ذكر كولوسره امام بخارى رحمه الله د دې خبرې طرف ته اشاره كړې ده چه رسول الله ﷺ د مختلف ژبو ويونكو د دنيا ټولو قومونوته پيغمبر جوړ كړې راليګلې شوې دې حضورپاك په دغه ژبوباندې پوهيدلو داځكه چه حضورپاك د هغوى په ژبوباندې پوهه شي او هغوى د حضورپاك په ژبه باندې په آسانئى سره پوهه شى (٢)

**د حافظ ابن حجر رحمه الله رائې** - خوحافظ ابن حجر رحمه الله فرمانى چه د رابطه اوسفارتى فرائضو د پوره كولو د پاره هرقوم سره ثقه اومعتمد ترجمان ضرور وى داخبره يقينى نه ده چه رسول الله ﷺ په هره ژبه كښې خبرې اترې كولې شوې (٣)

احديث ٢٩٠٥ (٤): حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ أَخْبَرَنَا حَنْظَلَةُ بْنُ أَبِي سُفْيَانَ أَخْبَرَنَا سَعِيدُ بْنُ مِينَاءَ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ-رضى الله عنهما- قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، ذَبَحْنَا بُهَيْمَةً لَنَا، وَطَحَنْتُ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ، فَتَعَالَ أَنْتَ وَنَفَرٌ، فَصَاحَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ «يَا أَهْلَ الْخَنْدَقِ، إِنَّ جَابِرًا قَدْ صَنَعَ سُوْرًا، فَحَيَّ هَلاً بِكُمْ». [٣٨٧٥، ٣٨٧٦]

## رجال الحديث

① **عمرو بن على** دا مشهورحافظ حديث ابوحفص عمربن على بحربن كنيزالباهلى الصيرفى البصرى رحمه الله دې كتاب الوضوء باب الرجل يوضئ صاحبه لاندې د دوى تذكره تيره شوې ده.

② **ابوعاصم** - دا ابوعاصم ضحاك بن مخلدبن ضحاك بن مسلم شيبانى بصرى رحمه الله دې. د دوى تذكره كتاب العلم باب طرح الامام المسالة على أصحابه.......لاندې وړاندې تيره شوې ده

③ **حنظله بن ابى سفيان** - دحنظله بن ابى سفيان بن عبدالرحمن بن صفوان بن اميه بن خلف جمحى قرشى رحمه الله دې كتاب الايمان باب قول النبى صلى الله تعالى عليه وسلم بنى الاسلام على خمس

---

(١) تفسير الكشاف للعلامه الزمحشرى رحمه الله ٤٧٩/٣ وعمدة القارى:٦/١٥.

(٢) فتح البارى:٢٢٦/٦ وعمدة القارى:٦/١٥ وإرشادالسارى:١٨/٥.

(٣) فتح البارى:٢٦/٦.

(٤) وعنده أيضا فى صحيحه:٢٥٨٨/ – ٥٨٩ فى كتاب المغازى باب غزوة الخندق رقم:٤١٠١ وعندمسلم فى صحيحه:١٧٨/٢ فى كتاب الاشربة باب جواز استتباعه غيره إلى دارمن يثق برضاه بذلك رقم:٢٠٣٩ وقد تفرد به الشيخان. انظر تحفة الاشراف:١٨٣/٢ رقم:٢٢٦٣.

لاندې د دوى تذکره تیره شوې ده (۱)

⑥ **سعیدبن میناء** دا ابوولیدسعیدبن عیناء المدنی الکوفی رحمه الله دې کتاب الجنائز باب التکبیرعلى الجنائزأربعا لاندې د دوى تذکره تیره شوې ده

⑤ **جابربن عبدالله** رضي الله عنه دامشهورصحابى جابربن عبدالله رضي الله عنه دې د دوى تذکره کتاب الوضوء باب صب النبى صلى الله تعالى علیه وسلم وضوءه على المغمى علیه لاندې تیره شوې ده

**قوله** قلت یارسول الله، ذبحنا بهیمة لنا، وطحنت صاعا من شعیر، فتعال أنت ونفر: د حضرت جابربن عبدالله رضي الله عنه روایت دې چه ما عرض اوکړو یارسول الله ! مونږ د چیلئی یو وړوکې غوندې بچې ذبح کړې دې او یوصاع اوربشې مو اوړه کړې دی تاسو د یوڅو کسانو سره زمونږ کورته تشریف راوړئ بهیمة داد بهمة تصغیردې د کډې وړوکې بچې (۲) بهیمه د مؤنث اومذکردواړوداپاره استعمالیږى بهم اوبهام د دې جمع راځی

**قوله** فصاح النبی صلی الله تعالی علیه وسلم: فقال: یا أهل الخندق إن جابرًا قد صنع سورًا، فحی هلابکم: رسول الله ﷺ په اوچت آواز سره ارشاد اوفرمائیلو جابر د دعوت اهتمام کړې دې زر راشئ

سؤر- د دعوت په موقع تیار کړې شوې خوراك ته سؤر وائی (۳) داد فارسی ژبه لفظ دې د یوقول مطابق د دې اطلاق په هرقسم خوراك باندې کیږى (۴) علامه اسمٰعیلی رحمه الله هم د دغه رائې ده (۵) د بعض حضراتو په نیز د دې اطلاق په فارسی ژبه کښې صرف په دعوت ولیمه باندې کیږى (۶) د بعضو په نیزدا د حبشى ژبه لفظ دې اود عام خوراك د پاره ویلې شی د زیات استعمال د وجه نه د عربو په ژبه ورختلې دې او په عربی کښې هم استعمالیږى (۷)

فحی هلابکم - د دې معنی ده أقبلوا أو أسرعوا بأنفسکم (۸) یعنی راورانډې شئ یا زرکوئ دا لفظ د حی او هل مرکب دې. د هل لام تنوین سره یابغیرتنوین د علا په وزن اوسکون سره هل لوستلې شی. دا لفظ باء إلى اوعلى نه هم متعدى دې بل دواړه حروف جدا هم مستعمل دی

---

۱) کشف البارى:۱/۶۳۶.

۲) شرح الکرمانی:۱۳/۶۲.

۳) النهایة لابن الاثیر رحمه الله ۱/۱۶۸ (ماده ب ه م) وعمدة القارى:۱۵/۶.

۴) شرح الکرمانی:۱۳/۶۲ وشرح النووى على صحیح مسلم:۲/۱۷۸ کتاب الاشربة باب جواز استتباعه غیره

۵) شرح النووى على صحیح مسلم.۲/۱۷۸.

۶) فتح البارى:۶/۲۲۶.

۷) عمدة القارى:۱۵/۶.

۸) عمدة القارى: ۱۵/۶وشرح النووى على صحیح مسلم:۲/۱۷۸.

۹) عمدة القارى:۱۵/۶.

حی دَ أقبل په معنی کښې دې او هلا أسکن په معنی کښې دې [1]

علامه داؤدی رحمه الله دَدې یوه بله معنی کړې ده. فحیهلابکم: أی أقبلوا أهلابکم أتیتم أهلکم دَدې قول په وړاندې حی هلا کلمات دَترحیب دَ قبیل نه هم کیدې شی [2]

**دَ حدیث باب مقصد** - بعض داسې روایات نقل دی په کوم کښې چه فارسی ژبې ته ناخوښه ونیلې شوی دی او په فارسی کښې خبرې اترې کولو ممانعت وارد شوې دې حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه روایت باب نه امام بخاری رحمه الله ددغه روایاتو ضعیف او بې اصل کیدو طرف ته اشاره کړې ده مثلاً یو روایت دې کلام أهل النار بالفارسیة [3] یعنی دَاهل جهنم ژبه به فارسی وی دغه شان یو بل روایت دې من تکلم بالفارسیة زادت فی خبثه ونقصت من مروءته [4] یعنی چاچه په فارسی ژبه کښې خبرې اوکړې دَهغه خباثت به زیاتیږی اومروت به ئې کمیږی دا دَمستدرك حاکم روایت دې حافظ صاحب په دې باره کښې فرمائیلی دی وسنده واه دَدې سند واهی او بې اصل دې [5]

هم په دغه مستدرك حاکم کښې دَحضرت عمر رضی الله عنه طرف ته هم یو روایت منسوب دې من أحسن العربیة فلایتکلمن بالفارسیة فانه یورث النفاق [6] یعنی په عربی ژبه کښې ښه خبرې کونکې دې په فارسی کښې هیڅ کله خبرې نه کوی ځکه چه دا نفاق پیدا کوی دې روایت ته هم بې اصل ونیلو سره حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی وسنده واه [7]

ردالمحتار علی الدرالمختار کښې علامه ابن عابدین شامی دَصاحب الولوجیه دا قول نقل کړې دې چه دَعربی نه علاوه دَالله تعالی بل هیڅ یوه ژبه خوښه نه ده دغه شان دَحضرت عمر رضی الله عنه طرف ته دَ یو قول نسبت کولو سره لیکی إنه نهی عن رطانة الاعاجم یعنی حضرت عمر رضی الله عنه به دَعجم ژبه وئیلو نه منع فرمائیله.

دې نه علاوه سنن ابن ماجه کښې یو روایت دې چه رسول الله ﷺ دَحضرت ابوهریره دَ بیمارئې دَ تیوس په وخت فارسی کښې فرمائیلی اشکمت درد؟ [8] یعنی أتشتکی بطنك (آیاتاته دَ خیټې دَ درد شکایت دې؟) نو دا روایت دَسند او متن په اعتبار سره معلول او ضعیف دې دَدې

---

[1] ) عمدة القاری: ۱۵/۶.

[2] ) عمدة القاری: ۶/۱۵.

[3] ) فتح الباری: ۲۲۷/۶.

[4] ) فتح الباری: ۲۲۷/۶.

[5] ) فتح الباری: ۲۲۷/۶.

[6] ) فتح الباری: ۲۲۷/۶.

[7] ) فتح الباری: ۲۲۷/۶.

[8] ) ردالمحتار علی الدرالمختار: ۵۲۱/۱.

په سند کښې ذواد بن علیه او دغه شیخ لیث بن أبي سلیم بن زنیم دواړه ضعیف دی [1]
علامه ابن جوزی رحمه الله د ابن ماجه دغه دواړو راویانو د وجه نه دا روایت ضعیف ګرځولې دې په کوم کښې چه د اشکمت درد الفاظ د رسول الله ﷺ طرف ته منسوب کولوسره دحدیث درجه ورکړې شوې ده [2] دغه شان شاه عبدالغني مجددی دهلوی رحمه الله إنجاح الحاجة في شرح ابن ماجة کښې دعلامه فیروزآبادی رحمه الله دا قول نقل کړې دې چه اشکمت درد او نورو فارسي الفاظ کوم چه رسول الله ﷺ طرف ته منسوب دی‌هغه دې هیڅ اصل نشته [3]
لیکن حقیقت دادې چه دا اقوال ناقابل احتجاج دې د رسول الله ﷺ طرف ته منسوب کړې شوی داسې روایات هم سندومتن په لحاظ سره مخدوش او بې بنیاددی په کوم کښې چه د فارسي یا عجمی ژبومذمت کړې شوی وی. پخله د قرآن مجید دا آیت ﴿ وَاخْتِلَافُ أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوَانِكُمْ ﴾ کښې هره یوه ژبه د الله تعالی د طرف نه کیدل واضح او بدیهی دی. په ظاهره عجمی ژبې ناخوښه کول او په دې کښې د خبرو اترو کولو منع ګرځولو کښې هیڅ معقول وجه نه ښکاری. خلاصه دا چه ترجمة الباب د حدیث نه دامام بخاری رحمه الله مقصددادې چه په عجمی ژبه کښې خبرې اترې کول جائزدی ددې دناجائزګرځولو هیڅ څه وجه نشته
علامه نووی رحمه الله هم ددې حدیث په ذیل کښې په شرح صحیح مسلم کښې تحریر فرمائی وقد تظاهرت أحادیث صحیحة بان رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم تکلم بالفاظ غیرالعربیة فیدل علی جوازه. [4] مطلب دادې چه دمختلف احادیث صحیحه نه ثابت دی چه رسول الله ﷺ په غیرعربي کښې خبرې کړې دی نوښکاره خبره ده چه دا په هره یوه عجمی ژبه کښې د خبرو کولو په جواز باندې دال دې.
**ترجمة الباب سره دحدیث باب مناسبت:** - په حدیث باب کښې دی جابر اقدصنع سورا ترجمة الباب سره ددې مناسبت ښکاره دې.
[حدیث ۲۹۰۶] [5] حَدَّثَنَا حِبَّانُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ عَنْ خَالِدِ بْنِ سَعِيدٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أُمِّ خَالِدٍ بِنْتِ خَالِدِ بْنِ سَعِيدٍ قَالَتْ أَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - مَعَ أَبِي

---

[1] ) تحفة الاشراف:۳۱۷/۱۰ رقم:۱٤۳۵۱.
[2] ) العلل المتناهية لابن الجوزی:۱/۱۲۹ وقال: هذان حديثان لايصحان.
[3] ) حاشيه المسماة بانحاج الماجة للشيخ عبدالغنى المجدى الدهلوى على هامش سنن ابن ماجه:۲٤۷ كتاب الطب باب فى الصلوة شفاء والابواب والتراجم للمحدث الكاندهلوى ص:۲۰۳.
[4] ) شرح مسلم للامام النووى:۱۷۸/۲ كتاب الاشربة باب جواز استتابة غيره......
[5] ) وأيضًا رواه البخارى:۵٤٦/۱ فى كتاب المناقب باب هجرة الحبشة رقم:۳۸۷٤ و ۵٦٦/۲ فى كتاب اللباس باب المخيصة اللسوداء رقم:۵۸۲۳ و:۸٦۹/۲ باب مايدعى لمن لبس ثوباجديداً رقم:۵۸٤۵ و:۸۸٦/۲ كتاب الادب باب من تبرك صبية غير حتى تلعب به أوقبلها أو مازحها رقم:۵۹۹۳ وأبوداود فى سننه:۶۰۳/۲ فى كتاب اللباس باب مايدعى لمن ليس ثوبا جديداً رقم۱۹...... وقد تفردا به انظر تحفة الاشراف ۲٦۸/۱۱ رقم:۱۵۷۷۹..

وَعَلَى قَمِيصٌ أَصْفَرُ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «سَنَهْ سَنَهْ». قَالَ عَبْدُ اللَّهِ وَهِيَ بِالْحَبَشِيَّةِ حَسَنَةٌ. قَالَتْ فَذَهَبْتُ أَلْعَبُ بِخَاتَمِ النُّبُوَّةِ، فَزَبَرَنِي أَبِي قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «دَعْهَا». ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ «أَبْلِي وَأَخْلِفِي، ثُمَّ أَبْلِي وَأَخْلِفِي، ثُمَّ أَبْلِي وَأَخْلِفِي». قَالَ عَبْدُ اللَّهِ فَبَقِيَتْ حَتَّى ذَكَرَ. [٣٦٦١، ٥٨٤٥، ٥٥٠٧، ٥٦٤٧]

# رجال الحديث

① **حبان بن موسى** - دا ابومحمد حبان بن موسى سوار السلمى المروزى رحمه الله دي. کتاب الاذان باب یسلم حین یسلم الامام لاندې د دوی تذکره تیره شوې ده

② **عبدالله** - دا مشهور محدث عبدالله بن مبارك بن واضح الحنظلى رحمه الله دي. د دوی تذکره بدء الوحی لاندې تیره شوې ده (١)

③ **خالدبن سعید** - دا مشهور تبع تابعی خالد بن سعید بن عمرو بن سعیدبن عاص بن سعید بن عاص رحمه الله دي. امام بخاری رحمه الله په صحیح بخاری کښې د ده هم دغه یوروایت په مختلف ابواب کښې نقل کړې دي. معتمد او ثقه راوی وو. هغوی د خپل پلار سعیدبن عمرو بن سعید بدیح مولی عبدالله بن جعفر او سهل بن یوسف انصاری نه روایت حدیث کړې دي (٢) د هغوی نه جلیل القدر ائمه حدیث یولونی جماعت د حدیث سماع کړې ده. په هغوی کښې عبدالله بن مبارك رحمه الله هم شامل دي. (٣) محمدبن بشیر رحمه الله د هغوی باره کښې فرمائی صدوق. (٤) ابن حبان رحمه الله د هغوی ذکر په ثقات کښې کړې دي. (٥) په یوروایت کښې د هغوی نوم راتلونه پس د امام بخاری رحمه الله تلامذه تپوس اوکړو چه تاسو د چا ذکر کوئی؟

قیل لمحمد: من ذکرت یا أبا عبدالله؟ نو امام بخاری رحمه الله جواب ورکړو الثقة الصدوق المامون خالدبن سعید أخو إسحاق بن سعد. (٦)

④ **عن ابیه (سعیدبن عمرو)**: د عن ابیه نه د هغوی پلار ابوعثمان سعیدبن عمرو بن سعیدبن العاص الاموی رحمه الله مراد دي. د دوی حالات کتاب الوضوء باب الاستنجاء بالحجارة لاندې تیرشوی دی.

⑤ **ام خالدبنت خالدبن سعید** - د دوی نوم امه او ام خالد کنیت وو. د صحابی لور وه او د حضرت زبیربن عوام رضی الله عنه بی بی وه. د دوی حالات کتاب الجنائز باب التعوذ من عذاب القبر

(١) کشف الباری: ١/٤٦٢.
(٢) الانساب للسمعانی: ١/٢٠٩ وتهذیب الکمال الحافظ المزی: ٨/٨١ وتهذیب التهذیب لابن حجر: ٣/٩٥.
(٣) تهذیب الکمال: ٨/٨٢.
(٤) تهذیب الکمال: ٨/٨٢ وتهذیب التهذیب ٣/٩٥.
(٥) ایضاً.
(٦) ایضاً.

لاندې تیر شوی دی (۱)

قالت أتيت رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم مع أبي وعلي قميص أصفر قال رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم: سنة سنة

حضرت ام خالد رضی الله عنها فرمائی چه زه خپل پلار (خالدبن سعید رضی الله عنه) سره د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضره شوم اوما د زیړرنګ قمیص اچولې وو رسول الله ﷺ اوفرمائیل سنه سنه ډیر ښائسته

**قوله** قال عبدالله: وهي بالحبشية حسنة - دا مدرج من الراوی دې دلته د راوی نه سنه سنه معنی بیان شوې ده چه دا د حبشی زبان لفظ دې اوددې معنی ښائسته ده

**دعبدالله نه څوک مراددي؟** - قال عبدالله نه عبدالله ابن مبارک رحمه الله مراددې بعض نسخوکښې ابوعبدالله دې (۲) ابوعبدالله امام بخاری رحمه الله کنیت دې په دې صورت کښې ظاهره ده قائل به پخپله امام بخاری رحمه الله وی. خو علامه قسطلانی رحمه الله ارشاد الساری کښې تحریرفرمائی چه راجح عبدالله دې اودې نه عبدالله ابن مبارک رحمه الله مراد دې (۳)

لفظ سنه ضبط - دا د سین اونون فتحه او "د" په سکون سره دې اود کشمیهنی په روایت کښې د نون نه پس الف سره سناه سناه ضبط شوې دې (۴) خو اکثر د عربویه کلام کښې الف حذف کولوسره سنه هم وئیلې شی. د بعض ارباب لغت رائې ده چه په سنه کښې نون مشدد دې (۵) بهرحال دې نه دامام بخاری رحمه الله مقصد الرطانة بالعجمية ثابت کول دی. چونکه ام خالد رضی الله عنها په حبشه کښې پیداشوې وه په دې وجه رسول الله ﷺ (فداه ابی وامی) دا په لیدو سره د ضیافت طبع په توګه په حبشی ژبه کښې اوفرمائیل چه ډیر ښائسته

قالت فذهبت ألعب بخاتم النبوة، فزبرني، قال رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم: دعها. ثم قال رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم: أبلي وأخلقي، ثم أبلي وأخلقي. ام خالد رضی الله عنها فرمائی چه زه لاړم او د حضورپاک خاتم نبوت سره مې لوبې کولې په دې باندې زما پلارزه اوریتلم نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل دا پریږده (مطلب دا چه د لوبونه ئې مه منع کوه) بیائې اوفرمائیل چه ستا عمر دې دومره اوږد شی چه ته دا قمیص په اغوستو اغوستو سره زوړ کړې

**قوله** أبلي وأخلقي - د ابلا اواخلاق دواړو یوه معنی ده یعنی زړول او خرابول.

---

(۱) وړاندې اختصارسره کتاب اللباس کښې هم دغه ذکراغلې دې اوګورئی کشف الباری کتاب المغازی ص: ۱۷۵.

(۲) شرح الکرمانی: ۶۳/۱۳.

(۳) إرشاد الساری: ۱۸۰/۵.

(۴) عمدة القاری: ۷/۱۵.

(۵) ایضا.

**قوله قال عبدالله: فبقيت حتى ذكر:**- دَدې جملې په تشريح کښې مختلف اقوال دی
① يوقول داديې چه **فبقيت** کښې ضمير فاعل دَام خالد رضي الله عنها طرف ته راجع وی. يعنی **فبقيت ام خالد او حتى ذكر** (صيغه مجهول) کښې ضمير قميص طرف ته راګرځی (١) په دې صورت کښې به ترجمه وی ترکومې چه ام خالد رضي الله عنها ژوندئی وه دَ هغې دَ قميص مشهورتياوه.
② علامه کرمانی رحمه الله فرمائی دَ ذکر ضميردَ راوی طرف ته راګرځی اوعبارت مقدردې. **أي ذكر الراوي، مانسي ذول مدته** (٢)
مطلب دا چه ام خالد سره پيښه شوې دا خارق امر واقعه دومره قابل ذکروه چه راوی تول عمردا هيره نه کړې شوه اودَ **فبقيت** ضمير هم دَام خالد طرف ته راجع دې
③ بعض رواياتوکښې لفظ ذکر په ځائی مذکردَ صيغه مؤنث ذکرت نقل کړې شوې دی. دا مجهول اومعروف دواړه شان لوستل ثابت دی دَ مجهول لوستلو په صورت کښې عبارت مقدردې **حتى صارت مذكورة عند الناس لخروجها عن العادة.** (٣) يعنی ام خالد رضي الله عنها (سره چه دَدې نوعيت کومه واقعه پيښه شوې) خلاف عادت کيدو دَ وجه په خلقوکښې هميشه دَهغې تذکره وه معروف يعنی ذکرت لوستلو په صورت کښې به مطلب داوی چه هغې پخپله دَ دې خارق عادت واقعې تذکره کوله (والله اعلم)
④ دَ ابوهيثم په روايت کښې دَ ذکر په ځائې دکَنَ ضبط شوې دی او ابوذر رحمه الله هم دې ته ترجيح ورکړې ده. دکن دَ دکنة نه مشتق دې. دَ زيات استعمال دَ وجه نه په لباس باندې خيری او دوړې قط کيږی اودَ لباس رنګ تك تور شی هم دې ته دکنة وائی. (٤) دَ دې ځلورم روايت په رڼاکښې دَ مذکوره جمله معنی ده چه ام خالد رضي الله عنها ژوندئی پاتې شوه (اودَ هميشه دَاستعمال دَ وجه نه)دَ قميص رنګ(دَ خيری اودوړو جمع کيدو دَ وجه)تك تور شو. (٥)
⑤ علامه عينی رحمه الله فرمائی **وفي بعض النسخ: فذكر دهرًا، ولفظ دهرا محذوف في كتاب ابن بطال، وذكره ابن السكن، وهو تفسير لهذه الرواية، كانه أراد: بقي هذا القميص مدة طويلة من الزمان، فنسيها الراوي، فعبر عنها بقوله: ذكر دهرًا.** (٦)

يعنی بعض نسخوکښې (دَ حتى ذکر په ځائی)**فذكر دهرًا** دې. خو لفظ **دهرًا** دَعلامه ابن بطال رحمه الله په نسخه کښې محذوف دې. البته ابن سکن رحمه الله دالفظ ذکر کړې دې چه په حقيقت کښې

(١) عمدة القاری:٨/١٥.
(٢) شرح الکرمانی٦٣/١٣.
(٣) عمدة القاری:٨/١٥.
(٤) عمدة القاری:٨/١٥.
(٥) شرح الکرمانی٦٣/١٣وعمدة القاری٨/١٥.
(٦) عمدة القاری:٨/١٥.

ترجمة الباب مذكوره روايت تفسيردي (مطلب دادې چه ددې لفظ په صراحت سره د مذكوره جملې مفهوم واضح كيږى.) لكه راوى دا ونيل غوښتل چه دا قميص د يوې اوږدې مودې پورې موجود وو خوهغه ته دغه موده ياده نه وه په دې وجه ئې ذكرهذا الفاظ اداكړل.

① علامه انورشاه كشميرى رحمه الله ددې روايت په ذيل كښې يوه عجيبه نكته بيانوى. فرمائى ده د عمر په تناسب سره څومره د ام خالد رضي الله عنها قد لوئيدلو دهغې قميص به هغه شان غټيدلو د رسول الله صلى الله عليه وسلم مباركه دعا أبلي وأخلقي.... په بركت سره چه څنګه هغه داوږدې مودې پورې ژوندئ وه هغه قميص هم دهغې په بدن باندې موجوداوسيدوسره لوئيدلو اود مرور ايام نه باوجود په هغې باندې د زړوالى او خرابوالى اثار نه ښكاريده (١)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه د صنعانى په نسخه كښې دترجمة الباب د مذكوره روايت په آخر كښې دَ امام بخارى رحمه الله داقول هم ذكردې. **قال أبوعبدالله — هومصنف — ولم تعش امرءة مثل ماعاشت هذه يعني أم خالد.** (٢) حافظ صاحب فرمائى چه دام خالد رضي الله عنها سره دَ موسى بن عقبه ملاقات هم دهغې په اوږدعمر باندې دلالت كوى خكه چه دهغې نه علاوه چرته بل يوصحابى سره دَ موسى بن عقبه ملاقات نه دې شوى. (٣)

**حديث نه مستنبط فوائد:** علامه عينى رحمه الله دَ ترجمة الباب ددې روايت نه مختلف فوائد مستنبط كړى دى.

① په روايت كښې دى چه دَ ام خالد رضي الله عنها په زيړقميص باندې دَ ناخوښئ اظهارنه دې فرمائيلې. ددې نه معلومه شوه چه دَ ښځودپاره دَ زيړرنګ لباس اغوستل جائزدى.

② په روايت كښې دى چه ام خالد رضي الله عنها دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم خاتم نبوت سره لوبې كولې پلار اورټله نورسول الله صلى الله عليه وسلم هغه دَداسې كولو نه منع كړو چه پريږده لوبې دې كوى. ددې نه معلومه شوه چه دَمشرانو په موجودګئ كښې ماشومان دَ لوبوكولونه دى منع كول پكار.

③ رسول الله صلى الله عليه وسلم ام خالد رضي الله عنها په نوى لباس كښې كتلوسره دعاوركړه. ددې نه ثابته شوه چه نوى لباس اغوستلوسره كتونكې له دهغوى په حق كښې دعاء خير كول دَ سنت نه ثابت دى اودَ اسلام دَ آدابونه دى.

④ رسول الله صلى الله عليه وسلم په عجمى ژبه كښې خبرې اوكړې. ددې نه په عجمى ژبه كښې دَ خبرو اترو كولوجواز ثابتيږى. (٤)

---

(١) فيض البارى: ٤٥٨/٣. علامه انورشاه كشميرى رحمه الله فرمائى فبقيت حتى ذكرت أى بقيت تلك القميص لم يخلقها مضى الليالى. ومرور الايام. ولعل تلك القميص أيضا تتوصع عليهابقدر جسدها. فانها إذا نقصت كانت صبية. فلابد من الزياد فى القميص. ومن يؤمن بقاء تلك القميص إلى زمن لم تخلق. لم يعجزعن الايمان بسعتها ايضا.

(٢) فتح البارى: ٢٢٧/٦.

(٣) ايضا.

(٤) عمدة القارى: ٨/١٥.

**ترجمة الباب سره مناسبت** په روايت كښې سنه سنه مناسبت ترجمة الباب سره ښكاره دې

احديث ۲۹۰۷ [۱] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ زِيَادٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه أَنَّ الْحَسَنَ بْنَ عَلِيٍّ أَخَذَ تَمْرَةً مِنْ تَمْرِ الصَّدَقَةِ، فَجَعَلَهَا فِي فِيهِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم بِالْفَارِسِيَّةِ «كَخٍ كَخٍ أَمَا تَعْرِفُ أَنَّا لاَ نَأْكُلُ الصَّدَقَةَ». [ر ۱۴۱۴]

# رجال الحديث

① **محمدبن بشار** - دامشهورمحدث محمدبن بشار بن عثمان عبدى بصرى رحمه الله دې دَدوى حالات كتاب العلم باب ماكان النبى صلى الله تعالى عليه وسلم يتخولهم بالموعظة والعلم كى لاينفروا لاندې وړاندې تير شوى دى [۲]

② **غندر** - دا ابوعبدالله محمدبن جعفر هذلى رحمه الله دې دَغندر په لقب سره مشهوردې دَدوى تذكره كتاب الايمان باب ظلم دون ظلم لاندې تيرشوى دى.

③ **شعبه** - دا اميرالمؤمنين فى الحديث شعبه بن الحجاج بن الورد العتكى الواسطى البصرى رحمه الله دې دَ دوى حالات كتاب الايمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده لاندې تيرشوى دى [۳]

④ **محمدبن زياد** - داعبدالرحمن بن محمد بن زياد محاربى كوفى رحمه الله دې كتاب العلم باب تعليم الرجل أمته وأهله كښې دَدوى تذكره تيره شوې ده. [۴]

⑤ **ابوهريره** رضي الله عنه دَدوى تفصيلى حالات كتاب الايمان باب أمور الايمان لاندې تيرشوى دى [۵]

**أن الحسن بن على أخذ تمرة من تمرة الصدقة فجعلها فى فيه، فقال له النبى صلى الله تعالى عليه وسلم بالفارسة: كخ كخ، أما تعرف أنا لانأكل الصدقة؟**

دَ حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت دې چه حضرت حسن بن على رضي الله عنهما دَ صدقه يوه كهجوره اوچته كړه په خله كښې واچوله نورسول الله صلى الله عليه وسلم فارسى كښې اوفرمائيل كخ كخ (دَ كهجورې تيرولو نه ئې منع كړو) آياتاته پته نه ده چه مونږ صدقه نه خورو

كخ كخ - بفتح الكاف وكسرها وسكون الخاء المعجمة وكسرها وبالتنوين مع الكسر وبغير تنوين [۶] دا الفاظ په فارسى ژبه كښې دَ زجر اوتوبيخ اودَيوكار دَمنع كولو دَپاره ونيلې شى

---

[۱] قد سبق تخريجه فى كتاب الزكوة باب أخذصدقة التمر عند صرام النخل رقم: ۱۴۸۰.
[۲] كشف البارى: ۳/ ۲۲۱ - ۲۲۴.
[۳] كشف البارى: ۱/ ۶۷۸.
[۴] كشف البارى: ۳/ ۵۱۴.
[۵] كشف البارى: ۱/ ۱۵۹. ۱۶۳.
[۶] شرح الكرمانى ۱۳/ ۶۳ وعمدة القارى: ۱۵/ ۸.

هم د دې معنی ده اوکښا، وارم پرېږده اوغورزوه (۱)

**دعلامه کرمانی رحمه الله اعتراض اودهغې جواب** دَ باب په مذکوره درېواړو روایتونوکښې چه کوم عجمی الفاظ دَ رسول الله ﷺ نه مروی دی علامه کرمانی رحمه الله فرمائی دَدې په عجمی کیدوباندې اشکال کیدې شی ① دَ باب په ړومبی روایت کښې لفظ سور وارد شوې دې په دې کښې احتمال دادې چه دا لفظ صابون په شان دَ توافق الیقین د قبیل نه دې اوعربی ژبې لفظ دې (۲) لیکن علامه عینی رحمه الله فرمائی دا اشکال خوددې وجه نه ناقابل التفات دې چه صرف دَ احتمال درجه لرې حالانکه لغت په احتمال سره نه شی ثابتیدې (۳).

② دَترجمة الباب په دویم روایت کښې لفظ سنه وارد شوې دې علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه ممکن ده دَدې اصل حسنة وی اودَدې دَ شروع نه "ح" حذف کړې شوی وی لکه چه په عربی مثل کفی بالسیف شاهداً کښې "هد" حذف کولوسره عرب کفی بالسیف شا وائی (۴) لیکن دَ علامه کرمانی رحمه الله دا توجیه هم حافظ ابن حجر رحمه الله اوعلامه عینی رحمه الله ردکولوسره فرمائی چه دَ یولفظ په شروع کښې ترخیم جائزنه دې ځکه چه داسې وینا کول غلطه ده چه لفظ سنه دَ شروع نه "ح" غورزولې شوې ده. (۵)

③ په دریم روایت باب کښې لفظ کخ راغلې دې علامه کرمانی رحمه الله فرمانیلی دی چه ممکن ده چه داهم غیرعجمی لفظ وی اودَ حروف صوتیه دَ قبیل نه وی خو علامه عینی رحمه الله فرمائی چه دا اعتراض هم بې محل دې ځکه چه لفظ کخ دَ اسماء افعال دَ قبیل نه دې نه چه دَ اسماء اصوات دَ قبیل نه لهذا دا لفظ هم عجمی دې (۶)

**فوائدحدیث:-** علامه ابن بطال رحمه الله دَروایت نه دوه فوائد مستنبط کړی دی ① ماشومانوته دَ احکام شریعت تعلیم ورکول اوهغوی ته دَ حرام او مکروه څیزونونه دَ ځان ساتلو تلقین کول ② چه په ماشومانوکښې دَ پوهې صلاحیت وی نوهغوی ته داسې خبرې هم خودلې شی چه پوهه اوعاقل سړی ته خودلې شی (۷)

**ترجمة الباب سره مناسبت:-** په حدیث باب کښې دَ کخ کخ عجمی الفاظ دی او ترجمة الباب سره دَدې مناسبت ښکاره دې.

---

(۱) شرح الکرمانی۱۳/۶۳ وعمدة القاری:۱۵/۸.
(۲) شرح الکرمانی۱۳/۶۳ وعمدة القاری۱۵/۹.
(۳) عمدة القاری:۱۵/۹.
(۴) شرح الکرمانی۱۳/۶۳وفتح الباری:۶/ ۲۲۷ - ۲۲۸وعمدة القاری:۱۵/۸.
(۵) فتح الباری:۶/۲۲۸ وعمدة القاری:۱۵/۹.
(۶) عمدة القاری:۱۵/۹.
(۷) شرح ابن بطال:۵/۲۳۲.

## باب-١٨٥ الغلول

**دَ ترجمة الباب مقصد**:- په دې باب کښې امام بخاری رحمه الله په مال غنيمت کښې دَخيانت حرمت او شناعت بيانول غواړى چه په مال غنيمت کښې خيانت کول ناجائز لاړ نه يوشى حاصلول گناه کبيره ده

**دَغلول معنى** -غلول په غين اولام باندې ضمه سره (١) په مال غنيمت کښې خيانت کول او: تقسيم نه وړاندې دَ مال غنيمت نه غلا کولوته وائى. امام ابن اثير رحمه الله فرمائى الغلول هوالخيانة فى المغنم والسرقة فى الغنيمة قبل القسمة (٢)

صاحب دَ روح المعانى علامه آلوسى رحمه الله فرمائى چه دَ غلول اصل معنى ده په پټه طريقه غلا کول. روستو دا لفظ دَمال غنيمت نه دَ غلا کولودپاره استعمال شو. اوعلامه نووى رحمه الله په شرح مسلم کښې فرمائى: أصل الغلول الخيانة مطلقًا، ثم غلب اختصاصه فى الاستعمال بالخيانة فى الغنيمة (٣) يعنى غلول په حقيقت کښې خيانت ته وئيلى شى روستودې غالب استعمال په مال غنيمت کښې خيانت سره اوشو. علامه قسطلانى رحمه الله فرمائى چه غلول دَمطلقًا خيانت دَپاره هم استعماليږى خوکه دَدې اطلاق په مال غنيمت کښې په غلاباندې اوکړې شى نو بيا په دغه دواړو معنوکښې عموم خصوص من وجه دَ نسبت نه به وى (٤)

**دَ غلول دَ تسميه وجه**:- غلول معنى تړل اوراگيرول دى. امام نفطويه رحمه الله فرمائى چه مال غنيمت کښې خيانت کولوسره لاسونه مغلول اومحبوس کيږى په دې وجه په دې کښې خيانت ته غلول نوم ورکړې شو. **قال نفطويه: سمى بذلك لان الايدى مغلولة عنه أى محبوسه** (٥)

**دا غلول گناه کبيره ولې ده**:- شرح صحيح مسلم کښې امام نووى رحمه الله فرمائى چه غلول په اجماع سره گناه کبيره ده. په مال غنيمت کښې دَ خيانت جرم دومره زيات سخت کيدو وجه داده چه مال غنيمت دَ اهل اسلام مشترکه حق وى په دې کښې خيانت کول او غلا کول دَ بې شميره خلقو دَ حقوق دَ حق تلفئى مترادف دې (٦)

**وقول الله تعالى: ﴿ وَمَنْ يَغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ ﴾** /آل عمران: ١٦١/.

لفظ قول غلول باندې عطف کيدودَ وجه نه مجرور دې. (٧) پوره آيت داسې دې ﴿ وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ

---

١) إرشادالسارى: ١٨١/٥.
٢) النهاية لابن الاثير: ٣٨٠/٣.
٣) شرح النووى على صحيح مسلم: ١٢٢/٢ كتاب الامارة.
٤) إرشاد السارى: ١٨١/٥.
٥) شرح النووى على صحيح مسلم: ١٢٢/٢ كتاب الامارة.
٦) شرح النووى على صحيح مسلم: ١٣٢/٢ كتاب الامارة وعمدة القارى: ٩/١٥ وفتح البارى: ٢٢٨/٦ وإرشادالسارى: ١٨١/٥
٧) عمدة القارى: ٩/١٥.

أَن يَغُلَّ ۚ وَمَن يَغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۚ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴾ هم د دې آیت د نزول د سبب باره کښې حضرت ابن عباس رضي الله عنهما روایت دې چه په غزه بدر کښې د مال غنیمت نه یوڅادر اورك شو څه خلقو اووئیل لعل رسول الله صلی الله تعالیٰ علیه وسلم أخذها یعنی داڅادر کیدې شی رسول الله ﷺ اخستې وی دا آیت هم په دې موقع باندې نازل شو په کوم کښې چه د دې خراب جرم تردید کولوسره اوخودلې شوچه د نبی د شان نه خلاف دی چه هغه داسې حرکت اوکړی دا آیت رسول الله ﷺ د دغه الزام نه د بری کولو د پاره لازم شو (١)

[حدیث ٢٩٠٨] (٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ أَبِي حَيَّانَ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو زُرْعَةَ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه - قَالَ قَامَ فِينَا النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - فَذَكَرَ الْغُلُولَ فَعَظَّمَهُ وَعَظَّمَ أَمْرَهُ قَالَ « لاَ أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ شَاةٌ لَهَا ثُغَاءٌ عَلَى رَقَبَتِهِ فَرَسٌ لَهُ حَمْحَمَةٌ يَقُولُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَغِثْنِي . فَأَقُولُ لاَ أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا، قَدْ أَبْلَغْتُكَ . وَعَلَى رَقَبَتِهِ بَعِيرٌ لَهُ رُغَاءٌ، يَقُولُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَغِثْنِي . فَأَقُولُ لاَ أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا، قَدْ أَبْلَغْتُكَ . وَعَلَى رَقَبَتِهِ صَامِتٌ، فَيَقُولُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَغِثْنِي . فَأَقُولُ لاَ أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا، قَدْ أَبْلَغْتُكَ . أَوْ عَلَى رَقَبَتِهِ رِقَاعٌ تَخْفِقُ، فَيَقُولُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَغِثْنِي . فَأَقُولُ لاَ أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا، قَدْ أَبْلَغْتُكَ » . وَقَالَ أَيُّوبُ عَنْ أَبِي حَيَّانَ فَرَسٌ لَهُ حَمْحَمَةٌ . [ر: ١٣٣٧]

## رجال الحدیث

① **مسدد**:- دامسدد بن مسرهد بن مسربل اسدی رحمه الله دې. د دوی حالات کتاب الایمان باب من الایمان أن یحب لاخیه مایحب لنفسه لاندې تیرشوی دی. (٣)

② **یحیی**:- دا ابوسعید یحیی بن سعید بن فروخ القطان التمیمی رحمه الله دې. د دوی حالات کتاب الایمان باب من الایمان أن یحب لاخیه مایحب لنفسه لاندې تیرشوی دی. (٤)

③ **ابوحیان**:- دا یحیی بن سعید بن حیان تممی کوفی رحمه الله دې. د دوی حالات کتاب الایمان باب سوال جبرائیل النبی صلی الله تعالیٰ علیه وسلم عن الایمان والاسلام لاندې تیرشوی دی (٥)

---

(١) عمدة القاری: ٩/١٥ قال العینی وقال ابن أبی حاتم: حدثنا المسیب بن واضح حدثنا أبو إسحاق الفزاری عن سفیان عن خصیف عن عکرمة عن ابن عباس، قال: فقدوا قطیفة یوم بدر. فقالوا: لعل رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم أخذها فانزل الله تعالی ﴿وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَغُلَّ﴾ أی یخفون هذه تنزیه له صلی الله تعالی علیه وسلم من جمیع وجوه الخیانة فی أداء الامانة وقسمة الغنیمة وغیرذلک.

(٢) قد سبق تخریجه فی کتاب الزکوة باب البیعة علی إیتاء الزکوة رقم: ١٤٠٢.

(٣) کشف الباری: ٢/٢.

(٤) کشف الباری: ٢/٢.

(٥) کشف الباری: ٢/٥٨٧ – ٥٩٩.

④ **ابوزرعه** دا ابوزرعه بن عمرو بن جرير بجلى رحمه الله دى دَدوى حالات كتاب الايمان باب الجهاد من الايمان لاندې تيرشوى دى (١)

⑤ **ابوهريره** رضى الله عنه . دَدوى تفصيلى حالات كتاب الايمان باب أمور الايمان لاندې تيرشوى دى (٢)

**قوله قام فينا النبى صلى الله تعالى عليه وسلم فذكر الغلول فعظمه وعظم أمره:** دَ حضرت ابوهريره رضى الله عنه روايت دې چه رسول اكرم صلى الله عليه وسلم مونږ ته دَخطبه وركولو دَپاره اودريدو او په مال غنيمت كښې دَغلاذكركولوسره دا گناه كبيره اوگرځوله او (ددې په نتيجه كښې ملاويدونكې) سزا سختئ ئى بيان كړه.

**لاألفين أحدكم يوم القيامة على رقبته شاة لها ثغاء، على رقبته فرس له حمحمة، يقول: يارسول الله! أغثنى، فأقول: لاأملك لك من الله شيئا، قد أبلغتك**

**لاألفين:** -همزه بندې ضمه فاء كسره او آخركښې نون تاكيدثقيله سره لاأجدن په معنى كښې دې. (٣)

دَدې مصدر الفاء راځى دَ موندلوپه معنى كښې دې. وئيلى شى الفاه هغه اوموندلو.(٤) دلته لا نافيه ده البته په بعض نسخوكښې لا دَ قسم سره لالفين هم ضبط شوې دې حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه صحيح لانې نفى دې.(٥)

علامه قسطلانى رحمه الله فرمائى: هو مثل قولهم: لا أرينك ههنا، والاصل لاتكن ههنا فاراك، وتقديره فى الحديث: لايغل أحدكم فالفيه: أى أجره (٦) يعنى لاألفين لاأرينك ههنا په معنى كښې دې چه زه به ئى دلته هيڅ كله اونه گورم دَدې اصل دې لاتكن ههنا فاراك يعنى ته دلته مه رازه چه زما په نظر راشې. دا خولفظى ترجمه ده روانه ترجمه ده ته دلته مه رازه چرته زه تا اونه وينم.

او قاضى عياض رحمه الله فرمائى چه دَعذرى په روايت كښې لا ألفين په ځائى لا ألقين ضبط شوې دې خو مشهوراولنې دې.(٧) اوس دَ روايت ترجمه اوگورئ: په تاسوكښې دې يو سړې هم په مال غنيمت كښې خيانت كونكې نه شى چه زه هغه دَ قيامت په ورځ په داسې حالت كښې اوگورم چه دَ هغه په ستې باندې چيلئى وى او چغې وهى يا اس وى او هنهريږى اوهغه سړې فرياد كولوسره وائى يارسول الله! زما امداد (شفاعت)اوكړه نوزه به ورته وايم زه ستا امداد

١) كشف البارى:٢/٣٠٤.
٢) كشف البارى:٢/٦٥٩ – ٦٦٣.
٣) عمدة القارى:١٥/١٠.
٤) المعجم الوسيط :ص:٨٣٣.
٥) فتح البارى:٦/٢٢٨.
٦) إراشاد السارى:٥/١٨١.
٧) شرح النووى على صحيح مسلم:٢/١٢٣.

شفاعت، نه شم کولې دَالله تعالی پیغام خوماتاسوته دررسولې وو

حمحمة - بفتح الحائین المهملتین، دَ آس کوم آواز اوباسی هغې ته حمحمة وائی او صهیل مطلقًا هنریدوته وائی (۱)

ثغاء - دَ ثاء په ضمه اوغین تخفیف سره دَ چیلئی مې مې ته وائی (۲)

**قوله** لاأملك لك شیئًا أی من المغفرة، لان الشفاعة أمرها إلی الله (۳) مطلب دادې چه زه به دَ الله تعالی نه ستاسود بخښنې په درخواست کولوکښې امدادنه شم کولې ځکه چه شفاعت خودَ الله تعالی په رضاباندې موقوف دې. په سورت أنبیاء کښې دا مضمون واضحه کولوسره فرمائی: ﴿ لَا یَشْفَعُوْنَ اِلَّا لِمَنِ ارْتَضٰی ﴾

وقدأبلغتك: أی فلیس لك عذربعدالابلاغ. دَدې جملې نه دَ رسول اکرم ﷺ منشاء دَاوه چه ماتاسوته دَ حق خبره خودلې وه په دې وجه دَخپل ځان دَ بخښلودپاره به تاسو سره څه عذرنه وی (۴)

علامه عینی رحمه الله حافظ ابن حجررحمه الله او علامه قسطلانی رحمه الله فرمائی چه دَ مذکوره ارشاد نه دَ رسول الله ﷺ مقصد دَدغه جرم دَ سختوالی احساس رابیدارول وو ګنې حضورپاك به دَ خپل امت دَ ګناهګارانودپاره دَ قیامت په ورځ ضرور شفاعت کوی (۵)

**قوله** وعلی رقبة صامت:- اودَهغه په سټ کښې به سره زر او سپین زر وی دَ صامت اطلاق په عربی ژبه کښې په سرو زرو او سپینو زرو باندې کیږی (۶)

**قوله** وعلی رقبة رقاع تخفق:- اودَهغه په سټ کښې به دَ کپړې ټکړې وی چه حرکت به کوی. رقاع دَ رقعة جمع ده دَ کپړې ټکړې ته وائی (۷) تخفق: أی التحرك دَ باب ضرب نه دَدې معنی حرکت کول دی.

**دَ رقاع نه څه مراددې؟**:- دَدې لفظ په تشریح کښې شراح حدیث مختلف اقوال نقل کړی دی.

① علامه ابن جوزی رحمه الله فرمائی دې نه مطلقًا کپړې مراددی (۸)

---

(۱) النهایه لابن الاثیر:۴۳۶/۱ (مادة: حمحم) وشرح الکرمانی:۶۴/۱۳ وعمدة القاری:۱۰/۱۵ وفتح الباری۲۲۹/۶ وإشادالساری:۱۸۱/۵ ومجمع بحارالانوار:۵۷۶/۱.

(۲) شرح الکرمانی:۶۴/۱۳ وعمدة القاری:۱۰/۱۵ وفتح الباری:۲۲۹/۶.

(۳) شرح الکرمانی:۶۴/۱۳ وعمدة القاری:۱۰/۱۵ وفتح الباری:۲۲۹/۶.

(۴) عمدة القاری:۱۰/۱۵ وفتح الباری:۲۲۹/۶.

(۵) فتح الباری:۲۲۹/۶وعمدة القاری:۱۰/۱۵وإرشادالساری:۱۸۲/۵ والتعلیق المحمود بسنن أبی داؤد للعلامة فخرالحسن الکنکوهی:۱۵/۲.

(۶) شرح ابطال:۲۳۰/۵والنهایة لابن الاثیر:۵۲/۳ وعمدة القاری:۱۰/۱۵ وفتح الباری:۲۲۵/۶.

(۷) عمدة القاری:۱۰/۱۵وإرشادالساری:۱۸۲/۵.

(۸) عمدة القاری:۱۰/۱۵وإرشادالساری:۱۸۲/۵.

② علامه حمیدی رحمه الله فرمائی چه دې نه هغه حقوق مراد دی کوم چه په رقاع کښې تحریر کیږی المرادبهاماعلیه من الحقوق المکتوبة فی الرقاع خودا رائې ردکولوسره ابن جوزی رحمه الله فرمائی چه رقاع په کپړې باندې محمول کول زیات مناسب او بهتردی (کوم چه حسی او محسوس کیدونکې څیزدې، ځکه چه په حدیث کښې هم دَ حسی خیانت ذکردې. وردعلیه ابن الجوزی: بان الحدیث سبق لذکر الغلول الحسی، فحمله علی الثیاب أنسب.[1] خودَدې رائې په رد کولوسره علامه کرمانی رحمه الله اوعلامه عینی رحمه الله فرمائی چه رقاع نه بعینه کپړې مراد نه دی بلکه ددې په ...وم کښې څناور نقدی سامان کپړې ټول اجناس شامل دی. په عمدة القاری کښې دی ولیس المقصود منه الخرقة بعینها بل نعم الاجناس عن الحیوان والنقود والثیاب وغیرها.[2]

خلاصه دکلام دادې چه امام بخاری رحمه الله دَ ترجمة الباب مذکوره روایت ومن یغلل یات بما غل یوم القیامة تفسیر کولوسره نقل فرمائی چه کوم سړې په مال غنیمت کښې دَ خیانت ارتکاب اوکړی اویوڅیز پټ کړی دَ قیامت په ورځ رسوا او ذلیل کولوداره به هغه پټ کړې شوی څیزدهغه په سټ باندې بارکړې شی ددې نه دجرم دَ سختوالی اندازه لګولې شی.

**قوله** وقال أیوب عن أبی حیان: فرس له حمحمة - دا تعلیق ابوطاهر ذیلی رحمه الله په فوائدکښې دَ قاضی یوسف بن یعقوب په طریق سره اوامام مسلم رحمه الله عن حماد، بل عن عبدالوارث عن أبی حیان عن أبی زرعة عن أبی هریرة رضی الله عنه په طریق سره موصولاً روایت کړې دې.[3]

**ددې تعلیق مقصد:** - دَ ترجمة الباب په مذکوره روایت کښې وعلی رقبته فرس له حمحمة کښې لفظ فرس تصریح ده. کشمیهنی نسفی اوابوعلی بن شبویه رحمهم الله په نسخوکښې دی وعلی رقبته له حمحمة په دې کښې لفظ فرس ساقط دې.[4] نو امام بخاری رحمه الله په مذکوره تعلیق سره اشاره اوفرمائیله چه دَلفظ فرس تصریح په دوو روایاتوکښې موجودده.[5]

**په مال غنیمت کښې دَ مسروقه مال حکم:** - علامه ابن منذر رحمه الله فرمائی دَ مال غنیمت دَ تقسیم نه وړاندې په سارق باندې مسروقه مال واپس کول بالاجماع واجب دی.[6]

خوکه دا مال دَ اسلامی لښکردَ خوریدونه پس واپس کړې شی او مستحقینوته دَدغه مال رسول ممکن پاتې نه شی نوبیا به څه کولې شی؟ په دې کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې. امام ثوری امام اوزاعی امام مالک او امام احمدبن حنبل رحمهم الله مسلک دادې چه هغه سړې به دَ

---

[1] ) ایضاً.
[2] ) عمدة القاری:۱۵/۱۰.
[3] ) فتح الباری:۶/۲۳۰وتغلیق التعلیق للحافظ ابن حجر:۳/۴۶۳.
[4] ) عمدة القاری:۱۵/۱۰وفتح الباری:۶/۲۳۰وإرشادالاساری:۵/۱۸۲.
[5] ) عمدة القاری:۱۵/۱۰وفتح الباری:۶/۲۳۰وإرشادالاساری:۵/۱۸۲.
[6] ) نیل الاوطارللشوکانی رحمه الله کتاب الجهادوالسیر:۸/۱۳۸باب التشدیدفی الغلول وتحریق رحل الغال.

مسروقه مال خمس امیرته واپس کړی اوباقی حصه دي صدقه کړی [۱]

امام شافعی رحمه الله فرمائی چه چاسره مال غنیمت وی نودهغې دوه صورتونه دی ① چه مال غنیمت دهغه شرعی حق وی یعنی د غنائم د تقسیم په وخت دهغې مالك جوړشوې وی په دې صورت باندې ښکاره خبره ده چه دهغې صدقه کول واجب نه دی ② چه شرعی حق نه وی بلکه غلانی کړې وی نو په دې صورت کښې ښکاره خبره ده چه دا پردی مال دې او د پردی مال صدقه کول په یوصورت باندې هم جائزنه دی دا مال به د اموال ضائعه په حکم کښې وی یعنی دا به حاکم وخت ته واپس کول واجب وی [۲]

د مذکوره دواړو مسلکونو استدلال د سنن ابوداؤد ددې روایت نه دې عن عبدالله بن عمر رضی الله عنهما قال کان رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم ـ إذا أصاب غنیمة أمربلالا فنادی فی الناس، فیجیئون بغنائمهم، فیخمسه ویقسمه. فجاء رجل بعد ذلك بزمام من شعرفقال: یارسول الله هذا فیما أصبناه من الغنیمة، فقال: أسمعت بلالا ینادی ثلاثا؟ قال نعم قال فما منعك أن تجئ به؟ فاعتذر إلیه، فقال: کن أنت تجئ به یوم القیامة فلن أقبل منك. [۳]

حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما فرمائی چه کله به رسول الله ﷺ ته دغنیمت مال حاصل شو نو بلال (رضی الله عنه) ته به ئی د اعلان کولوحکم اوکړو نوددې اعلان په نتیجه کښې به خلقو خپل غنیمت راوړلو حضورپاك به دهغې خمس ویستلو او تقسیم کولوبه ئی یوځل د تقسیم غنائم نه پس یوسړی د ویښتوجوړشوې یوجلب راوړو وئی یارسول الله ﷺ دادهغه مال غنیمت نه دې کوم چه مونږ ته ملاؤ شوې وو حضورپاك (درې ځل مکرر) اوفرمائیل آیا تا بلال په آواز کولواوریدلې وو؟ هغه وئیل اوجی حضورپاك اوفرمائیل بیاته څه څیزددې د راوړلونه منع کړې؟ هغه عذرپیش کړو نو حضورپاك اوفرمائیل صبراوکړه که چرې ته دا د قیامت په ورځ راوړې نوبیابه ئی هم زه قبول نه کړم.

امام ثوری امام اوزاعی امام لیث او امام مالك رحمهم الله فرمائی چه دې سړی له پکاروو چه د دغه مال خمس ئی ویستلې وې او امیرته ئی واپس کړې وې اوباقی ئی صدقه کړې وې خو امام شافعی رحمه الله فرمائی لکه چه ددې تفصیل شاته تیرشوې دې که هغه په شرعی طریقه دمال مالك جوړشوې وو یعنی هغه مال هغه د غنیمت په توګه سره اخستې وو نوبیا په هغه باندې صدقه کول هډو واجب نه وو اوکه سرقه وه نوښکاره خبره ده چه پردې مال کیدو د وجه نه هغه صدقه کول جائزنه وو لهذا دغه مال هغه له اموال ضائعه په شان امام له حواله کول پکاروو.

علامه شوکانی رحمه الله په نیل الاوطار کښې فرمائی: قال الثوری والاوزاعی واللیث ومالك: یدفع إلی

---

[۱] المغنی لابن قدامة:۱۰/۵۲۶ کتاب الجهاد أحکام فی الغلول. رقم الفصل:۷۶۰۷وعمدة القاری:۱۵/۱۰ وفتح الباری:۶/۲۲۹ وبذل المجهود:۱۲/۲۹۰.

[۲] نیل الاوطارللشوکانی رحمه الله ۸/۱۳۸کتاب الجهاد باب التشدیدفی الغلول وتحریق رحل اللغال وعمدة القاری: ۱۵/۱۱وفتح الباری:۶/۲۲۹وبذل المجهود:۱۲/۲۹۰.

[۳] سنن ابی داؤد:۲/۱۵کتاب الجهاد باب فی الغلول إذا کان یسیراً یترکه الامام ولایحرق رحله.

الامام خمسه ویتصدق بالباق وکان الشافعی لایری ذلك ویقول: إن کان ملکه فلیس علیه أن یتصدق به، وإن کان لم یملکه فلیس له التصدق بمال غیره، قال: والواجب أن یدفع إلی الامام کالاموال الضائعة.[1]

دَ احنافو په نیز امام ته اختیاردي چه دَهغه سړي مال قبلولونه انکارکولوسره اووائی چه هغه دې پخپله مستحق ته دَهغه حق اورسوی یادې دَهغې خمس واخلی بیت المال کښې دې جمع کړی باقی حصه دې هغه سړې دَ لقطه په توګه خپل خان سره اوساتي یادې مسکینانوته ورکړي یادې بیت المال کښې جمع کړی. خپل خان سره دې په هغه صورت کښې اوساتی چه کله دَهغه امیدوی چه حقدارته به دغه مال اورسوی که چرې امید نۍ نه وی نوبیادې په مسکینانو کښې تقسیم کړی یادې بیت المال کښې جمع کړی

په السیر الکبیر کښې دی: ولوان رجلا غل شیئًا من الغنائم، فاتی به الامام بعد القسمة وتفرق الجیش فللامام فی ذلك رای: إن شاء کذبه فیما قال، وقال: أنا لا أعرف صدقك وقد التزمت وبالابزعمك، وأنت أبصر بما التزمته حتی توصل الحق إلی المستحق، وإن شاء أخذ ذلك منه وجعل لمن سمی الله تعالی لانه وجد المال فی یده وصاحب المال مصدق شرعًا فیما یخبربه من حال فی یده وباعتبار صدقه خمسه لارباب الخمس فیصرف إلیهم، والباق یکون بمنزلة اللقطة فی یده إن طمع أن یقدر علی أهله...... وإن لم یطمع فی ذلك قسمه بین المساکین إن أحب وإلا جعله موقوفا فی بیت المال.[2]

یعنی که یوسړې دَمال غنیمت نه غلاوکړی اوبیا دې خپیمانه وی اودَ غلا مال دَمال غنیمت دَ تقسیم اودَ لښکردَ خوریدو نه پس حاکم وخت له راوړی. نو په دې صورت کښې حاکم ته اختیاردې یاخودې دَهغه خبره دروغ اوګڼړی او ورته دې اووائی چه زما ستا په صداقت باندې یقین نشته تاپخپله په خپل خان باندې وبال اچولې دې. ته پوهه شه او حقدار ته دَهغه حق رسول ستا په ذمه دی. یاکه امام وخت غواړی نودَغلا دا مال دې واخلی او صحاب خمس ته دې ورکړی. چونکه حاکم دغه مال دې سړی سره لیدلې دې. بل چه صاحب مال په خپله قبضه کښې موجود دَ کوم یوڅیز هم خبر ورکړی نو شرعًا دَدې تصدیق معتبردې. دَ هغه دَ قول اعتبارکولوپه صورت کښې دَغلادَ مال به خمس ویستلې شی اصحاب خمس ته دې ورکړې شی. باقی حصه به دَدې سړی سره دَ لقطه په توګه پرته وی. که مستحق ته دَ رسولودکامیابئ امید وی نودغه مال دې دَهغې اصل حقدارته اورسوی. که امیدنه وی نودَده مرضی ده که غواړی نو په مسکینانوکښې دې تقسیم کړی یا دې بیا په بیت المال کښې جمع کړی.

[1]) نیل الاوطار للشوکانی:۱۳۸/۸ کتاب الجهاد والسیر باب التشدید فی الغلول وتحریق رجل الغال وبذل المجهود:۲۹۰/۱۲.

[2]) بذل المجهود:۲۹۰/۱۲.

## باب-١٨٦ القلیل من الغلول

**د ترجمة الباب مقصد**: په دې ترجمة الباب سره امام بخاری رحمه الله دا خودل غواړی چه د کم غلول حکم هم هغه دې کوم چه د غلول کثیر دې؟ د دې جواب هم د روایت نه معلوم شوچه د دواړو حکم یو دې (١)

ولم یذکر عبدالله بن عمرو، عن النبی ﷺ أنه حرق متاعه، هذا أصح.

چونکه بعض فقهاء د تحریق متاع د غال د جواز قائل دی او د حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه په یو روایت کښې هم دی چه په سنن ابوداؤد کښې نقل دې تحریق متاع غال تصریح ده. په دې وجه وړاندې باب لاندې هم د عبدالله بن عمرو رضی الله عنه روایت راروان دې امام بخاری رحمه الله د هغې متعلق باور کوی چه په دې روایت کښې دا نقل نه دی چه حضورپاک د کرکره نومی غلام مال او متاع سوزولو حکم ورکړې وو. صحیح دادی چه حضورپاک داسې هیڅ حکم نه وو صادر کړې د هذا أصح مطلب دادې چه صحیح هم دغه دی د عبدالله بن عمرو رضی الله عنه په حدیث باب کښې د تحریق متاع غال ذکر نشته. (٢)

په دې وجه امام بخاری رحمه الله ولم یذکر صیغه تمریض راوړلو سره د عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما ذکر تحریق متاع الغال والا روایت تضعیف اوفرمائیلو او د عدم ذکر تحریق الغال والا روایت صحت طرف ته ارشاد اوکړه. (٣) د مذکوره جملې نه امام بخاری رحمه الله د سنن ابوداؤد د هغه روایاتو د ضعف طرف ته اشاره کړې ده. په کوم کښې چه تحریق متاع غال ذکر دې

① په سنن ابوداؤد کښې د حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما روایت دې. عن صالح بن محمد بن زائدة قال دخلت مع مسلمة أرض الروم فأتي برجل قد غل فسأل سالما عنه فقال: سمع أبي يحدث عن عمر بن الخطاب عن النبي صلی الله تعالی علیه وسلم قال: إذا وجدتم الرجل قد غل فاحرقوا متاعه واضربوه. (٤)

صالح بن محمد وائي چه زه مسلمه سره روم ته لاړم. هلته یو غلول کونکې سړې راوستلې شو. د سالم بن عبدالله نه دده باره کښې تپوس اوکړې شو نو هغه اووئیل چه ما د خپل پلار (عبدالله بن عمر رضی الله عنهما) ته عمر بن خطاب رضی الله عنه روایت کولو سره واورېدو چه حضورپاک ﷺ اوفرمائیل کله چه تاسو غلول کونکې سړې اووینئ نو د هغه مال اوسوزوئ او هغه اووهئ.

هم د دې روایت باره کښې امام بخاری رحمه الله په خپل تاریخ کښې تحریرفرمائی: یحتجون بهذا الحدیث في أحراق رجل الغال، وهو باطل لیس له أصل، وراوية لا یعتمد علیه. (٥) یعنی بعض تحریق

---

(١) عمدة القاری: ١١/١٥ وفتح الباری: ٦/٢٣٠.

(٢) عمدة القاری: ١١/١٥.

(٣) عمدة القاری: ١١/١٥.

(٤) سنن أبی داؤد: ١٥/٢ کتاب الجهاد باب فی عقوبة الغال وعمدة القاری: ١١/١٥ وفتح الباری: ٦/٢٣٠ وإرشادالساری: ١٨٢/٥.

(٥) فتح الباری: ٦/٢٣٠ وإرشادالساری: ١٨٢/٥.

متاع غال قائلین دحپل مسلك د اثبات دپاره ددې حدیث نه استدلال کوی حالانکه دا حدیث باطل دې ددې هیڅ اصل نشته اودا روایت کونکې هم معتمد نه دې ددې حدیث په سند کښې صالح بن محمدبن زائده ته ائمه رجال ضعیف گرځولې دې امام ترمذی رحمه الله ددې حدیث په ذیل کښې په صالح باندې جرح کولوسره تحریر فرمائی صالح منکر الحدیث ولم یامر النبي صلی الله تعالی علیه وسلم یحرق متاع الغال [۱]

د امام منذری رحمه الله قول دې وصالح بن محمدبن زائده تکلم فیه غیر واحد من الئمة وقد قیل انه تفرد به [۲] امام دارقطنی رحمه الله هم ددې مذکوره روایت تضعیف کولوسره فرمائی أنکروا هذا الحدیث علی صالح بن محمد، وهذا حدیث لم یتابع علیه، ولا أصل لهذا الحدیث عن رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم [۳]

② دسنن ابوداؤد دویم روایت دې عن عمرو بن شعیب عن أبیه عن جده: أن رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم وأبابکر وعمر حرقوا متاع الغال وضربوه [۴] دا روایت هم سنداً ضعیف اومضطرب دې ددې په سند کښې زبیربن محمدالخراسانی د نوم راوی متکلم فیه دې امام بیهقی رحمه الله ددهٔ باره کښې فرمائی إنه مجهول [۵] خلاصه دا شوه چه دامام بخاری رحمه الله په نیزتحریق متاع غال جائزنه دې د مذکوره جملې نه هغوی د سنن ابوداؤد ددې روایتونه ضعیف او بې اصل کیدو طرف ته اشاره کړې ده. په کوم کښې چه تحریق متاع غال تصریح ده

**په مال غنیمت کښې د خیانت مسئله** - امام اعظم ابوحنیفه امام مالك امام شافعی رحمهم الله او ډیروصحابه کرامو اوتابعین کرامو په نیز امیریاحاکم ته غلول کونکوډپاره بدنی سزا اوتعزیر تجویزکولو اختیاردې خود هغه مال اومتاع سیزل جائزنه دی [۶]

**د مخالفینو مسلک او دهغوی ددلائلورد**:- حسن بصری، احمدبن حنبل، اسحاق، مکحول او امام اوزاعی رحمهم الله په نیزدهغه ټول مال اومتاع سوزول جائزدی [۷] البته امام اوزاعی رحمه الله فرمائی چه د تحریق دحکم کونکی اسلحه اولباس مستثنی دې هغه سوزول جائزنه

---

[۱]) جامع الترمذی:۱/۲۷۰ أبواب الحدود باب ماجاء فی الغال مایصنع به. ونیل الاوطار:۱۳۸/۸ وفتح الباری:۲۳۰/۶ وأوجزالمسالک:۳۳۹/۸.

[۲]) نیل الاوطار للشوکانی:۱۸۳۹/۸ کتاب الجهادوالسیر باب التشدیدفی الغلول وتحریق رجل الغال.

[۳]) نیل الاوطار للشوکانی:۱۸۳۹/۸ کتاب الجهادوالسیر باب التشدیدفی الغلول وتحریق رجل الغال.

[۴]) سنن أبی داؤد:۱۵/۲ کتاب الجهاد باب فی عقوبة الغال.

[۵]) نیل الاوطار للشوکانی:۱۸۳۹/۸ کتاب الجهادوالسیر باب التشدیدفی الغلول وتحریق رجل الغال.

[۶]) المغنی لابن قدامة:۵۲۴/۱۰ کتاب الجهاد باب أحکام فی الغلول وشرح النووی علی صحیح مسلم:۱۲۳/۲کتاب الامارة باب غلظ تحریم الغلول وعمدة القاری:۱۱/۱۵ وشرح ابن بطال:۲۳۵/۵.

[۷]) المغنی لابن قدامة:۵۲۴/۱۰ کتاب الجهاد باب أحکام فی الغلول رقم المسئلة: ۷۶۰۳ وشرح النووی علی صحیح مسلم:۱۲۳/۲کتاب الامارة باب غلظ تحریم الغلول وشرح ابن بطال:۲۳۵/۵وفتح الباری:۲۳۰/۶ - ۲۳۱ وأوجزالمسالک للمحدث الکاندهلوی:۳۳۸/۸.

دی[1] خوحسن بصری رحمه الله فرمائی د حیوان او مصحف نه علاوه دهغه ټول مال او متاع اوسوزوی[2]

دې حضراتو د سنن ابوداؤد د روایتونه استدلال کړی دی امام بخاری رحمه الله د جمهورو تائید کولوسره ددوی تضعیف کړې دی شته ددې تفصیل تیرشوی دی حضرت مولانا فخر الحسن گنگوهی رحمه الله فرمائی د جمهورو په نیزد سنن ابوداؤد روایات تغلیظ باندې محمول دی اودهغې په نیزد رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نه د متاع غال د سوزولوحکم چرته نقل نه دی[3]

امام طحاوی رحمه الله فرمائی که دا روایات سنداً صحیح هم اومنلې شی خو بیاهم د استدلال قابل نه شی جوړیدې خکه چه دا په هغه وخت محمول دی اودمالی سزاحکم نفذالعمل وو روستوداحکم منسوخ شوې اوس هرقسم مالی سزا منسوخ ده امام طحاوی رحمه الله فرمائی لوصح الحدیث لاحتمل أن یکون حین کانت العقوبة بالمال[4]

[حدیث ۲۹۰۹][5] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ كَانَ عَلَى ثَقَلِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ كِرْكِرَةُ فَمَاتَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «هُوَ فِي النَّارِ». فَذَهَبُوا يَنْظُرُونَ إِلَيْهِ فَوَجَدُوا عَبَاءَةً قَدْ غَلَّهَا.

## رجال الحدیث

① **علی بن عبدالله**:- دا امیرالمؤمنین فی الحدیث علی بن عبدالله بن جعفر نجیح بصری رحمه الله دې په ابن المدینی باندې مشهوردې ددوی تذکره کتاب العلم باب الفهم فی العلم لاندې تیره شوې ده[6]

② **سفیان**:- دا مشهور محدث ابو محمد سفیان بن عیینه بن ابی عمران هلالی رحمه الله دې د دوی تذکره کتاب العلم باب قول المحدث حدثنا أو أخبره...... لاندې تیره شوې ده[7]

③ **عمرو**:- دا ابومحمد الاثرعمرو بن دینارالمکی رحمه الله دې کتاب العلم باب العلم والعظه باللیل لاندې د دوی تذکره تیره شوې ده.

---

[1] ) المغنی:۱۰/۵۲٤وشرح النوی علی صحیح مسلم:۱۲۳/۲.

[2] ) المغنی:۱۰/۵۲٤وشرح النوی علی صحیح مسلم:۱۲۳/۲.

[3] ) التعلیق المحمود علی سنن أبی داؤد للعلامة المحدث فخر الحسن گنگوهی:۵/۲ کتاب الجهاد باب فی عقوبة الغال.

[4] ) شرح النووی علی صحیح مسلم:۱۳۲/۲ وشرح ابن بطال:۲۳۵/۵ وعمدة القاری:۱۱/۱۵ وفتح الباری:۲۳۱/۶ونیل الاوطار للشوکانی:۱۳۹/۸.

[5] ) وأخرجه ابن ماجه أیضاً فی سننه ص:۲۰٤ فی الجهاد باب الغلول رقم:۲۸٤۹.

[6] ) کشف الباری:۲۵۶/۳.

[7] ) کشف الباری:۳/۸۶ – ۹۰.

④**سالم بن ابی جعد** - دا دَ رافع الغطفانی الاشجعی آزاد کړې شوې غلام سالم بن ابی الجعد الکوفی رحمة الله دې کتاب الوضوء باب التسمیة علی کل حال وعند الوقاع لاندې دَدوی تذکره تیره شوې ده.
⑤**عبدالله بن عمرو** رضی الله عنهما - دامشهورصحابی حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص بن وائل بن هاشم بن سعید السهمی دې کتاب الایمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده لاندې دَدوی تذکره تیره شوې ده.[1]

په روایت کښې دی دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم په اهل اوعیال باندې یوسړې مقرروو کوم ته چه به ئې کرکره وئیل کله چه هغه مړ شو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل هوفی النار خلق دَهغه کتلوته لاړل نوهغوی دَ لوټ په مال کښې یوه کمبله اولیدله کومه چه هغه پټه کړې وه

**ثَقَل** - ثاء اوقاف په فتحه سره اهل وعیال ته وائي. ﴿ وَاَخْرَجَتِ الْاَرْضُ اَثْقَالَهَا ﴾ کښې مفسیرینو دَ بنیادم دَوجود په معنی کښې اخستې دې.[2] دَ ثقل دویمه معنی ده: متاع السفر دَ مسافر دَ لارې توښه.[3]

**کرکره** - علامه قسطلانی رحمة الله فرمائي چه په حدیث باب کښې کرکرة دکاف اول اوثانی دواړو کسره سره دی.[4] خودا رائې پخپله دَامام بخاری رحمة الله درائې خلاف ده. وړاندې تعلیقاً دَهغه دَ شیخ قول راځی چه په دواړو کافونو باندې فتحه ده.

دا یوتورحبشی وود یمامه هوذه بن علی الحنفی دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې هدیه کړې وو. دَ جهاد په دوران کښې به ئې دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ سورلئې واګه نیولې وه روستو بیا حضورپاك آزاد کړو. علامه بلاذری رحمة الله لیکلی دی چه دې هم دَغلامئې په حالت کښې وفات شوې دې.[5] شراح حدیث په دې باره کښې لیکلی دی وکان نوبیا. دَ سوډان نوم دَ تاریخ په کتابونوکښې نوبیه هم لیکلې شوې دې په دې وجه سوډان سره تعلق لرونکوته نوبی وئیلې شی.

**دَ هوفی النار مطلب** - ①علامه داؤدی حافظ ابن حجر اوعلامه قسطلانی رحمهم الله فرمائی دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَدې ارشاد مطلب دې هوفی النار إن لم یعف الله عنه یعنی که چرې الله تعالی دَهغه مغفرت اونه کړو نودَ جهنم په اورکښې به راګیروی.[6]
② علامه عینی رحمة الله دَدې قول درې توجیهات بیان کړی دی چه ممکن ده چه دَخپل جرم سزا یوسړې په قبرکښې اوخوری اوروستودَ دوزخ دَ اور نه هغه ته خلاصې ملاؤشی نولکه چه دې

---

[1] ) کشف الباری:۱/۶۷۹.
[2] ) مختار الصحاح ص:۱۱۷ ماده ثقل.
[3] ) النهایة لابن الاثیر:۱/۲۱۷وعمدة القاری:۱۵/۱۲وفتح الباری:۶/۲۳۱ومختار الصحاح ص:۱۱۷.
[4] ) إرشادالساری:۵/۱۸۲.
[5] ) فتح الباری:۶/۲۳۱و إرشاد الساری:۵/۱۸۲ومعجم البلدان للحموی:۳/۵۸ – ۵۹.
[6] ) الانساب للسمعانی : رحمة الله ۵/۵۳۰.

نه عذاب قبر مراد دي ③ ممكن ده چه هغه په زړه كښې نفاق پټ كړې وى اوهم هغه دَ دوزخ دَ اور موجب جوړ شوې وى

④ يا په مال غنيمت كښې خيانت اوغلا كولو دَ وجه دَ اور دَ عذاب مستحق ګرځيدلې وى اودغه عذاب نه پس دَ هغه بخښنه شوې وى په يو روايت كښې دَ رسول الله ﷺ مبارك ارشاد دى يخرج من النار من في قلبه مثقال ذرة من ايمان يعنى دَ دوزخ دَ اور نه به هرهغه سړې خلاصې بيامومى دَ چا په زړه كښې دَ رتنى برابر ايمان هم وى كه هغه په حالت دَ ايمان كښې مړشوې وى نو ددې حديث په رڼا كښې دَ مقررسزا نه پس دَ هغه خلاصيدل يقينى دى

علامه عينى رحمه الله فرمائى: قوله: هوفى النار، قال ابن التين عن الداؤدى: يحتمل أن يكون هذا جزاءه إلا يعفوالله، ويحتمل أن يصيبه فى القبر، ثم ينجو من جهنم، ويحتمل أن يكون وجبت له النار من نفاق كان يسره أو بذنب مات عليه مع غلوله أو بما غل، فان مات مسلما فقد قال النبى صلى الله تعالى عليه وسلم: يخرج من النار من فى قلبه مثقال ذرة من إيمان.[1]

**قوله: قَالَ أَبُو عَبْدِاللَّهِ قَالَ ابْنُ سَلَامٍ كَرْكَرَةُ، يَعْنِي بِفَتْحِ الْكَافِ، وَهُوَ مَضْبُوطٌ كَذَا:** دَ ابو عبدالله نه هم پخپله امام بخارى رحمه الله مراد دي اودَ ابن سلام نه دَ هغه شيخ محمد بن سلام (بتخفيف الام) مراد دي. ([2]) البته دَ ابوزر په روايت كښې قال أبوعبدالله ساقط دي ([3]) دلته امام بخارى رحمه الله دكركرة په ضبط كښې دَ اختلاف طرف ته اشاره كولوسره دَ خپل شيخ محمدبن سلام رحمه الله نه دَ ابن عيينه رحمه الله قول نقل كړې دي چه هغوى دكركره نه وړاندې دويم كاف باندې فتحه وركولوسره تلفظ كړې دي. دا هم دغه شان نقل دي اوعلامه اصيلى رحمه الله هم ددې تصريح كړې ده. ([4])

قاضى عياض رحمه الله فرمائى چه اول اودويم كاف دواړه فتحه اوكسره سره لوستل صحيح دى.([5]) امام نووى رحمه الله فرمائى چه دَ كاف اول په تلفظ كښې خواختلاف دي ليكن دويم كاف بالاتفاق مكسوردي.([6]) علامه قسطلانى رحمه الله رائې شاته تيره شوه چه لفظ كركره كښې اول اودويم كاف دواړه بالكسردى.

امام بخارى رحمه الله دَ خپل شيخ محمدبن سلام رحمه الله نه دَ ابن عيينه رحمه الله چه كوم قول نقل كړې دي دَ هغې نه دَ امام بخارى رحمه الله رحجان هم معلوميږى چه دَ هغوى په نيز كاف اول او دويم فتحه

---

[1]) عمدة القارى:۱۲/۱۵.

[2]) عمدة القارى:۱۲/۱۵.

[3]) إرشادالسارى:۱۸۲/۵.

[4]) فتح البارى:۲۳۱/۶وعمدة القارى:۱۲/۱۵ونيل الاوطار للشوكانى:۱۳۷/۸ كتاب الجهاد باب فى تشديدالغلول وتحريق رجل الغال.

[5]) فتح البارى:۲۳۱/۶ إرشادالسارى:۱۸۲/۵ ونيل الاوطار للشوكانى:۱۳۷/۸.

[6]) فتح البارى:۲۳۱/۶ إرشادالسارى:۱۸۲/۵ ونيل الاوطار للشوكانى:۱۳۷/۸.

سره لوستل راجح دی د کر کره په تلفظ کښې هریو قول اختیارولې شی په دې کښې توسع ده
**ترجمة الباب سره د حديث مناسبت** - د باب القليل من الغلول ترجمه قایم کولوسره امام بخاری رحمه الله داخودلی دی چه دعقوبت او سزا په لحاظ سره په غلول کثیر اوقلیل کښې څه فرق نشته په حدیث باب کښې دی فوجدوا عباءةقدغلها ترجمة الباب سره ددې مناسبت بالکل واضح دې چه د مال ومتاع دنورو اصنافو په مقابله کښې د غنیمت نه یومعمولی څادر غلا کول هم د دوزخ دتباهنی کونکی عذاب موجب جوړیږی (١)
علامه شوکانی رحمه الله په نیل الاوطار کښې فرمائی چه دعبدالله بن عمرو رضی الله عنهما دا روایت په دې باندې دلالت کوی چه دعقوبت او سزا په اعتبارسره غلول کثیر اوقلیل دواړه برابردی (٢)

## باب-١٨٧ مایکره من ذبح الابل والغنم فی المغانم

**د ترجمة الباب مقصد** - ددې باب لاندې امام بخاری رحمه الله داخودل غواړی چه دمال غنیمت دتقسیم نه وړاندې دامام د اجازت نه بغیرکوم یوڅناور هم ذبح کول اوخوړل مکروه دی هغه د حدیث باب نه استدلال کړې دې

[حديث ٢٩١٠] (٣) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ مَسْرُوقٍ عَنْ عَبَايَةَ بْنِ رِفَاعَةَ عَنْ جَدِّهِ رَافِعٍ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - بِذِي الْحُلَيْفَةِ، فَأَصَابَ النَّاسَ جُوعٌ وَأَصَبْنَا إِبِلاً وَغَنَمًا، وَكَانَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - فِي أُخْرَيَاتِ النَّاسِ، فَعَجِلُوا فَنَصَبُوا الْقُدُورَ، فَأَمَرَ بِالْقُدُورِ فَأُكْفِئَتْ، ثُمَّ قَسَمَ فَعَدَلَ عَشَرَةً مِنَ الْغَنَمِ بِبَعِيرٍ، فَنَدَّ مِنْهَا بَعِيرٌ، وَفِي الْقَوْمِ خَيْلٌ يَسِيرٌ فَطَلَبُوهُ فَأَعْيَاهُمْ، فَأَهْوَى إِلَيْهِ رَجُلٌ بِسَهْمٍ، فَحَبَسَهُ اللَّهُ فَقَالَ « هَذِهِ الْبَهَائِمُ لَهَا أَوَابِدُ كَأَوَابِدِ الْوَحْشِ، فَمَا نَدَّ عَلَيْكُمْ فَاصْنَعُوا بِهِ هَكَذَا » . فَقَالَ جَدِّي إِنَّا نَرْجُو - أَوْ نَخَافُ - أَنْ نَلْقَى الْعَدُوَّ غَدًا وَلَيْسَ مَعَنَا مُدًى، أَفَنَذْبَحُ بِالْقَصَبِ فَقَالَ « مَا أَنْهَرَ الدَّمَ وَذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ فَكُلْ، لَيْسَ السِّنَّ وَالظُّفُرَ، وَسَأُحَدِّثُكُمْ عَنْ ذَلِكَ، أَمَّا السِّنُّ فَعَظْمٌ، وَأَمَّا الظُّفُرُ فَمُدَى الْحَبَشَةِ » . [ر: ٢٣٥٦]

## رجال الحديث

① **موسى بن اسماعيل**:- دا موسیٰ بن اسماعیل التبوذکی المنقری البصری رحمه الله دې کتاب الایمان باب کیف کان بدء الوحی لاندې ددوی تذکره تیره شوې ده (٤)
② **ابوعوانه** - دا ابوعوانه وضاح بن عبدالله یشکری دې د دوی تذکره په مذکوره کتاب او باب لاندې تیره شوې ده (٥)

---

١) عمدة القاری:١٢/١٥ وإرشادالساری:١٨٢/٥.
٢) نیل الاوطار للشوکانی:٨/١٣٩ – ١٤٠كتاب الجهاد باب التشديد فی الغلول وتحريق رجل الغال.
٣) مر تخريجه فی كتاب الشركة باب قسمة الغنم رقم:٢٤٨٨.
٤) كشف الباری:١/٤٣٣ – ٤٣٤.
٥) كشف الباری:٤٣٤.

③ **سعيد** دا جليل القدر محدث سفيان ثوري رحمه الله پلار سعيد بن مسروق الثوري دي. د دوی تذکره کتاب الاذان باب من شکی إمامه إذا طول لاندې تيره شوې ده

④ **عبايه بن رفاعه** دا عبايه بن رفاعه بن رافع الانصاري المدني رحمه الله دي. د دوی تذکره کتاب الجمعة باب المشی إلی الجمعة لاندې تيره شوې ده

⑤ **رافع** دا مشهور صحابي رافع بن خديج بن عدي الحارثي الاوسي انصاري رضي الله عنه دي. د ده حالات کتاب مواقيت الصلوة باب وقت المغرب لاندې تيرشوی دي

قال كنا مع النبي صلى الله تعالى عليه وسلم بذي الحليفة فاصاب الناس جوع وأصبنا إبلا وغنما وكان النبي صلى الله تعالى عليه وسلم في أخريات الناس

حضرت رافع بن خديج رضي الله عنه فرمائي مونږ په ذوالحليفه کښې رسول الله صلى الله عليه وسلم سره وو. خلق اوږي شو نو مونږ د غنيمت نه اوښ اوچيلئ واخستې (مطلب دا دې چه د خوراك دپاره څاروی ذبح کړل) هغه وخت رسول الله صلى الله عليه وسلم د لښکر شاته حصه کښې وو

**قوله: فعجلوا فنصبوا القدور** - خلقو د (اولګې د سختوالی دلاسه) د تندني نه کار واخستو او (څاروی ذبح کړل) کټوئی ئې په نغروباندې وراوخيژولې.

**قوله: فامر بالقدور فاكفئت** - کله چه رسول الله صلى الله عليه وسلم تشريف راوړو نو د کټوو اړولوحکم ئې اوکړو نو کټوئی واړولې شوې.

**فاكفئت** - كفا كفاء (فتح) معنی راګرځيدل ده دلته د باب افعال نه استعمال شوې دي. د اكفا الاناء معنی ده لوښې اړول.

**د غنيمت د خوراك څښاك د څيزونو حکم**: - قاضي عياض رحمه الله فرمائي په دارالحرب کښې د مجاهدين اسلام دپاره د غنيمت نه ملاويدونکی د خوراك څښاك څيزونه په اندازه د ضرورت په خپل استعمال کښې راوستل په اتفاق سره جائزدی او په دې کښې د امام نه اجازت اخستل هم ضروری نه دي.[1] د جمهور فقهاؤ په نيز څاروی هم د خوراك د پاره ذبح کول جائزدی.[2] البته حافظ ابن حجر رحمه الله د امام شافعي رحمه الله نه د حاجت او ضرورت قيد نقل کړې دي.[3] خو په تحفة المحتاج کښې جمهور فقهاؤ سره د شوافع د موافقت تصريح موجود ده[4] علامه خرقي رحمه الله فرمائي چه ترکومې اضطراری حالت نه وی د غنيمت د خوراك هيڅ څيزاستعمال کول جائزنه دی.[5]

---

[1] ) شرح النووی علی صحيح مسلم:٩٧/١باب جواز الاکل فی طعام الغنيمة فی دارالحرب.

[2] ) لامع الدراری:٣٨٩/٧وأوجز المسالک:٢٦٧/٨.

[3] ) فتح الباری:٦/ ٣١٤وأوجز المسالک: ٢٦٦/٨.

[4] ) لامع الدراری:٣٨٩/٧وأوجز المسالک:٢٦٧/٨.

[5] ) المغنی لابن قدامة:٤٩٩/١٠كتاب الجهاد أحكام فی الغلول وأوجز المسالک:٢٦٧/٨.

په دې مسئله کښې امام احمدبن حنبل رحمه الله هم جمهورفقهاؤ سره دې قاضي عياض رحمه الله فرمائيلي چه دَامام احمد رحمه الله دَ ظاهرکلام نه معلوميږي چه دَ هغوي په نيزخاروي ذبح کول جائزدي ځکه چه دَ خوراك اوڅښاك په معامله کښې دهغوي خيال دې چه دَ خاروي حيثيت هم هغه دې کوم چه دَخوراك څښاك دَعامو څيزونودې (١) البته دجمهور فقهاؤ برخلاف دَامام زهري رحمه الله په نيزدَ خاروي دَ ذبح کولوجواز دَ جنگ دامير په اجازت باندې منحصردې که دَ امير اجازت وي نو جائزدې اوکنې نه دې (٢)

خلاصه دا ده چه دَجمهورفقهاؤ په نيزدَ مجاهدين اسلام دَپاره دَغنيمت نه دَ خوراك تول څيزونه دَ استعمالولو اجازت دې او په دې خبره کښې دَ امير اجازت ضروري نه دې امام بخاري رحمه الله دَ کتاب الخمس په آخره کښې **باب مايصيب من طعام في أرض العدو** ترجمه قايم کړې ده دَدې مسئلې متعلق نور تفصيل به هم هلته بيانوو. ان شاء الله

**دَ امام بخاري رحمه الله مسلک** - دلته غالبًا امام بخاري رحمه الله دَ ترجمة الباب نه دا ثابتول غواړي چه په دارالحرب کښې دَ خوراك کوم څيزونه موجود وي مثلاً سالن روټئي او ميوې وغيره نودهغې استعمال خوبغيردَ اجازت دَ اميرنه دَ څه کراهت نه بغيرجائزدې لکه چه کتاب الخمس لاندې امام بخاري رحمه الله باب مايصيب من طعام في أرض العدوترجمه قايم کولوسره دَ جمهورو موافقت کولوسره دَ جواز تصريح کړې ده. خوکه مجاهدين خاروي ذبح کوي نودهغې دوه صورتونه دي: ① رومبې صورت دادې خاروې په دارالحرب کښې ذبح کړي ② دويم دا چه دَ دارالحرب نه په واپسئې دارالاسلام کښې ذبح کړي.

امام بخاري رحمه الله ممکن دي چه په ترجمة الباب کښې دا دويم صورت په کراهت باندې محمول کړې وي. دَ رافع بن خديج رضي الله عنه په روايت باب کښې هم دَدې دويم صورت ذکردې.لکه چه دَ علامه مهلب رحمه الله رائې ده چه دا واقعه دارالاسلام يعني ذوالحليفه په مقام باندې پيښه شوې (٣) چه صحابه کرامو دَ اجازت نه بغير او دَتقسيم غنايم نه وړاندې خاروي ذبح کړي او دَ غوښې پخولودَپاره ئې کټوئې په نغرو باندې خيژولې وې. ليکن رسول الله صلى الله عليه وسلم ته چه خبر اوشو نو دَ اړولوحکم ئې اوکړو.

تاهم دَ حضرت گنگوهي رحمه الله په نيزدَامام بخاري رحمه الله ميلان مطلقًا دکراهيت طرف ته دې. که چرې ذبح په دارالحرب کښې وي نوبياهم دَامام بخاري رحمه الله ميلان دَ کراهت طرف ته دې. (٤)

والله تعالیٰ اعلم وعلمه اتم واحکم.

**دَ کټوو دَ اړولوحکم ئې ولې ورکړو؟** :- په حديث باب کښې دَ غوښې نه ډکو کټوو اړولوچه کوم حکم رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلې اشکال کيدې شي چه داغوښه مال غنيمت اودَ مسلمانانو

---

(١) المغنى لابن قدامة:٤٩٩/١.

(٢) شرح النووى على صحيح مسلم:٩٧/١باب جواز الاكل من طعام الغنيمة فى دارالحرب وفتح البارى:٢٣١/٦.

(٣) شرح ابن بطال:٢٣٦/٥وفتح البارى:٢٣٢/٦وعمدة القارى:١٣/١٥ولامع الدرارى:٢٨٩/٧.

(٤) لامع الدرارى:٢٨٩/٧.

اجتماعی ملکیت وو نوحضورپاك ددې د ضايع كولواو تلف كولوحكم ولې وركړو شراح حديث ددې مختلف توجيهات كړى دى ① علامه مهلب رحمه الله فرمائى چه دا واقعه دارالاسلام يعنې ذوالحليفه كښې پيښه شوې د ذوالحليفه تصريح په حديث باب كښې موجود دد چونكه د غنايم د تقسيم نه وړاندې د غنيمت څه څيز استعمالو جائزنه دى په دې وجه حضورپاك د غوښې ضايع كولوحكم وركړو اومقصد صحابه كرامو ته دا باور كول وو چه دارالسلام كښې دتقسيم نه وړاندې د مال غنيمت يو څيز استعمالول جائزنه دى (١)

② علامه ابن منير رحمه الله فرمائى د يوقول مطابق چه كله د امام د اجازت نه بغيرعلى وجه التعدى څاروې ذبح كړې شى نوهغه مذبوحه مية جوړشى دا يومذهب دې لكه چه امام بخارى رحمه الله د حديث باب د واقعه نه استدلال كولوسره د دغه مذهب تائيدكړې دې چه د صحابه كرامو د مذكوره طرزعمل نه دهغوى مذبوح څاروې مية جوړشو ښكاره خبره ده چه مية د حديث په رڼاكښې د نجس په حكم كښې دې په دې وجه حضورپاك دهغې د ضايع كولو حكم وركړو علامه ابن منير رحمه الله د احتمال په درجه كښې د امام بخارى رحمه الله يورحجان دا هم خودلې دې چه ممكن ده هغوى اكفاء بالقدور عقوبت مال (تعزيرمالى) باندې حمل كړې وى سره ددې چه هغه مال (څاروى) د ذبح په واقعه كښې ككړ مجاهدينو انفرادى ملكيت نه وو خودهغوى طمع هغې سره خامخا تړلې وه په دې وجه دغوښې په ضايع كولوهغوى ته مالى سزاوركړې شوه (٢)

③ امام قرطبى رحمه الله فرمائى په حقيقت كښې رسول الله ﷺ صرف خوروا اړولوحكم وركړې وو د غوښې ضايع كولو حكم ئى نه وو وركړې ممكن ده چه روستودغه غوښه په مال غنيمت كښې شامل كړې شوې وى. څكه چه پخپله د رسول الله ﷺ نه په يوروايت كښې د مال د ضايع كولوممانعت نقل دې. بيا دجرم اقبال هم يوڅوكسانو په انفرادى توګه كړې وو څه اصحاب خمس او بعض غانمين داسې وو چه په جرم كښې شريك نه وو او په دغه غوښه كښې دهغوى هم حق وو. چونكه په يوروايت كښې په صراحت سره ثابته نه ده چه حضورپاك دغوښې د ضايع كولوحكم فرمائيلې وى په دې وجه د شرعى قواعدو په رڼاكښې د دې حكم پخپله معلوم اومتعين كيږى. د لحوم خمر اهليه باره كښې د حضورپاك إنها نجس فرمائيلوسره دتلف كولو حكم وركړې وو كه چرې د دغه غوښې هم دا حكم وې نو د روايت باب په واقعه كښې به هم داسې حكم وركړې شوې وو. كوم چه ددې خبرې دليل دې چه په مذكوره واقعه كښې د څاروى غوښه لحوم حمر اهليه په شان نجس ګرځولوسره د ضايع كولو حكم نه وو وركړې شوې

---

(١) شرح ابن بطال: ٢٣٧/٥وعمدة القارى:١٣/١٥وإرشاد السارى:١٨٣/٥قال المهلب إنما اكفا لقدور ليعلم أن الغنيمة إنما يستحقونها بعد قسمة لها وذلك أن القصة وقعت فى دارالاسلام لقوله فيها بذى الحليفة.

(٢) فتح البارى:١٣٢/٦والفظه:وأجاب ابن المنير بانه قد قيل ان الذبح إذا كان على طريق التعدى كان المذبوح ميتة، كان البخارى انتصر لهذا المذهب، أو حمل الا كفاء على العقوبة بالمال. وإن ذلك المال لايختص باولئک الذين ذبحوا، لكن لما تعلق به طمعهم، كانت النكاية حاصلة لهم. قال وإذا جوزنا هذا النوع من العقوبة فعقوبة صاحب المال أولى فى ماله.

چنانچه فتح البَاري عمدة القاري اوإرشاد الساري کښې دی: وقال القرطبي: المامور باکفائه إنما هو المرق عقوبة للذين تعجلوا، وأما نفس اللحم فلم يتلف، بل يحتمل على أنه جمع ورد إلى المغنم لان النهي عن إضاعة المال تقدم، واجناية يطبخه لم تقع من الجميع إذا حملتهم أصحاب الخمس ومن الغانمين من لم يباشر ذلك، وإذا لم ينقل أنهم حرقوه أو أتلفوه تعين تاويله على وفق القواعد الشرعية، ولهذا قال في الخبر الاهلية لما أمر بإراقتها: إنها رجس ولم يقل ذلك في هذه القصة، فدل على أن لحومها لم تترك بخلاف تلك (۱)

**ترجمة الباب سره مناسبت** - په حديث باب کښې رسول الله ﷺ د کټوو د اړولو حکم ورکړې. دا مضمون فامر بالقدور الفاظو کښې نقل کړې شوی دی. د دې حکم مقتضی ښکاره دې چه کراهت دې په دې وجه ترجمة الباب سره د دې مناسبت هم ښکاره دې (۲)

## باب - ۱۸۸ البشارة في الفتوح

البشارة:- په کسره د باء سره د زيری په معنی کښې دې. البشارة، الابشار، والتبشير درې مختلف لغات دی او د دې هم يوه معنی ده. يعنی په زړه کښې خوشحالي پيداکيدل (۳) علامه ابن الاثير رحمه الله فرمائيلي دی چه البشارة د باء په ضمه سره د زيرې ورکونکی انعام ته وئيلې شي لکه چه مزدور ته د هغه مزدوری ورکولې شي. (۴) د علامه محمدبن ابوبکر رازی رحمه الله په مختار الصحاح کښې دی که چرې لفظ بشارة د څه قيدنه بغير مطلق استعمال وی نو دې نه به هم د خير معنی اخستې شي او چه کله مقيد استعمال وی نو دا لفظ به د شر په معنی کښې وی لکه چه آيت ﴿ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴾ کښې لفظ بشارت مقيد کيدو سره د شر په معنی کښې استعمال شوې دې. (۵)

الفتوح:- د فتح جمع ده د اسلام د دښمنانو خلاف په جنګ کښې د اهل اسلام کاميابئی او سرلوړئی ته فتح او ظفر وئيلې شي.

**د ترجمة الباب مقصد:-** د دې ترجمة الباب نه امام بخاری رحمه الله دا باور ورکول غواړی چه اهل اسلام په فتح اوکامرانئي سره کامياب وی نو د دغه فتح زيرې اوبشارت نورو ته ورکولې شي. او د دې مشروعيت د حديث نه ثابت دې.

[حديث ۲۹۱۱] (۶) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي قَيْسٌ قَالَ قَالَ لِي جَرِيرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ - رضی الله عنه - قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله

---

۱) فتح الباري: ۶/۲۳۲ وعمدة القاري: ۱۵/۱۳ وإرشاد الساري: ۵/۱۸۳.

۲) عمدة القاري: ۱۵/۱۳.

۳) عمدة القاري: ۱۵/۱۳.

۴) النهاية في غريب الحديث والاثر لابن الاثير رحمه الله ۱/۱۲۰.

۵) مختار الصحاح لمحمد بن ابوبكر الرازي رحمه الله ص: ۸۱.

۶) مر تخريجه الحديث في كتاب الجهاد باب حرق الدور والنخيل رقم: ۳۰۲۰.

علیه وسلم - « أَلاَ تُرِيحُنِي مِنْ ذِي الْخَلَصَةِ » . وَكَانَ بَيْتًا فِيهِ خَثْعَمُ يُسَمَّى كَعْبَةَ الْيَمَانِيَةِ ، فَانْطَلَقْتُ فِي خَمْسِينَ وَمِائَةٍ مِنْ أَحْمَسَ ، وَكَانُوا أَصْحَابَ خَيْلٍ ، فَأَخْبَرْتُ النَّبِيَّ - صلی الله علیه وسلم - أَنِّي لاَ أَثْبُتُ عَلَى الْخَيْلِ ، فَضَرَبَ فِي صَدْرِي حَتَّى رَأَيْتُ أَثَرَ أَصَابِعِهِ فِي صَدْرِي فَقَالَ « اللَّهُمَّ ثَبِّتْهُ وَاجْعَلْهُ هَادِيًا مَهْدِيًّا » . فَانْطَلَقَ إِلَيْهَا فَكَسَرَهَا وَحَرَّقَهَا ، فَأَرْسَلَ إِلَى النَّبِيِّ - صلی الله علیه وسلم - يُبَشِّرُهُ فَقَالَ رَسُولُ جَرِيرٍ يَا رَسُولَ اللَّهِ ، وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ ، مَا جِئْتُكَ حَتَّى تَرَكْتُهَا كَأَنَّهَا جَمَلٌ أَجْرَبُ ، فَبَارَكَ عَلَى خَيْلِ أَحْمَسَ وَرِجَالِهَا خَمْسَ مَرَّاتٍ . قَالَ مُسَدَّدٌ بَيْتٌ فِي خَثْعَمَ . [ر: ٢٨٥٧]

## رجال الحدیث

① **محمدبن المثنی** - دا ابوموسی محمد بن المثنی بن عبید عنزی بصری رحمه الله دي. د دوی تذکره کتاب الایمان باب حلاوة الایمان لاندې تیره شوې ده.[١]

② **یحیی** - دا مشهور امام حدیث یحیی بن سعیدبن فروخ القطان تمیمی دي. د دوی حالات کتاب الایمان باب من الایمان أن یحب لاخیه مایحب لنفسه لاندې تیرشوی دی.[٢]

③ **اسماعیل** - دا اسماعیل بن ابی خالد احمسی بجلی کوفی رحمه الله دي. د دوی تذکره کتاب الایمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده لاندې تیره شوې ده.[٣]

④ **قیس** - دا مشهور مخضرم تابعی قیس بن ابی حازم احمسی بجلی کوفی رحمه الله دي. کتاب الایمان باب قول النبی صلی الله تعالی علیه وسلم: الدین النصیحة.... لاندې د دوی تذکره تیره شوې ده

⑤ **جریربن عبدالله** رضی الله عنه - دا مشهور صحابی حضرت جریر بن عبدالله بجلی کوفی رضی الله عنه دي. د دوی تذکره هم په مذکوره کتاب او باب کښې تیره شوې ده.[٤]

قال لی رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم ألا تریحنی من ذی الخلصة، وکان بیتا فیه خثعم یسمی الکعبة الیمانیة.

الخلصة: - د خاء لام او صاد فتحه سره.[٥]

خثعم - خاء او عین فتحه سره او د ثاء په سکون سره د یمن د یوې قبیلې نوم دي.[٦]

**قوله**: کعبة الیمانیة - دا اضافة الموصوف الی الصفة د قبیل نه دي علامه قسطلانی رحمه الله

---

[١] کشف الباری: ٢/٢٥.
[٢] کشف الباری: ٢/٢. ٣.
[٣] کشف الباری: ١/٦٧٩.
[٤] کشف الباری: ٢/٧٦٤.
[٥] إرشادالساری: ٥/١٨٣.
[٦] شرح الکرمانی: ١٣/٦٦ و إرشادالساری: ٥/١٨٣.

فرمائی د نحاة بصره په نیز په دې کښې لفظ الجهة محذوف دې او عبارت مقدردې کعبة الجهة الیمانیة (١)

په روایت کښې حضرت جریر بن عبدالله ﷺ فرمائی رسول الله ﷺ ماته اوفرمائیل آیا ته ذوالخلصة ورانولوسره ماته سکون نه شې رارسولې؟ راوی وائی چه دا کور خثعم قبیله جوړ کړې وو کوم ته چه به نې د یمن کعبه ونیله رسول الله ﷺ د قبیله خثعم د دغه کعبه د ورانولوحکم څکه ورکړې وو چه په دې کښې د خلصه نوم یوبت وو د غه خلقو به د دې عبادت کولو دا د خان نه جوړه شوې کعبه دوی د کعبة الله په مقابله کښې جوړه کړې وه (٢)

**قوله: فانطلقت في خمسين ومائة من أحمس، وكانوا أصحاب خيل:** حضرت جریر ﷺ وائی چه زه د قبیله احمس د یونیم سل سورو کسانوسره روان شوم اوهغه ټول ډیر ښکلی سواره وو. فاخبرت النبی صلی الله تعالی علیه وسلم أنی لا أثبت علی الخیل، فضرب فی صدری، حتی رأیت أثر أصابعه فی صدری: ما رسول الله ﷺ ته خبر ورکړو چه زه په اس باندې کلك نه شم کیناستې. حضوریاك په خپل لاس مبارك باندې زه په سینه باندې یوګذار اووهلم تردې چه په خپله سینه باندې ما د رسول الله ﷺ ګوتې مبارکې محسوس کړې.

**قوله: فقال: اللهم ثبته واجعله هاديا مهديا:** حضوریاك دعااوفرمائیله اې الله د ده ته په اس باندې د کلك کیناستو توفیق ورکړه او دې هادی اومهدی جوړ کړې.

**قوله: فانطلق إليها فكسرها وحرقها:** نوجریر بن عبدالله ﷺ لاړو او ذوالخلصه نې مات کړو او وئې سوزولو.

**قوله: فأرسل إلى النبي صلى الله تعالى عليه وسلم يبشره:** یعنی جریر بن عبدالله ﷺ رسول الله ﷺ ته د دې واقعه د زیرې پیغام راولیګلو. علامه قسطلانی ﷫ وائی چه د زیری ورکولو د پاره جریر بن عبدالله ﷺ د حضوریاك په خدمت کښې حصین بن ربیعه الاحمسی ﷺ رالیګلې وو.

**قوله: فقال رسول الله جرير: يارسول الله، والذي بعثك بالحق، ما جئتك حتى تركتها كأنها جمل أجرب:** د جریر ﷺ پیغام رسونکي اووئیل یارسول الله! په هغه ذات باندې قسم کوم چه ته په حقه سره پیغمبر جوړ کړې رالیګلې زه ستاسو په خدمت کښې د راتلو د پاره هغه وخت روان شوې یم چه کله ما ذوالخلصه د خارښتی اوښ په شان پریخودو یعنی د وینښتو پریوتلو وجه خارښتی اوښ نرې پرې پاتې شی او د خارښ د علاج د پاره په ده باندې د تور رنګ تیل مږی نو په هغه باندې تور ټاکی جوړیږی هم دغه شان د ذوالخلصه دیوالونه او چت څه حصه پریوتلې ده او د سوزولو وجه نه په هغې باندې ځائی په ځائی د تور

---

(١) إرشادالساری:٥/١٨٣.

(٢) إرشادالساری:٥/١٨٣.

رنګ نښې لګیدلې دي

أجرب دا روایت امام بخاری کتاب الجهاد باب حرق الدور والنخیل لاندې عن مسدد عن یحیی په طریق سره نقل کړې دې او په دغه روایت کښې د أجرب په ځائې أجوف نقل دې (۱).

فبارك على خيل أحمس ورجالها خمس مرات رسول الله ﷺ د احمس او د هغه د سورو د پاره پنځه ځل د برکت دعا اوکړه قال مسدد: بيت فيه خثعم

**د مذکوره تعلیق مقصداو د دې تخریج** - د دې تعلیق نه امام بخاری رحمه الله دا خودل غواړی چه د ترجمة الباب مذکوره روایت مسدد بن مسرهد هم په دې سند سره عن یحیی القطان په طریق نقل کړې دې په دې کښې د کان بیتا فیه خثعم په ځائې باندې بیت فی خثعم الفاظ نقل دی او هم دغه اصح دی (۲) علامه قسطلانی رحمه الله فرمائی چه حفاظ محققین هم دا تصویب کړې دی (۳) د مسند احمد بن حنبل رحمه الله د روایت نه هم د دې تائید کیږی په کوم کښې چه د بیت لخثعم الفاظ مروی دی (۴)

**د حدیث نه مستنبط فوائد** - علامه ابن بطال رحمه الله او د هغوی په اتباع کښې علامه عینی رحمه الله فرمائی چه د روایت باب نه معلومه شوه چه د دښمن خلاف مسلمان فتح بیامومی د دې په شان دغسې د خوشحالئی واقعه پیښه شی چه د اسلام د سرلوړئی او کامیابئی سبب وی نونورو ته د هغې زیرې ورکول پکاردی دې د پاره چه هغوی ته هم إعلاء کلمة الله باندې د خوشحالئی د اظهار او د الله تعالی په نعمت او احسان باندې د شکر ښکاره کولو موقع ملاؤشی دا د الله تعالی وعده ده چه کوم قوم په ورکړې شوی نعمتونو باندې کامیابو باندې او فتحو باندې شکرادا کوی الله تعالی هغوی ته نور ډیر وسعت ورکوی د سورت ابراهیم آیت ﴿ لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ ﴾ هم دغه مطلب دې شرح ابن بطال او عمدة القاري کښې دی فيه البشارة في الفتوح وماكان في معناه من كل مافيه ظهور الاسلام و: هله، ليبشر المسلمون باعلاء الدين، ويبتهلوا إلى الله في الشكر على ماوهبهم من إحسانه، فقد أمر الله عباده ووعدهم المزيد فقال: ﴿ لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ ﴾ (۵)

**ترجمة الباب سره مناسبت:** - په حدیث باب کښې دی فارسل إلى النبى صلى الله تعالى عليه وسلم يبشره. جرير بن عبدالله رضی الله عنه حصین بن ربیعه رضی الله عنه د حضورپاك په خدمت کښې د زیری ورکولو د پاره اوولیګلو چه هغوی کعبه یمانیه تباه کولو سره فتح بیاموندې ده. ترجمة الباب سره د دې مناسبت ښکاره دې

(۱) عمدة القاری:۱۵/۱٤ وصحیح بخاری کتاب الجهاد باب حرق الدور والخیل رقم:۳۰۲۰.
(۲) عمدة القاری:۱۵/۱٤ وفتح الباری:۶/۲۳۳ وإرشادالساری:۵/۱۸٤.
(۳) وإرشادالساری:۵/۱۸٤.
(٤) مسنداحمدبن حنبل رحمه الله: ٤/۳۶۲ وتغلیق التعلیق:۳/٤۶۶.
(۵) عمدة القاری:۱۵/۱٤.

## باب - ١٨٩ مايعطى البشير

**دَ ترجمة الباب مقصد اوباب سابق سره مناسبت** په تيرشوى باب كښې دَ بشارت مشروعيت ثابت كړې شوې دې اوس دا چه عموماً په معاشره كښې بشارت وركونكي ته زر خوشحالئ سره مغلوب كيږى نود انعام يا صله په توګه څه وركولي هم شى آيا دا طرز عمل هم مشروع دې او په شريعت كښې ددې اجازت شته؟ امام بخارى رحمه الله هم په دې مناسبت سره باب مايعطى البشير ترجمه قايم كولوسره خودل غواړى چه زيرې وركونكي ته عطيه او انعام وركول هم جائزدى امام بخارى رحمه الله دَ ترجمة الباب لاندې دَ حضرت كعب بن مالك رضي الله عنه يومعلق اثرنقل كړې دې هم دَ دغه اثرنه هغه استدلال كړې دې

**قوله** وَأَعْطَى كَعْبُ بْنُ مَالِكٍ ثَوْبَيْنِ حِينَ بُشِّرَ بِالتَّوْبَةِ. [ر ۴۱۵۶]

**دَ تعليق مقصد** - په دې تعليق سره امام بخارى رحمه الله دَ كعب بن مالك رضي الله عنه يوطويل يعنى اوږد روايت طرف ته اشاره كړې ده په كوم كښې چه هغوى په غزوه تبوك كښې دَ شركت نه دَ محرومتيا اوددې په نتيجه كښې په هغه باندې اوَدهغه په نورو ملګروباندې نازل كيدونكي رټنه اوبيادَ الله تعالى دَ دربارنه دَهغوى معافى اودَ دردنه ډكې قصې بيان دې كتاب المغازى، باب حديث كعب بن مالك رضي الله عنه لاندې دا روايت تفصيل سره راځي دلته امام بخارى رحمه الله دَ ترجمة الباب دَ مناسبت نه دغه اوږد روايت مخصوص مضمون تعليقاً نقل كړې دې

كله چه كعب بن مالك رضي الله عنه ته دَتوبه دَ قبليدو زيرې وركړې شو نوهغه دوه كپړې هديه كړې دَ غزوه تبوك په موقع باندې چه كله رسول الله صلى الله عليه وسلم دَ جهاد اعلان اوكړو نودَ منافقانو يولوئې ډلې دَ بهانوسهاره واخسته اوعذورونه ئې اوكړل اوپه جهاد كښې دَشركت كولونه انكار اوكړو په جهاد كښې چه كوم نوردې مخلص صحابه كرام شريك نه شو په هغوى كښې حضرت كعب بن مالك رضي الله عنه هم شامل وو ددې تفصيل به ان شاء الله په كتاب المغازى كښې په خپله موقع راځي دلته مختصراً عرض دې چه په دې باندې رسول الله صلى الله عليه وسلم ناراضه شو اوصحابه كرامو رضي الله عنهم ته ئې حكم اوفرمائيلوچه تركومې خپله الله تعالى دَدوى په حق كښې څه فيصله اونه كړى ترهغه وخته پورې دوى سره خبرې اترې او تعلق بالكل ختم كړنى دَ قطع تعلق دا زمانه پنځوس ورځوپورې وه دَ دې ټولې مودې قصه حضرت كعب بن مالك رضي الله عنه ډير دَ درد نه په ډكو الفاظوكښې بيان كړې ده ددغه مودې يوه يوه لمحه دَهغه دَ په ډيره دَتكليف او صبرنه ډكه وه دا صورت حال حضرت كعب بن مالك رضي الله عنه فضاقت عليهم الارض بما رحبت بالكل صحيح مصداق اوخودلو او وئې فرمائيل چه په ماباندې زمكه دَخپل وسعت سره تنګه شوې وه بياد معافئى اعلان اوشو نوچه كوم سړې دَ معافئى دَ زيرى وركولوَدَ پاره راغلې وو نوكعب بن مالك رضي الله عنه دَ زيرى په خوشحالئى كښې خپلې دوه كپړې هغه ته عطيه كړې

نوفاعطى كعب بن مالك ثوبين حين بشر بالتوبة سره امام بخارى رحمه الله دَدغه واقعه طرف ته اشاره كولوسره استدلال كړې دې چه زيرې راوړونكي ته په خوشحالئى كښې څه څيز وركول پكاردى حضرت علامه انورشاه كشميرى رحمه الله فرمائى چه دا يوعام طريقه ده چه كله يوسړې زيرې راوړى راځى نوهغه ته څه وركولې شى په دې وجه هم حضرت كعب بن مالك رضي الله عنه دَخپل

بدن دوه کپړې زیری اړونکی ته ورکړې [1]

**کعب بن مالک ﷺ ته زیرې ورکونکې څوک وو؟** حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه عینی رحمه الله رانې ده چه زیرې ورکونکې سلمه بن اکوع رضی الله عنه وو [2] خو علامه قسطلانی رحمه الله په دوی باندې ردکولوسره فرمائی زیرې ورکونکې حمزه بن عمرو اسلمی رضی الله عنه وو په مغازی کښې مقدمه کښې او دغه شان مصابیح کښې هم ددې نوم تصریح موجود ده [3] حضرت شیخ الحدیث محمدزکریا رحمه الله رانې هم دغه ده [4]

**دحدیث نه مستنبط فوائد** امام نووی رحمه الله فرمائی چه ددې روایت نه معلومه شوه چه زیرې راوړونکی ته کپړې لباس ورکول مستحب دی که کپړه نه وی نو بل څه څیز هم ورته هدیه کولې شی خوکپړه ډیره بهترده دامام نووی رحمه الله په شرح مسلم کښې دی **فیه استحباب اجازة البشیر بخلعة وإلا فبغیرها، الخلعة أحسن وهی المعتادة** [5]

## باب- ۱۹۰ لاهجرة بعد الفتح

**دَ ترجمة الباب مقصد**:- باب ما یکره من ذبح الابل والغنم فی المغانم پورې دَ جهادسره متعلق اهم اهم احکام په مختلف ابوابوکښې بیانولې شی باب البشارة في الفتوح نه امام بخاری رحمه الله دَ جهادسره متعلق فروعی احکام اومناسبات ذکرکړی دی دَ باب البشارة في الفتوح ترجمه قایم کولوسره نی اوخودل چه کله دَجهاد په نتیجه کښې فتح وی نودَ فتح زیرې ورکول هم جائز اومشروع دی دَ دې په مناسبت سره دویمه ترجمه قایمولوسره اوخودلې شو چه زیرې ورکونکی صحابی دَ اثر نه تحفه اوهدیه ورکول هم ثابت دی اومستحب دی

دلته امام بخاری رحمه الله ترجمة الباب سره دې طرف ته اشاره کړې ده چه کله دارالحرب فتح شی اودارالاسلام جوړشی نودَهغه ځائی نه به دَ هجرت فرضیت ساقط شی ځکه چه هجرت دَ دارالحرب نه کیږی نوچه دارالحرب دارالاسلام جوړشی نودَهجرت ضرورت باقی نه پاتې کیږی په دې وجه ددې فرضیت ساقط کیږی لکه چه امام بخاری رحمه الله العبرة لعموم اللفظ لالخصوص المورد اعتبارکړې دې چه لفظ عام نه دَ کوم مورد چه خاص (دَ مکې فتح) ود یوعام حکم ئی ثابت کړې دې

[حدیث ۲۹۱۲] [6] حَدَّثَنَا آدَمُ بْنُ أَبِي إِيَاسٍ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ طَاوُسٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رضی الله عنهما- قَالَ قَالَ النَّبِيُّ -صلی الله علیه وسلم-

---

[1]) فیض الباری: ۱۳۷/٤.
[2]) فتح الباری: ۲۳۳/٦ وعمدة القاری: ۱٤/۵.
[3]) إرشادالسار للقسطلانی رحمه الله ۱۸٤/۵.
[4]) الابواب والتراجم للکاندهلوی: ص:۲۰۵.
[5]) شرح النووی علی صحیح مسلم: ۳٦۲/۲ کتاب التوبة. حدیث توبة کعب بن مالک وصاحبیه.
[6]) مرتخریجه فی کتاب الجنائز باب الذخر والحشیش فی القبر رقم: ۱۳٤۹.

يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ «لاَهِجْرَةَ وَلَكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ، وَإِذَا اسْتُنْفِرْتُمْ فَانْفِرُوا». [ر: ١٥١٠]

# رجال الحديث

① **ادم بن ابی ایاس** - دا ابوالحسن آدم ابن ایاس عبدالرحمن القسطلانی رحمه الله دي. دَ دوی تذکره کتاب الایمان باب من سلم المسلمون من لسانه ویده لاندې تیره شوې ده. [1]

② **شیبان** - داابومعاویه شیبان بن عبدالرحمن بصری رحمه الله دي کتاب العلم باب کتابة العلم لاندې دَ دوی تذکره تیره شوې ده. [2]

③ **منصور** - دا مشهور محدث ابوعتاب منصوربن المعتمر الاسلمی الکوفی رحمه الله دي. کتاب العلم باب من جعل لاهل العلم أياما معلومة لاندې دَدوی تذکره تیره شوې ده. [3]

④ **مجاهد** - دا شیخ القراء والمفسرین ابوالحجاج مجاهدبن جبر مکی قرشی مخزومی رحمه الله دي. دَدوی تذکره کتاب العلم باب الفهم فی العلم لاندې تیره شوې ده. [4]

⑤ **طاؤس** - دا طاؤس بن کیسان الیمانی الجندی الحمیری رحمه الله دي. دَدوی تذکره کتاب الوضوء باب من لم یری الوضوء إلا السخرجین.... لاندې تیره شوې ده.

⑥ **ابن عباس** - دامشهورصحابی حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما دي. دَدوی حالات بدءالوحی لاندې تیرشوی دی. [5]

**قال النبی صلی الله تعالی علیه وسلم یوم فتح مکة لاهجرة**

دَحضرت ابن عباس رضی الله عنهما روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دَمکې دَفتح په موقع اوفرمائیل اوس هجرت ختم شو. دَ کتاب الجهاد په شروع کښې باب وجوب النفیر لاندې دا روایت تیرشوې دې په دې باندې تفصیلی بحث هم شوې دې.

**دَ دارالحرب نه دهجرت حکم** - مختصراً دلته دومره پوهه شئی چه اهل اسلام په دارالحرب یا دارالکفرکښې وی په هغوی به هجرت واجب وی که نه؟ دَدې درې صورتونه دی. ① که چرې دَ دارالحرب حالات ناموافق وی هلته دَاهل اسلام دَپاره دَ اسلام په احکامواوشعائرو باندې عمل کول ممکن نه وی اودَهغوی په هجرت کولو باندې قدرت وی نو په داسې صورت کښې به هجرت واجب وی. [6]

---

[1] ) کشف الباری: ١/٤٧٨.
[2] ) کشف الباری: ٤/٢٦٣.
[3] ) کشف الباری: ٣/٢٧٠-٢٧٢.
[4] ) کشف الباری: ٣/٣٠٧-٣١٠.
[5] ) کشف الباری: ١/٣٤٥-٣٤٧.
[6] ) فتح الباری: ٦/٢٣٤ والادب والتراجم ص: ٢٠٥.

② دویم صورت دادې چه د اسلام په احکامو اوشعائروباندې عمل کولودپاره فضاسازګاروی د هیڅ قسم ویرې بندیز او فتنې څه اندیښنه نه وی نو په دې صورت کښې هجرت بوجود مستحب دې څکه چه د دارالاسلام طرف نه هجرت کولو په نتیجه کښې په دارالاسلام کښې د اول نه د اوسیدونکو مسلمانانو ګنړه قوت او حشمت کښې به اضافه وی دوی به دهغوی امداد او اعانت کوی دغسې به د کافرانو خلاف د جهادپاره د مسلمانانو خورشوې قوت په مرکزکښې راجمع شی خو په دارالحرب کښې اوسیدو سره ددې امکان شته بلکه په دارالحرب کښې د کافرانود طرف نه دهغوی دپاره دخطرو راپیداکیدلواندیښنه شته په هجرت سره به دغه اندیښنه ختمه شی هغوی به په امن کښې شی بل د منکرات او فواحش مظاهره کتلوسره به خلاصې بیامومی هغوی ته به خوشحالی نصیب شی (۱)

③ دریم صورت دادې که چرته مسلمان بیماری یاد بل څه دعذر د وجه نه په هجرت باندې قدرت نه ساتی نو په دارالحرب کښې حصاریدل جائزدی خوکه مشقت او تکلیف برداشت کولوسره دارالاسلام طرف ته هجرت کول اختیار کړی نو په دې اجراو ثواب هم ملاویږی (۲)

علامه طیبی رحمه الله فرمائی: ① یوهجرت د دارالکفرنه د دارالاسلام طرف ته دې په شروع کښې اهل اسلام ته د دارالکفرنه دارالاسلام طرف ته د هجرت حکم ورکړې شو دې دپاره چه د اسلام په احکامو په آزادئی سره عمل کولو موقع په لاس راشی اوداسې د فتنو او مشرکینو د تکلیف رسولو نه محفوظ وی (۳)

②دویم هجرت د مکې نه مدینې طرف ته وو په مدینه کښې د مسلمانانو تعدادکم وو دمشرکانو په مقابله کښې هغوی کمزورې وو په دې وجه اهل اسلام ته حکم ورکړې شو چه هغوی دې د رسول الله صلی الله علیه وسلم اعانت تبلیغ دین او شرائع واحکام اسلام کښې تفقه حاصلولودپاره مدینې منورې ته هجرت اوکړو بیاچه کله الله تعالی د فتح مکې په ذریعه دمسلمانانو قوت اوشوکت کښې اضافه اوکړه نوهغه عام اسباب کوم چه په مدینه کښې د قیام کولودپاره وو هغه ختم شو داهل مکه نه یولوئی سبب د ویرې او فتنې وو هغه هم پاتې نه شو دغه وخت د هجرت فرضیت ختم شو (۴)

**د ولکن جهاد ونية مطلب:-** امام نووی رحمه الله فرمائی چه د ولکن جهاد ونية مطلب دادې چه د فتح مکه نه پس د هجرت ختمیدو د وجه د هجرت په ذریعه د خیرحاصلولوسلسله خو ختمه شوه لیکن دا خیرد جهاد او نیت صالحه په ذریعه اوس هم حاصلولې شی

قال النووي معناه أن تحصيل الخير بسبب الهجرة قد انقطع بفتح مكة لكن حصلوه بالجهاد والنية الصالحة (۵) علامه طیبی رحمه الله فرمائی چه ددې مطلب دادې د فتح مکه نه پس د

---

(۱) فتح الباری:۶/ ۲۳٤.

(۲) فتح الباری:۶/ ۲۳٤.

(۳) شرح الطیبی رحمه الله علی مشکاة المصابیح:۶/ ۱۹ کتاب الجهاد.

(۴) شرح الطیبی رحمه الله علی مشکاة المصابیح:۶/ ۱۹ کتاب الجهاد.

(۵) إرشادالساری:۵/ ۳۳ باب فضل الجهاد والسیر.

هجرت حکم منسوخ شو خو د جهاد دپاره یاد نیت خالص په وجه د علم د طلب دپاره یا د دارالکفریا داسې ښار نه چرته چه امر بالمعروف اونهی عن المنکرباندې عمل کول ممکن نه وی یا بیت الله. مسجدنبوی او مسجداقصی د زیارت دپاره وطن پریخودو سره د هجرت حکم ترقیامته پورې باقی دې د دې حکم نه دې منسوخ شوې

قال الطیبی رحمه الله: فالمعنی أن مفارقة الاوطان الله ورسوله...... انقطعت، لکن المفارقة من الاوطان بسبب نیة خالصة لله تعالی، کطلب العلم، والفرار من دارالکفر، أو مما لایقام فیها الامربالمعروف والنهی عن المنکر، وزیارة بیت الله وحرم رسوله والمسجد الاقصیٰ وغیرها، أوبسبب الجهاد فی سبیل الله باقیة مدی الدهر. (١)

په دواړو اقوالوکښې هم یومضمون بیان شوې دې فرق صرف دومره دې چه کومه خبره د علامه نووی رحمه الله په عبارت کښې په اختصارسره راغلې ده هغه د علامه طیبي رحمه الله په عبارت کښې هغه په وضاحت سره بیان کړې ده

**ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت:** - په روایت کښې دی قال رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم یوم فتح مکة لاهجرة ترجمة الباب سره د دې مناسبت واضحه دې

[حديث ٢٩١٣] (٢) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ عَنْ خَالِدٍ عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ عَنْ مُجَاشِعِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ جَاءَ مُجَاشِعٌ بِأَخِيهِ مُجَالِدِ بْنِ مَسْعُودٍ إِلَى النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ هَذَا مُجَالِدٌ يُبَايِعُكَ عَلَى الْهِجْرَةِ. فَقَالَ «لاَ هِجْرَةَ بَعْدَ فَتْحِ مَكَّةَ، وَلَكِنْ أُبَايِعُهُ عَلَى الإِسْلاَمِ». [ر: ٢٨٠٢]

## رجال الحدیث

① **ابراهیم بن موسی:** -دا ابواسحاق ابراهیم بن موسی بن یزید تمیمی رازی رحمه الله دې د دوی تذکره کتاب الحیض باب غسل الحائض رأس زوجها وترجیله لاندې تیره شوې ده

② **یزیدبن زریع:** - دا ابومعاویه یزید بن زریع العیشی البصری رحمه الله دې د دوی تذکره کتاب الوضوٴ باب غسل المنی وفرکه لاندې تیره شوې ده

③ **خالد:** - داحافظ حدیث ابوالمنازل خالد بن مهران الخداء بصری رحمه الله دې د دوی تذکره کتاب الوضوٴ باب التیمن فی الوضوٴ والغسل لاندې تیره شوې ده.

④ **ابوعثمان النهدی:** - دا عبدالرحمن بن مل ابن عمر والنهدی رحمه الله دې د دوی حالات کتاب مواقیت الصلوة باب الصلوة کفارة لاندې تیرشوی دی

---

(١) شرح الطیبی علی المشکوة:٧/٢٨٧.

(٢) مرتخریجه فی کتاب الجهاد باب البیعة فی الحرب علی أن لایفروا رقم:٢٩٦٢.

⑤ **مجاشع بن مسعود** دا صحابی رسول ﷺ مجاشع بن مسعود بن ثعلبه السلمی رضی الله عنه دی
کتاب الجهاد باب البیعة فی الحرب علی أن لایفروا لاندې د دوی حالات تیرشوی دی
په روایت کښې دی چه مجاشع بن مسعود رضی الله عنه دخپل رور مجالدبن مسعود رضی الله عنه سره د حضورپاك په خدمت کښې حاضر شو عرض نی اوکړو مجالد تاسو نه په هجرت باندې بیعت کول غواړی حضورپاك اوفرمائیل د فتح مکه نه پس هجرت باقی پاتې نه شو البته په اسلام باندې دې بیعت کوم

امام بخاری رحمه الله دا روایت شاته کتاب الجهاد باب البیعة فی الحرب لاندې عن عاصم عن أبی عثمان په طریق باندې نقل کړې دې هلته د روایت الفاظ د حدیث باب نه مختلف دی أتیت النبی صلی الله تعالی علیه وسلم أنا وأخی فقلت: بایعنا علی الهجرة فقال: مضت الهجرة لاهلها فقلت: علام تبایعنا؟ قال: علی الاسلام والجهاد.[1] په دې روایت کښې اسلام سره بیعت کښې د جهاد تصریح هم موجود دد. د ترجمة الباب په روایت د لفظ جهاد تصریح نشته په دې وجه به ونیلې شی چه حضورپاك دغوی نه په اسلام او جهاد دواړو باندې بیعت واخستلو

**ترجمة الباب سره مناسبت:-** په روایت باب کښې لاهجرة بعد الفتح امام بخاری رحمه الله هم د دې ترجمة الباب مدعی ثابته کړې دد.

احدیث ۲۹۱۴[2] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ عَمْرٌو وَابْنُ جُرَيْجٍ سَمِعْتُ عَطَاءً يَقُولُ ذَهَبْتُ مَعَ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ إِلَى عَائِشَةَ - رضی الله عنها - وَهْيَ مُجَاوِرَةٌ بِثَبِيرٍ فَقَالَتْ لَنَا انْقَطَعَتِ الْهِجْرَةُ مُنْذُ فَتَحَ اللَّهُ عَلَى نَبِيِّهِ - صلی الله علیه وسلم - مَكَّةَ .[۳۶۸۷، ۴۰۵۸]

## رجال الحدیث

① **علی بن عبدالله:-** داعلی بن عبدالله بن جعفر بن نجیح سعدی بصری رحمه الله دې د ابن المدینی په نوم باندې مشهوردې. د دوی حالات کتاب العلم باب الفهم فی العلم لاندې مخکښې تیرشوی دی.[3]

② **سفیان:-** دامشهور محدث سفیان بن عیینه بن ابی عمران هلالی الکوفی دې د دوی حالات کتاب العلم باب قول المحدث حدثنا أو أخبرنا وأنبانا لاندې تیرشوی دی [4]

---

[1] ) صحیح بخاری:۴۱۵/۱ - ۴۱۶ رقم:۲۹۶۲- ۲۹۶۳.

[2] ) وعندالبخاری أیضًا فی صحیحه:۶۱۵/۲ فی المغازی، باب مقام النبی صلی الله تعالی علیه وسلم بمکة ومن الفتح و:۵۵۱/۱ فی فضائل أصحاب النبی صلی الله تعالی علیه وسلم باب هجرة النبی صلی الله تعالی علیه وسلم وأصحابه إلی المدینة رقم:۲۹۰۰ وعندمسلم فی صحیحه:۱۳۱/۲فی کتاب الامارة باب المبایعة بعدفتح مکة لی الاسلام ولجهاد والخیر، وبیان معنی لاهجرة بعدالفتح رقم:۱۸۶۴.

[3] ) کشف الباری:۲۵۶/۳.

[4] ) کشف الباری:۸۶/۳ - ۹۰.

③**عمرو** - دامشهرو محدث عمرو بن دينار الجرحى رحمه الله دى. دَدوى تذكره هم كتاب العلم باب العلم والعظة بالليل كښې تيره شوې ده

④**ابن جريج** - دا عبدالمالك بن عبدالعزيز بن جريج اموى رحمه الله دې. دَ دوى تذكره كتاب الحيض باب غسل الحائض رأس زوجها وترجله لاندې تيره شوې ده.

⑤ **عطاء** - دا ابومحمد عطاء بن ابى رباح قرشى رحمه الله دې. دَدوى تذكره هم كتاب العلم باب عظة الامام النساء وتعليمهن لاندې تيره شوې ده.(١)

**سمعت عطاء يقول ذهبت مع عبيدبن عمير إلى عائشة رضى الله عنها وهى مجاورة بثبير، فقالت لنا انقطعت الهجرة منذ فتح الله على نبيه مكة**

دا روايت عمرو بن دينار او ابن جريج دواړو دَعطاء بن ابى رباح نه اوريدلې دې. دواړو عطاء رحمه الله داسې وينا كولو سره اوريدلې چه زه عبيدبن عميرسره حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها ته لاړم هغه (مزدلفه كښې) ثبيرنومى غرباندې ولاړه ود حضرت عائشه رضي الله عنها په دې موقع باندې اوفرمائيل دكله نه چه الله تعالى دخپل رسول ﷺ دَ پاره مكه فتح كړې ده نودهغه وخت نه هجرت ختم شوې دې.

دلته په روايت كښې اختصار دې امام بخارى رحمه الله دغه روايت كتاب مناقب الانصار، باب هجرة النبى صلى الله تعالى عليه وسلم وأصحابه إلى المدينة لاندې عن اوزاعى عن عطاء بن أبى رباح په طريق سره نقل كړې دې. دَدې تفصيل دادې:

**قالت: لاهجرة اليوم كان المؤمنون يفر أحدهم بدينه إلى الله تعالى وإلى رسوله مخافة أن يفتن عليه، وأما اليوم فقد أظهرالله الاسلام، واليوم يعبدالله حيث يشاء، ولكن جهاد ونية.** (٢)

**قوله:** كان المؤمنون يفر أحدهم بدينه - حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه په دې جمله كښې حضرت عائشه رضي الله عنها دَ هجرت دَ مشروعيت طرف ته اشاره كړې ده چه دَ هجرت اصل سبب ويره او فتنه ده. لكه چه دَهجرت حكم علت سره مشروط دې اګرچه هغه خائى دارالكفر ولې نه وى (٣) چنانچه امام ماوردى رحمه الله فرمائى كه يومسلمان ته په دارالكفر كښې دَاسلام په احكاموباندې دَ عمل كولو آزادى حاصله وى نودغه خائى په دَ ده دَپاره دَ دارالاسلام په حكم كښې وى چرته چه دَهجرت په مقابله كښې دَهغه دپاره حصاريدل زيات بهتردى. ممكن ده چه په دارالكفر كښې دَده دَ قيام په نتيجه كښې بل څوك هم دَ اسلام په دائره كښې داخل شى (٤)

---

(١) كشف البارى: ٣٧/٤.
(٢) صحيح بخارى: ٥٥١/١ رقم: ٣٩٠٠.
(٣) فتح البارى فى كتاب مناقب الانصار.
(٤) فتح البارى ايضاً.

**قوله**: وأما اليوم فقد أظهر الله الاسلام:- مطلب دادې چه دَ فتح مکه په ذریعه الله تعالی اسلام ته غلبه ورکړه مکه دارالاسلام جوړشو اوټول قبائل په دارالاسلام کښې داخل شو. په دې وجه دَ واجب هجرت دروازه بنده شوه او مستحب هجرت باقی پاتې شو.[1]

## باب- ۱۹۱ إذا اضطر الرجل إلى النظر في شعور أهل الذمة والمؤمنات إذا عصين الله، وتجريدهن.

دَترجمة الباب په عبارت کښې مقدرات دی اول دَ دغه مقدراتو وضاحت کوو روستوبه دَ ترجمة الباب مقصد بیانوو

إذا اضطر:- دَ طاء په ضمه إذا جواب محذوف دې، عبارت مقدر دې: یجوز للضرورة.[2]

والمؤمنات:- په ماقبل باندې عطف کیدو دَ وجې مجرور دې اوعبارت مقدر دې: وإذا اضطر الرجل إلى النظر في المؤمنات إذا عصين الله.[3]

وتجريدهن:- داهم په ماقبل باندې عطف کیدو دَ وجې مجرور دې اوعبارت مقدر دې: وإذا اضطر الرجل إلى تجريدهن من الثياب.[4]

**دَ ترجمة الباب مقصد**:- دَدې ترجمة الباب لاندې امام بخاری رحمه الله داخودل غواړی چه دَ ضرورت اومصلحت په وخت دَ ذمی یا مسلمانې ښځې دَ ویښتو تلاشی اخستل اوهغه بې لباس کول جائز دی په استدلال کښې امام بخاری رحمه الله دَ حاطب بن ابی بلتعه رضی الله عنه دَ خفیه خط اوړونکې ښځې واقعه نقل کړې ده.

**دَ ضرورت په وخت ښځه بې لباس کولووجه**:- علامه عینی رحمه الله فرمائی چه ښځه دَ ضرورت په وخت بې لباس کول ځکه جائزدی چه دَ معصیت په ارتکاب سره دَهغې حرمت پامال کیږی په دې وجه حضرت علی رضی الله عنه او حضرت زبیر رضی الله عنه هم دَحاطب بن ابی بلتعه رضی الله عنه خفیه خط اوړونکې ښځه بې لباس کولو اراده کړې وه. په دې باندې اجماع ده چه زنا مسلمانې اوکافرې دواړو سره حرام ده تردې چه هغې ته کتل هم منع دی. لیکن الضرورات تبيح المحظورات دَ اصول لاندې کله چه په دوی کښې کومه یوه هم دمعصیت ارتکاب کوی نودهغوی حرمت به باقی پاتې نه شی نو دَ ضرورت اوحاجت لاندې به هغې ته کتل جائز شی

علامه عینی رحمه الله دَدې نه پس لیکی چه زما دمعلوماتو مطابق دَمذکوره ترجمة الباب تشریح چاهم نه ده کړې. په عمدة القاري کښې دی: **قوله: تجريدهن أي: وإذا اضطر أيضا إلى تجريدهن من الثياب، لان المعصية تبيح حرمتها، ألا ترى أن عليًا والزبير — رضى الله تعالى عنهما — أراد كشف للمرأة في**

---

[1] عمدة القاري: ۱۷/ ۵۰ کتاب مناقب الانصار، باب هجرة النبى صلى الله تعالى عليه وسلم وأصحابه إلى المدينة

[2] إرشاد الساري: ۵/ ۱۸۵ وعمدة القاري: ۱۵/ ۱۵

[3] إرشاد الساري: ۵/ ۱۸۵ وعمدة القاري: ۱۵/ ۱۵

[4] إرشاد الساري: ۵/ ۱۸۵ وعمدة القاري: ۱۵/ ۱۵

قضية كتاب حاطب، وقد أجمعوا أن المؤمنات والكافرات فى تحريم الزنا بهن سواء، وكذلك تحريم النظر اليهن، ولكن الضرورات تبيح المحظورات، ولم أحدا تعرض لشرح هذه الترجمة. [۱]

[حدیث ۲۹۱۵] [۲] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حَوْشَبٍ الطَّائِفِيُّ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ أَخْبَرَنَا حُصَيْنٌ عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ وَكَانَ عُثْمَانِيًّا فَقَالَ لِابْنِ عَطِيَّةَ وَكَانَ عَلَوِيًّا إِنِّي لَأَعْلَمُ مَا الَّذِي جَرَّأَ صَاحِبَكَ عَلَى الدِّمَاءِ سَمِعْتُهُ يَقُولُ بَعَثَنِي النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- وَالزُّبَيْرَ، فَقَالَ «ائْتُوا رَوْضَةَ كَذَا، وَتَجِدُونَ بِهَا امْرَأَةً أَعْطَاهَا حَاطِبٌ كِتَابًا». فَأَتَيْنَا الرَّوْضَةَ فَقُلْنَا الْكِتَابَ. قَالَتْ لَمْ يُعْطِنِي. فَقُلْنَا لَتُخْرِجِنَّ أَوْ لَأُجَرِّدَنَّكِ. فَأَخْرَجَتْ مِنْ حُجْزَتِهَا، فَأَرْسَلَ إِلَى حَاطِبٍ فَقَالَ لاَ تَعْجَلْ، وَاللَّهِ مَا كَفَرْتُ وَلاَ ازْدَدْتُ لِلإِسْلاَمِ إِلاَّ حُبًّا، وَلَمْ يَكُنْ أَحَدٌ مِنْ أَصْحَابِكَ إِلاَّ وَلَهُ بِمَكَّةَ مَنْ يَدْفَعُ اللَّهُ بِهِ عَنْ أَهْلِهِ وَمَالِهِ، وَلَمْ يَكُنْ لِي أَحَدٌ، فَأَحْبَبْتُ أَنْ أَتَّخِذَ عِنْدَهُمْ يَدًا. فَصَدَّقَهُ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم-. قَالَ عُمَرُ دَعْنِي أَضْرِبْ عُنُقَهُ، فَإِنَّهُ قَدْ نَافَقَ. فَقَالَ «مَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ اللَّهَ اطَّلَعَ عَلَى أَهْلِ بَدْرٍ، فَقَالَ اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ». فَهَذَا الَّذِي جَرَّأَهُ. [ر ۲۸۴۵]

## رجال الحدیث

① **محمدبن عبدالله:-** دَدوی تذکره کتاب الاذان، باب احتساب الآثار لاندې تیره شوې ده.

② **هشیم:-** دا ابومعاویه هشیم بن بشرالواسطی رحمه الله دې. دَ دوی تذکره کتاب التیمم باب بلاترجمة لاندې تیره شوې ده

③ **حصین:-** دا ابوهذیل حصین بن عبدالرحمن السلمی الکوفی رحمه الله دې دَ دوی تذکره کتاب مواقیت الصلوة باب الاذان بعد ذهاب الوقت لاندې تیره شوې ده.

④ **سعدبن عبیده:-** دا ابوحمزه سعدبن عبیده السلمی الکوفی رحمه الله دې کتاب الوضؤ باب فضل من بات علی الوضؤ لاندې دَ دوی تذکره تیره شوې ده

⑤ **ابوعبدالرحمن:-** داعبدالله بن حبیب بن ربیعه (بالتصغیر) ابوعبدالرحمن السلمی الکوفی رحمه الله دې دَ دوی تذکره کتاب الغسل باب غسل المذی والوضؤ لاندې تیره شوې ده

وکان عثمانیا مطلب دادې لکه څنګه چه دَاهل سنت والجماعة مسلک دې ابوعبدالرحمن، په حضرت علی رضی الله عنه باندې دَ حضرت عثمان رضی الله عنه دَ فضیلت قائل وو [۳] په شروع کښې دَ

---

[۱]) عمدة القاری:۱۵/۱۵ – ۱۵.

[۲]) مرتخریجه فی کتاب الجهاد:۱/۴۲۲ باب الجاسوس والتجسس رقم:۳۰۰۷.

[۳]) إرشاد الساری:۵/۱۸۵وعمدة القاری:۱۶/۱۵

حضرت علی رضي الله عنه حامی وو او په جنګ صفین کښې دهغوی د حامیانو په جماعت کښې شامل وو اود حضرت علی رضي الله عنه په حمایت کښې د صفین په جنګ کښې شرکت هم کړې وو خو روستو عثمانی جوړ شو اوحضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه د فضیلت قائل شو (۱) په زهد اوتقوی کښې بې مثال وو او ثقه راوی وو دوفات نه پس دهغوی جنازه ابو جحیفه سره نیزدې تیره شوه نو وئې فرمائیل مستریح ومستراح منه (۲)

**قوله فقال لابن عطیة وکان علویاً** - وکان علویا د قول مقوله په مینځ کښې جمله معترضه ده. مطلب دادې چه ابوعبدالرحمن حبان بن عطیه السلمی ته اووئیل ورانديې راروان دې چه څه نې ورته اووئیل، د حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه په مقابله کښې دحضرت علی رضي الله عنه د فضیلت قائل وو دکوفې داهل سنت هم دغه مسلك وو (۳)

**په حافظ یوسف مزی رحمه الله باندې د حافظ ابن حجر رحمه الله رد.** - تهذیب الکمال کښې حافظ یوسف مزی رحمه الله دحدیث په سند کښې د راویانو حالات اودهغوی متعلق د جرح اوتعدیل اقوال نقل کوی د سند نه قطع نظر. په نفس حدیث کښې واردشوی رجال دحالات نه. خپل وضع کړې اصولو په رڼا کښې ئې قطعاً تعارض نه دې کړې د شروع نه تر آخره پورې حافظ مزی هم په دې اصولو باندې قایم دې دلته په روایت باب کښې لکه چه ظاهره ده دابن عطیه رحمه الله ذکرنفس روایت کښې خوشته لیکن دحدیث راوی نه دې یعنی دحدیث په سند کښې دهغه نوم نشته حافظ مزی رحمه الله د خپل اصول خلاف تهذیب الکمال کښې دهغه نوم هم په اسماء رجال کښې شامل کړې دې

حافظ ابن حجر رحمه الله په حافظ مزی رحمه الله باندې ردکولوسره لیکی.إن ذکر هذا الرجل في رجال البخاری عجیب لیست له روایة، فلوکان المزی یذکر کل من له ذکرولا روایة له ویلتزم ذلك لاستدرکنا علیه طائفة کبیرة منهم لم یذکرهم، ولکن موضع الکتاب للرواة فقط. ثم أن حبان بن عطیة هذا لم یعرف من حاله بشئ، ولا عرفت فیه إلى الان جرحا ولا تعدیلا، والله اعلم. (۴)

د حافظ صاحب د وینا مقصددادې چه د صحیح بخاری په رجال کښې د ابن عطیه تذکره عجیبه غوندې خبره معلومیږی ځکه چه دهغه نه هیڅ روایت نقل نه دې په حدیث کښې صرف چه د یوسړی ذکر وی اودهغه نه څه روایت نقل نه وی که چرې حافظ مزی رحمه الله دهر داسې سړی د ذکر التزام کوی نو مونږ هغه ته د دا قسم خلقو باندې مشتمل د یو لوئی جماعت فهرست پیش کولې شو د کومو ذکر چه هغه نه دې کړې. حالانکه دهغوی تهذیب الکمال صرف د راویانود پاره خاص دې بیا دا چه ابن عطیه یو مجهول الحال سړې دې تراوسه پورې پخپله ماته دهغه د جرح او تعدیل (قول) معلوم نه شو

---

(۱) تهذیب التهذیب لابن حجر رحمه الله: ۱۸٤/۵.

(۲) الطبقات الکبری لابن سعد: ۱۷۵/۶.

(۳) عمدة القاری: ۱۵/ ۱۶.

(۴) تهذیب الکمال للحافظ ابن حجر رحمه الله ۱۷۲/۲ _ ۱۷۳ رقم الترجمة: ۳۱۳.

خلاصه دا چه تهذیب الکمال دَ سندد راویانو دپاره خاص دي دَخپلو اصولو خلاف ورزی کولوسره حافظ مزی رحمه الله له دَ ابن عطیه ذکرنه وو کول پکار ځکه چه دَهغه نوم دَ سند په راویانوکښې نشته نفس روایت کښې وارد دې بیا دې مستورالحال هم دې دَائمه جرح او تعدیل نه دَهغوی باره کښې هیڅ قول نقل نه دې په حافظ مزی رحمه الله باندې هم دغه اعتراض علامه علاء الدین مغلطائی حنفی هم کړې دې (١)

**قوله** إني لاعلم ما الذي جرأصاحبك على الدماء - دادَ قال مقوله ده په مینځ کښې وکان علویا جمله معترضه وه. ابوعبدالرحمن ابن عطیه ته اووئیل چه ماته معلومه ده چه په څه وجه ستا صاحب یعنی حضرت علی رضی الله عنه دَ وینې تویولو حوصله او جرات اوشو.

جرأ - دَ راء تشدیدسره دَدې معنی ده جرات ورکړو بهادر ئې جوړکړو (٢)

**یواشکال اودهغې جواب**: - علامه کرمانی رحمه الله اشکال کړې دې چه دَ حضرت علی رضی الله عنه دَ جلالت شان په رڼا کښې دَهغه طرف ته دَ قتل او وینو تویولو نسبت څنګه صحیح کیدې شی؟ (٣)

علامه کرمانی رحمه الله دَدې جواب ورکړې دې چه دَ دې جملې نه دَ ابوعبدالرحمن مطلب داوو چه حضرت علی رضی الله عنه ته دَ جنتی کیدو یقین وو (حضرت علی دَعشره مبشره نه دې) ځکه هغه ته معلومه وه که چرته په (جنګ صفین کښې دَ وینو تویولو) په نتیجه کښې زما نه اجتهادی خطا اوشوه نو دَ قیامت په ورځ به ضرور اوبخښلې شم (٤)

لیکن علامه ابن بطال رحمه الله او علامه عینی رحمه الله فرمائی چه دا دَ عبدالرحمن خپل خیال دې حضرت علی رضی الله عنه دَعلم اوفضل په ډیر اوچت مقام او مرتبه باندې فائز وو او دَ هغوی نه قطعاً داسې توقع نه شي کیدې چه هغه بغیردَ شرعی وجوب څوك قتل کړی سره دَدې چه هغه ته په جنګ بدر کښې دَ شرکت په وجه دَ جنت زیرې هم ورکړې شوې وو (٥)

مطلب دادې چه حضرت علی رضی الله عنه دَ حق دفاع کولوسره مخالفینوسره جنګ کړې وو په دې وجه سره نه چه هغه ته دَ جنت زیرې ورکړې شوې وو بلکه هغه دَ خپل اجتهاد په وجه دا جنګ ضروری ګنړلې وو نودا وینا کول صحیح نه ده چه هغه صرف دَ جنت دَ زیرې دَ ملاویدلودَ وجې نه قتل وقتال کړې وو

هم په دې خبره باندې علامه داؤدی رحمه الله فرمائی: **بئس ما قال أبوعبدالرحمن**. (٦) ابوعبدالرحمن ناخوښه او خرابه خبره کړې ده دغه شان علامه قسطلانی رحمه الله فرمائی: **وهذه العبارة فیها سؤ أدب** (٧) یعنی دَ ابوعبدالرحمن مذکوره جمله سوء ادب او ګستاخئی باندې مشتمل ده.

---

١) إکمال تهذیب الکمال للعلامة علاء الدین المغلطائی: ٣٤٥/٣.
٢) عمدة القاري:١٥/١٧.
٣) شرح الکرمانی:٦٩/١٣ وعمدة القاري:١٧/١٥.
٤) شرح الکرمانی:٦٩/١٣ وعمدة القاري:ج١٥ ص١٧.
٥) شرح الکرمانی:٦٩/١٣ وعمدة القاري:١٧/١٥.
٦) عمدة القاري: ١٧/١٥.
٧) إرشاد الساري: ١٨٥/١٥.

**وسمعته يقول بعثني النبي صلى الله تعالى عليه وسلم والزبير، فقال: ائتوا روضة كذا، وتجدون بها امرءة أعطاها حاطب كتابا**

ابوعبدالرحمن وائي حضرت علي رضي الله عنه ماداسې وينا كولوسره واورېدو چه رسول الله ﷺ ما او زبير رضي الله عنه ته حكم راكړو تاسو دواړه روضه خاخ ته روان شئي په روضه خاخ كښې به تاسو ته يوه ښځه ملاؤشي كومې ته چه حاطب ابن ابي بلتعه، خط وركړې دې په سمعته كښې "ه" ضمير حضرت علي رضي الله عنه طرف ته راګرځي (١)

روضه كذا- كتاب الجهاد باب الجاسوس لاندې هم دا روايت نقل دې په هغې كښې تصريح ده روضة خاخ (٢) په روايت باب كښې د روضه دنوم تصريح نشته

امرأة- دَ دغه ښځې نوم ساره وو (٣)

فقلنا الكتاب- مونږ (هغه ښځې ته اووئيل) خط راكړه الكتاب لفظ دَ مقدرَ وجې نه منصوب دې عبارت تقدير دې فقلناهات الكتاب (٤)

قالت لم يعطني- هغې اووئيل حاطب ماته هيڅ خط نه دې راكړې

**قوله**: فقلنا لتخرجن أولا جردنك- مونږ اووئيل چه ته به په هرحال كښې هغه خط راؤباسې ګنى مونږ به تا بربنډه كړو دلته دَ لتخرجن مفعول الكتاب محذوف دې او أو حرف عطف دې كوم چه مانعة الخلو دَپاره دې مطلب دادې چه خط راؤباسه راكړه كه خط نه راكوې نو مونږ به تا بربنډه كړو

دلته علامه عيني رحمه الله او دَهغه په اتباع كښې علامه قسطلاني رحمه الله چه څه وئيلي دى دَهغې حاصل دادې چه دلته أوحرف استثناء دَ إلا په معنى كښې دې او لاجردنك دَهغې مقدره په وجه منصوب دې او عبارت تقديردې لتخرجنك الكتاب إلا أن تجردى لكه څنګه چه لاقتلنك أو تسلم، إلا أن تسلم په معنى كښې دې.(٥)

كه چرې أو دَ إلى په معنى كښې واخستې شى نوبيابه هم دَدې نيزدې معنى وى لكه چه لالزمنك أو تعطيني حقي دَ إلى أن تعطني حقى په معنى كښې دې په دې پوره كلام كښې تامل دې اودَ تكلف نه خالى نه دې هم دغه وَجه ده چه دَ ارشاد السارى مصحح په دې باندې دَخپل تامل اظهار كړې دې بالكل نيغ مفهوم هم هغه دې كوم چه مونږ په شروع كښې ليكلې دې والله اعلم

---

(١) عمدة القاري:١٧/١٥.

(٢) صحيح بخاري:٤٢١/١ رقم:٣٠٠٧ وشرح الكرماني:١٣/٦٨ وعمدة القاري:١٧/١٥ وإرشاد الساري:١٨٥/٥

(٣) شرح الكرماني: ٦٨/١٣ وعمدة القاري:١٧/١٥ وإرشاد الساري:١٨٥/٥.

(٤) شرح الكرماني: ٦٨/١٣ وعمدة القاري:١٧/١٥ وإرشاد الساري:١٨٥/٥.

(٥) عمدة القاري:١٧/١٥ وإرشاد الساري:١٨٥/٥.

**قوله: فاخرجت من حجزتها** . نو هغې دَ خپلې نيفه نه خط راؤويستلو
**په رواياتو کښې تعارض او دهغې حل** . کتاب الجهاد باب الجاسوس لاندې روايت کښې دی فاخرجته من عقاصها هغه خط هغې دخپلو ويښتو دَ کومځنې نه راؤويستلو او په حديث باب کښې دی نيفه نه ئی رااويستلو په دواړو رواياتو کښې تعارض دې دحديث شارحينو حضراتو په دې دواړو رواياتو کښې مختلف تطبيقونه کړی دی
① يوتطبيق ئی دا ورکړې دې چه اول دَ ويښتو په چوټيه کښې پټ کړې وو بيائی دَهغه ځائی نه اوويستلو نيفه کښې ئی پټ کړو يا داسې چه اول ئی په نيفه کښې پټ کړې وو اودهغه ځائی نه ئی راؤويستلو دَ ويښتو په چوټيه کښې ئی پټ کړو [1]
② دَحديث بعض شارحينوتطبيق ورکړې دې چه ممکن ده هغې سره دَ دوو مختلف جماعتونو په نوم خطونه وی يوه خط ئی عقاص (چوټيه) کښې پټ کړې وی او بل ئی حجز (نيفه) کښې [2]
③ بعض حضراتو دا احتمال بيان کړې دې ممکن دی چه په روايت کښې حجزه نه مطلق (غوټه) مراد وی معقد ازار مردانه وی يا هغه معقد دَ ويښتو وی يا دَ ازار وی [3]
④ ممکن دی دَ حجزه نه مراد رسئی وی دَدې دليل دادې چه اوښ په يوه خاص طريقه باندې په کومه رسئی باندې ترلې شی هغې ته هم حجز وائی [4]
⑤ بعض شراح حديث په دواړو کښې تطبيق ورکولوسره فرمائی چه خط دَ ويښتو په چوټيه کښې وو خود دغه ښځې ويښته دَ ډير اوږدوالی دَ وجې نه نيفه پورې رسيدلې وو په دې وجه هغې دَ ويښتو غوټه خط سره په نيفه کښې دننه کړه دغه شان دَ دواړو ځايونو نه راوتل ثابت شوی دَ ويښتود چوټې نه هم اودَ نيفه نه هم دَټولونه ښکلې او بهترين تطبيق هم دغه دی [5]

**فارسل إلی حاطب فقال لا تعجل والله ماكفرت ولا ازددت للاسلام إلا حبا ولم يكن أحد بين أصحابك إلا وله بمكة من يدفع الله به عن أهله وماله........**

دَ حديث باب دَ مذکوره حصې متعلق بحث کتاب الجهاد باب الجاسوس لاندې تيرشوې دې
**ترجمة الباب سره مناسبت** : دَ ترجمة الباب دوه اجزاء دی او دواړو اجزاؤ سره دَ حديث باب مناسبت دې. په حديث باب کښې دی **فاخرجت من حجزها** دَدې مناسبت دَ ترجمة الباب ړومبی جز **إذا اضطر الرجل إلى النظر في شعور أهل الذمة والمؤمنات** سره دې ښکاره خبره ده چه په تلاشئی کښې دَخط دَ راويستلودپاره ويښته کتل هم ضروری وو دَ صحابه کرامو ويرولو او دهمکی ورکولو په نتيجه کښې ښځې دَ ويښتود چوټې نه هغه خط راؤويستلو کوم ته چه په روايت

---

[1] ) شرح الکرمانی:۶۹/۱۳ وعمدة القاری:۱۷/۱۵ وفتح الباری: ۲۳۵/۶وإرشاد الساری:۱۸۵/۵.
[2] ) شرح الکرمانی:۶۹/۱۳ وعمدة القاری:۷۱/۱۵ وفتح الباری: ۲۳۵/۶.
[3] ) شرح الکرمانی:۶۹/۱۳ وعمدة القاری:۷۱/۱۵ وفتح الباری: ۲۳۵/۶.
[4] ) شرح الکرمانی:۶۹/۱۳ وعمدة القاری:۷۱/۱۵ وفتح الباری: ۲۳۵/۶.
[5] ) شرح الکرمانی:۶۹/۱۳ وعمدة القاری:۷۱/۱۵ وفتح الباری: ۲۳۵/۶.

باب کښې فاخرجت من حجزها په الفاظو سره تعبیر کړې شوی دې (۱) هم دغه شان په روایت کښې دی لاجرذنك ددې مناسبت د ترجمة الباب آخری جز وتجریدهن سره دې مناسبت بالکل ښکاره دې

**په مناسبت باندې اشکال اودهغې جوابات** دلته اشکال کیدې شی چه دترجمة الباب دومبې جز في شعور اهل الذمة والمؤمنات کښې د ذمی اومسلمانې ښځې تصریح ده حالانکه د ترجمة الباب لاندې نقل شوی روایت کښې تصریح نشته چه د حاطب بن ابی بلتعه خط رسونکې ښځه ذمیه وه که مسلمانه؟ په دې وجه ترجمة الباب سره په ظاهره د حدیث باب مناسبت نه شی جوړیدې

علامه ابن منیر رحمه الله ددې اشکال دا جواب ورکړې دې د روایت باب نه سره ددې چه داخبره معلومه نه ده چه دغه ښځه ذمیه وه که مسلمانه لیکن بې ضرورته نامحرم ښځې ته کتل حرام دی په دې حکم کښې مسلمانه او ذمیه دواړه برابرې دی په دې وجه د حدیث باب نه ترجمة الباب ثابتیږی (۲)

**د علامه ابن التین رحمه الله اشکال اود هغې جواب**. ابن التین رحمه الله اشکال کړې دې که چرې هغه ښځه مشرکه وه نوبیاخو به ترجمة الباب سره د حدیث باب مناسبت نه کیږی

ددې اشکال داجواب ورکړې شوې دې چه معاهد داهل ذمه په حکم کښې وی اوهغه ښځه هم معاهده وه اود اهل ذمه په حکم کښې وه (۳)

## باب - ۱۹۲ استقبال الغزاة

**د ترجمة الباب مقصد**. ددې باب لاندې امام بخاری رحمه الله داخودل غواړی چه کله مجاهدین د جهاد نه واپس راشی نو دهغوی استقبال کول مستحب دی په حدیث کښې ددې اصل موجود دې لیکن ښکاره خبره ده چه دا څه قاعده او ضابطه نه ده په دې وجه که استقبال اونه کړې شی نو بیاهم څه بده خبره نه ده.

احدیث ۲۹۱۶] (۴) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي الأَسْوَدِ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ وَحُمَيْدُ بْنُ الأَسْوَدِ عَنْ حَبِيبِ بْنِ الشَّهِيدِ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ قَالَ ابْنُ الزُّبَيْرِ لِابْنِ جَعْفَرٍ رضى الله عنهم أَتَذْكُرُ إِذْ تَلَقَّيْنَا رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - أَنَا وَأَنْتَ وَابْنُ عَبَّاسٍ قَالَ نَعَمْ، فَحَمَلَنَا وَتَرَكَكَ.

## رجال الحديث

① **عبدالله بن ابی الاسود**: د کشمیهنی روایت کښې ابن أبي الأسود ضبط شوې دې اود عبدالله

---

(۱) إرشاد الساری: ۵/۱۸۵.

(۲) عمدة القاری: ۱۵/۱۶ وفتح الباری: ۶/۲۳۵.

(۳) عمدة القاری: ۱۵/۱۶ وفتح الباری: ۶/۲۳۵.

(۴) والحديث عندمسلم فی صحيحه: ۲/۲۸۳ فی الفضائل باب من فضائل عبدالله بن جعفر وعند أبی داؤد فی سننه: ۱/۳۵۴ فی الجهاد فی ركوب ثلاثة على دابة.

تصریح نشته (١) دا ابوبکر عبدالله بن محمد بن حمید بن ابی الاسود دې د دوی حالات کتاب الاذان باب بلاترجمة لاندې تیرشوی دی ذوړاندې روایت په سند کښې حمیدبن الاسود الفاظ دی دا دهغه نیکه دې (٢)

② **یزیدبن زریع** . دا ابومعاویه یزید بن زریع التمیمی العیشی البصری رحمه الله دې د دوی تذکره کتاب الغسل باب ال جنب یخرج ویمشی في الاسواق وغیره لاندې تیره شوې ده

③ **حمید بن الاسود**. دا ابوالاسود حمید بن الاشقر البصری الکرابیسی رحمه الله دې مونږ په شروع کښې خودلی دی چه دا د عبدالله بن ابی الاسود نیکه دې هغوی د مختلف شیوخ حدیث نه روایات کړی دی په هغوی کښې ښکاره او ممتاز شیوخو نامې دادی: اسماعیل بن امیه، حبیب بن الشهید، عبدالله بن عون، عبدالعزیز بن صهیب، مالك بن انس، محمدبن عمرو بن علقمه، مصعب بن ثابت بن عبدالله بن زبیر، هشام بن عروه بن زبیر (٣)

او د هغه نه روایت اخستونکو کښې اسماعیل بن مسلمه قعنبی، ابوبشربن خلف، سعید بن عامر صنعبی، عبدالله بن مبارك، ابوبکرعبدالله بن محمد بن ابی الاسود، عبدالرحمن بن مهدی، عبیدالله بن عمرالقواریری، علی ابن المدینی، مسددبن مسرهد شامل دی ثقه او معتمد راوی دې.

علامه عقیلی رحمه الله الضعفار الکبیرکښې د هغه تذکره په ضعیف راویانو کښې کړې ده اود دې تضعیف بنیاد هغه په دې جرح باندې اودرولې دې کان عفان یحمل علیه، لانه روی حدیث منکراً (٤) لیکن حقیقت دادې چه د علامه عقیلی رحمه الله دا جرح معتبرنه ده نور ائمه جرح اوتعدیل د حمیدبن الاسود توثیق کړې دې. مثلاً ابن حبان رحمه الله د هغه تذکره ثقات کښې کړې ده (٥) قواریری فرمائیل کان صدوقا (٦) ابوحاتم رحمه الله د هغوی باره کښې وئیلی ثقه (٧) د امام دارقطنی رحمه الله قول د هغوی باره کښې حاکم رحمه الله نقل کړې دې لیس به باس (٨)

خلاصه دا چه حمید بن الاسود رحمه الله ثقه او معتبرراوی دې که چرته ټول ائمه جرح اوتعدیل د یو راوی په ثقاهت باندې متفق وی نود هغه په مخالفت کښې نقل شوې صرف د یوقول اعتبار نه شی کیدې. په وجه د حمیدبن الاسود باره کښې د علامه عقیلی رحمه الله جرح معتبرنه ده.

---

(١) عمدة القاري: ١٨/١٥.

(٢) تهذیب الکمال فی أسماء الرجال: ٣٥٠/٧.

(٣) تهذیب الکمال: ٣٥٠/٧ وتهذیب التهذیب: ٣٥/٣.

(٤) الضعفاء الکبیر للعقیلی: ٢٦٨/١ وتهذیب التهذیب: ٣٦/٣.

(٥) تهذیب التهذیب: ٣٥/٣.

(٦) الجرح والتعدیل لابن أبی خاتم: ٢٣٦/٣ رقم الترجمة: ٩٦٠، تهذیب الکمال للمزی: ٣٥١/۶ وتهذیب التهذیب: ٣٦/٣.

(٧) ایضاً.

(٨) تهذیب التهذیب: ٣٧/٣.

**نوټ** د روایت په سند کښې ړومبې راوی عبدالله بن ابی الاسود رحمه الله د امام بخاری رحمه الله شیخ دې حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه عینی رحمه الله فرمانی امام بخاری رحمه الله په خپل صحیح کښې دوه ځ یه دهغه روایات نقل کړی دی (١)

عبدالله بن ابی الاسود رحمه الله مذکوره روایت د یزید بن زریع اوحمید بن ابی اسود دواړو نه اوریدلې دې په دې وجه د روایت په سندکښې هغه حمید بن اسود سره یزیدبن زریع هم متصلاً ذکرکړې دې وړاندې د سورة بقره په تفسیر کښې هم د روایت په سندکښې دواړه راویان مقرون دی (٢) البته امام مسلم رحمه الله په خپل صحیح کښې دهغه نه چه کوم روایت نقل کړې دې هغه غیرمقرون دې مطلب دادې چه هلته حمید بن اسود سره د یزید ... سقط دی

④ **حبیب بن الشهید** دا ابومحمد حبیب بن الشهیدازدی رحمه الله دې تابعی دې ابوطفیل رضي الله عنه سره د دوی ملاقات ثابت دې هغه د حسن بن ثابت، ابن ابی ملیکه، عمرو بن دینار، ابن المنکدر، میمون بن مهران او ابواسحاق السبیعی نه د حدیث روایت کړې دې البته زبیر بن عوام، سعید بن مسیب اوعبید بن عمیر نه مرسلاً حدیث روایت کړې دې (٣)

دَهغوی نه روایت کونکوکښې شعبه، سفیان ثوری، حمادبن سلمی، یزیدبن زریع، ابن علیه، بشربن مفضل دَهغه خوئی ابراهیم بن حبیب، ابواسامه، روح بن عباده، ابن ابی عدی، قریش بن انس او محمدبن عبدالله انصاری رحمهم الله شامل دی (٤)

ائمه جرح اوتعدیل په روایت حدیث کښې دَهغه په ثقاهت باندې متفق دی امام احمد بن حنبل رحمه الله دَهغوی باره کښې فرمانیلی دی **کان ثبتا ثقة** (٥) یحیی بن معین ابوحاتم او امام نسائی رحمهم الله فرمانی **ثقه** (٦) دهغوی باره کښې د امام احمدبن حنبل رحمه الله نه دهغه خوئی عبدالله داقول هم نقل کړې دې **ثقة مامون، وهو أثبت من حمید الطویل** (٧) ابواسامه دهغوی باره کښې وائی **کان من رفعاء الناس، وانما روی ماة حدیث** (٨) یعنی ډیر د اوچتې پائې د خلقونه وو صرف سل احادیث ئې روایت کړی دی

⑤ **ابن ابی ملیکه** - دا ابوبکر عبدالله بن عبیدالله بن ابی ملیکه رحمه الله دې دَدوی حالات کتاب الایمان لاندې تیرشوی دی (٩)

---

١) فتح الباری:٦/٢٣٥وعمدة القاری:١٥/١٨.
٢) تهذیب الکمال: ٧/٣٥٢.
٣) تهذیب الکمال:٥/٣٧٩ وتهذیب التهذیب:٢/١٥٨.
٤) تهذیب الکمال:٥/٣٧٩ وتهذیب التهذیب:٢/١٥٨.
٥) تهذیب الکمال:٥/٣٨٠ وتهذیب التهذیب:٢/١٨٦.
٦) تهذیب الکمال:٥/٣٨٠ وتهذیب التهذیب:٢/١٨٦.
٧) تهذیب الکمال:٥/٣٨٠ وتهذیب التهذیب:٢/١٨٦.
٨) تهذیب الکمال:٥/٣٨٠ وتهذیب التهذیب:٢/١٨٦.
٩) کشف الباری: ٢/٥٤٨.

قال ابن الزبیر لابن جعفر رضی الله عنهم: أتذكر إذا تلقينا رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم أنا وأنت وابن عباس

ابن زبیر رضی الله عنه ابن جعفر رضی الله عنه ته اووئیل آیا تاته یاد دی؟ چه زه ته او ابن عباس دریواړه د رسول الله ﷺ د استقبال دپاره لاړو هغه وخت رسول الله ﷺ د جهاد نه واپس کیدلو د ابن زبیر رضی الله عنه نه عبدالله بن زبیر رضی الله عنه او د ابن جعفر نه عبدالله بن جعفر رضی الله عنه مراد دي

**قوله قال: نعم، فحملنا وتركك.** عبدالله بن جعفر رضی الله عنه اووئیل او یاد دی رسول الله ﷺ زه او ابن عباس رضی الله عنهما په سورلئی کینولو او ته ئی پرې خودې

**د صحیح بخاری او صحیح مسلم د روایاتو د تعارض حل.** په مذکوره روایت کښې فحملنا وترکك قائل څوك دی؟ د ترجمة الباب په روایت کښې تصریح شته چه قائل عبدالله بن جعفر رضی الله عنه دې لیکن دا روایت هم په دې سند سره امام مسلم رحمه الله په صحیح مسلم کښې نقل کړې دې د صحیح بخاری د روایت برعکس دې قال عبدالله بن جعفر لابن الزبیر (۱) ښکاره خبره ده چه د دې روایت په رڼا کښې به د فحملنا وترکك قائل عبدالله بن زبیر رضی الله عنه وی او د دې مفهوم د صحیح بخاری د روایت باب نه به بالکل برعکس وی چه حضوریاك عبدالله بن زبیر او ابن عباس رضی الله عنهما خپل ځان سره سواره کړی وی او عبدالله بن جعفر رضی الله عنه ئی پرې خودې وی دلته د صحیح بخاری او صحیح مسلم په روایت کښې تعارض دې لیکن حقیقت دا دې چه د بخاری مذکوره روایت باب راجح دې د نورو روایاتو نه د دې تائید کیږی

حافظ ابن حجر رحمه الله د صحیح بخاری روایت ته ترجیح ورکولو سره فرمائیلی دی چه د دې تائید د صحیح بخاری د کتاب الحج والا د روایت نه هم کیږی په کوم کښې چه دی: لما قدم رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم مكة استقبلته أغيلمة من بنى عبدالمطلب فحمل واحدًا من بين يديه وآخر خلفه (۲) ښکاره خبره ده چه هم عبدالله بن جعفر د عبدالمطلب د اولاد نه وو هم د دې نه د صحیح بخاری د روایت باب تائید کیږی چه هم عبدالله بن جعفر رضی الله عنه ئی په سورلئی باندې سور کړې وو او فحملنا وترکك هم د هغه قول دې. (۳)

د غه شان مسند احمد بن حنبل او سنن نسائی کښې خالد بن سارة عن عبدالله بن جعفر په طریق سره چه کوم روایت نقل دې په هغې کښې تصریح ده: أن النبی صلى الله تعالى عليه وسلم حمله خلفه وحمل قثم بن عباس بين يديه (۴) یعنی رسول الله ﷺ عبدالله بن جعفر رضی الله عنه خپل ځان پسې شاته کینولو او قثم بن عباس ئی مخې ته کینولو. د علامه ابن التین رحمه الله رائې د دې خلاف ده هغه فرمائی:

---

۱) صحیح مسلم: ۲۸۳/۲ فضائل الصحابة، باب من فضائل عبدالله بن جعفر رضی الله عنهما.

۲) صحیح البخاری: ۲٤۲/۱ کتاب العمرة باب استقبال الحاج القادمین والثلاثة علی الدابة رقم: ۱۷۹۸.

۳) فتح الباری: ۲۳۶/۶.

۴) سنن النسائی: ۳۲/۲ کتاب المناسک باب استقبال الحاج. ومسند أحمد بن حنبل ص: ۲۱۵ رقم: ۲۲۵۹ مسند عبدالله بن عباس رضی الله عنهما وفتح الباری: ۲۳۶/۶.

ان في الحديث نصا بانه صلى الله تعالى عليه وسلم حمل ابن عباس وابن الزبير. ولم يحمل ابن جعفر (١) يعنی نص حديث نه ثابت دی چه رسول الله ﷺ ابن عباس او ابن زبير رضي الله عنهما په سورلنی کينول او ابن جعفر رضي الله عنه ئی پرې خودو
حافظ ابن حجر رحمه الله دا قول رد کولوسره وائی ماته نه دی معلومه چه ابن التين د کوم دليل په بنياد باندې دا رائې اختيار کړې ده؟ علامه داؤدی رحمه الله فحملنا وترکك د عبدالله بن جعفر رضي الله عنه کلام گرځولې دې هم دغه رائې د قاضی عياض رحمه الله هم ده د صحيح بخاری روايت باب هغه راجح گرځولوسره فرمائيلی دی والذی وقع فی البخاری هوالصواب (٢) قاضی عياض رحمه الله فرمائی چه ابن ابی شيبه او ابن ابی خيثمه روايت هم د صحيح بخاری د روايت تائيد کوی (٣) الابواب والتراجم کښې حضرت شيخ الهند رحمه الله د صنيع نه معلوميږی چه دهغوی په نيز هم د صحيح بخاری روايت باب راجح دی (٤)

**د صحيح مسلم په روايت کښې د راوی وهم:-** د صحيح بخاری او صحيح مسلم په مذکوره روايت کښې د تضاد سبب په اصل کښې د صحيح مسلم په روايت کښې د راوی وهم دې حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائيلی دی چه دا روايت هم د صحيح مسلم په الفاظوکښې مسنداحمدبن حنبل کښې نقل دې په هغې کښې قال نعم نه پس فحملناوترکك نه وړاندې يو بل قال اضافه هم ذکرده او عبارت هم داسې دې: قال نعم، قال فحملناوترکك (٥)
په دې صورت کښې ظاهره ده چه که د قال فحملناوترکك قائل عبدالله بن جعفر رضي الله عنه وی کوم سره چه د صحيحين دواړه رواياتوکښې هيڅ تضاد باقی پاتې نه شو. مطلب دادې که د مسنداحمد مذکوره روايت په رڼړا کښې د صحيح مسلم په روايت کښې قال نعم نه پس لفظ قال ساقط کيدلوته که د راوی وهم اووئيلې شی نو بيا د صحيح مسلم او صحيح بخاری په روايت کښې هيڅ تضاد نشته. خووړاندې امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی وحدثنابه مرة أخرى، فقال فيه: قال نعم فحملنا (٦) يعنی راوی هم دغه روايت په دويم ځل روايت کړې دې نو په دې کښې ئې د قال لفظ ذکرنه کړو حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی که چرې د لفظ قال اعتباراوکړې شی نو د صحيح مسلم روايت د صحيح بخاری موافق کيږی کنی د ساقط کيدوپه صورت کښې به په دواړو روايتونوکښې تضاد وی (٧)

---

(١) فتح الباری: ٦/٢٣٦.
(٢) فتح الباری: ٦/٢٣٦.
(٣) فتح الباری: ٦/٢٣٦.
(٤) الابواب والتراجم: ص: ٢٠٤.
(٥) فتح الباری: ٦/٢٣٦.
(٦) فتح الباری: ٦/٢٣٦.
(٧) فتح الباری: ٦/٢٣٦.

**د قاضي عياض رحمه الله رائې** قاضي عياض رحمه الله فرمائي چه چرته د صحيح مسلم په روايت کښې تاويل کولو سره د **فحملنا** کښې د ضمير مفعول مصداق عبدالله بن جعفر جوړ کړې شي نو عبدالله بن زبير به متروک شي دغه شان د صحيح مسلم روايت به د صحيح بخاري د روايت موافق شي والله اعلم

فتح الباري کښې دی **وتاويل رواية مسلم أن يجعل الضمير في حملنا لابن جعفر فيكون المتروك ابن الزبير**

**د حديث باب نه مستنبط فوائد** - شارحينو حضراتو د مذکوره روايت باب نه يوڅو آداب او فوائد مستنبط کړي دی ① حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي د حديث باب نه معلومه شوه چه يتيمانو سره په شفقت سره مخ کيدل پکاردي د جعفربن ابي طالب رضي الله عنه د وفات نه پس دهغه خوئې عبدالله بن جعفر يتيم پاتې شوې وو رسول الله ﷺ شفقت اوکړو اوهغه ئې خان سره په سورلئى کينولو

② حافظ صاحب فرمائي دحديث نه دويمه خبره دامعلومه شوه چه عبدالله بن جعفر او عبدالله بن زبير رضي الله عنهما دواړه هم عمر وو (٢)

③ روايت کښې دی عبدالله بن جعفر، عبدالله بن زبير او ابن عباس رضي الله عنهم د جهاد نه د واپسئې په موقع د رسول الله ﷺ د استقبال دپاره تلي وو علامه ابن بطال رحمه الله فرمائي ددې نه معلومه شوه چه د جهاد يې حج په واپس راتلو باندې د مسافرو د استقبال د پاره وتل او په دغه موقع باندې د خوشحالئى اظهار کول هم نيکى ده (٣)

د مختلفو روايتونه ثابت دی چه د سفرنه د واپسئې په موقع د حضورپاك ډير دروند استقبال اوکړې شو زمونږ د تهذيبي قدرونونه ير داهم دی چه د سفرنه څوك خپلوان راځي نو مونږ دهغه داستقبال دپاره خو دخوشحالئى اظهار کوو که په دې موقع باندې اتباع سنت او د ثواب نيت اوکړې شي نو شرعًا د دې عمل په خوښيدو او جائزکيدوکښې څه شك کيدې شي؟ خو د نن صبا وخت کښې يوخپلوان خاص کر د حاجيانود استقبال په موقع باندې بې ځايه اسراف او تبذير رسوماتو اوبدعاتو چه کومه مظاهره په کتلوکښې راځي نو ښکاره خبره ده چه دا هرڅه د شهرت ريا اوځان خودلودپاره کيږی په دې وجه د استقبال دا نوعيت د ګناه کبيره په ضمن کښې راځي اوشرعًا دا جائزګرخولو کښې هيڅ ګنجائش نشته

**ترجمة الباب سره دحديث باب مناسبت** حديث باب کښې حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنهما فرمائي اذ تلقينا رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم يعنى کله چه مونږ د رسول الله ﷺ استقبال اوکړو ترجمة الباب سره ددې مناسبت ښکاره دې

---

(١) فتح الباري:۶/ ۲۳۶.
(٢) فتح الباري:۶/ ۲۳۶.
(٣) شرح ابن بطال :۵/ ۲۴۰ وعمدة القاري:۱۸/ ۱۵ – ۱۹.

احدیث ۲۹۱۷ [۱] حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ قَالَ السَّائِبُ بْنُ يَزِيدَ - رضی الله عنه ذَهَبْنَا نَتَلَقَّى رَسُولَ اللَّهِ - صلی الله علیه وسلم - مَعَ الصِّبْيَانِ إِلَى ثَنِيَّةِ الْوَدَاعِ.[۲۱۶۴]

## رجال الحدیث

① **مالک بن اسماعیل** دا ابوغسان مالک بن اسماعیل النهدی الکوفی رحمه الله دی د دوی حالات کتاب الوضؤ باب الماء یغسل به شعرالانسان لاندې تیرشوی دی

②**ابن عیینه** دا مشهور امام حدیث سفیان بن عیینه رحمه الله دی د دوی حالات کتاب العلم باب قول امحدث حدثنا او اخبرنا لاندې تیرشوی دی [۲]

③**الزهری** دامشهور محدث ابن شهاب الزهری رحمه الله دی د دوی تذکره بدء الوحی دریم حدیث لاندې تیره شوې ده [۳]

④**السائب بن یزید** رضی الله عنه - داصحابی رسول صلی الله علیه وسلم سائب بن یزید بن سعید الکندی رحمه الله دی د دوی حالات کتاب العلم لاندې تیرشوی دی

**قوله ذهبنا نتلقی رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم مع الصبیان الی ثنیة الوداع** سائب بن یزید رضی الله عنه وائی مونږ کم عمر هلکانو سره ثنیه الوداع پورې د رسول الله صلی الله علیه وسلم استقبال اوکړو هغه وخت رسول الله صلی الله علیه وسلم د غزوه تبوک نه واپس راتلو د سنن ترمذی په یوروایت کښې تصریح ده **لما قدم رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم من تبوك.....** [۴] په استقبال کښې چه کوم کم عمره هلکان راغلي وو سائب بن یزید رضی الله عنه هم په هغوی کښې شامل وو [۵]

**ترجمة الباب سره مناسبت** - په حدیث باب کښې دی **ذهبنا نتلقی رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم** ترجمة الباب سره دَدې مناسبت ښکاره دې

## باب-۱۹۳ مایقول إذارجع من الغزو

**دَ ترجمة الباب مقصد او باب سابق سره مناسبت** - په تیرشوی باب کښې خودلې شوی دی چه دَ جهادنه وطن طرف ته واپس کیدو په موقع باندې دَ مجاهدینو استقبال کول جائز دی پاتې

---

[۱]) وعندالبخاری أیضافی صحیحه فی کتاب المغازی باب کتاب النبی صلی الله تعالی علیه إلی کسری وقیصر رقم:۴۴۲۶ ۴۴۲۷ وعند أبی داؤد فی سننه فی کتاب الجهاد باب فی التلقی رقم: ۲۷۷۹ وعند الترمذی فی جامعه فی الجهاد باب ماجاء فی تلقی الغائب إذا قدم.

[۲]) کشف الباری:۳/۸۶ – ۹۰.

[۳]) کشف الباری:۱/۳۲۶.

[۴]) سنن الترمذی:۱/۳۰۲ کتاب الجهاد باب فی تلقی الغائب إذا قدم.

[۵]) عمدة القاری:۱۵/۱۹ وإرشاد الساری:۶/۵۵۶.

شوه داخبره چه پخپله به دَمجاهدينو وظيفه عمل څه وى؟
په دې مناسبت سره امام بخارى رحمه الله مذكوره باب قايمولوسره دا باور كوى چه كله دَ اسلام مجاهدين دَ جهاد دَ سفرنه په صحت اوعافيت سره وطن ته واپس شى نوهغوى له دَالله تعالى شكر اداكول اودَتوبې او استغفار اهتمام كول پكاردى ځكه چه په احاديثوكښې دَدې اصل موجود دې

[حديث ٢٩١٨] (١) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا جُوَيْرِيَةُ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ -رضى الله عنه أَنَّ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - كَانَ إِذَا قَفَلَ كَبَّرَ ثَلاَثًا قَالَ «آيِبُونَ إِنْ شَاءَ اللَّهُ تَائِبُونَ عَابِدُونَ حَامِدُونَ لِرَبِّنَا سَاجِدُونَ ، صَدَقَ اللَّهُ وَعْدَهُ ، وَنَصَرَ عَبْدَهُ ، وَهَزَمَ الأَحْزَابَ وَحْدَهُ». [ر ١٧٠٣]

## رجال الحديث

① **موسى بن اسماعيل**:- دا ابوسلمه موسىٰ بن اسماعيل التبوذكى البصرى رحمه الله دې دَدوى حالات بدء الوحى لاندې تيرشوى دى. (٢)

② **جويريه**:- دا جويريه بن اسماء بن عبيد الضبعى البصرى رحمه الله دې. دَ دوى تذكره كتاب الوضوء باب الجنب يتوضا ثم ينام لاندې تيره شوې ده.

③ **نافع**:- دا نافع مولى عبدالله بن عمر القرشى العدوى رحمه الله دې كتاب العلم باب ذكر العلم والفتيافى المسجد لاندې دَدوى تذكره تيره شوې ده. (٣)

④ **عبدالله**:-دا مشهور صحابى عبدالله بن عمر رضى الله عنهما دې. دَدوى تذكره كتاب الايمان لاندې تيره شوې ده. (٤)

أن النبى صلى الله تعالى عليه وسلم كان إذاقفل كبرثلاثا، قال: آيبون إن شاء الله تائبون، عابدون حامدون، لربنا ساجدون، صدق الله وعده، ونصر عبده، وهزم الاحزاب وحده.

په روايت كښې دى چه كله رسول الله صلى الله عليه وسلم دَ جهاد نه واپس شو نودرې خل الله اكبر وئيلوسره ئى اوفرمائيل: مونږ واپس كيدونكى يو ان شاء الله توبه كونكى يو. حمد كونكې يو. خپل رب ته سجده كونكې يو. الله تعالى دَ (فتح اونصرت) خپله وعده ربښتونې كړه اودَخپل بنده امداد ئى اوفرمائيلو اوهم هغه ذات (دكافرانو) لښكرته ماتې وركړه

هم دغه روايت امام بخارى رحمه الله عن عبدالله عن عبدالعزيزبن أبى سلمة عن صالح بن كيسان عن سالم بن

---

(١) مرتخريجه فى كتاب العمرة باب مايقول إذا رجع من الحج أو العمرة أو الغزو رقم:١٧٩٧.
(٢) كشف البارى:١/٤٣٣.
(٣) كشف البارى: ٤/ ٦٥١.
(٤) كشف البارى: ١/٦٧٩.

عبدالله عن عبدالله بن يوسف عن مالك عن نافع عن عبدالله بن عمر رضي الله عنهما په طريق باندې كتاب الجهاد باب التكبير اذا علا شرفا لاندې هم نقل كړې دې

قفل : د باب نصر او ضرب نه، قفل قفولا په معنى كښې دې د سفر نه واپس كيدل واپس كيدل. هم د دې نه قافله ده په معنى د كاروان د سفرنه واپس كيدونكو خلقو جماعت (١) البته په روايت كښې قفل رجوع عن الغزوة په معنى كښې دې (٢)

**قوله** آيبون إن شاء الله تائبون....... حديث باب كښې تائبون حامدون او ساجدون مختلف صفات دى سوال دادې چه الفاظ مشيت (ان شاء الله) كوم يو صفت سره متعلق دې

دا يو د معلومه خبره ده چه ان شاء الله د راتلونكى وخت د كارونو د پاره ونيلې شى په دې وجه علامه ابن بطال رحمه الله فرمائى چه رسول الله ﷺ د جهاد د سفرنه واپس شوې وو په دې وجه صفت اياب د الله تعالى رضا سره متعلق كول صحيح نه دى. توبه حمد او عبادت په مستقبل كښې راتلونكى امور وو. لهذا په روايت كښې الفاظ مشيت آيبون په روستو راتلونكو صفاتو سره متعلق وى. علامه ابن بطال رحمه الله اوفرمائيل چه انبياء عليهم السلام هروخت د الله تعالى په عبادت حمد او ثنا كښې مشغول او سيدل خود هغوى په نيز آدب او احترام دومره خيال ساتلې شو چه هروخت په عبادت حمد او ثنا كښې مشغول كيدو نه باوجود د خپلو اعمالو نسبت د الله تعالى د قدرت كامله طرف ته كولو او د هغه په انعاماتو باندې شكر اداكولو سره د خپلې فقيرئى او محتاجئى اظهار كولو. مختصردا چه علامه ابن بطال په نيز ان شاء الله تعلق آيبون سره نه دې بلكه د روستو صفات تائبون حامدون او ساجدون سره دې

**په علامه ابن ابطال رحمه الله باندې دعلامه ابن منير رحمه الله رد:** ليكن د علامه ابن بطال رحمه الله رائې علامه ابن منير رحمه الله رد كړې ده علامه قسطلانى رحمه الله تحرير فرمائيلې دې تعقبه ابن المنير فقال: الظاهر أن المشيئة إنما علق عليها الاياب خاصه، وقوله: قد وقع فلا تعلق وهم، لان الاياب المقصود إنما هو الرجوع الموصل إلى نفس الوطن، وهو مستقبل بعد، فلا يصح أن يعلق النبى صلى الله تعالى عليه وسلم بقية الافعال على المشيئة، لانه قد حمدالله تعالى ناجزا، وعبده دائما، والعمل الناجز لاينبغى تعليقه على المشيئة، ولو صلى إنسا الظهر فقال: صليت إن شاء الله لكان غلطاً منه، لان الله قد أمره أن يصلى فصلى فلا تشكيك فى معلوم (٣)

مطلب دادې چه په ظاهره هم اياب مشيت سره متعلق كړې شوې دې د ابن بطال رحمه الله دا خبره بې

---

١) النهاية فى غريب الحديث لابن الاثير: ٤/ ٩٢ — ٩٣ وعمدة القارى:١٥/ ٢٠.

٢) عمدة القارى:١٥/ ٢٠.

٣) إرشاد السارى: ٥/ ١٨٦ — ١٨٧.

اصل دہ چه اياب وقوع شوي دہ نو دمشيت سره به ددې تعلق نه وي خكه چه د اياب مقصد وطن طرف ته مراجعت دي او هغه لااوس پوره شوي نه دي نومشيت به هم ددې متعلق كولې شي د اياب رو ستوباقى افعال مشيت سره متعلق نه دى په دې وجه حضورپاك هروخت او هميشه د الله تعالى حمد اوثناء او عبدت كړې لكه چه دا مقررشوي اعمال دي او مقرر شوي اعمال مشيت سره متعلق كول مناسب نه دى كه بوسړى د ماسپښين مونځ كوي او وائي چه ان شاء الله مونځ اوكړو نودا به صحيح نه وي خكه چه دہ ته الله تعالى د مونځ كولو حكم كړي دي نوهغه مونځ اداكړو دا يومعلوم اومقررشوي حكم دي، لهذا په يوه معلومه معامله كښې د شك كولوضرورت نشته

خلاصه دا چه علامه ابن بطال رحمه الله په نيز اياب مشيت سره متعلق نه دي بلكه بقيه اعمال سره متعلق دي ددې دپاره چه دهغوى په نيز اياب واقع شوي وو لهذا اياب مشيت سره متعلق كول دهغه په نيز صحيح نه دي خود ابن منير رحمه الله رائې د دہ خلاف دہ دهغه په نيز اياب متعلق بالمشيئة دي خكه چه ددې وقوع مستقبل سره تړلې وه او باقى افعال مقرر شوى او ثبت وو نو هغه مشيت سره متعلق كيدې نه شي والله اعلم

روايت سره متعلق نور تفصيل شاته كتاب الجهاد باب التكبير اذا علا شرفا لاندې تيرشوي دي

احديث ٢٩٢٠/٢٩١٩] (١) حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ قَالَ حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ -رضى الله عنه- قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- مَقْفَلَهُ مِنْ عُسْفَانَ، وَرَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- عَلَى رَاحِلَتِهِ، وَقَدْ أَرْدَفَ صَفِيَّةَ بِنْتَ حُيَيٍّ، فَعَثَرَتْ نَاقَتُهُ فَصُرِعَا جَمِيعًا، فَاقْتَحَمَ أَبُو طَلْحَةَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، جَعَلَنِي اللَّهُ فِدَاءَكَ. قَالَ «عَلَيْكَ الْمَرْأَةَ». فَقَلَبَ ثَوْبًا عَلَى وَجْهِهِ وَأَتَاهَا، فَأَلْقَاهَا عَلَيْهَا وَأَصْلَحَ لَهُمَا مَرْكَبَهُمَا فَرَكِبَا، وَاكْتَنَفْنَا رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-، فَلَمَّا أَشْرَفْنَا عَلَى الْمَدِينَةِ قَالَ «آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ». فَلَمْ يَزَلْ يَقُولُ ذَلِكَ حَتَّى دَخَلَ الْمَدِينَةَ.

## رجال الحديث

① **ابومعمر** - دا ابومعمر عبدالله بن ابى الحجاج المنقرى المقعد رحمه الله دي ددوى تذكره كتاب العلم باب قول النبي صلى الله تعالى عليه وسلم لاندې تيره شوي ده (٢)

② **عبدالوارث** - دا عبدالوارث بن سعيد الذكوان التميمى رحمه الله دي ددوى تذكره هم په مذكوره باب او كتاب كښې تيره شوي ده (٣)

---

(١) قدمر تخريجه فى كتاب الصلوة باب مايذكرفى الفخذ رقم: ٣٧١.
(٢) كشف البارى: ٣٠٨/٣.
(٣) كشف البارى: ٣٠٩/٣.

③ **يحيى بن ابى اسحاق** دايحيى بن ابى اسحاق الحضرمى البصرى النحوى رحمه الله دي د دوى تذكره كتاب تقصير الصلوة باب ماجاء فى التقصير لاندې تيره شوې ده

④ **انس بن مالک** رضي الله عنه دَ انس بن مالك رضي الله عنه تذكره كتاب الايمان باب من الايمان أن يحب لاخيه مايحب لنفسه لاندې تيره شوې ده (١)

كنا مع النبى صلى الله تعالى عليه وسلم مقفله من عسفان، ورسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم على راحلته

حضرت انس بن مالك رضي الله عنه وائى چه مونږ رسول الله صلى الله عليه وسلم سره وو كله چه هغوى دَ عسفان نه واپس كيدلو او حضورپاك په خپله اوښه باندې سور وو

**قوله** وقد أردف صفية بنت حيي - رسول الله صلى الله عليه وسلم حضرت صفيه بنت حيي هم خان پسې شاته په اوښه كينولې وه

**په روايت كښې دَ راوى وهم** - په روايت باب كښې دى رسول الله صلى الله عليه وسلم دَ عسفان نه واپس راتللو حافظ دمياطى رحمه الله فرمائى چه دا دَ راوى وهم دې صحيح دادى چه حضورپاك دَغزوه خيبرنه واپس راتللو خكه چه حضرت صفيه رضي الله عنها حضورپاك ته په جنګ خيبر كښې ملاؤشوې وه دخيبر واقعه په كال ۷ هجرى كښې پيښه شوې وه. واپس راتللووخت كښې حضرت صفيه رضي الله عنها حضورپاك سره شاته په سورلئي ناسته وه. اوغزوه بنى عسفان په كال ۶ هجرى كښې واقع شوې وه هغه وخت حضرت صفيه رضي الله عنها دَ كوم خائى نه راغله؟(٢) په ظاهره داسې معلوميږى چه غزوه عسفان او غزوه خيبر يوبل پسې راغلى په دې وجه راوى ته شك پيداشوې اودحضورپاك دَ دې مراجعت نسبت ئى غزوه عسفان طرف ته كړې (٣)

**قوله** فعثرت ناقته فصرعا جميعًا - خوداوښې خپه اوخوئيدله حضورپاك او ام المؤمنين حضرت صفيه رضي الله عنها دواړه راپريوتل

**قوله** فاقتحم أبوطلحة فقال: يارسول الله جعلني الله فداءك - دې كتلوسره ابوطلحه رضي الله عنه زر دَ اوښې نه ورټوپ كړو او وئى وئيل زما خان دې په تاسو قربان وى

اقتحم - تحم فى الامر إذا رمى نفسه فيه من غير رؤية (٤) دَدې معنى ده خپل خان په يوكار كښې ورننويستل بې سوچ او بې پوهې اچول أقحم الفرس راكبه اس سور پرمخې راګذاركړو

**قوله** قال: ((عليك المرءة)) فقلب ثوبا على وجهه وأتاها فألقاه عليها، وأصلح لهما مركبهما فركبا - رسول اكرم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل دَ ښځې خبر واخلئى ابوطلحه په خپل مخ

---

١) كشف البارى: ٤/٢، ٥.

٢) فتح البارى: ٦/٢٣٧ عمدة القارى: ١٥/٢٠ إرشاد السارى: ٥/٥٥٨.

٣) فتح البارى: ٦/٢٣٧ فيض البارى: ٦/٣٥٩ الابواب والتراجم ص: ٢٠٥.

٤) شرح الكرمانى: ٣/٧٠ وعمدة القارى: ١٥/٢٠.

باندې کېږا واچوله ، دې دپاره چه په حضرت صفیه رضي الله عنها باندې نظر پرینوځي، او حضرت صفیه رضي الله عنها له راغلو نوهم هغه کېږا ئې په هغې ور واچوله بیائې د دواړو د پاره سورلی صحیح کړه حضوریاك او حضرت صفیه رضي الله عنها دواړه سواره شو

**قوله** فاكتفنا رسول الله صلى الله عليه وسلم - مونږ ټول دحضوریاك نه چاپیره راجمع شو

فاكتنفنا - أی أحطنا (١) مونږ راګیر کړل مونږ ترې راتاؤشو کنف (دنصر نه) احاطه کول او د ګیرولو په معنی کښې دې (٢)

**قوله** فلما أشرفنا على المدينة، قال: ((آيبون تائبون، عابدون، لربنا حامدون))، فلم يزل يقول ذلك، حتى دخل المدينة - کله چه مدینې ته بالکل نیزدې شو نو حضوریاك اوفرمائیل آیبون تائبون عابدون لربنا حامدون حضوریا یو شان دغه کلمات فرمائیلوسره په مدینه کښې داخل شو. علامه انور شاه کشمیری رحمه الله فرمائی چه د باب په روښی روایت کښې تصریح نشته چه حضوریاك به دغه مذکوره دعا د سفرنه په واپس راتللو کښې فرمائیله یا د مدینې د داخلیدو په وخت په دې دویم روایت کښې تصریح ده چه دغه به ی مدینه کښې داخلیدو وخت کښې فرمائیله. (٣)

**ترجمة الباب سره مناسبت**: - قال آیبون.........الخ مناسبت ترجمة الباب سره ښکاره دې

**د حدیث فوائد**: - علامه عینی رحمه الله د دې روایت نه مختلف آداب او فوائد مستنبط کړی دی

① په سورلنی دې ښځه سرې پسې شاته کینی او پرده کښې دې وی

② د نامحرم ښځې او سړی دواړو د یوبل نه پرده کول او مخ په کېږا باندې پټول ښکاره دی

③ ابوطلحه رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم خدمت کړې دې نه معلومه شوه چه د وخت د امام او اهل علم خدمت مستحب دې

④ د سفرنه د مراجعت په وخت کله چه امام وخت خپل ملك یا ښار کښې داخل شی نو دهغه استقبال دې کوی اوخلق دې دهغه نه چاپیره جمع شی.

⑤ کله چه مسافرخپل بال بچ ته په خیراوعافیت سره راورسی نودَ الله تعالی شکر توبه او استغفار دې کوی

⑥ د روایت نه یوه دافانده معلومه شوه ازواج مطهرات سره دَ دې چه امهات المؤمنین وې لیکن دنامحرم سړو نه پرده او حجاب حکم دهغوی دپاره هم وو (٤)

---

(١) عمدة القارى: ٢٠/١٥.
(٢) مختار الصحاح ص: ٥٨٠ دارالمعارف بمصر.
(٣) فيض البارى: ٣٥٩/٣.
(٤) عمدة القارى: ٢٠/١٥.

احديث ۲۹۲۰ [١]: حَدَّثَنَا عَلِي حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه أَنَّهُ أَقْبَلَ هُوَ وَأَبُو طَلْحَةَ مَعَ النَّبِي صلى الله عليه وسلم وَمَعَ النَّبِي صلى الله عليه وسلم صَفِيَّةُ مُرْدِفَهَا عَلَى رَاحِلَتِهِ، فَلَمَّا كَانُوا بِبَعْضِ الطَّرِيقِ عَثَرَتِ النَّاقَةُ، فَصُرِعَ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - وَالْمَرْأَةُ، وَإِنَّ أَبَا طَلْحَةَ - قَالَ أَحْسِبُ قَالَ - اقْتَحَمَ عَنْ بَعِيرِهِ فَأَتَى رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم فَقَالَ يَا نَبِيَّ اللَّهِ جَعَلَنِي اللَّهُ فِدَاءَكَ، هَلْ أَصَابَكَ مِنْ شَيْءٍ قَالَ «لاَ، وَلَكِنْ عَلَيْكَ بِالْمَرْأَةِ». فَأَلْقَى أَبُو طَلْحَةَ ثَوْبَهُ عَلَى وَجْهِهِ، فَقَصَدَ قَصْدَهَا فَأَلْقَى ثَوْبَهُ عَلَيْهَا، فَقَامَتِ الْمَرْأَةُ، فَشَدَّ لَهُمَا عَلَى رَاحِلَتِهِمَا فَرَكِبَا، فَسَارُوا حَتَّى إِذَا كَانُوا بِظَهْرِ الْمَدِينَةِ أَوْ قَالَ أَشْرَفُوا عَلَى الْمَدِينَةِ قَالَ النَّبِي صلى الله عليه وسلم - «آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ». فَلَمْ يَزَلْ يَقُولُهَا حَتَّى دَخَلَ الْمَدِينَةَ. [۵۸۳۱، ۵۹۶۳]

## رجال الحديث

① **على**: - دا جليل القدر محدث على بن عبدالله بن جعفر المدينى رحمه الله دي. دَدوى تفصيلي حالات كتاب العلم لاندې وړاندې تيرشوى دى. ([٢])

② **بشربن المفضل**: - دا بشر بن المفضل ابن الاحق الرقاشى البصرى رحمه الله دي. دَدوى حالات كتاب العلم باب قول النبى صلى الله تعالى عليه وسلم: رب مبلغ أوعى من سامع لاندې تيرشوى دى [٣]

③ **يحيى بن ابى اسحاق**: دَدوى تذكره كتاب تقصير الصلوة باب ماجاء فى التقصير لاندې تيره شوې ده.

④ **انس بن مالك**: - دَ انس بن مالك رضي الله عنه تذكره كتاب الايمان باب من الايمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه لاندې تيره شوې ده. ([٤])

**قوله**: أنه أقبل هو وأبوطلحة مع النبى صلى الله تعالى عليه وسلم - دا هم هغه دَ ترجمة الباب دويم روايت دې خو سند ئې بدل شوې دې

فلما كانوا: - دَ ابوذر رضي الله عنه په روايت كښې كان دَمفرد صيغه نقل كړې شوې ده ([٥])

عثرت الناقة: - دَ ابوذر او اصيلى رحمهما الله په روايت كښې ناقة په ځائې الدابة نقل دې ([٦]) دابة دَ اسم فاعل صيغه ده په دې كښې تاء دَ وحدت ده دَ مؤنث اومذكردواړو دَپاره

---

[١]) مرتخريجه فى كتاب الصلوة باب مايذكر فى الفخذ رقم: ۳۷۱.
[٢]) كشف البارى: ۲۹۷/۳.
[٣]) كشف البارى: ۲۲۲/۳.
[٤]) كشف البارى: ۲/٤. ٥.
[٥]) إرشاد السارى: ۵۵۹/۶.
[٦]) إرشاد السارى: ۵۵۹/۶.

مستعمل دہ دا دي معنی دہ پہ زمکہ تګ کونکي خناور. ځاروی او څوپایه اکثر دي استعمال په څوپایه باندي کیږي کوم چه د سورلئ یا بوج اوچتولو په کار راځي

**قوله** حتی إذا کانوا بظهر المدینة، أو قال: أشرفوا علی المدینة - دلته دراوی شک دی چه حضرت انس رضی الله عنه په دي دواړو کښي کومه جمله ونیلي وه کانوا بظهر المدینة ونیل یا اشرفوا علی المدینة ونیلی وو

بظهر المدینة ظهر د ظاهر په معنی کښي دي یعني چه کله مدینه مخامخ شوه (۱)

**ترجمة الباب سره مناسبت** - مناسبت بالکل واضح دي

## باب-۱۹۴ الصلاة إذا قدم من سفر

**د ترجمة الباب مقصد او باب سابق سره مناسبت** - د دي نه وړاندي باب کښي خودلي شوی چه کله مجاهد او مسافر د سفرنه واپس شي وطن ته راورسي نو د الله تعالی شکر دي اداکړي اوتوبه استغفار دي اوکړي اوس خبره دا ده چه کله منزل مقصودته اورسي نو څه به کوي؟ په دي مناسبت سره امام بخاری رحمه الله باب الصلوة. إذا قدم من سفر ترجمه قایمولو سره داخودل غواړي چه کله مجاهد یا مسافر واپس شي خپل منزل مقصودته اورسي نوهغه له د شکراني یو دوه رکعته مونځ اداکول پکاردی د رسول الله ﷺ عادت مبارك وو چه د سفرنه به واپسي باندي به ني جمات ته تعریف اوړلو او دوه رکعته به ني اداکول

احدیث ۲۹۲۱ (۲) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ مُحَارِبِ بْنِ دِثَارٍ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ رضی الله عنهما قَالَ كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فِي سَفَرٍ فَلَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ قَالَ لِي «ادْخُلِ الْمَسْجِدَ فَصَلِّ رَكْعَتَيْنِ». [ر: ۴۳۲]

## رجال الحدیث

① **سلیمان بن حرب** - داابوایوب سلیمان بن حرب بن بجیل واشحی رحمه الله دي کتاب الایمان لاندي د دوی تذکره تیره شوي ده (۳)

② **شعبه** - دامشهورمحدث شعبه بن الحجاج بن الورد البصری رحمه الله دي د دوی حالات کتاب الایمان لاندي وړاندي تیرشوی دی (۴)

③ **محارب بن دثار** - دا قاضی ابو مطرف. محارب بن دثار السدوسی الکوفی رحمه الله دي د دوی تذکره کتاب الصلوة، باب الصلوة إذا قدم من سفر لاندي تیره شوي ده

---

۱) إرشادالساری: ۶/ ۵۵۹.

۲) مرتخریجه فی کتاب الصلوة باب الصلوة إذا قدم من سفر رقم: ۴۴۳.

۳) کشف الباری: ۲/ ۱۰۵.

۴) کشف الباری: ۱/ ۶۷۸.

③ **جابر بن عبدالله** رضی الله عنهما:- دا مشهور صحابی رسول حضرت جابر بن عبدالله بن عمرو بن حرام الانصاری رضی الله عنهما دی د دوی حالات کتاب الوضوء باب صب النبی صلی الله علیه وسلم المغنی علیه لاندې تیر شوی دی

**کنت مع النبی صلی الله تعالی علیه وسلم فی سفر فلما قدمنا من المدینة قال لی ادخل المسجد فصل رکعتین** حضرت جابر بن عبدالله رضی الله عنهما وائی چه زه په سفر کښې رسول الله ﷺ سره وووم کله چه مونږ مدینې ته اورسیدو نو حضورپاک ماته اوفرمائیل جابر! جمات ته لاړشه او دوه رکعته اوکړه دې نه تحیة المسجد مراد نه دی دا د سفر نه د واپسئ نفل مونځ وو [۱]

**کتاب الصلوة باب الصلوة إذا قدم من سفر** لاندې امام بخاری رحمه الله دا روایت عن خلاف بن یحیی عن مسعر عن محارب بن دثار په طریق سره روایت کړی دی [۲] هم هلته ددې متعلق تفصیل هم تیر شوی دی علامه قسطلانی فرمائی چه امام بخاری رحمه الله دا روایت مختصر او تفصیلاً شلو مقاماتو کښې نقل کړی دی [۳]

**ترجمة الباب سره د حدیث باب مناسبت:-** د **فلما قدمنا من السفر قال لی: ادخل المسجد فصل رکعتین** مناسبت ترجمة الباب سره ښکاره دی

احدیث ۲۹۲۲] [۴] حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ كَعْبٍ عَنْ أَبِيهِ وَعَمِّهِ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ كَعْبٍ عَنْ كَعْبٍ - رضي الله عنه - أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - كَانَ إِذَا قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ ضُحًى دَخَلَ الْمَسْجِدَ، فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ يَجْلِسَ. [ر ۲۶۰۶]

## رجال الحدیث

① **ابوعاصم:-** دا ابوعاصم ضحاک بن مخلد بن ضحاک بن بصری رحمه الله دی د دوی تذکره کتاب العلم باب القراءة والعرض علی المحدث لاندې تیره شوې ده [۵]

② **ابن جریج:-** دا عبدالملک بن عبدالعزیز بن جریج اموی رحمه الله دی د دوی تذکره کتاب الحیض باب غسل الحائض رأس زوجها وترجیله لاندې تیره شوې ده.

---

[۱] إرشادالساری: ۶/ ۵۵۹.
[۲] عمدة القاری: ۱۵/ ۲۱.
[۳] إرشاد الساری: ۶/ ۵۵۹.
[۴] مرتخریجه فی کتاب الجهاد باب إذا تصدق أو وقف بعض ماله أو بعض رقیقه أو دوابه فهوجائز رقم: ۲۷۵۷.
[۵] کشف الباری: ۳/ ۱۲۹ – ۱۳۲.

③ **ابن شهاب** - مشهورمحدث محمد بن مسلم بن عبيدالله بن شهاب زهري دې ددوى حالات هم بدء الوحى لاندې تيرشوى دى [1]

④ **عبدالرحمن بن عبدالله بن كعب** - دا عبدالرحمن بن عبدالله بن كعب بن مالك رحمه الله دې كتاب الوصايا باب إذا تصدق أو وقف بعض ماله لاندې ئې تذكره تيره شوې ده.

⑤ **عبدالله بن كعب** - دا مشهورصحابى كعب بن مالك رضي الله عنه خوئې دې ثقه اومعتبرراوى دې دخپل پلار كعب بن مالك رضي الله عنه نه ئې روايات اخستى دى [2] د دوى نه روايت كونكو كښې د ده ورارد، عبدالرحمن بن عبدالله بن كعب، محمدبن مسلم بن شهاب زهرى، او دهغه رور معبدبن مالك رحمهم الله شامل دى [3]

كله چه د كعب بن مالك رضي الله عنه نظر لاړو نوعبيدالله بن كعب د هغه سهارا جوړشو اودهغه ئې بنه خدمت اوكړو [4] امام بخارى امام مسلم امام ابوداؤد اوامام نسائى رحمهم الله ټولو ددوى روايات نقل كړى دى.

**قوله**: أن النبى صلى الله تعالى عليه وسلم كان إذا قدم من سفر ضحى دخل المسجد، فصلى ركعتين قبل أن يجلس: - حضرت كعب بن مالك رضي الله عنه فرمائى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم به كله د ساختى وخت د سفرنه واپس راتلو نو اول به جمات ته تللو اود كيناستونه وړاندې به ئې دوه ركعته كول.

د امام بخارى رحمه الله عادت دې كه چرې يوروايت په مختلفو احكامو آدابو او فوائدباندې مشتمل وى نوهغه په مختلف ابواب كښې نقل كوى. مذكوره روايت د حضرت كعب بن مالك رضي الله عنه د يوطويل او مفصل روايت جزء دې په كوم كښې چه هغه د غزوه تبوك نه پاتې كيدو قصه بيان كړې ده شاته كتاب الصلوة باب الصلوة إذا قدم من سفر لاندې مذكوره روايت باندې بحث كړې دې او وړاندې كتاب المغازى لاندې هم په تفصيل سره راروان دې. [5]

**ترجمة الباب سره مناسبت**: - مناسبت بالكل ښكاره دې.

**د حديث نه حاصل شوې فوائد**: - علامه عينى رحمه الله اوفرمائيل چه د ترجمة الباب د روايت نه يوه فائده دا معلومه شوه چه د سفر نه په واپس كيدو نفل مونځ كول سنت دى اوددې ډير فضيلت دې دا سلامت اوپه عافيت سره واپس كيدو باندې د الله تعالى په حضورد شكريه ادا كولو مظهر دې د رسول اكرم صلى الله عليه وسلم په دې طرز عمل كښې زمونږ دپاره اوسوه او نمونه ده چه د سفر نه حضر حالت ته راتلل او دهر كارنه وړاندې نفلى مونځ سره تبرك حاصل كړې شى. داد خير

[1]) كشف البارى: ١/٣٢٦.
[2]) تهذيب الكمال للحافظ المزى: ١٩/١٤٥.
[3]) تهذيب الكمال: ١٩/١٤٥ وتهذيب التهذيب: ٧/٤٤.
[4]) تهذيب الكمال: ١٩/١٤٥ وتهذيب التهذيب: ٧/٤٤.
[5]) كشف البارى كتاب المغازى ص: ٦٣٥ – ٦٥١.

یو د بهترینه کنجی ده (۱)
دویمه خبره دا معلومه شوه چه د سفرنه واپس راشی نو د خپل کور نه اول د الله تعالی کور جمات کښې حاضر شی اوهم د دغه ځائی نه د حضرت شروع اوکړی خلقو سره لږ ساعت ناسته اوکړی نو سلام دعا به کوی (۲) ښکاره خبره ده چه دا هم یو ه لویه فائده ده.

## باب-۱۹۵ الطعام عند القدوم

**د ترجمة الباب مقصد او باب سابق سره مناسبت:-** د دې نه وړاندې باب کښې خودلې شوی چه اول دې جمات ته لاړشی مونځ دې اوکړی د هغې نه پس دې بیا کورته ځی کله چه مسافر خپل کورته لاړو آرام نې اوکړو نو د هغې نه پس به څه کوی؟ د دې مناسبت سره امام بخاری رحمه الله دا ترجمة قایم کړه د امام بخاری رحمه الله غرض دادې چه د خوشحالئی په موقع باندې که چرې د دعوت طعام انتظام اوکړې شی نو ډیره ښه خبره ده. په دې موقع باندې د خپلوانو دوستانو دپاره دعوت طعام بندوبست کول د سنت او صحابه کرامو رضی الله عنهم د اثرنه ثابت دی

**قوله:** وكان ابن عمر يفطر لمن يغشاه:- عبدالله بن عمر رضی الله عنهما به د میلمانو او راتلو ملاقاتیانو د وجې نه روژه نه ساتله

**يغشاه:-** غَشِیَ یَغْشٰی غِشْیَانًا په معنی کښې دې. د چاراتلل، راښکاره کیدل. په عربی ژبه کښې ملاقاتیان یا خدمت کونکې جماعت ته غاشیة وئیلې شی (۳)
ممکن دی چه په روایت باب کښې هم غاشیه نه هغه خلق مرادوی چه د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما د خدمت او زیارت کولو دپاره راتلل.

**يفطر:-** د کشمیهنی په روایت کښې يفطر په ځائی يصنع لفظ راغلی دې (۴) حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه عسقلانی رحمه الله فرمائی چه د معنی په لحاظ دالفظ هم صحیح دې او د دواړو په مینځ کښې څه تعارض هم نشته خو بیا هم د ترجمة الباب په روایت کښې يفطر مروی دې هم دغه اصح دې.(۵)

**حضرت ابن عمر رضی الله عنهما د سفر او حضر معمول:-** د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما معمول وو چه په سفر کښې به نې کله هم روژه نه ساتله نه فرضی اونه نفلی او په حضر کښې اکثر د روژې ساتلو اهتمام وو د رمضان په میاشت کښې به ئې په رخصت باندې عمل کولو او د هغې قضاء به ئې راوړله. خو چه کله به ئې د سفرنه تشریف راوړلونو یوڅو ورځې به ئې روژه نه ساتله ځکه چه خلق به د ملاقات او مبارکئی دپاره راتلل حضرت ابن عمر رضی الله عنهما به د هغوی دعوت او خاطر تواضع انتظام فرمائیلو اوبیخپله به هغوی سره په خوراك څښاك کښې شریك کیدلو

---

(۱) عمدة القاری: ۲۲/۱۵.
(۲) عمدة القاری: ۲۲/۱۵.
(۳) النهاية لابن الاثير: ۳۷۰/۳ (ماده غين شين).
(۴) إرشاد الساری: ۵۶۰/۶.
(۵) إرشادالساری: ۵۶۰/۶ وفتح الباری: ۲۳۱/۶.

اویوځو ورځې به نی دخپل معمول خلاف روژه نه ساتله کله چه به دمیلمنو راتګ بند شو نو
بیا به نی د خپل معمول اهتمام کولو سره روژه ساتله (۱)
مذکوره اثر قاضی اسماعیل بن اسحاق په الاحکام کښې عن حماد عن نافع عن ابن عمر په طریق
سره موصولاً روایت کړې دې په دې کښې دی **إذا کان مقیما لم یفطر، وإذا کان مسافرا لم یصم، وإذا**
**قدم أفطر ایامًا لغاشیته، ثم یصوم.** (۲) حضرت ابن عمر رضی الله عنهما چه به کله مقیم شو نو روژه به نی
ساتله او چه په سفرکښې به وونو د روژې نه ساتلو معمول نی وو کله چه به د سفرنه واپس
کیدو نو څو ورځې به نی دخپلو میلمنو د خاطره افطار کولو بیا به نی روژه ساتله
**د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما د اثر نقل کولو مقصد** - د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما دا معلق اثر نقل کولو سره
امام بخاری رحمه الله د ترجمة الباب مدعی ثابتوی چه ګورنی د ابن عمر رضی الله عنهما په حضر کښې د نفل
روژې ساتلو معمول وو لیکن چه کله به د سفرنه واپس کیدو نو د ملاقات یانو د میلمستیا د پاره
د خپل معمول خلاف پخپله هم هغوی سره خوراك کښې شریك کیدلو او څو ورځې به نی روژه
نه ساتله
**د ابن عمر رضی الله عنهما د اثر نه مستنبط فوائد**:- علامه ابن بطال رحمه الله د دې اثر لاندې دا فائده خودلې ده
چه رؤسا او ائمه له پکاردی چه د سفر نه واپس کیدو نه پس خپل احباب او دوستانو ضیافت
کونی دا مستحب دی او د اکابرو او اسلافو دا معمول پاتې دې (۳) دې دعوت ته په عربی
کښې **نقیعه** ونیلې شی (۴) علامه ابن اثر رحمه الله تحریر فرمانی چه **نقیعه** هغه خوراك ته وانی کوم
چه مسافر د سفر نه د واپس راتلو سره تیاره وی (۵) یوقول دادې چه نقیعه د نقع نه دې نقع
دوړې ته وانی مسافر هم په دوړو کښې سفر کوی (۶)
احدیث ۲۹۲۳/۲۹۲۴ (۷) **حَدَّثَنِي مُحَمَّدٌ أَخْبَرَنَا وَكِيعٌ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ مُحَارِبِ بْنِ دِثَارٍ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ - رضى الله عنهما أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - لَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ نَحَرَ جَزُورًا أَوْ بَقَرَةً.**

## رجال الحديث

①**محمد** دا ابوعبدالله محمد بن سلام بن الفرج السلمی بیکندی دې د دوی تذکره کتاب الایمان

(۱) فتح الباری: ۶/۲۳۸ وإرشادالساری: ۶/۵۶۰.
(۲) تغلیق التعلیق لابن حجر: ۳/۴۶۷.
(۳) شرح ابن بطال: ۵/۲۴۳.
(۴) فتح الباری: ۶/۲۳۹.
(۵) النهایة فی غریب الحدیث لابن الاثیر: ۵/۱۰۹.
(۶) إرشاد الساری: ۶/۵۶۱.
(۷) مر تخریجه فی کتاب الصلوة باب الصلوة إذا قدم من سفر.

**باب قول النبى صلى الله تعالى عليه وسلم: أنا أعلمكم بالله وأن المعرفة فعل القلب** لاندې اوګورئی [۱]

**حدثنا محمد** - دَ محمد په نوم سره دَامام بخارى رحمه الله ډير شيوخ حديث ذکر صحيح بخارى کښې راغلي دي مثلاً محمدبن علاء. محمدبن مثنى وغيره هما خو په خپل صحيح کښې امام بخارى رحمه الله دا صنيع اختيارکړي دي چه کوم خاني دَ لقب يا کنيت وغيره دَ تصريح نه بغير په سندکښې مطلقا محمد ذکرکوى نو ددې نه دهغوى په نيز محمدبن يحيى يا محمد ذهلى نه يوکس مراد وى [۲] بيا دا شبه پيداکيږى چه په سندحديث کښې مطلق لفظ محمد نه به څنګه معلوميږى چه دې نه محمدبن يحيى مراد دې يا محمدذهلى؟ ددې جواب دادې چه دَ دواړو شيوخ حديث جدا جدا دى لهذا دَ مروى عنه تعيين سره ددې خبرې هم تعيين کيږى چه دَ محمد نه محمد بن يحيى مراد دې که محمدذهلى [۳] دلته دَ روايت په سندکښې دَ محمد شيخ يعنى مروى عنه وکيع دې او وکيع بن جراح دَمحمد ذهلى په شيوخ کښې شامل نه دې په دې وجه دا شك باقى نه پاتې کيږى چه دَ محمد نه به دلته محمد ذهلى مراد وى

② **وکيع** - دامشهورامام محدث ابوسفيان وکيع بن الجراح بن مليح الرواسى الکوفى رحمه الله دې دَ دوى حالات **کتاب العلم باب کتابة العلم** لاندې تيرشوى دى [۴]

③ **شعبه** - دا شعبه بن الحجاج واسطى بصرى رحمه الله دې دَ دوى حالات **کتاب الايمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده** لاندې وړاندې تيرشوى دى [۵]

④ **محارب بن دثار** - دا قاضى ابومطرف محارب بن دثار السدوسى الکوفى رحمه الله دې دَدوى حالات **کتاب الصلوة باب الصلوة إذا قدم من سفر** لاندې تيرشوى دى

⑤ **جابربن عبدالله** رضى الله عنهما - دا مشهور صحابى دې دَدوى حالات **کتاب الوضوء باب صب النبى الوضوء على المغمى عليه** لاندې تيرشوى دى

**قوله: أن رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم لما قدم المدينة نحر جزورًا أو بقرةً** - حضرت جابربن عبدالله رضى الله عنهما فرمائى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم (په کله دَ ذات الرقاع نه واپس شو) [۶] مدينې ته راورسيدو نو حضورپاك يو اوښه يا غوا ذبح کړه

**جزورا أوبقرة** - دَ جيم فتحه او زاء ضمه سره دَ قربانئى اوښ ته وائى په مذکر او مؤنث دواړو باندې دَ جزور اطلاق کيږى. [۷]

---

[۱] ) کشف البارى: ۹۳/۲.

[۲] ) فتح البارى: ۱۳۹/۶.

[۳] ) فتح البارى: ۱۳۹/۶.

[۴] ) کشف البارى: ۲۱۹/٤ — ۲۲۶.

[۵] ) کشف البارى: ۶۷۸/۱.

[۶] ) إرشاد السارى: ۵۶۱/۶.

[۷] ) عمدة القارى: ۲۲/۵ النهاية لابن الاثير: ۲۲۶/۱.

د دې جمع جرز د جيم او زاء ضمه سره(١)
راوى نه ياد نه دى چه اوښه ئى ذبح كړې وه كه غوا په دې بنياد باندې او دلته مفيد شك دې ليكن راجح دادى چه حضور پاك غوا ذبح كړې وه ځكه چه د حضرت جابر رضي الله عنه هم دغه روايت امام مسلم رحمه الله په دوو مختلف طرق سره خپل صحيح كښې روايت كړې دې او په دواړو كښې دبقرة لفظ تصريح ده د جزور هډو ذكر نشته (٢)
خلاصه دا شوه چه د صحيح بخارى په روايت باب كښې جزور د راوى شك دې صحيح دادې چه حضور پاك غوا ذبح كړې وه

**ترجمة الباب سره مناسبت** ترجمة الباب سره د روايت باب مناسبت بالكل ظاهر دې ترجمة الباب لاندې امام بخارى رحمه الله د سفر نه واپس كيدلو باندې د دعوت طعام سنيت او استحباب ثابت كړې دې

احديث ص ۴۴۶ (٣) مُعَاذٌ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ مُحَارِبٍ سَمِعَ جَابِرَبْنَ عَبْدِاللهِ اشْتَرَى مِنِّي النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - بَعِيرًا بِوَقِيَّتَيْنِ وَدِرْهَمٍ أَوْدِرْهَمَيْنِ ،فَلَمَّا قَدِمَ صِرَارًا أَمَرَبِبَقَرَةٍ فَذُبِحَتْ فَأَكَلُوا مِنْهَا ،فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ أَمَرَنِي أَنْ آتِيَ الْمَسْجِدَ فَأُصَلِّيَ رَكْعَتَيْنِ ،وَوَزَنَ لِي ثَمَنَ الْبَعِيرِ.

## رجال الحديث

①**معاذ** - دا معاذ بن معاذ العنبرى البصرى رحمه الله دې. د دوى تذكره كتاب الاذان باب إذا أقيمت الصلوة فلا صلاة إلا المكتوبة لاندې تيره شوې ده د سند د باقى روايانو حواله دې نه وړاندې روايت په سند كښې تيره شوې ده

**قوله** اشترى منى النبى صلى الله تعالى عليه وسلم بعيرًا بوقيتين ، ودرهم أو درهمين - جابربن عبدالله رضي الله عنهما وائى رسول الله صلى الله عليه وسلم مانه يو اوښ په دوه اوقيه او يو درهم يا دوه اوقيه او دوه درهم واخستلو. راوى ته يادنه دى چه په دوه اوقيه اويو درهم باندې اخستې وو كه په دوه اوقيه او دوه درهم باندې په دې وجه د أو درهمين سره د راوى شك ښكاره كيږى خو د ابوذر په روايت كښې أوقيتين د همزه فتحه او واؤ سكون سره ضبط شوې دې په

---

(١) النهاية لابن الاثير:١/٢٢۶.

(٢) أخرجه مسلم فى صحيحه: ٢/٢٩ فى كتاب المساقاة والمزارعة. باب بيع البعير واستثناء ركوبه. عن عبيدالله بن معاذ العنبرى عن أبيه عن شعبة عن محارب أنه سمع جابر بن عبدالله يقول: اشترى منى رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم بعيرا بوقتين ودرهم. أو درهمين. قال: فلما قدم صرارًا أمربيقرة فذبحت. فاكلوا منها. فلما قدم المدينة أمرنى ان آتى المسجد فاصلى ركعتين. ووزن لى ثمن البعير. فارجح لى رقم:٤٠٧٣ وقد أخرجه أيضًا بطريق آخر: ٢/٣٠ عن يحيى بن الحبيب الحارثى. عن خالدبن الحارث. عن شعبة عن محارب. عن جابر. عن النبى صلى الله تعالى عليه وسلم بهذه القصة. غير أنه قال: فاشتراه منى بثمن قد سماه. ولم يذكرالوقيتين. والدرهم و الدرهمين. وقال: أمر ببقرة. فنحرت. ثم قسم لحمهما. رقم: ٤٠٧٥.

(٣) قوله (زاد معاذ. عن شعبة) مرتخريجه فى كتاب الصلوة باب الصلوة إذا قدم من سفر رقم:٤٤٣.

یوروایت کښې وقیتین په واوباندې فتحه سره ضبط شوې دې او په دې کښې همزه ساقط ده [۱] او په دې مخې ته نسخه کښې هم دا ضبط کړې شوې دې

**قوله فلما قدم صرارا، أمر ببقرة فذبحت فأكلوا منها** - کله چه حضورپاك مقام صرار ته اورسیدونو دیوې غوا ذبح کولو حکم نې ورکړونو غوا ذبح کړې شوه او ټولو دَهغې غوښه اوخوړله

**صرار** - دَ صاد کسره سره دَ یوځائې نوم دې مشرق طرف ته مدینې نه درې میله فاصله باندې دې [۲] حموی، مستملی او ابن الخداء رحمهم الله په روایت کښې ضرار په صاد باندې نقطه سره، ضبط شوې دې علامه ابن قرقول او حافظ ابن حجر رحمهما الله فرمائی داد راوی وهم دې صحیح صرار (بغیرنقطه) دې [۳] باوقیتین ودرهم أو درهمین

**الفاظ روایات کښې تعارض اودَهغې حل:** - علامه قسطلانی رحمه الله فرمائی دا جمله دَ امام بخاری رحمه الله په نیز په روایت کښې په مختلف لفظونوسره نقل ده په یوروایت کښې دی باوقیتین دَ تثنیه په ځائې وقیة مفرد نقل کړې شوې دې په یوروایت کښې الفاظ دی احسبه باربع اواق او په یوبل روایت کښې دی بعشرین دینار الفاظ نقل دی [۴] خو امام بخاری رحمه الله اوفرمائیل ان روایة وقیة اکثر [۵]

قاضی عیاض رحمه الله دَ روایت په دې جمله کښې نقل شوی اختلاف په مینځ کښې تطبیق ورکولو سره فرمائیلی چه په حقیقت کښې دا لفظی اختلاف دې دَمعنی په لحاظ په دغه مختلفو الفاظو کښې هیڅ تعارض نشته دَ اختلاف اصل منشاء خو روایت بالمعنی دې مطلب دادې چه راوی په روایت بالمعنی باندې عمل اوکړو او هم یومفهوم نې په مختلفو لفظونو کښې تعبیر کړو په أوقیة سره په روایت کښې أوقیة الذهب مراد دې او دَدویم روایت مطابق أربع أواق په اصل کښې څلور اوقیه چاندی دَ أوقیة الذهب دَ قیمت مساوی دې لهذا معنًا دې مختلفو الفاظ کښې څه تعارض نشته دغه شان په شل دینار دَ دغه اواقی قیمت شی

علامه قسطلانی رحمه الله فرمائی: وجمع القاضي عياض بين هذه الروايات بأن سبب الاختلاف: الرواية بالمعنى وأن المراد أوقية الذهب والاربع أواق بقدر ثمن أوقية الذهب [۶]

**دَدې تعلیق تخریج:** - امام مسلم رحمه الله دا تعلیق کتاب المساقات، باب بیع البعیر واستثناء رکوبه

---

[۱] ) إرشادالساری: ۵٦۱/٦.
[۲] ) عمدة القاری: ۱۵/۲۲ — ۲۳.
[۳] ) عمدة القاری: ۵/ ۲۲ — ۲۳ وفتح الباری: ۲۳۹/٤.
[۴] ) إرشادالساری: ۵٦۱/٦.
[۵] ) إرشادالساری: ۵٦۱/٦.
[۶] ) إرشادالساری: ۵٦۱/٦.

لاندې موصولاً نقل کړې دې بل اسماعیل رحمه الله هم دا تعلیق په مستخرج کښې موصولاً روایت کړې دې.[1]

**ددې تعلیق مقصد** - ددې تعلیق نه دامام بخاری رحمه الله مقصد د ترجمة الباب دعوی ثابت کول دی چه رسول الله ﷺ د سفر نه مراجعت کولوسره مقام صرار ته اورسیدو نو حضوپاك د غوا د ذبح کولو حکم ورکړو کومه چه ټولو په یو ځائې اوخوړله چنانچه فلما قدم صرارًا أمر ببقرة نه هم ترجمة الباب اوځی.

احدیث نمبر ۲۹۲۴ [2] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ مُحَارِبِ بْنِ دِثَارٍ عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَدِمْتُ مِنْ سَفَرٍ فَقَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «صَلِّ رَكْعَتَيْنِ». صِرَارٌ مَوْضِعٌ نَاحِيَةً بِالْمَدِينَةِ. [ر: ۴۳۲]

## رجال الحديث

① **ابوالولید** - دا ابوالولید هشام بن عبدالملك طیالسی بصری رحمه الله دې ددوی حالات کتاب الایمان باب علامة حب الایمان کښې تیرشوی دی[3]

② **شعبه** - دا شعبه بن الحجاج بن الورد بصری رحمه الله دې د دوی حالات کتاب الایمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده لاندې وړاندې تیرشوی دی[4]

③ **محارب بن دثار** - دا قاضی ابومطرف محارب بن دثار السدوسی الکوفی رحمه الله دې ددوی حالات کتاب الصلوة باب الصلوة إذا قدم من سفر لاندې تیرشوی دی

④ **جابربن عبدالله** رضی الله عنهما دا مشهورصحابی جابر بن عبدالله بن حرام انصاری دې ددوی تذکره کتاب الوضوٴ باب صب النبی الوضوٴ علی المغمی علیه لاندې تیره شوی ده.

**قوله** قال: قدمت من سفر، فقال النبی صلی الله تعالی علیه وسلم: صل رکعتین - دحضرت جابربن عبدالله رضی الله عنهما په روایت کښې دی چه زه د سفر نه واپس راغلم نو رسول الله ﷺ حکم اوکړو چه دوه رکعته (نفل) اوکړه

**ترجمة الباب سره د حدیث په مناسبت د یواشکال جواب** - حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه دلته

---

[1] ) صحیح مسلم: ۲/۲۸ رقم:۱۱۵.
[2] ) مرتخریجه فی کتاب الصلوة باب الصلوة إذا قدم من سفر رقم: ۴۴۳.
[3] ) کشف الباری:۲/۳۸.
[4] ) کشف الباری:۱/۶۷۸.

اشکال کیږي شي چه ددې روایت ترجمة الباب سره مناسبت نشته. ددې مناسبت خو د ماقبل باب باب الصلوة إذا قدم من سفر سره دې؟
حافظ ابن حجر ﷫ ددې جواب ورکړې دې چه ابوالولید په طریق سره مذکوره روایت نقل کولو سره امام بخاری ﷫ ددې خبرې طرف ته اشاره کړې ده چه دا روایت د پوره حدیث یو جزء دې. ددې تفصیل دادې چه د شعبه بن حجاج نه دهغه دریو شاګردانو دا حدیث روایت کړې دې او هریو د شعبه بن حجاج نه د حدیث صرف هم یوجزء نقل کولو باندې اکتفاء کړې ده. وکیع د شعبه نه د حدیث هغه جزء نقل کړې دې په کوم کښې چه د غوا د ذبح ذکر دې. ابوالولید او سلیمان بن حرب د شعبه نه د حدیث هغه جزء نقل کړې دې په کوم کښې چه رسول الله ﷺ مبارک حضرت جابر بن عبدالله ﷛ ته د دوو رکعتو مونځ کولو حکم ورکړې دې او معاذ عنبری د شعبه نه پوره حدیث نقل کړې دې (۱)
خلاصه دا ده چه د باب دریواړه روایتونه هم د یوحدیث مختلف اجزاء دی. ابوالید په طریق باندې امام بخاری ﷫ دا روایت ذکرکولوسره اشاره فرمائیلې چه دا دې نه د وړاندې روایت جزء دې (۲)

**قوله صرار: موضع ناحية بالمدينة** - د ترجمة الباب په معلق روایت کښې صرار لفظ وارد شوې دې. امام بخاری ﷫ وضاحت فرمائیلې دې چه صرار د مدینې په مضافات کښې واقع دې. د صحیح بخاری په یو نسخه کښې دا عبارت نشته. (۳)
**براعت اختتام:** - دامام بخاری ﷫ دا عادت دې چه دهرکتاب په آخره کښې یوداسې لفظ ذکر کوی په کوم کښې چه داختتام طرف ته اشاره وی.
شیخ الحدیث مولانا محمدزکریا ﷫ فرمائیلی دی چه په حقیقت کښې امام بخاری ﷫ د کتاب اختتام سره انسان د دې په خاتمه باندې خبردارکوی چه څنګه د کتاب بحث اختتام ته اورسیدو ستا ژوند به هم دغه شان خپل انجام ته په رسیدو سره ختم شي. لهذا د مرګ نه غفلت مه کوه اوپه نیکواعمالوسره د راتلونکې منزل تیاری کوه.
د حافظ ابن حجر ﷫ په نیز کتاب الجهاد هم په دې باب باندې ختمیږی. کتاب الخمس په دې کښې شامل نه دې. په دې وجه د حافظ صاحب په نیز په اختتام باندې دلالت کونکې جمله **قدمت من سفر، فقال النبي صلى الله تعالى عليه وسلم: صل ركعتين** ده. (۴)

---

۱) فتح الباری: ۲۳۹/۶ وتبعه القسطلانی أیضًا أنظر إرشادالساری: ۵۶۱/۶.
۲) فتح الباری: ۲۳۹/۶.
۳) تحفة الباری لشیخ الاسلام زکریا بن محمد الانصاری: ۵۲۹/۳.
۴) الابواب والتراجم للمحدث زکریا الکاندهلوی ص: ۲۰۵ ومقدمة لامع الدراری للکاندهلوی: ۱۷۱/۱.

ليكن حضرت شيخ الحديث رحمه الله فرمائيلي چه زما په نيز كتاب الجهاد په بدء الخلق باندې ختميږي [...] ...ب الجهاد كښې شامل دې په دې وجه دلته په دې مقام باندې دَ براعت اختتام دَتصريح كولو هيڅ ضرورت نشته خو كه دَحافظ صاحب دَ رائې اعتبار اوكړې شي نو بيا هم براعت اختتام باندې دلالت كونكى هغه الفاظ دانه دى دكوم تصريح چه حافظ صاحب كړې دو بلكه دَ حديث باب په سند كښې وارد محارب او دثار هغه الفاظ دى چه براعت اختتام باندې دلالت كوى دَ محارب معنى دد جنګ كونكې جنګيدونكې په جنګ سره دَ مرګ واقع كيدل ممكن دى لكه چه لفظ محارب سره دَ مرګ واقع كيدو او ژوندون ختميدو طرف ته اشاره دد دثار نه اسم فاعل الداثرالهالك طرف ته اشاره دد هلاك كيدونكې په دې سره هم دَ مرګ او ژوند هلاكت يعنى ختميدو طرف ته اشاره دد (۱)

دغه شان دثار هغه كپړې ته وائى چه په بدن باندې لګيدلې كپړې دَپاسه وى دَدې ضد شعاردې شعار دَ بدن ويښتو سره لېګدلې كپړې ته وائى دا دَ دثار نه لاندې وى دې ته تاسو تحتانى لباس هم وئيلې شئى حضرت شيخ الحديث رحمه الله فرمائى چه دثار دَ شعار ضد دې او شعار سره ذهن رسول اكرم ﷺ دَدې ارشاد طرف ته راګرځول دى دَكو الفاظ چه دادى: شعرنها اياه (۲)

دَ رسول الله ﷺ لور بى بى حضرت زينب رضي الله عنها وفات شوه. دَهغې دكفن دفن انتظام اوكړې شو نو حضور پاك اوفرمائيل أشعرنها إياه يعنى دا ازار دَ زينب دَپاره شعار جوړ كړئى. (۳)

مختصر دا چه دثار دَ شعار سره مناسبت دې په كوم سره چه مذكوره روايت يادولو سره انسان خبردار كولې شى چه ته به هم مړكيږې او كفن دفن انتظام به دې كيږى لهذا غافل كيږه مه اودَمرګ تيارى كوه. والله اعلم

۞ ختم شده ۞

---

۱) الابواب والتراجم للمحدث زكريا الكاندهلوى: ص ۲۰۰ ومقدمة لامع الدرارى للكاندهلوى: ۱۷۱/۱.

۲) والحديث عندالبخارى: ۱۶۸/۱ فى كتاب الجنائز باب غسل الميت ووضوء بالماء والسدر. وباب ما يستحب أن يغسل وترا. وعندمسلم فى صحيحه: ۱/۳۰۴ - ۳۰۵ فى كتاب الجنائز باب غسل الميت ثلاثا أو خمسا.وعند النسائى فى سننه: ۲۶۶/۱ فى باب كيف يغسل الميت وعندالترمذى فى حامعه: ۱۹۳/۱فى أبواب الجنائزباب ماجاء فى غسل الميت.وعند ابن ماجة فى سننه: ص: ۱۰۵ فى أبواب ماجاء فى غسل الميت.

۳) مقدمة لامع الدرارى للمحدث زكرياكاندهلوى: ۱۷۱/۱.

# المصادر والمراجع


الابواب والتراجم لصحیح البخاری / محمد زکریا صاحب الکاندھلوی رحمہ اللہ تعالیٰ ۔ متوفی ۱۴۰۲ھ / ۱۹۸۲م ایچ ایم سعید کمپنی کراچی۔

الاحسان بترتیب صحیح ابن حبان / ابو حاتم محمد بن حبان بستی رحمہ اللہ تعالیٰ ۔ متوفی ۳۵۴ھ ، مؤسسۃ الرسالۃ بیروت۔

احکام القرآن / ابو بکر احمد بن علی الرازی الجصاص رحمہ اللہ ۔ متوفی ۳۷۰ھ ۔ دار الکتب العلمیۃ بیروت

احکام القرآن / ابو بکر محمد بن عبد اللہ المعروف بابن العربی المتوفی ۵۴۳ھ / دار المعرفۃ بیروت۔

ارشاد الساری شرح صحیح البخاری / ابو العباس شہاب الدین احمد القسطلانی ۔ رحمہ اللہ تعالیٰ ۔ متوفی ۹۲۳ھ ۔ المطبعۃ الکبریٰ الامیریۃ مصر / دار الکتب العلمیۃ بیروت۔

الاستذکار / ابن عبد البر ۔ رحمہ اللہ ۔ المتوفی ۴۶۳ھ ۔ دار احیاء التراث العربی بیروت ۔ الطبعۃ الاولی ۱۴۲۱ھ

الاستیعاب فی اسماء الاصحاب بہامش الاصابۃ / ابو عمر یوسف بن عبد اللہ بن محمد بن عبد البر ۔ رحمہ اللہ ۔ متوفی ۴۶۳ھ ۔ دار الفکر بیروت۔

اسد الغابۃ فی معرفۃ الصحابۃ / عز الدین ابو الحسین علی بن محمد الجزری المعروف بابن الاثیر ۔ رحمہ اللہ ۔ المتوفی ۶۳۰ھ ۔ دار الکتب العلمیۃ بیروت۔

الاصابۃ فی تمییز الصحابۃ / شہاب الدین ابو الفضل احمد بن علی العسقلانی المعروف بابن حجر ۔ رحمہ اللہ ۔ المتوفی ۸۵۲ھ ۔ دالفکر بیروت۔

اعلام الحدیث / ابو سلیمان حمد بن محمد الخطابی ۔ رحمہ اللہ تعالی ۔ متوفی ۳۸۸ھ ۔ مرکز احیاء التراث الاسلامی جامعۃ ام القری مکۃ المکرمۃ۔

اعلاء السنن / ظفر احمد العثمانی ۔ رحمہ اللہ ۔ متوفی ۱۳۹۴ھ ۔ ادارۃ القرآن کراچی۔

اکمال اکمال المعلم شرح صحیح المسلم / ابو عبد اللہ محمد بن خلفۃ الوشتانی المالکی ۔ رحمہ اللہ ۔ متوفی ۸۲۷ھ ۔ دار الکتب العلمیۃ ۔ بیروت۔

الانساب / ابو سعد عبد الکریم بن محمد بن منصور السمعانی رحمہ اللہ ۔ متوفی ۵۶۲ھ ۔ دار الجنان بیروت

اوجز المسالک الیٰ مؤطا مالک / محمد زکریا الکاندھلوی ۔ رحمہ اللہ ۔ متوفی ۱۴۰۲ھ ۔ ادارہ تالیفات اشرفیہ ۔ ملتان / دار القلم ۔ دمشق۔

بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع / ملک العلماء علاء الدین ابو بکر بن مسعود الکاسانی ۔ رحمہ اللہ ۔ متوفی ۵۸۷ھ ۔ ایچ ایم سعید کمپنی کراچی۔

بدایۃ المجتہد / علامہ قاضی ابو الولید محمد بن احمد بن رشد قرطبی ۔ متوفی ۵۹۵ھ ۔ مصر طبع خاص۔

البدایۃ والنہایۃ / حافظ عماد الدین ابو الفداء اسماعیل بن عمر المعروف بابن کثیر ۔ رحمہ اللہ ۔ متوفی ۷۷۴ھ ۔ مکتبۃ المعارف بیروت ۔ طبع ثانی ۱۹۷۷م۔

بذل المجہود فی حل ابو داؤد / علامہ خلیل احمد سہارنپوری ۔ رحمہ اللہ ۔ متوفی ۱۳۴۶ھ ۔ مطبعۃ ندوۃ العلماء لکھنؤ ۱۳۹۳ھ / ۱۹۷۳م۔

تاج العروس من جواہر القاموس /ابو الفیض سید محمد بن محمد المعروف بالمرتضیٰ الزبیدی ۔ رحمہ اللہ تعالیٰ ۔ متوفیٰ ۱۲۰۵ھ ۔ دار مکتبۃ الحیاۃ ۔ بیروت۔
تاریخ بغداد او مدینۃ السلام /حافظ احمد بن علی المعروف بالخطیب البغدادی ۔ رحمہ اللہ تعالیٰ ۔ متوفیٰ ۴۶۳ھ ۔ دار الکتاب العربی بیروت۔
التاریخ الکبیر /امیر المؤمنین فی الحدیث محمد بن اسماعیل البخاری ۔ رحمہ اللہ ۔ متوفیٰ ۲۵۶ھ ۔ دار الکتب العلمیۃ بیروت۔
تالیفات رشیدیہ / رشید احمد گنگوہی قدس سرہ ۔ المتوفی ۱۳۲۳ھ ۔ ادارہ اسلامیات۔
تبیین الحقائق شرح کنز الدقائق / فخر الدین عثمان بن علی الزیلعی ۔ متوفی ۷۴۳ھ ۔ دار الکتب العلمیۃ بیروت
تحریر تقریب التہذیب / بشار عواد معروف ۔ شعیب الارنؤوط ۔ مؤسسۃ الرسالۃ ۔ بیروت۔
تحفۃ الاشراف بمعرفۃ الاطراف /ابو الحجاج جمال الدین یوسف بن عبد الرحمن المزی ۔ رحمہ اللہ تعالیٰ ۔ متوفی ۷۴۲ھ ۔ المکتب الاسلامی بیروت۔
تحفۃ الباری بشرح صحیح البخاری / ابو یحیی زکریا بن محمد الانصاری ۔ المتوفی ۹۲۶ھ ۔ دار الکتب العلمیۃ بیروت ۔ الطبعۃ الاولی ۱۴۲۵ھ۔
تدریب الراوی بشرح تقریب النواوی / جلال الدین عبد الرحمن سیوطی ۔ رحمہ اللہ ۔ متوفی ۹۱۱ھ ۔ المکتبۃ العلمیۃ المدینۃ المنورۃ۔
تعلیقات علی بذل المجهود / محمد زکریا الکاندھلوی ۔رحمہ اللہ تعالیٰ ۔ متوفی ۱۴۰۲ھ ۔ المکتبۃ التجاریۃ ۔ندوۃ العلماء لکھنؤ ۔ الطبعۃ الثالثۃ ۱۳۹۳ھ / ۱۹۷۳م ۔
تعلیقات علی تہذیب الکمال / بشار عواد معروف ۔ حفظہ اللہ تعالیٰ ۔ مؤسسۃ الرسالۃ ۔
تعلیقات علی الکاشف للذہبی / محمد عوامۃ، احمد محمد نمر الخطیب حفظهما اللہ ۔ مؤسسۃ دار القبلۃ / مؤسسۃ علوم القرآن ۔ الطبعۃ الاولیٰ ۱۴۱۳ھ۔
تعلیقات علی الکوکب الدری / محمد زکریا الکاندھلوی ۔ رحمہ اللہ تعالیٰ ۔ متوفیٰ ۱۴۰۲ھ۔
تعلیقات علی لامع الدراری / محمد زکریا الکاندھلوی ۔ رحمہ اللہ ۔ متوفیٰ ۱۴۰۲ھ / ۱۹۸۲م ۔
جامع البیان / محمد بن جریر الطبری ۔ رحمہ اللہ ۔ متوفی ۳۱۰ھ ۔ دار المعرفۃ ۔ بیروت۔
تفسیر البغوی / ابو محمد الحسین ابن مسعود الفراء البغوی الشافعی ۔ المتوفی ۵۱۶ھ ۔ ادارہ تالیفات اشرفیہ ملتان۔
تفسیر عثمانی / شبیر احمد العثمانی ۔ رحمہ اللہ ۔ تاج کمپنی۔
تفسیر القرآن العظیم /ابو الفداء عماد الدین اسماعیل بن عمر ابن کثیر دمشقی ۔ رحمہ اللہ ۔ متوفیٰ ۷۷۴ھ ۔ دار احیاء الکتب العربیۃ۔
التفسیر الکبیر /فخر الرازی ۔ رحمہ اللہ ۔ مرکز النشر ۔ مرکز العلمیۃ الاسلامی۔
التفسیر المظہری / ثناء اللہ پانی پتی ۔ رحمہ اللہ ۔ دار الکتب العلمیۃ بیروت۔
الجامع لاحکام القرآن / ابو عبد اللہ محمد بن احمد الانصاری القرطبی ۔رحمہ اللہ ۔ متوفی ۶۷۱ھ ۔ دار الفکر بیروت۔
تقریب التہذیب / ابن حجر عسقلانی ۔ رحمہ اللہ ۔ متوفیٰ ۸۵۲ھ ۔ دار الرشید حلب ۔

تکملة فتح الملھم / محمد تقی العثمانی حفظه الله ، مکتبه دار العلوم کراتشی۔
التمهيد لما فی المؤطا من المعانی و الاسانید / ابو عمر یوسف بن عبد الله بن محمد عبد البر مالکی ۔ رحمه الله۔ متوفی ۴۶۳ھ ، المکتبة التجارية ،مکة المکرمة۔
تهذيب الاسماء و اللغات / محیی الدین ابو زکریا یحیی بن شرف النووی ۔ رحمه الله۔، متوفی ۶۷۶ھ، ادارة الطباعة المنيرية۔
تهذيب التهذيب / ابن حجر عسقلانی رحمه الله ۔، متوفی ۸۵۲ھ ، دائرة المعارف النظامية ، حیدر آباد دکن
تهذيب الکمال / جمال الدین ابو الحجاج یوسف بن عبدالرحمن مزی رحمه الله متوفی ۷۴۲ھ مؤسسة الرسالة
الثقات لابن حبان / ابو حاتم محمد بن حبان بستی ۔ رحمه الله ۔، متوفی ۳۵۴ھ ، دائرة المعارف العثمانية ، حیدر آباد ، ۱۳۹۳ھ۔
جامع الترمذی / ابو عیسیٰ محمد بن عیسیٰ بن سورة الترمذی ۔ رحمه الله ۔، متوفی ۲۷۹ھ ،ایچ ایم سعید کمپنی / دار احیاء التراث العربی بیروت۔
الجرح والتعديل / عبد الرحمن بن ابی حاتم الرازی رحمه الله ، المتوفی ۳۲۷ھ ، دار الکتب العلمية بیروت
جمع الجوامع / جلال الدین عبد الرحمن بن ابی بکر السیوطی ۔ رحمه الله ۔
حاشية السندی علی البخاری / ابو الحسن نور الدین محمد بن عبد الهادی السندی ۔ رحمه الله ۔، متوفی ۱۱۳۸ھ ، دار المعرفة ،بیروت۔
خلاصة الخزرجی ۔خلاصة تذهيب تهذيب الکمال ۔ / صفی الدین خزرجی ۔ رحمه الله ۔، متوفی ۹۲۳ھ ، مکتب المطبوعات الاسلامية بحلب۔
الدر المختار / علاء الدین محمد بن علی بن محمد الحصکفی رحمه الله متوفی ۱۰۸۸ھ ، مکتبه علرفین ، کراتشی
دلائل النبوة / ابو بکر احمد بن الحسین البیهقی ۔ رحمه الله ۔، المتوفی ۴۵۸ھ دار الکتب العلمية بیروت الطبعة الاولی۔
ذخائر المواريث فی الدلالة علی مواضع الحديث / عبد الغنی بن اسماعیل بن عبد الغنی النابلسی ۔ رحمه الله ، متوفی ۱۱۴۳ھ ۔ دار المعرفة بیروت ۔
رد المحتار / محمد امین بن عمر بن عبد العزیز عابدین الشامی ۔ رحمه الله ۔، متوفی ۱۲۵۲ھ ، مکتبه رشیدیه ، کوئٹه / دار الثقافة والتراث ، دمشق ، سوية / دار المعرفة بیروت۔
روح المعانی فی تفسير القرآن العظيم و السبع المثانی / ابو الفضل شهاب الدین سید محمود آلوسی بغدادی ۔ رحمه الله ۔، متوفی ۱۲۷۰ھ ،مکتبه امدادیه ،ملتان۔
سنن ابن ماجه / ابو عبد الله محمد بن یزید بن ماجه ۔ رحمه الله ۔ ، متوفی ۲۷۳ھ ، قدیمی کتب خانه کراچی / دار الکتاب المصری قاهرة ،دار الکتب العلمية بیروت ، بتحقیق لحمود محمد محمود حسن نصار۔
سنن ابی داؤد / ابو داؤد سلیمان بن الاشعث السجستانی ۔ رحمه الله ۔، متوفی ۲۷۵ھ ، سعید کمپنی /دار احیاء السنة النبوية۔
سنن الدار قطنی / ابو الحسن علی بن عمر الدار قطنی رحمه الله ، متوفی ۳۸۵ھ ، دار نشر الکتب العلمية ،بیروت
سنن الدارمی / ابو محمد عبد الله بن عبدالرحمن الدارمی رحمه الله ، متوفی ۲۵۵ھ ۔ قدیمی کتب خانه کراچی

سنن سعید بن منصور / الحافظ سعید بن منصور الخراسانی رحمه الله . متوفی . دار الکتب العلمیة بیروت
السنن الصغری للنسائی / ابو عبدالرحمن احمد بن شعیب النسائی ـ رحمه الله ـ. متوفی ٣٠٣ ھ . نشر السنة ملتان /قدیمی کراتشی ـ
السنن الکبری للبیهقی / ابو بکر احمد بن الحسین بن علی البیهقی رحمه الله متوفی ٤٥٨ھ . نشر السنة ملتان
سیر اعلام النبلاء / ابو عبد الله شمس الدین محمد بن احمد بن عثمان الذهبی ـ رحمه الله ـ . متوفی ٧٤٨ ھ . مؤسسة الرسالة ـ
السیرة الحلبیة / علی بن برهان الدین الحلبی ـ رحمه الله ـ . متوفی ١٠٤٤ ھ . المکتبة الاسلامیة . بیروت ـ
السیرة النبویة / ابو محمد عبد الملک بن هشام المعافری ـ رحمه الله ـ . المتوفی ٢١٣ ھ . مطبعة مصطفی البابی . الحلبی ـ
الاشباه والنظائر / ابن نجیم الحنفی ـ رحمه الله ـ . ادارة القرآن کراتشی ـ
شرح ابن بطال / ابو الحسن علی بن خلف بن عبد الملک . المعروف بابن بطال ـ رحمه الله ـ . متوفی ٤٤٩ ھ . مکتبه الرشد . الریاض ـ
شرح الکرمانی / شمس الدین محمد بن یوسف بن علی الکرمانی ـ رحمه الله ـ . متوفی ٧٨٦ھ . دار احیاء التراث العربی بیروت ـ
شرح مشکل الآثار / ابو جعفر احمد بن محمد سلامة الطحاوی . المتوفی ٣٢١ ھ . مؤسسة الرسالة بیروت . الطبعة الثانیة ١٤٢٧ ھ ـ
شرح النووی علی صحیح مسلم / ابو زکریا یحییٰ بن شرف النووی رحمه الله . المتوفی ٦٧٦ ھ . قدیمی کراتشی
صحیح للبخاری / ابو عبدالله محمد بن اسمعیل البخاری ـ رحمه الله ـ . المتوفی ٢٥٦ ھ . قدیمی / دار السلام . ریاض ـ
الصحیح لمسلم / مسلم بن الحجاج القشیری النیسابوری رحمه الله . متوفی ٢٦١ ھ . قدیمی / دار السلام
الطبقات الکبریٰ / ابو محمد بن سعد ـ رحمه الله ـ . متوفی ٢٣٠ ھ ـ دار صادر بیروت ـ
عمدة القاری / بدر الدین ابو محمد بن محمود احمد العینی ـ رحمه الله ـ . متوفی ٨٥٥ ھ . ادارة الطباعة المنیریة / دار الکتب العلمیة بیروت . الطبعة الاولی ١٤٢١ ھ ـ
عون المعبود شرح سنن ابی داود / شمس الحق عظیم آبادی . دار الفکر بیروت ـ
الفتاوی التتارخانیة / عالم بن علاء الانصاری الاندرپتی الدهلوی رحمه الله المتوفی ٧٨٦ ھ قدیمی کتب خانه
فتح الباری / احمد بن علی المعروف بابن حجر العسقلانی ـ رحمه الله ـ . متوفی ٨٥٢ ھ ـ دار الفکر / قدیمی کراتشی / دار السلام ـ
فتح القدیر / کمال الدین محمد بن عبدالواحد المعروف بابن الهمام ـ رحمه الله ـ . متوفی ٨٦١ ھ . مکتبه رشیدیه / شرکة و مطبعة مصطفی البابی الحلبی مصر ـ
فیض الباری / انور شاه کشمیری ـ رحمه الله ـ . متوفی ١٣٥٢ ھ ربانی بکڈپو دهلی ـ
العدة شرح العمدة فی مذهب الامام احمد بن حنبل ـ رحمه الله ـ / بهاء الدین عبد الرحمن بن ابراهیم المقدسی رحمة الله علیه / مکتبة الریاض الحدیثة بالریاض ـ

الفتاوی التاتارخانیة
القاموس الوحید / وحید الزمان بن مسیح الزمان قاسمی کیرانوی ـ رحمه الله ـ، متوفیٰ ۱۴۱۵ ھ، /۱۹۹۵م ،
ادارہ اسلامیات لاہور۔
الکاشف / شمس الدین ابو عبد الله محمد بن احمد بن عثمان ذہبی ـ رحمه الله ـ ، متوفیٰ ۷۴۸ھ ـ شرکة دار
القبلة / مؤسسة علوم القرآن ـ
الکاشف عن حقائق السنن / شرف الدین حسین بن محمد بن عبد الله الطیبی ـ رحمه الله ـ ، متوفیٰ ۷۴۳ھ،
ادارة القرآن کراچی۔
کتاب الام / امام محمد بن ادریس الشافعی رحمه الله، متوفی ۲۰۴ھ، دار المعرفة ، بیروت ، طبع ۱۳۹۳ھ / ۱۹۷۳م
کتاب الخراج / الامام ابو یوسف ، یعقوب القاضی ـ رحمه الله ـ ، المتوفی ۱۸۲ھ ـ
کتاب الضعفاء الکبیر / ابو جعفر محمد بن عمر بن موسی بن حماد العقیلی المکی رحمه الله متوفیٰ ۳۲۲ھ، دار الکتب
کتاب المبسوط / الامام شمس الائمة ابو بکر محمد بن ابی سہل السرخسی ـ رحمه الله ـ المتوفی ۴۹۳ھ ، دار
المعرفة / مکتبة رشیدیه کوئٹه / مکتبة حبیبیة کوئٹه ـ
کشف المغطا عن وجه المؤطا علی ھامش المؤطا / اشفاق الکاندھلوی ـ رحمه الله ـ
الکوکب الدری / حضرت مولانا رشید احمد گنگوھی ـ رحمه الله ـ ، متوفیٰ ۱۳۲۳ھ ، ادارة القرآن کراچی۔
لامع الدراری / رشید احمد گنگوھی ـ رحمه الله ـ ، متوفیٰ ۱۳۲۳ھ ، مکتبه امدادیه مکة المکرمة۔
لسان العرب / ابو الفضل جمال الدین محمد بن مکرم ابن منظور الافریقی المصری ـ رحمه الله ـ ، متوفیٰ
۷۱۱ھ، نشر ادب الجوزة ، قم ، ایران ـ
المؤطا / مالک بن انس ـ رحمه الله ـ ، متوفیٰ ۱۷۹ھ ـ دار احیاء التراث العربی بیروت ـ
المتواری علی تراجم ابواب البخاری / ناصر الدین احمد بن محمد المعروف بابن المنیر الاسکندرانی ـ
رحمه الله ـ ، متوفیٰ ۶۸۳ھ ـ مظهری کتب خانه کراچی۔
مجمع بحار الانوار / علامه محمد طاهر پٹنی رحمه الله ، متوفیٰ ۹۸۲ھ، دائرة المعارف العثمانیه حیدرآباد
مجمع الزوائد / نور الدین علی بن ابی بکری الهیثمی ـ رحمه الله ـ ، متوفیٰ ۸۰۷ھ ، دار الفکر ، ـ
المجموع ـ شرح المهذب ـ / محیی الدین ابو زکریا یحییٰ بن شرف النووی رحمة الله علیه ، متوفی ۶۷۶ھ ،
شرکة من علماء الازهر / دار الفکر بیروت۔
مجموعة الفتاوی / ابو الحسنات عبد الحیی الکهنوی ، متوفی ۱۳۰۴ھ ، ایچ ایم سعید کراچی۔
المحلی / ابو محمد علی احمد بن سعید بن حزم رحمة الله علیه ، متوفی ۴۵۶ھ ـ المکتب التجاری بیروت /
دار الکتب العلمیة بیروت۔
مختار الصحاح / محمد بن ابی بکر بن عبد القادر الرازی رحمة الله علیه ، متوفی ۶۶۶ھ ، دار المعارف ـ
المدونة الکبری / مالک بن انس رحمة الله علیه ، متوفی ۱۷۹ھ ، دار صادر ، بیروت / مکتبة نزار مصطفی الباز
، مکة المکرمة الریاض ـ
مرقاة المفاتیح شرح مشکوة المصابیح / نور الدین علی بن سلطان القاری رحمة الله علیه ، متوفی ۱۰۱۴ھ ،
امدادیه ملتان / مکتبه رشیدیه کوئٹه ـ

المستدرک علی الصحیحین / ابو عبد اللہ محمد بن عبد اللہ الحاکم النیسابوری رحمۃ اللہ علیہ، متوفی ۴۰۵ھ، دار الفکر۔
مسند احمد / احمد بن حنبل رحمۃ اللہ علیہ، متوفی ۲۴۱ھ، المکتب الاسلامی، دار صادر بیروت۔
مصباح اللغات / ابو الفضل عبد الحفیظ البلیاوی رحمۃ اللہ علیہ، متوفی ۱۳۹۱ھ، مکتبہ برھان، دھلی۔
المصنف لابن ابی شیبۃ / عبد اللہ بن محمد بن ابی شیبۃ المعروف بابی بکر بن ابی شیبۃ رحمۃ اللہ علیہ، متوفی ۲۳۵ھ، دار الکتب العلمیۃ بیروت / دار قرطبۃ، بیروت۔
المصنف لعبد الرزاق / عبد الرزاق بن ھمام صنعانی رحمۃ اللہ علیہ، متوفی ۲۱۱ھ، مجلس علمی، کراتشی۔
معالم السنن / الامام ابو سلیمان حمد بن محمد الخطابی رحمۃ اللہ علیہ، متوفی ۳۸۸ھ، مطبعۃ انصار السنۃ المحمدیۃ۔
معجم البلدان / ابو عبد اللہ یاقوت الحموی الرومی رحمۃ اللہ علیہ متوفی ۶۲۶ھ، دار احیاء التراث العربی، بیروت
المعجم الکبیر / سلیمان بن احمد بن ایوب الطبرانی رحمۃ اللہ علیہ، متوفی ۳۶۰ھ، دار الفکر۔
المغنی / موفق الدین ابو محمد عبد اللہ بن احمد بن قدامۃ رحمۃ اللہ علیہ، متوفی ۶۲۰ھ، دار الفکر۔
المغرب / ابو الفتح ناصر الدین المطرزی ۔ رحمہ اللہ۔، ادارۃ دعوۃ الاسلام کراتشی۔
مقدمۃ لامع الدراری / محمد زکریا کاندھلوی رحمۃ اللہ علیہ، متوفی ۱۴۰۲ھ، المکتبہ امدادیہ مکۃ المکرمۃ
مختصر المعانی / سعد الدین التفتازانی، المتوفی ۷۹۱ھ، قدیمی کراتشی۔
مکمل اکمال الاکمال / ابو عبد اللہ محمد بن محمد بن یوسف السنوسی رحمۃ اللہ علیہ، متوفی ۸۹۵ھ، دار الکتب العلمیۃ، بیروت۔
موسوعۃ النحو والصرف والاعراب / الدکتور امیل بدیع یعقوب، انتشارات استقلال للملایین، الطبعۃ الاولی ۱۹۸۸م، بیروت / دار العلم، ایران۔
میزان الاعتدال فی نقد الرجال / شمس الدین محمد احمد بن عثمان الذھبی رحمۃ اللہ علیہ، متوفی ۷۴۸ھ، دار احیاء التراث العربیۃ، مصر۔
نصب الرایہ فی تخریج احادیث الھدایۃ / جمال الدین ابو محمد عبد اللہ بن یوسف الزیلعی، المتوفی ۷۶۲ھ، مؤسسۃ الریّان، بیروت، الطبعۃ الاولی ۱۴۱۸ھ۔
النھایۃ فی غریب الحدیث والاثر / علامہ مجد الدین ابو السعادات المبارک بن محمد ابن الاثیر رحمۃ اللہ علیہ، متوفی ۶۰۶ھ، دار احیاء التراث العربی بیروت / دار المعرفۃ بیروت الطبعۃ الاولی ۱۴۲۲ھ
الوجیز فی اصول الفقہ / الدکتور عبد الکریم زیدان، نشر احسان للنشر والتوزیع طھران، ایران۔
وفیات الاعیان / شمس الدین احمد بن محمد المعروف بابن خلکان رحمۃ اللہ علیہ، متوفی ۶۸۱ھ، دار صادر بیروت۔
الھدایۃ / برھان الدین ابو الحسن علی بن ابی بکر المرغینانی رحمۃ اللہ علیہ، متوفی ۵۹۳ھ، مکتبہ شرکت علمیہ، ملتان / ادارۃ القرآن کراتشی۔
ھدی الساری (مقدمۃ فتح الباری) / ابن حجر عسقلانی رحمۃ اللہ علیہ، متوفی ۸۵۲ھ، دار الفکر، بیروت۔
ہزار سال پہلے / مناظر احسن گیلانی رحمۃ اللہ علیہ، بیت العلم کراچی۔